اسلام او منشیات

شراب ،افیون، چرس او تباکو

تالیف

مولوی مطیع اللّٰہ (عائل)

فاضل د جامعة فاروقية كراچی

وخريج

الجامعة الاسلامية بالمدينة المنورة


اسلام
او منشیات
شراب ،افیون،چرس او تباکو
تالیف
مولوی سلیع الله (عائل)
فاضل: جامعة فاروقیة کراچی
وخریج
الجامعة الاسلامية بالمدينة المنورة

مکتبة الفکر الاسلامی
لصاحبها (عائل)

سلسلة ۴

اسلام

او

منشیات

شراب, افیون, چرس او تباکو

تالیف

مولوی مطیع الله (عائل)

فاضل: جامعة فاروقیة کراچی

وخریج: الجامعة الاسلامیة بالمدینة المنورة

دطبع ټول حقوق
دمؤلف سره محفوظ دی

دکتاب نوم: ....اسلام اومنشیات
تالیف: ....مولوی مطیع الله {عائل}
دصفحو تعداد: ۵۳۸
خپرونکې اداره: ......مکتبة اسلامیة کانسي روډ کوئټه، بلوچستان
کمپوزینګ: ......عائل کمپیوټر سنټر ، کوئټه، بلوچستان (پاکستان)
دچاپ کال: ....۱۴۳۶هجری موافق: ۲۰۱۵ میلادی
دچاپ تعداد: ۱۰۰۰
دکتاب دترلاسه کولو پته: مکتبة اسلامیة کانسی روډ کوئټه، بلوچستان

دلوستونکو څخه عذر اوهیله: دغه تالیف یوانسانی کوشش دی، که کومه سهوه اوغلطی پکښی سوی وی نودیومسلمان ورو په حیث پر هغه معافی غواړم اودتصحیح هیله لرم.

مولوی مطیع الله
{عائل}

اهداء

خپلو مشفقو استاذانو ته
دحق دلاری شهیدانو ته
خیرغوښتونکو ملګرو او دوستانو ته

دقرآن کریم دحکمونو څخه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ.(۹۰) سورة المائدة

إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ.(۹۱) سورة المائدة

ترجمة: ای هغه کسانوچی ایما یی راوړی دی (ای مومنانو) بیشکه هرنشه لرونکې شی، اوهرقمار، اوټول بتان اوټول دفال اچولوغشی دغه ټلور سره نجس اوپلیت دی اوشیطان دکارونو څخه دی، نو تاسو ددی څخه ځانونه وساتی، ددی دپاره چی نجات پیداکړی.

بیشکه شیطان غواړی چی ستاسو په منځ کی دشرابو اوقمار په وجه دښمنی، کینه اوبغض واچوی،اوتاسو دالله تعالی دذکر اولمانځه څخه بند کړی، نوایا تاسو ددغو بدکارونو څخه اوښتونکی یاست؟ بلکی واوړی.

درسول الله صلی الله علیه وسلم دلاربنودنو څخه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «دَعُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ، إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِسُؤَالِهِمْ وَاخْتِلاَفِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ، فَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوهُ، وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ» صحیح البخاری باب الاقتداء بسنن رسول الله (صلی)

ترجمة: ابوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماپریږدی زماڅخه دهغه په هکله پوښتنه مکوی چی مانوی بیان کړی، بیشکه ترتاسو مخکی امتونه دخپلو نبیانو څخه دډیرو سوالونو او اختلافونو په وجه هلاک سول، کله چی زه تاسو دیوشی څخه منع کړم نوهغه پریږدی، اوپه کوم شی چی زه تاسو امرکړم نوپه هغه باندی دومره عمل کوی چی ستاسو طاقت اوتوان وی.

عنوانونه

شماره	عنوان	صفحة
۱	حمد اوصلاة	۱۰
۲	سریزه	۱۰
۳	دکتاب دلیکلو باعث	۲۱
۴	دانسان عظمت اولویي	۲۳
۵	دعقل تعریف	۲۶
۲	دعقل قسمونه:	۲۹
۷	دعقل اهمیت	۳۰
۸	دعقل ساتنه	٤۰
۹	دنشیي توکو قسمونه	٤٤
۱۰	۱- خمر	٤٥
۱۱	دخمر معنی په عربی لغت کي	٤٦
۱۲	دخمر معنی دحدیث دنظره	٤۹
۱۳	دخمر معنی دمفسرینو دنظره	٥۲
۱۴	دتفسیر کبیر دنظره	٥۳
۱۵	دتفسیر قرطبي دنظره	٥۹
۱۲	دتفسیر وسیط دنظره	٦٤
۱۷	دتفسیر المراغی دنظره	٦٥
۱۸	دتفسیر احکام القرآن للجصاص دنظره	٦۷

عنوانونه

شماره	عنوان	صفحة
۱۹	دتفسیرالقران الحکیم (تفسیرالمنار) دنظره	۷۱
۲۰	دتفسیر منیر دنظره	۷۳
۲۱	دتفسیر روح المعاني دنظره	۷۳
۲۲	دتفسیر طبري دنظره	۷٤
۲۳	دتیسیر الکریم الرحمن فی تفسیر کلام المنان دنظره	۷٤
۲۴	دتفسیر خازن دنظره	۷۵
۲۵	دتفسیرابن کثیر دنظره	۷۵
۲۶	دتفسیر مظهری دنظره	۷٦
۲۷	دتفسیر بیضاوی دنظره	۷۷
۲۸	دمفسرینو فیصله	۷۸
۲۹	دخمر معنی دفقهی داصولو مطابق	۸۹
۳۰	دخمر لفظ عام دی	۹۰
۳۱	دعام تخصیص په خبر واحد جائز نه دی	۹۸
۳۲	معطوف دمعطوف علیه په حکم کې داخل دی	۱۰۹
۳۳	اشتراک په علت کې اشتراک په حکم کې واجبوی	۱۱۵
۳۴	دخمر معنی دجمهوروفقهاؤ دنظره	۱۱۹
۳۵	المغني لابن قدامة (فقه حنبلی)	۱۲۸
۳۶	په حدیثونو کې هرنشه کونکې خمر اوحرام دی	۱٤۳
۳۷	دخمر ډیر نومونه دی	۱٤۷

عنوانونه

شماره	عنوان	صفحة
۳۸	نبيذ چې نشه لري حرام دی	۱٤۹
۳۹	نبيذ دهرشي څخه جوړيږي	۱٦۲
۴۰	دخمردحرمت حكمت	۱٦٦
۴۱	دخمرپه وجه پرلسو كسانو لعنت ويل سوی دی	۱۷۱
۴۱	دسكرتعريف دعربي لغت دنظره	۱۷٤
۴۲	دسكر تعريف دفقهي په اصطلاح كې	۱۷٦
۴۳	خمردنشي دحالته ووزی حلال دی	۱۸٦
۴۴	۲- ترياق اوافيون	۱۹۳
۴۵	دافيون معنی په عربي لغت كې	۱۹۳
۴۵	دترياق اوافيون ترمنځ فرق	۱۹۸
۴۷	دافيون حكم دحديثونو اوفقهاؤ په نظرحرام دی	۱۹۹
۴۸	دنشه لرونكو شيانو په هكله دفقهاؤ قولونه	۲۰۲
۴۹	دهرشي پرنشه باندې حد سته	۲۰۸
۵۰	چې ډير يې نشه لري دهغه لږ هم حرام دی	۲۲۲
۵۱	ټول دنشي شيان نجس دی	۲٤۳
۵۲	افيون اوچرس ترشرابوبددی	۲٥۳
۵۳	دنشه كونكو په خلاف مبارزه كول	۲٥٤
۵۴	دافيون دپاره دخشخاشوكرل حرام دی	۲٥۹

عنوانونه

شماره	عنوان	صفحة
۵۵	حلال دحرام مقصد دپارحرام دی	۲۶۶
۵۶	دمنشیاتوتجارت حرام دی	۲۶۸
۵۷	دنشه لرونکوشیانوتجارت دفقهاؤ په نزدحرام دی	۲۷٤
۵۸	مال څه ته وایی؟	۲۷۸
۵۹	حرام دمسلمان دپاره مال نه دی	۲۸۳
۶۰	حرام پرکافر خرخول حرام دی	۲۸۶
۶۱	حرام شی کافرته بخښل حرام دی	۲۹۵
۶۱	په حرام شی علاج کول حرام دی	۲۹۷
۶۲	څه علماء په حرامو علاج کول جایز بولی دهغوی جواب	۳۰۱
۶۳	ضرورت څه ته وایی؟	۳۰۲
۶۴	حلال اوحرام	۳۱۷
۶۵	په حرام مال نفلی حج کول جایز نه دی	۳۱۹
۶۶	دحرام مال څخه زکات ورکول حرام دی	۳۲۹
۶۷	دافیون څخه زکات اوخیرات ورکول حرام دی	۳۳۶
۶۸	دحرام مال په خیرات کې ثواب نسته	۳٤۱
۶۹	په حلال مال کې الله تعالی برکت اچوی	۳٤۳
۷۰	حرام ته حلال ویل کفر دی	۳٤۵
۷۱	څه فتواوی اودهغوی ترمنځ تضاد	۳٤۷
۷۲	دبی دلیله فتوا وڅخه ځان ساتنه	۳۶۲

عنوانونه

شماره	عنوان	صفحة
۷۳	دشریعت ځلوراصول یادلائل	۳٦۹
۷۴	ځلوراختلافي اصول	۳۹۰
۷۵	داستحسان مثالونه	٤۱٦
۷٦	دمصلحت قسمونه اومثالونه	٤۲۳
۷۷	دمصلحت شرطونه	٤۲۷
۷۸	په قضاء اوحکم کی احتیاط کول	٤۲۹
۷۹	امام ابوحنیفة رحمة الله علیه اوددلیل اهمیت	٤۳٥
۸۰	مسلمان په پوښتنه مکلف دی	٤٤٥
۸۱	۳- دتباکو تعریف اوتاریخ	٤٤۸
۸۲	تباکو اودهغه څخه جوړ سوی شیانو حکم	٤٥۱
۸۳	٤- چرس هم حرام دی	٤۸۷
۸۴	تباکودفقهاؤ په نزد حرام دی	٤۹۱
۸۵	دتباکو دحرمت په هکله لیکل سوی کتابونه	٤۹٥
۸٦	حرام ته حلال ویونکې زندیق دی	٥۰۰
۸۷	په دین کې احتیاط واجب دی	٥۰۳
۸۸	دنشي په خلاف دجنګ کولو حکم سوی دی	٥۰٤
۸۹	داسلام دین دټول انسانیت لپاره دی	٥۰٥
۹۰	په اسلام کې حیوان ته تکلیف ورکول جائز نه دی	٥۰۷
۹۱	خاتمه	٥۱۰
۹۲	ماخذونه	٥۱۷

بسم الله الرحمن الرحيم

حمد اوصلاة

الحمد لله الـــذى أحـــل لعباده الطيبات وحرم عليهم الخبائث, ونادا عباده المؤمنين نـــداءا حكيما بقولـــه الكريـــم: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَقْرَبُوا الصَّلاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ.(١) والصلوةوالسلام على رســول خــيرخلقه الذي بلغ الرسالة ونصح الأمـــة، ونادى ربه فى خطبته البليغة التى ألقاها فى حجه الوداع فىميدان العرفات أمام الناس (ألاَ هَلْ بَلَّغْتُ؟ قَالُوا: نَعَمْ، قَـــالَ:«اللَّهُمَّ اشْهَدْ»(٢)وأمرنـــابقولـــه (بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْآيَـــةً) (٣)محمد بن عبدالله صلوات الله وســـلامـــه عليه وعلى آلـــه وأصحابه ومن دعا بدعوتـــه إلى يوم الـــدين.

سريزه

وبعد: دايوحقيقت دى چې ټولنه دافرادوڅخه جوړه ده، اوهرفرد دټولنې په اصلاح کې ديو مکمل غړي په ډول دخپل توان مطابق مستقل مسؤليت لري چې دهغې داصلاح لپاره په لاس، تقرير اوتحرير سره کوشش وکړي، ځکه مځکه او ټولنه دانسانانو لپاره داوسيدلو، ژوند کولو او هو ساينې ځاتوبې دی تر څوچې د ټولنې داصلاح لپاره کارکيږي نودابه داوسيدونکو لپاره دامن ځانګو وي که نه نو دابه بيادټولوانسانانو لپاره دبد بختي، شر اوفساد يوه ځاله وي، ځکه دغه معاشره اوټولنه دهغې کښتۍ مثال لري دکوم په هکله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: قَالَ: الشَّعْبِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَثَلُ المُدْهِنِ فِي حُدُودِ اللَّهِ، وَالوَاقِعِ فِيهَا، مَثَلُ قَـــوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً، فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا وَصَـــارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلاَهَا، فَكَانَ الَّـــذِي فِي أَسْفَلِهَا يَمُرُّونَ بِالْمَاءِ عَلَى

١- سورة النساء أيت ٤٣- ٢- صحيح البخاري كتاب المغازي ٣- صحيح البخاري كتاب أحاديث الأنبياء

الَّـذِينَ فِي أَعْلاَهَا، فَتَأَذَّوْا بِهِ فَأَخَـذَ فَأْسًا فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ السَّفِينَةِ، فَأَتَوْهُ فَقَالُوا:مَا لَكَ؟ قَـالَ: تَأَذَّيْتُمْ بِي وَلاَ بُدَّ لِي مِنَ الْمَاءِ, فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَنْجَوْهُ وَنَجَّوْا أَنْفُسَهُمْ وَإِنْ تَرَكُوهُ أَهْلَكُوهُ وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ.(۱)

ترجمة: نعمان بن بشير رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دالله تعالی په حدودوکې سترګی پټونکې او هغه چې په مبتلا یا اخته وی دهغه قوم مثال لری، چې په یوه کښتی کې سفر سره کوی (اودځای دتعین په باره کې خپل منځوکې قرعه اندازی سره وکړی) اودقرعه اندازی په صورت کې څه کسانوته لاندی اوڅه کسانوته لوړه حصه ورسیږی، نوهغه کسان چې په کښته حصه کې دی هغه داوبو داخستلو لپاره پر لوړو خلګو تیریږی، نو دوی په دی باندې په تکلیف کیدله، نودغه لاندی خلګو تبر راواخست داوبو لپاره یې دکښتی لاندی سوری ورکاوی دلوړی خلګ راغله او ورته وی ویل داڅه کوی ؟ دوی وویل: تا سو زموږ څخه په تکلیف یاست اوموږ داوبو څخه چاره نه لرو.

نواوس که دوی دلاندی خلګولاس ونیوی نوهغوی ته یې هم نجات ورکړی او خپل ځانوته یې هم نجات ورکړی، اوکه یې پریښودله چې سوری ورکړی نو هغوی یې هم هلاک کړل اوخپل ځانونه یې هم هلاک کړل.

داچې دټولنی افراد ددین مذهب ژبی اوسرحدونو په حساب سره تقسیم او ویشل سوی دی اوهر یو دخپلی عقدی، مذهب اونظام مطابق په ټولنه کې ژوند کوی نومسلمان هم دیومستقل غړی په حیث ترهرچا زیات دټولنی داصلاح مسؤلیت په غاړه لری؛ داځکه چې دی دداسې عالمی او جهانی دین منونکې دی چې هغه دټولنی داصلاح دپاره دکوشش کولو مسؤلیت دده پرغاړه اچولی دی، او داسلام پیغامبر اوددغه دین رسول محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم وخپل ټول امت ته

۱- صحیح البخاری کتاب الشهادات

په یوحدیث کې داسې امرکوی: عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا، فَاسْتَطَاعَ أَنْ يُغَيِّرَهُ بِيَدِهِ فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ، فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ، فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ. (۱)

ترجمة: ابی سعید خدری رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې ما درسول الله صلیٰ الله علیه وسلم څخه اوریدلی دی چې ویلی: هرچاچې ستاسو څخه یو منکر ولیدی نوکه یې طاقت وو چې په لاس یې بدل کړی نوهغه دی په لاس تغیر یا بدل کړی، اوکه یې طاقت نه وو نوهغه دی په ژبه تغیر کړی او که یې دغه طاقت هم نه درلودی نوبیادی په زړه کې بد ځنی وړی، او دغه دایمان ضعیف ترینه درجه ده.

ملاحظه: که دپورتنی حدیث لفظونه مطالعه کړو نو وینو چې (مَنْ) په عربی لغت کې داسې عام لفظ دی چې داسلام ددین ټول منونکوته شامل دی هغه که حاکم اوکه محکوم وی، عالم اوکه جاهل وی، نارینه اوکه ښځه وی، لوی اوکه کوچنی وی ازاد اوکه مریی وی دټولو په غاړه دخپل توان په اندازه دټولنی داصلاح کولو دنده ورکړی ده.

بل د(مُنْكَراً) لفظ دی چې دعربی ژبی دقاعدی مطابق نکیره اوداسې عام دی چې هرلوی اوکوچنی بدکارته شامل دی.

بل د(فَلْيُغَيِّرْ) لفظ دی چې په دی کې د(فا)لفظ دتعقیب دپاره استعمالیږی معنی داچې دلیدلوسره سمدستی تغیرکړی، ځکه که څه ځنډ اووخت په منځکې تیرسی نوهغه بیادعاموخلکو په زهن کې دحلال اومباح درجه پیدا کوی، ځکه خلګ ورسره عادت سی،دعادت په هکله ویل کیږی چې بیله مرګه نه لیری کیږی کیږی، اوداچې ویل کیږی (دبیان په وخت کې چپ کیدل هم بیان دی) که دیوعالم په مخکې بدکارکیږی اودی نه منع کوی اویاڅه نه ورته وایی نودهغه بدکونکې داسې

۱- رواه ابن ماجة كتاب الفتن

عقیده پیدا کیږي چې داسې کول حلال او مباح دي، که نه نوزه به چامنع کړې وای.

بل د(فبقلبه) لفظ دی، معنی دا که نورطاقت دي نه وی نوپه زړه خوبد ورته ووایه. خود زړه دبد وړلو مطلب دادی چې دهغه ځایه به ولاړیږې اوددغه منکر کونکې انسان په هیڅ نوع مناسباتو کې به شرکت نه کوی معنی داچې دده په خوشحالي اوغم لکه نکاح، جنازه، اوداسې نورو کې به شرکت نه کوی،اودده سره به خوړل چیښل نه کوی، ترڅو دی په معاشره کې یوازې پاته سی نوده ته به دخپلې گناه احساس وسی. اوددغه بده کاره به توبه وباسی، نبی کریم صلی الله علیه وسلم دغه هم ددعوت او نهی عن المنکر یوه طریقه بللې ده.

اودغه پورتنی مطلب نبی کریم صلی الله علیه وسلم امت ته په یوبل حدیث کې داسې بیان کړی دی اوفرمایي: عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَمَّا وَقَعَ فِيهِمُ النَّقْصُ، كَانَ الرَّجُلُ يَرَى أَخَاهُ عَلَى الذَّنْبِ فَيَنْهَاهُ عَنْهُ، فَإِذَا كَانَ الْغَدُ لَمْ يَمْنَعْهُ مَا رَأَى مِنْهُ، أَنْ يَكُونَ أَكِيلَهُ وَشَرِيبَهُ وَخَلِيطَهُ، فَضَرَبَ اللَّهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ، وَنَزَلَ فِيهِمُ الْقُرْآنُ، فَقَالَ: {لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ} حَتَّى بَلَغَ {وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَكِنَّ كَثِيرًامِنْهُمْ فَاسِقُونَ} المائدة:٨١" قَالَ:وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مُتَّكِئًا فَجَلَسَ، وَقَالَ:لاَ حَتَّى تَأْخُذُوا عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ، فَتَأْطِرُوهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا.(١)

ترجمة: دابو عبیده رضی الله تعالی عنه څخه روایت سوی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:کله چې په بنی اسرائیلو کې کوتاهي راغله نو یوسړی به خپل یو ورور په گناه اخته ولیدی او هغه به یې منع کوی (دعوت به یې ورته کوی) خودغه بله ورځ به ده دهغه سره خوړل، چیښل اویوځای به ورسره ناست وو (یعنی دگناه په وجه به یې دهغه سره قطع تعلقات نه کول) نو الله تعالی ددوی

١- رواه ابن ماجة كتاب الفتن

زړونه یو دبله سره ووهل، اوددوی په هکله الله تعالی په قرآن کریم کې داسې وفرمایل: لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ. ترڅوچې تردې آیت پورې تلاوت وکړې: وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَكِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ فَاسِقُونَ.

راوی وایې: رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګ وهلی وواپورته سواو وې فرمایل تاسوترهغودعذاب څخه نسې خلاصیدلای ترڅو تاسودظالم لاس ونه نیسی اوهغه پرحق مجبور نه کړې.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې کوم آیتونه تلاوت کړې دې هغه دغه لاندنې څلور آیتونه دې چې ترجمة اوڅه تفسیر یې دفهم دپاره لاندې لکل کیږي، ترڅو دحدیث په مقصد ښه پوه سو.

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ (۷۸) كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ (۷۹) تَرَى كَثِيرًا مِنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنْفُسُهُمْ أَنْ سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ (۸۰) وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَكِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ فَاسِقُونَ. (۱)

ترجمة: دبنی اسرائیلو پرهغو کسانو چې کافران سوی دی لعنت ویل سوی دی پرژبه دداود اوعیسی بن مریم (علیهما السلام) داپه دې وجه چې دوی دالله تعالی دحکمونو نافرمانی کوله، او دالله تعالی دحدودو څخه به یې تیری کاوه.

چاچې به بدکارکوی هغه به یې نه منع کوی، بیشکه دغه ډیر بدکاروو چې دوی کوی. ډیر ددوی څخه داسې لیدل کیدل چې دکافرانو (اوګناه کارانو) سره به یې دوستی کوله، په تحقیق ډیرېد ووهغه څه چې ددوی نفسونودوی ته وړاندې

۱- سورة المائدة آیت ۸۱

کړي وه، چې دهغوی په وجه الله تعالی پردوی په غضب سوی وو، او دوی به تل همیشه په دغه عذاب کې وي.

اوکه دوی په الله او پر نبي اوپرهغه څه ایمان درلودلای چې دغه نبي ته نازل سوی دی، نو دوی به دغه کافران اوگناه کاران خپل دوستان نه وای جوړ کړي، خو ډیر ددوی څخه فاسقان دي یعني د ایمان ددائرې څخه وتلي دي.

تفسیر: هسې خو په ټولو آسماني کتابونو کې پر ټولو کافرانو لعنت ویل سوی دی داچې دلته د بني اسرائیلو دکافرانو خاص ذکر سوی دی داځکه چې دوی په گناهونو کې دومره ترحد تیر سوي وه چې په دوی کې مجرم اوغیرمجرم یاگناه کار اوغیر گناه کار نه سره معلومیدل، دا ځکه چې نه مجرم د جرم اونه گناه کونکې دگناه څخه لاس اخستی اونه غیر مجرم دمجرم لاس نیوی، بلکه ټول یو دبل سره لکه شیروشکرسوي وه بي تکلیفه یودبل سره په قول فعل، عمل، خوراک چیښاک، په ناسته ولاړه اونوروکې دوستان اوملگري سوي وه ،دگناه کونکو او دمنکراتو دمرتکبینو هیڅ لاس نیوی نه کیدی اونه دخفگیان اوخوابدي اظهار کیدی یعني غیرمجرمان به دمجرمانو ،گناه کارانو اوبدعملو سره په ټولو مناسباتو کې یوځای اوسیدل نودلته الله تعالی دداود اوعیسی بن مریم علیهما السلام پر ژبه پردوی لعنت ووایه، لکه څرنگه چې ددوی جرم لوی اوغټ وو. همدارنگه دلویواوغټو نبیانو پر ژبه پردوی لعنت وویل سو ،چې په فوق العاده ډول تباه کونکې ثابت سو، چې غالبا دهمدغه لعنت په وجه ددوی ډیر کسان په ښکاره او باطني ډول بیزوگیان او دبد ځناورانو په شکل مسخ اوبدل کړه سوله.

که څه هم ددې آیتونو مصداق دمدیني منوري یهودان دي چې دمکې د مشرکانو سره یوځای سوله خوداصول تفسیرلمخې دقرآن کریم مصداق خاص خو حکم یې عام دی یعني که په رشتیایهودودموسی علیه السلام پر صداقت او

تعلیماتو یقین او ایمان درلودلای نودمشرکانوسره به یې دوستي نه کولای، یعنی دالله تعالی او دهغه دمنل سوی رسول سره ددښمنی په وجه دوی ته داسې حالت پیدا سو چې دموحدینو په مقابل کې دکفارو او مشرکینو سره دوستي کوي.(۱)

افسوس چې نن هم ډیرپه نامه مسلمانان داسې دي چې دمسلمانانو او د کافرانو دمقابلې په وخت کې دکافرانو سره دوستي او حمایت کوي. دډیر افسوز ځای خولادادی چې دفاسقانو او فاجرانو په مجلسونو دعوتونو کې ترهر چا زیات عالمان او خاص خلګ لیدل کیږي.

داچې موږ دهربدکاره، شراب خور، چرسي، افیوني، هیرویني او داسې نورو نشیانو او سود خورو، دیتیمانو او کونډیانو مال خوړونکو او داسې نورو ښکاره بد کارانو چې په ډیرولویو ګناهونو داسې اخته دي چې په ښکاره اوفخرسره کوي هیڅ عار او شرم هم نه کوي په هر مناسبت کې پوره حصه اخلو داسې معلو میږي چې په موږ کې هغه ضعیف ایمان هم نسته.

خاص بیا هغه کسان چې په ټولنه کې خاص مقام لري او ددعوت لویه زمه یې هم په غاړه اخسی ده ده لکه عالمان، صالحان او نیکان خلګ چې دهغوی هر عمل په عوامو کې خاص اهمیت لري، ځکه ددوی په ورتلوسره او په مناسباتو کې دشرکت کولو اوناسته ولاړې سره نه یوازې داچې وهغوی ته ددا خپلی ګناه او بدو احساس نه کیږي بلکې په آخرکې دی اونور دده امثال دجواز لپاره په دوی دلیل وايي، الله دې نه کوي چې موږ هم دهغه بنی اسرائیلو په ډله کې حساب سو د کومو په هکله چې الله تعالی دغه پورتني آیتونه نازل کړل، او موږ ته نبی کریم صلی الله علیه وسلم دغه حدیث هم دهمدغه مقصدلپاره بیان کړی دی او په آخرکې راته وايي چې تاسو هم ترهغو دعذاب څخه نسی خلاصیدلای ترڅو تاسو دظالم لاس بند نکړی

۱- تفسیر کابلی جلد اول صفحة ۲۸۲ - ۲۸۵ په مختصر ډول

اوهغه پرحق مجبور نکړي.

په حديث کې راغلي دي: عَنِ الْعُرْسِ ابْنِ عَمِيرَةَ الْكِنْدِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الأَرْضِ، كَانَ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا وَقَالَ مَرَّةً: «أَنْكَرَهَا» كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا، وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا، كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا. (۱)

ترجمة: عرس بن عميرة کندي روايت کوي چې نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې په مځکه کې يومنکر ياګناه کول کيږي نوڅوک چې حاضر وي او انکار پروکړي نوداسې دي لکه دي چې ځنې غائب وي، اوڅوک چې ځنې غائب وي اوپه راضي وي نوداسې دي لکه دي چې پکښې حاضروي.

بل داچې وحق اواصلاح ته دعوت کول رب العالمين ددې ټول امت د خيريت نخښه او خاصه بللې ده نوځکه خوفرمايي: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ. (۲)

ترجمة: ای دمحمد (صلی الله عليه وسلم امته) تاسوترټولوهغوامتونوخير ياست چې دخلګو لپاره را ايستل سوي دي چې تاسوهرچاته دمعروف اونيکۍ حکم کوي اوتاسوهرڅوک دمنکر او بدۍ څخه منع کوي، اوتاسو په دوام او ثبات سره پر الله تعالی ايمان لرئ.

خلاصه تفسير: په دغه آيت کې الله تعالی ددغه موجوده امت دفضيلت او عظمت اعلان کوي او هغه په دې سره چې دوی خلګوته دعوت ورکوي اودښو کارونو امر ورته کوي اودبدو کارونو څخه يې منع کوي، اوپه ډېر ثبات سره پر الله تعالی ايمان لري.

په بل حديث کې راغلي دي: عَنْ جَـرِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ فِي قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي، يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا عَلَيْهِ

۱- سنن أبي داود كتاب الملاحم . ۲- سورة آل عمران آيت ۱۱۰

فَلاَ يُغَيِّرُوا، إِلاَ أَصَابَهُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَمُوتُوا». (١)

ترجمة: جرير رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویلی: نسته داسې یو سړی چې دی په یوقوم کې وی اوپه هغه قوم کې گناهونه کیږی اودوی دهغه پرتغیرکولو قدرت لری اودوی ئی نه تغیرکوی، مگرداچې الله تعالی به هغوی په عذاب اخته کړی تردی مخکې چې دوی مړه سی.

دمعاصی (گناهونه) لفظ عام دی: ټول اجتماعی اوانفرادی بدکارونه ور څخه مراد دی لکه کفر، شرک، دحراموکسب کول، حرام خوړل، بدعتونه، بد رسمونه. رواجونه فسق او فجور، اوهر راز بد اخلاقیوته شاملی دی.

ددی منکراتو څخه دمنع کولوهم دحالاتو مطابق مختلفی طریقی دی، کله په لاسونوکله په قلم،کله په ژبه اوکله په توره، توپک او جهاد سره وی، الغرض هرمسلمان دخپل توان په اندازه مکلف دی. بل داچې دغه صفت په داسې عمومیت اواهتمام سره چې دغه امت ته ورکول سوی دی په تیرو اوپخوانیو امتونو کې نه لیدل کیږی، ځکه چې دغه آخرنی دین اوامت دی تردی وروسته بل نبی یارسول نه راځی چې دخلگو اصلاح وکړی.

داچې موږ په الله تعالی، دهغه پررسولانو اودهغه پرکتابونو ایمان لرو خاص بیاپرآخرنی رسول اوکتاب باندې، ددی ایمان داتقاضاده چې اول دخپل ځان او عقیدی اصلاح وکړو یعنی په الله تعالی اودهغه پررسولانو، کتابونو، ملائکو او نورومومن به شیانوایمان راوړو اوبیاونوروته دغه دین ورسوو اوبیان یې کړو.

عمر فاروق رضی الله تعالی عنه فرمایې: هرڅوک چې ستاسو څخه غواړی چې په دغه امت کې شامل سی نودالله تعالی شرطونه دی پوره کړی هغه داچې اول

١- سنن ابي داود كتاب الملاحم

خپل ځان اصلاح کړی اوبیا ونوروته د ښواونیکو امر وکړی اودمنکر اوبدو څخه یی منع کړی، چې همدغه دصحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین عادت اوخاصیت وو.

څوک چې خپل اصلاح نه کوی اوبل ته نصیحت کوی دغه عمل الله تعالی په خپل کتاب کې ډیر بد بللی دی څکه فرمایی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لاَ تَفْعَلُونَ. كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لاَ تَفْعَلُونَ . (۱)

ترجمة: ای مومنانو ولی هغه څه وایاست چې خپله په هغه عمل نه کوی، د الله تعالی دغضب راپارولولپاره ډیره لویه ده دغه خبره چې تاسوهغه څه وایاست چې خپله یی نه کوی.

تفسیر: ددی آیت شان نزول څه داسې بیان سوی دی چې په یوځای کې څه مسلمانان سره را ټول سوی وه اوداسې ویل: که موږ ته داخبره راښکاره سی چې الله تعالی په کوم شی راضی کیږی نوموږ به هغه کار کوو، نوالله تعالی دغه آیت نازل کړی چې ای مومنانو .... تفسیر کابلی

بلکه په یوبل آیت کې الله تعالی دغه عمل دیهودو دعلماؤ عمل بللی دی او فرمایی: أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلاَ تَعْقِلُونَ.(۲)

ترجمة: دیهودوڅه علماؤ به ونوروخلګوته ویل چې اسلام ښه دین دی خو خپله به نه مسلمان کیدل نو الله تعالی دغه آیت نازل کړی : ایاتاسو نوروخلګوته په نیکې سره امرکوی اوخپله یی نه کوی حال داچې تاسو خپل کتاب وایاست، چې په هغه کې دقول اوفعل دنه سمون په صورت کې سخت وعید یا عذاب لیکلی سوی دی. ایاتاسو دخپلو اعمالو په بدی نه پوهیږی.

دپورتنی ذکرسوی مسؤلیت لمخی ماته هم داپکارده چې داسلامی تولنی

۱- سورة الصافات آیت ۳ ۲- سورة البقرة آیت ٤٤

داصلاح په نیت دیو مسلمان غړی په حیث خپل دعلم، پوهی اوتوان په اندازه څه مسؤلیت اداکړم اودقلم په څوکو دهغه څه په هکله څه ولیکم چې زما دعلم او مطالعی په اندازه داهمیت وړدی.

کیدایسی دغه څه محنت چې زه ټولنی اوخپلومسلمانوورونوته په لیکلی شکل دکتاب په صورت کې وړاندی کوم ددعوت اودامربالمعروف اونهی عن المنکر ذریعه وګرځی، اوزما د پاره د آخرت ښه توښه اوذخیره سی.

مولوی مطیع الله (عائل)

دکتاب دلیکلو باعث

که څه هم په ټولنه کې هرقسم ګناهونه لوی او کوچنی، د اسلام او پاک شریعت څخه هر ډول مخالفتونه وجود لری او لیدلی کیږی، خوزما دمطالعی لمخی دټولنی اومعاشری لپاره ترهرڅه نه زیات اوډیرهلاکونکې شی (نشه) ده، ځکه نشه هغه لعنت اوبدعمل دی چې دانسان انسانیت، عقل، میړانه، غیرت، جرأت، دین ایمان، اخلاق، صحت، عبادت، صله رحمی او داسې نور هر څه له منځه وړی، نشه داسې یولعنت دی چې په نشه باندې اخته انسان دومره بی حسه اوظالم سی چې د ښواوبدوتمیز نسی کولای آن تردی چې خپل ژوند هم په خطر کې اچوی اودبل دمال اوعزت خو بیخی هیڅ پروانلری، موږ په ټولنه کې وینوچې دچاپه کور، کلی اوښار کې په نشه اخته کسانو دخپل پلارګنی کورنی اواولادونو سره څنګه چلن دی؟.

بل داچې دټولنی تقریبا هرخاص اوعام په څه ناڅه نشه اخته دی، څوک ددولت د زیاتولو اوڅوک بیادخوړلو، چیښلو یا استعمال کولو په نشه اخته دی.

داچې نن زموږ په ټولنه کې دنشی هرڅومره توکې وجود لری لکه شراب، افیون، چرس، هیروین، تمباکو اوداسې نور، داټوله جوړونکې، خرڅونکې لری او هم استعمال کونکې لری.

ویل کیږی چې نشه دغم دغلطولو لپاره کول کیږی، خودچاسره دپیسو د زیاتولو غم وی هغه په غلطوی داچې څومره انسانان اوکورونه دده ددغه نشی دپوره کولو په وجه تباه کیږی دهغه غم دی نه کوی ځکه دی خپل دمال دزیاتولونشه پوره کوی.

څوک چې دنشی استعمال کوی هغه وایی چې زه غم په غلطوم خو دا فکر نه کوی چې بیابه دغه غم په چشی غلطوم ترڅو دواړه په داغه نشه کې تر مرګه پاته

سی نه یوازی دوی تباه بلکی ددوی اولادونه کورنی اوټوله معاشره ورسره تباه سی
نوځکه ماپه دی کتاب کې ددغه مطلب دبیانولو لپاره داسې هڅه کړی ده چې ددغه لاندنی څو ټکو څخه دخپل علم اوتوان په اندازاه دمستندو او معتبرو کتابونو په حواله په مختصر ډول څه بحث ولیکم ترڅو زمادپاره دآخرت توښه وی اودمسلمانو ورڼو دپاره داستفادی وړوګرځی.
که څه هم دبحث څخه مطلوب دپاک اسلامی محمدی شریعت اوحنفی مذهب په رڼاکې دنشی اونشیی شیانوحرام والی، دهغوی کښت کول، دهغوی تجارت کولو، په هغوی علاج کول، اوپرټولنه اوکورنیو باندې دهغوی مضر اثرات اودنشیی شیانو څخه د زکات اوخیرات ورکولو حکم اودزکات اوخیرات په نیت قبض کول، اوپرهغوی باندې ثواب غوښتل اوداسې اړونده مسائلو څخه بحث کول مطلوب اومقصوددی خودمقدمی په ډول لمړی دغه څو بحثونه وړاندی کیږی لکه ۱- دانسان عظمت ۲- دعقل عظمت ۳- دعقل تعریف ۴- دعقل قسمونه ۵- دعقل اهمیت ۶- دعقل ساتنه ۷- دعقل خرابونکې نشیی شیان دی.
دنشه کو نکوشیانو دجملی څخه په بحث کې مهم شراب، افیون، چرس، تمباکو اوددوی څخه جوړ سوی شیان دی، خو ددی ترڅنګ به په دوی پوری اړونده نور بحثونه هم کیږی چې دهغوی تفصیل به په فهرست کې کیږی
په دی لیکنه یاکتاب کې به زماکوشش داوی چې ترهرڅه دمخه به دالله عزوجل په توفیق زه دقرآن کریم په آیتونو، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په حدیثونو، داصحابو کرامو رضوان الله تعالی علیهم په آثارو اودفقهاؤ رحمة الله تعالی علیهم په اقوالو دلیل لیکمه، او که کومه ملاحظه اوتشریح وی هغه به هم انشاء الله تعالی دمعتبرو کتابونو په حواله دهغه کتاب عبارت به لیکم اوبیابه دهغه ترجمة په پښتو لیکم ترڅو عربی عبارت دعلماؤ دپاره دقناعت وړسی، او

پښتو ترجمه دباسواده عامو مسلمانو دفهم وړوګرځی دا بايد واضح کړم چې دآيتونو ترجمة اوتفسير ټوله دتفسيرکابلی پښتو دوه جلدی څخه اخستل سوی دی

زماکوشش به داوی چې په ساده اوعامه پښتو لکنه وکړم ترڅو هرخاص او عام استفاده څنی وکړی نوځکه مادپښتو دادبياتو چې څومره پکاروو هغومره مراعت نه دی کړی.

دانسان عظمت اولويي

موږديومسلمان په حيث چې په دنياکي ترهرڅه کوچنی اوترهرڅه لوی شی ته ګورو لکه غرونه، دريابونه، مځکي، آسمانونه، لمر سپوږمی. ستوري، وريځ، باد، باران، جنتونه، دوزخونه، اوداسې نور ټول دالله تعالی مخلوق يعني الله تعالی پيداکړی دی اوهغه څه چې په دنياکي دی ټول الله تعالي دهمدي انسان لپاره پيدا کړي دی لکه چې الله تعالي په خپل کتاب کې فرمايي: الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ (۱)

ترجمة: اودا هغه الله دي چې ګرځولی ئی ده ستاسو دپاره مځکه فرش او ګرځولی ئی دی ستاسودپاره آسمان چت اونازل کړی دی ستاسو دپاره دآسمان د طرفه اوبه اوپه دي اوبوسره ئي را ايستلي دی ستاسو دپاره هرقسم ميوي چي ستاسو دپاره روزي اورزق وی.

اوپه بل آيت کي بياخاص دمؤمنانو دپاره نعمتونه بيانوی اوفرمايي: وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ انَّ لَهُم جَنَّاتٌ تَجرِي مِن تَحتِهَا الأَنْهَارُ.(۲)

ترجمة: اوزيری ورکړه هغوکسانوته چې ايمان ئي راوړی دی اوښه عملونه ئی کړي دی چې بيشکه دوی لره دي جنتونه چي بهيږي لاندي (ترمانيو اوونو) دهغوی ويالی.

۱- سورة البقرة أيت ۲۲ ۲- سورة البقرة أيت ۲۵

جمادات، حیوانات، میوي، داني، خزاني،کانونه اوداسي نور هرڅه چي په سترګو لیدل کیږي یاپه غورږونو اوریدل کیږي اویاپه کتابونوکي لیکل کیږي یا دالله تعالي دطرفه په رالیږل سوي قرآن کریم کي بیان سوي دي تردغه ټولو لوي او دعظمت خاوند انسان دي څکه دغه هرڅه الله تعالي د انسان لپاره پیدا کړي دی او دده دکرامت اوفضیلت په هکله الله تعالي په خپل کتاب قرآن کریم کي فرمایي:
وَلَقَد كَرَّمنَابَنِي آدَمَ حَمَلنَاهُ فِي البَرِّ وَالبَحرِ وَرَزَقنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلنَا هُم عَلَي كَثِيرٍ مِّمَّن خَلَقنَا تَفضِيلاً.(۱)

ترجمه: په تحقیق ډیرعزت ورکړي دي موږ دآدم اولادی ته سواره کړي مودي دوي پرسوارلیومرکبانوپروچه کي اوپه دریاب باندي ‹دکښتی په وسیله› اورزق روزي موورکړي دی دپاکو شیانواوغوره کړي مودي دوي پرډیرو هغو،چي موږ پیدا کړي دي په ډیرغوره کولوسره.

یعني موږ انسان ته ښه صورت، نطق، عقل، حواس اونورداسي عنایتونه ورکړی دی چي دهغه په وسیله دی ددنیا اواخرت په منفعتونو اوضررونو پوهیږي دښو اوبدو ترمنځ تفریق جلاوالی کولایسي نورټول مخلوقات ترخپل واک او اختیارلاندي راوستلایسي اوخپلی چاري څنی اخستلاي سي، په وچه کي د حیواناتو پرشا، اوپه سندونواوبحرونوکي پرسمندری جهازونو ‹ابګو ټونو› او پر نورو راز راز نقلیة وسائلو سره بی تکلیفه سفرکولاي سي.

دهمدغه انسان لوي پلار آدم علیه السلام ئي دملائکو مسجود وګرځاوه، یعنی ملائکوته یي امروکړی چي سجده ورته وکړی اوفرمایي: وَإِذ قُلنَا لِلمَلَائِكَةِ اسجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّاإِبلِيسَ أَبَى وَاستَكبَرَ وَكَانَ مِنَ الكَافِرِينَ.سورة البقرة آيت (۳٤)

ترجمة: اویادکړه ‹ای محمدص› هغه وخت چي موږ ملائکوته امروکړی،

۱- سورة الأسراء آيت ۷۰

چې آدم علیه السلام ته سجده وکړی، نوټولو سجده وکړه، خو ابلیس نه وکړه، منع ئی وکړه اولویی ئی وکړه دی لادپخوا دالله تعالی په علم کې دکافرانو څخه وو.

خپل لوي جنت ئي ددغه انسان لپاره پیدا کړي دي، دهمدغه انسانانو څخه ئي خپل ټول نبیان اورسولان پیدا کړه اوودوي ته ئي دهدایت لپاره راولیږل ان تردی چې خپل آخرنی محبوب پیغمبرمحمد مصطفي صلي الله علیه وسلم ئي هم په دوي کې ودوي ته را ولیږي لکه چې الله تعالي فرمایي: لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ.(۱)

ترجمة: یعني په تحقیق راغلي دي تاسوته ای انسانانودجنس څخه ستاسي رسول چې ډیر سخت اودروند دي پر ده هرهغه کار چې په هغه تاسوته تکلیف رسیږی، دي په هره ممکنه طریقی سره داغواړی چې دده پرامت باندي آسانی وی او دی ډیرحرصناکه دي په هدایت ستاسو کې ای مؤمنانو نهایت مهربان دی.

اوداټوله دنیا اوهغه څه چي په دي دنیاکي دي هغه ټوله دهمدي انسان لپاره پیداکړي دي لکه څرنګه چي الله تعالي په دي آیت کي فرمایي: هُوَالَّذِي خَلَقَ لَكُم مَافِي الأَرضِ جَمِيعًا.(۲)

ترجمة: الله هغه ذات دي چي پیداکړي ئي دي تاسوته (اي انسانه) یعني ستاسو دمنفعت لپاره ټول هغه شیان چي په مځکه کي دي.

دغه عظیم انسان ته ترپورتنیو ذکرسوو ټولو نعمتونو څخه علاوه نورهم ډیر نعمتونه ور کړه سوی دي چي نه حسابل کیږي اونه ئي قلم په لیکوکي ځاي کولاي سي اونه ئي په سترګو احاطه کیدلایسي څکه الله تعالي په خپل کتاب قرآن مجید کې فرمایی : وَاِن تَعُدُّوا نِعمَتَ اللهِ لاتُحصُوهَا.(۳)

ترجمة: اوکه وشمیرئ تاسو ټول افراد دالله نعمتونه وبه ئي نه شمیری.

۱- سورة التوبة آیت ۱۲۸ ۲- سورة البقرة آیت ۲۹ ۳- سوره ابراهیم آیت ۳٤

که په پورتنیو ذکرسوی نعمتونو کې فکر وسی نو پوهیږو چې ترټولو لوی او عظیم نعمت عقل اوفکر دي، ځکه ددغه ټولو نعمتونو څخه چې کله انسان صحیح او ګټوره فائده اخلی نوهغه دعقل په ذریعه او واسطه اخلی، که عقل نه وی نودده لپاره دغه ټول بیکاره اوبی فایدی دی ځکه موږ وینوچې کوچنیان، لیونیان بیده اونشه انسان د دنیا دنعمتونوڅخه په خپله هیڅ فایده نسی اخستلای.

دعقل تعریف

عقل یوه عربی کلمة یالفظ دی چې په لغت کې منع ته وایی: ځکه دی خپل خاوند دبدی لاری څخه منع کوی یا راکرځوی.

په اصطلاح کې: دده په معنی کې داسې اختلاف دی لکه دروح په معنی کې.

شیخ الاسلام زکریا الانصاری رحمة الله تعالی علیه وایی: (هوالغریزة یتهیأ بها لدرک العلوم النظریة وکأنه نور یقذف فی القلب فمحله القلب ونوره فی الدماغ)

ترجمة: یعنی عقل یوداسې غریزه یا ماده ده چې په ده سره دنظری علومو ادراک کول کیږی، او دده ځای زړه دی اونور ئی په دماغ کې دی. همدغه رایه دامام مالک، امام شافعی اوجمهورو متکلمینو ده (رحمة الله تعالی علیهم).

چاویلی دی چې روح، نفس اوعقل په ذات کې سره یودی خوپه اعتبار کې سره جدادی، په دی حیث چې په بدن پوری قائم دی روح ورته ویل کیږی، په دی حیث چې شهواتو اوخوندونو ته میلان کوی بیانفس ورته ویل کیږی اوپه دی حیث چې دعلوموا ومعارفو ادراک په کول کیږی او یا دکارونو په عواقبوکې نظر په کول کیږی بیا عقل ورته ویل کیږی.

چاویلی دی: (إنه نور روحانی به تدرک النفس العلوم الضروریة والنظریة وجوده عند اجتنان الولد ثم لایزال ینمو إلی أن یکمل عند البلوغ.

ترجمة: یعنی عقل یوروحانی نور دی چې نفس په هغه سره دنظری اوبدهی

علوموادراک کوي، اودده ابتداء دکوچنی دپیدا ایښت څخه دي اوترڅوکوچنی بلوغ حد ته رسیږي دی غښتواله کوي.

چاویلي دي: عقل مصدر دی دهغه غریزي مقابل دی چې هیڅ اختیار نه لري اویا عقل هغه شي دی چې په هغه سره تفکیر اواستدلال کول کیږي اود تصوراتو او تصدیقاتو ترکیب په کول کیږي .(۱)

البته ډیرومسلمانانو اوعلماؤپه نزددعربی قاعدی لمخی عقل مصدردی دعقل یعقل عقلا څخه اخستل سوی دی، دهغه صفت نوم دی چې په عاقل پوري قائم دی، لکه علم په عالم پوري، او معنی یې ده پوهنه اوتمیز اودغه معنی دقرآن کریم په ډیرو آیتونو کې اخستل کیږي لکه داچې الله تعالی انسانانوته دقرآن او آیتونو دفهم په هکله فرمایي: كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ. (۲).

ترجمة: همدارنگه الله تعالی تاسوته خپل حکمونه آیتونه بیانوی ددی دپاره چې تاسو وپو هیږي اوعمل په وکړي.

په یوبل آیت کې الله تعالی دقدرت دنشانیانو دفهم په هکله فرمایي: أَفَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَآ.(۳)

ترجمة: ایادغه کفار په مځکه کې نه دی گرځیدلی چې دبدعملی اودالله تعالی دنافرمانی اثار اوعلامی یی لیدلی وای، نوددوی دپاره به داسې زړونه وایی چې په هغوی پوهیدلی وای.

یعنی دوی ته ددغو ورانو اوتباه سوی ودانیو ددلیلونو څخه هم هیڅکله یو فکر پیدانسو چې دحق په لاره راسی اوپه رشتیاخبره وپوهیږي.

په بل آیت کې الله عزوجل ددوزخیانوحال بیانوی اوفرمایي: وَقَالُواْ لَوْ كُنَّا

۱- پاملرنه: دغه پورتنی تقریر دانټرنټ څخه اخستل سوی دی بله خاصه حواله نه لري.

۲- سورة البقرة آیت ۲۴۲ ۳- سورة الحج آیت ۴۶

نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيٓ أَصْحَابِ ٱلسَّعِيرِ.(۱)

ترجمة: اودغه منکران به وايي که دنبيانو ددعوت خبرى دقبول په اوريدلو مورږ اوريدلى واى، اومورږ خپل ځانونه په پوه کړى واى اويادپوهى اوعقل څخه موکار اخستى واى، نو نن به مورږ ددى دوزخيانو په ډله کې نه واى.

په بل آيت کې الله تعالى دمثالونو دفهم په باره کې فرمايي: (وَتِلْكَ الاَ مْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلاَّ الْعَالِمُونَ. (۲)

ترجمة :اودغه ذکرسوى مثالونه (په قرآن کې) مورږ دخلقو لپاره بيانوو او په دغه مثالونونه پوهيږى مگر دعلم خاوندان .دلته هم دعقل څخه پوهنه مراد ده.

دپورتنيو آيتونو اوداسې نوروپه استدلال دشريعت فقهاؤ دتکليف دپاره عقل اوتميز شرط بللى دى، معنى داچې ليونى، بى تميزه کوچنى اوبيده په خپلو حالتونوکې په شرعى حکمونو مکلف نه دى که په دغوحالتونوکې دکفر، طلاق، عتاق اوداسې نورالفاظ ووايى نودغه نافذ نه دى.

څکه نبى کريم صلى الله عليه وسلم په حديث کې فرمايي:عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثٍ: عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الصَّغِيرِ حَتَّى يَكْبُرَ، وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ أَوْ يُفِيقَ. (۳)

ترجمة: عائشة رضى الله تعالى عنها څخه روايت دى چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ددرو کسانوڅخه دتکليف قلم پورته سوى دى يودبيده څخه ترڅو چې ويښ يابيداره کيږى، دوهم د کوچنى څخه ترڅو چې بالغ کيږى، دريم دليونى څخه ترهغو چې عقل يې کارکوى ياپرسد کيږى.

داغه حديث په بل روايت کې داسې راغلى دى: عَنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَوَ مَا تَذْكُرُ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثَةٍ، عَنِ

۱- سورة الملک آيت ۱۰ - ۲- سورة العنکبوت آيت ۴۳ ۳- رواه سنن النسائى کتاب الطلاق

الْمَجْنُونِ الْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ حَتَّى يَفِيقَ وَعَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَحْتَلِمَ.(۱)

ترجمة: دعلی رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی ایاستا یاد نه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ددرو څخه د(تکلیف) قلم پورته سوی دی، دلیونی څخه چې پرعقل یې غلبه سوی وی ترڅوچې پرسد کیږی، دبیده څخه ترڅوچې بیداره کیږی، دکوچنی څخه ترڅوبالغ کیږی.

داځکه چې دده عقل پرځپل ځای نه دی اوپه شریعت کې دتکلیف دار او مدار پر عقل بنا دی.

دعقل قسمونه: څه علماء دعقل قسمونه بیانوی ترڅو دټولو معنی ګانو تطبیق وسی او وایی: دعقل پنځه قسمونه ذکرسوی دی:۱- عقل غریزی: هغه دی چې په ده سره دنظری علوموادراک کول کیږی. ۲- عقل کسبی: هغه داچې انسان ئی په معاشره کې دنورو عاقلانو څخه زده کوی ۳- عقل عطائی: هغه داچې الله تعالی ئی مومنانو ته ورکوی چې ایمان ته لاره په پیداکړی. ۴- عقل الزهاد: هغه داچې انسان دده په زریعه سره ذاهد جوړسی. ۵- عقل شرفی: هغه زموږ دنبی صلی الله علیه وسلم عقل دي ځکه چې دهغه عقل ترټولو عقلونو مشرف دی.

ځکه عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وایی: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ نَظَرَ فِي قُلُوبِ الْعِبَادِ، فَوَجَدَ قَلْبَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرَ قُلُوبِ الْعِبَادِ، فَاصْطَفَاهُ لِنَفْسِهِ، فَابْتَعَثَهُ بِرِسَالَتِهِ، ثُمَّ نَظَرَ فِي قُلُوبِ الْعِبَادِ بَعْدَ قَلْبِ مُحَمَّدٍ، فَوَجَدَ قُلُوبَ أَصْحَابِهِ خَيْرَ قُلُوبِ الْعِبَادِ، فَجَعَلَهُمْ وُزَرَاءَ نَبِيِّهِ، يُقَاتِلُونَ عَلَى دِينِهِ، فَمَا رَأَى الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا، فَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ حَسَنٌ، وَمَا رَأَوْا سَيِّئًا فَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ سَيِّئٌ».(۲)

ترجمة: عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمایی: بیشکه الله تعالی دخپلو بندګانو په زړونو کې وکتل نو دمحمد صلی الله علیه وسلم زړه ترټولو زړونو

۱- الترمذي كتاب الحدود – ۲- مسند امام أحمد، مسند المكثرين الصحابة

خیروو. نوځکه ئی دخپل ځان دپاره غوره کړی اوپه رسالت سری مبعوث کړی، او بیایی دخپلوبندګانوپه زړونوکې وکتل دمحمدصلی الله علیه وسلم ترزړه وروسته نودده داصحابو زړونه ترټولو زړونو خیراوغوره وو، نودوی ئی دخپل نبی وزیران جوړکړل، دوی دالله پردین باندې جنګ کوی، نوهغه څه چې مسلمانان ښه وبولی نو هغه دالله تعالی په نزدهم ښه دی، اوهغه څه چې ددوی په نزد بدوی نوهغه دالله تعالی په نزدهم بد دی.

کیدایسی داپه هغه صورت کې چې دمحمدی شریعت سره ښکاره تضاد او ټکر ونه لری، ځکه دشریعت په خلاف دچاقول اهمیت نه لری.

امیر المؤمنین علی رضی الله تعالی عنه وایی: عقلونه دوه دی یومطبوع او بل مسموع، ترڅو چې مطبوع عقل نه وی ترهغومسموع عقل هم نفع اوګټه نه رسوی، لکه څرنګه چې ړانده ته دلمر رڼا فائده نه رسوی ،واول ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په دی قول کې اشاره کړی ده چې فرمایی: (ما خلق الله خلقا اکرم علیه من العقل) وایی: الله تعالی داسې مخلوق نه دی پیداکړی چې پرده باندې تر عقل مکرم وی. معنی داچې الله تعالی دغه خپل مکرم مخلوق وخپل مکرم او معظم بنده انسان ته ورکړی.

ودوهم ته چې مسموع دی په دی قول سره اشاره کړی ده چې وایی: (ماکسب أحد شیئا أفضل من العقل یهدیه إلی هدی اویرده عن ردی) وایی: هیچا ترعقل ښه شی نه دی کسب کړی ځکه په ده سره وښوته لاره پیدا کوی اودبدو څخه ئی ساتی. (۱)

دعقل اهمیت

دعقل اهمیت تقریبا دهیڅ بصیرت لرونکې څخه پټ نه دی ځکه دا یو ښکاره حقیقت دی چې دهمدغه عقل پربنیاد الله تعالي انسان دنوروحیواناتو او جماداتو

۱- دغه دعلی کرم الله وجهه قول چاپه انټرنټ کې نقل کړی دی دکتاب حواله نلری

څخه جدا کړي دی او په همدغه عقل او فکرموږحق اوباطل، حلال اوحرام او نور ډیر شیان پیژنو، اودهمدغه عقل اوفکر پربنیاد الله تعالي موږ په شرعي حکمونو مکلف کړي یو، همداعقل دی چې وښی لاری ته دخپل خاوند لارښود نه کوی.

دهمدغه عقل پربنا الله تعالی انسان په مځکه کې دخپل خلیفة په توګه راولیږی په قرآن کریم کې رب العالمین دانسان پیدایښت ته داسې اشاره کوی او فرمایی: وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً .... الأية

ترجمة: اویادکړه (ای محمد صلی الله علیه وسلم) هغه وخت چې ستارب ملائکوته وویل: بیشکه زه په مځکه کې خپل خلیفه ګرځونکې پیداکونکې یم.

اودهمدغه عقل پربنا الله تعالی ودته هغه علم ورکړی چې هغه دملائکو سره نه ووځکه الله تعالی فرمایی: وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ.قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ. (۱)

ترجمة: اوالله تعالی آدم (علیه السلام) ته دټولو شیانو نومونه وروښودله. الله عزوجل آدم علیه السلام ته دهرشی نوم اودهغه حقیقت اوخاصیت، فائدی او تاوان وروښود، اوداښودنه بی کلامه پرزړه باندې دالقاء په توګه وه، ځکه بیله علمی کماله څخه خلافت اوپه دنیاباندې حکومت کول امکان نه درلود.

اوبیایی هغه ټول پرفرشتو باندې عرض کړل، او ورته وئی ویل تاسو ماته ددغو نومونو خبر راکړی که تاسو رشتیا ویونکې یاست.

ملائکو وویل: موږ تاته دټولو عیبونواواعتراضونو څخه دپاکۍ نسبت کوو، بیشکه ته ښه عالم اوښه دحکمت خاوند یې.

ددی دپاره چې دانسان فضیلت اوکمال ملائکوته معلوم سی اوهم دالله

۱- سورة البقرة آيات ۳۰ — ۳۲

تعالی حکمت معلوم سی دداغه شیانو نومونه یی پرملائکو عرض کړل، اوهغوی دخپل عجز اقرار وکړی اودالله تعالی تسبیح یی وویل، اواقرار یی وکړی چې ته په خپلو کارونو ښه عالم اوحکمت والایی.

دانسان دعلمی اوعقلی فضیلت ثابتیدلو وروسته رب العالمین ټول ملائکو ته داسې امرکوی اوفرمایی: وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ. (۱)

ترجمة: اویادکړه (ای محمدص) هغه وخت چې موږ ملائکوته امروکړی، چې آدم علیه السلام ته سجده وکړی، نوټولو سجده وکړه، خوابلیس نه وکړه، منع ئی وکړه اولویی ئی وکړه، دی لادپخوا دالله تعالی په علم کې دکافرانو څخه وو.

کله چې دآدم علیه السلام علمی شرافت ثابت سونوبیائی ملائکو اوپیریانو ته امر وکړی چې آدم علیه السلام ته دتحیی اوتعظیم سجده وکړی، په عین حال کې په دغه سره دابلیس دښمنی اودملائکو اخلاص اومتابعت ثابت سو اوهم د انسان کمال اوشرافت ثابت سو.

په یوحدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: عَنْ يَزِيدَ بْنِ سُفْيَانَ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمُؤْمِنُ أَكْرَمُ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، مِنْ بَعْضِ مَلَائِكَتِهِ» (۱)

ترجمة: یزید بن سفیان وایی: مادابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه واوریدل چې ویله یی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: مومن پرالله عزوجل باندې ترځه ملائکو ډیر عزتمند دی.

ځکه خوپه یو اوږده حدیث کې راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: «مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ فِيهِ عِلْمًا سَلَكَ اللَّهُ بِهِ طَرِيقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ، وَإِنَّ

۱- سورة البقرة آیت ۳٤   ۱- ابن ماجة کتاب الفتن

الْمَلاَئِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ، وَإِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ، وَمَنْ فِي الأَرْضِ، وَالْحِيتَانُ فِي جَوْفِ الْمَاءِ ....،(١)

ترجمه: څوک چې پرداسې لارې روان وي چې په هغه کې دعلم طلب کوي، نو الله تعالی به هغه دجنت دلارو څخه پريوه لاره باندې روان کړي، بيشکه ملائکې دطالب العلم درضادپاره خپل وزرونه فرش کوي، بيشکه دعالم دپاره هغه استغفار غواړي چې په آسمانونو کې دي اوهغه چې په مځکه کې دي، اوماهيان داوبو په نس کې دده دپاره دمغفرت غوښتنه کوي، ...... الحديث

دغه ټوله په خپله دانسان اودده دعقل پرعظمت اولويې باندې دلالت کوي چې انسان دخپل عقل په وجه ترټول ښه اوداحترام خاوند دی.

داچې انسان ته عقل ورکول سوی دی نوځکه ډيرځله په قرآن کريم کې الله تعالی انسان ته دعقلي نظردعوت ورکوي اوامر ورته کوي چې دالله تعالی په دغه کون اومکان کې فکر تدبر وکړي، اوددی په اسرارو ځان پوه کړي اوفرمايي:{إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ}. (٢)

ترجمه: بيشکه دآسمانونو اومځکې په پيداکولوکې، اودشپې او ورځې په اختلاف کې (چې اوږديږي اوکميږي، پرله پسې رښا اوتياره راځي، يخيږي او ګرميږي) اوپه هغه کښتۍ کې چې په درياب کې روانه وي اوخلګوته فائدة رسوي، اوپه هغه اوبو کې چې الله تعالی دآسمان څخه راکښته کړي دي اوپه هغو سره يې مځکه دمړيني (وچوالي) څخه وروسته ژوندی (زرغونه)کړې ده، اوخواره کړې ئې دي په دغه مځکه کې دهرقسم حيواناتو څخه اوپه ګرځولودبادونو کې،

١- سنن ابی داود کتاب العلم باب الحث علی طلب العلم - ٢ - سورة البقرة (١٦٤)

اوپه درولو دهغې وريځې چې مسخره کړې سوې ده دمځکې اوآسمان په منځ کې (په دغو ټولو کې) خامخا دالله تعالى دوحدانيت دليلونه دي دعقل دخاوندانو دپاره.

په پورتنی آيت کې رب العالمين انسانانوته خپل دقدرت اووحدانيت دلائل وربښی، اوهم پرانسان باندې دخپلونعمتونودجملې څخه څه نعمتونه وريادوی، هغه داچې دومره لوی آسمان بې ستنی درولوکې، اودومره لويه پراخه مځکه غوړولو اودهغې څخه داوبو دراويستلو اوبهيدلوکې، اودشپې او ورځې په بدلولوکې، اوپه سندونو دريابونو کې دبيړيو په تګ راتګ کې اودآسمان څخه داوبو په اورولو کې اودباران په اوبوسره دمځکې په شنه کولوکې، اوپه هغې کې دټولو حيواناتو په ژوندانه اوهستوګنه اوددوی په توالد اوتناسل کې، اودمختلفوجهاتو په راز رازبادونوچلولوکې،اودآسمان اومځکې ترمنځ دوريځو په درولوکې، په دغوټولوکې دالله تعالى دقدرت او وحدانيت لوی دليلونه دي، اودا دهغه چا دپاره چې عقل ولري اودخپل عقل څخه دفهم اوادراک کار واخلي، ښکاره خبره ده چې عقل نه لري لکه نور حيوانان اويايي په نشو باندې دخپل کار څخه معطل کړی وی نوهغه په دغو دليلونو نه پوهيږي.

اوالله تعالى په بل آيت کې فرمايي: {وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ}.(۱)

ترجمة: په تحقيق مونږ بيان کړی دی خلګوته په دغه قرآن کې دهرمثله،ددې دپاره چې دوی پند پرواخلي.

اوالله تعالى فرمايي: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَكُمْ مِنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ.(۲)

۱- سورة الزمر آيت ۲۷ -- ۲- سورة النحل آيت ۱۰

يُنْبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالأَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ.

وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ بِأَمْرِهِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ.

وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الأَرْضِ مُخْتَلِفاً أَلْوَانُهُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ}.(۱)

ترجمة: الله تعالی هغه ذات دی چې نازل کړی دی دآسمان دطرفه اوبه چې دهغه څخه تاسو چیښل کوی اودهغه څخه وابنه شنه کیږی اوتاسو په هغوی کې خپل حیوانات ګرځوی.

اوالله تعالی په دوغو ابو سره کښت، دزیتون، خرماوو، دانګورو تاکان او نور ډیری ستاسو دپاره شنه کوی، بیشکه په دغه (شنه کولو کې ددغو شیانو) دالله تعالی دقدرت لویې نشانیانی دی دهغو کسانو دپاره چې غور اوفکر پکښې کوی.

اومسخرکړی دی (په کار یې لګولی دی) شپه او ورځ،اولمر اوسپوږمی، او ستوری مسخر کړی دی، دده په امر حکم سره، بیشکه په دغو ټولوکې دالله تعالی دقدرت لویې نښانی دی دهغه قوم دپاره چې عقل چلوی، دخپل عقل څخه دفهم او ادراک کاراخلی.

اوهغه شیان چې پیداکړی دی (غوړولی دی) الله تعالی تاسو ته په مځکه کې، حال داچې ددوی رنګونه، شکلونه اوقسمونه یې مختلف دی ، بیشکه ددغه مخلوقاتو په اختلاف کې دالله تعالی دقدرت لوی دلیل دی دهغه قوم دپاره چې پند اخلی اونصیحت قبلوی.

عقل دغوږونو په شان دتوحید لپاره حجت اودلیل هم دی لکه چې الله تعالی ددوزخیان قول نقل کوی اوفرمایی: وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ

۱- سورة النحل آیت ۱۱ - ۱۳

السَّعِيرِ. (۱)

ترجمة : اووبه وايي دغه منكران كه واى موږ چه اوريدلى مو (خبرى دانبياؤ په دنياكې په سماع قبول سره) ياموعقل لرلى (په خير اوشر خپل) نونه بو وو موږ نن په اهل ملگرددوزخ كښى .

يعنى موږ په دى نه پوهيدلوچې دانبى به رشتنى وى،كه موږ په هغه وخت كې دپوهى اوعقل څخه كاراخستى واى اوپه حقيقت پوهيدلى واى نو نن به ولى موږ ددوزخيانو په ډله كې واى او تاسوته به دپيغور زمينه برابريد لاى .

الله عزوجل ودوى ته غوږونه اوعقلونه وركړى وه خودوى خپل غوږونه او عقلونه دحق په ادراک ياپيژندلوكې استعمال نه كړل نوداسې سوله لكه دوى چې غوږونه اوعقلونه نه لرى.

په بل ځاى كې الله تعالى فرمايي:فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ. (۲)

ترجمة : نوموږ دوى ته وويل: ددغى غواپه يوټوټه غوښه باندى دغه مړى ووهى، نودى ژوندى كيږى، همداسې الله تعالى په قيامت كې مړى ژوندى كوى اودرښيى تاسو ته خپل دقدرت نښانى ددى لپاره چې تاسو غور اوفكر وكړى .

په بل آيت كې فرمايي: كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ.(۳)

ترجمة: همداسې الله تعالى تاسوته خپل حكمونه بيانوى ددى لپاره چې تاسو وپوهيږى او وشرعى احكاموته خپل عقل متوجه كړى .

په بل ځاى كې الله تعالى فرمايي:وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَاءً وَنِدَاءً صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ. (۴)

۱- سورة الملک آيت ۱۰ - ۲- سورة البقرة آيت ۷۳ -

۳- سورة البقرة آيت ۲۴۲ - ۴ - سورة البقرة آيت ۱۷۱

ترجمة: دهغوکسانومثال چې کافران سوي دي لکه دهغه چاچې يوداسې شي ته ناري وهي چې هغه نه اوري مګرتشه بلنه ده اودوي کاڼه دي، ګونګيان دي، ړانده دي، نودوي هيڅ عقل نه لري چې حق ته لاره پيداکړي.

يعنې دغه کافران کاڼه دي چې دحق خبري نه اوري اوګونګيان دي چې دحق خبري نه کوي اوړانده دي چې سمه لاره نه ويني.مطلب داچې دوي په هيڅ شي نه پوهيږي ددوي دغه دري قواوي فاسدي سوي دي نوعلم اوپوهه به څنګه وکړي.

په بل ځاي کې الله تعالى فرمايي: قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِنْ كُنتُمْ تَعْقِلُونَ. (۱)

ترجمة: بيشکه موږ تاسوته دقدرت علامې بيان کړي دي که تاسو خپل د عقل څخه کار واخلې اوځانونه په پوه کړي.

په بل آيت کې الله جل جلاله دهغو په هکله فرمايي چې خپل عقل يې دخپل کار څخه معطل کړي وي: إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لاَ يَعْقِلُونَ.(۲)

ترجمة: بيشکه بدتر دټولو حيواناتو دالله تعالى په نزد هغه دي چې کاڼه دي دحق داوريدلو څخه، او ګونګيان دي دحق دويلوڅخه، اوهغه کسان دي چې دوي عقل نه لري .يعنې علم اوپوهه نه لري.

غرض داکه دالله تعالى ورکړل سوي ټولي قواوي په خپل اصلي مقصد کې استعمال نه کړي نو داسې خلق بيشکه ترټولوحيواناتو بد تر دي .

په قرآن کريم کې دعقل لفظ په مختلفوصيغويا الفاظوسره (۴۹) ځايه راغلي دي چې دغه پخپله دعقل داهميت لوي دليل دي .

اونبي کريم صلى الله عليه وسلم په يوحديث کې فرمايي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: كَرَمُ الرَّجُلِ دِينُهُ، وَمُرُوءَتُهُ عَقْلُهُ، وَحَسَبُهُ خُلُقُهُ.(۳)

ترجمة : ابوهريرة رضى الله تعالى عنه روايت کوي چې نبي کريم صلى الله

۱- سورة آل عمران آيت ۱۱۸ - ۲- سورة الانفال آيت ۲۲ -- ۳- رواه إمام أحمد في مسند ابى هريرة

علیه وسلم وفرمایل: چې دیو سړي عزت په دین سره دی، اومیړانه ئی په عقل سره ده، حسب اوعزت ئی په اخلاقو سره دی.

داخه چې نن موږ په دنیاکې وینو لکه لوی جهازونه، ابګوټونه ، قسم قسم علاجونه افریشنونه دواګانی، غلی میوی دانی، ریل ګاډی، کمپیوټر او نور شیان داټول دعقل محصول اوپیداوار دی.

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم تربعثت مخکې هم څه مشرکانوشراب نه چیښل، اونه ئی د بتانو عبادت کوی، اونه ئی قتل اوزنا کول اودائی دخپل عقل په رڼا کې نه کول ځکه دغه شیان دعقل دخاوندانو سره مناسب نه دی ځکه دغه ټول انسان وتاریکې اوبدبختیوته رسوی.

یوشاعر وایی: وأفضل قسم للمرء عقلُه -- فليس من الخيرات شيء يقاربه

إذا كَمَّل الرحمن للمرء عقلَه -- فقدكملت أخلاقه ومآربه

ترجمة: دسړی لپاره ډیر ښه قسم دده عقل دی + نودښه شیانوڅخه هیڅ شی دده سره مقابله نسی کولای + کله چې رحمن جل جلاله دسړی عقل پوره کړی + نو دده اخلاق او عادتونه پوره سی.

په بل ځای کې رب العالمین دانسان دجسم، عقل، باطنی حواسو، اوظاهری قواووڅخه بحث کوی اوفرمایی:أَلَمْ نَجْعَلْ لَهُ عَيْنَيْنِ.وَلِسَاناً وَشَفَتَيْنِ وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ(١)

ترجمة: آیا موږ ده ته نه دی ورکړی دوی سترګې چې په وګوری؟ بلکې ورکړی مودی. آیاموږنه دی ورکړی ده ته یوه ژبه اودوه شونډان (چې خبری، خوراک اوداسې نور په وکړی)؟ بلکې ورکړی مودی. اوموږ ده ته دخیر اوشر دواړی لاری ښودلی دی (چې جنت اودوزخ ته په ځی) یا هغه دمور دوه تی دی چې ماشوم ترپیداکیدلو وروسته یی هغه ته درودلو لاره ورښودلی ده.

١- سورة البلد آيات ٨- ١٠

په بل آیت کې الله تعالی فرمایي: {وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيراً مِنَ الْجِنِّ وَالأِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ} (۱)

ترجمة: بیشکه موږ پیداکړي دي دجهنم دپاره ډیرکسان دپیریانو او انسانانو څخه، چې دوی لره داسې بې معنا زړونه دي چې هیڅ نه پوهیږي، او دوی لره داسې بې فائدې سترګې دي چې په هغوی سره «دقدرت نښانې» نهویني، اودوی لره داسې بې کاره غوږونه دي چې دوی په هغوی سره «دالله آیتونه» نه اوري، دغه کسان دهغو چارپایانو په شان دي بلکې دوی ترچارپایانو ډیر ګمراهان دي، همدغه کسان ډیر غافلان دي.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایي: {أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ} (۲)

ترجمة: آیا سته دوی ته داسې پښې چې دوی په هغوی سره تلل کوي؟ آیا سته دوی ته داسې لاسونه چې دوی په هغوی سره نیول کوي؟ آیا سته دوی ته داسې سترګې چې دوی په هغوی سره لیدل کوي؟ آیا سته دوی ته داسې غوږونه چې دوی په هغوی سره اوریدل کوي؟.

دغه پورته ذکرسوي حواس ددوی سره ټول سته خوبیاهم رب العالمین دوی ته چارپایان اویاترهغوی ګمراهان ویلی دي، داځکه په دغو حواسو باندې چې دهرشي احساس وسو نوهغه ټول خپل محسوس پرعقل عرض کوي عقل بیا دښو اوبدوفیصله ورکوي، نوکه عقل جوړ اوسالم وي نوصحیح فیصله ورکوي اوکه هغه صحیح نه وي نوبیا غلته فیصله ورکوي، دمثال په ډول که پښې یو خواته ځي نواول دعقل سره مشوره کوي چې دغه ځای ته تلل مناسب دي که نه؟

۱- سورة الاعراف آیت ۱۷۹ ---- ۲- سورة الاعراف آیت ۱۹۵

لاسونو یوشی ته ورورې نواول دعقل سره مشوره کوی چې لاس وروړل مناسب دی که نه؟ که په سترګویوشی ته ګوری نواول دعقل سره مشوره کوی چې ورته کتل مناسب دی که نه؟ په غوږو یوشی اوری نواول دعقل سره مشوره کوی چې اوری دل یې مناسب دی که نه؟ اوداسې نور، نوکه عقل فاسد وی اوغلطه مشوره ورکړی نو هغه انسان بیا په ګناه اخته سی، اویاداسې جرم وکړی چې هغه دده دبربادی سبب وګرځی، اوداسې موږ په خپله ټولنه کې ډیر وینو چې دغلطی مشوری او غلطی فیصلی ډیر بد انجام وی.

چاویلی دی: چې عقل ته ځکه عقل وایې چې دغه دعقال پرځای استعمالیږی اوعقال په عربی اصطلاح کې داوښ ځنګون بندته ویل کیږی ځکه چې کله انسان دبدو اراده وکړی نوعقل دی دبده کاره څخه راګرځوی.

داچې یوڅوک دعقل سره بیاهم په نشه اوبدو کارونو اخته وی داسې دی لکه ده چې دخپل عقل څخه استفاده نوی کړی، یاداسې دی لکه دی چې عقل نه لری خو موږ ته عاقل معلومیږی ځکه دعقل خاوند خپل ځان ته ضرر نه رسوی.

دعقل ساتنه

دپورتنی څه تحقیق څخه معلومه سوله چې اول انسان دالله تعالی دټولو مخلوقاتو څخه یولوی عظیم مخلوق دی اوبیا ودغه اشرف المخلوقات ته چې څومره نعمتونه ورکول سوی دی دهغوی ټولو څخه زیات داهمیت وړنعمت عقل دی، ځکه دانسان دخلقت دحکمتونو څخه کیدای سی داهم وی چې الله تعالی د دنیا تعمیر په انسان کوی، اوهغه قسم قسم خزانی چې رب العالمین په مځکه، آسمانونو اودریابونوکې دانسان دپاره ساتلی دی هغه دانسان په ذریعه راوباسی، همدغه انسان دی چې دمځکې دنس څخه یې راز راز معدنونه ، پټرول، مس او داسې نور شیان راوایستل اوخپل په نفع یې استعمال کړل، همدغه دانسان عقل

دی چې په فضاء کې نه یوازې داچې انسانانو ته یې دښه هوسا اوآسانه سفر زمینه برابره کړی ده بلکې سپوږمی، مریخ اونورو سیاروته یې هم خپل ځان ورسوی، همدغه دانسان عقل دی چې د سمندرونو دریابونو سینې یې څیرې کړې اودهرقسم ابګوتونو اودریابې وسایلو په ذریعه یې ددنیادکونجونواوطرفونو لارې لنډې کړې همدغه دانسان عقل دی چې دعلم، پوهې، تعلیم اوتربیې په اړخ کې حیرانونکې ګامونه پورته کړه، اوهمدارنګه د علاجونو اودوا سازې په لړکې هم تړدیره حده نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي. ددې نه علاوه چې انسان څومره دښیګڼې کارونه کوی اویادبدیو اوضررونو څخه ځان ساتی نوهغه ټول په عقل کولای سی چې عقل نه لرې هغه نه ځان ته اونه بل ته نفع رسولای سی.

نو لکه څومره چې عقل مهم دی هغومره ئې ساتنه هم مهمه ده نوځکه داسلام په مقدس دین کې ټول هغه څه حرام کړل سوی دی چې عقل ته ضرر رسوی.

دعقل دساتنې یوه طریقه داده: چې دسر اوهغه چې په سرکې دی حفاظت او ساتنه یې وسی ځکه دعقل مرکز سردی، نودسرساتنه اوپر هغه باندې دنه وهلو امر سوی دی، ترڅو حفاظت یې وسی، دالله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم په دی هکله فرمایي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اسْتَحْيُوا مِنَ اللَّهِ حَقَّ الحَيَاءِ». قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَسْتَحْيِي وَالحَمْدُ لِلَّهِ، قَالَ: «لَيْسَ ذَاكَ، وَلَكِنَّ الِاسْتِحْيَاءَ مِنَ اللَّهِ حَقَّ الحَيَاءِ أَنْ تَحْفَظَ الرَّأْسَ وَمَا وَعَى، وَالبَطْنَ وَمَا حَوَى، وَلْتَذْكُرِ المَوْتَ وَالبِلَى، وَمَنْ أَرَادَ الآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الدُّنْيَا، فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ اسْتَحْيَا مِنَ اللَّهِ حَقَّ الحَيَاءِ. (۱)

ترجمة: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دالله تعالی څخه داسې حیا وکړی لکه څرنګه چې دده حق

۱- رواه الترمذی کتاب صفة القیامة والرقایق والورع

دی ، مور ووېل ای دالله رسوله شکر دی الحمد لله مور دالله تعالی څخه حیا کوو، ده ووېل داصحیح ده خودده حق دادی چې دسراودهغه څه چې په سرکې دی حفاظت وکړی اوبیانس اوهغه څه چې په هغه کې سته حفاظت وکړی اوبیادمرګ اودهډوکو دخرابیدلو یادونه وکړی اوڅوک چې دآخرت کامیابی غواړی هغه دی ددنیا دزینت څخه ځان وساتی اوڅوک چې داسې وکړی نوهغه دالله تعالی څخه دحیا کولو حق ادا کړی.

په یوبل حدیث کې فرمایی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ». (۱)

ترجمة: ابوهريرة رضی الله تعالی عنه دنبی علیه السلام څخه روایت کوی چې ده ویل که یوه ستاسو څخه دخپل ورور سره جنګ کوی نودمخ څخه دی ځان وساتی.

داغه حدیث په ابو داود کې په داسې الفاظو راغلی دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ». (۲)

ترجمة: ابوهريرة رضی الله تعالی عنه دنبی صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی چې ده ویل: که ستاسو څخه چا وهل کول نودمخ څخه دی ځان وساتی.

اومخ دسره څخه دی ځکه یوروایت داسې راځی: عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ: «مَا فَوْقَ الذَّقَنِ مِنَ الرَّأْسِ فَلاَ يُخَمِّرْهُ الْمُحْرِمُ» (۳)

ترجمة: دنافع څخه روایت نقل سوی دی چې عبدالله بن عمر (رض) به ویل: دزنی څخه لوړ دسر څخه دی محرم دی (داحرام په حال کې) نه پټوی.

نه یوازی داچې پرمخ باندې وهل منع دی بلکې داسلام پیغامبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په دی هکله سخته سزاهم ښودلی ده اوفرمایی: عَنْ

۱- مسلم كتاب البر والصلة والأدب ۲- ابوداود كتاب الحدود - ۳- موطأ امام مالک کتاب الحج

عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَطَمَ الخُدُودَ، وَشَقَّ الجُيُوبَ، وَدَعَا بِدَعْوَى الجَاهِلِيَّةِ» (۱)

ترجمة: زموږ پرسنتو باندې نه دی هغه څوک چې دلاس په ورغوی دچا مخ ووهی، یادچاګریوان یاجامی ورڅیری کړی، یاهغه چې جاهلیت ته دعوت کوی هغه داچې پرمړی باندې ژړا اوفریاد کوی.

دپورتنیوحدیثونو په استدلال علماء اوفقهاء کرام دمخ اوسر وهل حرام بولی ان تردی چې دشرعی حدودو دنافذ کولو په وخت کې به یې هم برسر اومخ نه وهی. ځکه دتجربی دمخی پرسر وهلو یا لویدلو سره ډیرځله دانسان عقل خراب سوی او لیونی سوی دی.

دحنفی فقهی په یوډیر معتمد کتاب کې دغه مسئله په داسې الفاظوسره تشریح سوی ده: وَلَا يُجْمَعُ الضَّرْبُ فِي عُضْوٍ وَاحِدٍ؛ لِأَنَّهُ يُفْضِي إِلَى تَلَفِ ذَلِكَ الْعُضْوِ، أَوْ إِلَى تَمْزِيقِ جِلْدِهِ، وَكُلُّ ذَلِكَ لَا يَجُوزُ، بَلْ يُفَرِّقُ الضَّرْبُ عَلَى جَمِيعِ الْأَعْضَاءِ مِنْ الْكَتِفَيْنِ وَالذِّرَاعَيْنِ وَالْعَضُدَيْنِ وَالسَّاقَيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ إِلَّا الْوَجْهَ وَالْفَرْجَ وَالرَّأْسَ؛ لِأَنَّ الضَّرْبَ عَلَى لْفَرْجِ مُهْلِكٌ عَادَةً، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ سَيِّدِنَا عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَوْقُوفًا عَلَيْهِ وَمَرْفُوعًا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «اتَّقِ وَجْهَهُ وَمَذَاكِيرَهُ» وَالضَّرْبُ عَلَى الْوَجْهِ يُوجِبُ الْمُثْلَةَ وَقَدْ «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْمُثْلَةِ» وَالرَّأْسُ مَجْمَعُ الْحَوَاسِّ وَفِيهِ الْعَقْلُ فَيُخَافُ مِنْ الضَّرْبِ عَلَيْهِ فَوَاتُ الْعَقْلِ أَوْ فَوَاتُ بَعْضِ الْحَوَاسِّ. (۱)

ترجمة: وهل به پریوه اندام یوځای نه کیږی، ځکه دغه داندام دتلف کولو اویا دجلد وڅیری کیدلوته مفضی کیږی، اودغه جائزنه دی، بلکې دغه وهل به دبدن پراعضاؤ تقسیم کیږی لکه وږی، لاسونه، پنډی، پښې مګرنه مخ، ذکر اوسر، ځکه عادة پرذکروهلوسره انسان هلاک کیږی، بیشکه دعلی رضی الله

۱- صحیح البخاری کتاب الجنائز - ۱- بدائع الصنائع ج۷ ص ۵۹

تعالی عنه څخه روایت دی، اوده دغه حدیث پرده باندې موقوف اورسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم رسولی دی: هغه داچې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو دده دمخ اوذکر څخه ځان وساتی، اوپرمخ باندې وهلوسره مثلت راځی اورسول الله صلی الله علیه وسلم دمثلت څخه منع کړی ده، اوسر دټولو حواسو ځای دی، اوپه ده کې عقل دی، اوددی ویره سته چې پرسر وهلو سره دده عقل فوت سی، اویانور حواس ورسره فوت سی.

دعقل دساتلو دوهمه طریقه داده: چې ټول نشه کونکې شیان حرام بلل سوی دی ځکه چې دنشی استعمال انسان نشه کوی اونشه پرعقل پرده اچوی اودخپل طبیعی کارڅخه یې معطل کوی نه یوازی داچې حرام بللی سوی دی بلکې دهغوی څخه پرهیزکول لازم بلل سوی دی، داهم دعقل دحفاظت یاساتلولپاره دی.

دنشیی توکو قسمونه

نشیی توکې: څه علماؤپرمائع اوجامد اوڅه علماؤ پر طبیعی او مصنوعی تقسیم کړی دی خوپه عربی کتابونوکې پرمسکر، مخدر اومفتر باندې تقسیم سوی دی.

طبیعی: لکه شراب، تریاق، چرس، تمباکو اوددوی څخه جوړ سوی مختلف شیان.

مصنوعی: لکه څه دنشی پیچکاری،هیروین،ګولی، کپسولونه اوداسې نور چې په کارخانوکې د ماشینانو په ذریعه جوړیږی.

دلته زموږ مطلب دنشی اودهغه دحرام والی سره دی ددوی دنومانو او ددوی دطبیعت سره نه دی چې څه نوم اوماده یې ده، کوم شی چې انسان نشه کوی دهغه دحل یاحرمت دقرآن اوحدیث اود فقهاؤ داوصولو مطابق بیان کوو تر څوددغو ناولوشیانو حقیقت معلوم سی،ترڅویوپاکه ټولنه جوړه کړواود پاکې نفقی خاوندان سو اودالله تعالی درحم قابل جوړسو.

۱- خمر

لمړی دنشي توکو دجملی څخه خمر دی چې د اسلام په دین کې ډیر بد او حرام بلل سوی دی اودټولو خبائثو مور اودټولو شرونو کیلی ورته ویلی سوی دی ځکه چې په یو اثرکې راځی: عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أبيه قَالَ: سَمِعْتُ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: " اجْتَنِبُوا الْخَمْرَ فَإِنَّهَا أُمُّ الْخَبَائِثِ.(۱)

ترجمة: ابی بکر بن عبد الرحمن بن الحارث دخپل پلار څخه روایت کوی چې ما دعثمان رضی الله تعالی عنه څخه واوریدل چې ویلی دشرابو څخه پرهیز وکړی ځکه دغه دټولو بدیو مور ده.

په بل اثرکې راغلی دی:عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: أَوْصَانِي خَلِيلِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تَشْرَبِ الْخَمْرَ، فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ» (۲)

ترجمة: ابی درداء رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې ماته خپل خلیل صلی الله علیه وسلم وصیت وکړی چې خمر مه چیښه ځکه دا دټولو شرونو کیلی ده.

اونن خمرو په ټوله اسلامی اوغیر اسلامی دنیا کې دعامی بلوا صورت اختیار کړی دی، اوپه عامو بازارونوکې بیله کوم عار اوشرم څخه خرڅیږی او رانیول کیږی اوچیښل کیږی.

که څه هم مسلمانان د(خمر) په حرام والی کې څه شک اوشبهه نه لری، خو څه علماؤ دخمر په معنی اوحقیقت کې داسې اختلاف کړی دی چې دهغه دوجهی څخه څه عوامو اوخواصو ته داسې لاری پیدا سوی دی چې دهغوی په وجه حرامو ته مباح وایی، اوعوام دهغوی پر استعمال جرأت کوی، ځکه دفقهی په کتابونو کې دخمر دلفظ په معنی کې اختلاف نقل سوی دی، اودنورو منشیاتو په هکله هم دفقهاؤ یو نظر نه لیدل کیږی.

۱- رواه النسائي كتاب الأشربة - ۲- رواه ابن ماجة كتاب الأشربة

نوځکه ترهرڅه دمخه به دخمر دمعنی تعریف وکړو چې خمر دعربی لغت په کتابونوکې، اوپه نبوی حدیثونوکې، دقرآن کریم مفسرینو په خپل تفسیرونو کې څه معنی کړی ده، اوهمدارنګه داصول فقهی دقانون دمخې څه معنی کیدای سی، او بیا دفقهاؤ په نظرکې څه ته وایی، اوبیابه یی دحرمت اودهغه وجهی ته نظر وکړو اوبیابه دخپل علمی توان په مطابق دنورو نشیی توکو یاموادو څخه څه بحث وکړو.

داځکه چې دخمر دحراموالی علت اوحکم معلوم سی نو دنوروحکم هم آسانه معلومیږی ، اودابه معلوم سی چې دټولو علت یودی که جدا که علت یو وی نوحکم یی هم یودی چې حرام دی.

دخمر معنی په عربی لغت کې

په قرآن کریم کې الله تعالی د(خمر)کلمة ذکرکړی ده، خمریوعربی لفظ دی دعربی ژبی دلغت په کتابونوکې دوی معنی ګانی سوی دی یوداچې دخمر لفظ عام دی وهرنشه کونکې شی ته ویل کیږی،دوهم داچې خمر یوازی دانګورونشه کونکې شیری ته ویل کیږی، دغه دواړی معنی ګانی دلغتو په کتابونو کې ذکر سوی دی، لکه څرنګه چې ددغه لاندنیو تعریفونو څخه معلومیږی:

۱- والخَمْرُ: مَا أَسْكَرَ مِنْ عَصِيرِالْعِنَب لأَنَّها خَامَرَتِ الْعَقْلَ. والتَّخْمِيرُ: التَّغْطِيَةُ، يُقَالُ: خَمَّرَ وَجْهَهُ وخَمِّرْ إِناءك. والمُخامَرَةُ: الْمُخَالَطَةُ.

والخَمْرُ: مَاخَمَرَ العَقْلَ، وَهُوَالْمُسْكِرُمِنَ الشَّرَابِ، وَهِيَ خَمْرَةٌ وخَمْرٌ وخُمُورٌ مِثْلُ تَمْرَةٍ وتَمْرٍ وتُمُورٍ.(۱)

ترجمة: خمر دانګورو نشه کونکې شیره ده، اودغه ته خمر ځکه ویل کیږی چې عقل خرابه وی اوګډ وډ کوی،اوتخمیر پرده اچولوته وایی، اوداسې ویل کیږی (مخ یی پټ کړی، خپل لوښی پټ کړی، اومخامره ګډ وډ کولوته وایی.

۱- لسان العرب ج ۴ ص۲۱۱

بل تعریف داسې سوی دی: خمر هغه شی ته ویل کیږی چې عقل پټوی او دغه نشه کونکې شراب دی، اودغه دخَمْرَةٌ وخَمْرٌ وخُمُورٌ په الفاظو سره راځی لکه تَمْرَةٍ وتَمْرٍ وتُمُورٍ.

۲- قال الفیروزآبادی:الخَمْرُ:ماأسْکَرَ من عَصیرِ العِنَبِ، أو عامٌّ، والعُمومُ أصَحُّ، لأنَّها حُرِّمَتْ، وما بالمدینة خَمْرُ عِنَبٍ، وماکانَ شَرَابُهُم إلا البُسْرَ والتَّمْرَ، سُمِّیَتْ خَمْراً لأنَّها تَخْمِرُ العَقْلَ وتَسْتُرُهُ، أولأنَّها تُرِکَتْ حتی أدْرَکَتْ واخْتَمَرَتْ أولأنَّها تُخامِرُ العَقْلَ، أي: تُخالِطُهُ.(۱)

ترجمة: فیروز آبادی وایی: خمر په لغت کې دانګورو نشه کونکې شیره ده (یاعام دی) اودغه عاموالی صحیح دی، ځکه خمرپه مدینة کې حرام سوله اوپه مدینه کې په دغه وخت کې دانګورو شراب نه وه، ددوی شراب په دغه وخت کې نه وه مګر دلندی اووچې خرما څخه وه، ودغه شیری ته ځکه خمروویل سُول چې پر عقل پرده اچوی اوپټوی، اویاځکه چې دوی خپله پټ ساتل کیږی ترڅو داسې ګاته سی چې نشه پیداکړی، یاځکه خمر ورته وویل سول چې عقل ګډ وډ کوی.

۳- وقال الذبیدی:بشرح صاحب القاموس:الخَمْرُ:مَا أسْکَرَ مادّتُها مَوْضُوعَة للتَّغْطِیة والمُخالَطَةِ فِي سِتْرٍ،کَذَا قالَه الرَّاغِب والصَّاغانِيّ وغَیرُهُما من أربابِ الاشتِقاق، وتَبِعَهم المُصَنِّف فِي البصائر.

واختُلف فِي حَقِیقَتِها، فقِیل هِيَ (من عَصِیرِ العِنَب) خَاصَّةً، وَهُوَ مَذْهَب أبِي حَنِیفَة، رَحِمه اللّهُ تَعَالَی، والکُوفِیِّین، مُرَاعَاةً لفقْه اللُّغَة: (أوْ عَامٌّ) أي مَاأسْکَرَمن عَصِیرِکُلِّ شَيْءٍ لأنَّ المَدَارَ علی السُّکْر وغَیْبُوبة العَقْل، وَهُوَ الذي اختَاره الجَمَاهِیر.(۲)

ترجمة: زبیدی دقاموس دعبارت شرح کوی اووایی: خمر هغه شی دی چې نشه لری، اودغه مادة دپرده اچولو اوګډوډ کولو دپاره وضع سوی ده ،اودغه قول دراغب، صاغانی اوددوی نه علاوه نوردا شتقاق عالمانوهم ویلی دی او مصنف هم

۱- القاموس المحیط ج۱ ص ۳۸۷مادة خمر --- ۲- تاج العروس ج ۱۱ص ۲۰۸ مادة خمر

په خپل بصائر نومي کتاب کې ددوی اتباع کړې ده.

دخمر په حقيقت کې اختلاف دی: چاويلي دی: دغه خاص دانګورو دشيرې څخه وی، دغه قول دامام ابوحنيفة (رحمة الله تعالى عليه) اونورو کوفيانو دی ترڅو دفقه دلغت مراعت سوی وی (اودعام) دلفظ تشريح کوی او وايي: يعنی دخمر څخه دهرهغه شی شيره مراد ده چې نشه لری، ځکه دلته مرادنشه اودعقل غائب کول دی، همدغه معنی جمهورو علماؤ اختيار کړې ده.

۴- الخمر: المسكر من عصير العنب وغيره, وهي مأخودة من خمر الشئ إذا ستره وغطاه, سميت خمرا لأنها تستر العقل وتغطيه, ومنه قولهم: خمرتُ الإناء أى غطيتُه.

قال الزجاج: الخمر فى اللغة: ماسترالعقل, يقال: دخل فلان فى خمارالناس أى فى الكثير الذى يسترفيهم, وخمار المرأة سمى خمارا لأنه يغطى رأسها.(۱)

ترجمة: خمر هغه نشه کونکې شی دی، دانګورو دشيرې څخه وی اوکه بيله انګورو دبل شی څخه جوړ سوی وی، اوخمر دشی دپټيدلو څخه اخستل سوی دی، چې کله شی پټ کړل سی اوپرده پرواچول سی، خمرته ځکه خمر وايي چې دوی عقل پټوی اوپرده پراچوی، دهمدی څخه ويل کيږی چې (ماشی پټ کړی چې کله پرده پرواچوی).

زجاج وايي: خمر په لغت کې هغه شی ته وايي چې عقل پټوی، ويل کيږی: (فلانی دخلګو په خمار کې دی يعنی په دومره ډيرو خلګوکې دی چې په دوی کې پټ سو، دښځې پوړنی ته خمار ويل کيږی ځکه ددی سرپټوی.

که پورته ذکرسوی تعريفونوته وګورو نو وينو چې دځه الفاظو په تغير دتولو په منځ کې يوه مشترکه معنی سته هغه دعقل پټيدل دی، ځکه دخمر معنی پټيدل دی، اودابنکاره خبره ده چې دعقل پټيدل دادی چې دخپله کاره څخه معطل سی

۱- الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية ص ۳۴۳

هغه داچې فهم اوادراک نسی کولای اوخپل خیراوشر نه سره پیژنی اودغه دعقل معطل کیدل په نشه سره کیږی نشه دهرشی چې وی اودانگوروداوبوڅخه جوړسوی شراب هم هغه وخت حرام دی چې نشه پیداکړی، چې دنشی حد ته نوی رسیدلی یا دنشی دحال څخه ووزی نوهغه هم حرام نه دی، معلوم سو چې اصل نشه حرامه ده.

که دلسان عرب مصنف خاص تعریف کړی دی هم مراد دعقل پټیدل یا دخپلی اساسی وظیفی څخه معطل کیدل دی، که دغه نورو عام تعریف کړی دی دهغوی هم داغه مطلب دی چې هرهغه شی چې نشه لری اوپه هغه سره عقل دخپل کار څخه معطل کیږی نوهغه حرام دی.

دزجاج په تعریف کې په صراحت سره لیکلی دی چې هرهغه شی ته ویل کیږی چې عقل پټوی، اوعقل په نشه پوټیږی دهرشی چې وی.

دپورتنیو ټولوتعریفونو څخه معلومه سوله چې دعربی لغت اکثریت پردغه دی چې دخمر معنی عامه ده وهرهغه شی ته ویل کیږی چې نشه ولری.

دخمر معنی دحدیث دنظره

دلغت په معنی ګانوکې یوشی ښکاره معلوم سوهغه داچې مدار یی پټول، پرده اچول اوګډوډ کول دی، دهمدی څخه (په عربی ژبه) کې د ښځی پوړنی یاهغه ټوکر ته چې داخپل سر یادښایست ځایونه په پټوی خمار ویل کیږی، څکه الله عزوجل فرمایی (وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ.(۱)

ترجمة: او وادی چوی پوړنی خپل پرګریوانونو خپل.

همدغـه پورتنی دپټیدلومعنی دنبی کـریم صلی الله علیه وسلم پـه ډیرو حدیثونو کې بیان سوی ده: ۱- عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«خَمِّرُوا الآنِيَةَ، وَأَجِيفُوا الأَبْوَابَ، وَأَطْفِئُوا المَصَابِيحَ، فَإِنَّ الفُوَيْسِقَةَ

۱- سورة النور آیت ۳۱

رُبَّمَا جَرَّتِ الفَتِيلَةَ فَأَحْرَقَتْ أَهْلَ البَيْتِ» (١)

ترجمة: رسول الله صلی علیه وسلم فرمایي: دخوب څخه مخکې لوښي پوټوی اودروازې بندوی او چراغ ګل کوی ځکه چې کله کله موږک دڅراغ پلیته کشوی اوکور والا سوځی (ځکه ددغه څخه اورلګیږي).

په بل حدیث کې راغلی دی: ٢- عَنْ زُرْعَةَ بْنِ جَرْهَد الأَسْلَمِيُّ، عَنْ أبيه، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّة، قَالَ: جَلَسَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَأَى فَخِذِي مُنْكَشِفَةً، فَقَالَ: «خَمِّرْ عَلَيْكَ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ». (٢)

ترجمة : زرعة دجرهد اسلمی رضی الله تعالی عنه زوی دخپل پلار څخه چې (داصحاب صفة څخه وو) روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کښینستی او زما لوڅ ورون یې ولیدی نو وی ویل پرخپل ځان پرده واچوه ایاته نه یې خبر چې ورون عورت دی.

په بل حدیث کې راغلی دی: ٣- عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَحْشٍ، خَتَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى مَعْمَرٍ بِفِنَاءِ الْمَسْجِدِ مُحْتَبِيًا كَاشِفًا عَنْ طَرَفِ فَخِذِهِ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَمِّرْ فَخِذَكَ يَا مَعْمَرُ؛ فَإِنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ» (٣)

ترجمة: محمد بن جحش څخه روایت دی چې نبی صلی الله علیه وسلم د مسجد بغل ته تیریدی چې دمعمر دورانه څه حیصه لوڅه وه. نوده ته نبی صلی الله علیه وسلم وویل: ای معمره خپل ورون پټ کړه بیشکه ورون عورت دی.

په بل حدیث کې راغلی دی: ٤- عَنْ مُحَمَّدٍ، أَنَّ عَائِشَةَ نَزَلَتْ عَلَى صَفِيَّةَ أُمِّ طَلْحَةَ الطَّلَحَاتِ، فَرَأَتْ بَنَاتٍ لَهَا يُصَلِّينَ بِغَيْرِ خُمُرٍ قَدْ حِضْنَ، قَالَ: فَقَالَتْ عَائِشَةُ: لاَ تُصَلِّيَنَّ جَارِيَةٌ مِنْهُنَّ إِلاَّ فِي خِمَارٍ. (٤)

١- رواه البخاری کتاب الاستئذان حدیث نمبر ١٢٢٣ -- ٢- مسند امام احمد حدیث نمبر ١٥٣٦٦

٣- مسند امام احمد بن حنبل حدیث نمبر ٢١٤٥٦ - ٤- رواه امام احمد فی مسنده حدیث نمبر ٢٣٥٠٥

ترجمة : دمحمد څخه روایت دی چې عائشة رضی الله تعالی عنها دطلحة دمور صفیی کره راغله او ددی لونړ یی ولیدلی چې بیله پوړنی یی لمونځ کوی او دوی ته حیض ورغلی یعنی بالغانی وی، دی وایی نوعائشة (رضی الله تعالی عنها) ورته وویل چې ددوی څخه دی پیغله بیله پوړنی لمونځ نه کوی.

دپورتنیو ټولو حدیثونو څخه ثابته سوله چې دخمر معنی پټیدل دی، داچې شرابو ته خمر وایی ځکه دانسان عقل پټوی یعنی دخپلی وظیفی څخه بندوی.

دهمدغه دلائلو پربنیادیو عالم په خپل کتاب کې لیکلی دی: وقد أطلق اسم الخمرعلی سائرالأنبذة المسکرة، لمافیها من مخامرة العقل، وکان الإطلاق اللغوی قائما علی أساس الستر والتغتطیة والمخالطة.(۱)

ترجمة: اودخمر اطلاق پرټولو نشه کونکو شربتونو باندې کیږي؛ ځکه چې په دوی کې هغه څه سته چې پرعقل پرده اچوی اودلغت دټولو معنی ګانو اساس اوبنیاد ستر، پرده اچول اوګډوډ کول دی.

یوبل دوخت ډیر ښه عالم په خپل کتاب کې لیکې: ویستوي في نظر الإسلام کل مسکر، لأن المسکر في اللغة الخمر،وکل ما یسکر ویذهب بالعقل من الخمرة وما فیها معناها کالحشیش والأفیون، فکل مسکرخمر مهما تعددت أشکاله وألوانه، ومهما وضع له الناس من مسمیات وألقاب، فیدخل فی ذلک کل ماثبت اسکاره من أی مادة حتی ولوکانت خبزا او ماءا، کماروی عن عائشة رضي الله تعالي عنها, أنها قالت (لاأحل مسکرا وإن کان خبزا او ماءا) وسواء کان نیئا اومطبوخا, مأکولا اومشروبا, جامدا اومائعا, موجودا في زمن النبي صلي الله علیه وسلم أولا........(۲)

ترجمة:داسلام دنظره ټول نشه کونکې شیان یوبرابردی ځکه نشه کونکې

۱- البیوع المحرمة والمنهی عنها ص ۱۰۱

۲- المخدرات أخطر معوقات التنمیة ج۱ ص ۵۳

شي په عربي لغت کې خمردی اوهرهغه شي چې نشه لري اوعقل غائب کوي او هغه چې دده په معنی وي لکه چرس اوأفیون او داسې نور هغه دخمر څخه دی، نوهرمسکرخمردی، هرڅومره چې شکلونه اورنګونه ډیرسي، اوهر څومره چې خلګ دهغوی دپاره نومونه اولقبونه وضع کړي، نوپه دغه کې ټول هغه څه داخل دي چې دسکر یانشې معنی پکښې ثابته سي، دهری مادې څخه چې وي که څه هم ډوډې اواوبه وي، ځکه دعائشې رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې هغې ویل: «زه مسکرته حلال نه وایم که څه هم ډوډې او اوبه وي» او داهم فرق نه لري تازه وي که پاخه، خوړونکې وي که چیښونکې، وچ وي که نرم، دنبي علیه السلام په زمانه کې موجود وي که نه.

دپورته ذکرسوي ټولوحدیثونو څخه هم ثابته سوله چې دخمر معنی د عقل پوټېدل دي اودغه معنا عامه ده هره نشه عقل دخپل کارڅخه باسي.

دخمر معنی دمفسرینو دنظره

ددې عنوان دلیکلو مطلب دادی: دخمردلفظ په معنی کې چې کوم اختلاف دی هغه داچې دخمر لفظ عام دی یعنی هرنشه کونکې شي ته خمر ویل کیږي لکه جمهورفقهاء چې وایي یاداچې یوازې دانګورونشه کونکې شیرې ته ویل کیږي، لکه دحنفي فقهاؤ نظر چې دی، غواړم چې په دغه بحث کې دقرآن کریم دڅو مشهورو اومقبولومفسرینو نظرونه اورایې هم معلوم کړو چې د هغوی په دې هکله نظر څه دی؟ ځکه دوی تر ډیرو فقهاؤ دقرآن کریم په مطلب اوغرض ډیر ښه پوهیږي، ځکه دوی په دې هکله ترنورو زیاته مطالعه، محنت اوکوشش کړی دی، ترڅو دعربي لغتونو، نبوي حدیثونو اودمفسرینو دنظرونو په رڼاکې د قرآن کریم دلفظونو اوحکمونو مطلب واضح سي.

دتفسیر کبیر دنظره

داچې فخرالدین الرازی (رحمة الله تعالی علیه) دتفسیر کبیر مفسر زموږ د علماؤ په منځ کې ډیر لوی مقبولیت لری اودده کتاب دعلماؤ په منځکې ډیرښه شهرت لری داسې عالم به کم وی چې دده په کتاب خانه کې تفسیرکبیرنه وی بلکې هره کتابخانه دتفسیر کبیرنه بغیرنیمګړی معلومیږی، اوده په دی هکله په پوره تفصیل اودلائلو سره داموضوع ښه روښانه کړی ده چې دخمرڅخه هر مسکر مراد دی نوځکه غواړم چې اول دده دتفسیر څخه څه مطلوب عبارتونه د ترجمی سره لوستونکوته ولیکم ترڅو موضوع ثابته سی چې دخمر دلفظ څخه څه مراد دی؟ یوازی دانګورو اوبه دی که هرنشه کونکې شی ته ویل کیږی.

دمفسرینو دنظرونو تروراندی کیدلو دمخه لږڅه دخمر دآیتونو دشان نزول په هکله اشاره کول ضروری ګڼم ځکه په تفسیرکې شان نزول دحکم په اخستلو کې لوی اهمیت لری اونور هم په مطلب اخستلو کې آسانی راځی اوداهم دتفسیر کبیر څخه را اخلم.

دخمر دآیتونو دشان نزول په هکله دری مختلف روایتونه راغلی دی د هغوی دجملی څخه دیوه روایت په لیکلو اکتفاءکوم اوهغه په لاندی ډول دی:

۱- نَزَلَتْ فِي الْخَمْرِأَرْبَعُ آيَاتٍ نَزَلَ بِمَكَّةَ قَوْلُهُ تَعَالَى:(وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَراً وَرِزْقاً حَسَناً). (۱)

وَكَانَ الْمُسْلِمُونَ يَشْرَبُونَهَا وَهِيَ حَلَالٌ لَهُمْ، ثُمَّ إن عمر وَمُعَاذًا وَنَفَرًا مِنَ الصَّحَابَةِ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفْتِنَا فِي الْخَمْرِ، فَإِنَّهَا مُذْهِبَةٌ لِلْعَقْلِ، مُسْلِبَةٌ لِلْمَالِ، فَنَزَلَ فِيهَا قَوْلُهُ تَعَالَى: (قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا).(۲)

۱- سورة النَّحل: ۶۷ - ۲- سورة البقرة آیت ۲۱۹

فَشَرِبَهَا قَوْمٌ وَتَرَكَهَا آخَرُونَ، ثُمَّ دَعَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ نَاسًا مِنْهُمْ، فَشَرِبُوا وَسَكِرُوا، فَقَامَ بَعْضُهُمْ يصلي فقرأ: قل يا أيها الكافرون أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ، فَنَزَلَتْ: لاَ تَقْرَبُوا الصَّلاَةَ وَأَنْتُمْ سُكَارى.(١)

فَقَلَّ مَنْ شَرِبَهَا، ثُمَّ اجْتَمَعَ قَوْمٌ مِنَ الأَنْصَارِ وَفِيهِمْ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ، فَلَمَّا سَكِرُوا افْتَخَرُوا وَتَنَاشَدُوا الأَشْعَارَ حَتَّى أَنْشَدَ سَعْدٌ شِعْرًا فِيهِ هِجَاءٌ لِلأَنْصَارِ، فَضَرَبَهُ أَنْصَارِيٌّ بِلَحْيِ بَعِيرٍ فَشَجَّهُ شَجَّةً مُوضِحَةً، فَشَكَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

فَقَالَ عُمَرُ: اللَّهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ بَيَانًا شَافِيًا فَنَزَلَ: إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ إِلَى قَوْلِهِ: فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ [الْمَائِدَة: ٩١] فَقَالَ عُمَرُ: انْتَهَيْنَا يَا رَبِّ.(٢)

ترجمة: دخمر په هکله څلور آیتونه نازل سوی دی، په مکة مکرمة کې دخمر په هکله دغه آیت (وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ .....) نازل سوی دی.

مسلمانانو په هغه وخت کې خمرچیښل اوورته حلال وه اوبیا حضرت عمر، معاذ اوځه نورو اصحابانو رضوان الله تعالی علیهم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل، مورته دخمر په هکله فتوا راکړه داخو عقل خرابوی اومال سلبوی نو د الله تعالی دغه قول (يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ.......) نازل سو.

بیابه ځینوخلکوچیښل اوځینو به نه چیښل، بل وخت عبدالرحمن بن عوف رضی الله تعالی عنه ځینو اصحابانوته میلمستیا وکړه اوهغوی خمر وچیښل او نشه سول یوچالونځ کوی نودقرآن آیت یی داسې غلط ولوستی:(قل یاأیها الکافرون أعبد ما تعبدون) نو بیا دغه آیت (يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَقْرَبُوا الصَّلاَةَ ....) نازل سو.

نو بیایی چیښونکې څه لږ سول، بل وخت دانصارو یوی ټولی چې پکښې سعد بن معاذ (رض) هم وو، خمر وچیښل چې کله مست سول نو په شعرو ویلو او

١- سورة النِّسَاءِ: ٤٣ - ٢- التفسير الكبير للفخر الدين الرازي ج ۶ ص ۴۲- ۴۳ باختصار

قومی افتخاراتو شمیرلو یی پیل وکړی، سعد(رض) یوداسې شعروایه چې د انصارو سپکاوی پکښی وو، نویو انصاری هغه داوښ دغاښونو په هډوکی وواهه چې هغه یی ښکاره زخمی کړ. هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړ، نو عمر رضی الله تعالی عنه وویل: ای الله موږته دخمرو په هکله کافی اوشافی بیان راولیږه، نوبیا دغه آیتونه (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ .....) نازل سوله نوعمر رضی الله تعالی عنه وویل: (انتهینا یارب) پرور د ګاره موږ نور بس کړه بیا به یی ونه چیښو.

دشان نزول څخه داسې ثابته سوله چې دخمر په حرمت کې اصل او مهم علت سکر(نشه) دی چې دهغی دوجهی خلګ په لمانځه کې دقرآن په لوستلو کې ختاسوله، اوهم په جګړو اخته سوله، اودهمدغه وجهی څخه چې عقل خرابوی صحابه کرامو (رضی الله تعالی عنهم) دهغه په هکله فتوی وغوښتله.

۲- دخمر دمعنی په هکله خپله دتفسیر کبیر مفسر داسې لیکي: أَمَّا الْمَقَامُ الْأَوَّلُ: فِي بَيَانِ أَنَّ الْخَمْرَ مَا هو؟ [النوع الأول مِنَ الدَّلَائِلِ عَلَى أَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ] قال الشافعي رحمه الله: كل شراب مُسْكِرٍ فَهُوَ خَمْرٌ.

وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: الْخَمْرُ عِبَارَةٌ عَنْ عَصِيرِ الْعِنَبِ الشَّدِيدِ الَّذِي قَذَفَ بِالزَّبَدِ.

حُجَّةُ الشَّافِعِيِّ عَلَى قَوْلِهِ وُجُوهٌ أَحَدُهَا: مَا رَوَى أَبُو دَاوُدَ فِي«سُنَنِه»: عَنْ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ يَوْمَ نَزَلَ وَهِيَ مِنْ خَمْسَـــةٍ: مِنَ الْعِنَبِ، وَالتَّمْرِ، وَالْحِنطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالذُّرَةِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ.

وَجْهُ الِاسْتِدْلَالِ بِهِ مِنْ ثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ أَحَدُهَا: أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَخْبَرَ أَنَّ الْخَمْرَ حُرِّمَتْ يَوْمَ حُرِّمَتْ وَهِيَ تُتَّخَذُ مِنَ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ، كَمَا أَنَّهَا كَانَتْ تُتَّخَذُ مِنَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ، وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُمْ كَانُوا يُسَمُّونَهَا كُلَّهَا خَمْرًا.

وَثَانِيهَا: أَنَّهُ قَالَ: حُرِّمَتِ الْخَمْرُ يَوْمَ حرمت، وهي تتخذ من هذه الأشياء الخمس، وَهَذَا كَالتَّصْرِيحِ بِأَنَّ تَحْرِيمَ الْخَمْرِ يَتَنَاوَلُ تَحْرِيمَ هَذِهِ الأَنْوَاعِ الْخَمْسَةِ.

وَثَالِثُهَا: أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَلْحَقَ بِهَا كُلَّ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ مِنْ شَرَابٍ، وَلاَ شَكَّ أَنَّ عُمَرَ كَانَ عَالِمًا بِاللُّغَةِ، وَرِوَايَتُهُ أَنَّ الْخَمْرَ اسْمٌ لِكُلِّ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ فَغَيْرَهُ.

النَّوْعُ الثَّانِي: مِنَ الدَّلاَئِلِ عَلَى أَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ التَّمَسُّكُ بِالاشْتِقَاقَاتِ، قَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ: أَصْلُ هَذَا الْحَرْفِ التَّغْطِيَةُ، سُمِّيَ الْخِمَارُ خِمَارًا لأَنَّهُ يُغَطِّي رَأْسَ الْمَرْأَةِ، وَالْخَمْرُ مَا وَارَاكَ مِنْ شَجَرٍ وَغَيْرِهِ، مِنْ وَهْدَةٍ وَأَكَمَةٍ، وَخَمَّرْتُ رَأْسَ الإِنَاءِ أَيْ غَطَّيْتُهُ، وَالْخَامِرُ هُوَ الَّذِي يَكْتُمُ شَهَادَتَهُ، قَالَ ابْنُ الأَنْبَارِيِّ: سُمِّيَتْ خَمْرًا لأَنَّهَا تُخَامِرُ الْعَقْلَ، أَيْ تُخَالِطُهُ.

فَهَذِهِ الاشْتِقَاقَاتُ دَالَّةٌ عَلَى أَنَّ الْخَمْرَمَا يَكُونُ سَاتِرًا لِلْعَقْلِ، كَمَا سُمِّيَتْ مُسْكِرًا لأَنَّهَا تُسْكِرُالْعَقْلَ أَيْ تَحْجِزُهُ، وَكَأَنَّهَا سُمِّيَتْ بِالْمَصْدَرِ مِنْ خَمَرَهُ خَمْرًا إِذَا سَتَرَهُ لِلْمُبَالَغَةِ، وَيَرْجِعُ حَاصِلُهُ إِلَى أَنَّ الْخَمْرَ هُوَالسُّكْرُ،لأَنَّ السُّكْرَيُغَطِّي الْعَقْلَ وَيَمْنَعُ مِنْ وُصُولِ نُورِهِ إِلَى الأَعْضَاءِ

فَهَذِهِ الاشْتِقَاقَاتُ مِنْ أَقْوَى الدَّلاَئِلِ عَلَى أَنَّ مُسَمَّى الْخَمْرِ هُوَ الْمُسْكِرُ، فَكَيْفَ إِذَا انْضَافَتِ الأَحَادِيثُ الْكَثِيرَةُ إِلَيْهِ.

لاَ يُقَالُ هَذَا إِثْبَاتٌ لِلُّغَةِ بِالْقِيَاسِ، وَهُوَ غَيْرُجَائِزلأَنَّا نَقُولُ:لَيْسَ هَذَا إِثْبَاتًا لِلُّغَةِ بِالْقِيَاسِ، بَلْ هُوَتَعْيِينُ الْمُسَمَّى بِوَاسِطَةِ هَذِهِ الاشْتِقَاقَاتِ، كَمَا أَنَّ أَصْحَابَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُمُ اللَّهُ يَقُولُونَ إِنَّ مُسَمَّى النِّكَاحِ هُوَ الْوَطْءُ وَيُثْبِتُونَهُ بِالاشْتِقَاقَاتِ، وَمُسَمَّى الصَّوْمِ هُوَ الإِمْسَاكُ، وَيُثْبِتُونَهُ بِالاشْتِقَاقَاتِ.

النَّوْعُ الثَّالِثُ: مِنَ الدَّلاَئِلِ الدَّالَّةِ عَلَى أَنَّ الْخَمْرَ هُوَ الْمُسْكِرُ، أَنَّ الأُمَّةَ مُجْمِعَةٌ عَلَى أَنَّ الآيَاتِ الْوَارِدَةَ فِي الْخَمْرِ ثلاثة، اثنان مِنْهَا وَرَدَا بِلَفْظِ الْخَمْرِ أَحَدُهُمَا: هَذِهِ الآيَةُ وَالثَّانِيَةُ: آيَةُ الْمَائِدَةِ وَالثَّالِثَةُ: وَرَدَتْ فِي السُّكْرِ وَهُوَ قَوْلُهُ: لاَ تَقْرَبُوا الصَّلاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارى [النِّسَاء: ٤٣] وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْمُرَادَ مِنَ الْخَمْرِ هُوَ الْمُسْكِرُ.

النَّوْعُ الرَّابِعُ: مِنَ الْحُجَّةِ أَنَّ سَبَبَ تَحْرِيمِ الْخَمْرِ هُوَ أَنَّ عُمَرَ وَمُعَاذًا قَالاَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ الْخَمْرَ مُسْلِبَةٌ لِلْعَقْلِ، مُذْهِبَةٌ لِلْمَالِ، فَبَيِّنْ لَنَا فِيهِ، فَهُمَا إِنَّمَا طَلَبَا الْفَتْوَى مِنَ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ بِسَبَبِ كَوْنِ الْخَمْرِ مُذْهِبَةً لِلْعَقْلِ، فَوَجَبَ أَنْ يَكُونَ كُلُّ مَا كَانَ مُسَاوِيًا لِلْخَمْرِ فِي هَذَا الْمَعْنَى إِمَّا أَنْ يَكُونَ خَمْرًا وَإِمَّا أَنْ يَكُونَ مُسَاوِيًا لِلْخَمْرِ فِي هَذَا الْحُكْمِ.(١)

ترجمه: لومړی مقام ددی په بیان کې دی چې خمر څه شی دی؟ امام شافعی رحمة الله تعالی علیه وایی: هرمشروب چې نشه کونکې وی هغه خمر دی.

اوامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه وایی: چې خمر دانګورو دنشه کونکي شیری څخه عبارت دی چې داسې جوش سی چې ځګونه یی پرسر راسی.

دامام شافعی رحمة الله تعالی علیه دوینا څو دلیلونه دی: یودا چې امام بخاری (رح) په خپل صحیح کې دشعبی اوهغه دابن عمرڅخه روایت کړی دی، چې عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما وایی: مادعمر رضی الله تعالی عنه څخه واو ریدل چې دنبی صلی الله علیه وسلم دمنبر دپاسه یی ویل: ای خلګو بیشکه دخمرحرمت نازل سو، اوخمردپنځه شیانوڅخه جوړیږی، دانګورو، خرما، غنمو، اوربشو، او جوارو څخه، اوخمر هغه څه دی چې عقل پټوی.

په دغه حدیث باندې دری ډوله استد لال ویل کیدای سی، یودا چې: عمر رضی الله تعالی عنه خبر ورکړ چې خمر هغه ورځ چې حرام سول نوهغه همیشه حرام دی اودغه دغنمو اواوربشو څخه هم جوړیږی لکه چې دانګورو او خرما څخه تیاریږی، دغه پردغه دلالت کوی چې دوی ټولو ته خمر ویله.

دوهم داچې ده وویل: خمر هغه ورځ حرام سول چې کومه ورځ حرام سول او خمردپنځه شیانو څخه جوړیږی، اودغه لکه چې په دی صراحت سوی وی چې دخمر حرمت له دوی څخه جوړ سوو ته هم شامل وی.

١-التفسير الكبير الفخر الرازي ج ٦ ص ٤٢- ٤٦ بالاختصار

دریم داچې: حضرت عمر رضی الله تعالی عنه نور هم تعمیم وکړی او ټول هغه شیان چې عقل پټوی په دوی پسی وتړل، اوپه دی کې شک نسته چې عمر رضی الله تعالی عنه دعربی لغت اوروایت عالم وو چې وایی خمر دهغه څه نوم دی چې عقل پټ اودخپله حاله تغیر کوی.

دوهم دلیل: چې هرنشه کونکې چیزخمردی ځکه دغه داشتقاق څخه معلومیږی (اشتقاق دیوه لفظ څخه ماضی، مضارع، اسم فاعل، او داسې نوری صیغی جوړولوته وایی) مطلب دا لکه څرنګه چې دمصدرمعنا دعقل پټیدل دی همدارنګه دنورو صیغو څخه هم پټیدل اراده کیږی، دمثال په ډول دمصدر په صیغه ویل کیږی (خِمَارَ الْمَرْأَةِ) دښځی پوړنی ځکه دښځی سرپټوی، او(خُمُر) جمع دونې اوښکواوشګونی بولی، دمتکلم په صیغه (وَخَمَّرْتُ رَأْسَ الإِنَاءِ) یعنی ما دلوښی سرپټ کړی،داسم فاعل په صیغه (وَالْخَامِرُ) هغه څوک دی چې شاهدی پټوی، اوداسې نور.

دعربی لغت پوهان وایی: ددی لفظ اصل معنی پټوالی دی، ابن الانبار وایی خمرته هم ځکه خمر وایی چې عقل پټوی اوکډوډکوی، دغه ټول اشتقاقات په دغه دلالت کوی چې خمر هغه شی دی چې عقل پټوی، لکه څرنګه چې (خمر) ته مسکرویل کیږی ځکه چې عقل نشه کوی او دخپل اصلی کار څخه را ګرځوی، اوداچې دمصدرپه لفظ ذکرسو(الخمر) یعنی د(خامر) اسم فاعل په لفظ نسوذکر، دغه مبالغه ده، حاصل دکلام داچې خمر سکر دی ځکه سکر عقل پټوی اودهغه نور دنورو اندامونو اوغړو څخه منع کوی.

دغه اشتقاقونه دزبردست دلائلو څخه دی، چې دخمر تسمیه دسکر دوجهی څخه ده، نوکله چې بیاډیرحدیثونه یی هم ملاتړ کوی ولی به دمنلو وړ نه وی؟

څوک دی دانه وايي چې دغه دلغت اثبات په قياس سره دی او داسې کول جائز نه دی، ځکه موږ وايو چې دغه دلغت اثبات په قياس سره نه دی بلکې دغه دنوم ټاکنه يې دهمدغو اشتقاقاتو څخه ده، لکه دامام ابوحنيفة (رح) ملګرې چې وايي: دنکاح تسمية دوطی څخه اخستل سوی ده، اوپه اشتقاقاتو يې ثابتوی، همداسې صوم چې امساک ته وايي، اوپه اشتقاقاتو يې ثابتوی.

دريم دليل: چې خمرسکردی دغه هم دی: چې پردغه دامت اجماع ده چې دخمرو په شان کې دری آيتونه راغلی دی، دوه آيتونه د(خمر) په لفظ وارد سوی دی، اودريم ېياد(سکر) چې فرمايي (لاتقربوا الصلوة وأنتم سکاري) اودغه هم په دغه دلالت کوی چې دخمر څخه مقصد سکر دی.

څلورم دليل دادی: چې دخمر دحرمت وجه داوه چې عمر اومعاذ رضی الله تعالی عنهما دواړو وويل ای دالله رسوله بيشکه خمردعقل سلبونکې خرابونکې دی، اودمال ضائع کونکې دی، نوموږته په دغه کې فتوی راکړه، بيشکه دوی دواړو دالله اودهغه درسول څخه فتوی وغوښتل، ځکه چې خمر دعقل زائل کونکې دی، نوواجب ده هرهغه څه چې دخمرسره په دغه معنی اومطلب (چې نشه ده) کې برابر وی نويابه خمر وی اويابه دخمر په حکم کې وی.

دتفسير قرطبي دنظره

۳-دخمر دمعنی په هکله دتفسير قرطبی مفسر داسې ليکې: وَالْخَمْرُ مَأْخُوذَةٌ مِنْ خَمَرَإِذَا سَتَرَ، وَمِنْهُ خِمَارُ الْمَرْأَةِ. وكل شي غَطَّى شَيْئًا فَقَدْ خَمَرَهُ، وَمِنْهُ" خَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ" فَالْخَمْرُ تَخْمُرُ الْعَقْلَ، أَيْ تُغَطِّيهِ وَتَسْتُرُهُ.(۱)

وَثَبَتَ بِالنَّقْلِ الصَّحِيحِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَحَسْبُكَ بِهِ عَالِمًا بِاللِّسَانِ وَالشَّرْعِ خَطَبَ عَلَى مِنْبَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، أَلَا إِنَّهُ قَدْ نَزَلَ

۱- تفسير قرطبي ج ۳ ص ۴۳۳

تَحْرِيمُ الْخَمْرِ يَوْمَ نَزَلَ، وَهِيَ مِنْ خَمْسَةٍ: مِنَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْعَسَلِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ.

وَهَذَا أَبْيَنُ مَا يَكُونُ فِي مَعْنَى الْخَمْرِ، يَخْطُبُ بِهِ عُمَرُ بِالْمَدِينَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ بِمَحْضَرِ جَمَاعَةِ الصَّحَابَةِ، وَهُمْ أَهْلُ اللِّسَانِ وَلَمْ يَفْهَمُوا مِنَ الْخَمْرِ إِلاَّ مَا ذَكَرْنَاهُ.

وَإِذَا ثَبَتَ هَذَا بَطَلَ مَذْهَبُ أَبِي حَنِيفَةَ وَالْكُوفِيِّينَ الْقَائِلِينَ بِأَنَّ الْخَمْرَ لاَ تَكُونُ إِلاَّ مِنَ الْعِنَبِ، وَمَا كَانَ مِنْ غَيْرِهِ لاَ يُسَمَّى خَمْرًا وَلاَ يَتَنَاوَلُهُ اسْمُ الْخَمْرِ، وَإِنَّمَا يُسَمَّى نَبِيذًا.

قَالَ الإِمَامُ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الْمَازِرِيُّ: ذَهَبَ جُمْهُورُ الْعُلَمَاءِ مِنَ السَّلَفِ وَغَيْرِهِمْ إِلَى أَنَّ كُلَّ مَايُسْكِرُنَوْعُهُ حَرُمَ شُرْبُهُ، قَلِيلاًكَانَ أَوْكَثِيرًا نِيئًا،كَانَ أَوْمَطْبُوخًا، وَلاَ فَرْقَ بَيْنَ الْمُسْتَخْرَجِ مِنَ الْعِنَبِ أَوْ غَيْرِهِ، وَأَنَّ مَنْ شَرِبَ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ حُدَّ، فَأَمَّا الْمُسْتَخْرَجُ مِنَ الْعِنَبِ الْمُسْكِرِ النِّي فَهُوَ الَّذِي انْعَقَدَ الإِجْمَاعُ عَلَى تَحْرِيمِ قَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ وَلَوْ نُقْطَةٌ مِنْهُ. وَأَمَّا مَا عَدَا ذَلِكَ فَالْجُمْهُورُ عَلَى تَحْرِيمِهِ.

وَخَالَفَ الْكُوفِيُّونَ فِي الْقَلِيلِ مِمَّاعَدَا مَاذُكِرَ، وَهُوَالَّذِي لاَيَبْلُغُ الإِسْكَارَ وَفِي الْمَطْبُوخِ الْمُسْتَخْرَجِ مِنَ الْعِنَبِ، فَذَهَبَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ إِلَى قَصْرِ التَّحْرِيمِ عَلَى عَصِيرِ الْعِنَبِ، وَنَقِيعِ الزَّبِيبِ النِّي،فأماالمطبوخ منهماوالني وَالْمَطْبُوخُ مِمَّا سِوَاهُمَا فَحَلاَلٌ مَالَمْ يَقَعِ الإِسْكَارُ.

وَذَهَبَ أَبُو حَنِيفَةَ إِلَى قَصْرِ التَّحْرِيمِ عَلَى الْمُعْتَصَرِ مِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالأَعْنَابِ عَلَى تَفْصِيلٍ، فَيَرَى أَنَّ سُلاَفَةَ الْعِنَبِ يَحْرُمُ قَلِيلُهَا وَكَثِيرُهَا إِلاَّ أَنْ تُطْبَخَ حَتَّى يَنْقُصَ ثُلُثَاهَا، وَأَمَّا نَقِيعُ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ فَيَحِلُّ مَطْبُوخُهُمَا وَإِنْ مَسَّتْهُ النَّارُ مَسًّا قَلِيلاً مِنْ غَيْرِ اعْتِبَارٍ بحد، وأما النِّي مِنْهُ فَحَرَامٌ، وَلَكِنَّهُ مَعَ تَحْرِيمِهِ إِيَّاهُ لاَ يُوجِبُ الْحَدَّ فِيهِ، وَهَذَا كُلُّهُ مَا لَمْ يَقَعِ الإِسْكَارُ، فَإِنْ وَقَعَ الإِسْكَارُ اسْتَوَى الْجَمِيعُ.

قَالَ شَيْخُنَا الْفَقِيهُ الإِمَامُ أَبُو الْعَبَّاسِ أَحْمَدُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: الْعَجَبُ مِنَ الْمُخَالِفِينَ فِي هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ، فَإِنَّهُمْ قَالُوا: إِنَّ الْقَلِيلَ مِنَ الْخَمْرِ الْمُعْتَصَرِ مِنَ الْعِنَبِ حَرَامٌ كَكَثِيرِهِ، وَهُوَ

مُجْمَعٌ عَلَيْه، فَإِذَا قِيلَ لَهُمْ: فَلِمَ حُرِّمَ الْقَلِيلُ مِنَ الْخَمْرِ وَلَيْسَ مُذْهِبًا لِلْعَقْلِ؟ فَلاَ بُدَّ أَنْ يُقَالَ: لأَنَّهُ دَاعِيَةٌ إِلَى الْكَثِيرِ، أَوْ لِلتَّعَبُّدِ، فَحِينَئِذٍ يُقَالُ لَهُمْ: كُلُّ مَا قَدَّرْتُمُوهُ فِي قَلِيلِ الْخَمْرِ هُوَ بِعَيْنِهِ مَوْجُودٌ فِي قَلِيلِ النَّبِيذِ فَيَحْرُمُ أَيْضًا، إِذْ لاَ فَارِقَ بَيْنَهُمَا إِلاَّ مُجَرَّدُ الاسْمِ إِذَا سُلِّمَ ذَلِكَ.

وَهَذَا الْقِيَاسُ هُوَ أَرْفَعُ أَنْوَاعِ الْقِيَاسِ، لأَنَّ الْفَرْعَ فِيهِ مُسَاوٍ لِلأَصْلِ فِي جَمِيعِ أوصافه، وهذا كما يقوله فِي قِيَاسِ الأَمَةِ عَلَى الْعَبْدِ فِي سِرَايَةِ الْعِتْقِ.

ثُمَّ الْعَجَبُ مِنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَصْحَابِهِ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ فَإِنَّهُمْ يَتَوَغَّلُونَ فِي الْقِيَاسِ وَيُرَجِّحُونَهُ عَلَى أَخْبَارِ الآحَادِ وَمَعَ ذَلِكَ فَقَدْ تَرَكُوا هَذَا الْقِيَاسَ الْجَلِيَّ الْمَعْضُودَ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَإِجْمَاعِ صدور الامة، لأحاديث لا يصح شي مِنهَا عَلَى مَا قَدْ بَيَّنَ عِلَلَهَا الْمُحَدِّثُونَ في كتبهم، وليس في الصحيح شي مِنهَا.(١)

ترجمة: خمر دخمرَ څخه اخستل سوی دی هغه ته ویل چې پټ کړل سی، دهمدی څخه دښځی پوړنی ته خماروایی، هرشی چې بل شی پټ کړی نوهغه ته وایی (خمره) دهمدی څخه په حدیث کې راغلی دی چې (خپل لوښی پټ کړی) نو خمر عقل پټوی، یعنی پرده پراچوی.

څکه نشه لری اونشه دانسان عقل دخپل کار یعنی فهم اوادراک څخه داسې باسی لکه پرده چې پراچولی وی، دتجریبی اومشاهدی لمخی دغه کار هرنشه کونکې شی کوی یوازې دانگورو په شیره پوری خاص نه دی.

اوپه صحیح نقل سره ثابته سوی ده چې عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه چې (په لغت اوشریعت ډیرښه پوهیدی) درسول الله صلی الله علیه وسلم پر منبر یې خطبه لوستل او وی ویل: ای خلگو پوه سی چې دخمر تحریم نازل سو هغه ورځ چې نازل سو ،اوخمر دپنځه شیانوڅخه جوړیږی: دانگورو ، شاتو ، غنمو

١- الجامع لأحكام القرآن القرطبي. ج ٨ ص ١٦٩- ١٧١ بالاختصار

او اوربشو څخه، خمر هغه څه ته وایی چې عقل پټوي.

اودغه دخمر دمعنی ترټولو ښکاره بیان دی، عمر رضی الله تعالی عنه په مدینه منوره کې خطبة لوَلی اوداصحابانو ټولی حضورلری هغه کسان چې په لغت ښه پوهیدل، خودوی دخمر معنی پرته دهغه چې موږ بیان کړل ونه فهمول.

نوچې کله دغه ثابته سوله نودامام ابی حنیفة رحمة الله تعالی علیه مذهب (په دغه موضوع کې) باطل سو هغه چې دکوفیینو ملاتړ هم ورسره دی چې وایی: خمر دانګورو څخه جوړیږی، دوی وایی هغه چې دانګورو پرته دبل شی څخه جوړسی هغه خمر نه بلل کیږی، اودخمر نوم نه ورکول کیږی هغوی ته نبیذ وایی.

امام ابو عبدالله ماذری وایی: چې دسلفو جمهور علماء دی لورته تللی چې وایی هرهغه چې سکر (نشه) پیښوی دهغه چیښل (خوړل) حرام دی، لږوی که ډیر، تازه وی که پاخه سوی، اوپه دی کې دافرق نسته چې دانګورو څخه ایستل سوی وی که دبل شی څخه وی، اوڅوک چې ددغو حرامو څخه وچیښی حد ورباندې جاری کیږی،اوهغه چې دانګورو څخه اوم استل سوی وی دهغه په حرمت دامت اجماع ده لږوی که ډیرکه څه هم یو څاڅکی وی، اوددی څخه پورته (زیات) نورڅه جمهورعلماء حرام ګڼی.

دکوفی علماء دذکرسوی پرته دنورومشروباتوپه هکله اختلاف لری وایی: چې لږیی کوم چې سکر(نشه) نه پیښوی اوهغه چې دانګورو څخه ایستل سوی او پاخه سوی وی حرام نه دی.

دبصرې ځینی علماء یوازی دانګورو څخه ایستل سوی نشه حرام ګڼی او همداسې دممیزو اومه شیره اوچې پوخ سی اوسکرنه پیښوی بیاهم حرام نه دی، اوله دی پرته که پوخ وی که خام چې سکرنه لری هغه هم حرام نه دی.

ابوحنیفة رحمه الله تعالی دخرما اوانګورو عصیر په داسې توګه تفصیل ورکوی چې دانګورو عصیر لږوی که ډیرحرام دی، مګرچې داسې پاخه سی چې دوه دریمی برخی یی وچې سی بیاحرام نه دی، اودممیزو او خرما عصیر چې لږ هم پاخه سی حلال دی څه اندازه یی نسته، خوخام یی حرام دی خودحرمت سره سره حد وربانديې نسته، اوداټول په هغه صورت کې چې سکر ونلری که یی سکر (نشه) درلوده ټول یوډول دی.

فقیه ابوالعباس وایی: دمخالفینو په حال تعجب دی، دوی وایی چې د انګورو عصیر چې لږ هم وی داسې حرام دی لکه ډیر چې یی حرام دی، اوپر دغه اجماع ده، خوکله چې ورته وویل سی نودخمر لږ ولی حرام دی په داسې حال کې چې عقل ته تاوان نه پیښوی؟ نودوی به خامخا وایی چې ددی دپاره چې دغه لږ بیا ډیروته سرایت کوی اوبیاوربانديې عادت اواموخت اخلی، نو اوس دوی ته ویل کیږی هغه چې تاسو یی په لږخمروکې اندازه کوی هغه عینا په لږ نبیذ کې هم موجود دی، هغه هم حرام دی ځکه دنامه نه پرته ددوی په منځ کې بل توپیر نسته، اودغه بیخی سم قیاس دی، ځکه فرع داصل سره په ټولو صفتونو کې مساوی ده لکه ته چې دازادولو په صورت کې دمینځی قیاس پر مریی کوی.

بیا تعجب دامام ابوحنیفة اوملګروپه حال دی ځکه دوی قیاس ته په خبرواحد بانديې ترجیح ورکوی، خودهغه سره یی دغه قیاس پری ایښی دی، هغه چې څرګند قیاس دی اوپه قرآن اوحدیث کې مقصود دی اودامت داولنیو علماؤ وربانديې اجماع ده، ځکه دوی په داسې حدیثونو اتکا کړی چې محدثینو یی پخپلو کتابونو کې علل بیان کړی دی، اودغه حدیثونه (چې دوی دلیل په وایی داحادیثو) په صحیح کتابونو کې موجود نه دی.

دتفسیر وسیط دنظره

۴- دتفسیروسیط تفسیرکونکې داسې فرمایي: خاطب الله المسلمین بوصف الایمان لیستجیبوا إلي مایأمرهم به, ویعقلوا عما نهاهم عنه, تحقیقا لإیمانهم.

والخمر:هي کل ماخامرالعقل فستره وحجبه عن التفکیر.وهو یصدق علي کل مسکر مصنوع من عصیر العنب أوغیره. لقوله صلي الله علیه وسلم:(کل مسکرخمروکل خمر حرام.

وفي روایة لمسلم والترمدي والنسائي وابي داود وابن ماجة واحمد عنه صلي الله علیه وسلم: کل مسکر خمر وکل مسکر حرام.

اخرج أبوداود: نزل تحریم الخمر یوم نزل, وهومن خمسة: من العنب والتمر والحنطة والشعیر والذرة. والخمر مایخامر العقل.

والواقع: أن أي شراب تغیرطعمه وظهرفیه الغول (الکحول) وأسکرفهوخمر وهوحرام قل وکثر. لقوله صلي الله علیه وسلم: (ما أسکر کثیره فقلیله حرام).

وهذا ینطبق علي مایسمونه الآن (البیرة)کماینطبق علي جمیع المخدرات, مثل الأفیون, والحشیش, والقات(۲) والکوکاین, والهیروین .... فقد ورد: أن النبي صــلي الله علیــه وسلم نهي عن کل مسکر ومفتر.(۱)

ترجمة: الله تعالی مسلمانان دایمان په صفت ستایلی ترڅوچې امرته یې غاړه کښیږدی، اودهغو څخه ځانونه وژغوری چې الله تعالی ورڅخه منع کړی، دغه دهغوی دایمان غوښتنه ده.

خمر تول هغه څه دی چې عقل پټوی اودغه په هرنشه کونکې توکې باندې صادق دی کوم چې دانګورو یاله نورو شیانو څخه جوړسوی وی.څکه رسول الله

۱- التفسیر الوسیط للقران الکریم ج ۱ ص ۱۱۵۲ -- ۲- شجرة یزرع فی الیمن له ورق مخدر یمضغ (یوه ونه ده په یمن کې کښت کیږی نشه لرونکې پاڼی لری اوژو ول کیږی) الراید معجم لغوی عصری، ص ۶۱۴

صلی الله علیه وسلم فرمایی: «هرمسکرخمردی اوهرخمرحرام دی» دمسلم، ترمذی، نسایی، ابوداود، ابن ماجه اواحمد په روایتونوکې نوموړی کلمات راغلی دی، ابوداود لیکلی: چې خمر خوحرام سوله اودا دپنځو چیزونو څخه جوړیږی: دانگورو، خرما، غنمو، اوربشو اوجوارو څخه، اوخمر هغه څه دی چې عقل پټوی.

رشتیا خبره داده: هرهغه شی چې خوند یې واوړی اومستی «الکحول» پکښی ښکاره سی، لږوی که ډیر هغه خمراوهغه حرام دی، لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: «هغه چې ډیر یې نشه لری دهغه لږ هم حرام دی» او دغه په هغه څه چې نن یې «بیره» بولی تطبیق کیږی، لکه چې په نورو ټولو مخدراتو لکه افیون، چرس، القات کوکاین، هیروین اوداسې نورو باندې هم اطلاق کول کیږی،ځکه علیه الصلوة والسلام د«هرنشه کونکې اوسستونکې» څخه منع فرمایلی ده.

دتفسیر المراغی دنظره

۵- دتفسیرالمراغی مفسر لیکې: وكلمة الخمر:يراد بها عند الشافعي كل شراب مسكر, ويرادبها عند أبي حنيفة ما اعتصر من ماء العنب إذا غلي واشتد وقذف بالزبد.

حجة الأول: أن الصحابة فهموا من تحريم الخمرتحريم كل مسكر ولم يفرقوا بين ماكان من العنب وماكان من غيره.

ومارواه أبوداود والترمذي من قوله صلي الله عليه وسلم: كل مسكر خمر.

ومارواه النعمان بن بشير قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم إن من العنب خمرا, وإن من التمر خمرا, وإن من العسل خمرا, وإن من البر خمرا، وإن من الشعير خمرا.

وماأخرجه البخاري عن أنس قال:حرمت الخمرحين حرمت ومايتخذ من خمر الأعناب

إلاقليلا, وعامة خمرنا من البسر والتمر.

قال بعض العلماء: جري ذكر هذه الأشياء لكونها معهودة في ذلك العصر, فكل مافي معناها من ذرة أوعصارة شجر أوتفاح أوبصل أونحوذلك مما يستخرج منه الخمر الآن فحكمه هذه الأصناف. (۱)

ترجمة: دخمر دكلمې څخه مراد دامام شافعي رحمة الله تعالى عليه په نزد هرنشه كونكې شی دی اودامام ابوحنيفة رحمة الله تعالى عليه په نزدمراد د انگورو هغه شيره ده چې جوش سی، سخته سی اوځگونه وکړی.

داول قول: اول دليل: بيشكه صحابه كرامو دخمر دحرمت څخه دهرنشه كونكې حرمت فهمولی دی، اودوی دانگورو داوبو اونورو ترمنځ هيڅ فرق نه دی كړی.

دويم دليل:هغه حديث دی چې ابوداود اوترمذی رانقل كړی دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «هرنشه كونكې شی خمر دی».

دريم دليل: هغه حديث دی چې نعمان بن بشير روايت كړی دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «بيشكه دانگوروڅخه خمردی، اوبيشكه دخرما څخه خمر دی، اوبيشكه دعسلوڅخه خمردی، اوبيشكه دغنمو څخه خمر دی اوبيشكه داوربشو څخه خمر دی»

څلورم دليل: هغه حديث دی چې امام بخاری په خپل صحيح كې دانس رضی الله تعالى عنه څخه رانقل كړی دی، چې دی وايي: خمر حرام سوله هغه وخت چې حرام سوله، خوپه دغه وخت كې دانگورو څخه خمرنه جوړيدل مگرلږ، زموږ عام خمردوچې اولندی خرماڅخه وه.

څه علماء نور هم تعميم كوی اووايي: ددغو شيانو ذكر په دی وجه سوی

۱- تفسير المراغى ج ۷ ص ۲۳

دی چې په دغه وخت کې عام طور ددغو شیانو څخه خمر جوړیدل که نه نو دهرشی څخه چې خمرجوړیږی لکه جوار، ددرختی شیره، سیب، پیازاوداسې نور دهغوی ټولو داغه حکم دی لکه ددغه شیانو.

دتفسیر احکام القرآن للجصاص دنظره

۶- دتفسیراحکام القرآن للجصاص مفسر داسې لیکې: وَالْخَمْرُ هِيَ عَصِيرُ الْعِنَبِ النِّيِّ الْمُشْتَدِّ, وَذَلِكَ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ أَنَّهُ خَمْرٌ. وَقَدْ سُمِّيَ بَعْضُ الْأَشْرِبَةِ الْمُحَرَّمَةِ بِاسْمِ الْخَمْرِ تَشْبِيهًا بِهَا مِثْلُ الْفَضِيخِ وَهُوَ نَقِيعُ الْبُسْرِ وَنَقِيعُ التَّمْرِ وَإِنْ لَمْ يَتَنَاوَلْهُمَا اسْمُ الإِطْلَاقِ.

وَقَدْ رُوِيَ فِي مَعْنَى الْخَمْرِ آثَارٌ مُخْتَلِفَةٌ, مِنْهَا مَا رَوَى مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ عَنْ نَافِعٍ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: "لَقَدْ حُرِّمَتْ الْخَمْرُ وَمَا بِالْمَدِينَةِ مِنْهَا شَيْءٌ" وَقَدْ عَلِمْنَا أَنَّهُ كَانَ بِالْمَدِينَةِ نَقِيعُ التَّمْرِ وَالْبُسْرِ وَسَائِرُ مَا يُتَّخَذُ مِنْهُمَا مِنْ الأَشْرِبَةِ, وَلَمْ يَكُنْ ابْنُ عُمَرَ مِمَّنْ يَخْفَى عَلَيْهِ الأَسْمَاءُ اللُّغَوِيَّةُ, فَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ أَشْرِبَةَ النَّخْلِ لَمْ تَكُنْ عِنْدَهُ تُسَمَّى خَمْرًا.

وَرَوَى عِكْرِمَةُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: "نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهُوَالْفَضِيخُ", فَأَخْبَرَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ الْفَضِيخَ خَمْرٌ, وَجَائِزٌ أَنْ يَكُونَ سَمَّاهُ خَمْرًا مِنْ حَيْثُ كَانَ شَرَابًا مُحَرَّمًا.

وَرَوَى حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: "كُنْت أَسْقِي أَبَا عُبَيْدَةَ وَأُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ وَسُهَيْلَ ابْنَ بَيْضَاءَ فِي نَفَرٍ فِي بَيْتِ أَبِي طَلْحَةَ, فَمَرَّ بِنَا رَجُلٌ فَقَالَ: إنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ, فَوَاَللَّهِ مَا قَالُوا حَتَّى نَتَبَيَّنَ حَتَّى قَالُوا: أَهْرِقْ مَا فِي إنَائِك يَا أَنَسُ ثُمَّ مَا عَادُوا فِيهَا حَتَّى لَقُوا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ, وَإِنَّهُ الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ وَهُوَخَمْرُنَا يَوْمَئِذٍ".فَأَخْبَرَ أَنَسٌ أَنَّ الْخَمْرَ يَوْمَ حُرِّمَتْ الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ, وَهَذَا جَائِزٌ أَنْ يَكُونَ لَمَّا كَانَ مُحَرَّمًا سَمَّاهُ خَمْرًا, وَأَنْ يَكُونَ الْمُرَادُ أَنَّهُمْ كَانُوا يُجْرُونَهُ مَجْرَى الْخَمْرِ وَيُقِيمُونَهُ مَقَامَهَا, لاَ أَنَّ ذَلِكَ اسْمٌ لَهُ عَلَى الْحَقِيقَةِ.

وَيَدُلُّ عَلَيْهِ أَنَّ قَتَادَةَ رَوَى عَنْ أَنَسٍ هَذَا الْحَدِيثَ, وَقَالَ: "إنَّمَا نَعُدُّهَا يَوْمَئِذٍ خَمْرًا" فَأَخْبَرَ أَنَّهُمْ كَانُوا يَعُدُّونَهَا خَمْرًا عَلَى مَعْنَى أَنَّهُمْ يُجْرُونَهَا مَجْرَى الْخَمْرِ.

وَرَوَى ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: "حُرِّمَتْ عَلَيْنَا الْخَمْرُ يَوْمَ حُرِّمَتْ وَمَا نَجِدُ خُمُورَ الأَعْنَابِ إِلاَّ الْقَلِيلَ وَعَامَّةُ خُمُورِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ" وَمَعَ هَذَا أَيْضًا مَعْنَاهُ أَنَّهُمْ كَانُوا يُجْرُونَهُ مَجْرَى الْخَمْرِ فِي الشُّرْبِ وَطَلَبِ الإِسْكَارِ وَطَيِّبَةِ النَّفْسِ, وَإِنَّمَا كَانَ شَرَابُ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ.

وَرَوَى الْمُخْتَارُ بْنُ فُلْفُلٍ قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنْ الأَشْرِبَةِ فَقَالَ: "حُرِّمَتْ الْخَمْرُ وَهِيَ مِنْ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْعَسَلِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالذُّرَةِ, وَمَا خَمَّرْتَ مِنْ ذَلِكَ فَهُوَ خَمْرٌ" فَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ الأَوَّلِ أَنَّهُ مِنْ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ, وَذَكَرَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّهَا مِنْ سِتَّةِ أَشْيَاءَ؛ فَكَانَ عِنْدَهُ أَنَّ مَا أَسْكَرَ مِنْ هَذِهِ الأَشْرِبَةِ فَهُوَ خَمْرٌ, ثُمَّ قَالَ: "وَمَا خَمَّرْتَ مِنْ ذَلِكَ فَهُوَ خَمْرٌ" وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ إِنَّمَا سَمَّى ذَلِكَ خَمْرًا فِي حَالِ الإِسْكَارِ, وَأَنَّ مَا لاَ يُسْكِرُ مِنْهُ فَلَيْسَ بِخَمْرٍ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ: "إِنَّ الْخَمْرَ حُرِّمَتْ وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ: مِنْ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْعَسَلِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ, وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ" وَهَذَا أَيْضًا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ إِنَّمَا سَمَّاهُ خَمْرًا فِي حَالِ مَا أَسْكَرَ إِذَا أَكْثَرَ مِنْهُ, لِقَوْلِهِ: "وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ". (١)

ترجمة: خمر: دانګوروعصیردی چې ټنګ سوی وی، اوپردغه دعلماؤ اتفاق دی چې همدا خمر دی اونورحرام شیان هم دخمر په نامه دتشبیه په ډول نومول کیږی لکه (فضیخ) چې دتازه خرما عصیردی، اویا(نقیع) چې دپخی خرما څخه استل سوی وی، که څه هم دوی ته مطلق نوم ورته شامل نه دی.

دخمردمعنی په هکله داصحابانو رضوان الله علیهم ډیر مختلف روایات رانقل سوی دی،یودهغوی څخه داچې مالک بن مغول دنافع (رض)څخه روایت دی وایی ابن عمر رضی الله تعالی عنهما وویل: خمر حرام سول اوپه مدینه منوره کې دهغوی څخه شی هم نه وو. اوموږ پوهیږو چې په مدینه منوره کې د(نقیع او فضیخ) دتازه او وچې خرماعصیر موجود وو، اودارنګه نور داسې مشروبات چې

١- أحكام القران للجصاص ج ٤ ص ١٢٢

دخرماوو څخه استل کیدل موجود وه.

او ابن عمر دهغو خلګو څخه نه وو چې لغوی نمونه ورته نه معلومیدل نوله دی څخه ښکاری چې دخرما څخه جوړ سوی عصیرو ته دوی خمر نه ویل.

عکرمه دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت کوی: چې دخمر تحریم نازل سوا وهغه (فضیخ) ته وایی او ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وویل: چې فضیخ خمردی او رواده چې خمر ونوموٍل سی ځکه حرام مشروب دی.

حمید طویل دانس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوی چې ما ابوعبیده، ابی بن کعب او سهل بن بیضاء ته دیوی ټولی نورو اصحابانو سره خمر ورچیښول (یعنی زه یی ساقی وم) چې یو سړی راغلی او ویل یی چې: بیشکه خمرحرام سول، نو قسم دی که دوی ویلی وی چې ودریږه موږ معلومات وکړو. آن تردیٔ چې دوی وویل: دغه چې ستاپه لوښی کې دی ایسته یی توی کړه، اوبیایی دژوند ترپایه ونه چیښل، او دغه خمردتازه اوپخو خرماوو څخه وو، انس رضی الله تعالی عنه اخبار کوی: چې کومه ورځ خمرحرام سول هغه دتازه اوپخو خرما څخه جوړیدل.

اودا ځکه چې حرام وه نوخمرونوموٍل سول، یاپه دی وجه خمر ورته وویل سول چې دوی دخمر پر ځای استعمال کیدل، داسې نه چې په حقیقت کې ددوی داغه نوم دی.

پردغه توجیه باندې هغه روایت دلالت کوی چې قتاده دانس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوی چې ده ویل: موږ په دغه وخت کې دخمر څخه شمیرل نو انس رضی الله تعالی عنه اخبار کوی چې دوی دغه شیان په خمر کې شمیرل، په دی معنی چې دوی دخمر پرځای استعمال کیدل.

ثابت دانس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوی: چې ده ویل پرموږ خمر

حرام سول په هغه ورځ چې حرام سول خوزمونږ سره دانګورو شرابونه ډيرلږوه، زمونږ عام شرابونه دتازه اوپخې خرماڅخه وه، خوبياهم دوی دغه دشرابو پرځای چيښل اوپه دوی سره يې نشه اخستل اودوی خوښول. بيشکه دتازه اوپخې خرما شراب وه.

مختار بن فلفل وايي مادانس بن مالک څخه دشرابو په باره کې پوښتنه وکړله نوده ويل: شراب حرام سوي خودغه دانګورو، خرما، عسل، غنم، اوربشو اوجواروڅخه وه،اوهرشی چې ددوی څخه نشه پيداکړي نوهغه خمراوشراب دی. په اول حديث کې يوازې دتازه اوپخې خرما ذکردی اوپه دوهم حديث کې دشپږو شيانوذکردی، نوداسې دی لکه دده په نزدچې ټول نشه لرونکې شرابونه خمروی، اوبيايي وويل اوصراحت يې وکړی: هرشی چې ددغو څخه نشه ولری هغه خمر دی، نودغه پر دی دلالت کوی چې دغه شيان دنشی په صورت کې خمر ونومول سول، اوهغه چې نشه نه لری هغه خمر نه دی.

دعمر رضی الله تعالی عنه څخه روايت سوی دی چې ده ويل: بيشکه خمر حرام سول خودغه دپنځه شيانو څخه جوړيږي، انګور،خرما،عسل، غنم، اوربشو څخه دی، خوخمر هرهغه شی دی چې عقل خرابوی.

داهم پردغه دلالت کوی چې دوغوته په داسې حال کې خمرويل کيږي، چې نشه ولری اونشه هغه وخت پيداکوی چې ډيرسی ځکه په لږو عقل نه خرابيږي.

امام ابوبکراحمد بن علی الرازی الجصاص که څه هم دحنفی مذهب سره تعلق لری خوبياهم که دده عبارتونه اودلائل په غورمطالعه سی نو په ښکاره معلوميږي چې دی هم دجمهورو فقهاؤ درايي تاييد کوی،ځکه کوم حديثونه چې ده رانقل کړي دی په هغوی کې دوچې اولندی خرماڅخه جوړ سوی شرابوته خمر

ویل سوی دی، بل داچې دی په خپله وایي چې دسکر په حال کې خمر ورته وایي اودغه دجمهورو قول هم دی، بل داچې دپنځه یاشپږو یادیرو څخه جوړ سوی شراب چې نشه ولری نوهغوی ته خمر ویل کیږی نوبیاخوهم یوازی په انګورو پوری خاص نه سو لکه داحنافو قول چې دی، همداوجه ده چې اصحاب کرام ځنګه خبرسوله نودوی هغه ټول دخرماڅخه جوړسوی شراب چپه کړل.

دتفسیر المنار دنظره

۷- دتفسیرالمنارمفسرپه خپل تفسیر کې خپل نظر داسې لیکي: الْخَمْرُ كُلُّ شَرَابٍ مُسْكِرٍ، وَهَذِهِ التَّسْمِيَةُ لُغَوِيَّةٌ وَشَرْعِيَّةٌ، وَقِيلَ: شَرْعِيَّةٌ فَقَطْ وَهُوَ قَوْلٌ ضَعِيفٌ وَقِيلَ: إِنَّ الْخَمْرَ مَا اعْتُصِرَ مِنْ مَاءِ الْعِنَبِ إِذَا اشْتَدَّ، وَهَذَا أَضْعَفُ مِمَّا قَبْلَهُ وَلاَ دَلِيلَ عَلَى هَذَا الْحَصْرِ مِنَ اللُّغَةِ وَلاَ مِنَ الشَّرْعِ.

وَمِنْ أَحْسَنِ مَا رَدَّ بِهِ أَصْحَابُ هَذَا الْقَوْلِ قَوْلُ الْقُرْطُبِيِّ: الْأَحَادِيثُ الْوَارِدَةُ عَنْ أَنَسٍ وَغَيْرِهِ عَلَى صِحَّتِهَا وَكَثْرَتِهَا تُبْطِلُ مَذْهَبَ الْكُوفِيِّينَ الْقَائِلِينَ بِأَنَّ الْخَمْرَ لاَ يَكُونُ إِلاَّ مِنَ الْعِنَبِ، وَمَا كَانَ مِنْ غَيْرِهِ لاَ يُسَمَّى خَمْرًا وَلاَ يَتَنَاوَلُهُ اسْمُ الْخَمْرِ. وَهُوَ قَوْلٌ مُخَالِفٌ لِلُغَةِ الْعَرَبِ وَلِلسُّنَّةِ الصَّحِيحَةِ وَلِلصَّحَابَةِ؛ لأَنَّهُمْ لَمَّا نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ فَهِمُوا مِنَ الأَمْرِ بِالاجْتِنَابِ تَحْرِيمَ كُلِّ مَا يُسْكِرُ، وَلَمْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ مَا يُتَّخَذُ مِنَ الْعِنَبِ وَبَيْنَ مَا يُتَّخَذُ مِنْ غَيْرِهِ، بَلْ سَوَّوْا بَيْنَهُمَا وَحَرَّمُوا كُلَّ مَا يُسْكِرُ نَوْعُهُ، وَلَمْ يَتَوَقَّفُوا وَلَمْ يَسْتَفْصِلُوا وَلَمْ يَشْكُلْ عَلَيْهِمْ شَيْءٌ مِنْ ذَلِكَ، بَلْ بَادَرُوا إِلَى إِتْلاَفِ مَا كَانَ مِنْ غَيْرِ عَصِيرِ الْعِنَبِ، وَهُمْ أَهْلُ اللِّسَانِ، وَبِلُغَتِهِمْ نَزَلَ الْقُرْآنُ، فَلَوْ كَانَ عِنْدَهُمْ تَرَدُّدٌ لَتَوَقَّفُوا عَنِ الإِرَاقَةِ حَتَّى يَسْتَفْصِلُوا وَيَتَحَقَّقُوا التَّحْرِيمَ.

وَقَدْ أَخْرَجَ أَحْمَدُ فِي مُسْنَدِهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مِنَ الْحِنْطَةِ خَمْرٌ وَمِنَ الشَّعِيرِ خَمْرٌ، وَمِنَ التَّمْرِ خَمْرٌ وَمِنَ الزَّبِيبِ خَمْرٌ وَمِنَ الْعَسَلِ خَمْرٌ "

وَرَوَى أَيْضًا " أَنَّهُ خَطَبَ عُمَرُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَقَالَ: أَلاَ إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ وَهِيَ مِنْ

خَمْسَةٍ، مِنَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْعَسَلِ وَالْحِنطَةِ وَالشَّعِيرِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ " وَهُوَ فِي الصَّحِيحَيْنِ وَغَيْرِهِمَا وَهُوَ (أَيْ عُمَرَ) مِنْ أَهْلِ اللُّغَةِ.(۱)

ترجمة: هرنشه کونکې شي خمر دی، اودغه لغوي اوشرعي تسميه ده، او چاويلي دي چې يوازې شرعي تسميه ده، اودغه کمزوري ويناده، اوچاويلي دي: چې خمرهغه څه ته وايي چې دانگورودابوڅخه وي اودغه تر پورتنۍ کمزورې ويناهم کمزورې ده، دشريعت اولغت له پلوه په دغه حصر باندې کوم دليل نسته.

ددغو وينا ګانو په ردکې قرطبي خورا لنده اوښه ويناکړيده، وايي: چې دانس اونورو اصحابانو (رض) څخه روايت سوي حديثونه ډير اوصحيح دي، د کوفيانو دمذهب بطلان ښيي کوم چې دوی وايي: (خمر) يوازې دانگورو جوړيږي چې دانگوروڅخه نه وي هغه خمرنه دی، اودغه وينا دعربي لغت او صحيح سنت سره اوهمداسې داصحابانو سره مخالف دي، ځکه کله چې دخمر حرمت نازل سو نودوی ددې امر څخه وفهمول چې هرهغه شي چې نشه لري دهغه څخه ځان ساتل پکاردي، اودوی ددې توپير نه کاوی چې دانگورو څخه وي يادنورو شيانو، بلکه ټول يې يوډول ګڼل اوټول نشه کونکې شيان يې حرام بلل توقف يې ونکړ، اونه يې دتفصيل غوښتنه وکړه، نه هم په دې هکله کوم سوال ورته پيداسو بلکه سمدستي يې هغه ټول خمر چې دانگورو څخه نه وه توی کړل، دوی دژبې پوهان وو ددوی په ژبه قرآن نازل سوی وو، که دوی پوښتنه درلودای نوبه تم سوي وای ترڅو تفصيل يې وغواړي، اودحرمت حقيقت يې وپيژني.

امام احمد په خپل مسند کې دابن عمر رضي الله تعالى عنهما څخه روايت کوي چې پيغمبر وفرمايل: دغنمو څخه خمرجوړيږي، داوربشو څخه خمر جوړيږي دخرماڅخه خمرجوړيږي، دمميزوڅخه خمرجوړيږي، اودشاتو څخه خمرجوړيږي.

۱- تفسير القران الحكيم المشتهر باسم تفسير المنار ج ۷ ص ۵۱- ۵۲ باختصار

همدارنګه روایت سوی دی: حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دمنبر دپاسه خطبه لوستل وی فرمایل: پوه سی چې خمر حرام سول اوهغه دپنځو شیانو چې انګور، خرما، شات، غنم، اوربشی دی جوړیږی. اوخمر هغه څه دی چې عقل پټوی. دغه حدیث مسلم، بخاری اونورو روایت کړی دی. اوحضرت عمر رضی الله تعالی عنه خو اهل لغت دی.

دتفسیر منیر دنظره

۸- دخمر دتعریف په هکله دتفسیرمنیر مفسر لیکي: ویري الجمهور أن الخمر اسم لكل ماخامر العقل وغلبه , فغير ماء العنب حرام بالنص. وهذا عمررضي الله تعالي عنه قال: إن الخمرحرمت وهی من خمسة أشياء من العنب، والتمر، والعسل،والحنطة والشعير، والخمرماخامر العقل.(۱)

ترجمة: جمهورعلماء دامنی چې خمرهرهغه شی ته وایی چې پرعقل غلبه کوی نودانګورو داوبو نه بغیر نور نشه کونکې شیان هم په داغه نص سره حرام دی.

اوداغه رایه دعمر رضی الله تعالی عنه ده چې دی وایی: بیشکه خمر حرام سول خو خمر دپنځو شیانو څخه جوړیږی دانګورو، خرماوو، عسلو، غنمو، اوربشو اوخمر هرهغه شی دی چې پرعقل پرده اچوی.

دتفسیر روح المعاني دنظره

۹- دخمر دمعنی په هکله دروح المعانی مفسر ډیره مختصره اوجامع لیکنه کوی اوفرمایی: وهو المسكر المتخذ من عصير العنب اوكل مايخامرالعقل ويغطيه من الأشربة. وروى هذا عن ابن عباس رضى الله تعالى عنهما.(۲)

ترجمة: خمر هغه مسکر نشه کونکې دی چې دانګورو څخه جوړ وی، اویا دڅیښاک هرهغه شی دی چې پرعقل غلبه کوی اوعقل پټوی.

۱- تفسيرالمنيرج٤ ص ۳۹-- ۲- روح المعانى ج۷ ص۱۵

دغه تفسیر دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه نقل سوی دی

دتفسیر طبري دنظره

۱۰- دتفسیر طبری مفسر هم ډیر جامع تفسیر کړی دی داسې لیکې: والخمر كل مسكر خمر العقل فستره وغطي عليه, وهو من قول القائل (خمرت الإناء) إذا غطيه, ومن ذلك أيضا (خمار المرأة) وذلك لأنها تستربه رأسها فتغطيه.(۱)

ترجمة: خمر هرنشه کونکی دی چې عقل نشه کړی اوپرده پرواچوی هغه خمر دی، دهمدی څخه دهغه چاقول دی چې وایی (ما لوښی پټ کړی) چې کله پټ کړل سی دهمدی څخه (دښځی پوړنی دی، ځکه ښځه په پوړنی خپل سر پټوی

دتیسیر الکریم الرحمن فی تفسیر کلام المنان دنظره

۱۱- دتیسیر الکریم الرحمن فی تفسیر کلام المنان مفسر په خپل تفسیر کې داسې لیکې: الخمر: وهي كل ماخامر العقل أي غطاه بسكره. والميسر: وهو جمع المغالبات التي فيها عوض من الجانبين, كالمراهنة ونحوها. والأنصاب: التي هي الأصنام والأنداد ونحوها, مما ينصب ويعبد من دون الله. والأزلام: التي يستقسمون بها. فهذه الأربعة نهي الله عنها وزجر, وأخبرعن مفاسدها الداعية إلي تركها واجتنابها. (۲)

ترجمة: خمر هرهغه شی دی چې عقل ګډوډ کوی اوپه نشه یی پټوی، میسر قمارته وایی چې یودبله یوشی دشرط په ډول ګټی، انصاب اوانداد بتانوته وایی چې درول کیږی اوبیایی دالله تعالی نه بغیر عبادت کول کیږی، اوازلام بیاهغه غشی دی چې وربانديې ویش کول کیږی، له دغوڅلورو څخه الله تعالی منع او زجرفرمایلی دی اودهغو تاوانونو اومفاسدوڅخه یی اخبار کړی دی چې دهغوی تقاضا ده چې انسان هغوی پریږدی اوځنی لری سی.

۱- تفسیر طبري ج۱ ص ۵۸۷ -- ۲- تیسیر الکریم الرحمن في تفسیر کلام المنان ص ۲۶۸

دتفسير خازن دنظره

١٢- په تفسير خازن کې دخمر دمعنى په هکله داسې ليکلى ده: والخمر: كل ماخامر العقل وغطاه, والميسر: القمار وقدتقدم تفسيرهما في سورة البقرة. والأنصاب: هي الحجارة التي كانوا ينصبونها للعبادة ويذبحون عندها. والأزلام: هي القداح التي كانوا يستقسمون بها, وتقدم تفسير ذلك. والرجس: في اللغة الشيئ الخبيث المستقذر (من عمل الشيطان) يعني من تزيينه وإغوائه ودعائه إياكم إليها وليس المرادأنها من عمل يديه.

(فاجتنبوه) يعني كونوا جانبا منه, والضمير في قوله فاجتنبوه عائد إلي الرجس لأنه اسم جامع للكل كأنه قال إن هذه الأربعة الأشياء كلها رجس فاجتنبوه (لعلكم تفلحون) يعني لكي تدركوا الفلاح إذا اجتنبتم هذه المحرمات التي رجس. (١)

ترجمة: خمر تهول هغه څه دی چې عقل پټ کړی اوپرده پر واچوی، ميسر: قمار ته وايي، اوددی تفسير مخکې په سورة بقرة کې تيرسو، اوانصاب هغه تيږه (ډبره) ده چې دوی به درولی وه او هلته به يې ځاروی حلالولی، اوازلام: غشی چې په هغوی به يې ويش کوی، اوددی تفصيل پخوا تيرسوی دی، (رجس) په لغت کې ناولی اوپليت شی ته وايي، اود(من عمل الشيطان) دامعنی ده چې شيطان ښايسته کړی اوتاسو وربولی، داسې نه چې دا دهغه کړنه ده.

(فاجتنبوه) يعنی ځانونه ځنی وساتی، د(ه) ضميرودغه رجس ته راجع دی، معنا داچې دغه څلورسره ناولی دی ځانونه تری ګوری(لعلكم تفلحون) لپاره ددی چې خلاصون پيداکړی کله چې ددغو حرامو شيانو څخه مو ځانونه ژغورلی وی.

دتفسيرابن کثير دنظره

١٣- دتفسيرابن کثير مفسر په مختصرو لفظونو کې مطلب اداکړی ليکې: أماالخمرفكما قال أميرالمؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله تعالي عنه: أنه كل ماخامرالعقل.(١)

١- تفسيرخازن ج ٢ ص ٧٥ — ١- تفسير القرآن العظيم ج١ ص ٤٣٤

ترجمة: دخمر معنی هغه ده لکه څرنګه چې عمربن خطاب رضی الله تعالی عنه کړی ده، بیشکه خمر هغه څه دی چې عقل پټوی، یعنی دخپل کار څخه یی (چې فهم اوادراک دی) معطل کوی.

دتفسیر مظهری دنظره

۱۴- دتفسیر مظهری مفسر چې خپله مشهورحنفی عالم دی اوده ده تفسیر دمنطقی دټولو علماؤ مرجع دی تقریبا دهری طبقی عالم ورڅخه استفاده کوی هغه په خپل تفسیر کې لیکي: اختلف العلماء في أن الخمر ما هو؟ فقال أبوحنيفة رحمه الله هو النئ من ماء العنب إذا صار مسكر اوقذف بالزبد، ولم يشترط صاحباه القذف بالزبد.

وقال مالك والشافعي واحمد كل شراب أسكر كثيره فهو خمر.قالت الحنفية الخمر اسم خاص لما ذكرنا وهو المعروف عند أهل اللغة ولهذا اشتهر استعماله فيه، واشتهر في غيرها مما ذكرنا من المسكرات اسم آخركالمثلث, والطلا, والمنصف, والباذق, ونحو ذلك واللغة لا يجرى فيها القياس. وقال الجمهور اسم الخمر لغة لكل ما خامر العقل. (۱)

ترجمة: علماؤ اختلاف کړی دی چې خمر څه ته وایی؟ امام أبوحنیفة رحمه الله وایی: خمر دانګورو هغه تازه اوبه دی چې نشه پیداکړی اوپرسریی ځګ راسی، خودده یاران دغه ځګ شرط نه بولی.

امام مالک، امام شافعی، امام أحمد (رح) وایی: هرهغه شراب چې ډیر یی نشه لري هغه خمردی. حنفی علماء وایی: دخمرنوم دهغه دپاره خاص دی چې موږ ذکرکړی (دانګوراوبه چې نشه پیداکړی) همدغه معنی دلغت دعلماؤ په منځکې معروفه ده، نوځکه یی په همدغه کې شهرت پیداکړی دی، بیله دغه چې موږ ذکرکړه دنورو نشه لرونکو شیانو دپاره نور نومان دی لکه مثلث (چې یوه دریمه اوبه په جوش کې ولاړی سی) طلاء (چې تر دریمی لړاوبه په جوش کې ولاړی سی)

۱- تفسير مظهری ج ۱ ص ۲۶۶

منصف (چې نیمایی یالړاوبه په جوش کې ولاړی سی) باذق (چې جوش سی اوپرسریې ځګ راسی)اوداسې نور. اوپه لغت کې قیاس نه کول کیږي.
اوجمهور علماء وایي: خمر دهر هغه شی نوم دی چې پر عقل پرده اچوی، یعني نشه کوی.

دتفسیر بیضاوی دنظره

۱۵- دتفسیر بیضاوی تفسیر چې زموږ په علمی ټولنه کې نه یوازی داچې ډیر مقبولیت لری بلکې زموږ په درسی نصاب کې شامل دی هغه هم په ډیرو مختصرو لفظونو ډیرلوی مطلب اداکړی اوفرمایي: والخمرفي الأصل مصدر, خمره إذا ستره، سمي بها عصير العنب والتمر إذا اشتد وغلا كأنه يخمر العقل، كما سمي سكراً لأنه يسكره أي يحجزه، وهي حرام مطلقاً وكذا كل ما أسكر عند أكثر العلماء. (۱)

ترجمة: خمر په اصل کې مصدر دی، ویل کیږي (خمره) چې کله شی پټ کړي، دانګوروا وخرماعصیر چې کله سخت اوجوش سی نودخمر په نامه ونومول سول ځکه دوی عقل پټوی (په نشه سره) لکه څرنګه چې داغه عصیرته سکرهم ویل کیږي ځکه دوی عقل نشه کوی یعنی دادراک اوفهم څخه یې بندوی، اودغه مطلق حرام دی، همدارنګه دډیرو علماؤ په نزد ټول هغه څه مطلق حرام دی چې نشه لری.

دپورته ذکرسوی (۱۵) معتمدو اومقبولومفسرینو دتفسیردنقل کولو نه وروسته داویلای سو چې تقریبا دډیرو مفسرینو دڅه لفظونو په تغیر همدغه نظر دی چې دخمر لفظ عام دی یوازی دانګورو تازه اوبوته نه ویل کیږي، بلکې وهرنشه کونکې شی ته ویل کیږي په هرنامه اودهرشی څخه چې وی.

۱- تفسیر البیضاوی أنوار التنزیل أسرار التاویل ج۱ ص ۱۳۸

دمفسرينو فيصله

څه دحنفي مذهب مفسيرينو په خپلو تفسيرينو کې دجمهورو فقهاؤ رايي ته ترجيح ورکړې اودهغه دترجيح وجوهي هم بيان کړې دي چې دهغوی دجملې څخه يوعلامة محمد على الصابونی چې خپله هم دحنفي مذهب سره تعلق لري، په خپل کتاب (روائع البيان في أحكام القرآن) کي دخمر دتعريف په هکله دجمهورو فقهاؤ اودحنفي مذهب دفقهاؤ ترمنځ اختلاف ته اشاره کړې اوبيا فيصله کوی اوفرمايي: اختلف العلماء في تعريف الخمر ماهي؟ فقال أبوحنيفة: الخمر الشراب المسكر من عصيرالعنب فقط, وأما المسكر من غيره كالشراب من التمر أوالشعير, فلايسمي خمرا بل يسمي نبيذا. وهذا مذهب الكوفيين.

وذهب الجمهور (مالك والشافعي وأحمد) إلي أن الخمراسم لكل شراب مسكر, سواء كان من عصيرالعنب, أوالتمر أوالشعيرأوغيره, وهومذهب جمهورالمحدثين وأهل الحجاز.(۱)

ترجمة: دخمر په تعريف کې علماؤ اختلاف کړی دی، هغه داچې خمر څه ته وايي؟ امام ابوحنيفة (رحمة الله تعالى عليه) وايي: خمر نشه کونکې شراب دی چې يوازی دتازه انګورو دعصير (شيره) څخه وی، دانګورو بغيرنور نشه کونکې شراب لکه دخرما. اوربشوهغوی ته خمر نه ويل کيږی، همدغه دکوفيانو مذهب هم دی.

دجمهورو فقهاؤ لکه امام مالک، امام شافعي اوامام احمد (رحمة الله تعالى عليهم) مذهب دادی چې هغوی وايي: خمردهر نشه کونکې مشروب نوم دی، هغه دانګورو تازه عصير(شيره) وی، دخرماوی، داوربشي وی،اوکه دبل شي څخه وی، همدغه دمحدثينو اواهل حجاز دعلماؤ مذهب دی.

۱- روائع البيان تفسير آيات الأحكام من القرآن ج ۱ ص ۲۷۷

په آخرکې علامة صابوني ددواړو فريقو ددلائلو ترليکلو وروسته دترجيح ترعنوان لاندې داسې فيصله کړې او دترجيح وجه يې بيان کړې او فرمايي: ونحن إذا تأملنا أدلة الفريقين ماذكر منها ومالم يذكر ترجح عندنا قول الجمهور وأهل الحجاز, فالخمر حرام, وكل مسكر خمركما قال عمر رضي الله عنه, وذلك لأن الصحابة لماسمعوا تحريم الخمر فهموا منه تحريم الأنبذة, وهم كانوا أعرف الناس بلغة العرب ومراد الشارع, وقد ثبت بالسنة المطهرة تحريم كل مسكر ومفتر.

وثبت عن أنس أنه كان ساقي القوم في منزل أبي طلحة حين حرمت الخمر وماكان خمرهم يومئذ إلا الفضيخ, فحين سمعوا تحريم الخمر أهرقوا الشراب وكسروا الأواني, وما كان الفضيخ إلا من نقيع البسر, فماذهب إليه الجمهور هو الصحيح المعول عليه, لاسيما وأن المتأخرين من الأحناف أفتوا بقول محمد في سائر الأشربة وهو الحق الذي لامحيد عنه.(۱)

ترجمة: کله چې موږ ددواړو فريقو په هغودلائلو کې فکر وکړو چې څه دهغوی څخه دلته ذکرسوي اوڅه نه دي ذکرسوي، زموږ په نزد دجمهورو او دحجاز دعلماؤ دلائل راجح دي، نوخمر حرام دي، اوهرمسکر خمر دی، لکه څرنګه چې عمر رضی الله تعالی عنه وايي، داځکه صحابه کرامو چی کله د خمرو دحرمت واوريدل نوددی څخه دوی دنبيذو دحرمت حکم وفهموی، او دوی په خلګوکې په عربی ژبه اودشارع په مراد ډېر ښه پوهيدل.

اوبيشکه په پاکوحديثونو سره ثابته سوی ده چې هرنشه کونکې اوهر سستی کونکې حرام دي، اودانس رضی الله تعالی عنه څخه ثابته سوی ده چې دی دابی طلحه په کور کې دخلګو ساقی (ورچيښونکې) وو چې خمر حرام سوله، اوپه دغه وخت کې ددوی خمر نه وه مګر دفضيخ څخه وه، کله چې دوی دخمر

۱- روائع البيان تفسير آيات الأحكام من القرآن ج ۱ ص ۲۷۷

دحرمت واوریدل نودوی ټول خمرتوی کړل اولوښی یې مات کړل، او فضیخ نه وه مګر دوچې خرماڅخه وه.

نودجمهورو علماؤ رایه صحیح ده، داځکه چې دحنفی مذهب متاخرینو فقهاؤ هم دامام محمد رحمه الله پرقول فتوا کړی ده چې هغه وایی: ټول نشه کونکې نشه لرونکې حرام دی اوداغه قول حق دی، اوددغه څخه هیڅ دخلاصون لاره نسته.

دحنفی مذهب یوبل مفسر چې دخپل وخت ډیر ښه عالم اومفسردی او زمونږ په ټولنه کې دده تفسیر ډیره لویه مرجع اوداعتماد وړدی، اوتقریبا دهر عالم دکتاب خانی زینت دی په خپل تفسیر کې فیصله کوی اوفرمایی: قال العلامة الألوسي:وعندی أن الحق الذي لاينبغي العدول عنه, أن الشراب المتخذ مما عدا العنب كيف كان, وبأي اسم سمي, متي كان بحيث يسكر حرام, وقليله ككثيره, ويحد شاربه, ويقع طلاقه, ونجاسته غليظة.

وفي الصحيحين أنه صلي الله تعالي عليه وسلم سئل عن النقيع (وهونبيذ العسل) فقال (كل شراب أسكر فهوحرام) وروي ابوداود (نهي رسول الله صلي الله عليه وسلم عن كل مسكر ومفتر) وصح (ما أسكر كثيره فقليله حرام) وفي حديث أخر:ماأسكر الفرق منه فملأ الكف منه حرام) الأحاديث كثيرة علي ذلك.

وإن اجتماع الفساق في زماننا علي شراب المسكرات مماعدا الخمر ورغبتهم فيها فوق اجتماعهم علي شرب الخمرورغبتهم فيه بكثير,وقدوضعوا لها أسماء كالعنبرية والإكسير، ونحوهما, ظنا منهم أن هذه الأسماء تخرجها من حرمة وتبيح شربها للأمة, هيهات هيهات الأمر وراء مايظنون, فإنا لله وإنا إليه راجعون.(۱)

۱- تفسير روح المعاني للألوسي ج۲ ص ۱۱۳

ترجمة: اوزماپه نزد حق دادی: چې دهغه څخه مخ اړول مناسب نه دی، بیشکه هغه شراب چې دانګورو څخه بغیر دبل شی څخه جوړیږی هرڅنګه چې وی اوپه هرنامه چې وی، اوهرکله چې وی، دعادت نه بغیر چې څوک نشه کوی هغه ټول حرام دی، لږیې لکه ډیر، چیښونکې یې په حد کیږی، که دنشی په حال کې دطلاق لفظ ووایی طلاق یې واقع کیږی، اوغلیز نجس اومرداردی.

اوپه صحیحینو (بخاری اومسلم)کې حدیث راغلی دی چې درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دنقیع (دعسلو شراب) په هکله پوښتنه وسوله، نوده (مبارک) ورته وویل: (هرشراب چې نشه لری هغه ټول حرام دی).

ابوداود روایت کړی دی: (چې رسول الله صلی الله علیه وسلم (دهرنشه کونکې اوسستی پیداکونکې څخه منع کړی ده).

اوداصحیح ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (هغه چې ډیریې نشه لری دهغه لږهم حرام دی).

په بل حدیث کې راغلی دی (هغه چې یوفرق (١٦ رطل) یې نشه کونکې وی دهغه یوه لپه یاغړپ هم حرام دی). په دی باره کې حدیثونه بیخی ډیردی.

اوبیشکه زموږ په زمانه کې دفاسقانو اجتماع پرهغه نشه کونکو شیانو ده چې دانګورو دشرابو څخه نه دی، اوپه دغوکې ددوی رغبت دانګورو تر شرابو ډیر زیات دی، اوددوی دپاره یې نورنومان ایښی دی، لکه عنبریه او اکسیریه اوداسې نور، ددوی داګمان دی چې په دغه نومانو دوی دحرمت څخه وزی اوپه حلالوکې شمارل کیږی، هیڅکله نه هیڅکله نه، بلکې امر واقعیت ددوی دګمان په خلاف دی. بیشکه موږ دالله تعالی دپاره یو اوالله تعالی ته رجوع کونکې یو.

یوبل دحنفی فقهی ډیرمقبول عالم فقیه اومفسر په خپل تفسیر کې داسې

فیصله کوی اوفرمایی:والتحقيق عندى أن الخمرلفظ مشترك بين الخاص والعام إما حقيقة وإما بعموم المجاز, والمراد في الأية هو المعنى الأعم.

قال صاحب القاموس الخمر ما أسكر من عصير العنب او عام والعموم أصح.

وقال ابن عمر حرمت الخمر وما بالمدينة منها شيء رواه البخاري.

وحديث أنس كنت ساقى القوم يوم حرمت الخمر وما شرابهم إلا الفضيح البسر والتمر. متفق عليه

وفي رواية: أني لقائم أسقي أبا طلحة فلانا فلانا وسمى في بعض الروايات أبا عبيدة بن الجراح وأبي بن كعب وسهيلا، إذ جاء رجل فقال قد حرمت الخمر فقالوا أهرق هذا القلال يا أنس قال فما سألوا عنها ولا راجعوها بعد خبر الرجل.

وعنه قال لقد حرمت الخمر حين حرمت وما نجد خمر الأعناب إلا قليلا وعامة خمرنا اليسر والتمر.فهذه الآثار تدل على ما ذكرت أن الخمر قد يستعمل فى المعنى الأخص لكن المراد بالآية هو المعنى الأعم ولو بالمجاز وإن كان المراد بالخمر في الأية المعنىالأخص لما طابق الجواب السؤال فان السؤال إنما كان عن الشراب الذي كانوا يشربونه حين سألوا, قال عمر ومعاذ أفتنا يا رسول الله عن الخمر فإنها مذهبة للعقل, وقال الله تعالى (إِنَّما يُرِيدُ الشَّيْطانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَداوَةَ وَالْبَغْضاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلاةِ) وهذا غير مختص بماء العنب بل لم يكن ماء العنب مستعملا لهم. والله أعلم

وفي الباب حديث عمر بن الخطاب أنه قال فى خطبته, نزل تحريم الخمر وهى من خمسة أشياء العنب والتمر والحنطة والشعير والعسل والخمر ما خامر العقل. متفق عليه

ورواه احمد في مسنده عن ابن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من الحنطة خمر ومن الشعير خمر ومن التمر خمر ومن الزبيب خمر ومن العسل خمر.

وفي الباب عن النعمان بن بشير مرفوعا نحوه رواه الترمذي وابو داود وابن ماجة

وروى احمد وفي آخره وإنما أنهى عن كل مسكر.

وعنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كل مسكر حرام وكل مسكر خمر. رواه مسلم

وعن أنس قال الخمر من العنب والتمر والعسل والذرة فما خمرت من ذلك فهو الخمر. رواه احمد

وإذا ثبت أن اسم الخمر تعم الأشربة المسكرة فثبت بنص القران أن ما أسكر كثيره فقليله حرام ونجس فيحد شاربه من أىّ شيء كان ولا يجوز بيعها ولا يضمن متلفها غير أنه لا يكفر مستحل ما سوى التي من ماء العنب لمكان الاختلاف.(۱)

ترجمة: زماپه نزد تحقیق دادی چې دخمر لفظ دعامی اوخاصی معنی ترمنځ مشترک دی، په حقیقت یادمجاز په عموم سره، اوپه آیت کې دغه عامه معنی مراد ده.

دقاموس مؤلف وایي: خمر دانګورو نشه کونکې عصیر دی، یاعام دی، دغه عموم یې صحیح دی.

اوابن عمر رضی الله تعالی عنه وایي: خمر حرام سوله خوپه مدینه کې ددوی څخه هیڅ شی نه وو.

او دانس رضی الله تعالی عنه روایت دی چې دی وایي : زه دقوم ساقی (دشرابو ورچیښونکې) وم، په هغه ورځ چې خمر حرام سوله، خوددوی شراب نه وه مګر دتازه اوپخی خرما څخه وه.

په بل روایت کې وایي: چې زه اباطلحة، فلانی اوفلانی ته ورچیښونکې وم، په ځینو روایتونو کې دابا عبیده بن جراح اوابی بن کعب اوسهیل نومونه هم

۱- تفسیر مظهری ج ۱ ص ۲۶۶

اخستل سوی دی، چې په دغه وخت کې يوسړی راغلی او وی ويل چې خمر حرام سول، نودوی وويل: ای انس دغه ستاپه پيالوکې چې دی چپه اوتوی يې کړه، دی وايي: نه دوی دهغه په هکله پوښتنه وکړله اونه يې دهغه سړی تراخبار وروسته مراجعه وکړله.

دداغه انس څخه روايت دی چې دی وايي: خمر حرام سول هغه وخت چې حرام سول خوزموږ سره دانګورو شراب نه وه مګر ډيرلږ، زموږ عام شراب دتازه اوپخی خرماڅخه وه، نودغه ټول آثار پرهغه معنی دلالت کوی چې موږ ذکر کړله چې خمرکله په خاصه معنی کې استعماليږی خوپه آيت کې عامه معنی مراد ده که څه هم مجازی وی.

اوکه په آيت کې خاصه معنا مراد سی نوجواب دسؤال سره سمون نه خوری، هغه داچې سؤال دهغو شرابو په هکله وو کوم چې دوی چيښل څه وخت چې دوی سؤال وکړی، هغه داچې عمر اوحضرت معاذ رضی الله تعالی عنهما وويل: ای دالله رسوله موږ ته دخمر په هکله فتوی راکړه بيشکه دغه عقل خرابوی، اوداچې الله تعالی وايي: شيطان اراده لری چې ستاسو په منځ کې دښمنی اوبغض پيداکړی ددغه خمراوقمار په وجه، اوتاسودالله تعالی دذکراو لمانځه څخه بند کړی، اودغه يوازی دانګورو په اوبو پوری خاص نه دی، بلکې ددوی سره ددغو اوبو استعمال هم نه وو. اوالله تعالی ډيرښه پوهيږی

اوپه دغه باب کې دعمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه حديث هم ستنه چې هغه په خطبة کې ويل: دخمر تحريم نازل سو خو دغه دپنځو شيانو څخه جوړيږی: انګور، خرما، غنم، اوربشی، اوعسل، اوخمر هغه شی دی چې عقل ګډوډ کوی، يعنی په نشه سره.

امام أحمد په خپل مسند کې روایت کړی دی چې ابن عمر دنبی صلی الله علیه وسلم روایت کوی چې دغنمو څخه خمر دی، داوربشو څخه خمر دی، دخرما څخه خمر دی، دممیزو څخه خمر دی، اودعسلو څخه خمر دی.

په دغه باره کې دنعمان بن بشیر څخه مرفوع یعنی نبی صلی الله علیه وسلم ته رسیدلی حدیث روایت سوی دی چې ترمذی، أبوداود، ابن ماجة او احمدروایت کړی دی، اودهغه په آخرکې داهم سته چې نبی علیه الصلوة والسلام فرمایی: بیشکه زه تاسو دهر مسکر څخه منع کوم.

داغه نعمان بن بشیر وایی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرمسکر حرام دی اوهرمسکر خمر دی. دغه حدیث مسلم روایت کړی دی.

انس رضی الله تعالی عنه وایی: خمر دانګورو اوخرما اوعسلو اوجوارو څخه دی، اوهرشی چې ددوغوڅخه نشه کړی نوهغه خمر دی. دغه حدیث امام احمد په خپل مسند کې روایت کړی دی

نوچې داثابته سوله چې خمر وټولو نشه لرونکو شرابو ته ویل کیږی نوټول هغه نشه لرونکې شیان چې ډیر یی نشه لری دقرآن په نص یادلیل حرام دی، او د هغوی لږ هم حرام دی، اونجس دی، اوپرڅیښونکې باندې شرعی حد سته، د هر شی څخه چې وی، اوبیع خرڅول اورانیول یی جائز نه دی، که درانیونکې پلاس کې هلاک سی پرهغه ضمان یاتاوان نسته، خوکه څوک ورته حلال وایی نوهغه نه کافرکیږی، بیله هغه دانګورو داوبو څخه څکه دااختلاف ځای پکښی سته.

ملاحظه: دتفسیرمظهری مصنف په ډیر صراحت سره دجمهورو علماؤ رایه په دلائلو تایید کړی ده، اودهغوی دلائل یی رانقل کړی دی، اووایی په آیت کې عامه معنی مراده، اوبله ډیره مهمه وجه یی داویلی ده (که خاصه معنی مراد سی

نودالله تعالى جواب داصحابو کرامو دسؤال موافق نه راځی، اوبل داچې کوم علتونه رب العلمین بیان کړی دی هغوی یوازی دانګورو په اوبو پوری اړه نلری، بلکې په هره نشه کې داسې کیدای سی.

بل دخپل وخت ډیر ممتاز عالم مفسر محقق دازهر دجامعی دتفسیر استاذ امام اوشیخ محمد عبده په خپل تفسیر قرآن حکیم کې تر ډیر تفصیلی اومدلل بحث نه وروسته یوه ډیره په زړه پوری توجیه کوی اوفرمایی:

أَنَّ لَفْظَ الْخَمْرِ لَيْسَ اسْمًا لِعَمَلٍ شَرْعِيٍّ لَمْ يَكُنْ مَعْرُوفًا قَبْلَ الشَّرْعِ فَلَمَّا جَاءَ بِهِ الشَّرْعُ أَطْلَقَ عَلَيْهِ كَلِمَةً مِنَ اللُّغَةِ تَتَنَاوَلُهُ بِطَرِيقِ الْمَجَازِ بَلْ هُوَ اسْمٌ لِنَوْعٍ مِنَ الشَّرَابِ يَمْتَازُ عَنْ سَائِرِ الأَشْرِبَةِ بِالإِسْكَارِ وَهَذِهِ التَّسْمِيَةُ مَعْرُوفَةٌ عَنْهُمْ قَبْلَ نُزُولِ مَا نَزَلَ مِنْ آيَاتِ الْخَمْرِ.

وَقَدْ نَزَلَتْ آيَةُ الْبَقَرَةِ جَوَابًا عَنْ سُؤَالٍ سَأَلُوهُ عَنِ الْخَمْرِ، وَلَمْ يَقُلْ أَحَدٌ مِنْ مُفَسِّرِي السَّلَفِ وَلاَ الْخَلَفِ وَلاَ خَطَرَ عَلَى بَالِ أَحَدٍ أَنَّهُ سَأَلُوهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ خَمْرِ عَصِيرِ الْعِنَبِ خَاصَّةً وَأَنَّهَا هِيَ الْمَقْصُودَةُ بِالْجَوَابِ بِأَنَّ فِيهَا إِثْمًا كَبِيرًا وَمَنَافِعَ لِلنَّاسِ، وَأَنَّ غَيْرَهَا أُلْحِقَ بِهَا فِي التَّحْرِيمِ بِطَرِيقِ الْقِيَاسِ أَوْ تَفْسِيرِ النَّبِيِّ وَالصَّحَابَةِ لِلْخَمْرِ الشَّرْعِيَّةِ. (۱)

ترجمة: دخمر لفظ دشرعی عمل نوم نه دی چې دشریعت ترنزول دمخه معلوم نه وو، اوچې کله شریعت (قران) کې دخمر لفظ راغلی نو پردغی معنی باندې اطلاق وسو اودغی معنی ته یې دلغوی مجاز په طریقه سره شمول وکړی، بلکې دغه دهغه شرابو نوم دی چې دنورو څخه دنشی په وجه امتیاز لری، اودغه نوم ددوی په منځکې دخمر دآیتونو ترنزول دمخه هم معروف او مشهور وو، او دسورت بقرة آیت ددوی دسؤال په جواب کې نازل سوی دی، او نه دمخکنیو اونه دوروستنیو مفسریونو څخه چاقول کړی دی، اونه ددوی څخه دیوه پرزړه را

۱- تفسیر القران الحکیم (المشتهر بتفسیر المنار) ج ۷ ص ۵۲- ۵۳ بالاختصار

ګرځیدلی دی چې دوی درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه خاص دانګورو د شرابو په باره کې پوښتنه کړې وی اودهغوی دسوؤال په جواب کې دغه آیت نازل سوی وی، چې خاص دغه دانګورو په شرابو کې لویه ګناه ده اودخلګو منافع پکښې دی، اودغه نور(نشه کونکې) بیاپه حرمت کې په دوی پوری په قیاس دنبی کریم (ص) یاداصحابانو په تفسیر سره یوځای سوی وی. بلکې داسې نه ده

مطلب داچې دتفسیرمنار مفسر تر ډېر تحقیق اوتفصیل وروسته په آخرکې داسې معقوله توجیه کړې چې دخمر لفظ دآیت ترنزول مخکې هم د عربو په منځکې معروف اومشهوروو ،ځکه خو عمراومعاذ اونوروصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه سؤال وکړی چې موږ ته دخمر اوقمار په هکله فتوا راکړه، اودسؤال علت یې هم دا بیان کړئ چې دغه (خمر اوقمار) دعقل خرابونکې اودمال سلبونکې دی، او ښکاره خبره ده چې دغه علت په هره نشه اوپه هرنوع قمار کې دی، دهمدغه سؤال په جواب کې الله تعالی آیت د(خمر) په لفظ سره نازل کړی، داسې نه دی چې دخمر لفظ په قرآن کې نازل سواوخلګ ددی لفظ سره نااشناوه، اوس ددغه لفظ د معنی په تعین کې دعلماؤ اختلاف دی، داسې نه دی، بلکې دخمردلفظ مفهوم اومعنی ټولو عربوته دقرآنی آیت ترنزول دمخه هم معلومه وه، همدا وجه ده چې کله دغه آیت نازل سو، نودوی ټول شرابونه دهرشی څخه چې جوړ وه چپه کړل، دسؤال، تفصیل اومعلومات کولو انتظار یې ونه کړی.

اوعمررضی الله تعالی عنه هم هغه وخت وویل چې نورموږ خمر نه چیښو چې کله دغه آیت نازل سو چې (تاسو دنشی په حال کې لمانځه ته مه نژدې کیږئ) نو ددی څخه هم معلومه سوله چې دخمر دحرمت اصلی علت نشه ده.

دپورته ذکرسوی مفسررحمه الله دتفسیرخلاصه همداده چې دخمرلفظ عام دی وهرنشه کونکې شی ته ویل کیږی، یوازی دانګورو تازه اوبوشرابوته نه دی.

یوبل ډیرښه عالم اومفسرابن العربي رحمه الله په خپل تفسیرأحکام القرآن کې دغه مسئله داسې بیان کړی اوفرمایی: المسألة الثانية: في تحقيق اسم الخمر ومعناه: وقد اختلف العلماء في ذلك علي قولين: أحدهما أن الخمر مسكر يعتصر من العنب خاصة, وما أعتصرمن غيرالعنب كالزبيب والتمر وغيرهمايقال لهما نبيذ. قاله أبوحنيفة وأهل الكوفة. والثاني: أن الخمر كل مسكرملذ مطرب, قاله أهل المدينة وأهل مكة.

والصحيح ماروي الأئمة: أن أنسا قال: حرمت الخمر يوم حرمت ومابالمدينة خمر الأعناب إلا قليلا, وعامة خمرنا البسر والتمر. اخرجه البخاري.

واتفق الأئمة علي رواية أن الصحابة إذ حرمت الخمر لم يكن عندهم يومئذ خمر عنب، وإنماكانوا يشربون خمرالنبيذ, فكسروادنانهم, وبادروالامتثال لاعتقادهم أن ذلك كلهم خمر.

وصح عن عمر رضي الله عنه قال على المنبر: إن تحريم الخمر نزل, وهي من خمسة: العنب, والتمر, والعسل, والحنطة, والشعير. والخمر ماخامر العقل.(١)

ترجمة: دوهمه مسئله دخمر دنوم اومعنی په تحقیق کې ده، بیشکه علماء پر دوه قوله ویشل سوی دی: یوقول داچې خمر خاص هغه نشه کونکې ته ویل کیږی چې دانګورو څخه (جوړسوی) وی، دانګورونه بغیرلکه دخرما اومیمزو او نورو څخه جوړ سوی شرابو ته نبیذ ویل کیږی. دغه قول دامام ابوحنیفة اود کوفی دعلماؤدی.

دوهم داچې: خمر هر خوندور اونشه کونکې شرابوته ویل کیږی. دغه قول دمکې اومدینی دعلماؤ دی.

١– أحكام القرآن لأبي بكر محمد بن عبدالله المعروف بابن العربي ج ١ ص ٢٠٩

اوصحیح هغه ده: چې جمهورو نقل کړی دی چې انس رضی الله تعالی عنه وایي: خمرچې په کومه ورځ حرام سول خوپه مدینه کې دانګورو خمرنه وه مګرلږ، دمدینی عام خمردوچې اولندی خرماڅخه وه. دغه حدیث بخاری روایت کړی دی.

امامانو داصحابو کرامو پرهغه روایت اتفاق کړی دی چې کله خمر حرام سوله نوددوی سره دانګورو خمر نه وه، بلکې دوی دنبیذو خمر چیښل، او دوی خپل لوښی مات کړل، اودوی دامر پرځای کولو باندې تلوار وکړی، ځکه ددوی عقیده وه چې دغه ټول خمر دی.

اودعمر رضی الله تعالی عنه څخه داصحیح روایت سوی دی چې ده دمنبر دپاسه ویل: بیشکه دخمر حرمت نازل سو خوخمر دپنځه شیانو څخه جوړیږی: انګور، خرما، عسل، غنم اواربشی. اووروسته تعمیم کوی چې خمر هرهغه څه دی چې پرعقل پرده اچوی اودخپل کار اووظیفی څخه یې معطل کوی.

دپورته ذکرسوی مفسرینو ترفیصلی وروسته اوس زموږ دفیصلی وخت دی چې موږ کومه فیصله کوو، ایا تردغه ټول تحقیق نه وروسته بیاهم موږ وایو چې شراب یوازی هغه دی چې دانګورو څخه جوړسوی وی، اودغه نوروته دمباح حکم ورکوو؟ اوکه دجمهوروفقهاؤ،علماؤ،مفسرینواودرسول الله صلی الله علیه وسلم دښکاره اوثابت حدیثونو اتباع کوو چې ټوله نشه لرونکې شیان داسې حرام دی لکه هغه چې دانګورو څخه جوړ سوی، اودټولوحرمت په قرآن ثابت دی.

دخمرمعنی دفقهی داصولو مطابق

داچې زموږ ټولنه یوه مذهبی ټولنه ده اودعلماؤ ډیرلوی اکثریت دحنفی فقهی اومذهب سره تعلق لری، اوامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه خپلو پیروانو ته دخپل قولونو لیکلی مجموعه نده لیکلی لکه دنوررو امامانو په شان

نو ځکه ويل کيږي چې دحنفي مذهب ټول قوام اوثبات پراصولو باندې دی، يعنی که يوحکم دحنفي اصولو سره برابروو نوهغه دحنفي مذهب بلل کيږي، نو ځکه غواړم چې دحنفي مذهب داصولودکتابونوپه حواله څه وليکم ترڅو د اصول فقهي دعلماؤ دنظره هم دخمر دلفظ څه تشريح او وضاحت وسی چه نوره هم داموضوع روښانه سی او دټولو دپاره دمنلو وړ وګرځي.

خودلته به زه انشاء الله تعالی دحنفي اصول فقه مطابق دڅلورو نکتو څخه بحث کوم: اول دا چې: دخمر لفظ عام دی، دويم داچې: دعام تخصيص په خبر واحد او قياس جايز نه دی، دريم داچې: معطوف اومعطف عليه په حکم کې سره يووی، څلورم داچې: يوځای حکم پرعلت بناوی نوهغه علت چې په هرشي کې پيداسي دهغه هم داغه حکم دی.

دخمر لفظ عام دی

دفقهي داصولومطابق يولفظ عام اوبل خاص دی چې دهغوی پربنا حکم ته هم عام اوخاص ويل کيږي، داصول فقهي دکتابونو په حواله دعام تعريف څه په داسې ډول سوی دی:

١- ونذكر الآن ألفاظ العموم فنقول: أولها ألفاظ الجموع وسواء فيها جمع السلامة وجميع التكسير،كقوله: اقتلوا المشركين واعمروا المساجد وهذا النوع أبين وجوه العموم، ثم بعد هذه الأسماء التى يدخلها الألف واللام للجنس،كقولك الحيوان والنبات والجماد يراد بها تعميم هذه الأجناس ومن هذا الباب قوله تعالى: {وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ} [المائدة: ٣٨] : {الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي}[النور: ٢]فلا سارق إلا وعليه القطع بالآية ولا زانى إلا وعليه الجلد بالآية.

وقد قال بعضهم: مثل هذا اللفظ لا يكون للعموم وإنما يكون للعهد قال أبو هاشم يفيد الجنس دون الاستغراق. وأما عندنا (الحنفية) هو العموم، لأن نفس اللفظ وإن كان لفظا

مفردا ولا يدل على العموم،ولكن دخل عليه ما يوجب عمومه, وهولام الجنس وهذا لأنه لو لم يستغرق قولنا الإنسان جميع الجنس، لأفاد واحدا غيره يقينا، وإذا قلتم بهذا فقد كان هذا مستفادا بالاسم قبل دخول الألف واللام عليه،فلا يبقى لدخول الألف واللام فائدة, فدل أن فائدتهما الاستغراق.(١)

ترجمه: اوس موږ دعموم لفظونه ذکرکوو، نوموږ وایو دعام دالفاظو څخه اول: دجمع لفظونه دی هغه جمع سالمه وی که جمع مکسره، لکه دا قول چې وایی (اقتلوا المشركين، واعمروا المساجد) دلته مشرکین جمع سالمه ده او الف لام دعموم دپاره دی، مساجد جمع مکسره ده اوالف لام دعموم دپاره دی، اودداسې نوعی دعموم وجهی ډیری ښه ښکاره دی.

تردی نه وروسته هغه نومونه دی چې پرهغوی دجنس دپاره الف لام داخل سی لکه (الحيوان, والنبات, والجماد) ددغواجناسو تعمیم مراد دی، دهمدغه جملی څخه دالله تعالی دغه قول دی (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ) (الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي) دلته هم دالسارق والسارقة څخه اودالزانية اوالزانی څخه عموم مراد دی.

څه علماؤ ویلی دی چې داسې لفظونه دعموم دپاره نه بلکې دعهد دپاره دی، ابو هاشم وایی: چې دجنس دپاره دی خوداستغراق دپاره نه دی.

خو زموږ (داحنافو) په نزد دغه دعموم دپاره دی ، ځکه داسې لفظونه که یوازی ذکرسی نوپرعموم دلالت نه کوی، خوکله چې پردوی دجنس الف لام داخل سی نو بیاعموم فایده کوی، ځکه که زموږ داقول (الانسان) کې الف لام داستغراق اوجنس دپاره نسی نویوانسان به څنی اخلی اوکه دغه لفظ بیله الف لام څخه یوازی ذکرسی نوهم یوانسان څنی مراد کیدلایسی، نوبیا دالف لام فایده نسته،

١- قواطع الأدلة ص ١٦٧_ ١٦٨

نو ښکاره خبره ده چې دالف لام فايده استغراق ده اودغه ثابته ده چې الف لام تعريف فايده کوی اوتعريف نه کول کيږی مګر دجنس.

که موږ داسې وايو چې دلفظ څخه دالف لام سره بياهم يوشی اراده کيږی نوالف لام دجنس دپاره نسو, اوکله چې دغه ثابته سوله چې الف لام دجنس دپاره دی نودغه هم ثابته ده چې داستغراق دپاره هم دی، ځکه چې کله وايی:(الانسان) نوددغه څخه هرهغه فرد مراد دی چې دانسان دجنس څخه وی.

٢- اسم المفرد وإن لم يكن علي صيغة الجمع يفيد فائدة العموم في ثلاثة مواضع أحدها أن يدخل عليه الألف واللام كقوله صلي الله عليه وسلم لاتبيعوا البر بالبر... (١)

ترجمة: مفرداسم که څه هم دجمع صيغه نه وی په درو ځايونو کې عموم فايده کوی، يوځای دهغو دروځايونوڅخه دادی چې پرمفرد اسم الف ولام داخل سی نوهغه عام دی، لکه دنبی عليه السلام داقول چې وايی: غنم په غنمو مه خرڅوی.

دلته (البر) مفرد اسم دی اوالف لام پرداخل سوی دی اودده څخه جنس يا عام غنم مراد دی.

٣- قاعدة: إذادخلت لام التعريف علي معرف ولم يوجد قرينة عهد يحمل علي الاستغراق علي الصحيح, وقيل: يحمل علي الجنس.

قال في كشف الاسرار: ذهب جمهور الأصوليين وعامة مشائخنا, وعامة أهل اللغة إلي أنه موجبه أي(الام) العموم والاستغراق, لأن العلماء أجمعوا علي إجراء قوله تعالي (والسارق والسارقة فاقطعوا أيديهما) وقوله عزاسمه (الزانية والزاني) علي العموم.

وكذا أريد من قوله تعالي: (والنخل باسقات) (والخيل والبغال والحمير) (وهو الذي

١-كتاب المستسفي في علم الأصول ص ٢٠٨

جعل لكم الليل لتسكنوا فيه والنهار مبصرا) (يا أيها الناس) (والعصر إن الانسان لفي خسر) كل جنس لافرد مخصوص. وكذا يقال الأسد أقوي من الذئب ويراد به كل الجنس لا الفرد.

وقدانعقد عليه إجماع أهل اللغة أيضا, فإن بعضهم سماها لام التجنيس, وبعضهم سماها لام الاستغراق, حتي قال أهل السنة بأجمعهم إن الام في قوله تعالي: (الحمد لله) لاستغراق الجنس, فقالوا: معناه جميع المحامد لله تعالي. (١)

ترجمة: قاعدة: كله چې دتعريف لام پرمعرفه باندې داخل سی اودعهد قرينه نه وی، نوصحيح قول دادی چې پراستغراق حمل کيږی. اوچاويلی دی چې پرجنس حمل کيږی.

په کشف الاسرار نومی کتاب کې وايي: دجمهورو اصوليينو ، اوزموږ د عامو مشائخو اودعربی لغت دعلم خاوندان تول وايي چې الف لام دعموم او استغراق دپاره دی، ځکه علماؤ اجماع کړی ده چې الف لام دالله تعالی په دی قول کې چې وايي: السارق والسارقة اوداچې وايي: الزانية والزانی کې دعموم او استغراق دپاره دی.

همدارنګه دالله تعالي په دغه قولونوکې هم الف لام دجنس اواستغراق دپاره دی: ديوخاص فرد دپاره نه دی (والنخل باسقات) (والخيل والبغال والحمير) (وهو الذي جعل لكم الليل لتسكنوافيه والنهارمبصرا)(ياأيهاالناس) والعصرإن الانسان لفي خسر.

همدارنګه ويل کيږی (الأسد أقوي من الذئب) زمری ترليوه قوی دی دلته هم جنس زمری اوليوه مراد دی يوفرد مراد نه دی.

اودلغت دعلماؤ اجماع ده چې څوک وايي دجنس دپاره دی اوڅوک وايي داستغراق دپاره دی، آن تردی چې دټولو ژبودخاوندانواتفاق دی چې په (الحمدلله)

١- تسهيل الحصول علي قواعد الأصول ص ١٠٠ _ ١٠٢

کې الف لام داستغراق دجنس دپاره دی، دوی وایي: معنی داده چې ټول حمدونه دالله تعالی دپاره دی.

٤- وأما العام كل لفظ يناظم جمعا من الأساء لفظا اومعنى, ونعني الاسماء هنا المسميات, وقولنا لفظا اومعنى تفسير للانتظام, أي ينتظم جمعا من الاسماء لفظا مرة كقولنا زيدون, ومعنى كقولنامن وما, وما أشبههما.

ومعني العموم لغة: الشمول, تقول العرب: عمهم الصلاح والعدل, أي شملهم. فكل لفظ ينتظم جمعا من الاسماء سمي عاما لمعني الشمول, وذلك نحو اسم (الشيء) فإنه يعم الموجودات كلها عندنا,وصارالحاصل أن العام أكثر انتظاما للمسميات من الخاص.(١)

ترجمة:عام هرهغه لفظ دی چې داسماؤ یوه ټولی لفظا یامعنی کښی باسی. دلته داسماء څخه مراد مسمیات دی،اوداچې مونږ وایولفظا اومعنی یعنی چې په یوځل ډیر نومونه څنی اراده کیږی لفظا لکه (زیدون) یامعنی لکه (من اوما) اوداسې نور.

په عربی لغت کې دعموم معنی د شمول ده، عرب وایي: (عمهم الصلاح والعدل) یعنی دوی ته صلاح اوعدل شامل سو. نوهرلفظ چې دنومانو یوه ټولی څنی اراده کیږی هغه ته عام ویل کیږی، ځکه ټولوته شامل دی. اودغه داسې دی لکه د(الشی) نوم زمونږ په نزد دغه ټولو موجوداتو ته عام دی. حاصل داسو چې عام ترخاص ډیرو مسمیاتو یاشیانوته شامل دی.

٥- اعلم أن الكلام العام هوكلام مستغرق لجميع مايصلح له, هذا هوالمعقول من كون الكلام عاما, ألاترى أن قولنا (الرجال) مستغرق لجميع مايصلح له, لأنه استغراق الرجال دون غيرهم, إذكان لايصلح لغيرهم.

١- اصول السرخسي بالاختصار. ص ٦٧

وكذلك لفظ(من) في الاستفهام نحوقولك (من عندك) لأنها تستغرق كل عاقل عنده ولاتتعرض لغيرالعقلاء, ولا لعقلاء ليسوا عنده, لأنها لاتصلح في هذا الموضع لهم.

وأما الخطاب الشامل لأن فيه اسما قد دخل عليه ما أوجب استغراقه, فضربان:أحدهما يكون الموجب لشموله متصلابه, والاخرمنفصلاعنه, وأما المتصل به فنحو لام الجنس الداخل علي الاسم المنفرد كقولك: أهلك الناس الدينار والدرهم, أوالداخل على الجمع كقولك: (الرجال قوامون على النساء).

وأما المنفصل فضربان أحدهما الاضافة والآخرحرف النفي الداخل علي النكرة,أما الإضافة كقولك ضربت عبيدى, وأما حرف النفي الداخل علي النكرة, كقولك: ماجاء ني من أحد. (١)

ترجمة: پوه سه چې عام کلام هغه دی چې هغوتهولو ته شامل وی چې په دغه کلام کې دشامليدلو صلاحيت لری. اودغه تعريف معقول دی ترهغه چې وايی (الکلام عام) داچې مونږ وايو (الرجال) نودغه لفظ هغوتهولوته شامل دی چې په دغه لفظ کې دشامليدلو صلاحيت لری ځکه دغه رجالو ته شامل دی خو بل چاته شامل نه دی ځکه دشامليدلو صلاحيت پکښې نسته.

همدارنګه د(مَن عِندکَ) لفظ دی دسوال په صورت کې چې وايی (ستاسره څوک دی) ځکه دغه وهرهغه عاقل ته شامل دی چې دده سره وی، وغير عاقلانو اوهغوته شامل نه دی چې دده سره نه وی، ځکه دغه لفظ په دغه ځای کې هغوی ته دشمول صلاحيت نه لری.

داچې يوخطاب ته شامل ويل کيږی ځکه پرده داسې شی داخل سوی وی چې هغه داستغراق ياشمول موجب اوسبب وی دغه موجب به يادلفظ سره متصل

١- المعتمد في اصول الفقه ص ٩٦

یامنفصل وی، متصل: لکه داچې الف لام پرمفرد اسم داخل سی لکه چې وایی (أهلک الناس الدینار والدرهم) دلته الف لام دناس، دینار اودرهم پر لفظ داخل سوی دی نوځکه ددوی څخه عام یاټول خلګ، دینار اودرهم مراد دی، یاداچې الف لام دجمع پرلفظ داخل سی لکه داچې وایی (الرجال قوامون علی النساء) نودلته الف لام درجال اونساء پرلفظ داخل سوی دی نو ځکه ټول نارینه اوښځې ځنی مراد دی، ودغه ته متصل ویل کیږی.

اومنفصل پردوه ډوله دی: یواضافة اوبل دنفی حرف دی چې پرنکره داخل سی، اضافة لکه داچې وایی (ضربت عبیدی) عبید مضاف دی دمتکلم ویاته نو دغه کلام ته هم عام ویل کیږی، نودلته دمتکلم ټول مریونه ځنی مراد دی، اوبل داچې وایی (ماجاء نی من احد) دلته (ما) دنفی دپاره دی اواحد نکره دی نو دلته هم دغه کلام ته عام ویل کیږی یعنی ماته هیڅوک نه دی راغلی.

٨- الاسم المفر إذادخل علیه الألف والام, فهو للجنس. وأن الألف واللام لایدخل علي الاسم إلا للجنس. ولهذ قال الله تعالي ((قُتِلَ ٱلْإِنسَانُ مَآ أَكْفَرَهُۥ)وقال: (وَخُلِقَ ٱلْإِنسَانُ ضَعِيفاً) (وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَانُ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُوماً جَهُولاً) وقال تعالي (كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰٓ) وأراد في هذا كله الجنس. ویقال: أهلك الناس الدینار والدرهم.ویراد به الجنس. فدل علي أنه موضوع له.

ولأنه یحسن فیه الإستثناء بلفظ الجمع. کماقال تعالي: والعصر إن الانسان لفي خسر إلاالذین آمنوا وعملوا الصالحات. فاقتضا الجنس,کاسماء الجموع. ولأنه لودخل الألف والام علي اسماء الجموع کالمسلمین والمشرکین اقتضي الجنس, فکذلك إذا دخل علي الاسم المفرد. (١)

١- التبصرة فی أصول الفقة ص ١١٦

ترجمة: پراسم مفرد باندې چې الف لام داخل سی نوهغه دجنس دپاره دی.
او الف لام پراسم باندې نه داخلیږی مګردجنس دپاره. څکه الله تعالی په قرآن کريم فرمايي: (قُتِلَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَآ أَكۡفَرَهُۥ) وقال: (وَخُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفٗا) (وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا) وقال تعالي (كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ) اوپه دغو ټولوکې الف لام د جنس دپاره دی. همدارنګه په أهلك الناس الدينار والدرهم. کې الف لام دجنس دپاره دی. داسې دلالت کوی لکه الف لام چې دجنس دپاره وضع سوی وی.

اوداچې دده څخه دجمع په لفظ سره استسناء راتلای سی لکه دالله تعالی په دی قول کې چې فرمایی(بیشکه انسان په نقصان کې دی مګرنه هغه کسان چې ایمان راوړی نیکه اوښه عملونه وکړی) نوددغی استسناء دغه تقاضاده چې د انسان دلفظ الف لام دجنس دپاره دی، لکه دجمع اسمونه، اوکله چې الف لام د جمع پراسمونو داخل سی لکه (المسلمین اوالمشرکین) نودجنس تقاضا کوی نو چې پر اسم مفرد داخل سی نوهم دجنس تقاضا کوی.

دلته دانسان لفظ مفرد دی، دآمنو اوصالحات لفظونه جمع دی اودانسان دلفظ څخه استسناء راغلی ده، اوکه دانسان لفظ دجنس دپاره نه وی نودمفرد څخه دجمع استسناء صحیح نه ده.

دپورتنیو ټولوذکرسوی کتابونودتعریفونوڅخه دامعلومه سوله چې پر مفرد اسم الف لام داخل سی نوهغه لفظ عام دی، نودقرآن کريم په دغه آیت کې (إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ) هم دالخمر الف لام دجنس یا استغراق دپاره دی، نوځکه دغه ته عام ویل کیږی، اوعام یوه فرد ته نه بلکې ډیرو ته شامل وی، چې کمه اندازه یی دری دی، نوځکه د(الخمر) لفظ عام دی یوازی دانګورو عصیر(شیره) نه ده بلکې وهرنشه کونکې شی ته ویل کیږی.

دعام تخصیص په خبر واحد جائز نه دی

۲- دوهمه نکته: داچې دعام تخصیص په قیاس اوخبرواحد سره جایز نه دی دغه هم داصول فقهی علماؤ په خپلوکتابونوکې خصوصا دحنفی فقهی د اصولو په کتابونو کې په ډیر وضاحت لیکلی دی که حدیث دقرآن مقابل راسی او په دواړو باندې په یوه وخت کې عمل کول ممکن نه وی نوحدیث پریښودل کیږی اوپه قرآن باندې عمل کول کیږی په دی هکله داصول فقهی دکتابونو څه عبارتونه دلوستونکو دپاره لیکم: ۱- فالعام الذي لم يخص عنه شئ فهو بمنزلة الخاص في حق لزوم العمل به لامحالة. وعلي هذا قلنا إذا قطع يدالسارق بعد ماهلك المسروق عنده لايجب الضمان لأن القطع جزاء جميع ما إكتسبه السارق, فإن كلمة (ما في قوله تعالي: (وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءً ب(مَا) كَسَبَا) عامة يتناول جميع ماوجد من السارق, ولايترك العمل به بالقياس علي الغصب.

وكذلك قوله تعالي: وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ. يقتضي بعمومه حرمة نكاح المرضعة. وقدجاء في الخبر(مارواه مسلم عن عائشة رضي الله تعالي عنها: لاتحرم المصة ولا المصتان) فلم يكن التوفيق بينهما فيترك الخبر.(۱)

ترجمة: داسې عام چې دهغه څخه شی نه وی خاص سوی نو دعمل په لزوم کې داسې دی لکه خاص (یعنی خواه مخواه لکه څرنگه چې په خاص باندې عمل کول لازم دی، همدارنگه په داسې عام باندې هم عمل کول لازم دی) همدا وجه ده چې موږ (حنفیان)وایو کله چې دغله لاس دغلا سوی مال ترهلاک وروسته پریکړل سی نوپرغله باندې دمال ضمان نسته، ځکه دغه لاس پری کیدل دټول هغه عمل سزاده چې غله کړی ده، (غلاده اودغلاسوی مال هلاک دی) ځکه په قرآن کریم

۱- أصول الشاشي ص ۸-۹

کې د (ما) کلمه عامه ده مطلب دا چې دلاس پرې کیدل دغله دټول عمل سزاده، که زمان واجب کړل سي نو بیا د لاس پرې کیدل دټول عمل سزانه سوله. (اونه دما کلمه پرخپل عموم پاته کیږي) نو دلته دغه عام پرغصب باندې نه قیاس کیږي او نه دعموم حکم دقیاس په وجه پاته کیدا یسی.

همدارنګه رب العالمین په قرآن کریم کې فرمایي: هغه ښځې چې تاسو ته دخپل تی شیدې درکړې وي پرتاسو باندې حرامې دي. ددغه آیت دعموم تقاضا داده چې مطلق شیدې ورکول دنکاح حراموالی ثابته وي لږوي که ډیری، خودغه حکم موږ دهغه حدیث یاخبرواحد پربنانه پریږدو چې وایي: په مسلم کې دعائشې رضی الله تعالی عنها څخه په حدیث کې راغلی دی (یوه پلا یا دوه پلا دتی کشولو باندې حرمت نه ثابتیږي). نودلته دآیت اوحدیث ترمنځ توافق کول ممکن نه وو چې په دواړو عمل وسی، نوځکه دغه حدیث پاته کیږي اودآیت په عموم باندې عمل کول لازم دی.

په بل ځای کې داصول شاشي مصنف (رحمه الله نور تفصیل کوی او فرمایي: ۲- شرط العمل بخبرالواحد أن لایکون مخالفا للکتاب والسنة المشهورة وأن لایکون مخالفا للظاهر. مثل ماروی (عن بسرة بنت صفوان أن النبي صلي الله علیه وسلم قال من مس ذکره فلایصل حتي یتوضأ. الترمذي) فعرضناه علی الکتاب فخرج مخالفا لقوله تعالی: فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُطَّهِّرِينَ. فإنهم کانوا یستنجون بالأحجار ثـم یغسلون بالماء ولوکان مس الذکر حدثا لکان هذا تنجیسا لاتطهیرا.(۱)

ترجمة: په خبرواحد یاحدیث باندې دعمل کولوشرط دادی چې دالله تعالی دکتاب اودنبی علیه الصلوة والسلام دمشهوروحدیثونو اوظاهرڅخه به مخالف

۱- أصول الشاشی ص ۷۶- ۷۷

نه وی، لکه داچې په حدیث کې راغلی دی: که چا خپل ذکر مسح کړی نوهغه دی لمونځ نه کوی ترڅوچې اودس ونه کړی (یعنی دخپل ذکرپه مسح کولو سره اودس ماتیږی) کله چې موږ دغه حدیث دالله تعالی پرکتاب عرض کړی نو دغه د الله تعالی دکتاب مخالف وو، ځکه الله تعالی دقبا دخلګو تعریف بیانوی او فرمایی: (چې په دغه قبا کې داسې خلګ دی چې پاکې خوښوی) ځکه هغوی یو ځل استنجاء په لوټه وهله اوبیایی په اوبو سره پاکې کوله، نوکه خپل ذکرته لاس وروړل بی اودسی یانجاست سی نودغه دوهم ځل په ابوسره استنجاکول به پاکې نه بلکې ناپاکې کیږی.

نودغه حدیث دالله تعالی دکتاب سره مخالف دی نوځکه عمل په کول صحیح نه دی. نوثابته سوله که حدیث دقرآن سره مخالف راسی په هغه باندې عمل نه کول کیږی بلکې دالله تعالی دکتاب په عموم باندې عمل کول لازم دی.

٣- العام عندنا یوجب الحکم فیما تناوله قطعا ویقینا بمنزلة الخاص فیمایتناوله, والدلیل علي أن المذهب هوالذي حکینا أن أباحنیفة رحمه الله قال أن الخاص لایقضي عن العام بل یجوز أن ینسخ الخاص به, مثل حدیث العرنیین في بول مایؤکل لحمه نسخ وخاص بقول النبي علیه السلام: استنزهوا من البول.

ومثل قوله علیه السلام: لیس فیمادون خمسة أوسق صدقة نسخ بقوله ماسقته السماء ففیه العشر.

وهذا قولهم جمیعا وقالوا: في رب المال والمضارب إذا اختلفا في العموم والخصوص أن القول قول من یدعي العموم.(١)

ترجمة: زموږ (احنافو) په نزد دعام په ټولو هغوشیانو کې حکم واجب دی

١- أصول البزدوي کنزالاصول ص ٦٠

کوموته چې شامل وی، دلته دلیل دادی چې مذهب هغه دی چې موږ حکایت وکړی چې امام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه وویل: چې خاص عام نسی منسوخ کولای بلکه داجایز ده چې خاص په عام سره منسوخ سی، لکه دعرینینو خاص حکم دنبی علیه السلام په دغه عام حکم سره منسوخ سو چې وایی: «دبولو څخه ځانونه وساتی» یالکه داچې نبی علیه السلام وایی «ترپنځه وسقه کم کې زکوة نسته» دغه خاص حکم دنبی علیه السلام په دی عام قول سره «هغه چې داسمان په اوبو اوبه کیږی په هغه کې عشر سته» منسوخ سو.

اودغه دټولو قول دی چې وایی: که دمضاربتی اودمال دخاوند په عام او خاص کې اختلاف راسی نودهغه چاقول معتبر دی چې دعموم دعوي لری.

٤- العام: کلام مستغرق لجمیع مایصلح له. التحقیق ومذهب الجمهور وجُوب اعتقاد العموم والعمل به من غیرتوقف علي البحث عن المخصص، لأن اللفظ موضوع للعموم فیجب العمل بمقتضاه, فإن اطلع علي مخصص عمل به.(١)

ترجمة: عام کلام هغه دی چې ټولو هغو ته شامل وی چې په دغه کلام کې دشمول صلاحیت لری.

تحقیق اودجمهورو علماؤ په نزد دعام لفظ حکم دادی: چې سمدلاسه به دعموم اعتقاد پرکوی، بیله توقف چې ته دده دمخصص بحث اولټون کوی، ځکه لفظ دعموم دپاره وضع سوی دی، نودده په مقتضا عمل کول واجب دی، خو کله چې بیامخصص پیدا سي نوبیاپه هغه عمل کول کیږی.

٥- وَظهر من مَذْهَب أبي حنیفَة رَحمَه الله تَرْجیح الْعَام على الْخَاص فِي الْعَمَل بِهِ نَحْو حفر بِئْر الناضح فَإِنَّهُ رجح قَوْله عَلَیْهِ السَّلَام من حفر بِئْرا فَلهُ مِمَّا حولهَا أَرْبَعُونَ ذِرَاعا, على الْخَاص الْوَارِد فِي بِئْر الناضح أنه ستُونَ ذِرَاعا, فرجح قَوْله عَلَیْهِ السَّلَام مَا أخرجت الأَرْض

١- روضة الناظر ص ٣١٨ - ٣٤١ باختصار

فَفِيهِ الْعشْر على الْخَاص الْوَارِد بقوله عَلَيْهِ السَّلَام لَيْسَ فِي الخضراوات صَدَقَة, وَلَيْسَ فِيمَا دون خَمْسَة أوسق صَدَقَة.

وَنسخ الْخَاص بِالْعَامّ أَيْضا كَمَا فعله فِي بَوْل مَا يُؤْكَل لَحْمه, فَإِنَّهُ جعل الْخَاص من حَدِيث العرنيين فِيهِ مَنْسُوخا بِالْعَامّ وَهُوَ قَوْله عَلَيْهِ السَّلَام استنزهوا عَن الْبَوْل فَإِن عَامَّة عَذَاب الْقَبْر مِنْهُ.

وَأكْثر مَشَايِخنَا رَحِمهم الله يَقُولُونَ أَيْضا إِن الْعَام الَّذِي لم يثبت خصوصه بِدَلِيل لَا يجوز تَخْصِيصه بِخَبَر الْوَاحِد وَلَا بِالْقِيَاسِ.(۱)

ترجمة: دامام ابوحنيفة رحمه الله تعالى دمذهب څخه معلومه ده چې عام پر خاص باندې دعمل په صورت کې ترجيح لرى، لکه دچينه کونکي ځا دکيندلو په مسئله کې، څکه ده ترجيح ورکړى ده دعليه السلام وهغه عام قول ته چې فرمايي: که چا ځاوکيندى نودهغه دپاره شاوخوا څلويښت گزه حريم دى) پرهغه حديث باندې چې هغه خاص دى فرمايي: که چاداسې ځاوکښى چې هغه ډيرى چينى درلودى نودهغه دپاره شپيته گزه حريم دى).

اوهمدارنګه په بل مثال کې امام صاحب عام ته ترجيح ورکړى ده لکه په دى حديث کې چې فرمايي: هرڅه چې دمځکې څخه راووزى په هغه کې عشر دى) په دغه حديث کې د(ما) لفظ عام دى نوده ترجيح ورکړى ده پرهغه حديث چې هغه خاص دى لکه چې فرمايي: ترپنځه وسقه چې کم وى په هغه کې زکات نسته).

آن تردى چې امام صاحب په عام سره خاص منسوخ بولى لکه دعرنينو حديث چې فرمايي: (رسول الله صلى الله عليه وسلم عرنينوته داوښ دشيدو او بولو دڅښلو اجازه ورکړى وه) دغه خاص حديث په هغه عام حديث سره منسوخ

۱- اصول السرخسي ج۱ ص۱۳۳ بالاختصار

بولی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: دبولو ځخه ځانونه وساتی ځکه دقبر عام عذاب دبولو ځخه دی).

اوزموږ (احنافو) ډیرمشایخ رحمهم الله وایي: هغه عام چې تخصیص یې په دلیل سره ثابت نه وی دهغه تخصیص په خبر واحد اوقیاس سره جایز نه دی.

٦- وَالدَّلِيل لعامة الْفُقَهَاء على أَن الْعَام مُوجب الْعَمَل بِعُمُومِهِ قَوْله تَعَالَى: وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ (مَا) أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ. (١)

فَإِنَّ كَلِمَةَ (مَا) عَامَة فَيجب الْعَمَل بِجَمِيعِ مَا أنزل على مَا أوجبه صِيغَة الْكَلَام إِلاَّ مَا يظْهر نسخه بِدَلِيل، فقد ظهر الاِسْتِدْلاَل بِالْعُمُومِ عَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم وَعَن الصَّحَابَة رَضِي الله عَنْهُم على وَجه لاَ يُمكن إِنْكَاره، فَإِن النَّبِي عَلَيْهِ السَّلاَم حِين دَعَا أبي بن كَعْب رَضِي الله عَنهُ وَهُوَ فِي الصَّلاَة فَلم يجبهُ بَين لَهُ خطأه فِيمَا صنع بالاستدلال بقوله تَعَالَى {يَا أَيهَا الَّذين آمنُوا اسْتَجِيبُوا لله وَلِلرَّسُولِ} (٢)

وَالْمذهب عندنَا (الحنفية) أَن الْعَام مُوجب للْحكم فِيمَا يتَنَاوَلهُ قطعا بِمَنْزِلَة الْخَاص مُوجب للْحكم فِيمَا تنَاوله يَسْتَوِي فِي ذَلِك الْأَمر وَالنَّهْي وَالْخَبَر إِلاَّ فِيمَا لاَ يُمكن اعْتِبَار الْعُمُوم فِيهِ لانعدام مَحَله فَحِينَئِذٍ يجب التَّوَقُّف إِلَى أَن يتَبَيَّن مَا هُوَ المُرَاد بِهِ بِبَيَان ظَاهر بِمَنْزِلَة الْمُجْمل فعلى هَذَا دلّت مسَائِل عُلَمَائِنَا رَحِمهم الله.

وَقَالَ مُحَمَّد رَحمَه الله فِي الزِّيَادَات فِي الْمُضَارَبَة إِذا اخْتلف الْمضَارب وَرب المَال فِي الْعُمُوم وَالْخُصُوص فَالْقَوْل قَول من يَدعِي الْعُمُوم أَيهمَا كَانَ.(٣)

ترجمة: دعامو فقهاؤ دلیل: چې په عام باندې عمل کول واجب دی دالله تعالی دغه قول دی چې فرمایي: (تاسو دالله تعالی دهغه ښه قول اتباع کوی چې تاسوته ستاسو درب دطرفه نازل سوی دی) دلته په دغه آیت کې د(ما) کلمه عامه

١- سورة الزمر آیت ٥٥ -- ٢- سورة الانفال آیت ٢٤

٣- اصول السرخسي ج١ ص ١٣٢- ١٣٥ بالاختصار

ده، دهمدغه څخه موږته معلومه سوله چې په ټول نازل سوی (قران) باندې عمل کول واجب دی، مګرنه که نسخ په ښکاره دلیل سره معلومه سی.

بیشکه درسول الله صلی الله علیه وسلم اوداصحابانو رضوان الله تعالی علیهم څخه هم په عموم سره دلیل ویل ثابت سوی دی، چې دهغه څخه انکار کول ممکن نه دی، دمثال په ډول لکه داچې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وابی بن کعب رضی الله تعالی عنه ته آواز وکړی اوهغه پرلمانځه ولاړ وو او دده مبارک جواب ته حاضرنه سو نونبی علیه الصلوة والسلام ده ته خطاء ورپه ګوته کړله او دالله تعالی په دغه عام قول یې دلیل ورته ووایه چې فرمایي: ای مومنانو دالله او دهغه درسول دآواز جواب ورکوی) دغه عام دی، نوکه دلته توقف کول واجب وای لکه څرنګه چې دوی ګمان کاوه نودده دپاره به ددغه دلیل هیڅ معنیٰ نه وای

اوزموږ (حنفیانو) مذهب دادی چې په عام باندې حکم کول قطعی واجب دی لکه په خاص باندې په ټول هغه کې چې دغه عام ورته شامل دی، او په دغه کې امر، نهی اواخبار ټول یوبرابردی. مګرنه په هغه ځای کې چې دعموم اعتبار ممکن نه وی ځکه په هغه ځای کې محل نسته، په داسې ځای کې توقف کول واجب دی ترڅوچې داښکاره سی چې مراد اومطلب څه دی لکه دمجمل په هکله چې دبیان اووضاحت تروخته توقف کول واجب دی.

په همدی باندې زموږ دعلماؤ رحمهم الله مسائل دلالت کوی چې فرمایي: امام محمد رحمه الله په زیادات کې وایي: که دمضارب اودمال دخاوند په منځ کې دعموم اوخصوص اختلاف راغلی نودهغه چا قول معتبر دی څوک چې د عموم دعوا لری هریو چې وی.

دپورتنیو ذکرسوی څو کتابونو په شان تقریبا داصول فقهی ټولو کتابونو

دځه الفاظو په تغير دعام تعریف اوحکم همداسې بيان کړی دی. نو ځکه دخپلی مدعا د اثبات دپاره په همدغه اکتفاء کوم، نوویلای سو چې دخمر لفظ چې رب العالمین په خپل کتاب قرآن مجید کې ذکر کړی دی هغه هم مفرد اسم دی الف لام پرداخل دی لکه چې فرمايي: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ ...(۹۰)سورة المائدة

په پورتنی آیت کې دخمر لفظ اسم مفرد دی اوالف لام پرداخل سوی دی نو ځکه دغه لفظ عام دی. ټول هغه څه ځنی مراد دی چې نشه لری اوپرعقل پرده اچوی. اوددغه عام تخصيص په خبر واحد اوقياس سره جايز نه دی.

لکه داچې احناف دخمر په تعریف کې وايي: وهي النئ من ماء العنب اذا غلا واشتد وقذف بالزبد. (۱)

دغه پورتنی تعریف تقریبادحنفی فقهی په ډیروکتابونوکې ذکر سوی دی او ددغه تعریف څخه معلومیږی چې خاص دانګورو څخه جوړ سوی شرابو ته خمرويل کيږی اودغه تخصيص دوی په دغه حدیث سره کوی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ: النَّخْلَةِ، وَالْعِنَبَةِ.(۲)

اوبل په دغه اثر اوداسې نورو سره دليل وايي: عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: حُرِّمَتْ عَلَيْنَا الخَمْرُ حِينَ حُرِّمَتْ، وَمَا نَجِدُ يَعْنِي بِالْمَدِينَةِ خَمْرَ الأَعْنَابِ إِلاَّ قَلِيلاً، وَعَامَّةُ خَمْرِنَا البُسْرُ وَالتَّمْرُ» (۳)

نوځکه د دوی په جواب کې ویل کیدایسی چې دغه دقرآن کریم دعام تخصيص دی په خبرواحد اواثر سره اوداسې کول صحیح نه دی.

ځکه داصولو کتابونه داسې ليکې: وَقَدْ قَالَ عَامَّةُ مَشَايِخِنَا إِنَّ الْعَامَّ الَّذِي لَمْ يَثْبُتْ خُصُوصُهُ لاَ يَحْتَمِلُ الْخُصُوصَ بِخَبَرِ الْوَاحِدِ وَالْقِيَاسُ هَذَا هُوَ الْمَشْهُورُ وَاخْتَارَهُ الْقَاضِي الشَّهِيدُ فِي كِتَابِ الْغُرَرِ .فَثَبَتَ بِهَذِهِ الْجُمْلَةِ أَنَّ الْمَذْهَبَ عِنْدَنَا مَا قُلْنَا ,وَلِهَذَا قُلْنَا إِنَّ قَوْلَ اللَّهِ

۱- الاختيار لتعليل المختار الجزء الثالث ص ۵۰۹ -- ۲- رواه ابن ماجة كتاب الأشربة

۳- رواه البخارى كتاب الأشربة

تَعَالَى {وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ} [الأنعام: ١٢١] عَامٌّ، لَمْ يَلْحَقْهُ خُصُوصٌ لأَنَّ النَّاسِيَ فِي مَعْنَى الذَّاكِرِ لِقِيَامِ الْمِلَّةِ مَقَامَ الذِّكْرِ فَلَا يَجُوزُ تَخْصِيصُهُ بِالْقِيَاسِ وَخَبَرِ الْوَاحِدِ. (١)

كماروى عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ, أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , قَالَ: «الْمُسْلِمُ يَكْفِيهِ اسْمُهُ فَإِنْ نَسِيَ أَنْ يُسَمِّيَ حِينَ يَذْبَحُ فَلْيُسَمِّ وَلْيَذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ ثُمَّ لِيَأْكُلْ» لأن الناسي في معني الذاكر لقيام الملة مقام الذاكر.(٢)

وَكَذَلِكَ قَوْلُهُ {وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا} [آل عمران: ٩٧] لَمْ يَلْحَقْهُ الْخُصُوصُ فَلَا يَصِحُّ تَخْصِيصُهُ بِالآحَادِ وَالْقِيَاسِ.

كماروى عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ مِغْفَرٌ، فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: ابْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ، فَقَالَ: «اقْتُلُوهُ». (٣)

ترجمة: بيشكه زموږ عامو مشايخو(يعنى حنفى) ويلى دى چې هغه عام چې تخصيص يې ثابت نه وى نو دهغه تخصيص په خبرواحد اوقياس سره صحيح نه دى. همدغه قول مشهور دى اوقاضى شهيد په خپل (غرر) نومى كتاب كې مختاره كړى دى.

په همدغه جملة سره زموږ (حنفى) مذهب ثابت سو چې موږ وايو دالله تعالى دغه قول چې وايي: (تاسو دهغه څخه خوراک مه كوى پركوم چې دالله تعالى نوم نه وى ذكرسوى) عام دى، نودغه په هغه حديث ياخبر واحد سره نه خاص كيږى. چې روايت سوى دى (دابن عباس رضى الله عنهما څخه چې دى وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دمسلمان دپاره دده نوم كافى دى.

١- أصول البزدوي كنزالاصول ص ٦٠ -- ٢- سنن الدارالقطني كتاب الأشربة الصيد والزبايح
٣- صحيح مسلم باب جواز دخول مكة بغير احرام

که دذبحي په وخت کې دالله تعالی نوم څنې هیرسي، نودخوړلو په وخت کې دی دالله تعالی نوم پریادکړی اوودی خوري)،څکه هیرونکې داسې دی لکه یادونکې، څکه اسلامی ملت دذکر پرځای ولاړ دی.

همدارنګه دالله تعالی دغه قول چې فرمایي:(څوک چې بیت الله ته داخل سو نوهغه په امن دی) عام دی، نوددغه آیت تخصیص هم په هغه خبرواحد سره صحیح نه دی چې انس بن مالک روایت کوی: چې (دمکې مکرمی دفتحی په کال نبی کریم صلی الله علیه وسلم مکې ته داخل سواودده پرسر مبارک مغفروو، نو کله چې ده هغه وکښله یوسړی ورته راغلی ویل یې ای دالله تعالی رسوله ابن خطل دبیت الله په پردو پوری ځړیږی، نونبی صلی الله علیه وسلم ورته وویل: مړ یې کړی.

معنی داچې په قرآن کې الله تعالی فرمایي: هرڅوک چې حرم ته داخل سو نو هغه په امن دی، څکه په آیت کې کلمه د(مَن) ذکرسوی اودغه دعموم دپاره ده، نوددغه آیت حکم عام دی اوحال داچې خطل ته امان ورنه کړل سو اودده دوژلو امرورکړل سو، نودحنفی فقهی مطابق په دغه حدیث عمل نه کول کیږی بلکې دآیت په عموم باندې عمل کول لازم دی.

دغه هم بل مثال دی چې دقرآن حکم عام وی نودهغه تخصیص په خبرواحد سره کول صحیح نه دی، بلکې په عام باندې عمل کول لازم دی.

داچې دقرآن کریم حکم عام وی نو دهغه تخصیص په قیاس اوخبر واحد سره صحیح نه دی، ددی وجه داهم ده چې دقرآن کریم حکم قطعی دی اودخبر واحد یاحدیث حکم په اعتبار دسند ظنی دی، معنی داچې قرآن قوی اوحدیث دقرآن په مقابل ضعیف دی، اودقوی تخصیص په ضعیف سره صحیح نه دی،

ځکه تخصیص دنسخ یوقسم دی ولی په تخصیص سره دعام په څه افرادو کې حکم پاته کیږي، نوځکه داصحیح نه ده.

اودحدیثونو په قسمونوکې دمتواتر اومشهورڅخه علاوه نور ټول دخبر واحد دجملی څخه شمیرل سوی دی.

اوکوم حدیث چې دابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت سوی دی اودوی په هغه باندې دلیل وایی چې خمردغه دوو درختو دمیوو څخه جوړیږي لکه انگور اوخرما، نودهغه حدیث توجیه داسې سوي ده چې دغه حدیث پرخپل اطلاق نه دی پاته بلکه دلته غالب اوپه هغه وخت کې موجودخمر مراد دی، او یا اهم اواکبرمراد دی،یعنی هغه مراد دی چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دغه شراب غالب اوډیر استعمالیدل چې هغه ددغه دوو درختو دمیوو څخه جوړ سوی خمر دی.

ددغه حدیث دامطلب نه دی چې دنورو شیانو څخه جوړسوی نوخمر نه دی په همدی توجیه سره به ددغه حدیث اونورو ټولو حدیثونو تطبیق هم وسی اوهم به دآیت په عموم عمل وسی، اوهم به دخمر معنا دلغت ، حدیث اواصول فقهی مطابق عامه پاته سی اوپه قرآن کریم به هم عمل وسی.

دحنفی مذهب مطابق که قرآن اوحدیث ټکر راسی نوکه په دواړو عمل کول ممکن وه په دواړوبه عمل کوی، ځکه په دوو دلیلونو عمل کول اولی اوښه دی دیوه ترپریښودلو، که نه نوبیا حدیث پریښودل کیږي اوپه قرآن باندې عمل کول کیږي، ځکه قرآن ترحدیث قوی اوقطعی دی.

معطوف دمعطوف علیه
په حکم کې داخل دی

۳-دریمه نکته: دفقهی داصولو قاعدة: تریوه حکم لاندې څوشیان راسی اویو پربل باندې په واو سره عطف وی دهغوی ټولو یوحکم وی، په دی هکله دفقهی داصولو دکتابونو څوحوالی لیکم یودهغوی څخه داصول شاشی مصنف دی چې په دی باره کې داسې لیکي: ١- فصل في الحروف المعاني: الواو للجمع المطلق, قال علماؤنا (الحنفية) إذا قال لامرأته إن كلمت زيدا وعمرا فأنت طالق, فكلمت عمرا ثم زيدا طلقت, ولايشترط فيه معني الترتيب والمقارنة. (١)

ترجمة: فصل دحروفو دمعنی ګانو په بیان کې: عطف په واو سره دمطلق یوځای والی دپاره دی، زموږ (حنفی) علماؤ ویلی دی: که یوسړی خپلی ښځی ته وویل که تادزید اوعمرسره خبری وکړی نوداپرده باندې طلاقه ده، اوهغی اول ځل دعمر اوبیا دزید سره خبری وکړی نودا پرده باندې طلاقه ده، ځکه دلته د ترتیب اویوځای والی معنی شرط نه ده.

٢- دحنفی فقهی داصولویوبل کتاب کې داسې لیکي: الْوَاو فَلَاخلاف أنه للْعَطْف (وَلَكِن عندنَا هُوَ للْعَطْف) مُطلقًا فَيكون مُوجبه الِاشْتِرَاك بَين الْمَعْطُوف والمعطوف عَلَيْهِ فِي الْخَبَر من غير أَن يَقْتَضِي مُقَارنَة أَو تَرْتِيبا وَهُوَ قَول أَكثر اهل اللُّغَة.(٢)

ترجمة: عطف په واو سره: په دغه کې اختلاف نسته چې واو دعطف دپاره دی، خو(زموږ احنافو په نزد دمطلق عطف دپاره دی یعنی دترتیب مراعت ورسره نسته) نودده فایده داده چې معطوف اومعطوف علیه به په حکم یا اخبارکې سره شریکان وی، بیله دی چې ددوی په منځ کې ترتیب اویوځای والی مراعت وی،

١- اصول الشاشي ص ٥٣ --- ٢- اصول السرخسي ج ١ ص ٢٠٠

اودغه دعربی لغت دډیرو پوهانو قول دی.

٣- امام فخرالدین رازی په خپل کتاب (المحصول) کې دغه موضوع په ډیر ښه تفصیل اوپه قرآنی مثالونو سره روښانه کړی ده اوفرمایی : المسألة الأولى في أن الواو العاطفة لمطلق الجمع. قال أبوعلي الفارسي أجمع نحاة البصرة والكوفة على أنها للجمع المطلق. وذكر سيبويه في سبعة عشر موضعا من كتابه أنها للجمع المطلق.

كقوله تعالى في سورة البقرة(وادخلوا الباب سجدا وقولوا حطة)وفي الأعراف (وقولوا حطة وادخلوا الباب سجدا) والقصة واحدة، وقوله تعالى (واسجدي واركعي) مع أن شرعها تقدم الركوع، وقوله تعالى (فتحرير رقبة مؤمنة ودية مسلمة إلى أهله) وقوله تعالى (أو تقطع أيديهم وأرجلهم من خلاف) وقوله تعالى (والسارق والسارقة)وقوله (الزانية والزاني) ففي شئ من هذه المواضع لا تفيد الترتيب.مثل:السيد إذا قال لعبده اشتر اللحم والخبز لم يفهم منه الترتيب. (١)

ترجمة: اوله مسئلة داده: چې په واوسره عطف دمطلق جمعی دپاره دی. ابوعلی فارسی وایی: دبصری اوکوفی نحویانو اجماع ده چې واو دمطلق جمع دپاره دی. اوسیبویه په خپل کتاب کې (١٧) ځایه ذکر کړی دی چې واو دمطلق جمع دپاره دی.

لکه دالله تعالی دغه قول چې په سورة بقره کې فرمایی (وادخلوا الباب سجدا وقولواحطة) اوپه سورة اعراف کې فرمایی (وقولوا حطة وادخلوا الباب سجدا) حال داچې قصه یوه ده. په بل آیت کې فرمایی (واسجدي واركعي) سره ددی چې رکوع ترسجدی مخکې مشروع ده. په بل آیت کې فرمایی: (فتحرير رقبة مؤمنة ودية مسلمة إلى أهلـــه) پــه بل آیت کې فرمایی(أوتقطع أيديهم وأرجلهم من خلاف) پــه بل آیت کې

١- المحصول للرازی ج ١ ص ٣٦٦

فرمايي (والسارق والسارقة) په بل آيت کې فرمايي (الزانية والزاني) په دغو ټولو مثالونو کې يوازې جمع مراد ده، يوځای هم ترتيب مراعت نه دی.

اولکه داچې بادارخپل مريي ته وايي: (غوښې اوډوډی رانسه) نودلته هم ترتيب مراعت نه دی، هرکارچې اول وکړی صحيح دی.

۴- دحنفي فقهي داصولو يوبل کتاب کې ليکلي دي: الْوَاوُ فِي اللُّغَةِ لِلْجَمْعِ. وَذَلِكَ حَقِيقَتُهَا وَكَانَ أَبُوالْحَسَنِ رَحِمَهُ اللَّهُ يَحْكِي عَنْ مُحَمَّد أَنَّهُ قَالَ: الْوَاوُ بَابُهَا الْجَمْعُ حَتَّى تَقُومَ دَلَالَةُ الاِسْتِئْنَافِ. وقَوْله تَعَالَى {إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْك كَمَا أَوْحَيْنَا إلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ}. (١)

هَذِهِ الْوَاوُ لِلْجَمْعِ لِأَنَّهَا أَدْخَلَتْ الْمَعْطُوفَ فِي حُكْمِ الْمَعْطُوفِ عَلَيْهِ الْمَبْدُوءِ بِذِكْرِهِ. وَنَظِيرُهُ قَوْلُ الْقَائِلِ هَذِهِ طَالِقٌ وَهَذِهِ، فَدَخَلَتْ الثَّانِيَةُ فِي خَبَرِ الْأُولَى وَحُكْمِهَا لِأَجْلِ دُخُولِ الْوَاوِ عَلَيْهَا. (٢)

ترجمة: واو په عربي لغت کې دجمع دپاره دی اودغه دده حقيقي معناده، ابوالحسن رحمه الله دامام محمد رحمه الله څخه حکايت کوي: چې ده ويل: دواو خاصيت جمع ده، ترڅو چې داستناف دليل موجود نه وي. لکه دالله تعالی په دې قول کې چې فرمايي: (موږ تاته وحی کوو لکه موږ چې وحی کړې دی نوح اوتر هغه وروسته نبيانوته) نوپه دغه آيت کې واو دجمع دپاره دی، ځکه ده معطوف دهغه معطوف عليه په حکم کې داخل کړی چې شروع په سوی ده.

ددغه مثال:چې يوڅوک داسې ووايي:(دغه پرده طلاقه ده اودغه) نودوهمه داولې په اخبار اوحکم کې داخله سوله، ځکه چې واو پرداخل سوی دی.

مطلب داچې معطوف دمعطوف عليه په حکم کې داخل دی، دلته په آيت کې

١- سورة النساء: آيت ١٦٣ --- ٢- الفصول في الاصول ج ١ ص ٨٣

څلور شيان ذکرسوی دی: ١- الخمر ٢- الميسر٣- الانصاب ٤- الازلام، اوپر څلور سره باندې دجنس الف لام داخل دی، اوڅلورسره يوپربل باندې دواو په ذريعه عطف دی، دحنفی فقهاؤ په شمول ټولو فقهاؤ اوعلماؤ په نزد دمعطوف او معطوف عليه يوحکم دی يعنی ټول معطوفات دمعطوف په حکم کې دی.

نوداچې دنورو دروسره معنی عامه سوی ده يعنی جنس ميسر، جنس انصاب اوجنس ازلام رجس دی، نودلته الخمرهم عام دی جنس خمرمراددی، خاص دانګورو نشه کونکې شيره مراد نه ده، نوداغه هم خپله دحنفی فقهی داصولو اوهم دنورو فقهاؤ داصولو خلاف دی، چې دخمر څخه يوازی دانګورو شراب اخلی.

داچې څلورسره په خپلو معناګانو کې عام دی په دی هکله دتفسير المراغی مفسر ليکې: الخمر كل شراب مسكر, والميسر: لغة القمار بالقداح في كل شئ ثم استعمل في كل مقامرة, والانصاب: حجارة كانوا يذبحون قرابينهم عندها. وروي أنهم كانوا يعبدونها ويتقربون إليها, والأزلام: قدح أي قطع رقيقة من الخشب بهيئة السهام كانوا يستقسمون بها في الجاهلية لأجل التفاول أوالتشاؤم.(١)

ترجمة: خمر هرنشه کونکي شراب دی، ميسر په لغت کې په غشو سره قمار کولوته ويل کيږی، اوبيا په هرقمار کولوکې استعمال سو. انصاب: هغه ډبره ده چې دوی به دثواب دپاره دهغی سره خپلی قربانی کولی. روايت سوی دی چې دوی به دهغوی عبادت کوی اوهغوی ته بيی خپل دثواب قربانی راوستلی. ازلام: دبدفالی اونيک فالی غشی دی چې دنرمو لښتو څخه دغشو په شان جوړ سوی وی اودوی به دجاهليت په دوره کې خپل نيک فالی اوبدفالی په معلومه وله.

يوبل تفسير الوجيزکې ليکلی دی: {يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر}يعني: الأشربة التي تخمَّرحتى تشتدَّ وتُسكِر {والميسر} القمار بجميع أنواعه {والأنصاب} الأوثان {والأزلام}

١- تفسير المراغي ج ٢ ص ٢٠

قداح الاستقسام التي ذُكرت في أوّل السُّورة {رجسٌ} قذرٌ قبيحٌ {من عمل الشيطان} ممّا يسوّله الشّيطان لبني آدم {فاجتنبوه} كونوا جانباً منه.(١)

ترجمة: ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی بیشکه خمر یعنی هغه شرابونه دی چې پټ ساتل کیږی ترهغوچې سخت اونشه پیدا کړی، اوقمار دټولو قسمونو اوانواعوڅخه،اوټول بتان،اوټول دقسمت معلوموموښیان، چې دسورت په اول کې یې ذکر تیرسوی دی، دغه ټوله نجس، پلیت اوبد دی، اودغه ټول دشیطان دهغو عملونو څخه دی چې شیطان یې دآدم علیه السلام داولادی دپاره ښایسته کوی، اوبلنه ورکوی، نوتاسو ددوی څخه پرهیز وکړی اوپر طرف سی.

په تفسیر طبری کې لیکلی دی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ صَدَّقُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ، إِنَّ الْخَمْرَ الَّتِي تَشْرَبُونَهَا، وَالْمَيْسِرَ الَّذِي تَتَيَاسَرُونَهُ، وَالأَنْصَابَ الَّتِي تَذْبَحُونَ عِنْدَهَا، وَالأَزْلاَمَ الَّتِي تَسْتَقْسِمُونَ بِهَا{رِجْسٌ} يَقُولُ: إِثْمٌ وَنَتْنٌ، سَخِطَهُ اللَّهُ وَكَرِهَهُ لَكُمْ {مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ} يَقُولُ: شُرْبُكُمُ الْخَمْرَ.(٢)

ترجمة:ای هغوکسانو چې دالله تعالی اودهغه درسول تصدیق یې کړی دی: بیشکه هغه شراب چې تاسو یې چیښی، اوهغه قمار چې تاسو یې کوی، اوهغه ډبری چې تاسو دهغوی سره دثواب دپاره خپل حیوانان ذبح کوی، اوهغه چې تاسو په هغوی سره خپل فال اوقسمت معلومه وی، دغه ټوله ګناه اونجس دی، الله تعالی په ناراض کیږی اوستاسو دپاره یې بدبولی، اودغه ټوله دشیطان دکارونو څخه دی چې په تاسو یې کوی.

په تفسیر جلالین کې لیکلی دی: {يأيها الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْر} الْمُسْكِر الَّذِي يُخَامِر الْعَقْل {وَالْمَيْسِر} الْقِمَار{وَالأَنْصَاب} الأَصْنَام {وَالأَزْلاَم} قِدَاح الاسْتِقْسَام {رِجْس}

١- تفسیرالوجیزللواحدی ج١ ص ٣٣۴ --- ٢- تفسیر طبری ج٨ ص ۶۵۶

خَبِيث مُسْتَقْذَر {مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ} الَّذِي يُزَيِّنهُ {فَاجْتَنِبُوهُ} أَيْ الرِّجْس {لعلكم تفلحون}.(۱)

ترجمة: اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى، بيشکه هغه خمر چې نشه لري اوعقل خرابوى، اوقمار، اوبتان، اودقسمت غشى، خبيث، نجس اومردار دى، دغه ټول هغه عملونه دى چې شيطان ستاسو دپاره ښايسته کړى دى، نو تاسو ددغونجسو اومردارو شيانو څخه ځانوه ليرى اوګوښه وساتئ، ددى دپاره چې تاسو کامياب اونجات پيدا کړى.

په تفسير روح البيان کې ليکي: يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ هذه هى الآية الرابعة من الآيات الأربع التي نزلت فى الخمر وقد سبق التفصيل فى سورة البقرة، ويدخل فى الخمر كل مسكر وَالْمَيْسِرُ: أى القمار كله فيدخل فيه النرد والشطرنج والكعب، والبيضة وغير ذلك مما يقامرون به. وَالْأَنْصابُ: أى الأصنام المنصوبة للعبادة, واحدها نصب بفتح النون وسكون الصاد وَالْأَزْلامُ: هى سهام مكتوب على بعضها أمرني ربى وعلى بعضها نهانى ربى.(۲)

ترجمة: دآيت کريمة ترليکلو وروسته وايي: دغه آيت دهغو څلورو آيتونو څخه څلورم آيت دى چې دخمرپه باره کې نازل سوى دى،اوددغه تفصيل دسورة بقرة په تفسيرکې تير سوى دى، دخمر په لفظ کې نشه کونکې شيان داخل دى، د ميسر په لفظ کې ټول قمار داخل دى، آن تردى چې شطرنج اودهګيو جنګيدل او ټول هغه څه چې قمار په کول کيږي، دانصاب په لفظ کې ټول هغه بتان داخل دى چې دوى دعبادت دپاره درولى وه، اودازلام په لفظ کې ټول هغه غشى شامل دى چې پرهغوى پرځينو باندې ليکلى وه ماته خپل رب امر کړى دى، اوپرځينو باندې ليکلى وه زه خپل رب منع کړى يم.

دپورته ذکرسوى ټولو تفسيرونو په حواله دا ثابته سوله چې بيله اختلافه

۱- تفسير جلالين ج ۱ ص ١٥٤ --- ۲- تفسير روح البيان ج ۲ ص ۴۳۵

يعنى بيله مذهبى اختلافه دڅلورسره تړلو شيانومعنى عامه ده، نوددوى دجملى څخه يوازى دخمر معنى ولى خاصه ده؟ نودخمر معنى هم خاصه نه ده بلکې عامه ده، ټول دنشى شيان ځنى مراد دى، اوډټولو حرمت په داغه آيت ثابت دى، دلته هيڅ قياس نسته چې دنورومنشياتوحرمت په ثابت سى، اونه بل داسې دليل سته چې په هغه باندې دنورو منشياتو کراهيت، اباحت يا بل حکم په ثابت سى.

اشتراک په علت کې
اشتراک په حکم کې واجبوى

۴- څلورمه نکته: دحنفى فقهى داصولو قانون دى که يوځاى حکم دعلت پر بنا سوى وى نوهغه علت چې په هرشى کې پيداسې دهغه هم هغه حکم دى، دغه قانون دحنفى فقهى داصولويوکتاب داسې ليکلى دى: القياس الشرعي: هو ترتب الحكم في غيرالمنصوص عليه علي معني هوعلة لذلك الحكم في المنصوص عليه, ثم إنما يعرف كون المعني علة بالكتاب والسنة والإجماع.

فمثال العلة المعلومة بالكتاب كثرة الطواف, فإنها جعلت علة لسقوط الحرج في الاستذان في قوله تعالي: لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلاَ عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ.(۱)

ثم اسقط رسول الله عليه الصلوة والسلام حرج نجاسة سؤر الهرة بحكم هذه العلة فقال عليه السلام: الهرة ليست بنجسة فإنها من الطوافين عليكم. فقاس اصحابنا (الحنفية) جميع مايسكن في البيوت كالفارة والحية علي الهرة بعلة الطواف.

لأن الأصل مع الفرع لما إتحد في العلة وجب اتحادهما في الحكم وإن افترقا في غير هذه العلة. (۲)

۱- سورة النور آيت ۵۸ ۲- اصول الشاشي ص ۸۸- ۹۱

ترجمة: شرعی قیاس دادی: چې په غیرمنصوص علیه کې حکم پریوه داسې معنی مرتب سی چې هغه معنی ددغه حکم دپاره په منصوص علیه کې علت وی، داچې دغه معنی علت ده، په کتاب الله، سنة رسول الله اوپه اجماع سره معلومیږی.

دهغه مثال چې علت یې په کتاب الله یعنی قرآن معلوم وی، ډیر طواف یا ګرځیدل دی، بیشکه دغه ډیر ګرځیدل دبار بار اذن اخستلو دحرج دسقوط دپاره علت جوړ سوی دی، ځکه الله تعالی فرمایی: نسته پرتاسی اونه پردوی باندې هیڅ ګناه، تیرله دغو دریو وقتونو چې هغه دخوب وختونه دی لکه د سهار تر لمانځه دمخه ، دغرمی دخوب په وخت کې اودماخوستن دلمانځه وروسته (بیله اذنه ننوتلو ددوی پرتاسی) دوی ګرځیدونکې دی پرتاسی (په تللو اوننوتلو کې دخدمت لپاره) ځینی ستاسی پر ځینو نورو (ګرځیدونکې یې یو پر بل).

اورسول الله صلی الله علیه وسلم دهمدغه علت پربنا دپشو دپس خوردی دپاکوالی حکم ورکړی اوعلیه الصلوة والسلام وفرمایل: پشو نجسه نه ده ځکه دغه پرتاسو طواف کونکې (تلونکې راتلونکې) ده. دهمدغه علت پر بنا زموږ (حنفی) یارانو ټول هغه څه چې په کورونو کې اوسیږی لکه موږک اومار پر پشو قیاس کړل.

ځکه اصل چې دفرعی سره په علت کې سره یوسی نوهغه په حکم کې هم سره یودی، که څه هم بیله دغه علته سره جداوی.

تشریح: دسورة نور په (۲۷- ۲۸) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَا ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ. آیتونو کې رب العالمین مومنان منع کړی دی، چې تاسو دبل کورونو ته بیله اجازی مه

ننوزي، خوپه ﴿۵۸﴾ آيت کې دتکليف دليرى کولو دپاره وهغو کسانوته اجازه ورکوى چې ډير تلل راتلل کوى اوفرمايي: لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلاَ عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ.

نو دلته دغه طواف ياډير تلل راتلل داجازى ورکولو علت سو، دهمدغه علت پر بنا داجازى حکم ورکول سو. دهمدغه علت پربنا نبى کريم صلى الله عليه وسلم دپيشو پس خورده پاکه وبلل، ځکه په کورونو کې تلونکې راتلونکې حيوان دى، حال داچې دپيشو غوښى مردارى دى دکوم شى چې غوښى مردارى وى دهغه پس خورده هم مرداره وى، دهمدغه علت پربنا زموږ فقهاؤ په کورونو کې داوسيدونکې حيوانانو لکه مار اوموږک پس خوده پاکه بللى ده.

داچې نبى کريم صلى الله عليه وسلم په کوم حديث کې دپشو پس خورده پاکه بللى ده هغه په دى ډول دى: عَنْ دَاوُدَ بْنِ صَالِحِ بْنِ دِينَارٍ التَّمَّارِ، عَنْ أُمِّهِ، أَنَّ مَوْلاَتَهَا أَرْسَلَتْهَا بِهَرِيسَةٍ إِلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، فَوَجَدَتْهَا تُصَلِّي، فَأَشَارَتْ إِلَيَّ أَنْ ضَعِيهَا، فَجَاءَتْ هِرَّةٌ، فَأَكَلَتْ مِنْهَا، فَلَمَّا انْصَرَفَتْ أَكَلَتْ مِنْ حَيْثُ أَكَلَتِ الْهِرَّةُ، فَقَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ إِنَّمَا هِيَ مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ»، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِفَضْلِهَا.(۱)

ترجمة: داود دصالح زوى اوهغه ددينار ﴿خرما والا﴾ زوى دخپلى مور څخه روايت کوى، ماته زمابادارى هريسه راکړه چې زه يې عايشى صديقى رضى الله تعالى عنها ته ورکړم، چې ورغلم هغى لمونځ کوى، ماته يې اشاره وکړه چې کښيږدم، نوپشوراغله اودهغه څخه يې خوړل وکړه، کله چې د لمانځه څخه فارغه سوله نو دهغه ځايه يې خوړل وکړى دکومه ځايه چې پيشو خوړل کړى وه، اوبيا

۱- رواه ابوداود کتاب الطهارة

بیادی وویل: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه پیشو نجسه نه ده، بلکه داپرتاسو باندې دطواف کونکو څخه ده، او ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدی چې دپیشو په پاته سوی ابو یی اودس کوی.

دلته هم دخمر دحرمت علت نشه ده اوحکم پرعلت بنادی، اودغه علت په قرآن سره معلوم دی، نوځکه دهمدغه قاعدی مطابق فخرالدین امام رازی په خپل تفسیرکبیرکې داسې فرمایي: مِنَ الْحُجَّةِ أَنَّ اللَّهَ عَلَّلَ تَحْرِيمَ الْخَمْرِ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ [الْمَائِدَةِ: ۹۱] وَلَا شَكَّ أَنَّ هَذِهِ الْأَفْعَالَ مُعَلَّلَةٌ بِالسُّكْرِ، وَهَذَا التَّعْلِيلُ يَقِينِيٌّ، فَعَلَى هَذَا تَكُونُ هَذِهِ الْآيَةُ نَصًّا فِي أَنَّ حُرْمَةَ الْخَمْرِ مُعَلَّلَةٌ بِكَوْنِهَا مُسْكِرَةً، فَأَمَّا أَنْ يَجِبَ الْقَطْعُ بِأَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ كَذَلِكَ فَلَا بُدَّ مِنْ ثُبُوتِ هَذَا الْحُكْمِ فِي كُلِّ مُسْكِرٍ، وَكُلُّ مَنْ أَنْصَفَ وَتَرَكَ الْعِنَادَ، عَلِمَ أَنَّ هَذِهِ الْوُجُوهَ ظَاهِرَةٌ جَلِيَّةٌ فِي إِثْبَاتِ هَذَا الْمَطْلُوبِ.(۱)

ترجمة: بل دلیل دادی: چې الله تعالی دخمر دحرمت علت داسې بیان کړی دی چې (بیشکه شیطان اراده لری چې دخمر اوقمار په وجه ستاسو په مینځونو کې بغض، عداوت اودښمنی واچوی اوتاسو دالله تعالی دذکر او لمانځه څخه منع کړی) اوپه دی کې شک نسته چې د دغو ټولو علت نشه دی، اوهمدغه علت یقینی دی، په همدی بنا دغه آیت صریح دلیل دی چې دخمر دحرمت علت نشه ده، اوهرڅوک چې انصاف وکړی اوعناد پریږدی نودابه ورته معلومه سی چې بیشکه دغه ښکاره دلائل ددغه مطلب په اثبات کې کافی دی.

دپورتنیو څلورو اصولی دلائلو څخه هم ثابته سوله چې دخمر دحرمت علت

۱- التفسیر الکبیر الفخر الرازي ج ٦ ص ٤٦

نشه ده نوځکه دهرنشه کونکې شی حکم دخمر دی. که څه هم دخمر معنی دحنفی مذهب مطابق وسی، ځکه دحنفی مذهب داصولو مطابق حکم پرعلت بنادی، اود غه علت هم دالله تعالی په کتاب قرآن سره معلوم دی، ځکه صحابه کرامو درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دنشی په هکله فتواغوښتی وه (چې دغه عقل خرابوی) اوالله تعالی هم دوی ته ددوی دسؤال مطابق حکم راولیږی هغه داچې {إنما الخمروالميسر......} اوکله چې دغه آیت نازل سونوعمر فاروق رضی الله تعالی عنه وویل: (موږ نور بس کړله یارب) معلومه سوه چې دخمر دحرمت علت نشه ده.

زمادتحقیق په اندازه نوربه په دی مسئله کې ابهام پاته نه وی چې دخمر لفظ اومعنی دواړه عام دی، وهرنشه کونکې شی ته ویل کیږی، اوټول هغه حکمونه چې دخمر په باره کې په کتابونو کې لیکلی سوی دی هغه ټول دهرنشه کونکې دپاره ثابت دی،اودغه حرمت نورپه نص باندې ثابت دی داسې نه دی لکه څه علماء چې گمان کوی چې دغه حرمت په قیاس ثابت دی، ځکه دخمر دلفظ څخه خپله نشه کونکې شی مراد دی، یوازی دانگورو تازه اوبه مراد نه دی.

دخمر معنی دجمهوروفقهاؤ دنظره

داحنافونه بغیردنورو ټولومجتهدینوفقهاؤ اوعلماؤپه نزددخمرلفظ اومعنی دواړه عام دی، وهر نشه کونکې شی ته خمر ویل کیږی. دانگورو څخه جوړ وی او که دبل شی څخه، دوی دنشه لرونکو شیانو ترمنځ فرق نه کوی، ددی دپاره دڅه کتابونو په حواله ددوی قولونه دلوستونکودمطالعی دپاره لیکم لکه چې وایی:

۱- لم يفرق جمهور الفقهاء بين شراب الخمر وغيرها، فقالواكل شراب أسكر كثيره وقليله حرام وهو خمر، حكمه حكم عصير العنب في تحريمه.(۱)

۱- فقه إسلامى وأدلته ج۶ ص ۱۴۹

ترجمة: ډيرفقهاء دانګورواودنورو شرابو ترمنځ فرق نه کوي، دوی وايي: هر شراب چې نشه لری دهغه لږ اوډيرحرام دی، اوداغه خمردی، دهغوی حکم په حراموالی کې دانګورو دشرابو په شان دی.

٢- المالكية,والشافعية,والحنابلة قالوا:كل شراب يسكركثيره فشرب قليله حرام, ويسمى خمرا, وفى شربه حد, سواء أكان من عنب أوزبيب, أوحنطة, أوشعير, أوتين, أوأرز, أوعسل, أولبن, ونحوذلك, نيئا كان أومطبوخا, لأن اسم الخمر لغة ماخامر العقل. الأدلة

١- وروى أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: {كل مسكر خمر} فالخمر حقيقة لغوية فى عصير العنب المشتد, وحقيقة شرعية في غيره مما يسكر من الأشربة.

٢- وروى فى الصحيحين من حديث عمر رضى الله عنه أنه قال: نزل تحريم الخمر وهى من خمسة العنب، والتمر، والعسل، والحنطة والشعير، والخمر ما خامر العقل.متق عليه

ووجه الاستدلال به من ثلاثة أوجه: أحدها: أن سيدنا عمر رضى الله تعالي عنه أخبر أن الخمر حرمت يوم حرمت, وهي تتخذ من الحنطة والشعير, كما أنها تتخذ من العنب والتمر, وهذا علي أنهم يسمونها كلها خمرا.

وثانيها: أنه قال: حرمت الخمر يوم حرمت, وهي تتخذ من هذه الأشياء الخمسة, وهذا كالتصريح بأن تحريم الخمر يتناول تحريم هذه الأنواع الخمسة.

وثالثها: أن عمر رضى الله تعال عنه ألحق بهاكل ماخامر العقل من شراب, ولاشك أن عمر رضى الله تعالى عنه كان عالما باللغة, وروايته أن الخمر اسم لكل ماخامر العقل بتغيره.

٣- روى أبوداود أيضا عن نافع عن ابن عمر قال قال : رسول الله صلى الله عليه وسلم كل مسكر خمر وكل مسكر حرام.

٤- بماروي أبوداود عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ:قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:إِنَّ مِنَ الحِنْطَةِ خَمْرًا،وَمِنَ الشَّعِيرِخَمْرًا، وَمِنَ التَّمْرِخَمْرًا، وَمِنَ الزَّبِيبِ خَمْرًا، وَمِنَ العَسَلِ خَمْرًا.

والاستدلال به من وجهين: أحدها: أن هذالحديث صريح في أن هذه الأشياء داخلة تحت اسم الخمر, فتكون داخلة تحت الآية الدالة علي تحريم الخمر.

ثانيهما: أنه ليس مقصود الشارع تعليم اللغات, فوجب أن يكون مراده من ذالك بيان أن الحكم الثابت في الخمر ثابت فيها.

٥- روى أبوداود عن عائشة رضى الله تعالي عنها أنها قالت: سئل رسول الله صلي الله عليه وسلم عن البتع فقال {كل شراب اسكر فهو حرام. (١)

ترجمة: مالكي، شافعي اوحنبلي فقهاء «رحمهم الله» وايي: هر شراب چې ډير يي نشه لرى دهغه لږ هم حرام دى، اوداغه خمر دى، اود هغوى پر چيښلو حد سته، دافرق نلرى دانګورو څخه وى که دمميزو، دغنمو ، داوربشو، دانځرو، دوريجو، دعسلو دشيدو، اويااددوى پشان دنورو شيانو څخه وى، تازه وى که پاخه وى، ځکه دخمر نوم په عربى لغت کې وهغه شى ته ويل کيږى چې په څه تغير سره پرعقل پرده اچوى اوګډوډ کوى.

ددوى دلائل: اول دليل: روايت سوى دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «هرنشه کونکې شى خمر دى» نودخمر نوم په سخت سوى انګورو کې دلغت حقيقت دى، خوپه نوروهغه شرابو کې چې نشه لرى شرعى حقيقت دى.

ددوى دوهم دليل: په صحيح مسلم اوبخارى کې حديث روايت سوى دى چې عمر رضى الله تعالى عنه ويل: دخمر حرمت نازل سوخوخمر دپنځه شيانو څخه جوړيږى انګور، خرما، عسل ، غنم او اربشى، اوخمرهرهغه شى دى چې پرعقل پرده اچوى.

ددغه حديث څخه درو وجهودليل ويل کيږى: اوله وجه دا چې: عمر رضى

١- الفقه على المذاهب الاربعة ج ٥ ص ١٩- ٢٠

الله تعالی عنه وویل چې خمرحرام سول دوی دغنو او اوربشو څخه جوړیدل لکه څرنگه چې دانگورو اوخرما څخه جوړیدل، اوبل داچې دوی ټولو ته خمر ویل.

دوهمه وجه داچې: ده وویل: خمر چې په کومه ورځ حرام سول هغه ددغو پنځو شیانو څخه جوړی دل، نو دا تصریح ده په دی سره چې دخمر نوم ودغو ټولوته شامل دی.

دریمه وجه داچې: عمر رضی الله تعالی عنه په آخرکې تعمیم وکړی چې خمر هغه شراب دی چې پرعقل پرده اچوی،اوپه دی کې شک نسته چې عمر رضی الله تعالی عنه دعربی ژبی اوروایت عالم وو.

ددوی دریم دلیل: ابو داود دنافع اوهغه دابن عمر رضی الله تعالی عنه روایت کړی دی، چې هغه وایی رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ټول نشه کونکې خمر دی اوهرنشه کونکې شی حرام دی.

ددوی څلورم دلیل: نعمان بن بشیر روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: بیشکه دغنمو څخه خمر دی، اوداوربشو څخه خمر دی، اودخرما څخه خمر دی، اودممیزو څخه خمر دی، اودعسلو څخه خمر دی.

ددغه دلیل دوی وجهی دی: اوله وجه داده: دغه حدیث صریح دی چې دغه شیان دخمر په نوم کې داخل دی، نودغه دهغه آیت ترحکم لاندی دی چې دخمر پرحرمت دلالت کوی.

دوهمه وجه داچې: دشارع مقصد دلغاتو تعلیم نه دی نو واجب دی چې دشارع مقصد په دغه سره دحکم بیان دی، هغه حکم چې په خمر کې ثابت دی هغه په دغو شیانو کې هم ثابت دی.

ددوی پنځم دلیل: ابوداود روایت کړی: چې عائشة رضی الله تعالی عنها

وايي: دسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دبتع په باره کې پوښتنه وسوله، نوده ورته وفرمایل: هرشراب چې نشه لری هغه حرام دی.

ملاحظه: ددوی نور دلائل هم سته خوما داختصار پربنا هغه پرېښودل.

٢- والمسكر علي وجهين: مجمع علي تحريمه, ومختلف فيه: فالأول: عصير العنب, والثاني: مطبوخه، وعصير غيره ومطبوخه.

فقول مالك وجميع أصحابه,والشافعي وأصحابه أن جميع ذلك حرام.وهوقول الصحابة رضي الله تعالي عنهم, والصدرالأول.

قال القاضي أبوالحسن ابن القصار: هوقول عمر, علي, وابن عباس, وسعد بن أبي وقاص, وابن عمر, وأبي هريرة وعائشة. وهذا هوالصحيح من القول؛ لورود النص, ولوقوع اسم الخمر عليه, ولأنه إجماع الصحابة, وللعلة الجامعة بينه وبين الخمر.

والمجمع عليه بالنص قول النبي صلي الله عليه وسلم: {الخمر من هاتين الشجرتين: النخلة والعنبة} وقال {كل مسكر حرام} وسئل عن المزر يعمل من الشعير والبتع يعمل من العسل: فقال {كل مسكر حرام}.

وقدكان السبب في جوابه صلي الله عليه وسلم السؤال عن الأجناس التي تسكر, لاعن القدر من القلة والكثرة.(١)

ترجمة: نشه کونکې پردوه ډوله دی: یوهغه چې دهغه پرحرمت اجماع ده، بل هغه چې دهغه په حرمت کې اختلاف دی، اول دانګورو شیره ده، دوهم بیله انګورو اومه اوپخه شیره ده.

نودامام مالک اودهغه دټولو ملګرو ،امام شافعی اودهغه دټولو ملګرو په نزد دغه ټول حرام دی. داغه داصحابو کرامو اوداولی صدی دعلماؤ قول دی.

١- التبصرة (فقه المالكی) ج ۴ ص ١۶١٣- ١۶١۴

قاضی ابوالحسن دقصار زوی وایی: دغه دعمر، علی، ابن عباس، سعد بن ابی وقاص، ابن عمر، ابی هریرة اوعائشة رضی الله تعالی عنهم قول هم دی.

اودغه صحیح قول دی، ځکه ددغه په باره کې نص راغلی دی، بل دا چې پرده باندې دخمر دنوم اطلاق کول کیږي، بل داچې دصحابه کرامو باندې اجماع ده، بل داچې ددوی اوخمر تر منځ یوځای کونکې علت موجود دی. چې نشه ده

هغه نص چې دوی سره یوځای کوی: دنبی صلی الله علیه وسلم دغه قول دی: چې خمر ددغو دوو ونو څخه دی: (خرما اوانګور) اوعلیه الصلوة والسلام وایی: (هرنشه کونکې شی حرام دی) اودعلیه السلام څخه د(مزر) چې داربشو څخه جوړیږي اود(بتع) چې دعسلو څخه جوړیږي پوښتنه وسوله نوده ورته وویل: (هرنشه کونکې شی حرام دی.

اودلته دسوال کونکو مقصد دنشه کونکو اجناسو په باره کې پوښتنه وه، دلږ او ډیرو داندازې په باره کې نه وو.

۳- الأشربة: هي نوعان {مسكرة وغيره} فالمسكرمن خمر وغيره حرام تناوله وإن قل, أوشرب لتداو أوالعطش. لأية {إنما الخمر والميسر} ولخبر الصحيحين {كل شراب أسكر فهو حرام. (۱)

ترجمة: شرابونه پردوه ډوله دی: نشه لرونکې اوبیله نشه لرونکې، نشه لرونکې دانګورو اوبیله دوی څخه ټول حرام دی که څه هم لږوی، اوکه څه هم ددواء اوتندی دپاره وی.

دوی اول دخمر په آیت { إنما الخمر والميسر} دلیل وایی، دوهم دبخاری او مسلم په حدیث دلیل وایی، چې په هغه کې راغلی دی: (هرشراب چې نشه لری هغه حرام دی).

۱- الروض النضير الجامع بين تحفة الطلاب والتيسير في فقه مذهب الشافعي ص ٦٢٥

٤- الأشربة هي مسكر وغيره: فالمسكر: حرام وإن قل أوشرب لتداو أوعطش. (١)

ترجمة: شربتونه پردوه ډوله دی: نشه لرونکې اوبیله نشی، نشه لرونکې ټول حرام دی که څه هم لږوی، اوکه څه هم ددواء اوتندی دپاره وچیښی.

٥- وجميع ماخلق الله تعالي من المطعومات حلال, إلا مانستثنيه عشرة أصول: الأول: مانص الكتاب علي تحريمه كالخنزير والخمر, أوالسنة كالحمر الأهلية. الثاني مافي معناهما كالنبيذ في معني الخمر. (٢)

ترجمة: دخوړلو ټول هغه څه چې الله تعالی پیداکړی دی حلال دی، مګرنه هغه چې دلسو اصولو په وجه استثنا کیږی. اول هغه چې دقرآن په دلیل حرام وی لکه خنزیر اوخمر، اوهغه چې په حدیث حرام وی لکه کورنی خره، دوهم هغه چې ددوی په معنی وی لکه نبیذ چې دخمر په معنی دی.

٦-كل شراب أسكر كثيره,فقليله حرام,لقوله تعالي:{إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنْصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} وكل مسكر خمر, فيدخل في عموم الآية.

وقدروي عبدالله بن عمر أن النبي صلي الله عليه وسلم قال: كل مسكر خمر, وكل خمر حرام.(٣)

وقال عمر رضي الله تعالي عنه نزل تحريم الخمر وهی من العنب ، والتمر ، والعسل ، والحنطة والشعير، والخمر ماخامر العقل. متفق عليه.

وروت عائشة: أن رسول الله صلي الله عليه وسلم قال: ماأسكر الفرق منه, فملء الكف منه حرام.(٤) ولأنه شراب يسكر كثيره, فحرم قليله, كعصير العنب. (٥)

١- تحرير تنقيح اللباب في فقه مذهب الشافعي ص ١٦٤ - ٢- الوجيزفي فقه مذهب الامام الشافعي ص ٤٦٩

٣- رواه مسلم وابوداود. ٤- رواه ابوداود

٥- الكافی فی فقه الامام احمد بن حنبل ج ٤ ص ١٠٤

ترجمة: هرشراب چې ډير يې نشه لري نو دهغه لږ هم حرام دی، دالله تعالى دقول پربنا(بیشکه خمر، قمار، بتان اوغشی چې دفال لپاره وشتل کیږی داڅلور سره شیان پلیت اودشیطان دکارونو څخه دی نوتاسیددی څخه ځانونه وساتئ کیدایسی چې په دی ځان ساتلو سره نجات پیدا کړی) اوهرنشه کونکې خمر دی، او دآیت په عموم کې ټول نشه لرونکې داخل دی. یعنی ټول په آیت حرام دی.

اوعبدالله بن عمر رضی الله تعالى عنهما څخه روایت دی: چې (نبی علیه الصلاة والسلام وفرمایل: هرنشه لرونکې خمر دی اوهرخمر حرام دی).

اوعمر رضی الله عنه فرمایل: دخمر حرمت نازل سو اوهغه دانګورو، خرما، عسلو، غنمو، اربشو څخه دی، اوخمر هغه شی دی چې عقل خرابوی.

اوعائشی رضی الله تعالى عنها روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه چې یوفرق (۱۶ رطل) یې نشه لری دهغه یوه لپه هم حرام دی.

اوهغه شراب چې ډیریې نشه کونکې وی دهغه لږهم حرام دی لکه دانګورو

ددغه حدیث تشریح دهند یوعالم دترمذی په شرح تحفة الاحوذی کې داسي کوي اوفرمایي: مأسكر الفرَق بفتح الراء وسكونها والفتح أشهر, وهومكيال يسع ستة عشر رطلا, وقيل هوبفتح الراء كذلك, فإذا اسكنت فهومائة وعشرون رطلا, منه أی من كل مسكر, قال الطيبي: وملء الكف عبارتان عن التكثير والتقليل لا التحديد.(۱)

ترجمة: هغه چې (فرق) یې نشه لری، فرَق دراپه زور اوپه سکون سره، خو زور یې شهرت لری، دایوه پیمانه ده چې (۱۶) رطل ځایه وی، چاویلی دی چې دغه اندازه چې درا په زور سره وی، که دراپه سکون سروی نوبیا (۱۲۰) رطل دی، نودهغه غړف یالپه هم حرام دی، یعنی دهرنشه لرونکې څخه.

طیبی وایی: دغه دفرق اوملء الکف دډیر والی اولږ والی څخه عبارت دی.

۱- تحفة الأحوى شرح جامع الترمدى ص ۱۵۹۷

٧- الْفَصْلُ الأَوَّلُ: أَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، قَلِيلُهُ وَكَثِيرُهُ، وَهُوَ خَمْرٌ، حُكْمُهُ حُكْمُ عَصِيرِ الْعِنَبِ فِي تَحْرِيمِهِ، وَوُجُوبِ الْحَدِّ عَلَى شَارِبِهِ.

وَرُوِيَ تَحْرِيمُ ذَلِكَ عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَأَنَسٍ، وَعَائِشَةَ.(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ). وَبِهِ قَالَ عَطَاءٌ، وَطَاوُسٌ، وَمُجَاهِدٌ، وَالْقَاسِمُ، وَقَتَادَةُ، وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، وَمَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَبُو ثَوْرٍ، وَأَبُو عُبَيْدٍ، وَإِسْحَاقُ.

الْفَصْلُ الثَّانِي: أَنَّهُ يَجِبُ الْحَدُّ عَلَى مَنْ شَرِبَ قَلِيلاً مِنْ الْمُسْكِرِ أَوْ كَثِيرًا. وَلاَ نَعْلَمُ بَيْنَهُمْ خِلاَفًا فِي ذَلِكَ فِي عَصِيرِ الْعِنَبِ غَيْرِ الْمَطْبُوخِ، وَاخْتَلَفُوا فِي سَائِرِهَا، فَذَهَبَ إمَامُنَا إلَى التَّسْوِيَةِ بَيْنَ عَصِيرِ الْعِنَبِ وَكُلِّ مُسْكِرٍ. وَهُوَ قَوْلُ الْحَسَنِ، وَعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، وَقَتَادَةَ، وَالأَوْزَاعِيِّ، وَمَالِكٍ، وَالشَّافِعِيِّ. (١)

ترجمه: اول فصل: بيشكه ټول نشه لرونكې شيان حرام دي لږ وي كه ډير، او داغه خمر دی، ددوی حكم په حرمت كې داسې دی لكه دانګورو دشرابو، او پرچښونكې باندې حد واجب دی.

اوددغو حرمت ثابت دی: دعمر، علی، ابن مسعود، ابن عمر، ابی هريرة، سعدبن ابی وقاص، ابی بن كعب، انس اوعائشة.(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ). اوهمداغه قول دعطاء، طاوس، مجاهد، قاسم، قتادة، عمربن عبد العزيز، مالک ، شافعی، ابو ثور، ابو عبيد، اواسحاق. رحمة الله تعالى عليهم

دوهم فصل: بيشكه پرهرهغه چا حد واجب دی چې دنشه كونكې شی څخه لږ وچيښی اوكه ډير، موږ ته په دغه كې دانګورو دخامو اوبو دشيری په باره كې هيڅ اختلاف معلوم نه دی ددی نه علاوه په نورو كې اختلاف دی، خوزموږ دامام

١- المغني لابن قدامة (فقه حنبلي) ج ٩ ص ١٥٩-- ١٦٠

احمد بن حنبل په نزد دانګورو اونورو نشه کونکو ترمنځ فرق نسته ټول یو برابر دی، او دغه دحسن، عمربن عبدالعزیز، قتاده، اوزاعی، مالک اوشافعی (رحمة الله تعالی علیهم) قول دی.

په دغه عنوان کې موهم ولوستل چې جمهور فقهاء اوعلماء، اصحاب کرام او تابعین دټولو یونظر دی چې هرشی نشه لري اویادډیرو په استعمال غیر عادی انسان نشه کیږي، اوعقل یې ګډوډ کیږي، یعنی صحیح فهم اوادراک نسی کولای نوهغه ټول دخمر په شان حرام دی، هغه حکمونه چې حنفی عالمان دانګورو دشرابو دپاره تصورکوی هغوی ددغو ټولو دپاره ثابت دی.

دخمرمعنی دحنفی فقهاؤدنظره

په پورته عنوانونو کې مو ولوستل چې دخمر دلفظ دوی معناوی سوی دی، یوه خاصه دانګورونشه کونکې شیره ده اوبله عامه چې هر نشه کونکې شی ته خمر ویل کیږي، نوپه همدی بنیاد د شریعت اوفقهی دعلماؤڅخه هم په دی هکله دوه قولونه نقل سوی دی، اول قول داچې خمر وهرنشه کونکې شی ته ویل کیږي دهرشی څخه چې وی، دانګورو وی او که دبل شی، پوخ وی که نه، دغه قول دجمهورو علماؤ اوفقهاؤ څخه رانقل سوی دی، چې مخکې په پوره تفصیل سره بیان اوولیکل سو.

دوهم قول داچې خمر دانګورو هغه اوبه دی چې نشه کونکې کې وی اوپرسر یی ځګ راسی، دغه قول دامام ابوحنیفة اودده دملګرو (رحمة الله علیهم) څخه نقل سوی دی.

تقریبادحنفی مذهب دفقهاؤ په کتابونوکې دخمردغه خاصه معنی په نظر کې نیول سوی ده او دڅه الفاظو په تغیر دخمر تعریف داسې کړی دی: ۱- وهي النئ من

ماء العنب إذا غلى واشتد (وقذف بالزبد) وعندهما لايشترط القذف بالزبد ،لأنه يسمى خمرا بدونه، ولأن المؤثر فى فساد العقل وتغطيته هو الإشتداد.(١)

ترجمة: خمردانګورو هغه تازه اوبه دی چې جوش سی، سختی سی اوځګ وکړی، دغه تعریف دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه په نزد دی، خودده یاران لکه امام محمد اوامام ابویوسف رحمة الله تعالی علیهما په نزد دقذف بالزبد شرط نسته ځکه بیله دغه شرطه هم خمر ورته ویل کیږی، اوبل داچې دعقل په فساد او پرده اچولوکې موثر دده سخت والی دی. دځګ څخه صفا کیدل نه دی.

٢- حرمت الخمر وإن قلت، وهى النئ من ماء العنب إذا غلى واشتد وقذف بالزبد. خص هذا الاسم بهذا المسكر باجماع أهل اللغة. (٢)

ترجمة: خمرحرام سول که څه هم لږ وی، اودغه دانګورو هغه تازه اوبه دی چې جوش کړل سی اوسختی سی، اوپرسر یی ځګ راسی، دلغت دعلماؤ په اجماع سره دغه نوم ددغه شرابو لپاره خاص کړل سوی دی.

٣- الخمر: ماء العنب النئ المتخمر، وسميت الخمرخمرا إما لأنها تخمر العقل أى تستره، وإما لأهنها تخامر العقل أى تخالطه,و إمالأنها تخمر نفسها لئلا يقع فيها شئ يفسدها.

الخمر هو الاسم للنئ (الذى لم تمسه النار) من ماء العنب بعد ماغلى واشتد وقذف بالزبد (أى سكن عن الغليان وصارصافيا) وهذا التعريف هومذهب ابى حنيفة لأن معنى الاسكار لايتكامل إلا بالقذف بالزبد فلا يصير خمرا بدونه.

وقال الصاحبان والأئمة الثلاثة: إذا غلي واشتد فهو خمر, وإن لم يسكن عن الغليان لأن معني الإسكار يتحقق بدون القذف بالزبد وهذا هوالأظهر عند الحنفية، سدا لباب الفساد أمام العوام .(٣)

١- الاختيار لتعليل المختار ج ٣ ص ٥٠٩- ٢- الدرر الحكام فى شرح غرر الأحكام الجزء٢ص ٨٦

٣- الفقه الإسلامى وأدلته ج ١١ ص ١٤٩ - ١٥٢

ترجمة : خمر دانګورو تازه اوبه دی چې نشه لری، خمر ته خمر په دی وجه ویل کیږی چې پر عقل پرده اچوی یعنی پټوی، یاپه دی وجه چې عقل ګډوډ کوی، یا په دی وجه چې دی په خپله پټ ساتل کیږی چې داسې شی ورګد نسی چې فاسد اوخراب یې کړی.

خمر دانګورو دهغه تا زه اوبو نوم دی چې (اورنه وی مسه کړی) او جوش سی اوسختی سی ترڅو دسرځخه یې ځګ صاف سی. اوپردغه تعریف دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه مذهب بنادی، ځکه دی وایی دنشی معنی بیله دغه ځګه نسی پوره کیدلای اونه بیله دغه ځګه خمر کیدایسی.

دامام صاحب یاران لکه امام محمد اوامام ابویوسف اونورو دروامامانو لکه امام شافعی، امام مالک اوامام احمد بن حنبل رحمة الله تعالی علیهم په نزد چې کله جوش سی اوسختی سی نودغه خمر دی که څه هم دځګ څخه نه وی صفا سوی، ځکه دنشی مقصد بیله دغه هم پوره کیږی که څه هم ځګ ونکړی، او دغه قول دټولو احنافو په نزد معتبر دی ترڅو چې دعوامو پر مخ دفسا دروازه وتړل سی.

۴- ویحرم الخمرعصیرالعنب إذا غلی واشتد أی (صلح للسکر) وقذف بالزبد عند أبی حنیفة فی کون العصیرخمرا، وقالا لیس بشرط، لأن تغطیة العقل یحصل بالاشتداد.(۱)

ترجمة : حرام سوی خمر دانګورو شیره ده چې جوش سی او سخت سی یعنی نشه پکښی پیداسې) اوپر سریې ځګ راسی (دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه په نزد ترڅو دشیری څخه خمر جوړ سی) اودده یاران وایی دغه ځګ یې شرط نه دی، ځکه پر عقل باندې پرده اچول په یوازی سختی سره هم حاصیلیږی.

۵- الخمروهي عصیرالعنب إذاغلی واشتد أی صارقویاوکثر غلیانه وحصل فیه قوة الاسکار وقیل صاربحال یمنع حواس شاربه من الفهم والدرک وقیل صلاحیته للاسکار.(۲)

۱- مجمع البحرین وملتقی النیرین ، کتاب الحدود ص ۶۵۵ -- ۲- البنایة فی شرح الهدایة ص ۳۹۲ ج ۱۱

ترجمة: خمر دانګورو هغه شيره ده چې جوش سي اوسخت سي ، يعنى چې جوش يې ډير سي نوقوت يې ډيريږي، نوبيا په ده کې نشه زياتيږي.

چاويلى دى چې داسې حال ته وګرځى چې دچيښونکې حواس دادراک اوفهم څخه منع کوى. اوچا ويلى دى چې دنشى صلاحيت پکښى پيداسې .

تقريبا دحنفى فقهى په متون اوشروحوکې همدغه يوتعريف دځه الفاظو په اختلاف ليکلى سوى دى، البته دومره اختلاف دامام ابو حنيفة اودده د شاګردانو امام محمد اوامام ابويوسف رحمة الله تعالى عليهم ترمنځ نقل سوى دى چې دامام صاحب په نزد (وقذف بالزبد) شرط دى خود شاګردانو په نزد شرط نه دى ځکه دوى وايي: بيله دغه شرطه هم خمر ورته ويل کيږي. اوبل دا چې دعقل په فساد اوپرده اچولوکې دغه سخت والى موثردى وقذف بالزبد ته يې ضرورت نسته.

البته دامام صاحب رحمة الله تعالى عليه لخوا څخه يوعقلى دليل ويل سوى دى چې سخت والى خوپه هرشربت کې لازمى دى. اودشريعت حکمونه قطعى دى نو ځکه په يوازى سخت والى پرهر شربت باندې دحرامو حکم نسى کيدلاى.

که پورتنى تعريفونه وګورو نودغه معلوميږي چې دحنفى علماؤ په نزد يوازى دتازه انګورو دشيرى څخه جوړسوى شرابو ته خمر ويل کيږي، دحنفى فقهى په کتابونوکې ددوى دلائلو څخه څه په دى ډول دى، يو دابن عمر اوانس رضى الله تعالى عنهما په اثارو دليل وايي، دوهم يوعقلى دليل اودريم داهل لغت اجماع ده.

اول دليل: ۱-عَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَاقَالَ:لَقَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ وَمَابِالْمَدِينَةِ مِنْهَاشَيْءٌ.(۱)

ترجمة: ابن عمر رضى الله تعالى عنه وايي: خمرحرام سول خوپه دغه وخت کې په مدينه کې ددوى څخه هيڅ شى نه وو.

په بل ځاى کې انس رضى الله تعالى عنه فرمايي: ۲- أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ:

۱-رواه صحيح البخارى، باب الخمر من عنب

«لَقَدْ أَنْزَلَ اللّٰهُ الآيَةَ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ فِيهَا الْخَمْرَ، وَمَا بِالْمَدِينَةِ شَرَابٌ يُشْرَبُ إِلاَّ مِنْ تَمْرٍ»(١)

ترجمة: انس بن مالک وايي: الله تعالى هغه آيت نازل کړی په کوم کې چې يې خمر حرام کړل، خو په مدينه کې شراب نه چيښل کيدل مګر نه دخرما څخه.

ددې دواړو اثرونو څخه داستدلال وجه داده چې په دغه وخت کې دخرما قسم قسم شرابونه موجودوه خو بياهم دې وايي: چې دخمردتحريم آيت نازل سوخو په مدينه کې خمر نه وه. نومعلومه سوله چې دغه نورو ته خمر نه ويل کيږي.

اول جواب: دپورته ذکرسوی دوواثارو په جواب کې اول داسې ويل کيدای سی چې مخکې موپه ډير تفصيل سره ولوستل چې خمر دقرآن په آيت سره حرام سوی دی، اوهغه آيت عام دی، داصول فقهي دقانون مطابق موولوستل چې په خبر واحد دآيت دعموم تخصيص صحيح نه دی نوپه اثرخو بيخي نسی کيدلای.

دوهم جواب: خپله دحنفي فقهي ډيرمعتمد کتاب دبدائع الصنائع محقق په يوه تعليق کې داسې ورکړی دی: يجوز أن يكون ابن عمر قاله ردا على من زعم أن اسم الخمرخاص بعصير العنب المسكر، فبين له أن مدلول الاسم عام لكل شراب مسكر، لأن نزول آية الخمرصادف اتخاذ الخمرمن غيرعصير العنب، ومع ذالک فهم الصحابة من تحريم الخمر هذه الأنبذة ابتداء، فتركوها واتلفوها، ولولاوضع الاسم للعموم لغة لمافعلوا شيئامن ذلک، ولكان لهم أن يتوقفوا اويشربوا حتى يأتي نص يخص النبيذ بالتحريم، وبهذا تكون دلالة الأثرعلى العموم أرجح منها على الخصوص.(٢)

ترجمة: کيدايسی ابن عمر رضی الله تعالى عنه دغه خبر دهغه چاپه ردکې کړی وی، چې داسې ګمان کوی چې دخمرنوم دانګورو په نشه کونکې شيره پورې خاص دی، نودوی ته يې داسې بيان وکړی چې دخمرداسم مدلول ټول نشه کونکو شرابو ته عام دی، ځکه دخمر دتحريم آيت په داسې وخت کې نازل سو چې شراب

١- رواه مسلم كتاب الأشربة ٢- بدائع والصنائع ج٦ص ٤١٢

بیله انگورو دنورو شیانو څخه جوړیدل، خوبیاهم صحابه کرامو دخمر دحراموالی څخه دټولوشرابونو حراموالی وفهموی، اوټول شرابونه یی پرېښودل اوچپه یی کړل، که دغه اسم په لغت کې عام نه وای، نودوی به دغه یوهم نه کولای بلکې دوی به توقف کړی وای، اویابه یی ترهغو چیښلای تر څوداسې نص یادلیل راتلای چې ددغه شرابونو په حراموالی پوری خاص وای، نوداسې معلومه سوله چې دغه اثرهم ترخصوص پرعموم ډیر دلالت کوی، یعنی دخمر لفظ وټولو شرابونوته عام دی.

دریم جواب داچې خپله ابن عمر رضی الله تعالی عنه داسې حدیث روایت کوی: عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ». (۱)

ترجمة:نافع دابن عمر رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هرنشه کونکې شی خمر دی اوهرخمر حرام دی.

په بل حدیث کې ابن عمر رضی الله تعالی عنه دخپل پلار څخه روایت کوی اوفرمایی: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى مِنْبَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " أَمَّا بَعْدُ، أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ نَزَلَ تَحْرِيمُ الخَمْرِ، وَهْيَ مِنْ خَمْسَةٍ مِنْ: العِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالعَسَلِ وَالحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ، وَالخَمْرُ مَا خَامَرَ العَقْلَ.(۲)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنه وایی: مادعمر رضی الله تعالی عنه څخه واوریدل چې دنبی صلی الله علیه وسلم پرمنبرباندی ویل: وروسته ترحمد اوصلوة: ای خلکو بیشکه دخمر دحرمت آیت نازل سو، اودغه خمر دپنځو څخه جوړیږی: انگور،خرما، عسل، غنم اواربشی، اوخمرهغه شی دی چې عقل گډوډکوی اویا پر عقل پرده اچوی.

معلومه سوله چې دابن عمر رضی الله تعالی عنه اثردهغه اثرڅخه مخالف دی

۱- رواه صحیح مسلم کتاب الأشربة ۲- صحیح البخاری کتاب الأشربة

چې ده خپله دخپل پلار څخه روایت کړی دی. نوځکه دلیل په ویل صحیح نه دی.

داچې دوی دانس رضی الله تعالی عنه په اثر دلیل وایي دهغه په جواب کې خپله انس رضی الله تعالی عنه په بل اثرکې تردینه زیات په صراحت سره روایت کوی اوفرمایي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: " كُنْتُ أَسْقِي أَبَا عُبَيْدَةَ وَأَبَا طَلْحَةَ وَأُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ، مِنْ فَضِيخِ زَهْوٍ وَتَمْرٍ، فَجَاءَهُمْ آتٍ فَقَالَ: إِنَّ الخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ، فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: قُمْ يَا أَنَسُ فَأَهْرِقْهَا، فَأَهْرَقْتُهَا ".(۱)

ترجمة: انس بن مالک رضی الله تعالی عنه وایي: ماابوعبیدة،ابوطلحة، ابی بن کعب ته د تازه اوپخوخرما خمر ورچیښل، یوسړی راغلی او وی ویل چې بیشکه خمر حرام سوله، نوابوطلحة وویل ای انس ولاړسه دغه خمر چپه کړه نوما چپه کړل.

داغه اثر په بل ځای کې په داسې الفاظو راغلی دی: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ, قَالَ: كَانَ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ, وَسُهَيْلُ بْنُ بَيْضَاءَ, وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ عِنْدَ أَبِي طَلْحَةَ وَأَنَا أَسْقِيهِمْ مِنْ شَرَابٍ حَتَّى كَادَ يَأْخُذُ فِيهِمْ, فَمَرَّ بِنَا مَارٌّ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَنَادَى: أَلاَ هَلْ شَعَرْتُمْ أَنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ, قَالَ: فَوَاللَّهِ مَا انْتَظَرُوا أَنْ أَمَرُونِيَ: أَنِ اكْفَأْ مَا فِي آنِيَتِكَ, فَفَعَلْتُ, فَمَا عَادُوا فِي شَيْءٍ مِنْهَا حَتَّى لَقُوا اللَّهَ, وَإِنَّهَا الْبُسْرُ والتمر, وإنما لخمرنا يومئذ.(۲)

ترجمة: انس بن مالک وایي: ابوعبیده بن جراح، سهیل بن بیضاء، اوابی بن کعب دابوطلحة سره وه، اومادوی ته شراب ورچیښل، چې دوی خولی ته پورته کوله نودمسلمانانوڅخه یوتیریدونکې موږته راغلی اوناری کړله: ایا تاسو خبر یاست چې خمر حرام سوله، دی وایي قسم په الله دوی انتظار نه وکړی، اوماتی امر وکړی چې هغه څه چې ستاپه لوښی کې دی هغه چپه کړه، نوماداسې وکړله،او دوی ترهغو بیا نه وچیښل ترڅودالله تعالی سره ملاقی سوله یعنی مړه سوله، اودغه خمر دلندی او وچې خرما څخه وه، اوپه دغه وخت کې زموږ دغه خمر یاشراب وه.

۱- رواه صحیح البخاری کتاب الأشربة ۲- صحیح ابن حبان، کتاب الأشربة

په يوبل ځای کې خپله انس رضی الله تعالی عنه فرمايي:عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: «حُرِّمَتْ عَلَيْنَا الخَمْرُ حِينَ حُرِّمَتْ، وَمَا نَجِدُ يَعْنِي بِالْمَدِينَةِ خَمْرَ الأَعْنَابِ إِلاَّ قَلِيلاً، وَعَامَّةُ خَمْرِنَا البُسْرُ وَالتَّمْرُ».(۱)

ترجمة: انس رضی الله تعالی عنه وايي: پرموږ خمر حرام سوله چې کله حرام سوله، او په مدينه کې دانگورو خمر نه وه مګرنه لږ، اوزموږ عام خمر دلندی او وچې خرماڅخه وه.

دلته خپله انس رضی الله تعالی عنه دلندی او وچې خرما وشرابو ته خمر وايي، نومعلومه سوه چې دخمر لفظ عام دی دانگورو اوخرما دواړو شرابونو ته خمر ويل کيږي، نوپه دغه اثرباندې هم دليل ويل صحيح نه دی.

په بل حديث کې په ډير صراحت راغلی دی چې مميزو اوخرما ته خمر ويل سوی دی:عَنْ جَابِرٍ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الزَّبِيبُ، وَالتَّمْرُ هُوَ الْخَمْرُ».(۲)

ترجمة: جابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه روايت کوی چې نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل: مميز اوخرما خمر دی.

بل ځای کې وايي: عن جابربن عبدالله قال البسر والتمر خمر.(۳)

که دغه پورته ذکرسوی حديثونه اواثار يوځای سره مطالعه کړو نوښکاره معلوميږي چې دابن عمر اوانس رضی الله تعالی عنهما هغه آثارچې احناف دليل په وايي، نورداسې آثاراوحديثونه سته چې دهغوی خلاف حکم ثابته وی نوځکه ددوی دليل په ويل صحيح نه دی.

بل داچې دفقهی داصولو مطابق حديث تراثرپه دليل ويلو کې قوی دی، يعنی که دحديث اواثر ترمنځ تعارض راسی اوپه دواړو باندې په يوه وخت کې عمل کول ممکن نه وی نو اثر پريښودل کيږي اوپه حديث باندې عمل کول واجب دی.

---

۱ رواه صحيح البخاری کتاب الأشربة -۲- سنن النسائی کتاب الأشربة ۳- سنن نسائی کتاب الأشربة

دلته دابن عمر رضی الله تعالی عنهما هغه اثرچې نافع دده څخه روایت کړی دی چې په هغه کې وایی هرمسکر خمر دی، اودده خپله هغه اثرچې دی دخپل پلار عمر رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوی چې دی په هغه کې وایی خمر دپنځه شیانو څخه جوړیږی، داحنافو دترجمی مطابق دواړه دده داثر سره تضاد اوټکر لری اوپه دواړو په یوه حال کې عمل کول ممکن نه دی، نودغه ثابته سوله چې دابن عمر رضی الله تعالی عنهما په اثرباندې پردغه حال دلیل ویل صحیح نه دی.

داحنافودوهم دلیل عقلی: دبدائع الصنائع محقق په خپل تعلیق کې دهدایی په حواله لیکلی دی: ماذكره صاحب الهداية قالوا إن حرمة النئ من عصير العنب المسكر قطعية للإجماع عليها، وحرمة غيره ظنية، فلايسمى ماحرمته ظنية باسم ماحرمته قطعية. (۱)

ترجمة: هغه چې دهدایی مصنف لیکلی دی: دوی وایی چې دانګورو نشه کونکې تازه شیری حراموالی قطعی دی، ځکه پردغه اجماع راغلی ده، اوددی نه بغیر دنورو حراموالی ظنی دی، نودهغه شی نوم چې حراموالی یی قطعی وی وهغه ته نه ورکول کیږی چې حراموالی یی ظنی وی.

دعقلی دلیل جواب: هم خپله داغه محقق ورکړی دی اوفرمایی: فهو لايدل على إثبات التفرقة، لأن القطعية والظنية فى التحريم لاتستلزم ذلك، لماتقرر أن اختلاف مشتركين فى حكم فى الغلظة فيه لايلزم منه افتراقهما فى التسمية، ألاترى أن الزنا مثلا يصدق على من وطئ أجنبية وعلى من وطئ حليلة جاره، والثانى أغلظ من الأول، وعلى من وطئ محرماله وهو أغلظ منهما، واسم الزنا مع ذلك شامل للثلاثة، كذلك قطعية التحريم فى عصيرالعنب المسكر، وظنية فيماسواه لاتمنع من تسمية خمرا، على أن الأحكام الفرعية لايشترط فى إثباتها الأدلة القطعية. (۲)

۱- بدائع الصنائع ج ۶ ص ۴۱۲ --- ۲- بدائع الصنائع ج۶ ص۴۱۳

ترجمة: نودغه دجلاوالی پراثبات دلالت نه کوی، ځکه قطعیت اوظنیت په حراموالی کې دجلا والی داثبات لره مستلزم نه دی، لکه دمثال په ډول په حکم کې سره شریکان وی خوپه غلاظت او سختنی کې سره جلاوی، نودغه ددوی دنومانو دجلاوالی لره مستلزم نه دی، لکه دهمسایه دښځی سره زنا دبیگانه ښځی سره تر زنا ډیره بده اوسخته ده، اودهغی ښځی سره زناکول چې پرسړی حرامه وی لکه مور،خوراوداسې نورتردغه دواړو سخته ده خوبیاهم په نومانو کې فرق اوجلاوالی نه لری بلکې ټولو ته زنا ویل کیږی، همداډول دانگورو په نشه کونکې شیره کې دخمر لفظ حقیقی اوپه نوروکې ظنی ددی مانع نه دی چې ودغه نوروته نوخمر نه ویل کیږی، بل داچې دفرعی حکمونو داثبات دپاره شرط نه دی چې دلیل به یې قطعی وی، بلکې په ظنی دلیل سره هم ثابتیږی.

داحنافو دریم دلیل دعربی لغت دپوهانو اجماع: جمع أهل اللغة على أن إطلاق اسم الخمرعلى النيء المسكر من عصيرالعنب حقيقي، واختلفوا في إطلاقه على الأنبذة المسكرة، فذهب أكثرعلماء اللغة إلى أن اسم الخمرعلى كل شراب مسكرحقيقي، سواء كان متخذامن ثمرات النخيل، والأعناب أم من غيرهما، وسواءكان نيئا اومطبوخا.(۱)

ترجمة: دعربی لغت خاوندانو اجماع کړی ده چې دخمردنوم اطلاق دانگورو پرنشه کونکې شیره باندې حقیقی دی،خو په نورونشه کونکوشیانوباندې اختلافی دی، نو ډیر دلغت عالمان پردغه دی چې دخمر نوم پرټولو نشه کونکو شرابو باندې حقیقی دی، هغه دخرما دمیوی څخه جوړ سوی وی، دانگورو او یادنورو څخه جوړ سوی وی، تازه وی که پوخ سوی وی.

داچې دوی وایی دلغت علماؤ اجماع ده پردغه چې دخمر دلفظ معنا یوازی دانگورو نشه لرونکې شیره ده، ددغه جواب مخکې دلغوی معنا په بحث کې ډیر

۱- بدائع الصنائع ج ۶ ص ۴۰۸

په تفصيل سره وڅيړل سو اوهلته موږ ثابته کړه چې دلغت علماء په يوه اتفاق نه دی، بلکې په عموم اوخصوص کې اختلاف درلودی لکه چې وايي: ماصرح صاحب القاموس بقوله(والعموم أصح) ولهذا تبادرفهمه إلى ذهن الصحابة حين أمرهم الله باجتناب الخمر ونادى المنادى حرمت الخمر، لما بادروا إلى ترک ماکان عندهم من البر والتمر، وإراقته، بل صح لهم أن يقولوا نشربه لأنه مباح، لأن التحريم للخمر، وهذا ليس بخمر لأنها اسم للنئ من عصيرالعنب المسكرفحسب، فيکون ماعداه مباحا حتى يرد النص يخصه بالتحريم، کماورد النص بتحريم الخمر،دل ذلک على عموم الاسم لغة، وهذا أقوى الأدلة على اثبات العموم اللغوى، لأن الصحابة من أهل اللسان ويفهم.(١)

ترجمة: دعربی لغتو په يوکتاب قاموس کې صراحت سوی دی چې ‹عموم اصح› دی، نوځکه اجماع نه سوله، بل داچې کله الله تعالى داجتناب اوپرهيز امر وکړی اوآوازکونکې آوازوکړی چې خمرحرام سوله نودټولو اصحابوکرامو ذهن دغه ته ولاړی چې خمر عام دی، نوځکه ټول هغه څه چې ددوی سره وه د هرشی څخه چې جوړ سوی وه هغه يې پريښودله اوچپه يې کړل،که نه نوددوی دپاره دغه لاره وه چې ووايي بيله انگورو څخه جوړسوی شراب چيښو ځکه دغه مباح او روادی، ځکه خمر حرام سوی دی اودغه زموږ دا خمر نه دی، ځکه خمرخو يوازی دانگورو نشه کونکې تازه شيری ته ويل کيږی، نو ددی څخه علاوه نور شراب به مباح او حلال وای، ترڅوچې ددوی دپاره دحراموالی خاص دليل راځی.

نو داصحابوکرامو دغه عمل چې دوی دخمر دحراموالی سره ټول شرابونه پريښودل اوچپه يې کړل، ترټولو لوی دليل دی چې دخمرلفظ عام دی، ځکه اصحاب کرام هم دعربی لغت خاوندان وه اوپوهيدل داسې نه سو ويلای چې هغوی په عربی لغت يادآيت په مطلب نه پوهيدل.

١- بدائع والصنائع ج ۶ ص ۴۱۵

دپورته ذکرسوی عبارت په ډول دفتح الباری مصنف دعلامة قرطبی په حوالة په ډیر تفصیل سره دغه موضوع روښانه کړی ده، اوفتح الباری زموږ دعلماؤ په منځکې ډیر مقبولیت لری اوتولوته دمنلو وړدی، اوهغه داسې نقل کوی او فرمایی: قَالَ الْقُرْطُبِيُّ الأَحَادِيثُ الْوَارِدَةُ عَنْ أَنَسٍ وَغَيْرِهِ عَلَى صِحَّتِهَا وَكَثْرَتِهَا تُبْطِلُ مَذْهَبَ الْكُوفِيِّينَ الْقَائِلِينَ بِأَنَّ الْخَمْرَ لاَ يَكُونُ إِلاَّ مِنَ الْعِنَبِ وَمَا كَانَ مِنْ غَيْرِهِ لاَ يُسَمَّى خَمْرًا وَلاَ يَتَنَاوَلُهُ اسْمُ الْخَمْرِ، وَهُوَ قَوْلٌ مُخَالِفٌ لِلُغَةِ الْعَرَبِ وَلِلسُّنَّةِ الصَّحِيحَةِ وَلِلصَّحَابَةِ، لأَنَّهُمْ لَمَّا نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ فَهِمُوا مِنَ الأَمْرِ بِاجْتِنَابِ الْخَمْرِ تَحْرِيمَ كُلِّ مُسْكِرٍ، وَلَمْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ مَا يُتَّخَذُ مِنَ الْعِنَبِ وَبَيْنَ مَا يُتَّخَذُ مِنْ غَيْرِهِ بَلْ سَوَّوْا بَيْنَهُمَا وَحَرَّمُوا كُلَّ مَا يُسْكِرُ نَوْعَهُ، وَلَمْ يَتَوَقَّفُوا وَلاَ اسْتَفْصَلُوا وَلَمْ يُشْكِلْ عَلَيْهِمْ شَيْءٌ مِنْ ذَلِكَ، بَلْ بَادَرُوا إِلَى إِتْلاَفِ مَا كَانَ مِنْ غَيْرِ عَصِيرِ الْعِنَبِ، وَهُمْ أَهْلُ اللِّسَانِ، وَبِلُغَتِهِمْ نَزَلَ الْقُرْآنُ، فَلَوْ كَانَ عِنْدَهُمْ فِيهِ تَرَدُّدٌ لَتَوَقَّفُوا عَنِ الإِرَاقَةِ حَتَّى يَسْتَكْشِفُوا وَيَسْتَفْصِلُوا وَيَتَحَقَّقُوا التَّحْرِيمَ، لِمَا كَانَ تَقَرَّرَ عِنْدَهُمْ مِنَ النَّهْيِ عَنْ إِضَاعَةِ الْمَالِ، فَلَمَّا لَمْ يَفْعَلُوا ذَلِكَ وَبَادَرُوا إِلَى الإِتْلاَفِ عَلِمْنَا أَنَّهُمْ فَهِمُوا التَّحْرِيمَ نَصًّا، فَصَارَ الْقَائِلُ بِالتَّفْرِيقِ سَالِكًا غَيْرَ سَبِيلِهِمْ.

ثُمَّ انْضَافَ إِلَى ذَلِكَ خُطْبَةُ عُمَرَ بِمَا يُوَافِقُ ذَلِكَ وَهُوَ مِمَّنْ جَعَلَ اللَّهُ الْحَقَّ عَلَى لِسَانِهِ وَقَلْبِهِ وَسَمِعَهُ الصَّحَابَةُ وَغَيْرُهم فَلم يُنقل عَن أحد مِنْهُم إِنْكَارُ ذَلِكَ وَإِذَا ثَبَتَ أَنَّ كُلَّ ذَلِكَ يُسَمَّى خَمْرًا لَزِمَ تَحْرِيمُ قَلِيلِه وَكَثِيرِه.

مَنْ قَالَ بِقَوْلِ أَهْلِ الْكُوفَةِ إِنَّ الْخَمْرَ حَقِيقَةٌ فِي مَاءِ الْعِنَبِ مَجَازٌ فِي غَيْرِهِ، أَنَّهُ يَلْزَمُهُمْ أَنْ يُجَوِّزُوا إِطْلاَقَ اللَّفْظِ الْوَاحِدِ عَلَى حَقِيقَتِهِ وَمَجَازِهِ، لأَنَّ الصَّحَابَةَ لَمَّا بَلَغَهُمْ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ أَرَاقُوا كُلَّ مَا كَانَ يُطْلَقُ عَلَيْهِ لَفْظُ الْخَمْرِ حَقِيقَةً وَمَجَازًا، وَإِذَا لَمْ يُجَوِّزُوا ذَلِكَ صَحَّ أَنَّ الْكُلَّ خَمْرٌ حَقِيقَةً وَلاَ انْفِكَاكَ عَنْ ذَلِكَ، وَعَلَى تَقْدِيرِ إِرْخَاءِ الْعِنَانِ وَالتَّسْلِيمِ أَنَّ الْخَمْرَ حَقِيقَةٌ فِي مَاءِ الْعِنَبِ خَاصَّةً فَإِنَّمَا ذَلِكَ مِنْ حَيْثُ الْحَقِيقَةِ اللُّغَوِيَّةِ، فَأَمَّا مِنْ حَيْثُ الْحَقِيقَةِ الشَّرْعِيَّةِ

فَالْكُلُّ خَمْرٌ حَقِيقَةً لِحَدِيثِ كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ.(۱)

ترجمة: قرطبي وايي: کوم صحيح اوډېرحديثونه چې دانس اونورو څخه راغلي دي، هغوی دکوفې خلګو مذهب باطلوي کوم چې وايي خمرنه وي مګرنه دانګورو څخه، اوکوم شراب چې دانګورو څخه نه وي جوړ سوی هغه ته خمر نه ويل کيږي، اونه دخمرنوم ورته شامل دی، اودغه داسې قول دی چې دعربو د لغت، دصحيح حديثونو ، اوداصحابو کرامو څخه مخالف دی، ځکه کله چې دتحريم آيت نازل سو اودخمر څخه دپرهيز امروسو نودوی ټولو دغه وفهمول چې ټول نشه لرونکې شيان حرام دي، دانګورو اوغير دانګورو ترمنځ يې فرق ونه کړی، بلکه دواړه يې برابرکړه، اوټول هغه انواع چې نشه لري حرام وبلل، نه ئې توقف وکړی اونه ئې دتفصيل غوښتنه وکړه اونه پردوی کوم شی مشکل سو، بلکې دهغو شرابو پر چپه کولويې تلوار وکړی کوم چې دوی دانګورو څخه نه وه جوړکړي، په داسې حال کې چې دوی دعربي لغت خاوندان وه، اوقرآن ددوی پر ژبه نازل سو،که ددوی سره ددې په هکله کوم تردد وای، نودوی به دشرابو د تويولو څخه توقف کړی وای، تر څودوی ته حال لوڅيدلای اوتفصيل معلوميدلای اوثبوت ته رسيدلای، ددې سره چې دوی ته دغه هم معلومه وه چې دمال ضائع کول منع اوحرام دي، نوچې دوی دغه يوهم نه وکړي بلکې پرتلف کولويې تلوار وکړی، نو موږ ته معلومه سوله چې دوی ددغه نص څخه دټولو نشه کونکو شيانو حراموالی فهمولی دی. نوڅوک چې ددغو ترمنځ فرق نه کوي نوهغوی ددوی دلاري اومسلک مخالف بلل کيږي.

بياچې ددغه سره دعمر فاروق رضی الله تعالی عنه خطبة ملګري کړی، او دی هغه څوک دی چې الله تعالی دده پرژبه اوزړه باندې حق جاري کړی، اودغه اصحابانو اونورو اوريدل اودهيچا څخه هم ددغه څخه انکار نه دی نقل سوی،

۱- فتح الباری شرح صحيح البخاری، کتاب الأشربة ج ۱۰ ص ۴۹

نو دا ثابته سوله چې ټول ته خمر وایي، او لازمه ده چې لږ او ډیر یې ټول حرام سي.

څوک چې د کوفې د خلګو خبره کوي چې د خمر لفظ د انګورو په شرابو کې حقیقت دی او په نورو کې مجاز دی، نو دوی به د غه موافقه هم کوي چې د یوه لفظ په یوه وخت کې پر حقیقت او مجاز دواړو اطلاق کول جایز دی، ځکه اصحاب کرامو ته چې کله د خمر د حرمت خبر ورسیدی نو دوی ټول هغه څه توی کړل چې د دوی سره وه، او پر هغوی باندې د خمر د لفظ اطلاق په حقیقت او مجاز دواړو سره کیدی، او داسې کول جایز نه دی، ځکه مجاز هغه وخت اراده کیږي چې حقیقت متعذر سی، دا چې دواړه په یوه وخت کې نسی اراده کیدلالی، نو بیا دا صحیح ده چې ټوله په حقیقت کې خمر دی او د دوی په منځ کې هیڅ جلاوالی نسته. بالفرض والتقدیر که موږ د غه ومنو چې خمر خاص د انګورو په شرابو کې حقیقت دی، نو بیا د غه لغوی حقیقت دی، د شرعی حقیقت د مخی په ټولو مسکراتو کې د خمر لفظ حقیقت دی، ځکه په حدیث کې دی چې (ټول مسکرات یا نشه لرونکې خمر دی).

په بل ځای کې د فتح الباری مصنف فرمایي: مَنْ فَرَّقَ فِي الْحُكْمِ بَيْنَ الْمُتَّخَذ مِنَ الْعِنَبِ وَبَيْنَ الْمُتَّخَذ مِنْ غَيْرِهَا فَقَالَ فِي الْمُتَّخَذ مِنَ الْعِنَبِ يَحْرُمُ الْقَلِيلُ مِنْهُ وَالْكَثِيرُ إِلاَّ إِذَا طُبِخَ كَمَا سَيَأْتِي بَيَانُهُ وَفِي الْمُتَّخَذ مِنْ غَيْرِهَا لاَ يَحْرُمُ مِنْهُ إِلاَّ الْقَدْرُ الَّذِي يُسْكِرُ وَمَا دُونَهُ لاَ يَحْرُمُ. فَفَرَّقُوا بَيْنَهُمَا بِدَعْوَى الْمُغَايَرَةِ فِي الاِسْمِ مَعَ اتِّحَادِ الْعِلَّةِ فِيهِمَا فَإِن كل قُدِّرَ فِي الْمُتَّخَذ مِنَ الْعِنَبِ يُقَدَّرُ فِي الْمُتَّخَذ مِنْ غَيْرِهَا. وَيُمْكِنُ الْجَمْعُ بِأَنَّ مَنْ أَطْلَقَ عَلَى غَيْرِ الْمُتَّخَذ مِنَ الْعِنَبِ حَقِيقَةً يَكُونُ أَرَادَ الْحَقِيقَةَ الشَّرْعِيَّةَ وَمَنْ نَفَى أَرَادَ الْحَقِيقَةَ اللُّغَوِيَّةَ.

وَقَدْ أَجَاب بِهَذَا ابن عَبْدِ الْبَرِّ وَقَالَ إِنَّ الْحُكْمَ إِنَّمَا يَتَعَلَّقُ بِالاِسْمِ الشَّرْعِيِّ دُونَ اللُّغَوِيِّ. وَاللَّهُ أَعْلَمُ. (۱)

۱- فتح الباری شرح صحیح البخاری، کتاب الأشربة

ترجمة: څوک چې په حکم کې فرق کوي دهغه شرابو چې دانګورو څخه جوړ سوي وي اودهغو چې دبل شي څخه جوړ سوي وي، او وايي هغه چې دانګورو څخه جوړسوي وي دهغه څخه لږ اوډیر ټوله حرام دي، اوهغه چې دبل شي څخه جوړسوي وي دهغه دومره اندازه حرام دي چې نشه په راځي، ترهغه کم حرام نه دي.

دغه فرق دوي دهغه دعوی پربنیاد کوي چې په نوم کې فرق لري، که نه نو علت دحراموالي په دواړوکې يودي چې نشه ده، نوڅومره اندازه چې دانګورو په جوړسوي شرابو کې اخستل کيږي هغومره په نورو کې هم اخستل کيږي.

دهغو دوو قولونو په منځکې يوځای والي داسې ممکن دي، هغه څوک چې وايي دانګورو په شرابو کې دخمر لفظ حقيقت دي نودهغوی مراد شرعي حقيقت دي ، اوهغه څوک چې نفي کوي دهغوی مراد لغوي حقيقت دي.

ابن عبد البر ددي جواب ورکوي او وايي: بيشکه حکم په شرعي نوم پوري تعلق لري په لغوي پوري تعلق نلري.

دپورتني ټول بحث خلاصه داسوله چې دخمر لفظ خاص نه دي بلکې عام دي وټول نشه کونکو شيانوته خمر ويل کيږي، دامام ابوحنيفة رحمة الله تعالى عليه ومذهب ته منسوب کتابونوکې چې دخاصوالي کوم دلائل ويل سوي وه لکه د اصحابو کراموآثار،عقلي دليل اودلغت اجماع دهغوی ټولوتوجيه اوجواب په ډير تفصيل سره وسو، نو معلوم سو چې دخمر لفظ عام دي وهرهغه شي ته ويل کيږي چې نشه لري هغه په هر نامه اودهرشي څخه چې جوړ سوي وي.

بل داچې دخمرتعريف داحنافو په کتابونو کې په کومو لفظونو ذکر سوي دي په هرتعبيرچې دي، دهغوی ټولوڅخه خپله ثابته ده چې دخمر دحرمت علت اوبنياد نشه ده، که دامام صاحب اودده دشاګردانو اختلاف دي هغه هم دنشي پربنا دي چې په کوم حالت کې نشه ډيره ده اوپه کوم حالت کې کمه ده، ځکه داحنافو دمذهب

مطابق که داغه خمر سرکه سی او دنشی دحالت څخه ووزی بیا حرام نه دی.

په حدیثونوکې هرنشه کونکې خمر او حرام دی

مخکې مو د یو عنوان جوړ کړی وو، هغه داچې (دخمرمعنا د حدیث دنظره) خو هلته یوازی لغوی معنی مراد وه حکم ورسره مطلوب نه وو، او دلته حکم مراد دی، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په حدیثونوکې په ډیرصراحت او وضاحت سره ټول دنشی شیانو ته خمر ویل سوی او حرام بلل سوی دی، چې څه په لاندی ډول دی.

۱- عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ». (۱)

ترجمة: نافع دابن عمر رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرنشه کونکې حرام دی، اوهرنشه کونکې خمر دی.

۲- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّ مُخَمِّرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ». (۲)

ترجمة: ابن عباس رضي الله تعالي عنه روایت کوي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرنشه کونکې شی خمر دی اوهرنشه کونکې شی حرام دی.

۳- عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أبيه، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «حَرَّمَ اللَّهُ الْخَمْرَ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ» (۳)

ترجمة: سالم دعبد الله زوی رضی الله تعالی عنهما دخپل پلار څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی خمر حرام کړل اوهرنشه کونکې شی حرام دی.

۱- رواه سنن النسائي كتاب الأشربة – ۲- رواه سنن أبو داود كتاب الأشربة – ۳- رواه سنن النسائي كتاب الأشربة

۴- عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ، خَمْرٌ، وَكُلُّ خَمْرٍ، حَرَامٌ».(۱)

ترجمة: ابی سلمة دابن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت کوی وایی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرنشه کونکې شی حرام دی او هرنشه کونکې شی خمردی.

۵- عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ.(۲)

ترجمة: ابی موسی رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: هرنشه کونکې شی حرام دی.

٦- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْبِتْعِ، فَقَالَ: «كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ حَرَامٌ» (۳)

ترجمة: عائشة رضی الله تعالی عنها روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دبتع په باره کې پوښتنه وسوله، نوهغه وفرمایل: هر شراب چې نشه لری هغه حرام دی.

۷- عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: «السُّكْرُ خَمْرٌ».(٤)

ترجمة: سعید بن جبیر رضی الله تعالی عنهما فرمایی: نشه خمر ده.

۸- عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: «نَبِيذُ الْعِنَبِ خَمْرٌ» (۵)

ترجمة: ابی وائل دعبد الله څخه روایت کوی چې دی وایی: دانگورو نبیذ خمر دی.

۹- عَنِ الشَّعْبِيِّ، وَإِبْرَاهِيمَ، وَأَبِي رَزِينٍ، قَالُوا: «السُّكْرُ خَمْرٌ» (۶)

۱- رواه سنن النسایی کتاب الأشربة -- ۲- رواه النسایی وابن ماجة کتاب الأشربة

۳- رواه سنن النسایی کتاب الأشربة --- ٤- مصنف بن ابي شيبة ج ٥ ص ٧٥ كتاب الاشربة

۵- مصنف بن ابي شيبة ج ٥ ص ٧٥ كتاب الأشربة --۶-محکنی مرجع

ترجمة: شعبی، ابراهیم اوابی رزین دری سره وایی چې نشه خمر دی.

۱۰- عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ السَّكَرِ؟ فَقَالَ: «الْخَمْرُ، لَيْسَ لَهَا كُنْيَةٌ».(۱)

ترجمة: دابن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه دسکر په هکله پوښتنه وسوله نوهغه ورته ویل: خمر دی، اودخمر دپاره بل هیڅ کنیت نوم نسته.

۱۱- عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ , قَالَ: " كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ: هِيَ الشَّرْبَةُ الَّتِي تُسْكِرُكَ ".(۲)

ترجمة: دابن مسعود رضی الله تعالی عنهماوویل: هرنشه کونکی شی حرام دی، اومسکر هغه شربت دی چې تاسو نشه کوی.

۱۲- عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ مِنْ وَلَدِ عَلِيٍّ , عَنْ بَعْضِ أَهْلِ بَيْتِهِ , أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيذِ؟, فَقَالَتْ: «يَا بُنَيَّ إِنَّ اللَّهَ لَمْ يُحَرِّمِ الْخَمْرَ لِاسْمِهَا وَإِنَّمَا حَرَّمَهَا لِعَاقِبَتِهَا, وَكُلُّ شَرَابٍ يَكُونُ عَاقِبَتُهُ كَعَاقِبَةِ الْخَمْرِ فَهُوَ حَرَامٌ كَتَحْرِيمِ الْخَمْرِ» (۳)

ترجمة: دجعفر بن محمد چې دعلی رضی الله تعالی عنه داولادې څخه دی، داهل بیت څخه دی، روایت کوی، بیشکه ده دعائشی صدیقی رضی الله تعالی عنها څخه دنبیذ په هکله پوښتنه وکړله، نودی ورته وویل: ای زویه الله تعالی خمردنوم دوجهی نه دی حرام کړی، بلکې دغه یې دعاقبت دوجهی حرام کړی دې، هرشراب چې عاقبت دخمرپه شان وی، نوهغه حرام دی، داسی حرام دی لکه خمر.

۱۳- عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ , عَنْ أَبِيهِ , عَنْ جَدِّهِ , قَالَ: جَاءَ قَوْمٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَنْبِذُ نَبِيذًا فَنَشْرَبُهُ عَلَى طَعَامِنَا, فَقَالَ:«اشْرَبُوا وَاجْتَنِبُوا كُلَّ مُسْكِرٍ» فَأَعَادُوا عَلَيْهِ , فَقَالَ: «إِنَّ اللَّهَ يَنْهَاكُمْ عَنْ قَلِيلِ مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ»(۴)

ترجمة: عمربن شعیب دخپله پلار څخه اوهغه دده دنیکه څخه روایت کوی چې یوقوم نبی صلی الله علیه وسلم ته راغلی او وئې وویل: ای دالله رسوله موږ

۱- سنن الدارالقطني ج ۵ ص ٤٥١ -- ۲- سنن الدارالقطني ج ۵ ص ٤٥١

۳- سنن الدارالقطني ج ۵ ص ٤٦١ --- ۴- سنن الدارالقطني ج ۵ ص ٤٦٤

نبیذ جوړوو اوبیاهغه دډوډۍ دپاسه چیښو، نونبی علیه السلام ورته وفرمایل: وئی چیښې خودنشه کونکی څخه ځانونه وساتی، نوهغوی بیا پوښتنه وکړله، نوده ورته وفرمایل: بیشکه الله تعالی تاسو دهغه لږ څخه منع کوی چې دهغه ډیر نشه لري.

دپورتنیو حدیثونو پربنادحنفی فقهی ډیر ممتاز عالم هم وهر نشه کونکې شی ته خمرویلی دی لکه چې وایی: ۱-الخمراسم جنس عام لغة لکل شراب مسکر.(۱)

ترجمة: خمراسم جنس دی په لغت کې وټولو نشه کونکو شرابو ته عام دی.

۲-وقیل کل مسکرخمر لآنها سمیت خمرا لمخامرتها العقل وسایر المسکرات کذالک.

قال ابن الأعرابی سمیت الخمر خمرا لأنها ترکت فاختمرت واختمارها تغیر ریحها. کذا فی الصحاح. (۲)

ترجمة: چاویلی دی هرنشه کونکې شی خمر دی، ودی ته خمر ځکه ویل کیږی چې پر عقل پرده اچوی اوټول نشه کونکې شیان همداسې دی.

ابن اعرابی وایی: ودغه ته خمرځکه وایی چې دغه اینښودل کیږی ترڅو چې خمر وګرځی اودده خمر ګرځیدل دادی چې بوی یی بدل سی. دلغتو په صحاح نومی کتاب کی هم داسی لیکلی دی.

دپورتنیوحدیثنو، آثارو اوفقهاؤ داقوالوڅخه ثابته سوله چې هرنشه کونکې شی خمردی، اوهرخمرحرام دی، په دغو حدیثونواوآثاروکې نه دخرمااونه دانګورو اونه دبل شی ذکر سوی دی، بلکې دمطلق نشی ذکرسوی دی دهرشی څخه چې وی، ځکه په (۱۲) نمبر حدیث کې عائشة صدیقة رضی الله تعالی عنها په صراحت سره فرمایی: چې خمر دنامه په وجهی نه دی حرام سوی، بلکې دعواقبو دوجهی حرام سوی دی، اوعواقب یی نشه ده یعنی دنشی دوجهی حرام سو دی، نونشه حرامه ده

۱- البدائع الصنائع جلد ۶ ص ۴۱۰ -- ۲- الدرر الحکام فی شرح غرر الاحکام ۸۶

دهرشی چې وې، شراب وی، افیون وی، چرس وی، تمباکو وی، سگریټ که نسوار اوداسی نور وی، ځکه دټولو یوعلت دی چې نشه ده نودپورته ذکرسوی دلائلو پرښا دټولو یوحکم دی چه ټوله حرام دی، لږاوډیر فرق نلری.

بل داچې ددغه مبارک دین رسول اوپیغامبرصلی الله علیه وسلم خپله فرمایی چې هرنشه لرونکې شی خمردی، خوبیا هم څه فقهاء اوعلماء وایې چې یوازی دانگورو څخه جوړ سوی شرابوته خمر وایی.

دخمر ډیر نومونه دی

دخمر دنومونو په باره کې دبدائع الصنائع محقق په خپل تعلیق کی لیکلی دی: للخمر اسماء كثيرة ذكر منهاصاحب التلويح اسماؤها التسعين اسما, وذكرابن المعتز مائة وعشرين اسما, وذكرابن دحية مائة وتسعين اسما, ومن أشهرها: العقار, الشموس, الخندريس, الحمياء الصهباء, المدام, الشمول وغيردلك.(۱)

ترجمة: دخمر نومونه ډیر دی څه دهغوی څخه دتلویح مصنف (۹۰) نومونه ذکر کړی دی. ابن معتز (۱۲۰) ذکری دی. ابن دحیة (۱۹۰) ذکرکړی دی. دهغوی دجملی څخه څه مشهور نومونه دغه پورته ذکرسوی دی.

کیدایسی داهغه نومونه وی چی خلگو دځان پرایښی دی، ځکه درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه حدیث نقل سوی دی فرمایی: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ:قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:يَشْرَبُ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَبِاسْمٍ يُسَمُّونَهَا إِيَّاهُ.(۲)

ترجمة: عباده ابن صامت رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زمادامت څه خلگ به شراب چیښی دوی به خپل دځانه نومونه پرایښی وی.

۱- بدائع الصنائع ج ٦ ص ٤٠٧ --- ۲- سنن ابن ماجة كتاب الأشربة

په بل حديث کې راغلی دی: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تَذْهَبُ اللَّيَالِي وَالأَيَّامُ، حَتَّى تَشْرَبَ فِيهَا، طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ، يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا».(۱)

ترجمة: ابی امامة الباهلی روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ترهغو دغه شپې اوورځی نه ځی (قیامت نه راځی) ترڅوچې زمادامت څخه یوه ډله یاټولی به شراب چیښی خوپه داسې نامه چې دوی به پراییښی وی.

دپورتنیو حدیثونو څخه هم معلومه سوله چې نومانو ته اهمیت نسته بلکه علت مهم دی اوعلت دټولویودی اوهغه نشه ده، اودغه ثابته ده چې هرشی نشه لری هغه حرام دی. ځکه هغه آیتونه چې دخمر دحرمت په باره کې راغلی دی په هغوی باندې ټول نشه لرونکې حرام سوی دی، ځکه دخمر معنا عامه ده.

بل داچې درسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیثونو کې اوداصحابو کرامو په آثارو کې وهرنشه لرونکې شی ته خمر ویل سوی دی: په حدیث کې راغلې دي: عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ آيَةَ الْخَمْرِ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ الْمِزْرَ؟ قَالَ: «وَمَا الْمِزْرُ؟»، قَالَ: حَبَّةٌ تُصْنَعُ بِالْيَمَنِ، فَقَالَ: «تُسْكِرُ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ».(۲)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبة ویل اودخمر دآیت ذکر یی وکړی، نویوسړی ورته وویل چې دمزر څه حکم دی؟ نوده ورته وویل مزر څه شی دی؟ ده ورته وویل دغه په یمن کې جوړیږی، نوعلیه السلام ورته وویل نشه لری؟ هغه ورته وویل: هوو، نوعلیه السلام ورته وویل: هرشی چې نشه لری هغه حرام دی.

په بل حدیث کې راځی: عَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، عَنِ الْبَاذَقِ فَقَالَ:

۱- ابن سنن ماجة كتاب الأشربة -- - ۲- سنن النسائی کتاب الأشربة

سَبَقَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ البَاذَقَ: «فَمَا أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ» قَالَ: الشَّرَابُ الحَلَالُ الطَّيِّبُ، قَالَ: «لَيْسَ بَعْدَ الحَلَالِ الطَّيِّبِ إِلاَّ الحَرَامُ الخَبِيثُ». (۱)

ترجمة: دجویریې پلاروایي مادابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه دباذق دحکم په باره کې پوښتنه وکړله، نوده وویل: محمد صلی الله تعالی علیه وسلم دباذق ترجوړیدلو دمخه ددنیاڅخه ولاړی، خو هرشی چې نشه لری هغه حرام دی، ده ویل: یوشراب هغه دی چې پاک اوحلال وی، اوده ویل ترپاک اوحلال وروسته نسته مګرناپاک اوحرام دی.

نودغه پورته ذکرسوی حدیثونه اوآثاردخمردآیتونو تفسیردی یعنی که څه هم دقرآن کریم په آیت کې دخمر لفظ راغلی دی خو درسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیثونواوداصحابو کرامورضوان الله تعالی علیهم په آثارو کی وهرنشه کونکی شی ته خمر اوحرام ویل سوی دی، نوځکه ټول دنشی شیان دقرآن کریم په آیتونو او دنبی کریم صلی الله تعالی علیه وسلم په حدیثونو اوداصحاب کرامو په آثارو کې قطعی حرام ویل سوی دی.

نبیذ چې نشه لری حرام دی

په مذهبی کتابونو کې دنشی دشیانودجملی څخه (نبیذ) یوداسی توکی دی، چې دهغی په معنی، جوړښت یعنی څنګه اوپه چیشی کې جوړیږی، عموم اوخصوص یعنی دهر شی اوکه دخاص شی څخه جوړیږی، اوحکم یعنی حلال که حرام دی، اوداسی نورو اړونده مسائلوکې اختلاف سته، اودغه اختلاف هم د حنفی اوجمهورو فقهاؤ ترمنځ نقل سوی دی، یعنی داچې حنفی فقهاء دنبیذ معنا دخمر په شان خاصه کوی، اوجمهور فقهاء عامه کوی،بل داچې حنفی فقهاء د حلال والې دلایل وایی اوجمهور فقهاء دحرمت دلایل وایی، ښکاره خبره ده چې

۱- صحیح البخاری کتاب الأشربة

دفقهاؤاوعلماؤ ترمنځ اختلاف همیشه ددلیل پربناء وی، دخپل شخصي نظریاتو پربناء نه وی، خوعمل به په هغه قول کیږی دچاچې دلیل قوی وی، ددلیل قوی او ضعیف هم علماؤته معلومیږی اوعلماء به عواموته لارښودنه دقوی دلیل پربناء کوی، نوځکه ماپه خپل دغه کتاب کی ټول کوشش داکړی دی چې دهرقول دلایل ولیکم ترڅو دهرخاص اوعام دتوجه وړ وګرځي، نودلته دنبیذ په موضوع کې هم کوشش کوم چې دمثال په ډول څه دلایل ددواړو فریقو ولیکم، اوپه مختصر ډول څه بحث ځنی کول ددی دپاره ضروری بولم، چې یوخو دمخکنې بحث دپاره څه تفصیل سی اودراتلونکوموضوعاتو دپاره بنیاد جوړس هغه داچې یوازی خمر قطعي حرام نه دی، بلکی بل داسی شی هم سته چې دخمر نوم یی نه دی خو بیا هم دنشي په وجه ټول ورته په اتفاق قطعي حرام وایي لکه مسکرنبیذ، یعنې ددوی داختلاف ټول خلاصه داراوزی چی په کوم لوښی اوپه څومره وخت کی، اودکوم شي څخه جوړسوی نبیذ نشه لری اوکوم یی نلری، مطلب داکه نبیذ دنشي حال ته ورسیږی دټولو په نزد حرام اوکه دنشي حالت ته نه وی رسیدلی نودټولوپه نزد حلال دی، نو که په دغه نظر ورته وګورو نوددوی اختلاف په ښکاره لفظی اختلاف دی،اودغه ددواړو ډلو ددلایلو دمطالعی څخه معلومیږی.

دنبیذ دتعریف په هکله اختلاف نقل سوی دی ویل کیږی:وأما النبيذ:فاختلفوا في معناه فقال قوم: هوماء العنب وماء التمرمن قبل أن يغليا, فإذا اشتد ذلك وصلب فهو خمر. وقال الآخرون: النبيذ ما اتخذ من الذبيب والتمر وغيرهما.

وقالوا سمي نبيذا لأنهم كانوا يأخذون القبضة من التمر أوالذبيب فينبذونها في السقاء أي يلقونـــهافيه، يتخذونــه في صدر النهار هم يشربونـــه في آخره,ويتخذونه من أول الليل ويشربو نه علي غدائهم وعشائهم. (۱) ۱-كتاب الأشربة ص ۳۱

ترجمة: دوی دنبیذ په معنی کی اختلاف کړی دی: یوقوم یادعلماؤ یوه ډله وایی: نبیذ دانګورو یادخرما اوبه دی، چې ترجوش اوسخت والی دمخه نبیذ ورته وایی، اوتر جوش اوسخت والی وروسته نوبیاخمرورته وایی. څه نور علماء وایی: نبیذ دممیزو، خرما اوداسی نورو څخه جوړیږی.

یعنی څه علماء دنبیذ معنی خاصه کوی چی یوازی دممیزو اوخرما څخه جوړ سوی ته نبیذ ویل کیږی، اوڅه علماء دنبیذ عامه معنی کوی یعنی دخرما او ممیزو، خرما، عسلو اوداسی نورو څخه جوړ سوی ته نبیذ ویل کیږی.

دنبیذدجوړولوطریقة: څه اندازه ممیز یاخرمابه یی دورځی په اول کی داوبو په ژې کی خشته کړل دورځی په آخرکی به یی چیښل، دشپی په اول کی به یی خشته کړل، اوپه غرمه اوماښام کې به یی چیښل.

اودغه ته نبیذځکه وایی: چې دوی به یوموټ یالپه خرما یاممیزداوبو په ژې کی به یی واچولی(ژی دسیرلې اوبزی دپوستوکې څخه داوبودپاره جوړیږی).

داچی وسق دپوستوکې څخه جوړیږی په دی هکله ویل کیږی: عَنْ أُمِّ مُحَمَّدٍ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا «كَانَتْ تَتَّخِذُ مِنْ إِهَابِ أُضْحِيَّتِهَا وَسْقًا لِلنَّبِيذِ» (۱)

ترجمة: دمحمد دمور څخه روایت دی چی عائشی صدیقی رضی الله تعالی عنها به داختری یاقربانی دپوستوکې څخه دنبیذدپاره وسق(ژی) جوړوی.

داچی نبیذ به سهار ترماښامه اوماښام ترسهاره خشتیدله په دی هکله دعائشة صدیقة رضی الله تعالی عنه څخه روایت نقل دی: عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَاءٍ نَنْبِذُهُ غُدْوَةً، فَيَشْرَبُهُ عَشِيًّا، وَنَنْبِذُهُ عَشِيًّا فَيَشْرَبُهُ غُدْوَةً».(۲)

۱- مسند امام احمد بن حنبل ۲- صحیح ابن حبان کتاب الأشربة

ترجمة: دعائشي صديقي رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی، دا وایی: موږ به درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره دابو په ژې کې سهار نبیذ جوړول نوده په هغه ماښام چیښل، اوماښام به موورته جوړ کړل هغه به یې سهار چیښل.

په بل روایت کې راغلی دی: عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي سِقَاءٍ، فَنَأْخُذُ قَبْضَةً مِنْ تَمْرٍ، أَوْ قَبْضَةً مِنْ زَبِيبٍ، فَنَطْرَحُهَا فِيهِ، ثُمَّ نَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ، فَنَنْبِذُهُ غُدْوَةً، فَيَشْرَبُهُ عَشِيَّةً، وَنَنْبِذُهُ عَشِيَّةً، فَيَشْرَبُهُ غُدْوَةً».(١)

ترجمة: عائشة صديقة رضی الله تعالی عنها فرمايي: موږ به درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره په ژې کی نبیذ جوړول، نوموږ به یوه لپه خرما یایوه لپه ممیز واخستله اوپه دغه ژې کې به مو واچولی اوبیابه مو اوبه پرواچولی، نو موږ به دغه سهار جوړولی اوده مبارک به ماښام چیښل، اوماښام به موجوړولی بیابه یې سهار چیښل.

په بل حدیث کې راغلی دی: عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ تَنْبِذُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُدْوَةً, فَإِذَا كَانَ مِنَ الْعَشِيِّ فَتَعَشَّى شَرِبَ عَلَى عَشَائِهِ , فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ صَبَبْتُهُ أَوْ فَرَّغْتُهُ , ثُمَّ تَنْبِذُ لَهُ بِاللَّيْلِ فَإِذَا أَصْبَحَ تَغَدَّى فَشَرِبَ عَلَى غَدَائِهِ، قَالَتْ: تَغْسِلُ السِّقَاءَ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً، فَقَالَ لَهَا أَبِي: مَرَّتَيْنِ فِي يَوْمٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ. (٢)

ترجمة: عمرة دعائشي صديقي رضی الله تعالی عنها څخه روایت کوی: چې دی به درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره په سهارکې نبیذ جوړوی، نوچې کله به یې دماښام خواړه وخوړل نودخوړو دپاسه به یې دغه وچیښل، نوچې کله به څه پاته سوله نوهغه به ماچپه یاتوی کړل، اوبیابه په شپه کې موږ نبیذ جوړول، نوچې کله به سهارسو نوترخوړو وروسته به یې چیښل، دامبارکه وایی:

١- سنن ابن ماجة كتاب الأشربة ٢- السنن الكبرى للبيهقي ج ٨ ص ٥٢٠ كتاب الأشربة

ما به دغه ژی یالوښی سهار اوماښام پری مینځی (عمرة) وایی زما پلار ورته وویل په ورځ کی دوه واره؟ دی ورته وویل: هو.

په یوبل حدیث کې راغلی دی:عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «كَانَ يُنْبَذُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَشْرَبُهُ يَوْمَهُ ذَلِكَ، وَالْغَدَ، وَالْيَوْمَ الثَّالِثَ، فَإِنْ بَقِيَ مِنْهُ شَيْءٌ، أَهْرَاقَهُ، أَوْ أَمَرَ بِهِ، فَأُهْرِيقَ» (۱)

ترجمة: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی چی درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره نبیذ جوړی دل، نوده به هغه په داغه ورځ، اوپه داسبا، اوپه دریمه ورځ کی چیښل، نوکه څه شی به پاته سوله نوهغه به یی چپه یاتوی کړل، اویابه یی بل چاته امر وکړی نوهغه به چپه کړل.

داغه حدیث په بل روایت کې داسی راغلی دی: عَنْ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدٍ أَبِي عُمَرَ الْبَهْرَانِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْتَبَذُ لَهُ أَوَّلَ اللَّيْلِ، فَيَشْرَبُهُ إِذَا أَصْبَحَ يَوْمَهُ ذَلِكَ، وَاللَّيْلَةَ الَّتِي تَجِيءُ، وَالْغَدَ وَاللَّيْلَةَ الْأُخْرَى، وَالْغَدَ إِلَى الْعَصْرِ، فَإِنْ بَقِيَ شَيْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ، أَوْ أَمَرَ بِهِ فَصُبَّ». (۲)

ترجمة: یحیی بن عبید أبی عمر بهرانی وایی: مادابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه واوریدل چې ویلی: درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره دشپې په اول کی نبیذ جوړیدله، نوده به هغه دداغه ورځی په سهار کې اوپه دغه راتلونکی شپه کی اودسبا ترمازدیګر پوری چیښله، که به نورڅه پاته سوله نو هغه به یی خادم ته ورکول. اویابه یی امر ورته وکړی. هغه به چپه کړل.

ملاحظة: دنبیذ دجوړیدلودوقت په متعلق په ډیرو حدیثونوکی دوقت ذکر سوی دی، یعنی دسهاره ترماښامه اوبیا دماښامه ترسهاره، یا یوه اودوی دری

۱- سنن ابن ماجة کتاب الأشربة --- ۲- صحیح مسلم کتاب الأشربة

ورځی چیښل کیدل، کیدایسی دغه اخلاف دموسم پربنا وی لکه یخ او ګرمی، دوبی اوژمی، یادلوښو پربناوی لکه دخاوری لوښی،دپوستوکې ژی اویا دډبری لوښی اوداسی نور، معنی داچې په دومره وخت کی دنشی حالت ته نه رسیږی که تر دغه وخت زیاتی په اوبوکی پاته سی نوبیاه دنشی حالت ته رسیږی چی دنشی حالت ته ورسیږی نوبیاخمر دی چیښل یی حرام اوناجایز دی.

څکه خو ویل سوی دی: وَعَنْ حَمَّادٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالاَ: «لاَ بَأْسَ بِشُرْبِ الْعَصِيرِ مَا لَمْ يُغْلَ»، قَالَ سَعِيدٌ: «إِذَا غُلِيَ فَهُوَ خَمْرٌ، اجْتَنِبْهُ»، وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ: «إِذَا غُلِيَ فَدَعْهُ» (۱)

ترجمة:حماداوابراهیم (رحمة الله تعالی علیهما) دواړه وایی: دشیری په چیښلو کی څه پروانسته ترڅوچی جوش یی نه وی کړی. سعید (رحمة الله تعالی علیه) وایی: چی جوش وکړی نوهغه خمر دی، دهغه څخه پرهیز وکړه. ابراهیم (رحمة الله تعالی علیه) وایی: چی جوش وکړی نوپریږده.

په داغه متعلق یوبل روایت هم راغلی دی: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ: أَنَّهُ كَانَ لاَ يَرَى بِالْعَصِيرِ بَأْسًا مَا لَمْ يُزْبِدْ، فَإِذَا أَزْبَدَ نَهَى عَنْهُ وَقَالَ: «إِنَّمَا يُزْبِدُ الْخَمْرُ»(۲)

ترجمة: دسعید بن مسیب (رضی الله تعالی عنه) څخه روایت دی چې ده به ویل: دعصیر په چیښلو کی څه باک نسته ترڅو چی ځګ یی نه وی کړی، کله چی ځګ وکړی نوده به دهغه څخه منع کوله، بیشکه چی ځګ وکړی هغه خمر دی.

دپورتنیو حدیثونو څخه نه یوازی داچې دنبیذ دجوړولو طریقه معلومه سوله، بلکی داهم معلومه سوله هغه نبیذ چې نشه نلری حلال اونبی کریم صلی الله علیه وسلم خپله چیښل، دهمدی څخه څه حنفی فقهاء نبیذ حلال بولی اوپه دغه حدیث دلیل وایی: عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، قَالَ: عَطِشَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَوْلَ

۱-مصنف ابن ابی شیبة کتاب الأشربة ج ۵ ص۷۷ --- ۲- مصنف بن ابی شیبة کتاب الأشربة

الْكَعْبَة فَاسْتَسْقَى، فَأُتِيَ بِنَبِيذ مِنَ السِّقَايَة، فَشَمَّهُ فَقَطَّبَ، فَقَالَ: «عَلَيَّ بِذَنُوبٍ مِنْ زَمْزَمَ»، فَصَبَّ عَلَيْه، ثُمَّ شَرِبَ، فَقَالَ رَجُلٌ: أَحَرَامٌ هُوَ يَا رَسُولَ اللَّه؟ قَالَ: «لَا».

وَهَذَا خَبَرٌ ضَعِيفٌ لِأَنَّ يَحْيَى بْنَ يَمَانٍ انْفَرَدَ بِه دُونَ أَصْحَابِ سُفْيَانَ، وَيَحْيَى بْنُ يَمَانٍ لَا يُحْتَجُّ بِحَدِيثِه لِسُوءِ حِفْظِه، وَكَثْرَة خَطَئِه. (۱)

ترجمه: ابی مسعود رضی الله تعالی عنه روایت کوی، چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وکعبی شریفی ته نزدې تنده محسوسه کړله، نواوبه یی وغوښتلې، نو خلګو دڅې څخه نبیذ ورته راوړی ، نونبی علیه السلام هغه بوی کړلی اومخ مبارک یی ځنی واړوی، اوبیایی وویل دزم زم اوبه راوړی نبی علیه السلام پرهغه باندې اوبه واچولی اوبیایی وڅیښلی، نویو سړی ځنی پوښتنه وکړله ای دالله رسوله دغه حرام دی؟ نبی علیه السلام ورته وویل: یا حرام نه دی.

که څه هم ددغه حدیث څخه دنبیذ حلال والی معلومیږی، خوبیاهم په جواب کې علماؤ ددغه حدیث یوه توجیه داسې کړې ده: چې دغه حدیث نسائی روایت کړی دی اوهغه خپله داسې ضعیف بللی دی چې هیڅ دلیل نه په ویل کیږی، ځکه دغه حدیث دسفیان څخه په روایت کی یحیی بن یمان یوازی دی دسفیان نورو ملګرو نه دی روایت کړی، اودیحیی بن یمان په روایت باندی دلیل نه ویل کیږی، ځکه دده حافظه خرابه ده اوډیر خطاکیږی.

داغه حدیث په بل ځای کی داسی راغلی دی: عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ , أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَطِشَ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَأُتِيَ بِنَبِيذٍ مِنَ السِّقَايَةِ فَقَطَّبَ , فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: أَحَرَامٌ هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ:«لَاعَلَيَّ بِذَنُوبٍ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ» فَصَبَّهُ عَلَيْهِ ثُمَّ شَرِبَ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ.(۲)

ترجمه: دابومسعود انصاری رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، وایی:

۱- رواه سنن النسائی کتاب الأشربة

۲- سنن الدار قطنی کتاب الأشربة ج ۵ ص ۴۷۵

نبي صلى الله عليه وسلم په داسې حال کې تېرې سو چې ده پربيت الله باندې طواف کوی، نوده ته دژې څخه نبيذ راوړل سول، نودناخوښې اظهار يې وکړی، نو يوسړی ورته وويل: ای دالله رسوله ايا دغه حرام دی؟ ده ورته وفرمايل: (يا) ماته دزم زم اوبه راوړی، نوهغه اوبه يې پرواچولې اوبيايې وچيښلې، په داسې حال کې چې ده طواف کوی.

بل حديث کيدايسی چې دوی دليل په وايې: عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ , قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّبِيذِ حَلَالٌ هُوَ أَوْ حَرَامٌ؟ , قَالَ: «حَلَالٌ». عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبَانَ مَتْرُوكُ الْحَدِيثِ.(۱)

ترجمة: دابومسعود رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې دی وايې: دنبي صلى الله عليه وسلم څخه دنبيذ په باره کې پوښتنه وسوله چې ايا دغه حلال دی که حرام؟ نوده مبارک ورته وفرمايل: (حلال) دی.

خودغه حديث چې چاروايت کړی دی هغه وايې: ددغه حديث په راويانو کې يو عبد العزيز بن أبان دی، اوهغه متروک الحديث دی. يعنې دده په حديث دليل نسی ويل کيدلای.

په پورتنيو حديثونو کې درې نکتې په ښکاره معلومې سولې، يوه داچې نشه لرونکې شی دنشې دحال څخه ووزی هغه حلال دی، دوهم داچې شراب د اوبو په زياتيدلو دنشې دحال څخه ووزی، دريم داچې دکوم نبيذ څخه نبي کريم صلى الله عليه وسلم اوياعمر فاروق رضی الله تعالی عنه دناخوښې اظهارکړی دی، هغه دنشې حال ته رسيدلی وه، يعنې جوش سوی ياسخت سوی وه، نوځکه داوبو په زياتولو يې دهغوی نشه ماته کړله، نوځکه يې حلال ورته وويل.

دوهم داچې خمر د(نشې) دحالت څخه ووزی بيا حلال دی، اوهغه په درو

۱– سنن الدارقطنی کتاب الأشربة ج ۵ ص ۴۷۶

شیانو سره کیدای سی: اول داچی خمر سرکه سی نوپاکیږی، څکه په حدیث کې راغلی دی: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ, أَنَّهَا كَانَتْ لَهَا شَاةٌ تَحْتَلِبُهَا , فَفَقَدَ هَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , فَقَالَ:«مَا فَعَلَتِ الشَّاةُ؟» قَالُوا: مَاتَتْ, قَالَ: «أَفَلَا انْتَفَعْتُمْ بِإِهَابِهَا», قُلْنَا: إِنَّهَا مَيْتَةٌ , فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ دِبَاغَهَا يَحِلُّ كَمَا يَحِلُّ خَلُّ الْخَمْرِ». (۱)

ترجمة: دام سلمة رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی: چې دې مبارکې یوه میږه درلودله دې به لوشله، نونبی صلی الله علیه وسلم هغه ونه لیدله، نوپوښتنه یی وکړله چی هغه میږه موخه کړله؟ دوی ورته وویل: هغه مړه سوله، نونبی علیه السلام ورته وفرمایل: ایاتاسو دهغی په جلد یاڅرمنی باندي فایده نه واخستله؟ وایی: موږ ورته وویل هغه مړه سوله، نونبی علیه السلام ورته وفرمایل: بیشکه دمردار سوی حیوان پوست یاڅرمن پخیدل یارنگیدل یی حلالوی، لکه څرنگه چې سرکه شراب حلالوی.

دویم:داچې دومره جوش کړل سی چې دوی برخی اوبه یی ولاړی سی اویوه برخه یی پاته سی نوخمر حلال لیږی، لکه په دغه اثرکې چی راغلی دی:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ الْخَطْمِيِّ, قَالَ:كَتَبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: " أَنِ اطْبُخُوا شَرَابَكُمْ حَتَّى يَذْهَبَ نَصِيبُ الشَّيْطَانِ مِنْهُ فَإِنَّ لِلشَّيْطَانِ اثْنَيْنِ , وَلَكُمْ وَاحِدَةٌ ". (۲)

ترجمة: دعبد الله بن یزید خطمی څخه روایت دی: چې دی وایی: موږ ته عمربن خطاب رضی الله تعالی عنه ولیکل: چی خپل شرابونه دومره پاخه کړی چې دشیطان نصیب اوحصه څنی ولاړه سی، بیشکه دشیطان دپاره دوی حصی دی اوستاسو دپاره یوه حصه ده.

دریم:داچې دومره اوبه ورزیاتی سی چې هغه دنشی دحال څخه ووزی نوهم خمر پاکیږی. نو دلته هم رسول الله صلی الله علیه وسلم دزمزم اوبه ورزیاتی کړی

۱- سنن الدار قطنی ج ۱ ص ۷۷ باب الدباغ -- ۲-السنن الکبري للبیهقي کتاب الأشربة ج ۸ ص ۵۲۲

اوداوبو تر زیاتولو وروسته چې دنشې دحال څخه ووتل نوبيايي وفرمايل چې حرام نه دی.

بلکې په بل حديث کې موږ ته امر کوی اوفرمايي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السِّقَايَةَ فَقَالَ: «اسْقُونِي مِنْ هَذَا»، فَقَالَ الْعَبَّاسُ: أَلاَ نَسْقِيكَ مِمَّا نَصْنَعُ فِي الْبُيُوتِ؟ قَالَ: «لاَ، وَلَكِنِ اسْقُونِي مِمَّا يَشْرَبُ النَّاسُ» قَالَ: فَأُتِيَ بِقَدَحٍ مِنْ نَبِيذٍ فَذَاقَهُ فَقَطَّبَ، ثُمَّ قَالَ: «هَلُمُّوا مَاءً فَصَبَّهُ عَلَيْهِ»، ثُمَّ قَالَ: «زِدْ فِيهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا» قَالَ: «إِذَا أَصَابَكُمْ هَذَا فَاصْنَعُوا بِهِ هَكَذَا». (١)

ترجمة: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روايت دی: دی مبارک وايي: نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته داوبو لوښی راوړل سو، نوده مبارک وفرمايل: ددغه څخه ماته اوبه راکړی، نوعباس ورته وويل: ايا تاته هغهٔ دچينبلو دپاره درنکړو کوم چی موږ يې په کورونو کی جوړوو؟ ده ومبارک ورته وفرمايل: ماته هغه اوبه راکړی چې خلک يی چيښی، نوابن عباس وايی: ده ته په يولوښی کې نبيذ ورکړل سو، نوده مبارک وڅکل اوناخوښی يی وکړله، بيايی وفرمايل: اوبه راوړی، نوفردغه باندی واچولی، اوبيايی وويل: په دغه کی زياتوب وکړه دوه يادری واره، اوبياده مبارک وفرمايل: کله چې تاسوته داسی شی راوړل سی نو تاسو دهغه سره داسی وکړی. يعنی اوبه ورزياتی.

پـه بل حديث کې راغلی دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ, عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمْ عَلَى أَخِيهِ الْمُسْلِمِ فَأَطْعَمَهُ فَلْيَأْكُلْ مِنْ طَعَامِهِ وَلاَ يَسْأَلْهُ , وَإِنْ سَقَاهُ شَرَابًا فَلْيَشْرَبْ مِنْ شَرَابِهِ وَلاَ يَسْأَلْهُ عَنْهُ , وَإِنْ خَشِيَ مِنْهُ فَلْيَكْسِرْهُ بِالْمَاءِ».(٢)

داغه حديث په يوبل روايت کی داسی راغلی دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ

١- مصنف ابن ابی شيبة کتاب الأشربة ج ٥ ص ٧٦ -- ٢- سنن الدار قطنی کتاب الأشربة ج٥ ص ٤٦٦

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمْ عَلَى أَخِيهِ الْمُسْلِمِ فَأَطْعَمَهُ طَعَامًا , فَلْيَأْكُلْ مِنْ طَعَامِهِ, وَلاَ يَسْأَلْ عَنْهُ, فَإِنْ أَسْقَاهُ شَرَابًا فَلْيَشْرَبْ مِنْهُ, وَلاَ يَسْأَلْ عَنْهُ , فَإِنْ خَشِيَ مِنْهُ , فَلْيَكْسِرْهُ بِشَيْءٍ».فَفِي هَذَا الْحَدِيثِ إِبَاحَةُ شُرْبِ النَّبِيذِ.

فَإِنْ قَالَ قَائِلٌ: إِنَّمَا أَبَاحَهُ بَعْدَ كَسْرِهِ بِالْمَاءِ, وَذَهَابِ شِدَّتِهِ. قِيلَ لَهُ: هَذَا كَلاَمٌ فَاسِدٌ , لأَنَّهُ لَوْ كَانَ فِي حَالِ شِدَّتِهِ حَرَامًا, لَكَانَ لاَ يَحِلُّ , وَإِنْ ذَهَبَتْ شِدَّتُهُ بِصَبِّ الْمَاءِ عَلَيْهِ. أَلاَ تَرَى أَنَّ خَمْرًا لَوْ صُبَّ فِيهَا مَاءٌ , حَتَّى غَلَبَ الْمَاءُ عَلَيْهَا , أَنَّ ذَلِكَ حَرَامٌ. فَلَمَّا كَانَ قَدْ أُبِيحَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ الشَّرَابُ الشَّدِيدُ , إِذَا كُسِرَ بِالْمَاءِ , ثَبَتَ بِذَلِكَ أَنَّهُ قَبْلَ أَنْ يُكْسَرَ بِالْمَاءِ غَيْرُ حَرَامٍ.

فَثَبَتَ بِمَا رَوَيْنَا فِي هَذَا الْبَابِ, إِبَاحَةُ مَا لاَ يُسْكِرُ , مِنَ النَّبِيذِ الشَّدِيدِ , وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ, وَأَبِي يُوسُفَ, وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالَى.(۱)

ترجمة: دابوهريرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې یو ستاسو څخه مسلمان وروړته ورسی اوهغه خواړه ورته ورواندی کړی نوتاسوهغه خوری اوپوښتنه یی مه کوی، اوچی تاسو ته دچیښلو شی کښېږدی نوتاسو هغه چیښی خودهغه په باره کی پوښتنه مه ځینی کوی، که دهغه څخه ویریدلی (دنشی په هکله) نودهغه (ختِه والی) په اوبو مات کړه.یعنی اوبه ورډیری کړه. په دغه حدیث باندی ثابته سول چې دنبیذ چیښل مباح اوحلال دی.

خودلته دحنفی مذهب یولوړعالم، فقیه اوممتاز محمدث امام طحاوی رحمة الله تعالی علیه داسی ملاحظه لری اوفرمایی: که یو څوک داسی وایی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه نبیذ ګاټه والی اوسخت والی داوبو تر

۱- شرح معانی الآثار کتاب الأشربة ج ۴ ص ۲۲۲

زیاتولو وروسته مباح ورته وویل، نوده ته ویل کیدایسی چې دغه قول فاسد دی، ځکه که دشدت اوسخت والی په وجه حرام وی، نودغه نه حلال کیږی که څه هم سخت والی داوبو په تویه ولوولاړ سی، ایاته نه ګوری چې پرخمر اوبه واچول سی آن تردی چې اوبه پرغالبه سی بیاهم دغه خمر حرام دی.

نودلته په دغه حدیث کی چې سخت شراب داوبو په ډیریدلو مباح سول، نوددی دا معنی ده چې داوبو ترډیریدلو دمخه هم حرام نه وه، نوپه دغه موضوع کی چې موږ کوم حدیث روایت کړی دی په هغه سره ثابته سوله، چې هغه نبیذ چې نشه نلری هغه مباح دی، همدغه دامام ابوحنیفة امام ابویوسف اوامام محمد رحمة الله تعالی علیهم دی.

دلته دامام طحاوی رحمة الله علیه دملاحظی داسی توجیه کیدایسی: چې اول خوپه دغه حدیث کی دخمراودنبیذ ذکرنسته د«شراب» ذکردی معنی داچی هرشراب چی نشه لری نبیذ وی، خمر وی، بل داسی شراب وی چی هغه دنشی دحالت څخه داوبو په ډیریدلو وزی نو اوبه ورزیاتول جایز اومباح دی.

دوم: داچی په مخکنی روایت کې داوبو ذکردی خو په دغه روایت کې نورهم تعمیم سوی دی وایی ددغه سخت والی په یوشی ورمات کړه، نوشی عام دی په هرشی چې دنشی دحالت څخه وزی نوهغه کول جایز دی.

دریم: داچې: دی وایی په دغه حدیث سره ثابته سوله هغه سخت نبیذ چی نشه نلری دهغه استعمال مباح اوجایزدی،اودغه دامام ابوحنیفة، امام ابویوسف اوامام محمد رحمة الله تعالی علیهم مذهب دی،نوداخو دټولو جمهورو فقهاؤ مذهب دی، هرهغه شی چی نشه نلری هغه مباح اوحلال دی، اوهرشی چی نشه لری په هرنوم چی وی هغه حرام اوناجایزدی، نوبیاخو اختلاف تاپخپله ختم کړی.

لکه داچې وايي: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ , قَالَ: " نُبِذَ لِعُمَرَ لِقُدُومِهِ فَتَأَخَّرَ يَوْمًا فَأُتِيَ بِنَبِيذٍ قَدِ اشْتَدَّ , قَالَ: فَدَعَا بِجِفَانٍ فَصَبَّهُ ثُمَّ صَبَّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَاءِ ". (۱)

ترجمة: دسعيد ابن المسيب څخه روايت دی چې دی وايي: دعمر رضی الله تعالی عنه دپاره نبيذ جوړ سوی وو، دی يوه ورځ ترخپل راتلو وځنډېدی، نو چې کله راغلی هغه نبيذ ورته راوړل سوله، اوهغه سخت سوی وو، دی وايي: نو عمر رضي الله تعالي عنه کاسه راوغوښتله اودغه نبيذ يې وهغی ته واچول، او بيايی په هغه کې اوبه واچولی.

اوپه دغه روايت کی خپله دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه څخه په ډير صراحت سره دامسئلة نقل سوی ده لکه چی فرمايي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ, قَالَ:سَأَلَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ أَبَا حَنِيفَةَ عَنِ الشَّرَابِ, قَالَ: حَدَّثُونَا مِنْ قِبَلِ أَبِيكَ رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَيْهِ , قَالَ: «إِنْ رَابَكُمْ فَاكْسِرُوهُ بِالْمَاءِ» فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللَّهِ: فَإِذَا تَيَقَّنْتَ وَلَمْ تَرْتَبْ. (۲)

ترجمة: عبد الله بن مبارک (رحمة الله عليه) څخه روايت دی، دی وايي: عبد الله بن عمر (رضی الله تعالی عنهما) دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه څخه دشرابو په باره کې پوښتنه وکړله، امام صاحب ورته وفرمايل: ستا دپلار دطرفه موږته حديث راغلی دی چی دی وايي: (که يی په شک کې اچولاست نوتاسو دغه په اوبو مات کړی) يعنی که په شرابو کې دنشه کيدلو شک درته پيداسی نودغه شراب په اوبو مات کړی يعنی اوبه ورزياتی کړی، نوعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما ورته وفرمايل: دادی يقين دی خوبياهم پرثابت نه يی.

زمادفکر په اندازه په دغه مبحث کی به دنور زياتوب او وضاحت ضرورت نه وی پاته ځکه خپله دامام صاحب څخه ثابته سوله چی ده ته دعمر رضی الله

۱- سنن الدار قطنی كتاب الأشربة -- ۲- سنن الدارقطني كتاب الأشربة ج۵ ص۴۷۱

تعالی عنه روایت رسیدلی دی چی هغه وایی شراب په اوبومات کړی چې دنشی دحالت څخه ووزی، اودهغه جواب موهم ولوستی.

نبیذ دهرشی څخه جوړیږی

دوهم قول دهغو جمهورو فقهاؤ دی چی وایی نبیذ دهرشی څخه جوړیږی، هغه نبیذ چې نشه نلری هغه حلال اوهغه چې نشه لری هغه حرام دی، ځکه نشه حرامه ده، دهغوی دلایل څه داسی دی: په حدیث کی راغلی دی: عَنْ أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي مُوسَى، عَنْ أَبِيه، قَالَ:بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ بِهَا أَشْرِبَةً، فَمَا أَشْرَبُ، وَمَا أَدَعُ؟ قَالَ: «وَمَا هِيَ؟» قُلْتُ: الْبِتْعُ، وَالْمِزْرُ، قَالَ: «وَمَا الْبِتْعُ، وَالْمِزْرُ؟» قُلْتُ: أَمَّا الْبِتْعُ: فَنَبِيذُ الْعَسَلِ، وَأَمَّا الْمِزْرُ: فَنَبِيذُ الذُّرَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لَا تَشْرَبْ مُسْكِرًا، فَإِنِّي حَرَّمْتُ كُلَّ مُسْكِرٍ».(۱)

ترجمة: ابوبکر بن ابی موسی دخپل پلار څخه روایت کوی چی زه رسول الله صلی الله علیه وسلم یمن ته ولیږلم، نوماورته وویل: ای دالله تعالی رسوله، بیشکه په یمن کی څه شرابونه دی، نوزه کوم چیښم اوکوم پریږدم؟ دمبارک وفرمایل: هغه چیشی دی؟ ماورته وویل: بتع اومزر دی، ده مبارک وفرمایل: بتع اومزر څه دی؟ نوماورته وویل: بتع دعسلو نبیذ دی اومزر دجوارو نبیذ دی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نشه کونکی شی مه چیښه، بیشکه ما ټول نشه کونکی شیان حرام کړی دی.

په بل حدیث کی داسی راغلی دی: عَنِ أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَاقَالَتْ:سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ البِتْعِ وَهُوَ نَبِيذُ العَسَلِ، وَكَانَ أَهْلُ اليَمَنِ يَشْرَبُونَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ.(۲)

۱- سنن النسائي كتاب الأشربة -- ۲- صحيح البخارى كتاب الأشربة

ترجمة: دابو سلمة بن عبد الرحمن څخه روايت دی، چې عائشی صديقی رضی الله تعالی عنها وفرمايل: درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه دبتع دحکم په باره کې پوښتنه وسوله (دغه بتع دعسلو نبيذ دی) ديمن خلکو چيښل، نورسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هرشی چې نشه لری هغه حرام دی.

په بل حديث کې راغلی دی: عَنْ ابْنِ سِيرِينَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ عُمَرَ فَقَالَ: إِنَّ أَهْلَنَا يَنْبِذُونَ لَنَا شَرَابًا عَشِيًّا، فَإِذَا أَصْبَحْنَا شَرِبْنَا قَالَ: «أَنْهَاكَ عَنِ الْمُسْكِرِ قَلِيلِه وَكَثِيرِه، وَأُشْهِدُ اللَّهَ عَلَيْكَ، أَنْهَاكَ عَنِ الْمُسْكِرِ قَلِيلِه وَكَثِيرِه، وَأُشْهِدُ اللَّهَ عَلَيْكَ، إِنَّ أَهْلَ خَيْبَرَ يَنْتَبِذُونَ شَرَابًا مِنْ كَذَا وَكَذَا، وَيُسَمُّونَهُ كَذَا وَكَذَا وَهِيَ الْخَمْرُ،وَإِنَّ أَهْلَ فَدَكٍ يَنْتَبِذُونَ شَرَابًا مِنْ كَذَا وَكَذَا، يُسَمُّونَهُ كَذَا وَكَذَا، وَهِيَ الْخَمْرُ حَتَّى عَدَّ أَشْرِبَةً أَرْبَعَةً أَحَدُهَا الْعَسَلُ».(١)

ترجمة: دابن سيرين څخه روايت دی، دی وايي: ابن عمر رضی الله تعالی عنهماته يو سړی راغلی اوورته وئی ويل: زموږ کورنی موږته ماښام نبيذ جوړوی نوسهار موږ هغه چيښو، ده ورته ووفرمايل: زه تادنشه کونکی شی څخه منع کوم، لږوی که ډير، اوزه الله تعالی په تاباندی شاهد جوړوم چې زه تا دمسکر څخه منع کوم، لږوی که ډير، اوزه الله تعالی په تاباندی شاهد جوړوم چې دخيبر خلګو دفلانې اوفلانې شيانوڅخه دنبيذ شراب جوړول اوفلانې اوفلانې نومونه يې باندی ايښو دل، اودغه خمر دی، اودفدک خلګو دفلانې اوفلانې شيانو څخه دنبيذ شراب جوړول، اوفلانې اوفلانې نومونه يې باندی ايښو دل اودغه خمر دی، آن تردی چې څلور قسمه شرابونه يې وشميرل يو په هغوی کی عسل وه.

په حديث کی راغلی دی:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ:أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَبِيذِ جَرٍّ يَنِشُّ فَقَالَ:اضْرِبْ بِهَذَا، الْحَائِطَ، فَإِنَّ هَذَا شَرَابُ، مَنْ لاَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ، وَالْيَوْمِ الآخِرِ. (٢)

ترجمة: دابوهريرة رضی الله تعالی عنه څخه روايت سوی دی چې دی وايي:

١- سنن النسائی كتاب الأشربة ٢- سنن ابن ماجة كتاب الأشربة

نبی صلی الله تعالی علیه وسلم ته دجر (دخاورو څخه جوړ سوی لوښی) نبیذ راوړل سول چې جوشیدل، نوده مبارک ورته وفرمایل: په دغه باندی دیوال ووله، بیشکه دغه دهغه چاشراب دی، چې پر الله تعالی اودآخرت پرورځ ایمان نلری.

په بل حدیث کې راغلی دی: عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنِّي كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ نَبِيذِ الأَوْعِيَةِ، أَلاَ وَإِنَّ وِعَاءً لاَ يُحَرِّمُ شَيْئًا، كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ.(۱)

ترجمة: دابن مسعود رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه ماتاسو دڅه لوښو دنبیذ څخه منع کړی واست، اوس خبراوسی بیشکه لوښی هیڅ شی نه حراموی، بلکې هرنشه کونکی شی حرام دی.

په بل حدیث کې راغلی دی: عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنِّي كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنِ الظُّرُوفِ، وَإِنَّ ظَرْفًا لا يُحِلُّ شَيْئًا وَلاَ يُحَرِّمُهُ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ»: (۲)

ترجمة: سلیمان بن بریدة دخپل پلار څخه روایت کوی او وایی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه ماتاسو دڅه لوښو څخه منع کړی واست، بیشکه لوښی نه یوشی حلال کوی اونه یې حرام کوی، خوهر نشه کونکی شی حرام دی.مطلب په هرلوښی کې چې وی که نشه لری حرام که نه نونه دی حرام.

په بل حدیث کی راغلی دی: عَنْ مَرْيَمَ بِنْتِ طَارِقٍ، قَالَتْ: دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فِي نِسَاءٍ مِنْ نِسَاءِ الأَنْصَارِ، فَجَعَلْنَ يَسْأَلْنَهَا عَنِ الظُّرُوفِ الَّتِي تُنْبَذُ فِيهَا؟ فَقَالَتْ: «يَا نِسَاءَ الْمُؤْمِنِينَ، إِنَّكُنَّ لَتَذْكُرْنَ ظُرُوفًا وَتَسْأَلْنَ عَنْهَا مَا كَانَ كَثِيرٌ مِنْهَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاتَّقِينَ اللَّهَ، وَمَا أَسْكَرَ إِحْدَاكُنَّ مِنَ الأَشْرِبَةِ فَلْتَجْتَنِبْهُ، فَإِنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ». (۳)

۱- سنن ابن ماجة كتاب الأشربة. ۲- سنن الترمذی كتاب الأشربة قال الترمذی هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ
۳- مصنف ابن أبی شيبة كتاب الأشربة ج۵ ص۷۸

ترجمة: دمریم بنت طارق څخه روایت دی: چې داوایي: زه دانصارو دښځو سره یوځای عائشې صدیقې رضی الله تعالی عنهاته ورغلو ،نودوی ددې مبارکې څخه دهغه لوښوپه هکله پوښتنې کولې چې نبیذ پکښې جوړیږي، نودې مبارکې ورته وفرمایل: ای دمومنانو ښځو بیشکه تاسو دلوښو ذکرکوی اودهغو لوښو پوښتنه کوی چې ډیردهغوی څخه دنبی کریم صلی الله تعالی علیه وسلم په زمانه کې موجود نه وه، نوتاسودالله تعالی څخه وبیریږئ، هغه شی چې تاسو نشه کوی دهغه څخه ځانونه وساتئ، بیشکه هرنشه کونکی شی حرام دی.

دپورته ذکرسوی ټول بحث خلاصه همدا سوله چې هرشی په هرنوم چې وی، خمر وی که نبیذ، په هرلوښې کې چې وی، که نشه لری نوهغه حرام دی اوکه نشه نلری هغه مباح اوحلال دی، ځکه دټول بحث په آخرکی خپله دحنفی مذهب ډیر محترم محقق، فقیه اومفسر هم وفرمایل چې دامام ابوحنیفة، امام ابویوسف اوامام محمد رحمة الله تعالی علیهم هم داغه مذهب دی چې کوم نبیذ نشه لری حرام دی، اوچې نشه نلری هغه حلال دی دهرشی څخه چې جوړ سوی وی.

قیل لأعرابی أتشرب النبیذ ؟ فقال لاأشرب مایشرب عقلی.

ترجمة: یوصحرایي ته چاویل ایا ته نبیذ چیښې؟ ده ورته وویل زه هغه شی نه چیښم چې زما عقل چیښې.

دلته هم دمطلق نبیذ ذکردی دیوخاص شی څخه جوړسوی نبیذ مراد نه دی، نه ممیز اونه خرما مراد ده، بلکی هغه مراد دی چې نشه لری.

دخمر د حرمت حکمت

داچې رب العالمین دانسانانو پلار آدم علیه السلام دنیاته دخپل خلیفه په حیث راولیږی اودغه یې ورته وفرمایل:(قُلْنَا اهْبِطُواْ مِنْهَا جَمِيعاً فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ) او مورږ آدم اوحواء ته وویل چې دجنت څخه ټوله کښته سی، نو زما دطرفه به تاسو ته لارښودنی راځی، چاچې زما دلار ښودنو متابعت وکړی نوپرهغه باندې به بیره په دنیاکې نه وی، اونه به په آخرت کې پرخپلوکړو غمگین وی.

مځکې ته دانسانانو په راتلوسره دنوروحکمتونوسره کیدایسی یوحکمت دا هم وی چې دانسانانوپه ذریعه دکور،کلی، ښار، ملک اومځکې تعمیر او آبادی وکړی نوځکه یی ددغه حکمت دپوره کولو دپاره انسان ته عقل اونورو حیوانانو ته شعور ورکړی، چې دهمدغه عقل په ذریعه دخپل ځان دپاره دغه مځکه داسې آباده کړی چې نه یوازی دده اودده داولادونو دپاره بلکې دټولو ساکښانو دپاره دژوند کولو دهوساینی تاټوبی وی، چې په هغه کې ټول انسانان دهر رنګ، ژبی، نسل او مذهب خاوندان دیوی انسانی کورنی په شان ژوند سره وکړی، اوپه ګډه سره نه یوازی دغه دنیاځان ته جوړه کړی، بلکې ددغه په ذریعه دآخرت وهغه وعده کړه سوی جنت ته هم ځانو نه ورسوی، او ددوزخ داورڅخه هم خپل ځانونه وساتی.

دغه ټوله هغه وخت کیدایسی چې ددوی عقل سالم وی ځکه دغه هرڅه په عقل سره کیږی، نو ځکه الله عزوجل انسانانوته دخپلو هدایاتو دجملی څخه دوی ته داسې هدایات راولیږل، چې دهغوی په مراعات کولوسره نه یوازی داچې ددوی دعقلونو ،مالونو، اودین حفاظت کول کیږی، بلکې ددوی دمعاشری اوټولنی ساتنه هم کول کیږی، چې دهغو هدایاتو دجملی څخه دغه لاندنی دوه آیتونه هم دی:

۱ – (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ

الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ(٩٠)

٢- إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ ٱلْعَدَاوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ فِى ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَاةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ. (٩١) سورة المائدة

ترجمه: ای مومنانو بیشکه شراب، قمار، بتان اوغشی چې دفال لپاره وشتل کیږي، داځلورسره شیان پلیت اودشیطان دکارونو څخه دي. نوتاسی ددی څخه ځانونه وساتی، کیدایسی چې په دی ځان ساتلو سره نجات پیداکړی.

بیشکه شیطان غواړی چې ستاسوپه منځ کې دښمنی اوکینه واچوی دشرابو دڅیښلو اودقمار جواری په وجه دالله تعالی دذکراولمانځه څخه موبند کړی، نو ایاتاسو منع کیدونکې بندی دونکې یاست؟ بلکې ځنی منع او واوړی.

تفسیر: دشرابودڅیښلوداثرڅخه دسړی عقل اوهوش دسره ولاړسئ، ډیر ځله شرابیان اونشیان دلیونیانو په شان په خپلومینځوکې یودبل سره جنګونه او جګړی کوی یودبل سره وهی، چې کله پرسدسی بیاهم کله کله دجنګ اثار په دوی کې پاته وی، اویودبله عداوتونه اوعنادونه سره کوی، همدغه حال بلکې تردینه هم زیات بد دقمار بازانواوجوارګرودی،چې دقمار په وړلواوبایلوکې سختی جګړی اوفسادونه پیښیږی،چې دهغوی په وسیله شیطان ته چې دانسان ازلی دښمن دی ښه موقع د شور ماشورپه لاس ورځی، داخویی ظاهری خرابی سوی اوباطنی نقصان یی دادی چې دداسې شیانوپه مشغول کیدلو سره انسان دالله تعالی دذکر او عبادت، لمانځه څخه بیخی غافل کیږی،اوددی خبری شاهد اودلیل تجربه او مشاهده ده، چې په کلی اوکوڅوکې موږ ټول وینو چې څوک په داسې نشه کونکې شیانو اوقمار باندې اخته وی هغه نه یوازی داچې دعبادت اولمانځه څخه غافل وی، بلکې خوراک، څیښاک، ژوند ،کوراوکهول ټول ځنی پاته وی، چې دغه ددین، دنیا اوټولنی دخرابی باعث دی، نوچې دغه شیان داسې ظاهری او باطنی نقصانونه لری، نوځکه

الله تعالی انسان ته لاربنودنه وکړه چې پوه سی او خپل ځانو نه وساتي.

فائده: په دغه دواړو آیتونوکې دخمراوقمار دحرام والي تائید اوتاکید په لس ډوله سوی دی ۱- داچې جمله یې په انما سره شروع کړه تاکید فایده کوي. ۲- دبت پرستی په شان یې وفرمایل. ۳- پلیت یې وبلل. ۴- دشیطان عمل یې وبالی. ۵- داجتناب امریې وکړی. ۶- اجتناب یې دنجات ذریعه وبلل ۷- داچې دعداوت، بغض اوکینې موجب دی. ۸- دالله تعالی دذکر او عبادت څخه ګرځیدونکې دی ۹- دلمانځه څخه بندیدونکې دی. ۱۰- صریح امر سوی دی چې دخمر اوقمارڅخه ځانونه بند کړي.

همداوجه ده چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته ‹ام الخبائث› دټولو پلیتو شیانو مور ویلی دی، ځکه نشه دانسان عقل، بدن، اخلاق، نفس، کورنی او ټولنه خرابوي، نوځکه رب العالمین دمطلق پرهیزکولوامرکړی دی اودغه امر واجب دی چې په هیڅ ډول اوصورت به نه ورنیزدې کیږي.

داچې نشه عقل خرابوي ډیرو خلګو داسلام ترراتلو دمخه چې حرام نه وه هم شراب نه چیښل لکه داچې ویل کیږي: قیل لعثمان رضی الله تعالی عنه مامنعک من شرب الخمرفی الجاهلیة ولاحرج علیک فیها؟ قال إنی رأیتها تذهب العقل جملة، ومارأیت شیئا یذب جملة ویعود جملة. (۱)

ترجمة: عثمان رضی الله تعالی عنه ته چاوویل: تاولی په جاهلیت کې شراب نه چیښل چې څه ګناه یې نه درلودله؟ ده ویل: مالیدلی دی چې نشه ټوله عقل وړي، ماداسې نه دې لیدلی چې یوشی مکمل ولاړسی هغه بیرته واپس مکمل راسی.

په بل ځای کې وایي:سقی قوم أعرابیة مسکرا فقالت أیشرب نساؤکم هذا الخمر؟ قالوا نعم، قالت لئن کنتم صدقتم لایدری أحدکم من أبوه.(۲)

۱- ذم المسکر ص ۱۰ --- ۲- کتاب الأشربة ص ۴۲

ترجمة: يوصحرايي ښځې ته چا شراب وروڅښل، نودی ورته وويل ستاسو ښځې هم دغه خمرڅښي؟ دوی ورته وويل هو، دی ورته وويل که تاسو رشتيا واياست نوستاسوښځه يوهم خبرنه دی چې پلار يې څوک دی.

يوشاعر وايي: أرى كل قوم يحفظون حريمهم + وليس لأصحاب النبيذ حريم

إذاجئتهم حيوک الفا ورحبوا + وان غبت عنهم ساعة فذميم

فهذا بيان لم أقل بجهالة + ولكني بالفاسقين عليم. (١)

ترجمة: زه وينم چې هرقوم دخپل حريم حفاظت کوی + خودنبيذ خاوندانو ته هيڅ حريم نسته. کله چې دوی ته راسی نوزرواره ښه راغلاست اومرحبادرته وايي + خوکه يوساعت ځنې غائب سی بيادی بدوايي. دغه بيان زه په جهالت نه وايم + خوزه په فاسقانو خبر يم.

ابن القيم رحمة الله تعالى عليه په خپل کتاب کې ليکلی دی: حرم الله شرب القطرة من الخمر وإن لم تحصل مفسدة الكثير، لكون قليلها ذريعة إلى كثيرها.(٢)

ترجمة: الله تعالى دخمر يوڅاڅکې هم حرام کړی دی، که څه هم ډير فساد ځنې پيدانسی، ځکه چې لږيې وډيروته بلنه ورکوی.

اوپه بل کتاب کې ليکلی دی: إن الله تعالى حرم الخمر لمافيه من المفاسد الكثيرة المرتبة على زوال العقل...والتحريم لكافة المحرمات على هذه الأمة هوتحريم حفظ وصيانة لاتحريم عقوبة، وتحريم الخمر صيانة للعقول وحفظ لها.(٣)

ترجمة: بيشکه الله تعالى نشه حرامه کړی ده ځکه چې په دغه کې ډير مفاسد دی، هغه داچې دعقل زائل کيدل پر مرتب کيږی، الله تعالى چې کوم شيان پر دغه امت حرام کړی دی، هغه حرام والی دحفظ اوساتنې دپاره دی، دعقوبت اوعذاب دپاره نه دی، دخمر حراميدل دعقلونو د حفاظت اوساتنې دپاره دی.

١- ذم المسكر ص ١٠ -- ٢- إغاثة اللهفان ج ١ ص ٣٦١ -- ٣- إعلام الموقعين ج ٣ ص ١٥١

په بل کتاب کې ليکلی دی: حرم الله السکرلشيئين ذکرهما في کتابه: وهما إيقاع العداوة والبغضاء بين المسلمين، والصد عن ذکرالله وعن الصلوة، وذالک يتضمن حصول المفسدةالناشئة من النفوس بواسطة زوال العقل وإنتفاءالمصلحة التي لايتم بهاإلا العقل.(۱)

ترجمة: الله تعالی خمر ددوو وجهو حرام کړی دی چې دواړی وجهی يی په خپل کتاب کې بيان کړی دی، يوداچې دمسلمانانو په منځکې دښمني اوکينه پيدا کوی، اوبل دالله تعالی دذکر او لمانځه څخه بندوی، اودغه ددی سبب دی چې دنفسونوڅخه دعقل دليری کيدلوپه وجه داسې مفاسدرامنځ ته کيږی او مصلحتونه نيستی کيږی چې هغوی بيله عقله نه پوره کيږی.

دپورتني تحقيق څخه ثابته سوله چې دنشی دحراموالی حکمتونه که څه هم ډيردی خو ترټولو لوی حکمت دانسان دعقل ساتنه ده چې په هغه سره دټولنی آباديدل، دانسانی نسل اوټولنی ساتنه ده، خودغه حکمتونه يوازی دخمر په حرامولو سره نه بلکې دنشی په حرامولو سره حاصليږی، ځکه په اصل کې نشه دانسان عقل خرابوی، اودهری بدی سرچينه ده، ځکه موږ وينو چې څوک هيروئن، چرس، اوافيون خوری يادموجوده وخت نورمنشيات استعمالوی دهغوی حال تر هغو ډيربدوی چې دانګورو شراب چيښی،نونشه دهرشی چې وی حرامه ده، لکه څرنګی چې پورته په پوره تفصيل سره بيان سو.

نوکوم علماء چې خلګوته دخمرمعنی يوازی دانګورو په شرابوکوی هغوی ته په کارده چې ددغه کتاب ترمطالعی وروسته پرخپلومعلوماتونظرثانی وکړی، اودخمردعامی معنی سره موافقه وکړی اوهرنشه کونکی شی داسی حرام وبولی لکه دوی چی دانګورو شراب حرام بولی، ترڅو ټولنه دنشی څخه پاکه سی، اوعام مسلمانان دحرامو داستعمال څخه خلاص سی.

۱- مدارج السالکين ج ۳ ص ۳۰۶

دخمرپه وجه پرلسو کسانو لعنت ویل سوی دی

داچې په اسلامی شریعت کې شراب څومره سخت منع اوحرام دی دهغه اندازه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ددی حدیث څخه معلومیږی: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الخَمْرِ عَشَرَةً: عَاصِرَهَا، وَمُعْتَصِرَهَا، وَشَارِبَهَا، وَحَامِلَهَا، وَالمَحْمُولَةُ إِلَيْهِ، وَسَاقِيَهَا، وَبَائِعَهَا، وَآكِلَ ثَمَنِهَا، وَالمُشْتَرِي لَهَا، وَالمُشْتَرَاةُ لَهُ.(۱)

ترجمة: دانس بن مالک رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې دی وایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم دخمر په وجه پرلسو کسانو لعنت ویلی دی، نستیرونکی، دچادپاره چې نستیرل کیږی، چیښونکی، بارونکی، دچادپاره چې بارکیږی، ورچیښونکی، خرڅونکی، دقیمت خوړونکی، رانیونکی، دچادپاره چې رانیول کیږی.

په دغه حدیث کی راغلی دی چې الله تعالی لعنت پروایی: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ، وَشَارِبَهَا، وَسَاقِيَهَا، وَبَائِعَهَا، وَمُبْتَاعَهَا، وَعَاصِرَهَا، وَمُعْتَصِرَهَا، وَحَامِلَهَا، وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ».(۲)

ترجمة: دعبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی، چې دی وایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی لعنت ویلی دی، پرخمر باندی، اودهغه پرچیښونکې، اوپرورچیښونکې، پرخرڅونکې اورانیونکی، اوپر نستیرونکې، دچا دپاره چې نستیرل کیږی، پربار وړونکې اودچا دپاره چې بارکړه سوی وی.

په پورتنیو ذکرسوی حدیثونو کی دخمر لفظ ذکرسوی دی، نودلته هم یوازی

۱ سنن الترمذی کتاب الأشربة -- ۲- سنن أبی داود کتاب الأشربة

دانګورو داوبو شراب مراد نه دی، بلکې دمخکنی تحقیق مطابق دخمر څخه عامه معنی مراد ده، یعنی هرنشه کونکی شی مراد دی، ځکه هلته موږ لیکلی دی چې دانګورو ساده شیره چې نشه نلری حرامه نه ده، کله چې داغه شیره دنشی حالت ته ورسیږی نوبیاحرامه دی، ځکه دحرمت علت یې نشه ده،نودغه علت چې په هرشی کې پیداسی هغه خمر دی،مطلب داچې کومه نشه عقل،نسل،ټولنه اومعاشره خرابوی، دهغې څخه اجتناب اوپرهیز کول واجب دی، ځکه همدغه نشه ده چې د انسان عقل زائل کوی،اوهرڅه مفاسد چې بناکیږی هغه دعقل پرزائل کیدلودی، نو دغه حکم چې نبی کریم صلی الله تعالی علیه وسلم دخمر په لفظ ذکر کړی دی وټولو هغه نشه کونکو شیانو ته شامل دی چې انسانی عقل اوټولنه خرابوی، او کوم لعنت چې پرکوموکسانو دخمر په هکله په پورته ذکر سوی حدیثونوکې ویلی سوی دی هغه دټولونشه کونکوشیانوپرجوړونکوخرڅونکورانیونکو،خوړونکواو داسې نوروته شامل دی، داځکه چې زموږ مخکنې ټول تحقیق اوتفصیل پردغه موضوع ووچې دخمرمعنی عامه ده وټول نشه کونکوته شامله ده،دعربی لغت دنظره د حدیثونو او دمفسیرینو دنظره، داصول فقه دنظره، دفقهاؤ دنظره، چې هغوی ټولو دخمر معنی عامه کړی ده، یعنی مطلق نشی ته خمر وایی دهرشی څخه چې وی.

یادونه: یوعالم چې دخپل نوم یادول نه غواړی ددغه کتاب دتصحیح په وخت کې یوه ملاحظه لیکلی ده: هغه داچې دلته ته افیون پرخمرقیاس کوی او دغه قیاس بیله دلیله اوصحیح نه دی، دلته باید یوصریح دلیل ذکرسی؟

په جواب کې داسې عرض دی چې تردغه بحث لږمخکې موږ لیکلی دی او دامو ثابته کړه چې هرنشه کونکې شی ته په عربی لغت، حدیث، تفسیر، اصول فقه اوفقه کې خمر ویل کیږی، اودخمر دلفظ معنی عامه ده، یوازی دانګورو تازه اوبه مراد نه دی، نوددی دپاره چې بیاداسې سوال چاته پیدانسی نودهغوی څخه هیله

درخواست دی چې ټول کتاب تقریبا پر دغه یوه موضوع مشتمل دی، او دداغه یوی موضوع څخه بحث سوی دی، هغه داچې دخمر لفظ اومعنی عامه ده، دهمدی مطلب داداء کولو دپاره دغه ټول بحثونه سوی دی.

هغه لوستونکې به ضرور دداسې سؤالونو سره مخامخ کیږی چې کتاب دمنځ څخه ګوری اویاخاص یوبحث یامضمون پکښی ګوری.

مطلب داچې موږ کوشش کړی دی اوپه هرنوع دلائلو ثابته سوله چې افیون اونور نشه کونکې شیان په خپله خمردی ځکه نشه لری داسې نه چې پر خمر قیاس سوی دی، په کوموقطعی دلایلوچی تاسوخمرحرام بولی په هغوی سره نور منشیات هم قطعی حرام دی دهرشی څخه چی وی.

داصول فقه په بحث کې چې موږ دقیاس، علت اوعطف بالواو بحث کړی دی هغه هم دهمدی مقصد دپاره سوی دی چې خپله داحنافو دمذهب مطابق هم خمر دنشی په معنی دی، داسې نه چې موږ قیاس کوو یادقیاس په وجه موږ پر نورو شیانو بې دلیله دحرامو حکم کوو(العیاذ بالله) که هغه بحثونه په سرسری نظر وکتل سی نوهم انشاء الله تعالی مشکل رفع کیږی.

همداوجه ده زماڅخه څه ځایونه تکرار کیږی، ددی دپاره چې دهغو لوستونکو دپاره یادونه سی کوم چی کتاب دمنځ څخه مطالعه کوی.

دسکرتعریف دعربی لغت دنظره

په دغه بحث کې یوه بله مهمه نکته دسکرتعریف دی، ځکه دبحث اوحرمت ټول دار ومدار پرسکر اونشه باندی دی، اوپه قرآن کریم کې رب العالمین دسکر لفظ ذکر کړی دی اوفرمایي (لاَ تَقْرَبُوا الصَّلاَةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى) سکاری دسکر جمع ده، نوځکه دلته دسکر تعریف ته اشاره کول ضروری ده چې سکرڅه ته وایی، ځکه دسکر تعریف په څه کتابونو کې داسې لیکلی سوی دی چې دهغه په وجه هم څه علماؤ او فقهاؤ دڅه شیانو په حراموالی کې اختلاف کړی دی، چې دهغه په وجه هم عوامو اوڅه خواصوته بهانی جوړی سوی دی اودحرامو په خوړلواواستعمال کې لاپرواهی کوی، لکه افیون، چرس، چلم، سګریټ،نسوار، بیړی او داسې نور، ځکه په داسې بی احتیاطی سره ددغو شیانو استعمال کول کیږی لکه بیخی چې حرام نه وی.

کله چې دیوعالم سره دغه موضوع شریکه سی نوهغه وایی چې دغه دومره نشه نه لری چې نارینه اوښځه،یامځکه اوآسمانه نه سره پیژنی، دسکرداسې تعریف هم ډیروخلګوته دنشه کولوزمینه برابره کړی ده نوځکه ضروری ده چې دسکر دتعریف وضاحت وسی کیدایسی ډیر خلګ دداسې ناولی کار څخه خلاص سی.

که په ډیر سطحی نظر ورته وګورو نوهم په ښکاره ډول معلومیږی چې دخمر په پورتنیو ذکر سوی ټولوتعریفونو،آیتونو اوحدیثونوکې دحرام والی یو علت یا لفظ شریک دی چې هغه د سکریانشی دی، ځکه خوهمدا اسکراونشه ده چې دانسان پرعقل پرده اچوی اودی دلمانځه څخه منع کوی، اودی چې څه وایی په هغه نه پوهیږی، نوځکه الله تعالی ودوی ته حکم کوی چې ترهغو لمانځه ته مه نزدې کیږی ترڅوچې تاسوڅه وایاست اوپه هغه وپوهیږی.

سکر:دعربی ژبی لفظ دی، نوځکه دده معنی په عربی قاموس کې لټول

ضروري دی، دعربی لغتو دځو کتابونو په حواله ځو معنی ګانی سوی دی چې څه په لاندی ډول ليکلی دی: ١- المسکر: وهی تطلق فی اللغة علی کل مايغطی العقل ويخرجه عن طبيعته المميزة .

قال صاحب القاموس المحيط: سکر کفرح نقيض صحا. والسکر محرکة الخمر وکل ما يسکر .(١)

ترجمة : دمسکر په لغت کې پرهرهغه شی اطلاق کول کيږی چې پر عقل پرده اچوی اودی دخپل تميز کونکې طبيعت څخه باسی.

دقاموس محيط مؤلف وايی: سَكَرَ لکه فَرِحَ دويښ يابيداره نقيض دی. او ددی محرک يا باعث خمر او هرهغه شی دی چې نشه راولی .

٢- وقال الجوهری: السکران خلاف الصاحی.(٢)

ترجمة: اوجوهری وايی سکران يانشه دبيداره خلاف دی.

٣-وفی اللغة:سکرفلان من الخمرسکرا،أی غاب عقله وإدراکه فهوسکر وسکران وهی سکری وسکرة وسکرانة ، وهم سکاری.(٣)

ترجمة : يعنی داسې ويل کيږی چې فلانی په خمرو نشه دی، يعنی عقل او ادراک يی غائب سو نو دی نشه دی، مؤنث يی سکری سکرة وسکرانة راځی ، جمع يی سکاری راځی.

٤- السکرهوأن يغيب عقل الإنسان ويختلط من الخمر مسکرا. وعند مايغيب عقل الإنسان ورشده يعامل الناس بحمق و ويسئ إلی بعضهم بالقول أوالفعل، ويضيع نعمة العقل التی وهبها الله له، فيفعل من المحرمات والمفاسد، ويصيب جسمه بالأضرار الصحية العديدة التی تسببها الخمر، ولهذا يعاقب الشرع الحنيف، حتی لايعاود السکر مرة أخری،

١- مختصرا من ترتيب القاموس المحيط ج ٢ ص ٥٨٥ -- ٢- مدارج السالکين للجوهری ج ٢ ص ٦٨٧

٣- القاموس الإسلامی للناشئين والشباب ص ٥٣

كمايكون في عقابه هذا ردع لغيره ، وزجر له حتى لايقترف مثل ذلك الإثم.(١)

ترجمة : نشه داده چې دانسان عقل دنشه کونکې خمر په وجه غائب اوګډ وډ سي، اوکله چې دانسان عقل اورشد غائب سي نودخلکو سره په بې عقلی معامله کوي، اوڅه کسانو ته په قول اوفعل سره بد رسوي، نشه دانسان عقل هغه نعمت ضایع کوي هغه چې الله تعالی وده ته هبه کړی دی، نودی بیا حرام او فاسد کارونه کوي، اودده جسم اوصحت ته ډیر ضررونه رسیږي، چې هم دغه خمر یانشه یې سبب سي، نوځکه شریعت مطهرة دده لپاره سزاګانی مقرری کړی دی، ترڅودی بیا نشی ته راونګرځی، ترڅو دغه سزاګانی دنورو لپاره هم زجر اوعبرت سی، او بیا وداسې ګناهونو ته نژدې نسی.

دسکر تعریف دفقهي په اصطلاح کې

دسکر یانشی په تعریف کې دحنفی فقهاؤ په کتابونوکې ډیر ژور اختلاف نقل سوی دی، اودغه اختلاف هم خپله دامام ابوحنیفة اودده دشاګردانو «رحمة الله تعالی علیهم» ترمنځ دی، چې امام صاحب یوطرف اونورجمهور فقهاء اودامام صاحب شاګردان بل طرف دی، داچی موږ مخکې دسکر معنی دعربی لغت دنظره تشریح کړله نواوس به اوګورو چی دفقه دنظره سکر څه ته وایي، داددی دپاره هم ضروری دی چې څه علماء دهمدغه اختلاف پربنیاد دځه نشیی شیانو دحلال والی یا اباحت حکم ورکوی، نوپه دغه بحث کی به هم دنورو بحثونو په شان خپله دحنفی فقهي دډیرو معتبرو کتابونو دعبارتونو په حواله دغه موضوع وڅیړو، ترڅو حقیت واضح سی اولوستونکی خپله قضاوت وکړي، چی ددلیل دلحاظه کومه لاره قوی اوحق ده، په مختصر ډول دځو فقهاؤ عبارتونه دکتابونو په حواله لیکم.

١- القاموس الإسلامی للناشئین والشباب ص ٥٣

۱- وفى التلويح: السُّكْرُ: وَهِيَ حَالَةٌ تَعْرِضُ لِلإِنْسَانِ مِنْ امْتِلاءِ دِمَاغِهِ مِنَ الأَبْخِرَةِ الْمُتَصَاعِدَةِ إِلَيْهِ، فَيَتَعَطَّلُ مَعَهُ عَقْلُهُ الْمُمَيِّزُبَيْنَ الأُمُورِالْحَسَنَةِ، وَالْقَبِيحَةِ، وَالسُّكْرُحَرَامٌ إِجْمَاعًا.(۱)

ترجمة:داصول فقه په شرح تلويح نومي كتاب كې دسكرتعريف داسې ليكلى دى: سكر يانشه هغه حالت دى چې وانسان ته ددى څخه پيښيږى چې دماغ يي دبخارونو څخه ډک سى، نودده عقل معطل سى، هغه عقل چې دښواوبدو تر منځ به يى تميز كاوه، اوسكر په اجماع سره حرام دى.

يعنى دغه شى چې دى ئى دنشى لپاره خورى يااستعمالوى داغه په خپله ددى معنى ده چې دى دښو اوبدو تميز نسى كولاى، اوپه خير اوشر نه پوهيږى كه نه نو ولى به يى خوړلاى.

۲- (وَالسَّكْرَانُ مَنْ لاَ يُفَرِّقُ بَيْنَ) الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ وَ (السَّمَاءِ وَالأَرْضِ. وَقَالاَ: مَنْ يَخْتَلِطُ كَلاَمُهُ) غَالِبًا، فَلَوْ نِصْفُهُ مُسْتَقِيمًا فَلَيْسَ بِسَكْرَانَ (وَيُخْتَارُ لِلْفَتْوَى) لِضَعْفِ دَلِيلِ الإِمَامِ. (۲)

ترجمة: نشه انسان هغه دى چې دنارينه اوښځى، دمځكې اواسمان ترمنځ فرق نسى كولاى. دغه (دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه قول دى)خودده ياران لكه امام ابويوسف اوامام محمدرحمة الله عليهما وايى: نشه هغه انسان دى چې غالب ياډيرى خبرى ګډى وډى كوى، كه يى نيمايى خبرى ګډى وډى وى نوهغه نشه نه دى، په همدغه قول باندې فتوى كول كيږى، ځكه دامام صاحب دليل ضعيف دى.

۳- السَّكْرَانُ فِي الْعُرْفِ مَنْ اخْتَلَطَ كَلاَمُهُ جِدُّهُ بِهَزْلِهِ، فَلاَ يَسْتَقِرُّ عَلَى شَيْءٍ، وَإِلَيْهِ مَالَ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ وَاخْتَارَهُ لِلْفَتْوَى. (۳)

۱- شرح التلويح على التوضيح ج ۲ ص ۳۶۹ -- ۲-الدرالمختار شرح تنويرالأبصار كتاب الحدود ص ۳۱۲

۳- درر الحكام فى شرح غرر الأحكان ج۲ ص ۶۹

ترجمة: په اصطلاح کی نشه هغه څوک دی، چې دقصد خبری دمسخرو سره ګډی وډی کوی، پریوه شی باندی ثابت نه وی ، ودغه تعریف ته ډیرو(حنفی) شیخانو رجوع ده،اوهم دغه تعریف یی دفتوی دپاره اختیار کړی دی.

۵- وَالسکر الْمُوجب للحد أن لاَیعرف الرجل من الْمَرْأة وَالأَرْض من السَّمَاء, وَعِنْدَهُمَا أَن یهذي ویخلط فِي کَلاَمه, وَبه یُفْتی. (۱)

ترجمة: هغه نشه چې حد پرجاری کیږی دادی چې نارینه دښځی اومځکه دآسمان څخه نسی جلاکولای.اودیارانو په نزدنشه هغه دی چې غیرمعقول خبری کوی، اوګډی وډی خبری کوی، اوپردغه قول فتوی کول فتوی سوی ده.

۶- (وَالسُّکْرُ الْمُوجِبُ لِلْحَدِّ أَنْ لاَ یَعْرِفَ الرَّجُلَ مِنْ الْمَرْأَةِ، وَالأَرْضَ مِنْ السَّمَاءِ) هَذَا حَدُّهُ عِنْدَ الإِمَامِ.

(وَعِنْدَهُمَا أَنْ یَهْذِيَ وَیَخْلِطَ فِي کَلاَمِهِ) أَنْ یَکُونَ أَکْثَرُ کَلاَمِهِ هَذَیَانًا، فَإِنْ کَانَ نِصْفُهُ مُسْتَقِیمًا فَلَیْسَ سَکْرَانَ، وَإِلَیْهِ مَالَ أَکْثَرُ الْمَشَایِخِ. (وَبِهِ) أَيْ: بِقَوْلِ الإِمَامَیْنِ (یُفْتَی) کَمَا فِي أَکْثَرِ الْمُعْتَبَرَاتِ؛ لأَنَّهُ الْمُتَعَارَفُ. وَاخْتَارُوهُ لِلْفَتْوَی لِضَعْفِ دَلِیلِ الإِمَامِ، وَالْمُعْتَبَرُ فِي قَدْرِ السُّکْرِ فِي حَقِّ الْحُرْمَةِ مَا قَالاَهُ بِالاتِّفَاقِ لِلاحْتِیَاطِ. (۲)

ترجمة:نشه چې حدپرجاری کیږی دادی چې نارینه دښځی اومځکه دآسمان څخه نسی جلاکولای. دغه تعریف دامام ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد دی

اودده دیارانو په نزد نشه هغه دی چې غیرمعقولی خبری کوی، اوخبری ګډی وډی وی، هغه داچی دخبرو ډیره حصه یی ګډی وډی وی، که دخبرو نیمه حصه برابری وی نوهغه نشه نه دی.

ودغه قول ته ډیرو (حنفی) شیخانو رجوع ده، دهمدغه امامانو پرقول فتوی ده، اودغه په ډیرو معتبرو کتابونو کې دی، اودغه معنی په عامه اصطلاح

۱- ملتقی الأبحر ج ۱ ص ۳۶۲ --- ۲- مجمع الأنهر فی شرح ملتقی الأبحر ج۱ ص ۶۰۳

کي مشهوره ده، اودغه قول دوی دفتوی دپاره غوره کړی دی، ځکه دامام صاحب دقول دلیل ضعیف، دنشي دحرمت په حق کي معتبره اندازه هغه ده چي یارانو ویلی دی، اوپردغه دعلماؤ اتفاق دی داحتیاط دپاره.

٧- أَبُوحَنِيفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ السَّكْرَانُ الَّذِي يُحَدُّ: هُوَ الَّذِي لاَ يَعْقِلُ قَلِيلاً وَلاَ كَثِيرًا، وَلاَ يَعْقِلُ الأَرْضَ مِنْ السَّمَاءِ وَالرَّجُلَ مِنْ الْمَرْأَة. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَى وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ، السَّكْرَانُ هُوَ الَّذِي يَغْلِبُ عَلَى كَلاَمِه الْهَذَيَانُ.

(وَجْهُ)قَوْلِهِمَا:شَهَادَةُ الْعُرْفِ وَالْعَادَة، فَإِنَّ السَّكْرَانَ فِي مُتَعَارَفِ النَّاسِ اسْمٌ لِمَنْ هَذَى، وَإِلَيْهِ أَشَارَسَيِّدُنَا عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِقَوْلِهِ: إِذَا سَكِرَ هَذَى، وَإِذَا هَذَى افْتَرَى، وَحَدُّ الْمُفْتَرِي ثَمَانُونَ.

وَأَبُو حَنِيفَةَ عَلَيْهِ الرَّحْمَةُ يُسَلِّمُ ذَلِكَ فِي الْجُمْلَة، فَيَقُولُ: أَصْلُ السُّكْرِ يُعْرَفُ بِذَلِكَ، لَكِنَّهُ أُعْتُبِرَ فِي بَابِ الْحُدُودِ مَاهُوَ الْغَايَةُ فِي الْبَابِ احْتِيَالاً لِلدَّرْءِ الْمَأْمُورِ بِهِ، بِقَوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «ادْرَءُوا الْحُدُودَ مَا اسْتَطَعْتُمْ». (١)

ترجمة: دامام ابوحنیفة رضی الله تعالی عنه په نزد هغه نشه انسان چي حد پرجاری کیږی، هغه دی چي نه لږ اونه ډیر پوهیږی، اونه مځکه اوآسمان، او نارینه اوښځه سره پیژني، ابویوسف رحمة الله علیه اومحمد رحمة الله علیه فرمایي: نشه انسان هغه دی چي پرخبرو یي بي عقلی غالبه وي.

دیارانودقول دلیل:دخلګو اصطلاح اوعادت دی، ځکه دخلګو په اصطلاح کې نشه دهغه چانوم دی چي (دنشي داستعمال په وجه) بي عقلی خبری کوی، وهمدغه ته علی رضی الله تعالی عنه په خپل قول کي اشاره کړی ده فرمایي: چي نشه سی بی عقل سی، چي بی عقل سی بیهوده اوبیکاره خبری کوی، چي بیکاره خبری کوی نوپوچ اوښکنځل کوی، نودداسی انسان حد اتیا دوری دی.

١- بدائع والصنائع ج ٥ ص ١١٨

امام ابو حنیفة رح فی الجملة ددغو ټولوسره موافق دی اووایي: چې دنشې اصل خوپه داغه سره معلومیږي (لکه یاران چې وایي) خودحد په باب کې دنشې وآخرنی حد ته اعتبارسته، ترڅو په هغه ماموربه حیله باندی عمل وسی، هغه داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم امرکوی (ترڅو چی ستاسو توان وی نو حدود دفعه کوی یانړوی) یعنی کوشش کوی چی حد نافذ نسی.

تشریح: دغه پورته ذکرسوی فقهی تعریفونه ټول دحنفی فقهی دکتابونو څخه اخستل سوی دی، که په دغوتعریفونو کې غور وکړو نواول دانکته په نظر راځی چی دنشه انسان په تعریف کی دامام صاحب اودده دشاگردانو اخلاف دی.

دویمه نکته: داچی ټولوکتابونو لیکلی دی چی فتوی دیارانو اوشاگردانو پرقول ده، اودیارانو تعریف دلغوی تعریفونو سره هم سمون خوری.

دریمه نکته: دامام صاحب اوشاگردانو اختلاف دنشې په حرمت کې نه دی بلکی دحد په تنفیذ کی دی، یعنی یاران وایي: پرداسی انسان حد جاری کیږي چی دنشې په وجه دده ترنیمایي ډیری خبری گډی وډی وی، اوامام صاحب وایي: نه جاری کیږي ترڅوچی دنشې هغه آخری درجی ته ورسیږي هغه داچی نارینه اوښځه یا آسمان اومځکه نه سره پیژني.

یاران دعلی رضی الله تعالی عنه په دغه قول دلیل وایي: عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ الدِّيلِيِّ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ اسْتَشَارَ فِي الْخَمْرِ يَشْرَبُهَا الرَّجُلُ. فَقَالَ لَهُ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: نَرَى أَنْ نَجْلِدَهُ ثَمَانِينَ. فَإِنَّهُ إِذَا شَرِبَ سَكِرَ. وَإِذَا سَكِرَ هَذَى. وَإِذَا هَذَى افْتَرَى. أَوْ كَمَا قَالَ فَجَلَدَ عُمَرُ فِي الْحَدِّ ثَمَانِينَ. «هذی» أي:خلط وتکلم بمالاینبغي؛«افترى» أي: كذب وقذف.(۱)

ترجمة: دثور بن زید دیلمی څخه روایت دی: چې عمر رضی الله تعالی عنه

۱– موطأ امام مالک کتاب الأشربة

داصحابو کراموڅخه دهغه سړی دحد په باره کی مشوره وغوښتل چی شراب یې چیښلی وی (ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ حد معین کړی نه وو) نو علی رضی الله تعالی عنه ورته وویل: زماپه نزداتیادوری مناسب دی، ځکه یو څوک چی شراب وچیښی نوهغه مست سی، اوڅوک چی مست سی هغه بیهوده، بی عقلی خبری کوی، اوڅوک چی بدی خبری کوی په هغوی کې ښکنځل اوافترا کوی، اوڅوک چی په بل پوری افترا کوی دهغه حد اتیا دوری دی. (یعنی دقذف حد دی) نوبیا عمر رضی الله تعالی عنه اتیادوری حد جاری کړی.

داچی علی رضی الله تعالی عنه داتیادرو مشوره ورکړه ځکه په حدیث کی راغلی دی: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ" أَنَّ رَجُلاً مِنْ بَكْرِ بْنِ لَيْثٍ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَقَرَّ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ، فَجَلَدَهُ مِائَةً، وَكَانَ بِكْرًا، ثُمَّ سَأَلَهُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمَرْأَةِ، فَقَالَتْ: كَذَبَ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَجَلَدَهُ حَدَّ الْفِرْيَةِ ثَمَانِينَ ".(۱)

ترجمة: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی: چی دبنی بکر بن لیث (دقبیلی) یوسړی نبی صلی الله علیه وسلم ته راغلی، اوهغه څلورځله اقرار وکړی چه ده دفلانې ښځی سره زناکړی ده، نونبی علیه السلام دی په سلو (۱۰۰) درو وواهی، ځکه ده واده یا ښځه نه درلودل، بیانبی صلی الله علیه وسلم دده څخه پر ښځی باندی شاهدان وغوښتل، ښځی وویل: ای دالله رسوله په الله تعالی قسم دی چی دی درواغ وایی، نونبی صلی الله علیه وسلم دی بیا دتهمت ویلو (یعنی قذف) په جرم اتیا(۸۰) دوری وواهه.

داچی عمر رضی الله تعالی عنه دشرابو دحد په باره کی مشوره غوښتله دا ځکه چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه په دی هکله څه هدایات موجودنه وه

۱- سنن أبی داود کتاب الحدود

ځکه دعلی رضی الله تعالی عنه څخه داسی روایت راغلی دی: عَنْ عُمَيْرِ بْنِ سَعِيد قَالَ: قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِب: «مَا كُنْتُ أُدِي مَنْ أَقَمْتُ عَلَيْهِ الْحَدَّ، إِلَّاشَارِبَ الْخَمْرِ، فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسُنَّ فِيهِ شَيْئًا، إِنَّمَا هُوَ شَيْءٌ جَعَلْنَاهُ نَحْنُ». (۱)

ترجمة: دعمیر بن سعید څخه روایت دی چی دی وایی: علی رضی الله تعالی عنه وفرمایل: زه چی پرچا حد جاری کړم نودهغه دیت نه ورکوم مګرنه دشرابو چیښونکې، ځکه چی دالله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم په دی هکله هیڅ حد نه دی مقرر کړی، بلکی موږ دهغه حد مقرر کړی دی. یعنی که دحد دجریان په حال کی څوک مړسی نوزه دهغه دیت ورکوم.

دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه دلیل: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ادْرَءُوا الحُدُودَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ مَا اسْتَطَعْتُمْ، فَإِنْ كَانَ لَهُ مَخْرَجٌ فَخَلُّوا سَبِيلَهُ، فَإِنَّ الإِمَامَ أَنْ يُخْطِئَ فِي العَفْوِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فِي العُقُوبَةِ. (۲)

ترجمة: دعائشی صدیقی رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څومره چی ستاسو توان وی او کیدایسی نو د مسلمانانو څخه حد لیری کړی، که دده دپاره دخلاصون لاره وی نو دده لاره پریږدی اودی خلاص کړی، که امام یاقاضی په عفو کی خطاسی داخیر دی تردی چی په سزاورکولو کی خطاسی.

مخکې مو ولوستل چی فتوی دیارانو پرقول ده، ځکه دامام صاحب دلیل ضعیف دی، دضعف یی یوه وجه داهم کیدایسی چی په حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: که دده دپاره دخلاصون لاره وه نوتاسو ده ته دحد دجاری کیدلو څخه لاره ورکړی، دلته خو دده دپاره دخلاصون لاری ته ضرورت

۱- سنن ابن ماجة كتاب الحدود -- ۲- سنن الترمذی كتاب الحدود

نسته، ځکه دلته دحد بحث نه بلکې دحرامو اودحلالو بحث کوو، داچې څومره خلګ نن په حرامو اونشه اخته دي همدغه دسکر په تعریف کې سهولت اوآسانی ده، که څه هم فتوی دیارانو پرقول ده خوبیاهم خلګ وهغه ته نه ګوري وایي د امام صاحب په نزد جایز دي.

که پورتنی دلغتواوفقهي تعریفونو سره وګورو اویودبل سره مقایسه کړو نو په ښکاره معلومیږي چې دیارانو تعریف دعربي لغت اودخلګو دعاداتو واصطلاح سره سمون خوري، نولکه څرنګه چې فقهاؤ ددوی قول دفتوی دپاره غوره کړی دی، زموږ دپاره هم دقناعت وړ اوعمل په کول لازم دي، خاص بیاکه درسول الله صلی الله علیه وسلم داحدیث ورسره یوځای سي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ. (۱)

ترجمة: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرهغه شي چې ډیر یې نشه لري نودهغه لږهم حرام دی. دحدیث څخه د استدلال وجه داده چې دعربي لغت مطابق د(ما) لفظ عام دی یعنی هرشي.

ددغه حدیث پربنیاد هرسړی خپله قضاوت کولای سي چې افیون، چرس، نسوار، سګریټ، چلم اوداسې نور چې تردغه مقدار زیات کړی کوم چې دی ورسره عادت دی مځکه آسمان خو څه کوی خپل دکور لاره ځنی ورکه کړی، موږ وینو چې په روژه کې دلږ وخت دپاره یادخو ساعتونو دپاره ځنی پاته سی خوپه روژه ماتی موږ تولـه ددوی حال وینو چې څنګه نشه وي؟

نودلته که وګورو ښه داده چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیثونو اودنورو فقهاؤ دتعریفونو مطابق عمل وکړو، ترڅو دنبي کریم صلی الله علیه وسلم

۱- سنن الترمذی کتاب الأشربة

دحکم مطابعت وسی اودګناه څخه به هم خلاص سو.

دلته مهمه خبره داده: که دهری نشی عملی ترخپله اندازه څه کم وچیښی نو هغه داسې نه نشه کیږي چې مځکه اواسمان نه پیژني او یا نارینه اوښځه نه سی جدا کولای، که څه هم دانګورو څخه جوړ سوی شراب وچیښی، اوغیرعادی انسان اویا عادی انسان چې ترخپله اندازه زیات وچیښی نوهغه به ضرور داسې وی لکه څرنګه چې امام صاحب فرمایي.

دهمدغه تعریف پربنیاد دعوامو پرمخ دحرامودخوړلو او استعمال کولو لاره خلاصه سویده، ځکه ددوی سره چې خبره کوی نودوی وایي موږ داسې نه نشه کیږو چې نراوښځه یامځکه اوآسمان نه پیژنو.

تعجب خودادی چې ډیروعالمانواوعوامو هغه ضعیف قول په نظر کې نیولی دی نسوار، چلم، سګریټ، افیون اوداسې نور ښه بی تکلیفه داسې استعماله وی لکه هیڅ ګناه چې نه وی،خودیارانو په قول عمل نه کوی، حالا داچې زموږ په حنفی فقه کې ډیری فتواوی دیارانو پرقول سوی دی اوعمل په کول کیږي.

نودلته دحرامو مسئله ده اوډیراحتیاط پکښی لازم دی ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث کې فرمایي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فِیْ حَدِیْث«فَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوهُ، وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ».(۱)

ترجمة: کله چې زه تاسو دیوشی څخه منع کړم نودهغه څخه ځانونه ساتی اوکله چې زه تاسو په یوشی امرکړم نوچې څومره ستاسو توان وی هغومره عمل په کوی) بیاچې دغه حدیث ورسره یوځای سی نورهم دیارانو قول تقویة کیږي:

عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ قَالَ: سَمِعْتُ الْمُخْتَارَ بْنَ فُلْفُلٍ قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الشُّرْبِ فِي الْأَوْعِيَةِ، فَقَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَفَّتَةِ، وَقَالَ: «كُلُّ ۱

۱- رواه صحیح البخاري کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة

مُسْكِرٍ حَرَامٌ» قَالَ: قُلْتُ: وَمَا الْمُزَفَّتَةُ؟ قَالَ: «الْمُقَيَّرَةُ» . قَالَ: قُلْتُ: فَالرَّصَاصُ وَالْقَارُورَةُ؟ قَالَ: «مَا بَأْسٌ بِهِمَا» قَالَ: قُلْتُ: فَإِنَّ نَاسًا يَكْرَهُونَهُمَا، قَالَ: «دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ، فَإِنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ» . قَالَ: قُلْتُ لَهُ: صَدَقْتَ السُّكْرُ حَرَامٌ، فَالشَّرْبَةُ وَالشَّرْبَتَانِ عَلَى طَعَامِنَا قَالَ: «مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ، فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ» وَقَالَ:«الْخَمْرُ مِنَ الْعِنَبِ، وَالتَّمْرِ، وَالْعَسَلِ، وَالْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالذُّرَةِ، فَمَا خَمَّرْتَ مِنْ ذَلِكَ فَهِيَ الْخَمْرُ» (۱)

ترجمة: عبدالله بن ادریس وایي مادمختار بن فلفل څخه واورېدل: هغه وایي ما دانس بن مالک څخه دشرابو دلوښو په هکله پوښتنه وکړله. نوده راته وویل: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی کړې دی دهغه لوښی څخه چې په زفتو وهل سوي وي، او وی ویل: هرنشه کونکې شی حرام دی، دی وایي ماورته وویل: مزفت چیشی دی؟ ده وویل هغه دی چې په قیر وهل سوی وي، دی وایي: ماورته وویل: دمیسو اودښیښې لوښی څنګه دی؟ ده وویل دغه دواړه پروا نلري، دی وایي ماورته وویل خلک یې نه خوښوي، ده وویل هغه څه چې تاپه شک کې اچوي هغه پرېږده، اوپه هغه څه باندې عمل وکړه چې تاپه شک کې نه اچوي، بیشکه هرنشه کونکې شی حرام دی، دی وایي ماورته وویل ته رشتیا وایې: هرنشه کونکې شی حرام دی، هغه چې زموږ په خوړو کې یو وار یادوه واره چیښل کیږي دهغوی څه حکم دی؟ ده وویل: هغه چې ډیر یې انسان نشه کوي دهغه لږهم حرام دی اوده وویل: شراب دانګورو،خرما،عسل،غنم،اوربشی، جواروڅخه جوړیږي ددوغو شیانوڅخه چې هریوه ته نشه کړلی نوهغه شراب دی.

په بل حدیث کې راغلي دي: عَنْ أَبِي الْحَوْرَاءِ السَّعْدِيِّ، قَالَ: قُلْتُ لِلْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: مَا حَفِظْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ:حَفِظْتُ مِنْهُ:

۱– مسند امام احمد ابن حنبل مسند انس بن مالک

«دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لاَ يَرِيبُكَ» (۱)

ترجمة: دابی الحوراء سعدی څخه روایت دی: دی وایي: ما دحسن بن علی رضی الله تعالی عنهما څخه پوښتنه وکړله، تادرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څه یادکړي دي؟ ده وفرمایل: ما دده څخه یادکړي دي «هغه څه پرېږده چې تاپه شک کې اچوي، په هغه څه عمل کوه چې تاپه شک نه اچوي».

ددومره حدیثونو اودلایلو سره به هم دیوچا نوردایقین وي چې دغه نشه لرونکي شیان مباح اوحلال دي، یعني دحرمت شک به هم نه وي ورته حاصل سوي چې دهغه شک پربنا دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په دغه حدیثونو عمل وکړي اوتوبه ځني وباسي اودالله تعالی درضادپاره نور دنشي عمل پیرېږدي.

بله مهمه خبره داده چې ددرمختار په تعریف کې هم لیکلي دي چې دامام صاحب قول ضعیف دي اوفتوی دیارانو پرقول ده، نوځکه موږ ته لازمه ده چې دخپلو فقهاؤ تقلید په مکمل ډول وکړو، اودیارانو خبره ومنو، ځکه دمځکني حدیثونو پربناپه دین کي احتیاط واجب دي.

خمردنشي دحالت څخه ووزي حلال دي

دغه هم یوه اختلافي مسئلة ده.دحنفي مذهب مطابق خمریاشراب چې دنشي دحالته څخه ووزي حلال اوپاکیږي اوشراب دنشي دحالت څخه په درو شیانو وزي، ۱- داچې سرکه ځني جوړه سي،۲- داچې دومره جوش ورکړه سي چې دوي حصې ولاړې سي اویوه حصه پاته سي،۳- داچې دومره اوبه ورواچول سي چې دنشي دحالت څخه ووزي نوبیا حلال دي.

۱- سنن النسائی کتاب الأشربة

دجمهور فقهاؤ په نزد نه پاکیږي، موږ په مخکنی تحقیق کې ولیکل چې دشرابو دحرمت علت نشه ده، دلته دحنفي مذهب دکتابونو په حواله لیکل کیږي چې دوی هم مني چې دغه علت دی اودغه علت چې په کومه وجه لیری سی نو هغه حرمت هم لیری کیږي، لکه داچې شراب دنشی حالت ته نه وی رسیدلی اویاد نشی د حالت څخه وایستل سی بیایی استعمال جائزدی ، لکه چې وایی: ١- وَإِذَا تَخَلَّلَتْ الْخَمْرُ حَلَّتْ سَوَاءٌ صَارَت خَلاًّ بِنَفْسِهَاأَوْ بِشَيْءٍ يُطْرَحُ فِيهَا،وَلاَيُكْرَهُ تَخْلِيلُهَا، وَلأَنَّ بِالتَّخْلِيلِ يَزُولُ الْوَصْفُ الْمُفْسِدُ وَتَثْبُتُ صِفَةُ الصَّلاَحِ مِنْ حَيْثُ تَسْكِينُ الصَّفْرَاءِ وَكَسْرُ الشَّهْوَةِ، وَالتَّغَذِّي بِهِ وَالإِصْلاَحُ مُبَاحٌ، وَكَذَا الصَّالِحُ لِلْمَصَالِحِ، اعْتِبَارًا بِالْمُتَخَلِّلِ بِنَفْسِهِ وَبِالدِّبَاغِ.(١)

ترجمة: کله چې شراب سرکه سی نو حلال دی، په خپله سرکه سی اوکه دبل شی په ورگډولو سرکه سی. اوسرکه کول یې مکروه نه دی، ځکه په سرکه کولو سره هغه فاسد صفت چې (نشه ده) لرې کیږي، صالح صفت یې پاته کیږي، چې هغه دصفراء داراملو، اودشهوت زیاتیدلو او دغذا دپاره خوړل کیږي، او اصلاح مباح ده، نوهمدارنگه هغه صالح کونکې دمصلحت دپاره مباح دی، داځکه چې شراب خپله سرکه سی، اوداچې دمردارشي پوست دمصلحت دپاره پوخ کړل سی پاکیږي. نودارنگه که څوک شراب دمصلحت دپاره سرکه کړي هم حلال اوجایز دی.

٢- الحنفية قالوا: إن خل الخمر حلال سواء تَخللَتْ اوخُللَت، ولأن التخليل يزيل الوصف المفسد ويثبت وصف الصلاحية، ولأن فيه مصلحة قمع الصفراء والتغذى، مصالح كثيرة، وإذا زال المفسد الموجب للحرمة حلت، كما إذا تخللت بنفسها. (٢)

ترجمة: حنفي علماؤ ویلي دي چې دشرابو سرکه حلاله ده، خپله سرکه سی او کې یې جوړه کړي، ځکه په سرکه کیدلو سره هغه فاسد صفت چې (نشه ده) لرې کیږي اوهغه صالح صفت یې ثابت کیږي ځکه چې په سرکه کې مصلحت دی صفراء

١- شرح فتح القدير في الفقه الحنفى جلد ٨ ص ١٦٦ -٢-فقه على المذاهب الأربعه: كتاب الحدود

ختموی، غذا په حاصلیږی، او نور ډیر مصلحتونه پکښی دی، نو کله چې هغه فاسد صفت لیری سی نو حلال دی، لکه څرنګه چې شراب پخپله سرکه وګرځی.

۳- وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ رَحِمَهُ اللَّهُ قَالَ: لاَ بَأْسَ إِذَا كَانَ لِلْمُسْلِمِ خَمْرٌ أَنْ يَجْعَلَهَا خَلاً،وَبِهِ أَخَذَ عُلَمَاؤُنَا (رَحِمَهُمُ اللَّهُ) وَقَالُوا: تَخْلِيلُ الْخَمْرِ جَائِزٌ، وَهَذَا لأَنَّ الآثَارَ جَاءَتْ بِإِبَاحَةِ خَلِّ الْخَمْرِ عَلَى مَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ «خَيْرُ خَلِّكُمْ خَلُّ خَمْرِكُمْ».(۱)

ترجمة: دابراهیم (رحمة الله علیه) څخه نقل سوی دی چی دی وایی: که د مسلمان سره شراب وه نو داپروا نلری چی دهغه څخه سرکه جوړه کړی، په دغه قول سره زموږ حنفی علماء عمل کوی، دوی وایی: دشرابو څخه سرکه جوړول جایز دی، داځکه چی ډیر آثار داسی راغلی دی چی دشرابو څخه سرکه جوړول مباح اوجایز دی، لکه داچی علیه الصلوة والسلام فرمایی: ستاسو ښه سرکه ستاسو دشرابو ده.

۴- قَالَ رَحِمَهُ اللَّهُ (وَخَلُّ الْخَمْرِ سَوَاءٌ خُلِّلَتْ أَوْ تَخَلَّلَتْ) يَعْنِي خَلُّ الْخَمْرِ فَلاَ فَرْقَ فِي ذَلِكَ بَيْنَ أَنْ يَتَخَلَّلَ بِنَفْسِهِ أَوْ تَخَلَّلَ بِإِلْقَاءِ شَيْءٍ فِيهِ كَالْمِلْحِ أَوْ الْخَلِّ أَوْ النَّقْلِ مِنْ الظِّلِّ إِلَى الشَّمْسِ أَوْ بِإِيقَادِ النَّارِ بِالْقُرْبِ مِنْهَا.

وَلَنَا قَوْلُهُ: عَلَيْهِ الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ «نِعْمَ إِلاَّ دَمَ الْخَلِّ مُطْلَقًا» فَيَتَنَاوَلُ جَمِيعَ صُوَرِهَا وَلأَنَّ بِالتَّخْلِيلِ إِزَالَةَ الْوَصْفِ الْمُفْسِدِ وَثَبَاتَ صِفَةِ الصَّلاَحِ. أَلاَ تَرَى أَنَّ ظَرْفَهَا كَانَ طَاهِرًا تَنَجَّسَ بِهَا فَإِذَا طَهُرَ بِالتَّخْلِيلِ طَهُرَ جَمِيعُ أَجْزَائِهِ، وَأَجْزَاءِ إِنَائِهِ هُوَ الصَّحِيحُ. (۲)

ترجمة: دکنز مصنف رحمة الله علیه وایی: (دشرابو سرکه دافرق نلری خپله سرکه سی اویاسرکه کړل سی) یعنی دشرابو سرکه دافرق نلری خپله سرکه اویا دبل شی په ورګډولو سرکه کړل سی لکه داچی مالګه یاسرکه ورواچوی، یاداچی دسایی څخه لمرته کښیږدی، یانږدی اور ورته وکوی.

زموږ (حنفی علماؤ) دلیل: دعلیه الصلوة والسلام داقول دی (ښه سالن

۱- مبسوط سرخسی ج ۲۷ ص ۷ -- ۲- بحرالرائق شرح کنز الدقائق ج ۸ ص ۲۴۹

سرکه ده دامطلق دی) یعنی دلته دخل لفظ مطلق دی، دسرکې ټول قسمونه ځنی اراده کیدایسی چې یودهغوی څخه دشرابو جوړه سوی سرکه هم ده.

بل دلیل داچې په سرکه کیدلوسره دشرابو فاسد صفت (چې نشه ده) لیرې کیږي اوصالح اوښه صفت پاته کیږي، بل داچې موږ ګورو په کوم لوښي کې چې شراب جوړیږي نو هغه لوښي پاک وي هم دغه شي پاک وي دکوم شي څخه چې شراب جوړیږي، چې شراب جوړ سي نوشراب نجس اوهم هغه لوښي نجس سي، کله چې سرکه ځني جوړه سي نودشرابو ټول اجزاء پاک سي اوهم دهغه لوښي ټول اجزاء پا ک سي، اودغه قول صحیح ده.

۵-قَالَ فِي الْفَتحِ:وَلَوْصُبَّ مَاءٌ فِي خَمْرٍأَوْبِالْعَكْسِ ثُمَّ صَارَخَلاً طَهُرَ فِي الصَّحِيحِ.(۱)

ترجمة: په فتح القدیر نومی کتاب کی لیکلی دی: که په شرابو کې اوبه یا په اوبو کې شراب واچول سی اوبیا سرکه ځنی جوړه سی، صحیح قول دادی چې پاک دی.

داحنافو دلایل: ۱- عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الدِّبَاغَ يَحِلُّ مِنَ الْمَيْتَةِ كَمَا يَحِلُّ الْخَلُّ مِنَ الْخَمْرِ ". (۲)

ترجمة: دام سلمة رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه دمردارسوی حیوان پوست یاڅرمن پخیدل یا رنګیدل یې حلالوی لکه څرنګه چې سرکه شراب پاک اوحلالوی.

۲- عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا أَقْفَرَ أَهْلُ بَيْتٍ مِنْ أُدْمٍ فِيهِ خَلٌّ، وَخَيْرُ خَلِّكُمْ خَلُّ خَمْرِكُمْ ".(۳)

ترجمة: دجابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت سوی دی: چې رسول الله صلی

۱- الدرالمختار ج۱ ص ۳۱۵ ۲- سنن البیهقی ج۲ باب تخلیل الخمر

۳- سنن البیهقی ج ۲ باب تخلیل الخمر

الله علیه وسلم وفرمایل: دهغه کور خاوندان دسالن لخوا نه محتاجه کیږی، د چاپه کور کې چې سرکه وی، اوستاسو ښه سرکه ستاسو دشرابو سرکه ده.

دپورتنیو دواړو حدیثونو څخه ثابته سوله چې شراب خپله سرکه سی یادبل شی په ورګډولو سرکه سی نو داپاک اوحلال دی.

داچې شراب په اور اوجوش پاکیږی ددی دپاره دلیل دی: ۱- عَنْ دَاوُدَ، قَالَ: سَأَلْتُ سَعِيدًا: مَا الشَّرَابُ الَّذِي أَحَلَّهُ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؟، قَالَ: «الَّذِي يُطْبَخُ حَتَّى يَذْهَبَ ثُلُثَاهُ، وَيَبْقَى ثُلُثُهُ».(۱)

ترجمة: د داود څخه روایت دی چې مادسعید څخه پوښتنه وکړله چې هغه کوم شراب وه چې عمر رضی الله تعالی عنه ورته حلال ویل؟ ده ویل هغه داچې دومره پاخه سی یاجوش ورکړل سی چې دوی حصی اوبه یی ولاړی سی اویوه حصه یی پاته سی.

۲- عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ الْخَطْمِيَّ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيْنَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: «أَمَّا بَعْدُ، فَاطْبُخُوا شَرَابَكُمْ حَتَّى يَذْهَبَ مِنْهُ نَصِيبُ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّ لَهُ اثْنَيْنِ وَلَكُمْ وَاحِدٌ».(۲)

ترجمة: عبد الله بن یزید خطمی وایی: موږته عمربن الخطاب رضی الله تعالی عنه لیک ولیکی: ترحمد اوصلوة وروسته یې لیکلی وه: تاسوخپل شراب دومره پاخه کړی چې دشیطان حصه ځنی ولاړه سی، بیشکه دشیطان دپاره دوی حصی دی، اوستاسو دپاره یوه حصه ده.

داچې داوبوپه ډیریدلو شراب پاکیږی: قَالَ ابْنُ عُمَرَ: رَأَيْتُ رَجُلاً جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ فِيهِ نَبِيذٌ وَهُوَ عِنْدَ الرُّكْنِ، وَدَفَعَ إِلَيْهِ الْقَدَحَ فَرَفَعَهُ إِلَى فِيهِ، فَوَجَدَهُ شَدِيدًا فَرَدَّهُ عَلَى صَاحِبِهِ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَحَرَامٌ هُوَ؟

۱- سنن النسائی کتاب الأشربة ۲- سنن النسائی کتاب الأشربة

فَقَالَ: «عَلَيَّ بِالرَّجُلِ»، فَأُتِيَ بِهِ، فَأَخَذَ مِنْهُ الْقَدَحَ، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَصَبَّهُ فِيهِ فَرَفَعَهُ إِلَى فِيهِ، فَقَطَّبَ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ أَيْضًا، فَصَبَّهُ فِيهِ، ثُمَّ قَالَ: «إِذَا اغْتَلَمَتْ عَلَيْكُمْ هَذِهِ الْأَوْعِيَةُ، فَاكْسِرُوا مُتُونَهَا بِالْمَاءِ».(١)

ترجمة: دابن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی چې ما یوسړی ولیدی، چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلی، یوه پیاله یی ورکړه اوپه هغه کی نبیذ وه، اوپه دغه وخت کی دی درکن سره وو، اوده مبارک خولی ته نزدی کړل نو هغه ډیر سخت اوتیز وه، اوبیرته یی خپل خاوند ته ورکړل او ردیی کړل، د خلگو دډلی څخه یوبل سړی ورته وویل: ای دالله تعالی رسوله ایا دغه حرام دی؟ نو علیه السلام ورته وفرمایل: ماته هغه سړی راولی، نوهغه سړی ورته راوستل سو، دهغه څخه یی هغه لوښی واخستی بیایی اوبه راوغوښتلی اوپردغه نبیذ باندې واچولی، دویم ځل یی خولی ته پورته کړلی، نودهغه سخت والی په وجه یی بیاهم خوندسم نه وو، بیایی نوری اوبه راوغوښتلی اوپه پیاله کی واچولی،اوبیایی وفرمایل: کله چی په دغه لوښوکی شراب سخت اوتیزسی نوتاسودهغوی تیزی په اوبوماته کړی.

داغه حدیث په بل روایت کی داسی راغلی دی:عَنِ ابْنِ عُمَرَقَالَ شَهِدْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِشَرَابٍ, فَأَدْنَاهُ إِلَى فِيهِ , فَقَطَّبَ فَرَدَّهُ , فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ, أَحَرَامٌ هُوَ؟ فَرَدَّ الشَّرَابَ, ثُمَّ عَادَ بِمَاءٍ فَصَبَّهُ عَلَيْهِ, ذَكَرَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا, ثُمَّ قَالَ: «إِذَا اغْتَلَمَتْ هَذِهِ الْأَسْقِيَةُ, عَلَيْكُمْ, فَاكْسِرُوا مُتُونَهَا بِالْمَاءِ».(٢)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنهما فرمایی: زه حاضر وم چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شراب ورکول سول، نوده خولی مبارکې ته پورته کړل، نو هغه سخت وه بیرته یی رد کړل، نویوسړی ورته وویل: ای دالله تعالی رسوله ایا دغه حرام دی؟ نوهغه شراب یی واپس راوغوښتل، اوبیایی اوبه راوغوښتلی پر

١- سنن النسائی کتاب الأشربة -- ٢- أخرجه الطحاوی فی شرح معانی الآثار جلد ٤ ص ٢١٩

دغه شرابویي واچولي، ده ذکر کړي دي چې دوه که دري واره یي اوبه پرواچولي، اوبیایي وفرمایل: کله چې په دغو لوښوکی شراب تیز اوسخت سي نوتاسو دهغه تیزي اوسختي په اوبو سره مات کړي.

دپورتنیو حدیثونو ترمنځ فرق دادي چې په اول روایت کی دنبیذ ذکردی اوپه دوهم روایت کی دشرابو ذکر دی، دنبیذ اوشرابو دواړو لفظونه عام دی دهر شي څخه چې وي، نودهغوي سختي اوتیزي په اوبو ماتیږي.

دپورتني تحقیق اوحدیثونو څخه په ډیر صراحت اووضاحت ثابته سوله چې دحنفي مذهب مطابق دشرابو دحرمت وجه نشه ده، نوکله په یو وجه دغه دنشي د حالت څخه ووزي نوهغه پاک اوحلال دي، نومعنی داچي په شرابو کی دحرمت حکم پرعلت بنادی، دفقهی داصولو په بحث کی مونږ ثابته کړله چې په کوم ځای کی حکم پرعلت بناوي نوهغه علت چې په کوم شي کی پیداسی نوهغه حکم یي دی، نوځکه په کوم شي کی چې نشه پیداسي اویا نشه ولري نوهغه حرام دی، او داسي حرام دی لکه هغه شراب چې دانگورو یاخرما څخه جوړ سوي وي، همدارنگه هرنشه لرونکی شي لکه افیون، چرس، هیروین، تنباکواوداسي نور ټول داسي حرام دي لکه دانگورو اوخرماڅخه جوړ سوي شراب.

کیدای سی په پورته ذکرسوي تحقیق سره دهغوعلماؤ په علم کی څه اضافه سوي وي، چې وایي شراب هغه دي چې دانگورو څخه جوړ سوي او دهغوي حرمت منصوصي دی اودنورو منشیاتو حرمت منصوصي نه دي، نوداسې نه دي لکه دانگورو شراب، دداسې توجیهاتو په وجه ډیرخلگ دحرامو په خوړلو، خرخولو اخته دي، نودداسې توجیهاتو په جواب کی ثابته سوله چې ددغه نورو منشیاتو حرمت هم په هغو قطعي قرآني اوحدیثونو په دلائلو ثابت دی په کومو چې دانگورو دشرابوحرمت ثابت دی، په قیاس نه دی ثابت. داځکه چې دآیتونو دتفسیر اوشان

نزول په بحث کې ثابته سوله چې دخمر لفظ عام دی وهرهغه شی ته ویل کیږی چې دنشې په وجه عقل ګډوډ کوی اودخپلې اصلی وظیفی څخه معطل کوی.

تریاق اوافیون

دویم: نشه کونکی شی افیون دی، لکه څرنګه چې مومخکې دخمر په بحث کې لیکلی دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دخمر په هکله فرمایلی وه: چې خمر دټولوخرابیو مور اودټولو شرونوکیلی ده، همدا رنګه دافیون په هکله ویل کیږی چې دټولونشیی شیانو مورده، ځکه دافیون څخه هم ډیر مهلک نشیی شیان په مختلفونومانواوشکلونو جوړیږی.

دتریاق معنی په عربی لغت کې

تریاق دتا په زیر سره ویل کیږی فارسی لفظ دی په عربی لغت کې هم استعمالیږی، اودغه لفظ په حدیث کې هم استعمال سوی دی.

۱- التِّرياق: بِكَسْرِ التَّاء: مَعْرُوفٌ، فَارِسِيٌّ مُعَرَّبٌ، هُوَ دَواء السُّموم، لُغَةٌ فِي الدِّرْياق، وَالْعَرَبُ تُسَمِّي الْخَمْرَ تِرياقاً وتِرْياقة.

الترياقُ: مَايُستعمل لدَفع السَّمّ مِنَ الأَدْوِية والمَعاجِين، وَيُقَالُ دِرْياق، بِالدَّالِ أَيضاً.(۱)

ترجمة :دتریاق کلمة دتا په زیر سره یوه فارسی کلمة ده، معربة یعنی په عربی لغت کې هم استعمال سوی ده، تریاق هرهغه دواء اومعجون ته ویل کیږی چې دزهرودعلاج لپاره استعمالیږی، دغه لفظ په دال سره درياق هم ویل کیږی. اوعرب خمر ته هم تریاق یاتریاقة وایی.

۲- الترياق مادة يضاد عمل السم فى المعدة والأمعاء.(۲)

ترجمة: تریاق هغه ماده ده چې په معده اوکلمو کې دزهرو اثر ختموی.

۱- لسان العرب فى كلمة الترياق تحت باب ترق ج ۱۰ ص ۳۲ - ۲- المعجم الوسيط ج ۱ ص ۸۵

٣- الترياق: بالكسرة دَوَاء مركب من أجزَاء كَثِيرَة، وَيُقَال بِالدَّال أَيْضا بدل التَّاء، الترياق دَوَاء السمُوم.

وَفِي حَدِيث ابْن عمر: (مَا أُبَالِي مَا أتيت إِن شربت ترياقاً) إِنَّمَا كرهه من أجل مَا يَقع فِيهِ من لُحُوم الأفاعي وَالْخمر، وَهِي حرَام نَجِسَة والترياق أَنْوَاع فَإِذا لم يكن فِيهِ شَيْء من ذَلِك فَلَا بَأْس بِهِ. (١)

ترجمة: ترياق دتا په زيرسره دواء ده چي ډېرو اجزاؤ څخه جوړيږي، او دغه دتا پرځاى په دال سره هم ويل كيږي (درياق) اودا دزهرو دواء ده.

په يوحديث كې دابن عمر رضى الله تعالى عنهما څخه روايت دي چي ماد رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه داسى واوريدل چي فرمايلي: (زما هيڅ پروا نسته ددې چي زه ترياق وڅېښم) بلكې دناخوښې وجه داده چي په دې كې دآپې مار غوښې اوشراب ګډيږي، اودغه دواړه نجس دي. دترياقو څو ډوله دي، كه په دغه دواء كې ددغو څخه شي نه وي نوهغه پروانلري.

٤- وفي معجم بوشر: إلى أن يجي الترياق من العراق يكون الملسوع مات. (٢)

په بوشر نومى دلغتو په كتاب كې يوه مقوله ليكلى ده: (ترڅوچې ترياق دعراقه راوړل كيږي، مارچيچلى به مړسى).

همداسى مقوله په فارسى ژبه كې هم ويلى سوى ده (تاترياق ازعراق آورده ميشود، مارگزيده مرده ميشود.

٥- عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ فِي عَجْوَةِ الْعَالِيَةِ شِفَاءً أَوْ إِنَّهَا تِرْيَاقٌ-أَوَّلَ الْبُكْرَةِ». (٣)

ترجمة: عائشة رضى الله تعالى عنها روايت كوى چي رسول الله صلى الله

١- تاج العروس ج ٢٥ ص ١١٣ -- ٢-تكملة المعاجم العربية ج ٢ ص ٤٣

٣- صحيح مسلم كتاب الأشربة

علیه وسلم وفرمایل: بیشکه دعالیة دمنطقی په عجوة نامی خرماکې شفاء ده او یا دغه عجوة داول سهار تریاق ده.

عالیة دمدینی منوری هغه منطقة ده چې دنجد طرف ته پرلاری دمدینی منوری څخه ددرو څخه بیا تر اته کیلومتری باندې پرته ده.

۵- عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَصَبَّحَ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعَ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً، لَمْ يَضُرُّهُ فِي ذَلِكَ اليَوْمِ سُمٌّ وَلاَ سِحْرٌ». (۱)

ترجمة: عامر بن سعد دخپل پلار څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې هره ورځ په سهارکې دعجوة قسم اوه دانی خرماوی وخوړلی نوپه دغه ورځ به پرده باندې زهر اوسحر تاثیر نه کوی.

دغه پورته لیکلی سوی دتریاق دلفظ لغوی معناګانی دی، دغه موجوده چې زموږ په علاقوکې د تریاق په نوم یادیږی، په اوسنی عربی ژبه اوزموږ دفقهی په کتابونو کې دافیون په نامه یادیږی. خوافیون هم خپله عربی کلمة نه ده بلکه لاتنی یا انګریزی لفظ دی خو په عربی کې هم استعمالیږی.

دافیون معنی په عربی لغت کې

۱- الأفيون (باللاتينية **Opium**): هومادة مخدرة،تستخرج من نبات الخشخاش، وتستخدم لصناعة الهيروين.

ترجمة: افیون په انګریزی ژبه کې هغه نشه کونکې ماده ده چې دخشخاشو دکوکنارو څخه راوزی اودهیروینو دجوړیدلو لپاره استعمالیږی.

۲- الأفيون: عصارة الخشخاش تستعمل للتنويم والتخدير. (۲)

ترجمة:افیون دخشخاشو د(کوکنارو) شیره ده،چې دنشی اودردونو دآرامولو لپاره استعمالیږی.

۱- رواه صحیح البخاری کتاب الأطعمة -- ۲- معجم الوسیط ج۱ ص ۲۲

٣- الأفيـــون مادة مخدرة تستخرج من الخشخاش، يستعملها المدمنون للتخـــدير ويستعملها الطب للتسكين والتنويم. (١)

ترجمة: افيون يونشه كونكې ماده ده چې نشيان يې دنشې لپاره استعمالوي اوطبيبان يې دسكون اوخوب لپاره استعمالوي.

٤- أفيون مادة عبارة عن عصارة تستخرج من الخشخاش تخدر الجسم والعقل، لاتقترب من الأفيون لكى لاتخرب عقلك وصحتك. (٢)

ترجمة: افيون يوه داسې ماده ده چې عبارت دی دهغه شيری څخه چې دخشخاشو د(كوكړی) څخه راوزی جسم اوعقل نشه كوی، افيون ته مه نزدې كيږی چې عقل اوصحت دی درخراب نه كړی.

٥- أفيون عصارة ثمرة الخشخاش، ويستعمل للتخدير وتسكين الآلام، كمًا يستعمله المدمنون . (٣)

ترجمة:افيون دخشخاشو د(كوكلی) شيره ده،چې دنشې او دردونو دآرامولو لپاره استعماليږی ، لكه څرنگه چې نشيان يې استعمالوی.

٦- أفيون :عصارة الخشخاش تستعمل للنوم والتخدير ، مسمى كذلك نسبة إلى موطنه الأصلى وهو مدينة فى تركيا .(٤)

ترجمة: دخشخاشو شيره ده چې دخوب اونشې لپاره استعماليږی ، ياداچې ودی ته افيون ويل كيږی ددی وجهی چې وخپل اصلی وطن ته يې نسبت دی چې په تركيا كې دی.

٧- وَ(الْخَشْخَاشُ) نَبْتٌ يُسْتَخْرَجُ مِنْهُ الْأَفْيُونُ.(٥)

ترجمة: خشخاش داسی وابنه دی چی دهغوی څخه افيون استل كيږی.

١- الرائد معجم لغوى عصرى ص ١٠٤ -- ٢- المعجم الغنى -- ٣- المعجم اللغة العربية المعاصر

٤- المعجم مصطلحات فقهية --- ٥- مختار الصحاح ج ١ ص ٩١

٨- والأفيــون هوعصارة الخشخاش يكرب ويسقط الشهوتين إذاتــمودى عليه، ويقتل إلى درهمين، ومتى إزداد أكله على أربعة أيام ولاءا إعتاده بحيث يفضى تركه إلى موته، لأنه يحرق الأغشية خروقا لايسدها غيره. (١)

ترجمة: افيون دخشخاشود(کوکلی) را ایستل سوی شیره ده. ک

له چې ورسره عادت سی نودوه شهوتونه (دجماع اوخوراک) یې لمنځه وړی، اوچې تردوه درهمه وزن زیات وخوړل سی سړی وژنی، که څوک یې څلور ورځې پرلپسی وخوری نو عادت یې جوړیږی، اوکه یې بیا پریښودل مړکیږی، ځکه دغه په کولموکې داسې پرهارونه زخمونه جوړوی چې بل څه یې نسی دکولای اونه یې روغولا سی.



پورته تصویر کې دخشاشو دکوکلی څخه شیره اخیستل کیږی

١- ردالمختار ج ١٠ ص٤١

دتریاق اوافیون ترمنځ فرق

که دتریاق اوافیون ولغوی تعریفونو اومعنی ګانوته وګورو نوپه ښکاره ډول معلومیږي چې د تریاق لفظ عام دی اودافیون لفظ خاص دی، ځکه تریاق وهرهغه دواته ویل کیږي چې دزهرو علاج په کول کیږي هغه که دغه افیون، عجوه خرما اوکه داسې نور شیان وي.

اودافیون لفظ خاص دی یوازې اویوازې دخشخاشو دکوکلی شیری ته ویل کیږي چې دنشې اودردونو ددفع کولولپاره استعمالیږي، لکه څرنګه چې دپورتنیو ذکر سوی ټولولغوی تعریفونوڅخه معلومیږي، داچې زموږ په علاقو کې وافیون ته تریاق وایي دغه غلط مشهور دی، نوځکه یې په حلال والی اوحرام والی کې څه علماء اختلاف کوي، څوک ورته تریاق حلال اومباح وایي اوڅوک بیا ورته افیون او حرام وایي.

داچې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم اومتقدمینو فقهاؤ رحمة الله تعالی علیهم په زمانوکې دافیون وجود نه وو، اوددوی ترزمانه ډیر وروسته پیدا سوی ماده ده، نوځکه زموږ دمتاخیرینو فقهاؤ په ټولوکتابونوکې دافیون لفظ استعمال سوی دی اوبحث ځنی سوی دی، نو که څوک په دی هکله ډیر معلومات غواړي نودفقهي په کتابونوکې دی دافیون تر لفظ لاندی تحقیق اوحکم وګوري، نوبیا به په ښه تفصیل پوه اوخبرسی، داچې تریاق په اصل کې یوداسی مباح شی ته ویل کیږي چې دزهرو علاج په کول کیږي اوهغه نشه نلري، نوځکه فقهاء دتریاق څخه نور بحث کولو ته ضرورت نه دی محسوس کړی اونه بحث ځنی کوی.

دافیون حکم دمحدیثونو اوفقهاؤ په نظرحرام دی

دپورته ذکرسوی تعریفونو پربنیادویلای سوچې افیون یونشه کونکې ماده ده، اودهغو حدیثونو په استدلال چې دهغوی معنی داده چې هرنشه کونکې شی حرام دی اودهغه تحقیق لمخی چې هرنشه کونکې خمر دی،نوځکه ډیر علماء داسې حکم کوی چې دافیونو، چرسو، هیروینو اوداسې نشه کونکې شیانوخوړل او نور استعمال حرام دی، ځکه دافیون دټولو تعریفونو څخه ثابته سوله چې افیون نه یوازی داچې خپله نشه لری بلکې نور ډیرنشی شیان (لکه هیروین اوداسی نور....) دده څخه جوړیږی، نوهرشی چې نشه لری دهغه خوړل حرام دی، ځکه چې دشرابو دنشی په شان دانسان پر عقل پرده اچوی او دی د خپل کارڅخه بیکاره کوی.

اوپه دی هکله دنبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه حدیثونه چې مخکې تیرسوله اونور ډیرحدیثونه راغلی دی چې دهغوی دعموم څخه دافیون سره دټولو نشیی شیانوحرام والی په ثابتیږی، که څه هم څه دلیلونه دخمر په بحث کې ذکر سوی دی، خوددی دپاره دلته څه ذکرکوم چې څه کسان مطالعه دکتاب دمنځ څخه کوی، اویادخپل مطلب دپاره خاصه موضوع ګوری، نودهغوی دپاره ددغو دلیلونو ذکرکول ضروری دی که نه نوبیا وایی دافیون حرمت یی په قیاس ثابت کړی دی.

دهغوی دجملی څخه څه په دی ډول دی: ١- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَمَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ، فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ»(١)

ترجمة: عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما دخپل پلار څخه روایت کوی چې دی وایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هر نشه کونکې شی حرام دی، اوهرهغه شی چې ډیر یی نشه کونکې وی دهغه لږ هم حرام دی.

١- سنن ابن ماجة كتاب الأشربة

یعنی چې دډیرو په استعمال یې انسان نشه کیږی نودهغه لږ هم حرام دی که څه هم په لږو نه نشه کیږی.

۲- عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، تَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ، فَهُوَ حَرَامٌ». (۱)

ترجمة:ابی سلمة دعائشی رضی الله تعالی عنها څخه روایت کوی: هغه دغه حدیث تر نبی صلی الله علیه وسلم پوری رسوی،اوفرمایی: هرشراب چی نشه کونکی وی نوهغه حرام دی.

۳- عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ».(۲)

ترجمة : دابن عمر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، چی دی وایی: هر نشه کونکې شی حرام دی او هرنشه کونکې شی خمردی .

۴- عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ».(۳)

ترجمة: ابی سلمة رضی الله تعالی عنه دابن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت سوی دی: نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرنشه کونکی شی حرام دی.

۵- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّ مُخَمِّرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ. (۴)

ترجمة : ابن عباس رضي الله تعالي عنهما روایت کوي چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر شی چی عقل پټوی اوپرعقل پرده اچوی هغه خمر دی، اوهرنشه کونکې شی حرام دی .

۶- عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَشْرَبُ نَاسٌ

۱- سنن ابن ماجة کتاب الأشربة --- ۲- سنن النسائی وابن ماجة کتاب الأشربة

۳- سنن النسائی کتاب الأشربة --- ۴- رواه ابو داود کتاب الأشربة

مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ، بِاسْمٍ يُسَمُّونَهَا إِيَّاهُ» (١)

ترجمة: عبادة بن صامت رضی الله تعالی عنه دنبی صلی الله علیه وسلم څخه روايت کوی چې زمادامت څخه به څه خلک شراب چیښی په داسی نومونو چی دوی پر ایښی وی.

ددغه حدیث څخه هم ثابته سوله چی خمر یوازی هغه نه دی چی دانګورو څخه جوړیږی، بلکی ټول هغه څه چې نشه لری په هرنوم چی وی خمر اوحرام دی.

٦- ألآ إن كل مسكر على كل مؤمن حرام. عن معاوية. (٢)

ترجمة: دمعاوية رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې وایی: خبر اوسی چې هرنشه کونکې شی پرهر مومن باندې حرام دی.

٧- أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ، أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ، وَيَثْبُتَ الْجَهْلُ، وَتُشْرَبَ الْخُمُورُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا». (٣)

ترجمة: انس بن مالک رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دقیامت دعلامو څخه دادی چې علم پورته سی اوجهل پاته سی، اوشرابونه چیښل کیږی، اوزناپه ښکاره کیږی.

٨- عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فِي هَذِهِ الأُمَّةِ خَسْفٌ وَمَسْخٌ وَقَذْفٌ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَتَى ذَاكَ؟ قَالَ: إِذَا ظَهَرَتِ القَيْنَاتُ وَالمَعَازِفُ وَشُرِبَتِ الخُمُورُ. (٤)

ترجمة: عمران بن حصین روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په دغه امت کې دخسف، مسخ اوقذف عذاب راځی، دمسلمانانو څخه یوسړی وویل ای دالله تعالی رسوله دغه به کله وی؟ ده ورته وویل چې کله دغزلو او

١- سنن ابن ماجة وكنز العمال ج ٥ ص ٣٦٧ -- ٢- كنز العمال ج ٥ ص ٣٦٨

٣- رواه مسند احمد بن حنبل مسند انس بن مالک -- ٤- سنن الترمذی کتاب الفتن

باجو رواج وسی اوشرابونه چیښل کیږی.

په دغه پورتنیو دواړو حدیثونو کې دخمور لفظ جمع راغلی دی معنی داچې خمر یوشی نه دی بلکې ډیر دی، نودهغوی دجملی ټول نشه لرونکی شیان دی.

دنشه لرونکو شیانو
په هکله دفقهاؤ قولونه

دپورتنیودلایلو پربنا ډیرو فقهاؤ خصوصا دحنفی مذهب فقهاؤ وټولونشه لرونکوشیانو ته حرام ویلی دی، یوعالم دتصحیح په دوران کی دخپل ملاحظاتو څخه داهم لیکلی دی، چی ددغه نشیی شیانودحرمت په هکله په قرآن او حدیث کی صریح دلیل نسته، اوحرمت صریح دلیل غواړی، نودداسی توجیهاتو په جواب کی پورته ذکرسوی ټول بحث اودلایل اولاندی ذکرسوی دفقهاؤ دحرمت قولونه ددی دپاره وړاندی کیږی چی دداسی علماؤ دپاره داطمنان وړ وګرځی.

۱- ویحرم أكل البنج والحشيشة والأفيون، لأنه مفسدة للعقل، ويصد عن ذكرالله وعن الصلوة. (۱)

ترجمة: دبنجو، چرسو اوافیونو خوړل یا څکول حرام دی، ځکه دغه عقل فاسد کوی اودالله تعالی دذکر اولمانځه څخه منع کونکی دی.

۲- أما آراء الفقهاء فى حكم تعاطى هذه المخدرات من الحشيشة، والأفيون، والمورفين، والكوكاين، والهيروين، والبنج، والعنبر، والزعفران، فإن فقهاء المذاهب الأربعة متفقون على تحريم القدر المغيب للعقل من هذه المواد, وما أشبهها من كل ما يغطى العقل، ويضر البدن.(۲)

ترجمة: دفقهاؤ آراء ددغه نشه کونکو شیانو دحکم په باره کې لکه چرس،

۱- الدر المختار شرح تنوير الأبصار ص ۶۷۸

۲- تعليق علي ردالمحتار على درالمختار، كتاب الحدود ج ٦ ص ٧٦

افیون، کوکاین،هیروین، بنج، عنبر اوزعفران، بیشکه دځلورو مذهبونو فقهاء اتفاق لري چې ددغو موادو اوددی په شان نورو دومره اندازه حرامه ده چې پرعقل پرده اچوی اوبدن ته ضرر رسوی.

۳-فإن المخدرات بجميع أنواعهاكا الحشيشة، والأفيون، والهيروين وغيرهامحرمة،لأنها مسكرة تغيب العقل، وإنمايتناولها الفجارلمافيها من النشوة والطرب، فهي تجامع الخمر المسكر في ذالک.

والتحقيق: أن هذه المخدرات بعد الإتفاق على تحريمها,لها حكم الخمر بالنص، فلاوجه للتفريق بينها وبين الخمر، فهي وإن كانت تجامع الخمر المسكر في تغيب العقل والنشوة والطرب، فإنها تشتمل على ضرر في دين المرء, وعقله وخلقه، وتفسد الأمزجة حتى جعلت خلقا كثيرا مجانين، ففيها من المفاسد ماليس في الخمر،فهي بالتحريم أولى.(۱)

ترجمة: بیشکه دنشه کونکو شیانو ټول قسمونه لکه چرس، افیون، هیروین اوداسې نور حرام دي، ځکه دوی نشه لري اوعقل غائب کوی،اوفاجران خلګ یې خوری ځکه په دوی کې خوند اونشه سته، دهمدغه نشی په وجه دوی دنشه کونکې شرابو سره یوځای کیږي.

تحقیق دادی: چې دغه نشه کونکې شیان وروسته تراتفاق پردی چې حرام دی، نوددلیل پر بنیاد ددوی حکم دخمر په شان دی، ددوی اوخمر ترمنځ دجلاوالی هیڅ وجه نسته، دغه شیان که دیوه طرفه په نشه اومستی کې دشرابو سره یوځای کیږي خودبله طرفه دانسان په دین، عقل، اخلاقو، او طبیعت کې ضرر پیداکوی، میزاجونه دومره خرابوی چې ډیرخلګ یې لیونیان کړی دی، په دوی کې هغه مفاسد سته چې په خمر یاشرابو کې نسته، نو ودوی ته حرام ویل ډیره ښه دی.

۴- وَاسْتَدَلَّ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْمُبَارَكِ بِمُطْلَقِ قَوْلِهِ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ عَلَى تَحْرِيمِ مَا يُسْكِرُ

۱- صحيح فقه السنة وأدلته ج ۴ ص ۷۷

وَلَوْ لَمْ يَكُنْ شَرَابًا فَيَدْخُلُ فِي ذَلِكَ الْحَشِيشَةُ وَغَيْرُهَا وَقَدْ جَزَمَ النَّوَوِيُّ وَغَيْرُهُ بِأَنَّهَا مُسْكِرَةٌ. (۱)

ترجمة: عبد الله بن مبارک دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په دغه قول سره (چې هرنشه کونکې حرام دی) دلیل وایی چې تول هغه څه چې انسان نشه کوی حرام دی، که څه هم شراب نه وی، نوپه دغه کې چرس اوداسې نور داخل سوله،اونووی (دمسلم شارح) یقین کوی چې چرس نشه لری.

۵- ولا يجوز أكل البنج، والحشيش، والأفيون، وذلك كله حرام، لأنه يفسد العقل ويصد عن ذكر الله وعن الصلاة. (۲)

ترجمة: دبنج، چرسو، اوافیون خوړل جایز نه دی ځکه دغه تول حرام دی، ځکه دغه عقل خرابوی، دالله تعای دذکر اولمانځه څخه منع کوی.

۶- المخدرات والمسكرات أنواع متعددة، وكلها تغطي العقل، وتفسد الجسم. وكلها محرمة؛ لما فيها من الضرر المؤكد الحصول.

ومن أشهر أنواع المخدرات:الحشيش، والأفيون، والكوكايين، والمورفين، ونحو ذلك مما يغطي العقل، ويخدر البدن، ويورث الفتور والكسل، ويفسد الجسم.

ترجمة: مخدرات اومسکرات ځوقسمونه لری، تول پرعقل باندی پرده اچوی، جسم بدن خرابوی، اوتول حرام دی، ځکه په دوی کې ضرر ثابت دی.

دمخدراتو مشهور قسمونه: چرس، افیون، کوکاین، مورفین اوددوی په شان نور هم دی چی پرعقل پرده اچوی، بدن نشه کوی، سستی اوکمزوری پیدا کوی، اوبدن فاسد کوی.

دحرمت دلایل یی دغه لاندی دوه حدیثونه دی چی ددواړو ترجمة مخکی لیکلی سوی ده:۱ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله

۱- فتح البارى كتاب الأشربة باب ماجاء فى أن الخمر ماخامر العقل ۲- اللباب في شرح الكتاب ج ۳ ص۲۱۷

عليه وسلم:«مَاأَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ». ۲ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ:«كُلُّ مُخْمِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ. (۱)

يقصد بالمخدرات مايغشي العقل والفكر،ويصيب متعاطيها بالكسل، والثقل، والفتور، من البنج والأفيون والحشيش ونحوها. والمخدرات حرام كيفما كان تعاطيها؛ لحديث عائشة رضي الله عنها:أن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال:(كل شراب أسكرفهوحرام) ولحديث ابن عمر رضي الله عنهما، أن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال:(كل مسكرخمر، وكل مسكرحرام...) الحديث، ولعظم خطر هذه المواد المخدرة، وشدة إفسادها. (۲)

ترجمة: دمخدراتو څخه مراد هغه څه دی چی پرعقل اوفکر پرده اچوی، ددوی دعملی یاعادی انسان په جسم کې سستی راولی، دروند والی اوکمزوری پیدا کوی، اودغه مخدرات عبارت دی دبنج، افیون، چرس اوداسی نورو څخه، اومخدرات ټول حرام دی، چی په هرډول یاطریقة استعمالیږی، دلیل یی دعائشی صدیقی رضی الله تعالی عنها حدیث دی چی داوایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: هرشراب چې نشه لری هغه حرام دی. اوبل دلیل: دابن عمر رضی الله تعالی عنهما حدیث دی چې دی وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرشی چې نشه لری هغه خمردی اوهرشی چی نشه لری هغه حرام دی. بل داچی په دغه مخدراتو کی لوی خطر اوډیر سخت فساد سته.

۱- الْبَنْجُ: بِفَتْحِ الْبَاءِ فِي اللُّغَةِ وَالاِصْطِلاَحِ: نَبَاتٌ مُخَدِّرٌ، غَيْرُ الْحَشِيشِ، مُسَكِّنٌ لِلأَوْجَاعِ.

۲ - الأَفْيُونُ: عُصَارَةٌ لَيِّنَةٌ يُسْتَخْرَجُ مِنَ الْخَشْخَاشِ، وَيَحْتَوِي عَلَى ثَلاَثِ مَوَادَّ مُنَوِّمَةٍ مِنْهَا الْمُورْفِينُ.

۱- موسوعة الفقه الاسلامی ج ۵ ص ۱۵۰

۲- الفقه الميسر فی ضوء الكتاب والسنة ج ۱ص ۳۷۴

٣ -الْحَشِيشَةُ:نَوْعٌ مِنْ وَرَقِ الْقُنَّبِ الْهِنْدِيِّ يُسْكِرُ جِدًّا إِذَا تَنَاوَلَ مِنْهُ قَدْرَ دِرْهَمٍ.(١)

ترجمة: بنج دبا په زور سره په لغت او اصطلاح کی بیله چرسو یوبل داسی وابنه دی چی نشه لری ددردونو ارامونکی دی.

افیون: نرمه شیره ده چی دخشخاشو څخه استل کیږی، اوداپردرو خوب لرونکو موادو مشتمل دی، چی یو دهغوی څخه مورفین دی.

چرس: دقنب هندی دپاڼویوه قسم دی، چې دیوه درهم په اندازه استعمال سی ډیره زیاته نشه لری.

المخدرات بجميع أنواعها وأصنافها محرمة. فيحرم تعاطيها بأي وجه من الوجوه، أكلاً، أو شرباً، أو شماً، أو تدخيناً، أو حقناً أو غير ذلك؛ وذلك لضررها البالغ العظيم على الجسم والعقل .. ولما يترتب عليها من آثار سيئة ومفاسد أشد من آثار المسكرات .. من إضاعة الأوقات والأموال.. ومن إثارة العداوة والبغضاء..ومن الصد عن ذكر الله وعن الصلاة.(٢)

ترجمة: دمخدراتو ټول قسمونه اوصنفونه حرام دی، داستعمال هره طریقة چې وی، خوړل کیږی، چیښل کیږی، په پوزه کول کیږی، څکول کیږی، په پیچکاری لګول کیږی، اویانورو طریقوسره وی، داځکه چی جسم اوعقل ته ډیر ضرر رسوی، اوبل داچی ډیر بد مفاسد پرمرتب کیږی، دنشی دشیانو اثرات دادی: داوقاتو اومالونو ضایع کیدل دی، عداوت اودښمنی پیداکیدل دی، دالله تعالی دذکر اولمانځه څخه منع کیدل دی.

الخِدْرُ: السِتْرُ. وجارية مُخَدَّرَةٌ، إذالازمت الخِدْرَ. وأَخْدَرَفلانٌ في أهله،أي أقام فيهم.(٣)

ترجمة: مخدرات دخدر جمع ده: دستر په معنی دی، ویل کیږی: (انجلی مخدره) یعنی پټه ده، یا ویل کیږی: (خدر فلان) یعنی په خپل اهل کې پټ دی.

١- الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٨ ص ٢١٨ -- ٢- موسوعة الفقه الاسلامی ج ٤ ص ٣٢٤

٣- الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية ج٢ ص ٦٤٣

إن الخمر يدخل فيها كل مسكر، مائعاً كان، أو جامداً، عصيراً، أو مطبوخاً، فيدخل فيها الحشيشة والأفيون لأن هذا كله خمر بنص رَسُول اللّٰه صَلى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ الصريح، الذي لا مطعن في سنده، ولا إجمال في متنه. إذ صح عنه قوله: (كل مسكر خمر).(۱)

ترجمة:بيشکه دخمرپه تعريف کې ټول نشه کونکی شيان داخل دی،ختـه وی که بهيدونکی وی، اومه وی که پاخه، نوپه دغه کی چرس، افيون اوداسی نور هم داخل دی، ځکه دغه ټول درسول الله صلی الله عليه وسلم په صريح نص سره خمر دی، داسی نص دی چې نه دهغه په سندکې څه طعن سته اونه يې په متن کی څه اجمال سته، ځکه صحيح حديث نقل سوی دی، چې «هرنشه لرونکی شی خمر دی».

داچې دټول عالم حاکمانو مسلمان اوکافر منع کړی دی اوددوی پراستعمال، تجارت، اوزراعت بنديز لګولی دی ددی معنی لری چې ډيرخطرناک اوضررمند دی اوهرشی چې انسان ته په دين،عقل،جسم، مال اونسب ته ضرر رسوی هغه داسلام په مبارک دين کې ترهر وضعی قانون د مخه حرام بلل سوی دی، اوکافرانو په دی وجه بنديز پرلګولی دی چې ډيره زمانه پس دوی ته د تجربی لمخی ثابته سوله چې نشه اونشه کونکې شيان ضرر لری اودخالص ضرر پربنياد يې بنديز پرولګول.

پورتنی ذکرسوی حديثونه، داصحاب کرامو آثار اودفقهاؤ اقوال ټول پر دغه دليل دی چې دبنج، چرس، افيون، اوداسې نورو نشه کونکې شيانو خوړل څکول اونور استعمال حرام دی، نه يوازی داچی په آخرت کې سزاورکول کيږی بلکی په دنياکې هم سزا ورکول کيږی چی شرعی حد دی، داچې څوک يې نه اجرا کوی ددی دليل نه دی چې مباح ياحلال دی، بله مهمه خبره داده چې اجراء کونکې يادوخت حاکمان پخپله په دغه جرم اونشه څه ناڅه اخته دی.

۱- فقه على المذاهب الأربعة ج ٥ ص ٣٧

دهرشي پرنشه باندې حد سته

دپورتنیوذکرسوی آیاتونواوحدیثونودعام والی په استدلال ټولوفقهاؤ حکم کړی دی چې هرنشه کونکې شی حرام دی. یوشی چی په شریعت کې حرام وی نو دهغه فعل کول جرم دی، اودهرجرم دپاره په اسلامی شریعت کې دجرم دکوچنی والی اولوی والی په اندازه سزا مقرره ده، ددغو سزاگانو مختلفی اندازی اونومونه دی، داچې نشه کول جرم دی اوددغه جرم دپاره نه یوازی داچی په آخرت کې سزا مقرره ده، بلکی په دنیاکی هم سزا ورته مقرره اوثابته ده، هغه داچی داسلامی حکومت دحاکم اوقاضی لخوا په اتیا درو وهل کیږی.

خودلته هم دمخکنی بحثونو په شان دجمهورو فقهاؤ اوعلماؤ په نزد دنشیی شی په مطلق استعمال باندی حد سته نشه سی اوکه نه، دهرشی چې وی، خودحنفی مذهب فقهاؤ اوعلماؤ په نزد دخمر پر شرابو لږوی که ډیر نشه سی که نه حد باندی واجب دی.خوپه نورونشیی شیانوکی لکه: چرس،افیون، هیروین، تمباکو اوداسې نور که نشه وو نوحد باندی سته که نه نونسته.

مطلب داچې دغه اختلاف هم دهغه اختلاف څخه اخستل سوی دی چې دخمر لفظ عام دی که خاص دی، یابیله انگورو دنورو شیانو څخه جوړ سوی شرابوته هم خمر ویل کیږی که نه؟ اودغه بحث مخکې په ډیرتفصیل سره وسو اوثابته سوله چې دخمر لفظ عام دی وهر نشه کونکې شی ته خمر ویل کیږی، نوڅه هغه فقهاء او علماء چې دخمر لفظ خاص بولی نوهغوی وایی دخمر په چیښلوکې حد سته لږ وی که ډیر، نشه سی اوکه نه. اوپه نورو نشه کونکو شیانوکې چې نشه سی نوحد سته، که نه نو نسته. البته دحنفی فقهاؤ ترمنځ په دغه قول کی هم یونظر نه معلومیږی، ځکه په یوقول کې وایی حدسته خوپه بل قول کې وایی تعزیر یازجر سته، دبحث په تفصیل کی به دواړه قولونه راسی.

په دی هکله دنبی کریم صلی الله علیه وسلم یوحدیث رانقل کوم ترڅو معلومه سی چی نشه ته سزا ورکول سوی ده: عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الحَارِثِ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِنُعَيْمَانَ، أَوْ بِابْنِ نُعَيْمَانَ، وَهُوَ سَكْرَانُ، فَشَقَّ عَلَيْهِ، وَأَمَرَ مَنْ فِي البَيْتِ أَنْ يَضْرِبُوهُ، فَضَرَبُوهُ بِالْجَرِيدِ وَالنِّعَالِ، وَكُنْتُ فِيمَنْ ضَرَبَهُ». (۱)

ترجمة: دعقبة بن عامرڅخه روایت سوی دی: چی نبی صلی الله علیه وسلم ته نعیمان یادنعیمان زوی په داسی حال کی راوستل سو چی نشه وو، پرنبی صلی الله علیه وسلم دا ډیره سخته سوله، نوپه دغه کور کی چی څوک وه هغوی ته یی دوهلو امر وکړی، نوهغوی دخرما دونی په پاڼو اوچوټو واهه، دی وایی زه هم په هغوی کی وم، یعنی ماهم وواهه.

په دغه حدیث کی یوازی وهل ثابت سول داچی څومره وهل کیږئ مقدار او عددمعلوم نه سو، نوځکه دلته اجتهاد ته لاره خلاصه سوله، ترڅودوخت حاکمان دحالاتومطابق ورته عدد اومقدارتعین کړی، نوځکه په مختلفووختونوکی مختلف عدد نقل سوی دی.

ددغه حدیث په شرح کی په عمدة القاری شرح صحیح البخاری کی چی یو حنفی عالم دی لیکلی دی: وَاحتج أصْحَابنَا بِهَذَا الحَدِيث: أَن حد السَّكْرَان من شرب الْخمر وَغَيرهَا من الأنبذة ثَمَانُون جلدَة.

وَقَالَ الشَّافِعِي:أَرْبَعُونَ جلدَة،وَبِه قَالَ أَحْمد فِي رِوَايَة،لِأَن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، ضرب فِي الْخمر بِالْجَرِيدِ وَالنعال، وَضرب أَبُو بكر أَرْبَعِينَ.

قُلْنَا: مَا رَوَاهُ كَانَ بجريدتين والنعلين، فَكَانَ كل ضَرْبَة بضربتين، وَالَّذِي يدل على هَذَا قَول أبي سعيد: جلد على عهد رَسُول الله، صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، فِي الْخمر بنعلين، فَلَمَّا كَانَ فِي زمن عمر، رَضِي الله تَعَالَى عَنهُ، جعل بدل كل نعل سَوْطًا. رَوَاهُ أَحْمد.(۲)

۱- صحیح البخاري کتاب الحدود -- ۲- عمدة القاری شرح صحیح البخاری ج ۱۶ ص ۲۰۵

ترجمة: زموږ (حنفی) ملګری په دغه حدیث دلیل وایی چی دنشه انسان حد اتیا دوری دی دخمر په چیښلوسره نشه وی که په نورو شیانو سره وی.

امام شافعی رحمة الله تعالی علیه وایی: څلویښت دوری دی، همدغه قول دامام احمد بن حنبل رحمة الله تعالی علیه هم دی، ځکه په یوروایت کې راغلی دی چی نبی صلی الله علیه وسلم دخمر دشرابو چیښونکی دخرما دونی په پانو او چوټو وواهه، ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه څلویښت دوری وواهه.

زموږ احنافو دلیل هغه حدیث دی چی روایت سوی دی (دهغه څخه دوی ښاخلی اودوی چوټی مراد دی، اودهروار وهلو څخه دوه واره مراد دی) پر دغه توجیه باندی دابی سعید خدری رضی الله تعالی عنه داحدیث دلیل دی چی وایی: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: «جُلِدَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَمْرِ بِنَعْلَيْنِ أَرْبَعِينَ، فَلَمَّا كَانَ زَمَنُ عُمَرَ جُلِدَ بَدَلَ كُلِّ نَعْلٍ سَوْطًا». (۱)

ترجمة:ابوسعیدخدری رضی الله تعالی عنه وایي:درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دخمرحد په دووچوټوڅلویښت ووهل سوبیاچی دعمر فاروق (رض) زمانه سوله نو دچوټی وهل په چلاخه یادوره بدل سوله.

دعمدة القاری دعبارت څخه یودحد اندازه معلومه سوله چې اتیا دوری دی، او بل داچی دجمهورو فقهاؤ اوحنفی فقهاؤ یونظر معلومیږی هغه داچی دهرشی پر نشه باندی حد سته.

خودحنفی فقهی په کتابونوکی څه داسی لیکلی دی:۱- یحد مسلم ناطق، فلایحد أخرس للشبهة، مکلف، شرب الخمر ولوقطرة بلاقید سکر، اوسکرمن نبیذ ما، وبه یفتی. (۲)

۱- رواه امام احمد فی مسنده   ۲- الدرالمختار شرح تنویر الأبصار ص ۳۱۲

ترجمة: مسلمان خبری کونکې په حد کیږی، ګونګی نه په حد کیږی، ځکه په ده کې شبهة سته (اوحد په شبهة نړیږی) مکلف یعنی بالغ به وی (پرنابالغ نسته) شراب به یی چیښلی وی که څه هم یوه قطره وی، دنشی قید ورسره نسته، او دهر نبیذ پرنشه باندې حد سته کله چې نشه سی، دنورو شیانو څخه ده په (نبیذ ما) سره تعبیر کړی دی، اوحنفی مذهب مطابق پردغه قول فتوی کول کیږی.

په پورته ذکرسوی عبارت کې دخمر اونورو ترمنځ داسې فرق سوی دی، چې خمر لږوی که ډیر اونشه وی که نه حد پرسته،اوپه نورو کې دومره اندازه شرط سوی ده چې په نشه سی نوبیا حد پرسته.

خودداغه کتاب په شرح ردالمحتارکې بیا داسې لیکې: ۲-ونقل فی الأشربة عن الجوهرة حرمة أکل بنج وحشیشة وأفیون لکن دون حرمة الخمر، لوسکر بأکلها لایحد بل یعذر. (۱)

ترجمة: دجوهرة نومی کتاب څخه داشربة په بحث کې نقل سوی دی، چې دبنجو، چرسو او افیونو خوړل حرام دی، خوددوی حرام والی دخمر ترحرام والی کم دی، که ددوی په خوړلو نشه سی نوپرده باندې حد نسته بلکې زجر ورکول کیږی.

دلته وایی ددوی حرام والی ترخمر کم دی، اودنورو په نشه کې تعزیر یازجر سته، معنی داکه نشه سی نوهم تعزیر یازجر سته حد نسته، دغه ددوی دخپل منځ اختلاف دی، په پورته عبارت کې وایی که نشه سونوبیاحد سته ، خودلته وایی که نشه سوبیاهم حد نسته بلکې زجر یاتعزیر سته.خودغه عالم په دغه خپله خبره هیڅ شرعی دلیل نه دی لیکلی.

دحد اوتعذیر ترمنځ فرق دادی:چې حد یوشرعی سزاده چی په هغه کی کمبود اوزیاتوب کول جایز نه دی، البته په تعزیرکی دحاکم اوقاضی اختیاردی لږ ورکوی

۱- رد المختار علی درالمختار جلد ۶ ص۷۵

که ډیر، خو بیا هم ترشرعی حد زیات نسی ورکولای.

۳- يحرم كل مايزيل العقل من غير الأشربة المائعة كالبنج والحشيشة والأفيون ، لما فيه من ضرر محقق، ولاضر ولاضرار في الاسلام، ولكن لاحد فيها، لأنها ليست فيها لذة ولاطرب، ولايدعو قليله إلى كثيرها، وإنما فيها التعزير .(۱)

ترجمة: دهرهغه شي خوړل حرام دی چې عقل زائل کوی، که څه هم هغه د بهیدونکو شرابو څخه نه وی، لکه بنج، چرس او افیون ، ځکه په دوی کې ضرر ثابت دی، اوپه اسلام کې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې عام قانون راکړی دی چې نه به خپل ځان ته ضرر رسوی اونه به وبل ته ضرر رسوی. خوپه دوی کې حد نسته، بلکی بیشکه په دوی کې تعزیر سته، ځکه په دوی کې هغه خوند او مستی نسته کوم چې په شرابو کې سته، اونه داسې دی چې لږیی وډیروته دعوت ورکوی لکه شراب، بلکی په دوی کې پرنشه باندې تعزیر سته. مطلب داچی حرام دی خو شرعی حد نسته، بلکی تعزیرسته.

خوځه نور فقهاء اوعلماء بیاددوی درای سره موافقه نلری اوفرمایی: ۱- وقال ابن حجرالهيتمي: واعلم أن الحشيشة المعروفة حرام كالخمر. يحد آكلها قال به جماعة من أهل العلم،كمايحد شارب الخمر. وهي أخبث من الخمر من جهة أنها تفسد العقل والمزاج. إفساداً عجيباً حتى يصيرفي متعاطيها تخنث قبيح ودياثة عجيبة وغيرذلك من المفاسد. فلا يصير له من المروءة شيء البتة، ويشاهد من أحواله خنوثة الطبع وفساده وانقلابه إلى أشر من طبع النساء.. وكذا متعاطي نحو البنج والأفيون. (۲)

ترجمة: این حجر هیتمی وایی: پوه سی: دغه معلوم چرس داسی حرام دی لکه خمر، پراستعمال کونکی حد جاری کیږی، په دغه باندی دعلماؤ یو جماعت قول کړی دی ، داسی حد پرجاری کیږی لکه دشرابو (یعنی اتیادوری) او دغـه تر

۱- فقه اسلامی وادلته جلد ۶ ص ۱۶۶ -- ۲- المسكرات والمخدرات ج ۱ ص ۳۸

شـرابو پـه دی وجـه ډیر بد دی چی عقل او مزاج عجیب ډول فاسدا و خرابوی، چی دچرسو عادی انسان لکه نربنځی داسی جوړسی، دوس مزاجه سی، هیڅ غیرت او میړانه پکښې نه وی، اودغه حال په مشاهده وهرچاته معلوم دی، بلکی دبنځو ترمزاج هم بد وی، همدغه طبیعت دبنجو اوافیونو دعادی خلګوهم دی.

٢- وما تقدَّم من نصوصٍ في الخمر؛ يمضي في المخدارت وكل ما يزيل العقل ويُسكر. كالبنج، فإن المسكر يجب فيه الحدّ، وغير المسكر يجب فيه التعزير.

قال شيخ الإسلام رحمه الله:"وأمّا "الحشيشة" الملعونة المسكرة:فهي بمنزلة غيرهامن المسكرات، والمسكر منها حرام باتفاق العلماء؛ بل كل ما يزيل العقل فإنه يُحرم أكلُه ولو لم يكن مسكراً.

وأمّاقليل"الحشيشة المسكرة"فحرام عند جماهير العلماء، كسائر القليل من المسكرات، وقول النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :"كلّ مسكر خمر، وكلّ خمر حرام". يتناول ما يُسكر، ولا فرق بين أن يكون المسكر مأكولاً، أو مشروباً؛ أو جامداً، أو مائعاً.

ونبيّنا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِث بجوامع الكَلِم، فإذا قال كلمة جامعة كانت عامّة في كل ما يدخل في لفظها ومعناها، سواء كانت الأعيان موجودة في زمانه أو مكانه، أو لم تكن، فلمّا قال: "كل مسكر حرام" تناوَل ذلك لجميع انواع المسكر.(١)

ترجمة:کوم نصوص اودلایل چی دخمر په هکله مخکی ذکرسوله، هغه دټولو مخدراتو اوټولو هغو شیانو په باره کی هم دی چی عقل زایل کوی اونشه کوی، شیخ الاسلام رحمة الله تعالی علیه فرمایی: هغه ملعون نشه کونکی چرس داسی دی لکه نور نشه کونکی شیان، دعلماؤ په اتفاق حرام دی، بلکی ټول هغه څه چی عقل خرابوی دهغوی خوړل اواستعمال حرام دی که څه هم دی نشه نکړی،

١- الموسوعة الفقهية في الكتاب والسنة المطهرة ج ٦ ص ٢٣

او بیشکه که نشه سی نوحد باندی سته، که نشه نسی نوتعزیر پرواجب دی.

دجمهورو علماؤ په نزد دنشه کونکو چرسو لړ هم داسی حرام دی لکه دنورو نشه کونکو شیانولړ چی حرام دی، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم داقول چی فرمایی: هرنشه کونکی شی خمر دی، اوهر خمر حرام دی، وټولو نشه کونکو شیانوته شامل دی، دافرق نلری نشه کونکی شی خوړل کیږی که چیښل کیږی، ختیه وی که نرم.

زموږ نبی صلی الله علیه وسلم ته جامع کلمات اوالفاظ ورکول سوی دی، کله چې دی یوه کلمه یالفظ وایی نووټول هغه څه ته عام اوشامل دی چی په دغه لفظ اومعنا کی داخل وی، دافرق نلری چی دده په زمانه اوځای کی موجود وی اوکه نه وی موجود ،نوچی ده وفرمایل: «هرنشه کونکی شی حرام دی» نودغه حکم دنشه لرونکوشیانو وټولو انواعو اوقسمونوته شامل دی.

۳-وَاخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُفِي مَنْ شَرِبَ النَّبِيذَ وَهُوَمَاسِوَى عَصِيرِالْعِنَبِ مِنَ الأَنْبِذَةِ الْمُسْكِرَةِ فَقَالَ الشَّافِعِيُّ وَمَالِكٌ وَأَحْمَدُ رَحِمَهُمُ اللَّهُ تَعَالَى وَجَمَاهِيرُ الْعُلَمَاءِ مِنَ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ هُوَ حَرَامٌ يُجْلَدُ فِيهِ كَجَلْدِ شَارِبِ الْخَمْرِ الَّذِي هُوَ عَصِيرُ الْعِنَبِ سَوَاءٌ كَانَ يَعْتَقِدُ إِبَاحَتَهُ أَوْ تَحْرِيمَهُ، وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ وَالْكُوفِيُّونَ رَحِمَهُمُ اللَّهُ تَعَالَى لاَ يَحْرُمُ وَلاَ يُحَدُّ شَارِبُهُ وَقَالَ أَبُو ثَوْرٍ هُوَ حَرَامٌ يُجْلَدُ بِشُرْبِهِ مَنْ يَعْتَقِدُ تَحْرِيمَهُ دُونَ مَنْ يَعْتَقِدُ إِبَاحَتَهُ وَاللَّهُ أَعْلَمُ. نووي.(۱)

ترجمة: دعلماؤ دهغه چا په حکم کې اختلاف دی چی نبیذ یی چیښلی وی، «دانګورو دشرابو نه بغیر نور ټولو نشه لرونکو شرابونوته نبیذ وایی» امام شافعی، امام مالک، امام احمد بن حنبل، اومخکنی او وروستنی جمهور علماء رحمة الله تعالی علیهم وایی: دغه دنبیذ چیښونکی داسی په درو وهل کیږی لکه

۱- نووی شرح صحیح مسلم ج ۱۱ ص ۲۱۸

دهغه خمر چیښونکی چی دانګورو څخه جوړ سوی وی، دافرق نلری چی داباحت عقیده لری که دحرمت، امام ابو حنیفة اودکوفی نور علماء وایی نه حرام دی اونه حدباندی سته،ابوثور وایی: نبیذ حرام دی خوپه چیښلو پرهغه انسان باندی حد سته چی دحرمت عقیده ولری، چی دحرمت عقیده نلری پرهغه حد نسته.

۴- وأما حد شرب الْمُسكر فعلى وَجْهَيْن:أحدها أن يشربه دون السكر، والآخر أن يشربه إلى السكر فيسكر.

أما إذا شربه دون السكر فَلاَ حد عَلَيْهِ فى قَول ابي حنيفَة وصاحبيه, وفى قَول الشَّافِعِي وَمَالك عَلَيْهِ الْحَد وإن شرب جرعة وَاحِدَة، وإذا شربه إلى السكر فَعَلَيه الْحَد مُتَّفقا. إلا أن فى مَاهِيَّة السكر اخْتِلاَف: قَالَ ابو حنيفَة هُوَ أن لايعرف الرجل من الْمَرْأَة وَلاَ السَّمَاء من الأرض وَلاَ الزَّوْجَة من الأم وَنَحْوه.

وَفِي قَول أبي يُوسُف وَمُحَمَّد إذا غلب على عقله حَتَّى خلط فى كَلاَمه, وَلم يتم صلاَته وَاسْتحق الاِسْم حَتَّى قيل سَكرَان فإنه يحد.

وَقَالَ بَعضهم هُوَ أن لايقدر أن يمشي مستويا ويميل على يَمِينه وشماله.(۱)

ترجمة: دمسکرد چیښلو حد پردوه وجهی دی:یو دا چی مسکردومره وچیښی چی نشه نسی، بل دا چی دومره وچیښی چی نشه سی.

هغه انسان چی مسکر وچیښی خونشه نسی پرهغه باندی دامام ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد حد نسته، دامام شافعی، امام مالک، امام احمد بن حنبل رحمة الله تعالی علیهم په نزد پرده باندی حد واجب دی که څه هم یو غوړف وی، او که دومره وچیښی چی نشه سی نوبیا دټولو په اتفاق حدپرواجب دی، خودلته دنشی په تعریف کی دامام صاحب اودهغه دیارانو ترمنځ اختلاف سته لکه

۱- النتف فى الفتاوى (الفقه الحنفى) ج ۲ ص ۶۴۵

مخکی هم ددی څخه بحث سوی دی، هغه داچی امام صاحب وایی نشه انسان هغه دی چی نارینه دښځی، آسمان دمځکې اوماندینه دمور څخه نه پیژنی، دامام ابو یوسف اوامام محمد رحمة الله تعالی علیهما په نزد نشه هغه انسان دی چی دده پرعقل غلبه سوی وی، آن تردی چی ډیری خبری یی ګډی وډی وی، لمونځ نسی پوره کولای، اوداچی وده ته نشه ویل کیدلای سی، نوبیاپرده حدجاری کیدای سی.

څه داوسنی عصرعلماء چی دنشیی موادو فساد اوضررونه یی مشاهده کړی دی دسزاپه هکله داسی فرمایی: وتختلف عقوبة أهل المخدرات بحسب شدة جرمهم كما يلي: ۱ – مهرب المخدرات عقوبته القتل؛ لعظيم شره وضرره.

۲ – مروّج المخدرات بالبيع والشراء، أو الإهداء، أو التصنيع، أو الاستيراد: في المرة الأولى يعزر تعزيراً بليغاً بالحبس، أو الجلد، أو الغرامة المالية، أو بها كلها حسب رأي الحاكم بما يحقق المصلحة، ويدفع المفسدة.

وإن تكرر منه ذلك يعزر بما يقطع شره عن الأمة، حتى ولو كان ذلك بالقتل؛ لأنه بفعله هذا من المفسدين في الأرض. (۱)

ترجمة: دنشیی توکو دخاوندانو سزا دهغوی دجرم په اندازه مختلفه ده،

۱- دهغه انسان سزا قتل دی چې دیوه ځایه څخه بل ځای ته په قاچاق اوګوریزی باندی وړی اونورخلګ په اخته کوی ځکه دده شر اوضرر ډیر لوی دی.

۲- دهغه انسان سزاچی نشیی شیانوته په خرڅولو ،رانیولو ، تحفه ورکول، جوړول، په تجارتی ډول راوړلوسره رواج ورکوی، نوداول ځل دپاره سخت تعزیر ورکول کیږی، هغه په بندی کیدلو ، په دروهلوسره، په نقدی جریمه سره، او یاپه دغو ټولو سره، څنګه چی دوخت حاکم مناسب بولی، داسی چی مصلحت په راسی اوفساد ورک سی.

۱- موسوعة الفقه الاسلامي ج ٥ ص ١٥٠

که بیاتکرارسی نوداسی سزادی ورکول سی چی امت دده دشرڅخه وساتل سی، که څه هم دده په وژلو سره وی، ځکه په دغه عمل سره دی دمفسیدینو څخه دی. اوڅوک چی په مځکه کی فساد کوی دهغوی په هکله رب العالمین فرمایی: إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ. (۱)

بیشکه دهغو کسانو سزاچی دالله تعالی اودهغه درسول سره جنګ کوی، او په مځکه کی دفساد کوشش کوی، دادی چی ووژل سی، وځړول سی، لاس او پښه یی مخالف (یعنی راسته لاس اوچپه پښه، یاراسته پښه اوچپه لاس) پری کړل سی، اویادمځکې څخه وشړل سی، دغه ددوی دپاره په دنیاکی خُواری او سزاده، اوددوی دپاره په آخرت کی لوی عذاب دی.

په اولنیو وختونو کی دنشی یاشرابو دڅیښلو سزادومره سخته وه چی دجرم په تکرار سره سزاهم سختیدله، په حدیث کې راغلی دی: عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ شَرِبَ الخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ، فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ». (۲)

ترجمة: دمعاوية رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې شراب وڅیښل نوهغه په درو ووهی، اوکه څلورم وار یی بیا وڅیښل نو مړیی کړی.

په پورتنی حدیث کی دخمر لفظ راغلی دی، خوپه یو بل روایت کی دسکر لفظ راغلی دی، معنا داچی خمر اوسکر دواړه په یوه معنادی، لکه چی فرمایی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَاسَكِرَ فَاجْلِدُوهُ، ثُمَّ إِنْ سَكِرَ فَاجْلِدُوهُ، ثُمَّ إِنْ سَكِرَ فَاجْلِدُوهُ، فَإِنْ عَادَ الرَّابِعَةَ فَاقْتُلُوهُ». (۳)

۱- سورة المائدة آیت ۳۳ -- ۲- رواه سنن الترمذی کتاب الحدود - ۳- سنن أبی داود کتاب الحدود

ترجمة: دابوهريرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که نشه سو نوپه درو یی ووهی، که بیا نشه سو نوپه درویی ووهی، که بیا نشه سو نوپه درویی ووهی، که څلورمه وار بیا نشه سو نومړ یی کړی.

البته دغه دڅلورم وارد چیبنلو حکم چې قتل یاوژنه ده منسوخ سوی دی څکه په یوبل حدیث کې راځی: عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ، فَإِنْ عَادَ فَاجْلِدُوهُ، فَإِنْ عَادَ فِي الثَّالِثَةِ أَوِ الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ»، فَأُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ فَجَلَدَهُ، ثُمَّ أُتِيَ بِهِ فَجَلَدَهُ، ثُمَّ أُتِيَ بِهِ فَجَلَدَهُ، ثُمَّ أُتِيَ بِهِ فَجَلَدَهُ، وَرَفَعَ الْقَتْلَ، وَكَانَتْ رُخْصَةً. (۱)

ترجمة: دقبیصة بن ذؤیب څخه روایت دی چې نبی علیه السلام وفرمایل: چاچې شراب وچیبنل نو هغه په درو ووهی، که یی بیا وچیبنل نوپه درو یی ووهی، که یی بیاوچیبنل نوپه درو یی ووهی، اوکه یی دریمه یاڅلورمه دفعه وچیبنل نومړ یه کړی، نویوسړی ورته راوستل سو چې شراب یی چیبنلی وه نوده په درو ووهی، بیاورته راوستل سو په درویی ووهی، بیا ورته راوستل سو نوده په درو ووهی، بیا ورته راوستل سو نوده په درو ووهی، اوقتل یاوژنه پورته سوله اودغه رخصت سو.

په بل ځای کی امام ترمذی نقل کوی اوفرمایی: وَإِنَّمَا كَانَ هَذَا فِي أَوَّلِ الأَمْرِ ثُمَّ نُسِخَ بَعْدُ، هَكَذَا رَوَى عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ مَنْ شَرِبَ الخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ، فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ»، قَالَ: ثُمَّ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الخَمْرَ فِي الرَّابِعَةِ فَضَرَبَهُ وَلَمْ يَقْتُلْهُ. (۲)

ترجمة: دغه حکم په اولو وختنونو کې وو خووروسته منسوخ سو، همداسی یو حدیث دجابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، چی نبی صلی الله علیه وسلم

۱- رواه سنن أبی داود کتاب الحدود -- ۲- رواه الترمذی کتاب الحدود

وفرمایل: بیشکه څوک چې شراب وچیښي نوهغه په درو ووهی، اوکه یې څلورم ځل وچیښل نومړ یې کړی، دی وایی: بیا نبی صلی الله علیه وسلم ته تردغه وروسته یوسړی راوستل سو چې هغه څلورم ځل چیښلی وه، خوهغه یې وواهه اومړ یې نکړی.

درد المحتار په عبارت کی لیکلی وه چې ددوی حرام والی ترشرابوکم دی، داسی عبارت یوازی داحنافو په مخکنی کتابونو کی لیدل کیږی، کیدای سی دهغوی په زمانه کې دغه اوسنی منشیات نه وه، اویادوی دضررونو مشاهده نوی کړی، که نه نودشرابو په هکله رب العالمین فرمایی: (يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا). (۱)

ترجمة:خلگ ستاڅخه دشرابو اوقمارپه هکله پوښتنه کوی،نوته ورته ووایه، چې په شرابو اوقمارکی دخلگو دپاره څه منافع سته خوګناه یې ترنفع زیاته ده.

خوداوس زمانی نشه لرونکی شیان لکه چرس، افیون، هیروین، تباکو، نسوار، چیلم، سگریت اوداسی نورانسان ته هیڅ نفع نلری،بلکی خالص ضرر دی، او دغه مشاهده اوتجربه تقریبا هر انسان کولای سی، نه پوهیږم چې یوعالم به پر کوم بنیاد داسی ویلای سی چې اوسنی منشیات ترشرابو کم دی،اودوی هم پرخپل دغه قول داسی یو منقول یامعقول دلیل نه دی لیکلی.

داچې په فقه اسلامی کی لیکلی دی: په نورو نشیی شیانو کی حد نسته تعزیر سته اودلیل وایی: دانگورو دشرابو نه بغیر په دغه نورو کې حد نسته ځکه په دوی کې خوند اومستی نسته، سوال دادی: که په دغو شیانو کی خوند اومستی نه وی نو دکومی فایدی دپاره یې خلگ استعمال کوی؟ بل داکه دخوند اومستی څخه نشه مراد نه سی نو یوازی خوند اومستی چې پرعقل تاثیر نه کوی یانشه نلری

۱- سورة البقرة آیت ۲۱۹

حرامه نه ده، څکه حد دهمدی دپاره دی چې دی دغه نشه پرېږدی اودده عقل سالم پاته سی، ترڅو دالله تعالی ذکراوعبادت وکړی.

بل دلیل داوایي:چې لړیې ډیروته بلنه نکوی دتجربی څخه خلاف معلومېږی څکه دانګورو شراب په شپه او ورځ کی یویادوه ځله چیښل کیږی، خونسوار، سیګریټ، چرس اوداسی نور ګړی په ګړی استعمالیږی، داپه خپله ددی معنی ده چی لړیې ډیروته بلنه کوی.

بل داچې په شریعت کی پرنشه حد ورکول کیږی، وډیروته دعوت یابلنه دحد دپاره شرط نه ده، بلکی داسی نشه شرط ده چی هغه دالله تعالی دذکر اودلمانځه څخه منع کونکی وی، او که نشه نلری نوولی څوک پرېښودلای نسی؟.

داچې پورته ذکرسوی ټولو دلایلوکی موږ ولوستل چې دشرابو ه‌حراموالی علت نشه ده، اودغه علت چې په هر شی کې پیداسي نو د هغه داغه حکم دی یعنی حرام دی اوسزایې حد ده، نودلته خاص وجه نسته چی علت یو وی اوحکم سره جداوی، بل داچې څه اصحابو کرامو صراحت کړی دی چی نبیذ یعنی بیله دانګورو دشرابو څخه دنورو منشیاتو سزا هم اتیا دوری دی:

۱- عن علی :قال حد النبیذ ثمانون.

۲- عن الحسن فی السکران أن من النبیذ قال یضرب ثمانین.

۳- عن بن عباس قال فی السکرمن النبیذ ثمانون. (۱)

ترجمة: ۱- دعلی رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چی دی وایي: دنبیذ حد اتیادوری دی.

۲- دحسن رضی الله تعالی عنه څخه دنبیذ دنشی په هکله پوښتنه وسوه نوده وویل: اتیادوری وهل کیږی.

۱- مصنف بن ابی شیبة ج ۵ ص ۵۰۲ کتاب الحدود

۳- ابن عباس رضی الله تعالی عنهما دنبیذ دنشی په باره کې وایي: اتیادوري دی.

پورتني ذکرسوي آثار په وضاحت اوصراحت سره دلالت کوي چې بیله خمر څخه په نورو کې هم نه یوازې داچې حد سته بلکې اندازه یې هم هغه اتیا دوري دي، اوداچې دحنفي فقهاؤ په نزد نبیذ دخمرڅخه جلا شی دی، دخمر نوم نبیذ ته شامل نه دی، نوځکه ددوی په سزاکې هم جلا والی کوي، دپورتنیو آثارو څخه معلومه سوله چې دجلاوالي هیڅ دلیل نسته دهرنشه کونکې شی پرخوړلو یا استعمال کولو اتیا دوري شرعي حد منصوصی دی.

دپورتني تحقیق څخه معلومه سوله که دخمر پرڅیښلو اتیادوري شرعي حدسته نودنورو منشیاتوپرخوړلو اونشه باندې هم شرعي حد سته، دائځکه چې نه یوازې داچې دخمر لفظ عام دی وهرنشه کونکې شی ته خمر ویل کیږي، بلکې دحدیثونو، آثارو اوفقهاؤ دقولونو څخه هم ثابته سوله چې دهرنشه لرونکی شي پر استعمال اونشه باندي شرعي حد اوسزا ورکول واجب دي، داچې دوخت حاکمان او قاضیان خپله څه ناڅه په دغه جرم اخته دی نوبل ته به څنګه سزا ورکړي، اوبل دغه څه دفقهي کتابونو هم بهانه ورجوړه کړې ده.

موږ مخکې ولوستل چې پرنشه باندې دټولو مذهبونو دفقهاؤ په اتفاق حد واجب دی، خوبیاهم دوخت علماء اوحاکمان نه یوازې داچې حد نه پرجاري کوي بلکې هغه زجر هم نه ورکوي کوم چې دحنفي مذهب فقهاؤ ورته تعین کړی دی، خصوصا په دی هکله په افغانستان کې داسلامي امارت دکارکنانو او مجاهدینو ډیره لویه زمه ده چې په خپلو منطقوکې ددغه مفاسدو مخه ونیسي لکه څرنګه چې دنورو شرعي حکمونو دنافذ کولو دپاره قرباني ورکوي دغه هم یوشرعي امر دی چې پردوی یې تنفیذ واجب دی.

چې ډير يې نشه لري دهغه لږ هم حرام دی

ترهرڅه دمخه ددی مسئلی بنیاد درسول الله صلی الله علیه وسلم هغه حدیثونه دی چی په هغوی کی راغلی دی: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ، فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ». (۱)

ترجمة: جابربن عبد الله رضی الله تعالی عنهما وایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دکوم شی چی ډیر نشه لری دهغه لږ هم حرام دی.

په بل حدیث کې راغلی دی:عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، مَا أَسْكَرَ الفَرَقُ مِنْهُ فَمِلْءُ الكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ.(۲)

ترجمة:عائشة رضی الله تعالی عنها وایی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:هرنشه کونکې شی حرام دی ، اوهغه چې فرق (یعنی دری کاسی یاپیمانی) یې نشه کوی نودهغه یو ورغوی (نیمه لپه) هم حرام دی.

په دغه مسئله کې هم دحنفی اوجمهورو فقهاؤ ترمنځ اختلاف نقل سوی دی، هغه داچې دحنفی فقهاؤ په نزد دانگورواوخرمادنشه کونکوشرابو لږ او ډیر دواړه حرام دی اوحد باندې سته، اوددوی نه بغیردنورو نشه کونکو شیانو لږمباح اوډیری یی حرام دی،که نشه سونوحدباندې سته که نه نونسته، یعنی دجمهورو فقهاؤپه نزد ټول نشه کونکی شیان یوډول دی، لږاوډیر یی فرق نلری، ټول یوشانته حرام اوحد پرسته، ددغه اختلاف هم یوه وجه هغه ده چی دجمهورو فقهاؤ په نزد دخمر لفظ عام دی وهرنشه کونکی شی ته ویل کیږی، نودخمر په اړه ټول حکمونه وټولو نشه کونکو شیانوته ثابت دی، داچی دځه احنافو په نزد دخمر لفظ خاص دی یوازی دانگورو اوخرماڅخه جوړ سوی شرابوته خمر ویل کیږی نوځکه نورنشه کونکی شیان: لکه هغه شراب چې دغنمو، اوربشو، عسلو اوداسی نورو څخه جوړ

۱- سنن ابوداود کتاب الأشربة ۲- الجامع الترمذی کتاب الأشربة

سوی وی،اویاددوی نه علاوه نور دنشی شیان لکه: نسوار، سیگریټ، چیلم، افیون، چرس، هیروین اوداسی نور دخمر څخه جلا ځانته حکمونه لری.

دحنفی مذهب فقهاء نه یوازی داچی دجمهورو فقهاؤ سره اختلاف لری بلکی ددوی خپل په منځ کی هم ډیر ژور اختلاف نقل سوی دی، هغه داچی امام ابوحنیفة اوامام ابویسف رحمة الله تعالی علیهما یوطرف اوامام محمد رحمة الله تعالی علیه بل طرف دی، اوتقریبا په ټولو کتابونو کی لیکلی دی چی فتوی دامام محمد صاحب رحمة الله تعالی علیه پرقول ده.

دغه مسئله اواختلاف دحنفی مذهب په کتابونو کی څه داسی لیکلی ده:

۱- وماسوی ذلك من الأشربة فلا بأس به" وهو نص على أن ما يتخذ من الحنطة والشعير والعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة، ولا يحد شاربه عنده وإن سكرمنه،

وعن محمد أنه حرام ويحد شاربه ويقع طلاقه إذا سكر منه كما في سائر الأشربة المحرمة. (۱)

ترجمة: دانګورو دشرابونه بغیر نورشرابونه پروا نلری، اودا دلیل دی چی هغه څه چی دغنمو، اوربشو، عسلو، جوارو څخه جوړیږی دامام ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزد حلال دی، که څه هم ددغه څخه نشه سی.

دامام محمد رحمة الله تعالی علیه قول دی: چی دغه حرام دی اوددغه پر چیښونکی باندی حد جاری کیږی، اوکه ددغه څخه نشه سی اودطلاق الفاظ ووایی طلاق یی واقع کیږی لکه دنورو حرامو شرابونو په شان.

ملاحظة: دپورتنی کتاب هدایی عبارت که په سطحی نظر وڅیړو نوهم څو ټکی ځنی معلومیږی، یوداچې دامام ابوحنیفة (رح) اوامام محمد (رح) ترمنځ اختلاف دحلال اوحرام په هکله نقل سوی دی، لکه داچې امام ابوحنیفة (رح) په

۱- الهداية فی شرح بداية المبتدی ج ۴ ص۳۹۶

نزد دخمر نه بغير تولو شرابونو ته حلال ويل سوي دي كه څه هم په نشه سي، خو امام محمد صاحب بياوتولوته حرام ويلي دي، كه په نشه سي نوحد پر جاري كيدل واجب دي، اوطلاق يې واقع كيږي، داچي اختلاف په حلال اوحرام كي دي خو بياهم دكتاب مصنف ديوه دليل هم نه دي ليكلي ترڅو موږ دهغوي ترمنځ دراجح اومرجوح فيصله وكړو، حال داچي يوشي په يوه حال كي حرام اوحلال نسي كيدلاى، ځكه په حديث كي راغلي دي: عَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، عَنِ الْبَاذَقِ فَقَالَ: سَبَقَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَاذَقَ: «فَمَا أَسْكَرَ فَهُوَحَرَامٌ» قَالَ: الشَّرَابُ الْحَلَالُ الطَّيِّبُ، قَالَ: «لَيْسَ بَعْدَ الْحَلَالِ الطَّيِّبِ إِلاَّ الْحَرَامُ الْخَبِيثُ». (۱)

ترجمة: ابوالجويرية وايي مادابن عباس رضى الله تعالى عنهما څخه دباذق (باذق دانګوروهغه شيره ده چي جوش كړل سي اودنشي حالت ته ورسيږي) په باره كي پوښتنه وكړله، نوده راته وويل: چي محمد صلى الله عليه وسلم دباذق تر پيدا كيدلو دمخه ددنيا څخه رخصت سو، نوده وويل هرشي چي نشه لري هغه حرام دي، ابوجويرية وايي ماورته وويل: چي باذق يعنى دانګورو شيره خوحلاله اوپاكه ده، ده راته وويل: چي انګور خوحلال اوپاک دي خوكله چي نشه ځني جوړه سوه نوحرام او خبيث سوله، ځكه دحلال اوطيب څخه وروسته نسته مګر حرام اوخبيث دي.

دويم: داچي دامام ابوحنيفة (رح) ته دغه قول منسوب كړي دي چي هغه وايي: ما يتخذ من الحنطة والشعيروالعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة، ولا يحد شاربه عنده وإن سكرمنه) حال داچي دغه حكم هم دصريح اومرفوع حديثونو خلاف دي، لكه داچي فرمايي: عَنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: مَنَ

۱- رواه صحيح البخارى كتاب الأشربة

الْحِنْطَةِ خَمْرٌ، وَمِنَ التَّمْرِ خَمْرٌ، وَمِنَ الشَّعِيرِ خَمْرٌ، وَمِنَ الزَّبِيبِ خَمْرٌ، وَمِنَ الْعَسَلِ خَمْرٌ. (١)

عن النُّعْمَانِ بنِ بَشِيرٍ، عن النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قال: «مِنَ الْحِنْطَةِ خَمْرٌ، وَمِنَ الشَّعِيرِ خَمْرٌ، وَمِنَ الزَّبِيبِ خَمْرٌ، وَمِن الْعَسَلِ خَمْرٌ».(٢)

وَرَوَى أَيْضًا عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: خَطَبَ عُمَرُ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: " أَمَّا بَعْدُ، أَلاَ وَإِنَّ الْخَمْرَ نَزَلَ تَحْرِيمُهَا يَوْمَ نَزَلَ وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ مِنَ الْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالتَّمْرِ، وَالزَّبِيبِ، وَالْعَسَلِ وَالْخَمْرُ: مَا خَامَرَ الْعَقْلَ. وَهُوَ (أَيْ عُمَرَ) مِنْ أَهْلِ اللُّغَةِ. (٣)

ترجمة: عبدالله بن عمر اوهغه دخپل پلار عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دغنمو څخه خمر دی، دخرما څخه خمر دی، داربشوڅخه خمر دی، دممزوڅخه خمر دی، دعسلو څخه خمر دی.

په یوبل روایت کی نعمان بن بشیر (رض) روایت کوی، چی نبی صلی الله علیه وسلموفرمایل: دغنمو څخه خمر دی، دخرما څخه خمر دی، داربشوڅخه خمر دی، دممیزوڅخه خمر دی، دعسلو څخه خمر دی.

همدارنگه دعبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی: چې عمر رضی الله تعالی عنه دمنبر دپاسه په خطبه کی وفرمایل: پوه سی چې خمر حرام سول اوهغه دپنځو شیانوچې انگور، خرما، شات، غنم اربشو څخه جوړیږی. اوبیا په آخر کی تعمیم کوی اوفرمایې: خمر هغه څه دی چې عقل پټوی. اوعمر رضی الله تعالی عنه خو دعربی لغت دخاوندانو څخه دی.

دداسی صریح او واضح حدیثونو سره به څنگه ددغو حدیثونو په خلاف

١- مسند احمد حنبل ج ١٠ص ١٩٧ - ٢- المعجم الكبير للطبراني ج ٢١ص٨٧

٣- صحيح مسلم ج ٤ ص ٢٣٢٢

يوحكم كوي، كه نه نوضروربه ددغوحديثونو يوتوجيه كړي واى، اودهدايې مصنف به هم هغه نقل كړي واى ترڅو حكم نور هم ښه واضح سوى واى.

٢- (قَوْلُهُ وَيَحْرُمُ أَكْلُ الْبَنْجِ) هُوَبِالْفَتْحِ: نَبَاتٌ يُسَمَّى فِي الْعَرَبِيَّةِ شَيْكَرَانُ، يُصَدِّعُ وَيُخَلِّطُ الْعَقْلَ. وَزَادَ فِي الْقَامُوسِ: وَأَخْبَثُهُ الأَحْمَرُ ثُمَّ الأَسْوَدُ وَأَسْلَمُهُ الأَبْيَضُ.

وَفِي الْقُهُسْتَانِيِّ: هُوَ أَحَدُ نَوْعَيْ شَجَرِ الْقِنَّبِ، حَرَامٌ لأَنَّهُ يُزِيلُ الْعَقْلَ، وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى، بِخِلاَفِ نَوْعٍ آخَرَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُبَاحٌ كَالأَفْيُونِ لأَنَّهُ وَإِنْ اخْتَلَّ الْعَقْلُ بِهِ لاَ يَزُولُ، وَعَلَيْهِ يُحْمَلُ مَا فِي الْهِدَايَةِ وَغَيْرِهَا مِنْ إبَاحَةِ الْبَنْجِ كَمَا فِي شَرْحِ اللُّبَابِ.

أَقُولُ: هَذَا غَيْرُظَاهِرٍ، لأَنَّ مَايُخِلُّ الْعَقْلَ لاَيَجُوزُ أَيْضًا بِلاَ شُبْهَةٍ فَكَيْفَ يُقَالُ إنَّهُ مُبَاحٌ: بَلْ الصَّوَابُ أَنَّ مُرَادَ صَاحِبِ الْهِدَايَةِ وَغَيْرِهِ إبَاحَةُ قَلِيلِه لِلتَّدَاوِي وَنَحْوِهِ, وَمَنْ صَرَّحَ بِحُرْمَتِه أَرَادَ بِهِ الْقَدْرَ الْمُسْكِرَ مِنْهُ، يَدُلُّ عَلَيْهِ مَا فِي غَايَةِ الْبَيَانِ عَنْ شَرْحِ شَيْخِ الإِسْلاَمِ: أَكْلُ قَلِيلِ السَّقَمُونْيَا وَالْبَنْجِ مُبَاحٌ لِلتَّدَاوِي، مَا زَادَ عَلَى ذَلِكَ إذَا كَانَ يَقْتُلُ أَوْ يُذْهِبُ الْعَقْلَ حَرَامٌ.(١)

ترجمة: (ددرمختارمصنف) داقول چې دبنج خوړل حرام دى، بنج په زور سره داسى وابنه دى چې په عربى كې ورته (شيكران) وايى، دسردرد لرى، او عقل ګډوډ كوى، دلغتو په قاموس نومى كتاب كې دا هم ورسره اضافه سوى دى چې هغه بد قسم يې تور اوبيا سره دى اوښه يې سپين دى.

په قهستانى نومى كتاب كې ليكلي دي:چې دغه دچرسو يوقسم دى، حرام دى، ځكه دغه عقل زايل كوى، اوپرغه فتوى ده، خوددى حكم دهغه بلى نوع څخه خلاف دى بيشكه هغه مباح دى لكه افيون، ځكه هغه كه څه هم عقل مختل كوى خو نه زايليږى، دهدايى مصنف چې و(بنج) ته مباح ويلى دى دهغه مطلب همدغه دى، لكه څنګه چې دلباب په شرح كې دى.

١- ردالمختار على درالمختار كتاب الأشربة ج ٦ ص ٤٥٨

«دردالمحتار مصنف» زه وایم دابنکاره نه ده: ځکه هغه څه چې عقل ته خلل رسوي هغه بیله شکه جایز نه دی، نوځنګه ورته مباح ویل کیږي؟ بلکې ښه داده چې دهدایې اونورو مطلب داوی چې دلږ اباحت یې ددواء اوداسې نورو دپاره دی، اوچاچې په حرمت تصریح کړې ده دهغه مراد هغه اندازه ده چې په نشه سي، پردغه توجیه باندې دلیل دغایة البیان قول دی چې دشیخ الاسلام څخه نقل سوی دی، وایې «دجمال کوټې اوبنج لږ خوړل ددواء دپاره جایز دی» اوهغه چې دومره زیات سي چې څوک وژني اویا عقل ورخرابوي نوحرام دی.

ملاحظة: که درد المحتار پورتنۍ عبارت مطالعه کړو نوښکاره معلومیږي چې درد المحتار مصنف ددر مختارعبارت چې وایې «دبنج خوړل حرام دی» دبنج ترتعریف وروسته دحرمت دلیل لیکلی دی چې چې دغه عقل خرابوي، بیا لیکلي دي چې پردغه فتوی ده، اوبیا لیکلي دي چې افیون مباح دی که څه هم عقل خرابوي، اوبیادهدایې دکتاب دعبارت توجیه کوي اولیکي چې کیدایسي د هدایې دمصنف لږ ددواء دپاره خوړل مراد وي، او په آخرکې لیکلي دي چې هر شي چې عقل خرابوي یاڅوک وژني هغه حرام دی.

یوه نکته داده: یوځای لیکلي دي: «شَجَرِالْقِنْبِ، حَرَامٌ لأَنَّهُ يُزِيلُ الْعَقْلَ، وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى» اوبل ځای لیکلي دي: «فَإِنَّهُ مُبَاحٌ كَالأَفْيُونِ لأَنَّهُ وَإِنْ اخْتَلَّ الْعَقْلُ بِهِ لاَ يَزُولُ» او بل ځای لیکلي دي: «أَكْلُ قَلِيلِ السَّقَمُونْيَا وَالْبَنْجِ مُبَاحٌ لِلتَّدَاوِي، مَازَادَ عَلَى ذَلِكَ إِذَا كَانَ يَقْتُلُ أَوْ يُذْهِبُ الْعَقْلَ حَرَامٌ» پورته ذکرسوي عبارتونه یودبل سره ټکر معلومیږي، ځکه زموږ دفقهي اصولو مطابق دیوشي دحرمت دپاره قطعي دلیل ضروري دی، نوپه کوم دلیل چې بنج اوچرس حرام دي په هغه دلیل افیون هم حرام دی، ځکه کوم علت چې په بنج اوچرس کې سته لکه نشه هغه په افیون کې هم سته، بلکې

ترهغه ډیر، اوداچې ده لیکلی دی چې دسقمونیا اوبنج ددواء دپاره لږخوړل مباح دی دغه هم دصریح حدیث څخه خلاف معلومیږی هغه داچې: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ، وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ». (۱)

ترجمة: ابودرداء رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی مرض اودواء نازل کړی دی، خودهر مرض لپاره یې دوا راستولی ده، نو تاسو دواء کوی خوتاسو په حرامو سره دواء مکوی.

په بل حدیث کی فرمایی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّوَاءِ الخَبِيثِ»: يَعْنِي السُّمَّ. (۲)

ترجمة :ابو هریرة رضی الله تعالی عنه وایی رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی یامنع کړی ده دخبیث اوحرام دواء څخه، یعنی دزهرو څخه.

دلته دخبیث څخه مراد حرام دی، ځکه دحلال نه وروسته حرام دی بل شی په منځ کې نسته ځکه دمتشابهاتو څخه هم ځان ساتنه لازم ده نوځکه هغه هم په حرام کی حسابل کیږی.نویوځل بنج ته حرام وایې اوبیا ددواء دپاره دلږخوړل مباح بولی.

۳- قَوْلُهُ: (وَنَبِيذُ الْعَسَلِ، وَالْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالذُّرَةِ حَلَالٌ وَإِنْ لَمْ يُطْبَخْ) هَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ إِذَا شَرِبَهُ مِنْ غَيْرِ لَهْوٍ وَلَا طَرَبٍ. لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ وَأَشَارَ إِلَى الْكَرْمَةِ، وَالنَّخْلَةِ»

ثُمَّ إِذَا سَكِرَ مِنَ الْأَشْرِبَةِ الْمُتَّخَذَةِ مِنَ الْحُبُوبِ لَا يَقَعُ طَلَاقُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ بِمَنْزِلَةِ النَّائِمِ وَذَاهِبِ الْعَقْلِ بِالْبَنْجِ.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَقَعُ طَلَاقُهُ كَمَا فِي سَائِرِ الْأَشْرِبَةِ الْمُحَرَّمَةِ وَهَذَا الْخِلَافُ فِيمَا إِذَاشَرِبَهُ

۱- سنن ابی داود کتاب الطب ۲- رواه سنن الترمذی کتاب الطب

لِلتَّدَاوِي, أَمَّا إِذَا شَرِبَهُ لِلَّهْوِ، وَالطَّرَبِ فَإِنَّهُ يَقَعُ طَلَاقُهُ بِالإِجْمَاعِ. (۱)

ترجمة:(دقدوری) دغه قول چې وايي:دعسلو،غنمو،اوربشو، اوجوارو شراب که څه هم پاخه سوی نه وی دامام ابوحنيفة اوامام ابويوسف رحمة الله عاليهما په نزد حلال دی، که يې دمستی اوعبث دپاره نه وی چيښلی، ځکه په حديث کی راغلی دی: چی خمر ددغه دوو درختو ياونوڅخه دی دانګورو اوخرما ودرختو ته يې اشاره وکړه.

اوکه دهغو شرابونو په چيښلو نشه سی چی ددانو څخه جوړ سوی وی او د طلاق الفاظ ووايي نودامام ابوحنيفة رحمة الله تعالی عليه په نزد يې طلاق نه واقع کيږی، لکه دبيده اويادهغه چا چی په بنج يې عقل تللی وی.

امام محمد رحمة الله تعالی عليه وايي: طلاق يې واقع کيږی لکه په نورو حرامو شرابوکی، دغه اختلاف دهغه چا په باره کی دی چی ددواء دپاره يې چيښلی وی، که دمستی اونشی دپاره يې چيښلی وی نوهغه دټولو په اجماع يې طلاق واقع کيږی.

ملاحظة: که پورتنی کتاب جوهرة نيرة په عبارت کې وګورو نوپه هغه کې ليکلی دی چی دعسلو،غنمو، اربشو اوجوارو شراب حلال دی، که څه هم پاخه سوی نه وی، خوپه دی شرط چې دمستی اوساتيری دپاره په يې نه وی چيښلی، اودغه مخکی موږ په صحيح حديثونو ثابته کړل چی دغه ټوله خمر دی اوددغو ټولوڅخه شراب جوړيږی، په آخرکی بيا دامام صاحب اوامام محمد صاحب واختلاف ته اشاره سوی ده چی امام محمد صاحب ټول نشه لرونکی شيان مطلق حرام بولی، اوبيا داختلاف وجه ليکلی ده هغه داکه دواء دپاره چيښلی وه نودامام ابوحنيفة (رح) په حرام نه دی که دمستی اوساتيری دپاره وه نوبيا دټولو

۱- الجوهرة النيرة علي مختصر القدوري د ۲ ص ۱۷٦

په اتفاق حرام دی. داغه هم موږ مخکی په حدیثونو ثابته کړل چی یوشی یوځل حرام سی نوپه هغه باندی علاج اوددواء دپاره خوړل هم حرام دی لږوی که ډیر.

۴- ويقال:إن هذا اللفظ، أعني الخمر، غيرمعلول: حتى لا يتعدى حكمه وهو الحرمة (إلى سائر المسكرات) أي إلى قليل سائر المسكرات، حتى لا يجب الحد بشراب قطرة من غير الخمر من المسكرات.

والشافعي رَحِمَهُ اللَّهُ يعديه إليها: أي تعدي هذا اللفظ إلى المسكرات, لأن الخمر اسم لما يخامر العقل، ولهذا لايسمى العصير خمرا قبل التخمر ولا بعد التخلل. وكل مسكر مخامر فيكون خمرا, وهذا بعيد أي قول الشافعي بعيد, لأنه خلاف السنة المشهورة، وهي ما روي عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا «حرمة الخمر لعينها، والسكر من كل شراب».

عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قال:«حرمت الخمر لعينها قليلها وكثيرها، والمسكر من كل شراب». (۱)

ترجمة: ویل کیږی چی دخمر لفظ معلول په علت نه دی، یعنی دده حکم چی حرمت دی ونورو مسکراتو ته تجاوز نه کوی، داسی چی دنورو مسکراتوپر لږ هم حد واجب سی، یعنی دیوڅاڅکی په چیښلو حد نه پرواجبیږی لکه دخمر.

دامام شافعی رحمة الله تعالی علیه په نزد تجاوز کوی، یعنی دخمر لفظ ونورو مسکراتو ته تجاوزکوی، ځکه خمر دهغه څه نوم دی چی عقل ګډوډ کوی، همداوجه ده چی دانګوروشیری ته ترنشی دمخه اویاسرکی ته خمرنه ویل کیږی، نوهرمسکر چی عقل ګډوډکوی هغه خمر دی، اودغه دامام شافعی رحمة الله تعالی علیه قول د(حق څخه) ډیر لیری دی، ځکه دغه قول دمشهور سنت یاحدیث څخه خلاف دی، هغه داچی دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی:

۱- البناية شرح الهداية ج ۱۲ ص ۳۵۲

چې دخمر عين ياذات حرام دی اودنورو څخه نشه حرامه ده.

داغه حديث دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه په بل روايت کې داسې راغلی دی: دخمر لږ اوډير عين ياذات يې حرام دی، اودنورو نشه لرونکو شيانو څخه دنشې په اندازه حرام دی.

ملاحظة: دپورتني کتاب البناية شرح الهداية په عبارت کې ليکلی دی چې دخمر حرمت په علت سره معلول نه دی چې دخمر دحرمت حکم ونورو نشه کونکو شيانو ته تجاوز وکړی، دلته بايد ووايو چې دغه خبره بې دليله معلومېږي، ځکه خپله په قرآن کريم کې دخمر ترآيت وروسته په (۹۱) آيت کې الله تعالی دخمر دحرمت علت بيانوی اوفرمايي: إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ. تقريباً دټولو مفسرينو اوداصول فقه دعلماؤ په نزد همدغه دخمر دحرمت علتونه دی، او دغه دهرشی دنشې څخه په انسان کې پيداکيږي، اودغه بحث به په خپل ځای کې په تفصيل سره راسی.

په آخرکې دابن عباس رضی الله تعالی عنه په داسې اثر باندی دليل ليکلی دی چې هغه پرده موقوف دی يعنې دغه دده خپله رايه کيدلايسی، دحنفی فقهی داصولومطابق ودغه ته اثرويل کيږي، اواثر د رسول الله صلی الله عليه وسلم دصريح اوصحيح حديث په مقابل کې ددليل قابل نه دی، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ډيرمرفوع حديثونه نقل سوی دی: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ. رواه مسلم كتاب الاشربة

ترجمة : ابن عمر رضی الله تعالی عنه روايت کوی چې رسول الله صلی الله

عليه وسلم وفرمايل: هرنشه کونکې شی خمر دی اوهرنشه کونکې شی حرام دی.

په بل حديث کی فرمايي: عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ».البخاری کتاب الوضوء

ترجمة: عائشة صديقة رضی الله تعالی عنها دنبی صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوی: چې ده ويل هرهغه نشه چې نشه لری نو هغه حرام دی.

په بل روايت کی څه په تفصيل سره دغه حديث راغلی دی چی فرمايي: عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: لَمَّا بَعَثَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ، قَالَ لَهُمَا: «يَسِّرَا وَلاَ تُعَسِّرَا، وَبَشِّرَا وَلاَ تُنَفِّرَا، وَتَطَاوَعَا» قَالَ أَبُو مُوسَى: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا بِأَرْضٍ يُصْنَعُ فِيهَا شَرَابٌ مِنَ العَسَلِ، يُقَالُ لَهُ البِتْعُ، وَشَرَابٌ مِنَ الشَّعِيرِ، يُقَالُ لَهُ المِزْرُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ». صحيح البخاری کتاب الادب

ترجمة: ابی برده دخپل پلار اوهغه دخپل نيکه څخه رايت کوی دی وايی چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم زه اومعاذ بن جبل (يمن ته) استولو نوموږ ته يی وويل تاسو دخلگو سره آسانی کوی سختی مه ورسره کوی، اوخلگوته دجنتونو زيری ورکوی، اوددين څخی مه متنفر کوی،ابو موسی ورته وويل ای دالله رسوله موږ په داسې مځکه کې يو چې هلته دعسلو څخه شراب جوړيږی بتع ورته وايی او داريشو څخه شراب جوړيږی مزر ورته وايی، نورسول الله صلی الله عليه وسلم وويل هرنشه کونکې شی حرام دی.

نودداسی صريحو حديثونو په مقابل کی دصحابی دقول څه اهميت نسته

۵- وعن أبي حنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ: أن من زال عقله بالبنج إن علم أنه بنج فحينئذ لايقع طلاقه وعتاقه، وإن لم يعلم يقع، ثم قال: والسكر من هذه الأشربة، وأشار إلى الأشربة المتخذة من الحبوب كالحنطة والشعير والذرة والشهد والعسل وغيرهاحرام بالإجماع؛ لأن السكر من

البنج حرام، لأنه مأكول غير مشروب، بعض المشايخ، قالوا في زماننا الفتوى على ما إذا سكر من البنج يقع طلاقه ويحد. (۱)

ترجمة: دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه قول دی: هغه څوک چی عقل يی په بنجو زایل سی نوکه دی په خبروو طلاق یی نه واقع کیږی اوکه په خبر نه وو نو طلاق یی واقع کیږی، اوبیا وایی: ددغو شرابونو نشه: وهغه شرابونو ته یی اشاره وکړله چی ددانو لکه غنم، اربشی، جوار، عسل اوداسی نورو څخه چی جوړیږی، په اجماع حرام دی، ځکه دبنجو نشه حرامه ده، ځکه دغه خوړونکی دی چیښونکی نه دی، څه مشایخو ویلی دی چی زموږ په زمانه کی فتوی پردغه ده که په بنجو نشه سی نوطلاق یی واقع کیږی اوحد پرجاری کیږی.

ملاحظة: دبنایی پورته ذکرسوی عبارت که دمخکنی کتاب (الجوهرة النيرة علي مختصر القدوري) دعبارت اودوروستنی کتاب المبسوط للسرخسی دعبارت سره په غور مطالعه سی نوخپل په منځ کې ډیرتعارض اوټکر سره لری. نورتفصیل ته یې ضرورت نسته ځکه هردعلم خاوند یې مطالعه کولایسی.

۶- (أَلَا تَرَى) أَنَّ الْعَصِيرَ الْحُلْوَلَايُسَمَّى خَمْرًا،وَإِنَّمَا تَسْمِيَتُهُ بِالْخَمْرِ لِمَعْنَى مُخَامَرَتِه الْعَقْلَ، وَذَلِكَ مَوْجُودٌ فِي سَائِرِ الْأَشْرِبَةِ الْمُسْكِرَةِ، وَقَدْ جَاءَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ».

وَلَوْسَمَّاهُ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ اللُّغَةِ خَمْرًا لَكَانَ مُسْتَدِلاً بِقَوْلِه عَلَى إِثْبَاتِ هَذَا الِاسْمِ لَهُ، فَإِذَا سَمَّاهُ صَاحِبُ الشَّرْعِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بِه وَهُوَ أَفْصَحُ الْعَرَبِ أَوْلَى، يُوَضِّحُهُ أَنَّ الْكَثِيرَ مِنْ هَذِه الْأَشْرِبَةِ مُسَاوٍ لِلْكَثِيرِ مِنْ الْخَمْرِ فِي حُكْمِ الْحُرْمَةِ، وَوُجُوبِ الْحَدِّ، فَكَذَلِكَ الْقَلِيلُ، وَبِهَذَا تَبَيَّنَ أَنَّ الْقَلِيلَ فِي الْحُرْمَةِ كَالْكَثِيرِ؛ لِأَنَّ شُرْبَ الْقَلِيلِ مِنْهُ لَوْ كَانَ مُبَاحًا لَمَا، وَجَبَ

۱- البنايـة شرح الهدايـة ٦ ص ٣٥٥

الْحَدُّ، وَإِنْ سَكِرَ مِنْهُ؛ لأَنَّ السُّكْرَ إِنَّمَا حَصَلَ بِشُرْبِ الْحَلاَلِ وَالْحَرَامِ جَمِيعًا، فَبِاعْتِبَارِ جَانِبِ الْحَلاَلِ يُمْنَعُ وُجُوبُ الْحَدِّ عَلَيْهِ.

وَإِذَا اجْتَمَعَ الْمُوجِبُ لِلْحَدِّ، وَالْمُسْقِطُ لَهُ تَرَجَّحَ الْمُسْقِطُ عَلَى الْمُوجِب.

وَأَبُوحَنِيفَةَ وَأَبُو يُوسُفَ اسْتَدَلاَّبِقَوْلُ الرَّسُولِ عَلَيْهِ الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ «حُرِّمَتْ الْخَمْرُ لِعَيْنِهَا، وَالْمُسْكِرُ مِنْ كُلِّ شَرَابٍ» وَبِهَذَا تَبَيَّنَ أَنَّ اسْمَ الْخَمْرِ لاَ يَتَنَاوَلُ سَائِرَ الأَشْرِبَةِ حَقِيقَةً؛ لأَنَّ عَطْفَ الشَّيْءِ عَلَى نَفْسِهِ لاَ يَلِيقُ بِحِكْمَةِ الْحَكِيمِ. (١)

ترجمة: ته نه ګوری چی خوږې شیری ته خمر نه ویل کیږی، داچی خمر ورته ویل کیږی په دی وجه چی نشه لری اوعقل ګډوډ کوی، اودغه په ټولو نشه کونکو شرابونو کی سته، اودرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه حدیث رانقل سوی دی چی (هرنشه لرونکی شی خمر دی)

که دلغت دعلماؤ څخه یوچا خمر ورته ویلی وای نوداقول به داثبات دپاره دلیل وای چی دغه دده نوم دی (دبل شی نسی کیدلای) داچی دشریعت خاوند صلی الله علیه وسلم نومولی دی اوپه دغه نامه یې ورته ویلی دی،اوهغه دټولو عربوفصیح اوښه دی، نوداښکاره ده چی ددغو شرابونو ډیر دخمر دډیرو سره دحرمت په حکم کی، اوحد په واجب کیدلو کی یوبرابر دی، همدارنګه لږ یی دلږو سره یو برابر دی، نوپه همدی سره ښکاره سوله چی لږ په حرمت کی لکه ډیر داسی دی، ځکه ددوی لږ که مباح وای نو حد به نه پرواجب کیدلای، که څه هم په نشه سی، ځکه دغه نشه دحلال اوحرام دوجهی راغلی ده، نودحلال په اعتبار دحد وجوب ځنی منع اوساقطیږی.

نوچی کله دحد موجب اومسقط سره یوځای سی نومسقط ته پرموجب ترجیح ورکول کیږی (یعنی حد ساقطیږی).

١- المبسوط للسرخسي ج ٢٤ ص ١٥

داچې امام ابو حنيفة اوامام ابويوسف رحمة الله تعالى عليهما (په نزد خمر اونور نشه کونکي يو دبل سره جدا دي) درسول الله صلى الله عليه وسلم په دغه قول سره دليل وايي: (دخمر عين او ذات حرام دي اودنورو څخه نشه حرامه ده) ددغه حديث څخه ددليل وجه داده چې خمر معطوف اومسکر معطوف عليه دي، دعربي قانون دمخې معطوف دمعطوعليه څخه جداوي، که نه نوبيا عطف دشي پرخپل ځان راځي اوداسي جايزنه دي) نوپه همدي سره ښکاره سوله چې دخمر نوم ونورو شرابونوته حقيقة شامل نه دي، ځکه عطف دشي پرخپل ځان راځي، اودا دحکيم دحکمت سره مناسب نه دي.

ملاحظة: دغه پورته ذکرسوی حديث درسول الله صلى الله عليه وسلم حديث نه دي بلکې دعبدالله بن عباس رضى الله تعالى عنهما قول اواثر دي، اودغه تحقيق موږ په څلورم نمبر کې دالبناية شرح الهداية په حواله کې په تفصيل سره ذکر کړل چې دغه ديوصحابي قول دي اوداصول فقهي دنظره دصحابي قول دصحيح حديث په مقابل کې داستدلال وړ نه دي، اوهلته موږ حديثونه هم ليکلي دي، اودغه اثر دحديثو په يوکتاب کې داسي نقل سوی دي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَدَّادٍ , قَالَ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: حُرِّمَتِ الْخَمْرُ لِعَيْنِهَا , قَلِيلُهَا وَكَثِيرُهَا , وَالسُّكْرُ مِنْ كُلِّ شَرَابٍ ". فَمِنْ هَذَا وَمَا أَشْبَهَهُ وَقَعَتْ شُبْهَةُ مَنْ أَبَاحَ الْقَلِيلَ مِنْ سَائِرِ الْأَشْرِبَةِ, وَأَمَّا نَحْنُ فَلَا نُبِيحُ شَيْئًا مِنْهُ إِذَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ , لِمَا رُوِّينَا , عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ , وَابْنِ عُمَرَ وَغَيْرِهِمَا, عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنْهَاكُمْ عَنْ قَلِيلِ مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ " , وَقَالَ: " مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ " , وَقَالَ: " كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ , وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ " وَرُوِّينَا فِي حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ هَذَا أَنَّهُ قَالَ: " وَالْمُسْكِرُ مِنْ كُلِّ شَرَابٍ ". (۱)

۷- وَفِي قَولِ ابي حنيفَة وَالشَّافِعِيّ وَمَالك مَااسكر من شراب قَلِيله وَكَثِيره فَهُوَ حرَام

۱- السنن الكبري للبيهقي ج ۱۰ص ۳٦۱

لقَوْله صلی الله عَلَيْهِ وَسلم مَا اسكر كَثِيره فقليله حرَام. (۱)

ترجمة: دامام ابوحنيفة، امام شافعی اوامام مالک رحمة الله تعالى عليهم قول دی: دهغو شرابو چې ډير اولړ يې نشه لری نوهغه حرام دی، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: هغه چې ډير يې نشه لری دهغه لږ هم حرام دی.

ملاحظة: که ددغه کتاب عبارت اومطلب په غورمطالعه کړو نودمخکنيو ټولو کتابونو دعبارتونو سره تضاد اوټکر په ښکاره معلوميږی، دمخکنی کتابونو په عبارتونوکی موداامام ابوحنيفة اوامام شافعی رحمة الله تعالی عليهما ترمنځ ښکاره مخالفت ولوستی اودلته په کتاب کی چی دغه هم دحنفی فقهی کتاب دی بل کل دنظر يو والی ليکلی دی.

تقرياً دحنفی فقهی په ټولو کتابونو کی ليکلی دی چی فتوی دامام محمد رحمة الله تعالی عليه پرقول ده لکه داچی په يوکتاب کی ليکلی دی:

٨- (وَحَرَّمَهَا مُحَمَّدٌ)أَيْ الْأَشْرِبَةَ الْمُتَّخَذَةَ مِنْ الْعَسَلِ وَالتِّينِ وَنَحْوِهِمَا قَالَهُ الْمُصَنِّفُ (مُطْلَقًا) قَلِيلَهَا وَكَثِيرَهَا (وَبِهِ يُفْتَى) ذَكَرَهُ الزَّيْلَعِيُّ وَغَيْرُهُ، وَاخْتَارَهُ شَارِحُ الْوَهْبَانِيَّةِ، وَذَكَرَ أَنَّهُ مَرْوِيٌّ عَنْ الْكُلِّ.

قُلْت:وَقَالَ مُحَمَّدٌ مَاأَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ، وَهُوَنَجِسٌ أَيْضًا،وَلَوْ سَكِرَ مِنْهَا الْمُخْتَارُ فِي زَمَانِنَا أَنَّهُ يُحَدُّ. زَادَ فِي الْمُلْتَقَى: وُقُوعُ طَلَاقِ مِنْ سَكِرٍ مِنْهَا تَابِعٌ لِلْحُرْمَةِ، وَالْكُلُّ حَرَامٌ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَبِهِ يُفْتَى. (۲)

ترجمة: يعنی هغه شرابونه چی دعسلو، انځرو، اوداسی نورو څخه جوړ سوی وی، امام محمد حرام بللی دی، بيامصنف وايی مطلقا، يعنی لږ اوډير ټول حرام دی، بيا وايی چی پردغه فتوی ده، يعنی دغه قول ذيلعی اونورو ذکر کړی

۱- النتف في الفتاوى للسندی فی الفقه الحنفی ج ۱ ص ٢٤٧

۲- الدرمختار وحاشية ابن عابدين ردالمختار ج ٦ ص ٤٥٦

دی، دوهبانیة شارح غوره کړی دی، اودایه ذکر کړی دی چی دغه دټولو څخه روایت سوی دی.

درد المحتار مصنف وایی: زه وایم امام محمد وایی هغه چی ډیریی نشه لری دهغه لږهم حرام دی، خوهغه داغه ډول نجس هم دی، که په دوی سره نشه سی نو زموږ په زمانه کی مختار قول دادی چی په حد کیږی، په ملتقی نومی کتاب کی داهم ورسره اضافه سوی ده، که په دغونشه سی نوطلاق یی واقع کیږی دامعنی لری چی حرام دی، اودامام محمد په نزد ټول حرام دی، اوپه داغه باندی فتوی ورکول کیږی.

یعنی که په اوس زمانه کی څوک دیوعالم څخه ددغو شیانو په هکله دحنفی مذهب مطابق فتوی وغواړی نو هغه به دامام محمد رحمة الله تعالی په قول فتوی اوحکم ورکوی.

دحنفی فقهی په یوبل کتاب کی هم ودغه ته ورته عبارت لیکلی دی:

۹- (قَوْلُهُ وَبِهِ يُفْتَى) أَيْ بِقَوْلِ مُحَمَّدٍ،وَهُوَ قَوْلُ الْأَئِمَّةِ الثَّلَاثَةِ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارَقُطْنِيُّ وَصَحَّحَهُ.

(قَوْلُهُ غَيْرُهُ) كَصَاحِبِ الْمُلْتَقَى وَالْمَوَاهِبِ وَالْكِفَايَةِ وَالنِّهَايَةِ وَالْمِعْرَاجِ وَشَرْحِ الْمَجْمَعِ وَشَرْحِ دُرَرِ الْبِحَارِ وَالْقُهُسْتَانِيِّ وَالْعَيْنِيِّ، حَيْثُ قَالُوا الْفَتْوَى فِي زَمَانِنَا بِقَوْلِ مُحَمَّدٍ لِغَلَبَةِ الْفَسَادِ. وَعَلَّلَ بَعْضُهُمْ بِقَوْلِهِ لِأَنَّ الْفُسَّاقَ يَجْتَمِعُونَ عَلَى هَذِهِ الْأَشْرِبَةِ وَيَقْصِدُونَ اللَّهْوَ وَالسُّكْرَ بِشُرْبِهَا. أَقُولُ: وَالظَّاهِرُ أَنَّ مُرَادَهُمْ التَّحْرِيمُ مُطْلَقًا وَسَدُّ الْبَابِ بِالْكُلِّيَّةِ.(۱)

ترجمة: داچی ددرمختارمصنف رحمة الله تعالی علیه وایی: وبه یفتی یعنی

۱-ردالمحتار علي در المختارج ۵ ص ٤٥٥

دامام محمد پرقول فتوی ده، اودغه ددرو امامانو قول هم دی لکه (امام شافعي، امام مالک اوامام احمد بن حنبل) ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: هرنشه کونکی شی خمر دی اوهر نشه کونکی شی حرام دی، اودغه حدیث صحیح مسلم روایت کړی دی.

اوبل دلیل دعلیه الصلوة وسلام دغه قول دی چی فرمایي: هغه چی ډیر یی نشه لری دهغه لږ هم حرام دی. اودغه حدیث امام احمد، ابن ماجه اودار قطني روایت کړی دی اوصحیح یی بللی دی.

داچی ددرمختار مصنف وایي: غیره یعنی دده نه علاوه دغه قول دصاحب ملتقی، مواهب، کفایة، نهایة، معراج، شرح مجمع، شرح درر بحار، قهستاني او عیني قول دی، یعنی دغو ټولو ویلی دی چی زموږ په زمانه کی فتوی دامام محمد پر قول ده، ځکه دفاسقانو غلبة ده، څه کسانو علت داویلی دی چی فاسقان پر دغو شرابونو یوځای کیږي، اوددی په چیښلو ددوی مقصد فسق اونشه ده.

درد المحتار مصنف وایي: زه وایم په ښکاره ددوی مقصد مطلق حرمت دی تر څو دفسق اوفساد دروازه بالکل بنده سي.

درد محتار پرکتاب باندی یوعالم تحقیق کړی دی هغه دپورته ذکرسوی عبارت په تحقیق کی داسی لیکلی دی:

۱۰- وقال بعض الحنابلة وكثيرمن الفقهاء إن القليل والكثيرسواء في التحريم واستدلوا بالسنة مارواه الإمام أحمد في مسنده وأبوداود في سننه عن أم سلمة رضى الله عنها قالت نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن كل مسكر ومفتر.

وجه الاستدلال: أن النبى صلى الله عليه وسلم سوى بين المسكر والمفتر في النهى، وحقيقة النهى التحريم فيحرم الكثير منهما والقليل من غير فرق.

والنهى حقيقة التحريم ولم يوجد له صارف،وليس المراد من المسكرأوالمفتر في الحديث

ماحصل السكروالتفتير عنده، بل المراد منهما مافيه صلاحية الاسكار أوالتفتير بحسب الشان.

والنصوص صريحة فی تحريم القليل باعتبار أنه صفة لجنس المسكر لاصفة لقدره، كما يقال للماء أنه مرو وللطعام مشبع، وإن كان الشبع والرئ لايتحققان بالقليل، وهومع ذلک موصوف به كالكثير، أوباعتبار أنه مقدمة للكثير المحرم فيكون حراما، لأن مقدمة الحرام حرام.(۱)

ترجمة: دامام احمد بن حنبل دمذهب څه علماء اوډيرنور فقهاء وايي چې لږ او ډير په حراموالی کې برابر دی، دوی په حديث دليل وايی، هغه حديث امام احمد په خپل مسند کې اوابوداود په خپل سنن کې دام سلمة رضی الله تعالی عنها څخه روايت کړی دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دهرنشه کونکې اوضعيف کونکې څخه منع کړی ده.

ددغه حديث څخه داستدلال وجه داده چې نبی صلی الله عليه وسلم مسکر او مفتر دواړه په حکم کې سره برابر کړی دی، يعنی ددواړو څخه يی منع کړی ده.

اونهی دحراموالی حقيقت يعنی حقيقی معنی ده، اوپه حقيقی معنی کې لږ او ډير دواړه مراد دی نوځکه دواړه حرام دی، اوبل داسې قوی دليل نسته چې دغه حديث دخپل حکم څخه واړوی، اوپه حديث کې دمسکر اومفتر څخه مراد داسې نه دی چې دده څخه نشه اوضعف بالفعل حاصل سی، بلکې مراد دادی چې په ده کې عادة دنشی اوضعف صلاحيت موجود وی.

شرعی نصوص اودلائل په صراحت سره دلږو پرحراموالی دلالت کوی، ځکه دغه اسکار او ضعف دجنس صفت دی داندازی صفت نه دی، لکه داچې ويل کيږی اوبه اوبونکې دی، ياخواړه مړونکې دی، که څه هم په لږباندې اوبيدل يامړيدل نه کيږی خوبياهم دلږو دپاره هم داغه صفت ثابت دی لکه دډيرو دپاره، اوپه دی

۱- تعليق علی رد المختار المحقق ج ۶ ص ۷۶- ۷۸ بالاختصار

اعتبار چې لږ دډېرو دپاره مقدمه ده نودغه لږهم حرام دی ځکه دحرامو مقدمه هم حرامه ده. لکه دزنا دواعی کتل، مچه خلوت اوداسې نور.

۱۱- دبحث په شروع کی یوحدیث مونږ لیکلی دی: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ». (۱)

ددغه حدیث تشریح دهندوستان یوعالم دترمذی په شرح تحفة الاحوذی کې داسې کوی اوفرمایی: قَوْلُهُ (مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ) فِيهِ رَدٌّ عَلَى مَنْ قَالَ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ إِنَّ الْخَمْرَ يَحْرُمُ قَلِيلُهُ وَكَثِيرُهُ وَغَيْرُهُ مِنَ الْمُسْكِرَاتِ يَحْرُمُ قَدْرُ الْمُسْكِرِ مِنْهُ دُونَ الْقَلِيلِ وَهُوَ بَاطِلٌ يُبْطِلُهُ الْأَحَادِيثُ الْكَثِيرَةُ الصَّحِيحَةُ الصَّرِيحَةُ. (۲)

ترجمة: دغه قول چې وایی (هغه چې ډیریې نشه لری دهغه لږ هم حرام دی) په دغه قول سره پرهغه حنفی عالمانو رد دی چې وایی: دخمر لږ اوډیر دواړه حرام دی او دنورو نشه کونکو شیانو هغه اندازه حرامه ده چې نشه کونکی وی، ترهغه کم مقدارحرام نه دی، دغه قول باطل دی،اوډیرصحیح اوصریح حدیثونه دغه قول باطلوی.

چې دهغوی دجملې څخه څه داسی راغلی دی: ۱- عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَنْهَاكُمْ عَنْ قَلِيلِ مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ». النسایی کتاب الاشربة

ترجمة: عامر بن سعد دخپل پلار څخه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه تاسو منع کوم دهرهغه لږ شی څخه چې ډیر یې نشه کونکې وی.

۲- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ، حَرَامٌ، وَمَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ، فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ».

شارح محمد فؤاد عبد الباقي(ما أسكر كثيره فقليله حرام)أي ما يحصل السكر بشرب

۱- سنن الترمذی کتاب الأشربة ۲- تحفة الأحوذی ج ۵ ص ۴۹۲

كثيره فهو حرام قليله وكثيره وإن كان قليله غير مسكر.(۱)

ترجمة: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرنشه کونکی شی حرام دی، اوهغه چی ډیر یی نشه لری دهغه لږ هم حرام دی.

ددغه حدیث په شرح کی علامه محمد فؤاد عبدالباقی لیکلی دی: د((ما أسكر كثيره فقليله حرام)) معنی داده چی دډیروپه چیښلو نشه پیداکیږی نودهغه لږ اوډیر حرام دی، که څه هم په لږو نه نشه کیږی.

۳- عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، مَا أَسْكَرَ الفَرَقُ مِنْهُ فَمِلْءُ الكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ». وَفِي حَدِيثٍ: «الحَسْوَةُ مِنْهُ حَرَامٌ». (۲)

ترجمة: دعائشة رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرنشه کونکې شی حرام دی، اوهغه چې یوفرق (پیمانه) یی نشه کوی نودهغه یو ورغوی (نیمه لپه) هم حرام دی، په بل حدیث کی راغلی دی یوغړپ یی هم حرام دی.

دتحفة الاحوذی مصنف ددغه حدیث په شرح کې لیکلی دی: قَوْلُهُ (مَا أَسْكَرَ الْفَرَقُ) بِفَتْحِ الرَّاءِ وَسُكُونِهَا وَالْفَتْحُ أَشْهَرُ وَهُوَ مِكْيَالٌ يَسَعُ سِتَّةَ عَشَرَ رِطْلاً وَقِيلَ هُوَ بِفَتْحِ الرَّاءِ كَذَلِكَ فَإِذَا سُكِّنَتْ فَهُوَ مِائَةٌ وَعِشْرُونَ رِطْلاً (مِنْهُ) أَيْ مِنْ كُلِّ مُسْكِرٍ (فَمِلْءُ الْكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ) قَالَ الطِّيبِيُّ الْفَرَقُ وَمِلْءُ الْكَفِّ عِبَارَتَانِ عَنِ التَّكْثِيرِ وَالتَّقْلِيلِ لاَ التَّحْدِيدِ.(۱)

ترجمة: فرق درا په سکون سره خو په زورسره ډیر شهرت لری، دغه یوداسی پیمانه ده چی (۱۶) رطل ځایه وی، چاویلی دی چی درا په زورسره خوداغه معنی ده مګر درا په سکون سره داسی پیمانه ده چی (۱۲۰) رطل ځایه وی، د(منه) ضمیر وکل

۱- سنن ابن ماجة كتاب الأشربة ۲- الجامع الترمذی كتاب الأشربة

۱- تحفة الأحوذی شرح الجامع الترمذی ج ۵ ص ۴۹۳

مسکرته راجع دی، دملء الکف څخه یوه لپه، یایوغرف، یالکه دنسوارو سوغ مراد دی، طیبی ویلی دی: چی دفرق اوملء الکف څخه ډیروالی اولږوالی مرادی داندازی تحدید مراد نه دی.

لکه څرنګه چې په حدیثونو ثابته سوله دکوم شی چې ډیرحرام وی دهغه لږهم حرام دی، همدارنګه دعقل هم دغه تقاضاده لکه چې وایی: وأما المعقول: قالوا إن هذه الأشياء تفسد البدن، وتغطی العقل کالخمر اوأکثر، فوجب أن يحرم كثيرها لضرره وقليلها لأنه داعية الكثير ومقدمة له، ومقدمة الحرام حرام.(۱)

ترجمة: په عقلی دلیل کې دوی وایی: بیشکه دغه نشه کونکی شیان بدن فاسدوی اوپر عقل پرده اچوی بلکې تر شرابو ډیر زیات، نودډیرو حرامیدل واجب دی څکه ضرر لری، اولږ په دی وجه حرام دی چې ډیروته بلنه ورکوی اودډیرو دپاره مقدمه ده، اودحرامو مقدمه هم حرامه ده.

دپورتنی ټولو حدیثونو اودفقهاؤ داقوالو څخه ثابته سوله دکوم شی چې ډیرنشه لری دهغه لږهم حرام دی، کوم فقهاء اوعلماء چې فرق ورکوی دهغوی هم په ډیرښه مدلل اومفصل انداز خپله دحنفی فقهی دکتابونو څخه جواب وسو.

کیدای سی چی دغه موضوع به نوره روښانه سوی وی نور تفصیل ته به ضرورت نه لری، داچی زموږ په معاشره اوټولنه کی څه خواص اوعوام په څه ناڅه نشه اخته دی، لکه دتمباکواستعمال: څوک دنسوارو په شکل، څوک دسګریټو په شکل اوڅوک دچلم اوبیړی په شکل، اوډیر سپک عمل ورته معلومیږی، دغه ټول تردغه حکم لاندی دی یعنی حرام دی، خوکله چې دهغوی سره دحراموالی په هکله خبره وسی نودی وایی زه خودومره لږکوم چې مانه نشه کوی، نودهغوی په جواب کې اول داسې عرض دی چې داخو ترعادت وروسته ته وایی، اوپه حدیث کې تر

۱- التعليق على رد المحتار المحقق ج ۶ ص ۷۶

عادت دمخه حالت مراد دی چې په عادت سوی نه وی، یعنی په اول ځل چې دیو شی ډیرانسان نشه کوی نودغه لږهم حرام دی، ترعادت وروسته حالت مراد نه دی.

اوبل داچې ترعادت وروسته دخمراوشرابو لږ هم عادی سړی نه نشه کوی نو ددی معنی داسوله چې دهغوی هم لږ حلال دی. نعوذ بالله من هذا القول.

داچې ورته ووایی پریږده نودی وایی نیسم پریښودلای، داپخپله ددی معنی ده چې دی نشه کوی اودنشی دوجهې نسی پریښودلای، اوبل داچې داغه عادی انسان چې څو ورځې پریږدی اوبیایی وکړی نشه کوی یی، لکه په روژه کې چې دڅوساعتونو لپاره پاته سی بیایی هم په روژه ماتی داسی نشه کړی وی چې مځکه اوآسمان خوځه کوی خپل دکور لاره ځینی ورکه وی.

ټول دنشی شیان نجس دی

دخمر په آیت کی رب العالمین فرمایی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (۹۰)

ددغه آیت ترجمة اوتفسیرمخکی تیرسوی دی، په دغه آیت کی الله تعالی خمرته رجس ویلی دی، اود(رجس) دلفظ معنی دلغتو ،فقهی اوتفسیر په کتابونو کی په نجس اوقذر سره سوی ده. دلغتو په څه کتابونوکی لیکلی دی:

۱- رجُس الشَّيءُ: نَجُس وقَذِر. (۱)

۲-الرجس: بكسرالراء من رجس، القذروالنجس.(۲)

۳- الرِّجْسُ النَّتَنُ وَالرِّجْسُ الْقَذَرُ، قَالَ الْفَارَابِيُّ وَكُلُّ شَيْءٍ يُسْتَقْذَر فَهُوَرِجْسٌ. وَقَالَ النَّقَّاشُ الرِّجْسُ النَّجَسُ. (۳)

۴- (الْقَذَرُ) ضِدُّ النَّظَافَةِ وَشَيْءٌ (قَذِرٌ) بَيِّنُ (الْقَذَارَةِ) . وَ (قَذِرْتُ) الشَّيْءَ مِنْ بَابِ

۱- معجم اللغة العربية المعاصرة ج ۲ ص ۸۵۹ -- ۲-معجم اللغة الفقهاء ج ۱ ص ۲۲۰

۳- المصباح المنير في غريب شرح الكبير ج ۱ ص ۲۱۹

طَرِبَ وَ(تَقَذَّرَتْهُ) وَ(استَقْذَرَتْهُ) أيْ كَرِهَتْهُ.(۱)

۵- (القاذورة) الْوَسخ وَالْفِعْل الْقَبِيح وَاللَّفْظ السيء, (القذر) الْوَسخ وَالْغائط.(۲)

دپورتنيو لغوی تعريفونو څخه ثابته سوله چی رجس دنجس، قذر، پليت اوغائط په معنی دی اودفقهاؤ په نزد غائط حقيقی نجاست دی.

په څه تفسيرونو کی هم درجس معنی په قذر سره سوی ده لکه تفسير مظهری:(رِجْسٌ أی قذر)تفسير المراغی:(رجس أي قذرقبيح).صفوة التفاسير فإنه قذرٌ ونجس.

داچی دفقهاؤ په نزد نجاست پردوه ډوله دی: نجاست حقيقی اونجاست حکمی، نجاست حکمی هغه دی چی خپله نجس وی خوبل شی نه مرداره وی، او نه مردارشی پاکوی، نجاست حقيقی هغه دی چی خپله نجس وی اوبل شی هم نجس کوی لکه بولی، غايط، وينه اوداسی نور.

دغه تقسيم څکه سوی دی چی دلغتوپه څه کتابونواوپه تفسيرونوکی درجس اونجس څه داسی معناګانی هم سوی دی چی دهغوی څخه نجاست حکمی هم اخستل کيدای سی لکه داچی دلغتو په څه کتابونوکی ليکی:

۱- (الرجس) القذر وَالشَّيْءُ القذر, وَالْفعْل الْقَبِيح, وَالْحرَام, واللعنة, وَالْكفْر, وَالْعَذَاب, وَفِي التَّنْزِيل الْعَزِيز {وَيَجْعَل الرجس على الَّذين لاَ يَعْقلُونَ} ورجس الشَّيْطَان وسوسته.(۳)

په پورتنی تعريف کی بدکار،حرام,لعنت،کفر,عذاب,اودشيطان وسوسی ته رجس ويل سوی دی، او دقرآن کريم په آيت کی راغلی دی چی فرمايي:

وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لاَ يَعْقِلُونَ. (۴)

دپورتنی آيت په تفسيرکی دتفسيرمظهری مفسر ليکی: أی يجعل الله الرِّجْسَ

۱- مختار الصحاح ج ۱ ص ۳۴۹ ۲- معجم الوسيط ج ۲ ص ۷۲۱

۳- معجم الوسيط ج ۱ ص ۳۳۰ ۴- سورة يونس آيت ۱۰۰

أی العذاب اوالخذلان فانه سببه عَلَى الَّذِينَ لايَعْقِلُونَ الحق من الباطل، يعنى الكفارلما على قلوبهم من الطبع ولعدم تعلق مشية الله تعالى بتعقّلهم. (١)

اودتفسیرالمراغی مفسر لیکی:(وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لايَعْقِلُونَ)أي ويجعل الخذلان والخزي المرجح للكفر والفجور على الذين لايعقلون ولا يتدبرون، إذ هم يرجحون الكفر على الإيمان والفجور على التقوى.(٢)

پورتنی دواړو تفسیرونو کی درجس معنی په داسی شیانو سوی ده چی هغوی ته نجاسات حکمی ویل کیدای سی.

په یوبل آیت کی ومشرکانوته نجس ویل سوی دی لکه چی فرمایی:قَالَ اللّهُ تَعَالَى: {إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ}. سورة التوبة: ۲۸

ددغه آیت په تفسیر کی دروح المعانی مفسر لیکی:أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ، النجس بفتحتين مصدر بمعنى النجاسة، وصفوا بالمصدر مبالغة كأنهم عين النجاسة، يجب الاجتناب عنهم والتبري منهم وقطع مودتهم.(٣)

اودمظهری مفسر لیکی:ياأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَاالْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ, مصدر من نجس ينجس، ضد الطاهر، قلت: وهو ما يستقذره الطبع السليم, ويطلق عليه النجاسة الحقيقية كا لقاذورات والدم، والحق بها الشارع النجاسات الحكمية من الحدث والجنابة وانقطاع الحيض والنفاس فهومايستقذره الشرع، فالكافرنجس شرعالانه خبيث لخبث باطنه ليستقذره الشرع، ويجب الاجتناب عنه كما يجب على المصلى الاجتناب عن النجاسة الحقيقية.(۴)

ترجمة: نجس مصدردی دنجس ينجس دباب څخه دی، دپاک ضد دی، زه وایم: داهغه شی دی چی سالم طبیعت یی بدګنی، اوپردغه دحقیقی نجاست

١- تفسير مظهری ج ۵ ص ۵۹ ‏ ‏ ۲- تفسير المراغی ج ۱۱ص ۱۵۸

۳- تفسير روح المعانی ج ۳ ص ۴۱۰ ‏ ‏ ۴- تفسير المظهری ج۴ ص ۱۷۶

اطلاق کیږی، لکه قاذورات، وینه، اوشارع په دغه پوری حکمی نجس هم یوځای کړی دی لکه بی اودسیا، جنابت، حیض اونفاس، داهغه شی دی چی شریعت یی بد ګڼی، نوکافر شرعا نجس دی، ځکه دده باطن نجس دی، ځکه دی شریعت بد ګڼی، نودده څخه داسی ځان ساتنه په کارده لکه لمونځ کونکی چی دحقیقی نجاست څخه ځان ساتی.

په دقرآن کریم کی څوځایه نور هم درجس لفظ په څوآیتونو کی راغلی دی او هرځای ورڅخه دمفهوم اومطلوب مطابق مختلفی معناګانی اخستل سوی دی، چی دهغوی ټولو ذکر کول داوږد والی باعث ګرځی.

دڅه تفصیل نه وروسته خپل مطلب ته راځو هغه داچی دخمر په آیت کی درجس څخه کوم نجس مراد دی؟

دقرآن کریم په یوآیت کې الله تعالی فرمایي: ۱- (قُلْ لَاۤ أَجِدُ فِي مَاۤ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥۤ إِلَّاۤ أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ ..الآية.(۱)

ترجمة: دوی ته ووایه ای محمد (صلی الله علیه وسلم) چی زه نسم پیدا کولای په هغه کی چی وحی کړه سوی دی ماته (قرآن) دخوړو څخه چی خوړل کیږی حرام کړه سوی، مګر که وی مرداره یابهیدونکی وینه، یادخنزیر غوښه ده، بیشکه دغه پلیت اومردار دی.

په پورته ذکرسوی آیت کی ومردارسوی حیوان، بهیدونکی وینه اودخنزیر غوښوته رجس ویل سوی دی، نوځکه دفقهاؤ په نزد دغه ټولو ته حقیقی اوغلیظ نجس ویل کیږی، ددوی څخه دبدن، جامو اوځای پاکول دلمونځ کونکی دپاره لازم دی، که دیوه درهم تراندازه ډیر ورسره وی نودهغه لمونځ نه صحیح کیږی

۱- سورة الأنعام: ۱٤٥

راګرځول یی واجب دی.

اودخمرپه آیت کی هم څه مفسرینودرجس څخه حقیقی نجاست اخستی دی لکه چی وایی: قَوْلُهُ تَعَالَى: "رِجْسٌ" يَدُلُّ عَلَى نَجَاسَتِهَا، فَإِنَّ الرِّجْسَ فِي اللِّسَانِ النَّجَاسَةُ.(۱)

قَوْلُهُ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ وَهَذَا أَيْضًا مُكَمِّلٌ لِكَوْنِهِ رِجْسًا لِأَنَّ الشَّيْطَانَ نَجَسٌ خَبِيثٌ لِأَنَّهُ كَافِرٌ وَالْكَافِرُ نَجَسٌ لِقَوْلِهِ إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ [التَّوْبَة: ۲۸] وَالْخَبِيثُ لَا يَدْعُو إِلَّا إِلَى الْخَبِيثِ.(۲)

{رِجْسٌ} نجس أوخبيث مستقذر{مِّنْ عَمَلِ الشيطان}.(۳)

رجْس"، يقول: إثم ونَتْنٌ سَخطه الله وكرهه لكم"من عمل الشيطان". (۴)

وَالرِّجْسُ يُطْلَقُ عَلَى الْعُذْرَةِ وَالْأَقْذَارِ. (۵)

رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشيطان} أي قذر ونجسٌ تعافه العقول، وخبيثٌ مستقذر من تزيين الشيطان. (۶)

رِجْسٌ خبيث مستقذر حسا أو معنى، إما من جهة الطبع أو من جهة العقل، أو من جهة الشرع. (۷)

رِجْسٌ قذر يعاف عند العقول أى تكرهه وتنفر منه العقول السليمة. والرجس بمعنى النجس إلاأن النجس يقال فى المستقذر طبعا والرجس اكثر ما يقال فى المستقذر عقلا وسميت هذه المعاصي رجسا لوجوب اجتنابها. (۸)

وقوله: (رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ) وقوله: " اللهم إني أعوذ بك من الرجس " النجس

۱- تفسير القرطبي ج ٦ ص ۲۸۹
۲- تفسير كبير ج ۱۲ ص ۹
۳- تفسير مدارك النسفي ج ۱ ص ۴۷۳
۴- تفسير الطبري ج ۱۰ ص ٥٦٤
۵- تفسير فتح القدير للشوكاني ج ۲ ص ۸٤
٦- صفوة التفاسير ج ۱ ص ۳۳٦
۷- تفسير المنير ج ۷ ص ۳٤
۸- تفسير روح البيان ج ۲ ص ٤۳٥

الخبيث المخبث من الشيطان الرجيم ".(۱)

دپورتني تحقيق مطابق دډيرو فقهاؤ خصوصا دحنفي مذهب دفقهاؤ په نزد دخمر په آيت کې-درجس څخه حقيقي اوغليظ نجاست مراددی، ځکه خو وخمر ته غليظ نجس وايېو په دې هکله په څه کتابونو کی داسی ليکلي دي:

۱- أماالخمر فيتعلق بها أحكام منها إنها نجسة غليظة، بمعنى أنها نجسة العين كالبول وغيره من الاعيان النجسة, وإنها محرمة ويحكم على مستحلها بالكفر.(۲)

ترجمة: دشرابو په اړه ډير حکمونه تعلق لري، دهغوی څخه يودادی چی غليظ ياسخت نجس او مردار دی، معنی داچې نجس العين دی لکه بولې اونور نجس العين شيان، اوبل داچې حرام دی که څوک حلال ورته ووايي پرهغه دکفر حکم کول کيږي.

داچي مخکی ثابته سوله چی دخمرلفظ اومعنی عامه ده نوځکه دهرنشه کونکی شی هم هغه حکم دی کوم چی دخمر دی، يعنی هغوی هم داغسی نجس او مردار دی، په دی هکله په تفسير روح المعانی کی ليکلي دي:۲- وعندی أن الذى لاينبغي العدول عنه أن الشراب المتخد مما عدى العنب، كيف كان، وبأى اسم سمى متى كان، بحيث يسكرمن لم يتعوده حرام,وقليله ككثيره, ويحد شاربه, ويقع طلاقه, ونجاسته غليظة.(۳)

ترجمة: اوزماپه نزد حق دادی: چې دهغه څخه مخ اړول مناسب نه دی، بيشکه هغه شراب چې دانګورو څخه بغير دبل شی څخه جوړسوی وی، هرڅنګه چې وی، اوپه هرنامه چې وی، اوهرکله چې وی، دعادت نه بغير چې څوک نشه کوی هغه ټول حرام دی، لږيی لکه ډير، چيښونکې يی په حد کيږي، که دنشی په حال کې دطلاق لفظ ووايی طلاق يی واقع کيږي، اوغليز نجس اومرداردی.

۱- تفسير الماتريدي ج٤ ص ٤٧٦ ۲- بدائع الصنائع للكاسانی، ج٥ ص ۱۱۲

۳- روح المعاني للألوسي ج۲ ص ۱۱۳

دحنفی فقهی یوبل ډیرمشهوراومعتمد کتاب درمختارکی لیکی:وَقَالَ مُحَمَّدٌ مَاأَسكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ، وَهُوَ نَجِسٌ أَيْضًا، وَلَوْ سَكِرَ مِنْهَا الْمُخْتَارُ فِي زَمَانِنَا أَنَّهُ يُحَدُّ. زَادَ فِي الْمُلْتَقَى:وُقُوعُ طَلَاقِ مَنْ سُكِرَ مِنْهَا تَابِعٌ لِلْحُرْمَةِ، وَالْكُلُّ حَرَامٌ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَبِهِ يُفْتَى.(١)

ترجمة: امام محمد رحمة الله تعالى علیه وایی: هغه څه چی ډیر یی انسان نشه کوی دهغه لږ هم حرام دی، اودغه نجس هم دی، اوکه ددغه څخه نشه سو زموږ په زمانه کي غوره اومختار قول دادی چی حد پرجاری کیږی،په ملتقی نومی کتاب کی داهم اضافة سوی ده: داچی دنشی په حال کی یی طلاق واقع کیږی دغه ددی معنی ده چی حرام دی، اودامام محمد په نزد ټول حرام دی، او پردغه قول فتوی کول کیږی.

په ردالمحتار نومی کتاب کی لیکلی دی: وهی أی الخمر نجسة بنجاسة مغلظة كالبول ويكفر مستحلها. (٢)

ترجمة: دغه خمر نجس دی مغلظ نجس دی لکه بولی، حلال ورته ویونکي کافر کیږی.

دحنفی مذهب یوبل ممتاز فقیه، محدث اودخپل وخت ډیرښه عالم په خپله فتوی کی لیکی: مسألة: حكم صلاة من في ثوبه مايسكركثيره.قال أبوجعفر: قال هشام وكان محمد يقول: من صلي وفي ثوبه ممايسكر كثيره من مقدار درهم أعاد الصلاة.

(هشام بن عبيد الله الرازى, فقيه حنفى, أخذ عن أبي يوسف, ومحمد, وكان يقول: لقيت ألفا وسبعمائة شيخ, وقال أبوحاتم: صدوق, مارأيت أعظم قدرا منه بالرى.

وعن بن حبان قال:كان هشام ثقة. ميزان الاعتدال، الفوائد البهية، الأعلام النبلاء

قال أبوبكر: وذلك لأنه محرم عنده؛ لأن كل شراب محرم, فهو نجس كالخمر.

١- الدرمختار وحاشية ابن عابدين ج ٦ ص ٤٥٦

٢- حاشية ابن عابدين رد المحتار ج ١٠ ص ٣٣

والدليل علي نجاسة الخمر قوله تعالى:((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنْصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ(۹۰) المائدة)

فلزم اجتنابها بظاهرالآية فى سائرالأحوال, فهو مأمور بإذالتها عن ثوبه وبدنه كسائر النجاسات.(۱)

ترجمة: مسئلة: دهغه چادلمانځه حکم چي په جاموکی هغه څه وی چي ډير يي نشه لري، ابوجعفر وايي هشام ويل: چي امام محمد رحمة الله تعالى عليه ويل: چاچي لمونځ وکړی اودده په جاموکی داسی دنشی شی وو چي دهغه په ډيرو انسان نشه کيدی اودغه تريوه درهم ډير وه نودی به لمونځ راګرځوی.

هشام بن عبيد الله رازى يوحنفى فقيه عالم دى، چي دابويوسف اومحمد رحمهما الله څخه يي علم اخستى دى، اوده به ويل: زماديوزر اواوه سوه شيخانو سره ملاقات سوى دى، ابوحاتم وايي: رشتيا ويونكى دى، په رى كى ماترده دلوړى مرتبى څوک نه دى ليدلى.

ابن حبان وايي: هشام ثقه وو. دغه دهشام دژوند حالات ميزان اعتدال، فوايد بهية او سير اعلام نبلاء نومى كتابونو كى نقل سوى دى.

ابوبكر وايي: داڅکه چي دده په نزد حرام دى، اوبل داچي ټول حرام شرابونه داسي نجس دى لكه خمر.

اودخمر پرنجاست دغه آيت دليل دى:((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنْصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ.دآيت دظاهر په استدلال په ټولو حالتونو كى ځان ساتنه ځنى لازم ده، دهمدى وجهى څخه په دى امر سوى دى چي دغه به دبدن اوجامو څخه داسى ليرى كوى لكه نور نجاست.

داوسنى عصر يوبل مفسر ليكى: ورتب الجمهور على رأيهم أن كل المسكرات

۱– شرح مختصر الطحاوى فى الفقه الحنفى للامام أبى بكر الرازى الجصاص

نجسة بقوله تعالى: رِجْسٌ وأن فيها الحد، وكذلك يرى الحنفية أن المسكر غير المطبوخ وهو السّكر والفضيخ النيء، والباذق: أي النصف المطبوخ، ونقيع الزبيب والتمرغيرالمطبوخ نجس نجاسة مغلظة كالخمر وهو رأي أبي حنيفة في رواية راجحة عنه لأنه يحرم شرب قليلها وكثيرها، فلا يعفى عنها أكثر من قدر الدرهم.(١)

ترجمة: دجمهورو فقهاؤ رايه داده چی ټول نشه لرونکی شیان نجس دی، د الله تعالی په قول، اوپه دغوکی حد واجب دی، اودغه رایه دحنفی فقهاؤ ده، چی هغه نشه لرونکی شیان چی پاخه سوی نه وی، چی هغه سکر، تازه فضیخ، بازق یعنی نیم پاخه، داوڅکو اوخرما اومه چی پاخه سوی نه وی، نجس دی، مغلظ نجس، اودغه دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه یوه رایه ده، اوداغه راجح ده، ځکه دهغو شرابو دلږ اوډیرو چیښل حرام دی، اوددوی څخه تردرهم زیاته اندازه نسی معاف کیدلای.

قال شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله:والحشيشة المسكرة حرام ومن استحل المسكر منها فقدكفر بل هى فى اصح القولي العلماء نجسة كالخمر فالخمر كالبول والحشيشة كالعذرة. (٢)

ترجمة: شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله ویلی دی: نشه کونکې چرس حرام دد، څوک چې نشه لرونکې شی ته حلال وایی نوبیشکه کافردی، بلکې دعلماؤ په صحیح قول کې نجس دی لکه شراب، نونشه لکه بولی اودغه نورنشه کونکې شیان لکه قازورات یاپاخانه.

فكل مسكر مطرب من أى نوع كان من الأنبذة والأشربة محرم العين, نجس الانتفاع، فاراقتها دليل على أنهالاتصلح لأى استعمال، وهذا مافهمه الصحابة رضى الله عنهم، والقول

١- تفسير المنير ج ٧ ص ٤٠

٢- مجموع الفتاوى لابن تيمية ج ٣٤ ص ٢٠٤

بطهارتها لم يقل به أحد منهم. (۱)

ترجمة: نوهرنشه کونکې اومستونکې شی دهری نوع چې وی لکه نشه کونکې شیری او شربتونه عین حرام دی، اونفع پراخستل نجس دی، داچې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددوی دتویدلو حکم کړی دی ددی دلیل دی چې دهیڅ ډول استعمال صلاحیت نلری، صحابه کرامو همدغه معنی فهولی ده، یوه هم ددوی څخه په پاکوالی قول نه دی کړی.

ونقل عن الجامع وغيره أن من قال بحل البنج والحشيشة فهو زنديق مبتدع، بل قال نجم الدين الزاهدی أنه يكفر ويباح قتله. (۲)

ترجمة: دجامع اونوروکتابونوڅخه نقل سوی دی: هغه څوک چې بنج اوچرسو نه حلال وایی نوهغه زندیق اومبتدع دی، بلکې نجم الدین زاهدی یولوی حنفی عالم اوفقیه دی وایی: بیشکه دغه کافر اومرګ یی جائز دی.

دپورتنی تحقیق اوټولو علمی اوفقهی حوالو څخه ثابته سوله چې دنشی هرشی غلیظ اوسخت نجس دی، نوځکه دحنفی فقهی مطابق که دیولمونځ کونکی سره ترډرهم زیات دنشی شی ورسره وی لکه نسوار، سګریټ، بیړی، چرس، افیون اوداسی نور نولمونځ ورسره صحیح نه دی، دوباره دلمانځه راګرځول پر واجب دی، ځکه دی حامل نجاست دی، یعنی دده سره نجس شی ورسره دی، اودغه حکم دامام اومقتدی دواړو دپاره دی، نوپرټولو مسلمانانو فرض دی چی دداسی حرامو او ناپاکو شیانو څخه خپل ځانونه دالله تعالی دحکم مطابق لیری وساتی اوپرهیز ځنی وکړی، خاص دلمانځه په حال کی دځان څخه لیری کړی، ځکه لمونځ فاسد کوی، داسی دی لکه دده چی بدن یاجامی مرداری وی، یاهغه ځای چی دی لمونځ پرکوی نجس اومردار وی، ځکه دنجاست څخه پاکی دلمانځه دشرطونو څخه دی.

۱- البیوع المحرمة والمنهی عنها. ص ۲۱۵ - ۲- الدر المختار شرح تنویر الابصار ص ۶۷۸

افیون اوچرس ترشرابو بد دی

ددین اوشریعت څه علماؤ چې ددوی په زمانه کې ددغه شیانو ضررونه د طبیبانو ډاکترانو په حواله مطالعه کړی یا اوریدلی دی. اویاپخپله په دغو شیانو اخته اوعادی کسانو حالت یې په کلی او کوڅوکې په مشاهده لیدلی دی نو دپورته ذکر سوی شرعی دلائلو په رڼاکې فیصله اوحکم کړی دی چې دغه پورتنی شیان تر شرابو بد اوضررمن دی، دمثال په ډول دځه علماؤ په معتبرو کتابونو کې داسې لیکلی دی: ۱- ونقل عن ابن بیطار من الاطباء: وان الحشیشة التی توجد فی مصر مسکرة جدا، اذا تناول الانسان قدر درهم اودرهمین .

وقبائح خصالها کثیرة وقد عد منها بعض العلماء مائة وعشرین مضرة دینیة ودنیویة، وقبائح خصالها موجودة فی الأفیون،وفیه زیادة مضار.(۱)

ترجمة: ابن بیطار دځه طبیبانو څخه نقل کړی دی وایی هغه چرس چې په مصر کې پیدا کیږی ډیر نشه کونکې دی، چې انسان دیوه درهم یادوه درهم په اندازه واخلی.

اوددی بد خصلتونه یاعادتونه ډیر دی، څه علماؤ یوسل اوشل (۱۲۰) دینی او دنیاوی ضررونه شمیرلی دی، اوټول هغه بدی چې په چرسوکې دی هغه ټولی په افیونوکې موجود اوسته، بلکه په ده کې زیات ضررونه دی.

۲- وماقالها شیخ الاسلام ابن تیمیة وتلمیذه ابن القیم ، وغیرهما من العلماء هوالحق الذی یسوق الیه الدلیل وتطمئن به النفس، وإذ تبین أن النصوص من الکتاب والسنة تتناول الحشیش، فهی تتناول أیضا الأفیون الذی بین العلماء أنه أکثر ضررا، ویترتب علیه من المفاسد، مایزید علی مفاسد الحشیش، وتتناول أیضا سائرالمخدرات التی حدثت، ولم تکن معروفة من قبل، إذ هی کالخمر من العنب مثلا فی أنها تخامر العقل وتغطیه، وفیها مافی هذه

۱- فقه علی المذاهب الأربعة ج ۵ ص ۳۸

الخمر، من مفاسد ومضار، وتزيد عليها بمفاسد أخرى، كمافی الحشيش، بل أعظم، كماهو مشاهد ومعلوم ضرورته، ولايمكن أن تبيح الشريعة الاسلامية شيئا من المخدرات. (۱)

ترجمة: اوهغه څه چې شيخ الاسلام ابن تيمية اودده شاګرد ابن قيم اونورو علماؤ «رحمة الله تعالى عليهم» ويلي دي هغه حق دی، داسې حق چې پرهغه باندې دليل سته اونفس هم په مطمئن کيږي، ځکه چې بيشکه دقرآن اوسنت ددلائلو حرمت په ښکاره ډول چرسوته شامل دی، همداغه دلائل افيون ته هم شامل دی، هغه افيون چې علماؤ بيان کړی دی چې ډير ضرر من دی، اوپرده باندې مفاسد مرتب کيږي چې ترچرسو يې مفاسد ډير دی، همدارنګه «داغه دلائل» وټولو هغو نشيي شيانو ته شامل دی چې نوی پيدا سوی دی، اومخکې نه پيژندل کيدل، «لکه مصنوعی نشيي شيان لکه هيروين کوکاين اوداسې نور» ځکه دغه ټول هاسې دی لکه دانګورو څخه جوړ سوی شراب، دعقل په پټولو، پرده اچولو يا خرابولو کې، په دغه افيون کې هغه څه مفاسد او ضررونه سته چې په شرابوکې سته، بلکه ترهغه هم زيات اولوی سته لکه په چرسوکې، لکه چې ددی ضررونه په مشاهده ليدل کيږي، امکان نلری چې اسلامی شريعت دی وداسې نشيي شيانوته دروا والی اجازت ورکړی.

دنشه کونکو په خلاف
مبارزه کول

داچی په اسلامی شريعت کې ټول نشه لرونکی شيان حرام کړل سوی دی دا ښکاره حقيت او واضح دليل دی چې دغه دين داحکم الحاکمين، رحمان اورحيم رب، اوعالم الغيب خالق لخوا وخپل نازولی بندګانوته راليږل سوی دی، اودرحمة للعلمين لخوا وخپل امت ته په مکمل اوصاف ډول تشريح سوی دی، ځکه کوم

۱ - فقه على المذاهب الأربعة ج۵ ص۳۸

نشيي توکې اوضررناکه شيان چې جوړيږي اوخلک په اخته دي اوټولنه ځنې په عذاب ده، اوپه مليونونو انسانان نارينه اوښځې په اخته دي، نه يوازې اسلامي نړې بلکې ټوله دنيا کافر اومسلمان په اخته دي، اودليونيو په شان خپل کورونه او ټولنه ځنې په عذاب دي، ددغو ضررونه، حکمونه اوسزاګانې اسلامي شريعت څوارلس سوه کاله مخکې خلګوته په واضح ډول بيان کړې دي، نه يوازې دابلکې وټول اسلامي امت ته دامربالمعروف اونهي عن المنکر دنده ورکړې ده، اودوخت عالمان اوحاکمان مکلف دي چې دداسې منکراتو اوټولنيزو خرابيو مخه ونسي، او دداسې خلګو سره جنګ اوجهاد وکړي ځکه داسلام پيغامبر محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم وخپل امت ته داسې حکم کړيدی:

عَنْ دَيْلَمٍ الْحِمْيَرِيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا بِأَرْضٍ بَارِدَةٍ نُعَالِجُ فِيهَا عَمَلاً شَدِيدًا، وَإِنَّا نَتَّخِذُ شَرَابًا مِنْ هَذَا الْقَمْحِ نَتَقَوَّى بِهِ عَلَى أَعْمَالِنَا وَعَلَى بَرْدِ بِلَادِنَا، قَالَ:«هَلْ يُسْكِرُ؟» قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ:«فَاجْتَنِبُوهُ» قَالَ: قُلْتُ: فَإِنَّ النَّاسَ غَيْرُ تَارِكِيهِ، قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَتْرُكُوهُ فَقَاتِلُوهُمْ».(۱)

ترجمة: ديلم حميری وايي: مادرسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړل ای دالله رسوله موږ په يخه مځکه کې اوسيږو، اوهلته ډيرسخت کارونه کوو، اوموږ ددغو غنمو څخه شراب جوړوو. په دغه موږ پرخپلو کارونو اوخپل دوطن پر يخ باندې قوت پيداکوو، ده صلى الله عليه وسلم وويل ايا دغه نشه لري؟ ماورته وويل هو، ده وويل ددغه څخه ځانونه وساتي، ماورته وويل خلک يې نه پريږدي، نو ده صلي الله عليه وسلم وفرمايل: که دوی نه پريښودل نوددوی سره جنګ وکړي.

بل داچې دغه داوسنی وخت منشيات لکه چرس، افيون اودهغه څخه جوړ سوی شيان لکه هيروين کوکاين اوداسې نور په ټوله نړی کې په عامه توګه اوپه

۱– رواه ابوداود کتاب الأشربة

اسلامی نړۍ کې په خاصه توګه ډیر فساد جوړ کړی دی، او څوک چې په مځکه کې فساد جوړوي دهغوی سره مبارزه اوجهاد کول فرض دي. ځکه الله تعالی په خپل لوی کتاب قرآن مجید فرقان حمید کې داسې امرکوي:

إِنَّمَا جَزَآءُ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوْ يُصَلَّبُوٓاْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ ٱلْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَلَهُمْ فِى ٱلْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ.(۱)

ترجمة:بیشکه دهغو کسانوچې دالله تعالی ددوستانو (مؤمنانو) سره اودده درسول سره جنګ کوي (دهغوی حکمونه نه مني اودهغوی دحکمونو خلاف کوي) اوپه مځکه کې فساد کوي جزا اوسزا داده: چې ووژل سي، یاوځړول سي، یادي مخالف لاسونه اوپښې پریکړل سي، یادي دداغه مځکې څخه وشړل سي، چې بندي سي اویابلې علاقې ته جلاوطن سي، دغه سزاګانې ددوی دپاره په دنیاکې رسوایي ده، اوپه آخرت کې ددوی دپاره سخت عذاب سته.

تفسیر: ډیرمفسرین ددغه فساد څخه غلا اولاروهنه شکونه اخلي، مګرکه داصول تفسیر مطابق چې وايي (مورد خاص اوحکم عام) که دغه الفاظ پرخپل عموم پاته سي نوددې معنی عامیږي اوهرنوع فساد ځنې اخستل کیږي، په دغه آیت کې دوه عملونه داسې ذکرسوي دي چې د هغوی کونکې ددغو سزا ګانو مستحق دي، یودالله تعالی اودهغه درسول سره جنګ اوجګړه کول اوبل په مځکه کې دفساد خپرولوکوشش کول دي،اودغه دواړه ډیرعام مفهوم لري، ځکه دالله تعالی اودهغه درسول سره دجنګ کولو مطلب دادي چې دهغوی حکمونه نه مني. اودهغوی دحکمونو په خلاف عمل کوي، نوپه دغه کې هرقسم مخالفت راځي، اوفسادهم دومره عام لفظ دی چې هرقسم فساد لکه لارشکونه، ناحقه

۱- سورة المائدة آیت ۳٤

قتل، غصب، ضررناکه تبلیغات اونشرات، دنشه کونکو شیانو کرل، خرڅول رانیول، استعمال کول اوداسې نور ټول ځنی اخستل کیږی.

که غور وکړو نوښکاره معلومیږی چې ددغه ټولو ترفساد دمنشیاتو فساد په زرګونو زیات دی، ځکه غل، قاتل، غاصب اوداسې نوربه څومره فسادوکړی، په زرګونو په لکونو؟ خود منشیاتو کرونکې اوتجارت کونکې په اربونو خلګ او کورنی په فساد اخته کوی، بل داچې دغله او داسې نورو فساد په یوه علاقه اومنطقه پوری محدود وی خودمنشیاتو فساد ټول جهان ته رسیږی.

لکه څرنګه چې فساد عام دی همدارنګه دالله تعالی اودهغه درسول د حکمونو مخالفت پکښی ډیردی. ځکه پورته ذکرسوی آیتونه اوحدیثونه ټول دمنشیاتو پرحراموالی دلالت کوی، او څوک چې مخالفت کوی هغه دالله تعالی اودهغه درسول سره جنګ کوی.همداوجه ده چې رب العالمین دوی یوازی د آخرت سزاته نه پریښودل بلکی په دنیاکی هم ددوی دپاره سختی سزاګانی مقرری کړی دی.

مهمه خبره داده چې دهری ګناه کونکې مسلمان هغه ګناه بولی ترګناه وروسته پرپښیمانه وی اوتوبه باسی استغفار وایی، خودمنشیاتو کاروبارې او استعمال کونکې خلګ دغه کار ګناه نه بولی اونه دتوبی او استغفار ضرورت محسوس کوی، بلکې دغه جائز عمل بولی اودثواب په کارونو کې دغه مالونه لګوی او ثواب پرغواړی. نعوذ بالله.

دامام غزالی رحمة الله تعالی علیه څخه یوقول نقل سوی دی چې دی وایی: چې هیڅ غلطی نسی کولای هغه ملائکة دی،اوچې غلطی کوی اوپرهغه باندې قائم اوثابت وی هغه شیطان دی، اوچې غلطی کوی اوپرهغه توبه باسی هغه

انسان دی، اوچې پر توبه قائم اوثابت وی هغه دالله تعالی محبوب بنده دی.

که دغه خلګ دغه کار ګناه یاغلطی وبولی اوتوبه وباسی الله تعالی توبه قبلونکې دی توبه قبلوی، دهمدی دپاره درب العالمین په صفتونو کې دغفار اوتواب صفتونه راغلی دی، ځکه هربنی آدم خطاء کونکې دی، نوده لره په کارده چې ترخطاء وروسته توبه وباسی، ځکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ، فَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ، وَلَوْ أَنَّ لابْنِ آدَمَ وَادِيَيْنِ مِنْ مَالٍ، لَابْتَغَى لَهُمَا ثَالِثًا، وَلاَ يَمْلأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلاَّ التُّرَابُ».(۱)

ترجمة: دانس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هربنی آدم خطاء کونکې دی خوخیر دخطاء کونکو توبه کونکې دی، اوکه ابن آدم ته دوه شیلی دمال ورکړل سی خودی به بیاهم دریمه غواړی، اودابن آدم نس نه ډکوی مګرنه خاوری.

په بل حدیث کې فرمایی: عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ، كَمَنْ لاَ ذَنْبَ لَهُ». (۲)

ترجمة: ابی عبیدة بن عبدالله دخپل پلارڅخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دګناه څخه توبه کونکی داسې دی لکه هغه څوک چې ګناه نلری.

پورتنی دوه حدیثونه موږته دتوبی ترغیب اوتلقین راکوی، اودادرس راکوی چې کومه ګناه موږ دمال دډیرولو یادنفس دخوشحاله کولودپاره کوو نو زموږ هیڅ کله دغه خواهش نه پوره کیږی، ځکه دانسان حرص دومره ډیردی

۱- مسند احمد امام احمد بن حنبل ۲- رواه سنن ابن ماجة کتاب الزهد

که دوی شلی دمال ورکړل سی خوبیاهم دی دبلی شلی خواهش کوی، ترڅوپه دغه ارمان اوخواهش کې ددنیاڅخه بیله توبې ولاړسی، اوهغه ټول کړی مال یې هم بل ته پاته سی اودده صرف حساب اوعذاب په برخه سی.

دافیون دپاره دخشخاشو

کرل حرام دی

داچې دخمر په بحث کې په دلایلو ثابته سوله چې دخمر لفظ اومعنا عامه ده، یعنې هرنشه لرونکی شی خمر دی، اودا دعربی لغت دنظره، دحدیث دنظره، دتفسیر دنظره، داوصول فقه دنظره اودفقاؤ دنظره خوبیاهم یوعالم دتصحیح په وخت کې داسې ملاحظه لیکلې ده چې داته په قیاس ثابتوی اودحل اوحرمت دپاره دلیل قطعی غواړی، ځکه دافیون اوداسې نورو ذکر په قرآن اوحدیث کې صراحت نسته، نودده دملاحظې په جواب کې داسې عرض دی، چې دخمر دحرمت قطعی ټول دلایل دنشی دشیانو دحرمت دلایل دی، معنی داچې په کوم قطعی دلیل خمر حرام دی په هغه دلیل دغه ټول نشه لرونکی شیان حرام دی.

دپورتنی اوداسې نورو دلائلو پربنیاد دفقه علماؤ اتفاق کړی دی چې دچرسو اوافیونو لپاره کښت کول حرام دی: ۱-اتفق الأئمة على تحريم زراعة الحشيش، والخشخاش، لإستخراج المادة المخدرة منها لتعاطيها أو الإتجار فيها، وحرمة زراعتهما من وجوه: (۱)

ترجمة: امامانو اتفاق کړی دی چې دچرسو اوخشخاشو کښت ددی دپاره چې نشیی ماده څنی راوباسی دخوړلو یاتجارت دپاره حرام دی، اودغه دځو وجهو څخه

اولـه وجـه: داچې ددغه نشیی شیانو کرل پر ګناه باندې تعاون اومددکول

۱- الفقه على المذاهب الأربعة جلد ۵ ص ۳۹

دی، پر ګناه باندې تعاون اومددکول پخپله ګناه ده اوالله تعالی موږ دداسې کار څخه منع کوی اوفرمایي: وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ.(۱)

ترجمة: تاسو پر ګناه اوظلم باندې تعاون مه کوی، اوتاسو دالله تعالی څخه وبیرېږی. بیشکه دالله تعالی عذاب ډیر سخت دی مخالفت کونکو لره.

دوهمه وجه: داچې څوک دغه کښت کوی نوهغه په دغه خوښ دی چې خلګ په دغه ګناه اوحرامو اخته سی، معنی داچې دی په دغه ګناه خوښ دی، په ګناه خوښی عین ګناه ده، څکه په حدیث کې راغلی دی:

عَنِ الْعُرْسِ ابْنِ عَمِيرَةَ الْكِنْدِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الأَرْضِ، كَانَ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا وَقَالَ مَرَّةً: «أَنْكَرَهَا» كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا، وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا، كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا. (۲)

ترجمة: عرس بن عمیرة کندی روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې په مځکه کې یومنکر یاګناه کول کیږی نوڅوک چې حاضر وی او انکار پروکړی نوداسې دی لکه دی چې څنی غائب وی، اوڅوک چې څنی غائب وي اوپه راضی وی نوداسې دی لکه دی چې پکښی حاضروی.

اوملا علی قاری دفقه اکبر په شرح کې لیکلی دی:

(وكذا لوامر رجلا أن يكفر بالله اوعزم على أن يأمره بالكفر، لأنه رضى بالكفر، والرضى بالكفر كفر، سواء كان يكفر نفسه اويكفر غيره). (۳)

ترجمة: اوهمدارنګه کافردی هغه څوک چې بل سړی ته امروکړی چې په الله باندې کافرسه، اویاداسې عزم اوقصد وکړی چې دی به په کفر امرکوم، څکه چې

۱- سورة المـائدة آیت ۲ ۲- سنن أبي داود كتاب الملاحم

۳- شرح فقه أكبر لملاعلى قارى صفحة ۱۵۴

دغه په کفرباندې رضاده اوپه کفر رضا کفر دی، دافرق نلري خپل ځان کافرکوي اوکه بل څوک کافرکوي.

نودا قانون دی چې رضا په کفر کفر ده اورضا په گناه گناه ده، حال داچې منکرته بد ویل یا دا چې منکر تغیر کول اویا په زړه باندې بد ځنی وړل پر هر مسلمان خاص بیا پرعالمانو اوطالبانو په هرحال کې فرض دی، ځکه دوی ته حلال اوحرام ښه معلوم دی، بل داچې ددوی په هرعمل پسې خلگ اقتداء کوی اوددوی په وجه خلگ ودغه حراموته حلال وایی، وایی ملاصاحب يې زکوة اخلی اوطالب صاحب یی نیبښ وهی نودغه حلال دی دعوامو بس دغه اندازه دلیل دی، اوبل دا چې دوی خپل ځانونه ددین دزدکړی اویا بل ته ددعوت دپاره وقف کړی دی، خو افسوزصد افسوز چې عالمان اوطالبان نه یوازی داچې خلگوته ددغه حرامو شیانو دحراموالی حکم نه بیانوی بلکې ملایان عالمان یی زکات خیرات اخلی او طالبان یی نیبښ اومزدوری کوی.

حالانکې نبی کریم صلی الله تعالی علیه وسلم وټول امت ته په عامه توگه اوعالمانو اوپوهانو ته په خاصه توگه دمنکر دتغیر امرکوی اوفرمایی:

١- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «مَنْ رَأَى مِنكُمْ مُنْكَرًا، فَاسْتَطَاعَ أَنْ يُغَيِّرَهُ بِيَدِهِ، فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ، فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ، فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ». (١)

ترجمة: ابی سعید خدری رضی الله تعالی عنه وایی ما واوریدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل: هرچاچې ستاسو څخه یومنکر ولیدی نو که یی طاقت وو چې په لاس یی بدل کړی نوهغه دی په لاس تغیر یابدل کړی، اوکه یی طاقت نه وو نوهغه دی په ژبه تغیر کړی، اوکه یی دغه طاقت هم نه درلودی بیادی په زړه کې

١- رواه ابن ماجة كتاب الفتن

بد ځنی وړی، اودغه نو دایمان هغه ضعیف ترینه درجه ده.

په یوبل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمنکر دنه بندولو اویانه تغیرکولو عذاب بیانوی اوفرمایي:

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلاَ يُسْتَجَابُ لَكُمْ».(۱)

ترجمة: حذیفة بن الیمان رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زمادی په هغه ذات قسم وی چې زما نفس دهغه په لاس اوقدرت کې دی، تاسو به امربالمعروف اونهی عن المنکر کوی، که نه نونزدې ده چې الله تعالی به پر تاسو عذاب راولی ، اوبیابه تاسو دهغه الله تعالی څخه دعا غواړی خو هغه به ستاسو دعا نه قبلوی.

داچې دډیره وخته زموږمعاشره اوټولنه دجنګونو، دښمنیو اوبدبختیو سره مخامخ ده د پورتنیو حدیثونو په استدلال ویلای سو چې کیدایسی هم دغه ناولی اوحرام کښت اوروزی ده چې ټول عوام اوخواص په اخته دی، نه یوازی داچې منع یی نه کوی اوحرام نه ورته وایی بلکه دحلال په شان زکاتونه او خیراتونه ورکوی اوپردغه زکاتونواوخیراتونو دالله تعالی څخه ثوابونه هم غواړی، اوپرحرامو باندې ثواب غوښتل کفردی، ځکه خودی حلال ورته وایی که نه نوهرڅوک په دغه پوهیږی چې پرحرام باندې ثواب نسته، اوبل داچې دغه پرالله تعالی باندې بهتان ویل دی چې الله تعالی پرحرام باندې هم ثواب ورکوی، الله تعالی پاک دی بیله پاکه پلیت شی نه خوښوی اونه یی قبلوی، نوچې قبول نسی نوبیا ثواب څنګه پر ورکوی بل داچې الله تعالی وخپل ټولو بندګانو او رسولانوته دپاک خوړلو حکم ورکوی، اود

۱- رواه الترمذی کتاب الفتن

حرامو څخه یې منع کوی نوبیا څنګه خپله حرام قبلوی او پرحرامو ثواب ورکوی ورکوی؟ لکه داچې یو سړی غلا ، سود ،زنا اوقمار کوی اوروپې خیرات کوی اویا بل دخیرکار په کوی اوپرهغه ثواب غواړی، یایوښځه زناکوی اوپه روپویې خیرات کوی اوثواب پر غواړی.

دریمه وجه:داچې ددنیاپه ټولوملکونوکې دچرسو ،افیون،هیروین، کوکاین اوداسې نورومنشیاتو کښت اوتجارت ممنوع دی، نو هرڅوک چې ددی کښت کوی هغه داولی الامریادخپل حاکم دحکم مخالفت کوی، او په اسلامی شریعت کې چې دشریعت مخالفت نه وی دامیردحکم اطاعت کول واجب دی، څکه الله تعالی په قرآن کریم کې موږته امر کوی اوفرمایې:

يَاأَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِمِنكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ، إِنْ كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً. (۱)

ترجمة: ای هغوکسانو چې ایمان یې راوړی دی، تاسودالله حکم ومنی او د الله درسول حکم ومنی اودخپلوحاکمانو حکم ومنی، که ستاسواوحاکمانو په منځ کې اختلاف راسی نوپه داسې حال کې تاسودالله کتاب اودهغه درسول حدیثونو ته مراجعه وکړی،که رشتیا تاسو په اخلاص سره پرالله تعالی اودقیامت پر ورځ ایمان لری، اودغه خیر اوښه تاویل یادخلاصون لاره ده.

تفسیر: یعنی که ستاسو اودحاکم په منځ کې اختلاف راسی نوتاسی دغه د حاکم حکم دالله تعالی پرکتاب اودهغه درسول پرحدیثونو عرض کړی که دهغوی سره موافق وو اطاعت یې وکړی او وی منی،که دهغوی څخه مخالف وو اطاعت یې مکوی، څکه دغه داختلاف دختم کولو طریقه هم الله تعالی راښودلی ده.

دپورتنیو حدیثونو پربنیاد ویلای سو هرحاکم چې دچرسو او افیونو اونورو

۱- سورة النساء آیت ۵۹

منشیاتو دبندولو حکم وکړی نو هغه دالله تعالی دکتاب او دهغه درسول دحدیثونو سره برابرحکم دی منل یې فرض دی.

څه وخت چې امیر المؤمنین په افغانستان کې دافیون دکښت دبندولو حکم صادرکړی، نو ټولو علماؤ اوعوامو دده دحکم اطاعت وکړی اوپه مکمل ډول بند سول، نه پو هیږم چې بیا ولی په ډیرو منطقوکې په پراخه پیمانه کرل کیږی ؟ ایا د امیر المؤمنین لخوا دکرلو بل حکم صادر سوی دی چې داول لپاره ناسخ وبلل سی، اوکه څنګه؟ خوددی صحیح جواب ماته چانه دی راکړی، صرف یوه خبره کیږی هغه داچې دغه وخت ضرورت دی بل کار اوکښت نسته اوبل شی فائده نکوی

دمسلمانو حاکمانواودهغوی دوزیرانو ،قاضیانواودلښکر دمشرانوحکم منل ترڅو چې دقرآن اوحدیث په صریح مخالفت کې نه وی ضروری او فرض دی، ځکه دلته دحاکم اطاعت دالله تعالی او د هغه درسول داطاعت سره یوځای ذکرسوی دی، دالله اودهغه درسول اطاعت فرض دی نو دمسلمان حاکم اطاعت هم فرض دی.

بل داچې دټول دنیا حاکمانو اوعلماؤ دمنشیاتو کښت اوتجارت حرام بللی دی نودغه په خپله دامت مرحومة اجماع ده اواجماع داسلامی فقه داصولو څخه یوقطعی اصل اودلیل دی. نودکښت حرمت په قطعی دلیل ثابت سو..

دمخکنی ټول تحقیق څخه وروسته ویلای سوچې دافیون دپاره کښت کول، اویادهغوی نیښ وهل اودهغوی دحصول دپاره مزدوری کول حرام دی، ځکه چې دافیون حرام والی دحدیثونو دعموم په استدلال اوهمدارنګه دنشی په وجه دخمر ترلفظ لاندی شامل سو، هغه خمر چې دهغه حراموالی په قرآن اوحدیث اودفقهاؤ په اقوالو ثابت سو، نوحکم یې دخمر یادشرابوبلکی ترهغه هم بد دی، لکه څرنګه چې نشه دانسان پرعقل پرده اچوی اوعقل دخپل استعداد څخه معطل کوی همدارنګه افیون هم انسان نشه کوی اوپه نشه سره عقل دخپل کارڅخه معطل

کوی، اود الله تعالی دذکر اولمانځه څخه بندوی اونور ډیر مفاسد پربنادی. نوځکه کوم حکم چې دشرابودی هغه حکم دافیون هم دی، ځکه دشرابو دحرام والی علت هم نشه ده، اودا موږ مخکی ثابته کړله چې دفقه داصولو مطابق یو ځای چې حکم پرعلت بناوی نوترڅوچې هغه علت موجودوی نوحکم به موجود وی، اوداغه علت چې په هرشی کې پیداسو نودهغه هم داغه حکم دی، لکه دلمانځه قصر چې پرسفر بنادی، تر څوچې سفر موجودوی د اقامت نیت یې نه وی کړی نو حکم یعنی قصر موجود دی، مسافرنارینه وی اوکه ښځه،اویالکه دلاس دپر یکیدلوحکم چې پرغلا بنادی نودغه غلاچې هرمسلمان اوپه هرځای کې وکړی نودهغه لاس پری کیږی.

نوپه همدی بنیاد دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دغه لاندینی حدیثونه که څه هم دخمر په هکله راغلی دی خودافیون حکم هم په ثابتیږی. ځکه‌چې دافیون حرام والی دنشی په علت دخمر په معنی کې شامل دی، نوکوم حکمونه چې دخمر دی هغه دټولو منشیاتو دی، لکه چې فرمایی:

۱- عن ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " أَتَانِي جِبْرِيلُ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَعَنَ الْخَمْرَ، وَعَاصِرَهَا، وَمُعْتَصِرَهَا، وَشَارِبَهَا، وَحَامِلَهَا، وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ، وَبَائِعَهَا، وَمُبْتَاعَهَا، وَسَاقِيَهَا، وَمُسْتَقِيَهَا ". (۱)

ترجمة: ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وایی مادرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ووریدل: چې ویلی: ماته جبریل علیه السلام راغلی اوراته وی ویل : ای محمد ؛ الله عزوجل لعنت ویلی دی پر شرابو اوپر هغه نستیږونکې اودچادپاره چې نستیږل کیږی، اودشرابو پرڅیښونکې، پربار وړونکې اود چادپاره چې بارکړه سوی وی، پرخرڅونکې اودچادپاره چې خرڅیږی، اوپر ساقی یعنی چې ورڅیښی یی اوپرهغه چې دڅیښلو غوښتنه ځنی کیږی.

۱- رواه امام احمد فی مسنده

مطلب داچې افیون، چرس، هیروین اوداسی نور حرام دی، نو دحرامو ذریعه اوسبب هم حرام وی لکه دواعی دزنا. یادظالم سره پرظلم مدد اوکومک کول، یاومحرم ته دښکار ورښودل، اوداسې نور چې هغه دتعاون اومدد په په جمله کې راځی، ځکه رب العالمین خپل بندګان پرګناه باندې دتعاون کولو څخه منع کوی، نوداچې دافیون کرل یاخرڅول یا مزدوری پکښی کول پرګناه باندې تعاون کول دی اویادظالم مدد کول دی نوځکه ویلای سو چې دافیون کښت اوتجارت هم حرام دی.

حلال دحرام مقصد دپارحرام دی

په مخکنی بحث کی مو ولوستل چی دحرام شی کښت دحرام دپاره حرام دی، خوددی دپاره چی دمخکنی بحث تاید په وسی اودهغو کسانو جواب په وسی چی وایی دافیون، چرسو، هیروینو تنباکو اوداسی نورو نوم په قرآن کی صریح نسته، اودحرمت داثبات دپاره دصریح دلیل ضرورت سته، نوځکه په دی بحث کی موږ ګورو چی داسلام پیغامبرمحمد مصطفی صلی الله علیه وسلم موږ دداسې کار څخه منع کوی چې حلال دحرام مقصد دپاره استعمال کړو، لکه حلال مال دسروذ، زنا، قمار، یاحرام رانیولو کې استعمال کړو یاداچی حلال انګور دحرام دپاره خرڅ کړو، ځکه په حدیث کې راغلی دی:

١- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أبيه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَبَسَ الْعِنَبَ أَيَّامَ الْقِطَافِ حَتَّى يَبِيعَهُ مِنْ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ، أَوْ مِمَّنْ يَتَّخِذُهُ خَمْرًا، فَقَدْ تَقَحَّمَ النَّارَ عَلَى بَصِيرَةٍ«. (١)

ترجمة: عبد الله بن بریده دخپل پلار څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که چا دتولیدلو په وخت کې انګور پرېښودل ترهغو چې پر یهودی یانصرانی باندې اویاپر هغه چاخرڅ کړی چې هغه شراب ځنی جوړ کړی، نو

١- معجم الأوسط للطبراني ج ٥ ص ٢٩٤

بیشکه ده دپوهی سره ددوزخ اور اختیار کړی.

٢- عَنْ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، «أَنَّهُ كَانَ يَكْرَهُ أَنْ يَبِيعَ الزَّبِيبَ لِمَنْ يَتَّخِذُهُ نَبِيذًا».(١)

ترجمة: ابن طاوس دخپل پلار څخه روایت کوی چې دده پلار (تابعی) دغه خوښ نه بلل چې انګور پرداسې چا خرڅ کړی چې هغه شراب ځنی جوړوی.

دپورتنیو حدیثونو اوداسی نورو په استدلال فقهاء داسې حکم کوی او فرمایی: قال جمهور من الفقهاء: أنه إذا بيع العنب لمن يعصره خمراً حرم أكل ثمنه، بخلاف ما إذا بيع لمن ياكله، وكذالک السلاح إذا بيع لمن يقاتل به مسلما حرم أكل ثمنه، وإذا بيع لمن يغزوبه في سبيل الله فثمنه من الطيبات، وكذلک ثياب الحرير إذا بيعت لمن يلبسها ممن يحرم عليه حرم أكل ثمنها، بخلاف بيعها ممن يحل له لبسها. (٢)

ترجمة: ډیرو فقهاؤ ویلی دی: بیشکه که پرداسې کس انګور خرڅ کړل سی چې هغه شراب ځنی جوړول نو ددغه قیمت خوړل حرام دی، اوکه پرداسې چایی خرڅ کړل چې خوری یې نوبیا حلال دی، همدا رنګه که سلاح پرداسې چایی خرڅه کړل سی چې هغه دمسلمانانو سره جنګ په کوی نوددغه قیمت خوړل حرام دی، او که پرداسې چایی خرڅه کړل چې هغه دالله پلاره کې جهاد په کوی نوبیا د قیمت خوړل حلال دی،که دوریښموکالی پرداسې چایی خرڅ کړل چې پرهغه باندې اغوستل حرام وی لکه نارینه مسلمان نودقیمت خوړل حرام دی اوکه پرداسې کس خرڅ کړی چې هغه ته اغوستل حلال وی لکه ښځی نوبیا دقیمت خوړل حلال دی.

داچې حلال دحرام مقصد دپاره حرام دی نوحرام هم دحلال مقصد دپاره حرام دی، لکه دعیال نفقه اونور دثواب کارونه، افسوس عوام خوڅه عا لمان افیون دزکات په نیت قبلوی او دپوډرو یاهیروینو پرکارخانه والا یې خرڅوی تر څو هغه هیروین ځنی جوړ کړی. اول خوافیون حرام، دوهم هیروین حرام ، دریم په حراموکې

١- سنن النسائی کتاب الأشربة ٢- زاد المعاد فی خیر هدی العباد جلد ٥ ص٦٧٦

زکات اخستل حرام، څلورم دحرام شی قیمت خوړل حرام، پیادثواب په کارکې استعمالول حرام.

دمنشیاتو تجارت حرام دی

پرخه خلگو باندې ددنیا محبت دومره غالب سی چې دمال په لاست راوړلو کې دهیڅ شی څخه دریغ نه کوی، دکومی لاری چې لاس ته راځی هغه لاره اختیار کوی، داتمیز نه کوی چې په شریعت کې ددغی لاری څخه دمال راوړل روادی که نه؟ څکه خو په حدیث کې راځی:

۱- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، لاَ يُبَالِي المَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ، أَمِنَ الحَلاَلِ أَمْ مِنَ الحَرَامِ» . (۱)

ترجمة: ابو هريرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پرخلگو داسې زمانه راتلونکې ده، چې سړی به ددی پروانه کوی هغه چې ده واخستی دمال څخه چې دغه دحرامو څخه دی اوکه دحلال څخه دی.

۲- عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ القِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ، وَعَنْ عِلْمِهِ فِيمَ فَعَلَ، وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ، وَعَنْ جِسْمِهِ فِيمَ أَبْلاَهُ. (۲)

ترجمة: ابو برزه اسلمی رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دقیامت په ورځ هیڅ بنده دالله تعالی ددربار څخه نسی ښوریدلای ترڅو چې دده څخه دعمر په باره کې پوښتنه کیږی چې تاپه چشی کې صرف کړی، اودعلم په باره کې چې څومره عمل دی په وکړی، اودمال په باره کې چې دکومی لاری دی حاصل کړی اوپه کومه لاره دی مصرف کړی، اودجسم په باره کې چې په چشی دی اخته کړی اویا په چشی کې دی زوړ کړی.

۱- صحيح البخارى كتاب البيوع -- ۲- سنن الترمذي باب في القيامة

٣- من لم يبال من أين يكسب المال لم يبال الله من أين أدخله النار. الديلمي عن ابن عمر. (١)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنه وایي: څوک چې ددی پروانلری چې دکومه ځایه مال کسب کړي، نو الله تعالی هم ددی پروانلری چې دی دوزخ ته دکومی لاری دننه کړي.

اوالله تعالی په قرآن کریم کې مونږ مسلمانان ته خطاب کوی اوداسې مال دخوړلو څخه منع کوی اوفرمايي: وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ.(١)

ترجمة: تاسو په خپلو منځو کې خپل مالونه په باطله لاره مه سره خوری.

تفسیر: ددی آیت څخه مخکې دروژې بحث تیرسوی دی چې په هغه کې دروژې په حال کې دحلال مال خوړل جایز نه وو، خو په دی آیت کې الله عزوجل مونږ ته دمالونو دپاکوالی بیان کوی، چې حرام مال خوړل بیله ضرورته چې هغه دژوند دبقا ضرورت دی په ټول عمر کې خوړل جایز نه دی.

دباطل څخه مراد دغلا ،خیانت، رشوت، غصب ، قمار، سود، ناروا بیع لکه دحرام شی خرڅول اوداسې نور دی چې په پاک شریعت کې ورته ناجایز ویل سوی وی حرام دی، څکه دهغه شی خرڅول حرام دی چې دهغه څخه نفع اخستل حرام وی لکه شراب،افیون، هیروین، چرس او داسې نور دنشی شیان ، څکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث کې مسلمانانو ته عام قانون ورکړی دی هغه داچې: دکوم شی خوړل حرام وی دهغه شی ثمن او قیمت خوړل هم حرام دی.

١- عَنْ بَرَكَةَ أَبِي الْوَلِيدِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَاعِدًا فِي الْمَسْجِدِ مُسْتَقْبِلاً الْحُجَرَ، قَالَ: فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ، فَضَحِكَ، ثُمَّ قَالَ: «لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ، حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُومُ فَبَاعُوهَا، وَأَكَلُوا أَثْمَانَهَا، وَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا حَرَّمَ

١- كنزالعمال ج ۴ نمبر ٩٢٧١

١- سورة البقرة آيت ١٨٨

عَلَى قَوْمٍ أَكْلَ شَيْءٍ حَرَّمَ عَلَيْهِمْ ثَمَنَهُ». (۱)

ترجمة: ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد حرام کې وحطیم ته مخامخ ناست وو، دی وایی داسمان طرفته یې وکتل او وی خندل اوبیا یې وفرمایل: الله تعالی پریهودو لعنت ویلی دی، ځکه پر دوی دوازګو خوړل حرام سول، نودوی هغه خرڅی کړلی اوثمن یاقیمت یې وخوړی، بیشکه الله عزوجل چې کله پریوقوم دیوشی خوړل حرام کړی نودهغه قیمت یاثمن هم حرام کړی.

دپورتنی حدیث په آخرکې رسول الله صلی الله علیه وسلم وخپل امت ته یو عام قانون ورکړی هغه داچې: الله عزوجل د کوم شی چې خوړل حرام کړی وی دهغه شی خرڅول اوقیمت اخستل یې هم حرام دی.

تشریح: دلته مراد دوه شیان دی اول داچې دیوشی عین حرام وی اونفع پر اخستل هم حرام وی، لکه خمر، مرداره، دښارګ وینی، دنشی شیان، دشرک آلات لکه بوتان اوداسې نور، نوددغو شیانو قیمت په هرحال حرام دی، دخوړلو لپاره وی اوکه دنور استعمال دپاره وی.

دوهم هغه شیان دی چې بیله خوړلو نوره نفع پراخستل جایز وی لکه دمردار سوی حیوان څرمن ترپخیدلو وروسته نوره نفع پراخستل جایز دی خوخوړل یې جایز نه دی، نوځکه دخوړلو دپاره یې خرڅول اوقیمت اخستل جایز نه دی خودنوری نفع اخستلو دپاره یې خرڅول اونفع پراخستل جایز دی، همدا رنګه کورنی خره، غاتر اوداسې نورحیوانان چې خوړل یې جایز نه دی خونوره نفع پراخستل جایز دی، لکه سپریدل، باروړل اوداسې نور نوځکه دداسې شیانو خرڅول دنوری نفع اخستلو دپاره جایز دی خودخوړلو دپاره یې خرڅول اوقیمت اخستل جایز نه دی، ځکه د

۱- رواه امام احمد فی مسنده

داسې شیانو خوړل حرام دی، نودلته په حدیث کې مراد هغه شیان دی چې مطلق حرام وی یعنی هرنوع نفع پراخستل حرام وی لکه شراب، افیون، چرس اوداسې نور.

څکه په لاندنی حدیثونو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

۱- عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ يَقُولُ: «إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ، وَالْخَنَازِيرِ، وَالأَصْنَامِ، وَالْمَيْتَةِ».(۱)

ترجمة: جابر رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې ما درسول الله صلی علیه وسلم څخه دمکې دفتح په کال واوریدل چې ویلی: بیشکه الله تعالی اودهغه رسول دشرابو، خنزیرانو اومردار سوی حیوان غوښې خرڅول حرام کړی دی.

په پورتنی حدیث کې لکه څرنګه چې دمیتة په لفظ کې ټول هغه حلال حیوانات شامل دی چې په غیر شرعی توګه مړه سوی وی، اوپه دغه کې دمرداری ټول اجزاء شامل دی ، لکه وازګه اوداسې نور، دلته صحابه کراموته څه داسې فکر پیداسوچې دمرداری په وازګه کې منفعت سته چې ددروازو، کښتیو لرګی او داسې نور په غوړیږی، نوکیدایسی چې دوازګی استعمال به دداسې شیانو دپاره جایز وی، نورسول الله صلی الله علیه وسلم ددوی دغه فکر په لاندنی حدیث کې داسې ور ردکړی.

۲- عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ:«إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِوَالْمَيْتَةِ، وَالْخِنْزِيرِ، وَالأَصْنَامِ» فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ فَإِنَّهُ يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ، فَقَالَ: «لاَ هُوَ حَرَامٌ»، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ: «قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ، إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ عَلَيْهِمْ شُحُومَهَا أَجْمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ». (۲)

ترجمة: ابو هریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله

۱- النسايي كتاب الفزع والمصنف جلد ۴ ص ۴۷۳ -- ۲- سنن ابو داود كتاب البيوع

عليه وسلم دمكي مكرمی دفتح په کال وفرمایل: بیشکه الله تعالی دشرابو خرڅول حرام کړی دی، اومردار سوی حیوان، اوسرکوزی اوبتان یی حرام کړی دی، نويوچا ورته وويل: ای دالله تعالی رسوله دمرداری دوازګو څه حکم دی؟ په هغوی سره کښتي غوړیږی اوڅرمنی په غوړیږی، اوخلګ یی په څراغانو کی لګوی رڼا په حاصلوی، نورسول الله صلی الله علیه وسلم ورته فرمایل: یاهغه حرام دی، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه وخت کی وفرمایل: الله تعالی دی یهود مړه کړی، بیشکه چی کله الله تعالی پردوی وازګې حرامی کړلی نودوی هغه ویلی کړی، اوبیایی خرڅی کړی اودهغوی ثمن اوقیمت یی وخوړی.

٣- عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «لَمَّا أُنْزِلَتِ الآيَاتُ مِنْ آخِرِ سُورَةِ البَقَرَةِ، قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَهُنَّ عَلَيْنَا، ثُمَّ حَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الخَمْرِ».(١)

ترجمة: عائشة رضی الله تعالی عنها روایت کوی چې کله دسورت بقرة آخرنی آیتونه نازل سوله نورسول الله صلی الله علیه ولاړسو اوهغه یی موږته تلاوت کړله اوبیا یی په شرابو کې تجارت حرام کړی.

٤- عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ وَعْلَةَ، قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ بَيْعِ الْخَمْرِ، فَقَالَ: كَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدِيقٌ مِنْ ثَقِيفٍ، أَوْ مِنْ دَوْسٍ فَلَقِيَهُ بِمَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ بِرَاوِيَةِ مِنْ خَمْرٍ يُهْدِيهَا لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا فُلَانُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَدْ حَرَّمَهَا؟» قَالَ: فَأَقْبَلَ الرَّجُلُ عَلَى غُلَامِهِ فَقَالَ: اذْهَبْ، فَبِعْهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بِمَاذَا أَمَرْتَهُ يَا فُلَانُ؟ قَالَ أَمَرْتُهُ بِبَيْعِهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الَّذِي حَرَّمَ شُرْبَهَا حَرَّمَ بَيْعَهَا، فَأَمَرَ بِهَا فَأُكْفِئَتْ فِي الْبَطْحَاءِ. (٢)

ترجمة: عبد الرحمن بن وعلة روایت کوی چې دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه د شرابو دخرڅولو په هکله پوښتنه وسوله نوده ورته وویل: درسول الله

١- صحیح البخاری کتاب البیوع　　٢- رواه الدارمی کتاب الأشربة

صلی الله علیه وسلم یودوست وو(دثقیف اوکه داوس دقبیلي څخه وو) دمکې معظمې دفتح په کال دنبي علیه السلام سره ملاقات وکړی، دشرابو څه هدیة یې ورکړله، نورسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل ای فلانیه ایا ته نه یې خبر چې الله تعالی شراب حرام کړي دي؟ دی وایي نوده پرمریي مخ راواړوی او ورته ویې ویل چې ولاړ سه خرڅ یې کړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې په څشي دې امر کړی ای فلانیه ؟ څه دې ورته وویل: دی وایي ماورته وویل چې خرڅ یې کړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل : بیشکه دکوم شي چې خوړل حرام دي دهغه خرڅول هم حرام دي، نوامر یې ورته وکړی چې په شیله کې توی کړه.

۵- عَنْ أَنَسٍ قَالَ: فَجَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّهُ كَانَ عِنْدِي مَالُ يَتِيمٍ فَاشْتَرَيْتُ بِهِ خَمْرًا، أَفَتَأْذَنُ لِي أَنْ أَبِيعَهُ، فَأَرُدُّ عَلَى الْيَتِيمِ مَالَهُ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قَاتَلَ اللهُ الْيَهُودَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الثُّرُوبُ فَبَاعُوهَا، وَأَكَلُوا أَثْمَانَهَا» وَلَمْ يَأْذَنْ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْعِ الْخَمْرِ. (۱)

ترجمة: انس رضی الله تعالی عنه روایت کوي چې نبي علیه السلام ته یو سړی راغلی او ورته وې ویل چې زماسره دیتیم مال پروت وو نوما په هغه شراب رانیول، ایاته ماته اجازت راکوې چې هغه خرڅ کړم اودیتیم مال ورواپس کړم؟ نو نبي علیه السلام وفرمایل: الله تعالی دې یهود مړه کړي، پردوی باندې وازګې حرامې سولې نودوی هغه خرڅې کړلې اوقیمت یې وخوړی، نبي علیه السلام ودوی ته دشرابو د خرڅولو اجازت ورنکړی.

پورتنی ذکرسوی ټول حدیثونه پردغه دلیل دي چې دحرام شي خرڅول او د هغه قیمت خوړل حرام دي، ځکه دکوم شي چې استعمال حرام وي دهغه خرڅول او دقیمت خوړل هم حرام دي، اوهمدغه دفقهي عالمانو په نزدیوعام قانون دی اودغه

۱- مسند امام احمد بن حنبل، باقي المکثرین

دپورته ذکرسوی حدیثونو مضمون هم دی.

دپورتنیو حدیثونو څخه لکه څرنګه چې دشرابو دخرڅولوحرام والی ثابت سو همدارنګه دټولو نشه لرونکو شیانولکه افیون، چرس، هیروین، تنباکواوداسی نور دهغوی څخه جوړ سوی شیان ټوله حرام دی، نود هغوی تجارت خرڅول او رانیول هم ټول حرام دی. ځکه چې مخکې په ډیر تفصیل سره ولیکل سوله چې هر نشه لرونکې شی خمر اوهرخمر حرام دی.

دنشه لرونکوشیانوتجارت
دفقهاؤ په نزدحرام دی

په پورته ذکرسوی ټول تحقیق څخه معلومه اوثابته سوله چې ټوله نشیی توکې داسې حرام دی لکه خمر اوشراب، ځکه موږ وویل چې د خمر دحرام والی علت یوازی اویوازی نشه ده که دنشی دحالت څخه ووزی بیا حلال دی، نواصل علت نشه ده داچې په هرشی کې پیداسې هغه حرام دی.نودهمدغه قانون اوقاعدی لمخی دفقهی عالمانو ددوی دتجارت کولو دحراموالی حکم کړی دی اوفرمایی:

۱ – ان المقرر لدی الفقهاء المذاهب الاربعة وغیرهم تحریم المخدرات تحریما قاطعا قیاسا علی تحریم الخمر، لاتحادهما فی علة التحریم وهی الاسکار، والمراد بالاسکارهنا هوتغطیة العقل لامع الشدة المطربة، لانها من خصوصیات المسکر المائع، فضلا عن الضرر الفردیة والجماعیة التی لاتخفی لمافیها من ضرر، وقد قال النبی صلی الله علیه وسلم لاضرر ولاضرار.(۱)

ترجمة: بیشکه دڅلورو مذهبونو دفقهاؤ اونورو په نزد ټول نشه لرونکی شیان قطعی حرام دی، ځکه چې دوی دخمرپرحراموالی قیاسوی، ځکه دټولو دحرمت علت یودی چې نشه ده، اودنشی څخه مراد دعقل پوټېدل دی که څه هم ډیره مستی ورسره نه وی، ځکه چې دغه دنرم نشه کونکې شی خصو صیت دی،

۱– البیوع المحرمة والمنهی عنها، ص۳۸۷

دنشی نه علاوه په دوی کې فردی اواجتماعی ضررونه هم سته چې دهیچا څخه پټ نه دی، اوحال داچې نبی کریم صلی الله علیه وسلم «داسلامی ټولنی دساتلو دپاره یوعام قانون ورکړی دی» اوفرمایی: نه به خپل ځان ته ضرر رسوی اونه به ویل ته.

۲- لقد علم أن بیع هذه المخدرات حرام، فیکون الثمن الناتج من هذا التجارة حراما، لقوله تعالی: (وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ) أی لایاخذ ولایتبادل بعضکم مال بعض بالباطل.

وذالک من وجهین:الأول أخذه علی وجه الظلم،والسلب، والسرقة، والخیانة، والتدلیس، وماجری مجری ذلک.

الثانی: أخذه من جهة محظورة،کأخذه بلعب القمار،اوبطریق غیرشرعی،کالعقود المحرمة، کمافی المعاملة بالربا، وبیع ماحرم الله الانتفاع به، کالخمر المتناولة للمخدرات المذکورة،فان هذه کله حرام مثل السرقة سواءبسواء،وان کان بطیب نفس من مالک.(۱)

ترجمة: په تحقیق دامعلومه سوله چې دغه نشه لرونکې شیان حرام دی، نو هغه روپی او قیمت چې ددوی دتجارت څخه لاسته راوړل کیږی هغه هم حرامه ده، ځکه الله تعالی په قرآن مجید کې فرمایی: «تاسو خپل مالونه په خپل منځوکې په باطل یاناحق مه سره خوری» یعنی تاسو مالونه په باطل مه سره تبادله کوی.

اودغه باطله لاره پر دوه ډول ده: اول داچې دبل مال په ظلم، زور، غلا، خیانت، ښه اوخراب سره ګډولو اوددی په شان نورو طریقو سره واخستل سی.

دوهم داچې په حرامه لاره سره واخستل سی: لکه دخمار بازی، یاپه غیر شرعی طریقه سره لکه حرام عقدونه، لکه دسود معامله یاکاروبار، دهغو شیانو خرڅول چې پرهغوی باندې په شریعت کې نفع اخستل حرام وی لکه خمر چې دهغه حکم وټولو ذکرسوی نشه لرونکوشیانو ته شامل دی، ځکه دغه ټول حرام دی، ځکه

۱- الفقه علی المذاهب الأربعة جلد ۵ ص ۴۰

دغلا سره يو برابر دی، که څه هم دغه بيع او سودا دمالک په خوښه سره وی.

۳- فَأَمَّا تَحْرِيمُ بَيْعِ الْخَمْرِ، فَيَدْخُلُ فِيهِ تَحْرِيمُ بَيْعِ كُلِّ مُسْكِرٍ، مَائِعًا كَانَ، أَوْ جَامِدًا، عَصِيرًا، أَوْمَطْبُوخًا، فَيَدْخُلُ فِيهِ عَصِيرُالْعِنَبِ، وَخَمْرُالزَّبِيبِ،وَالتَّمْرِ،وَالذُّرَةِ،وَالشَّعِيرِ، وَالْعَسَلِ، وَالْحِنْطَةِ، وَاللُّقْمَةِ الْمَلْعُونَةِ، لُقْمَةِ الْفِسْقِ وَالْقَلْبِ الَّتِي تُحَرِّكُ الْقَلْبَ السَّاكِنَ إِلَى أَخْبَثِ الأَمَاكِنِ، فَإِنَّ هَذَا كُلَّهُ خَمْرٌ بِنَصِّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّحِيحِ الصَّرِيحِ الَّذِي لاَ مَطْعَنَ فِي سَنَدِهِ، وَلاَ إِجْمَالَ فِي مَتْنِهِ، إِذْ صَحَّ عَنْهُ قَوْلُهُ: («كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ») .

وَصَحَّ عَنْ أَصْحَابِهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمُ الَّذِينَ هُمْ أَعْلَمُ الأُمَّةِ بِخِطَابِهِ وَمُرَادِهِ: أَنَّ الْخَمْرَ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ فَدُخُولُ هَذِهِ الأَنْوَاعِ تَحْتَ اسْمِ الْخَمْرِ كَدُخُولِ جَمِيعِ أَنْوَاعِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَالْبُرِّ وَالشَّعِيرِ،وَالتَّمْرِ وَالزَّبِيبِ، تَحْتَ قَوْلِهِ:(لاَتَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ، وَالْفِضَّةَ بِالْفِضَّةِ، وَالْبُرَّ بِالْبُرِّ، وَالشَّعِيرَ بِالشَّعِيرِ، وَالتَّمْرَ بِالتَّمْرِ، وَالْمِلْحَ بِالْمِلْحِ، إِلاَّ مِثْلاً بِمِثْلٍ).

فَكَمَا لاَ يَجُوزُ إِخْرَاجُ صِنْفٍ مِنْ هَذِهِ الأَصْنَافِ عَنْ تَنَاوُلِ اسْمِهِ لَهُ، فَهَكَذَا لاَ يَجُوزُ إِخْرَاجُ صِنْفٍ مِنْ أَصْنَافِ الْمُسْكِرِ عَنِ اسْمِ الْخَمْرِ.(۱)

ترجمة: داچې دشرابو خرخول حرام دی، نو ددی په حکم کې دټولو نشه لرونکو شيانو دخرخولو حکم هم ثابت سو، نرم وی، وچ وی، شيره وی، پاخه وی، نو ددی په حکم کې دانگورو شيره، دکشميشو شراب، دخرما، دجورو، داربشو، دعسلو اودغنمو، دشرابو حرمت پکښې داخل سو.

هغه گوله چې لعنت پر ويل سوی دی هغه دفسق گوله ده، چې بيده زړه ته داسې حرکت ورکوی چې بدو اوبيکاره دگناه ځايونو تی بيايی، نودغه ټول شراب دی، درسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه صريح اوصحيح دليل سره چې نه يی په سند کې څه اشکال سته اونه يی په متن کې څه اجمال او پوشيدگی سته، ځکه درسول الله صلی الله عليه وسلم دغه قول ثابت دی چې وايی (هرنشه کونکې شی

۱- زاد المعاد فی خير هدی العباد جلد ۵ ص ۶۶۲

خمر دی. نوچې خمرسو نو ځکه دشرابو ټول حکمونه ددوی هم دی.

اودغه صحیح ده چې اصحاب کرام رضی الله تعالی عنهم دټول امت خبرداره دی، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په خطاب اومراد ډیربنه پوهیدل، چې خمر هغه دی چې پرعقل پرده اچوی، نودغه ټول نشه لرونکی شیان دخمر په نوم کی داخل دی، لکه څرنگه چې دسرو اسپینو زرو، دغنمو اواربشو، دخرما اوممیزو ټول قسمونه په دغه قول کی داخل دی، چې وایی: تاسو سره زر په سرو زرو، سپن زر په سپینو زرو، غنم په غنمو، اربشی په اربشو، خرما په خرما، مالگه په مالگه مه خرڅوی مگرمثل په مثل.

لکه څرنگه چې ددغو صنفونو څخه دیوصنف وتل جایز نه دی، چې دغه نوم ورته شامل نه دی،نوهمدارنگه جایز نه دی چې دنشه لرونکوشیانو یوقسم هم دخمر دلفظ دنوم څخه ووزی.

پورته ذکرسوی فقهاء چې ټول نشه لرونکې شیان دشرابو په شان حرام بولی یو دلیل دادی چې دخمر لفظ اومعنی عامه ده ټول نشه لرونکو شیانوته شامل دی، بل داچی ددواړو دحرمت علت یودی چې نشه ده، بل داچې دواړه خبیث اونا پاک دی، خبیث اوناپاک الله تعالی په قرآن کریم کې حرام کړی دی اوفرمایی: وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ.(الأعراف) پاک اوګټور شی دوی ته حلال دی او ناپاک اوضررلرونکې شی پردوی حرام دی، داچې نشه اوټول نشه لرونکې شیان ناپاک اوعقل اوجسم ته ضرر کونکې دی، نوځکه په اسلامی شریعت کې حرام کړه سوی دی، ځکه دانسانانو دعقل اوجسم ساتنه په اسلامی شریعت کې لازم دی. همدا وجه ده الله تعالی مومنان دهلاکت دځای څخه منع کوی اوفرمایی: وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ(البقرة)تاسو په خپل لاسونو خپل ځانونه دهلاکت ځایونو ته مه اچوی او دټولو نشه کونکوشیانو داستعمال څخه په ملیونونو انسانان دهلاکت کندی ته لویږی

مال څه ته وایي

په مخکنۍ بحث کې دحرام شی دتجارت حکم بیان سوخودلته داسلامی فقهی دفقهاؤ اوعلماؤ دڅه اختلاف څخه بحث کول کیږي هغه داچې څه فقهاء او علماء دحرام شی تجارت په دی وجه جائز بولی چې دغه مال دی اوبیع «دمال بدلول دی په مال سره» اوڅه بیا حرام شی مال نه بولی، نوځکه موږ دلته دغه اختلاف ته اشاره کوو ترڅو ثابته سی چې حرام شی دمسلمان دپاره مال کیدایسی که نه؟ دا ځکه چې ډیر خلګ ددغه اختلاف څخه استفاده کوی اودحراموشیانو په تجارت اخته دی او وایی جائز دی، داختلاف اصلی وجه دغه ده چې دغه حرام شی مال دی که نه دی، څوک چې مال بولی دهغوی په نزد جایز اوڅوک چې مال نه بولی د هغوی په نزد جایز نه دی.

مال څه ته وایي؟ دمال په تعریف کی ویل کیږي: المال مايميل اليه الطبع ويمكن ادخاره لوقت الحاجة .(۱)

مال هغه شی دی چې دانسان طبیعت میلان ورته کوی اودحاجت لپاره یی زخیره کیدل ممکن وی.

دشریعت دفقهاؤ په نزد مال پردوه قسمه دی ، یوهغه دی چې طبیعت میلان ورته کوی اوپه شریعت کې نفع پراخستل هم جایزوی لکه غنم ، انګور اوداسې نور، ودغه ته دفقهاؤ په اصطلاح کې مال متقوم وایي، دوهم قسم هغه دی چې طبیعت خومیلان ورته کوی خو په شریعت کې پر هغه نفع پراخستل جایز نه وی لکه شراب، چرس، افیون اوداسې نور، نودغه ته مال غیر متقوم وایي.

دپورته څه تشریح څخه وروسته دڅه فقهاؤ په نزد دغیرمتقوم مال بیع یا خرڅول جایز نه ده دهغوی دجملی څخه یوقول په دی ډول دی: ۱- ويبطل بيع مال غير

۱-ردالمحتار علی درمختار ج۷ ص۲۳۵

متقوم كخمر وخنزير، فان المال المتقوم هو المال المباح الانتفاع به شرعا. (۱)

ترجمة: دمال غير متقوم لکه خمر اوخنزير بيع ياخرڅول باطله ده، ځکه متقوم مال هغه دی چې پرهغه باندې شرعا نفع اخستل مباح اوجايز وی.

اودباطلی بيعی په هکله خپله دردالمحتار مصنف داسې ليکي: ۱-البيع الباطل حكمه عدم ملك المشترى اياه اذاقبضه، فلاضمان لوهلك المبيع عنده لأنه أمانة. (۲)

يعنی دباطلی بيعی حکم دادی: که دباطلی بيع په صورت کې مشتری يا رانيونکې هغه شی قبض کړی نودغه دده ملک نه ګرځی، اوکه دده پلاس کې تلف يا هلاک سی نو پرده باندې ضمان يا تاوان هم نسته، ځکه دغه دده پلاس کې امانت دی اوامانت چې هلاک سی تاوان نلری.

۲- المال المتقوم كل مال ماكان محرزاً بالفعل وأباح الشرع الانتفاع به، وغيرالمتقوم مالم يحرز بالفعل ومالا يباح الانتفاع به شرعا الا فى حالة الاضطرار. (۳)

ترجمة: مال متقوم هغه مال دی چې ساتل سوی وی اوپه شريعت کې پرهغه باندې نفع اخستل جايز وی، غير متقوم مال هغه دی چې ساتل سوی نه وی اوشرعا پرهغه باندې نفع اخستل جايز نه وی ، مګرنه دضرورت په حال کې.

۳- وقال الصاحبان لايجوز بيعها أصلا، ولايضمن متلفها لعدم كونها مالا متقوما، لأن المال المتقوم هو مايباح الانتفاع به حقيقة وشرعا وهى لايباح الانتفاع بها. (۴)

ترجمة: دامام صاحب ياران (امام محمد اوامام ابو يوسف رحمة الله تعالى عليهما) وايی: د حرام شی بيع اصلا جايز نه ده، اوکه چا هلاک کړی پر هغه باندې ضمان نسته، ځکه دغه مال متقوم نه دی، ځکه متقوم مال هغه دی چې پرهغه باندې حقيقة اوشرعا نفع اخستل جايز وی، اوپر حرامو نفع اخستل شرعا جايز نه ده.

۱- رد المحتار ج۴ ص۱۱۳ ۲- رد المحتار كتاب البيوع - ج ۷ - ص ۲۴۶

۳- الفقه الاسلامى وأدلته ج ۴ ص۴۴ ۴- الفقه الاسلامى وأدلته ج ۶ ص۱۶۳

۴- يعنى أن المال المتقوم ماخوذ فى مفهومه كلا المعنيين ، فيعرف بأنه المال المحرز الذى يمكن ادخاره مع اباحة الانتفاع به شرعا وما يتمول بلا اباحة الانتفاع لايكون متقوما كالخمر. (۱)

ترجمة: يعنى دمال متقوم په مفهوم كې دواړی معناوی سته، نودمال متقوم تعريف داسې كيږی: چې دغه هغه ساتل سوی مال دی چې ذخيره كيدل يې ممكن وی، اوشرعا نفع پراخستل مباح وی، اوهغه مال چې دانسان طبيعت خوميلان ورته كوی خونفع پراخستل جايز نه وی نوهغه متقوم نه دی لكه شراب.

۵- اذا كان احد العوضين اوكلاهما محرما فالبيع فاسد،(اى باطل وقد يطلق المصنف الفاسد على الباطل لأنه اعم، إذ كل باطل فاسد) كالبيع بالميتة اوبالخمراوالخنزير اوبالدم.(۲)

ترجمة: كله چې يو ددواړو عوضينو يادواړه حرام وی نوبيع فاسده ده، (يعنى باطله ده، ځكه مصنف كله كله پرباطلى باندې دفاسدی اطلاق كوی. ځكه دغه ترباطل عام دی. ځكه چې هر باطل ته فاسد ويل كيږی) لكه دمرداری بيع په شرابو، خنزير، ياوينوسره.

٦- فيجوز بيعها، وتضمن بالاتلاف، خلافا لهما لانه حرام فلايجوز بيعه كالخمر. ولابى حنيفة انه مال متقوم، ومادل الدليل على سقوط تقومها بخلاف الخمر، ثم يجب بالاتلاف عنده القيمة دون المثل، لانه ممنوع من الانتفاع بها للحرمة. (۳)

ترجمة: امام ابو حنيفة رحمة الله تعالى عليه ته داسې قول منسوب سوی دی، چې دی وايی بيله خمر دنورو حرامو شيانو بيع اوخرڅول روادی، اوكه تلف سی نو ضمان يې هم سته، خو دامام صاحب ددغه قول څخه دده شاګردان امام محمد اوامام ابو يوسف رحمة الله تعالى عليهما دواړه مخالفت كوی اوفرمايی: چې دغه

۱- شرح المجلة ماد: ۱۲۷- ص ۱۸- ج۲ -- ۲- اللباب فى شرح الكتاب جلد ۲ ص ۲٤
۳- الاختيار لتعليل المختار جلد ۳ ص ۵۱۱

حرام دی نوددوی بیع اوخرڅول هم جایز نه ده لکه دخمر نوچې جایز نسی نوپر اتلاف باندې ضمان هم نسته.

دامام صاحب دطرفه یو عقلی دلیل ویل سوی دی چې دغه مال متقوم دی. او پردغه باندې چې مال متقوم نه دی دلیل نسته، نوځکه ددی حکم دخمر څخه مخالف دی، خودی بیا دضمان په صورت کې وایی چې قیمت به ورکوی مثل به نه ورکوی، ځکه په مثل باندې نفع اخستل جائز نه ده ولی چې حرام دی.

که په پورتنی ټولو عباراتونوکې غور وسی نواول خوداشی معلومیږی چې زموږ دفقهاؤ بردغه اتفاق دی چې غیردخمرڅخه دانور نشی شیان هم دشرابو په شان حرام دی، اودشرابو ټول حکمونه ددوی دپاره هم دی،اوددوی په حرام والی باندې په هغو دلائلوسره دلیل وایی چې دخمر دحرام والی لپاره دلائل دی، خو اختلاف په دغه کې دی چې مال متقوم دی اوکه نه، که دچاپه لاس کې هلاک سی پر هغه ضمان سته اوکه نه، که سته نوپه څشی به وی؟

دویم داچې کوم قول وامام صاحب ته منسوب سوی دی یادده لخواکوم عقلی دلیل ویل سوی دی په ښکاره ډول ډیر ضعیف اومتضاد معلومیږی چې دده یارانو هم ورسره اختلاف کړی دی، ځکه دیوه طرفه یی بیع صحیح «روا» بولی اوضمان پروایی معنی داچې حلال دی، خودبله طرفه یی حرام بولی وایی ضمان په مثل به نه ورکوی بلکی قیمت به ورکوی، ځکه چې پردغه باندې نفع اخستل جائزنه ده، نو دغه دواړه قولونه سره مخالف معلومیږی.

دلته ویلای سو چې دیارانو قول قوی اوراجح دی، ځکه چې په حراموالی یی خپله امام صاحب هم قایل دی، نودحرام شی خرڅول حرام دی که هلاک سی ضمان یی نسته.

بل داچې حرام دمسلمان په هکله مال نسی کیدلای ، ځکه چې دمسلمان

وحرام ته میل کول هم حرام دی، ځکه چې په داسې میل کولوکې دالله تعالی اود هغه درسول صلی الله علیه وسلم دهغو حکمونو نافرمانی راځی کوم چې پورته په ډیر تفصیل ذکرسوله، اودهغوی دحکم نافرمانی کول یانه منل کفر دی.

څه فقهاء اوعلماء دجواز دپاره په لاندنی عبارتونودلیل وایی:

۱- وصح بیع غیرالخمر أی عنده خلافا لهما فی البیع والضمان، لکن الفتوی علی قوله فی البیع وعلی قولهما فی الضمان، ثم ان البیع وان صح لکنه یکره.(۱)

ترجمة: بیله خمردنورو حرامو شیانو بیع دامام صاحب په نزد صحیح ده، دده یاران وایی بیع هم صحیح نه ده اونه یې ضمان یا تاوان سته، خوپه بیع کې فتوی دامام صاحب پر قول ده اوپه ضمان کې فتوی دیارانو پر قول ده، خوبیا هم که بیع صحیح سی نومکروه ده.

۲- وصح بیع غیرالخمر مما مر، ومفاده صحة بیع الحشیش والافیون، قلت وقد سئل ابن نجیم عن بیع الحشیش هل یجوز؟ فکتب لایجوز، فیحمل علی ان مراده بعدم الجواز عدم الحل.(۲)

ترجمة: بیله خمردنورونشه لرونکوشیانوبیع صحیح ده لکه څرنګه چې مخکې تیر سوله، نوددی فایده داسوله چې دچرسواوافیون بیع صحیح ده، زه وایم: چې دابن نجیم څخه دچرسو دخرڅولو په هکله پوښتنه وسوله چې ایا دغه جایز ده ؟ نوده ولیکل چې جایز نه ده، نودده دعدم جواز څخه نه حلال والی مراد دی.

که په پورته ذکرسوی عبارتونوکې غوروکړو نواول خوپه دغوعبارتونوکې پردغه حکم باندې دشریعت ددلائلوڅخه هیڅ دلیل نه لیدل کیږي، دویم دغه عبارتونه دهغو حدیثونو سره تضاد لری کوم چې مخکې ذکرسوی دی، چې دهغوی مطلب داوو پرکوم شی چې په شریعت کې نفع اخستل جایز نه وی دهغه خرڅول او

۱- رد المحتار علی درمختار ج۵ ص ۳۲۳ -- ۲- رد المحتار علی درمختار کتاب الأشربة ج ۱۰ ص ۳۵

قیمت خوړل هم جایز نه دی، دریم داچې خپله درد المحتار مصنف په بل ځای کې لیکلی دی: هغه مال چې په شریعت کې نفع پراخستل جایز نه وی هغه مال غیر متقوم دی، اود غیر متقوم مال بیع باطله ده: ویبطل بیع مال غیر متقوم کخمر وخنزیر، فان المال المتقوم هو المال المباح الانتفاع به شرعا. (۱)

ترجمة: دمال غیر متقوم لکه خمر اوخنزیر بیع باطله ده، ځکه متقوم مال هغه دی چې پرهغه باندې شرعا نفع اخستل مباح اوجایز وی.

اودغه ښکاره ده چې چرس، افیون، اودهغه څخه جوړسوی نشه کونکې شیان ټوله داسې دی چې په اسلامی شریعت کې نفع پراخستل جایزنه دی، ځکه دوی نشه لری اوهرشی چې نشه لری هغه حرام دی، چې حرام سونومال متقوم نه دی، چې متقوم نسی نومال نه دی، چې مال نسی نو خپله درد المحتار مصنف دمخکنی عبارت دمخی بیع یې باطله ده، اوپه بیع باطله کې مبیعه دمشتری ملک نه ده بلکې امانت ده اوامانت ضمان نلری.

حرام دمسلمان دپاره مال نه دی

دحنفی فقه دعلماؤ په نزد داسې حرام چې پرهغه باندې په شریعت کې نفع اخستل جایز نه وی دمسلمان دپاره مال نه دی، ځکه مال هغه دی چې زړه میلان ورته کوی، دمسلمان زړه به حراموته میلان نه کوی بلکې دنفرت په سترګوبه ورته ګوری، اوپرمسلمان باندې دحرام مال ملکیت هم حرام دی. په دی هکله په بدائع الصنائع کې لیکي: ومنها أنه يحرم على المسلم تمليكها وتملكها بسائر اسباب الملک، من البيع والشراء وغيرذالک، لأن کل ذلک انتفاع بالخمر، وإنما محرمة الانتفاع على المسلم. (۲)

ترجمة: دشرابو دحکمونو څخه یودادی چې پرمسلمان باندې ملکیت اوچاته په ملک ورکول په ټولو اسبابو دملکیت حرام دی، لکه خرڅول رانیول اوداسې نور،

۱- رد المحتار على درمختار ج۴ ص۱۱۳ -- ۲- بدائع الصنائع ج۶ ص ۴۳۷

ځکه دغه ټوله پرشرابو نفع اخستل دی، او پرمسلمان باندې پرشرابو نفع اخستل حرام دی.

بل داچې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دشرابو دتویېدلو امرکړی دی دخرڅولو اوچاته د ورکولو څخه یې منع کړی ده.

۱- عَنْ نَافِعِ بْنِ كَيْسَانَ، أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ كَانَ يَتَّجِرُ بِالْخَمْرِ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنَّهُ أَقْبَلَ مِنَ الشَّامِ وَمَعَهُ خَمْرٌ فِي الزِّقَاقِ، يُرِيدُ بِهَا التِّجَارَةَ، فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي جِئْتُكَ بِشَرَابٍ جَيِّدٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا كَيْسَانُ، إِنَّهَا قَدْ حُرِّمَتْ بَعْدَكَ» قَالَ: أَفَأَبِيعُهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهَا قَدْ حُرِّمَتْ، وَحُرِّمَ ثَمَنُهَا». فَانْطَلَقَ كَيْسَانُ إِلَى الزِّقَاقِ فَأَخَذَ بِأَرْجُلِهَا، ثُمَّ أَهْرَاقَهَا.(۱)

ترجمة: نافع بن کیسان دخپل پلار څخه روایت کوی چې ده درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دشرابو تجارت کوی، نودی دشام څخه راغلی دده سره په ښیښوکې شراب وه چې ده د تجارت دپاره راوړی وه، نودی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلی. او ورته وی ویل: ای دالله رسوله ماتاته ډېر ښه شراب راوړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ای کیسان ترتا وروسته دغه حرام سوی دی، ده ورته وویل ای دالله رسوله نوزه دغه خرڅ کړم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل بیشکه دغه حرام سوی دی اوددغه ثمن اوقیمت هم حرام دی، نوکیسان ولاړی وکوځوته اودغه بوتلان یې په پښو ووهل اوبیایې ټول شراب توی کړل.

۲- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: كَانَ عِنْدَنَا خَمْرٌ لِيَتِيمٍ فَلَمَّا نَزَلَتِ المَائِدَةُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُ، وَقُلْتُ: إِنَّهُ لِيَتِيمٍ، فَقَالَ: «أَهْرِيقُوهُ». (۲)

۱- رواه امام احمد بن حنبل فی مسنده -- ۲- سنن الترمذی کتاب البیوع

ترجمة: ابی سعید رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې زموږ سره دیتیم شراب وه، نوکله چې دالمائده سورت نازل سو، ماده رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړله چې دغه خو دیتیم دی نوده راته وویل: چپه یی کړی.

۳- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قُلْنَا لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا حُرِّمَتِ الْخَمْرُ: إِنَّ عِنْدَنَا خَمْرًا لِيَتِيمٍ لَنَا «فَأَمَرَنَا فَأَهْرَقْنَاهَا». (۱)

ترجمة: ابی سعید رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: چې کله شراب حرام سوله، بیشکه زموږ سره دیتیم شراب دی، نوده موږته امر وکړی اوموږ هغه توی کړل یاوبهیول.

دپورتنیوحدیثونوڅخه داستدلال وجه داده که حرام دمسلمان دپاره مال وای نونبی علیه السلام به دوی ته دتویدلو ضایع کولوحکم نه ورکولای، دخرڅیدلو یاچاته دبخښلو بی ویلی وای. معلومه سوله چې حرام شی دمسلمان دپاره مال نه دی، که مال وای نودمال ضائع کیدل جائزنه دی. ځکه په حدیث کې دمال دضایع کیدلو څخه منع راغلی ده:

عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ:قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ: عُقُوقَ الأُمَّهَاتِ، وَوَأْدَ البَنَاتِ،وَمَنَعَ وَهَاتِ،وَكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةَ المَالِ.(۲)

ترجمة: مغیرة بن شعبه رضی الله تعالي عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی پرتاسو حرام کړی دی، دمندو آزاریدل، دلوڼو وژل، چاته څه نه ورکول. اوډیر غوښتل. اوبد بللی دی ستاسو دپاره بی ځایه سوال او جواب کول. اوډیر سوال کول. او دمال ضائع کیدل.

بل داچې دشرابوتویدل ددوی دپاره اهانت دی، اوخرڅیدل یاچاته بخښل ددوی عزت دی، نودحرام شی اهانت پکاردی عزت یی نه دی پکار، (وفی حاشیة ابن

۱- رواه امام احمد بن حنبل فی مسنده -- ۲- صحیح البخاری کتاب الأدب

عابدين ...ولايجوز بيعها، لأن الله تعالى لما نجسها فقد أهانها والتقوم يشعرها بعزتها.(۱)

ترجمه: دابن عابدين په حاشيه نومی کتاب «ردالمحتار»کې ليکلی دی «دشرابو خرڅيدل جائزنه دی، ځکه الله تعالی نجس بللی دی، نوددوی اهانت يې وکړی، اوخرڅيدل اورانيول ددوی عزت دی.

معلومه سوله چې دشرابو لکه څرنګه چې چيښل خرڅول حرام دی. همداسې يې وکافرته بخښل هم حرام دی ځکه خورسول الله صلی الله عليه وسلم دهغوی دتويدلوحکم وکړی، دهمدغه پورتنيو دلائلواوداسې نورو پربنياد فقهاء رحمة الله تعالی عليهم حکم کوی، چې دحرام شی بيع باطله ده، که چا په باطله بيع شی رانيوی نو هغه دده ملک نه ګرځی. اوکه دده پلاس کې هلاک سو يا ورک سو نو پر ده باندې دهغه عوض اوضمان نسته.

حرام پرکافر خرڅول حرام دی

دمنطقی څه خلګ دليل وايی چې موږ دغه افيون اونورمنشيات دکافرانو دپاره کرو اوهغوی ته يې وراستوو، ځکه موږ بله سلاح نلرو، يا داچې دوی موږ ته شراب اوداسې نور منکرات راليږی نوموږ دوی ته دغه منشيات ورليږو، معنی داچې دغه حرام کار دځان دپاره نه يوازی داچې حلال بولی، بلکې داوايی چې په دغه چرس،افيون اوپوډرو دکافرانو سره جهاد کوو، اوپه دغه دوی ته ضرر رسوو، نعوذ بالله دجهاد په نيت يې کوی اوثواب پرغواړی.

په داسې غيرشرعی دليل سره دحرام شی دجواز لاره نه پيداکيږی، يوشی چې په شريعتِ کې حرام وی هغه په داسې دلائلو نه حلاليږی، بلکه حلال اوحرام هغه دی چې الله تعالی اودهغه رسول صلی الله عليه وسلم ورته حلال ياحرام ويلی وی موږ دخپله ځانه په داسې بې ځايه توجيهاتو يوشی ته حلال ياحرام نه سوويلای

۱- رد المحتار علی درمختارج ۱۰ ص ۳۳

اوداسې عمل نبی کریم صلی الله علیه وسلم دجاهلانو عمل بللی دی.

څکه په حدیث کې راغلی دی: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا،» فَبَعَثَ اللَّهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ، وَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ، فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ. الحديث. (١)

ترجمه: ابن عباس رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې دجاهلیت دزمانی خلګوبه (په خپل طبیعت) څه شیان خوړل اوڅه شیان به یې پرېښودل بد به یې ګڼل، نوالله تعالی خپل نبی راولیږی اوخپل کتاب یې رانازل کړی، اوپه هغه کې خپل حلال اوحرام بیان کړله، نوکوم ته چې حلال ویل سوی دی هغه حلال اوکوم ته چې حرام ویل سوی دی هغه حرام دی.

په یوبل حدیث کې رااغلی دی: عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَاسْتَظْهَرَهُ، فَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهِ الجَنَّةَ وَشَفَّعَهُ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ. (٢)

ترجمه: دعلی بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې قرآن کریم په حاضردماغی سره تلاوت کړی اودهغه حلال یی حلال وبلل اود هغه حرام یی حرام وبلل نوالله تعالی به دی جنت ته داخل کړی، اودلسو داسې کسانو په حق کې به دده شفاعت قبول کړی چې ددوزخ مستحق وی.

دپورتنیوحدیثونو څخه معلومه سوله چې یوشی ته حلال یاحرام ویل دطبیعت یاخپل د خوښی کارنه دی. بلکې دایوشرعی امردی چې شارع وکوم شی ته حلال یاحرام ویلی وی نوهغه حلال یاحرام دی، مورږ که یوشی ته حلال یاحرام وایو نودشریعت دځلورو دلائلو څخه به یودلیل خامخا ورسره لرو، څکه دحلال او

١- سنن ابوداود کتاب الأطعمة -- ٢- سنن الترمذی فضائل القرآن

حرام خبره دومره آسانه اوساده نه ده اونه دطبیعت اوخوښی خبره ده.

اورسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه لاندنی حدیثونو کې په ډیر صراحت سره امرکوی چې دخمر یاشرابو تجارت حرام دی د کافر اومسلمان فرق یی نه دی بیان کړی اوفرمایی:

١- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ بِالْمَدِينَةِ، قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُعَرِّضُ بِالْخَمْرِ، وَلَعَلَّ اللهَ سَيُنْزِلُ فِيهَا أَمْرًا، فَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ مِنْهَا شَيْءٌ فَلْيَبِعْهُ وَلْيَنْتَفِعْ بِهِ»، قَالَ: فَمَا لَبِثْنَا إِلَّا يَسِيرًا حَتَّى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى حَرَّمَ الْخَمْرَ، فَمَنْ أَدْرَكَتْهُ هَذِهِ الْآيَةُ وَعِنْدَهُ مِنْهَا شَيْءٌ فَلَا يَشْرَبْ، وَلَا يَبِعْ»، قَالَ: فَاسْتَقْبَلَ النَّاسُ بِمَا كَانَ عِنْدَهُ مِنْهَا فِي طَرِيقِ الْمَدِينَةِ فَسَفَكُوهَا. (١)

ترجمة: ابوسعیدخدری رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې مادرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل ، چې په مدینة منوره کې دخطبی په حال کې ویله ای خلګو بیشکه الله تعالی دشرابو دحرامیدلو اشاره کوی، کیدای سی دشرابو په هکله څه حکم راسی، نوکه دچاسره شراب وی نوهغه دی خرڅ کړی اوفائده دی ځنی واخلی، ابوسعید وایی څو لږ ورځی تیری سولی چې نبی صلی الله علیه وسلم وویل: الله تعالی شراب حرام کړل، اوس که دچاسره شراب وی اوهغه ته دغه دحرمت آیت ورسیږی نوهغه دی نه چیښی اونه دی خرڅوی، ابوسعید وایی: نودچاسره چې شراب وه هغه یی دمدینی کوڅوته راوړل اوچپه یی کړل وبهیول.

٢- عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رِجَالًا، مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ قَالُوا لَهُ: إِنَّا نَبْتَاعُ مِنْ ثَمَرِ النَّخْلِ وَالْعِنَبِ فَنَعْصِرُهُ خَمْرًا فَنَبِيعُهَا، فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: " إِنِّي أُشْهِدُ اللهَ عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتَهُ وَمَنْ سَمِعَ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ، أَنِّي لَا آمُرُكُمْ أَنْ تَبِيعُوهَا، وَلَا تَبْتَاعُوهَا، وَلَا تَعْصِرُوهَا، وَلَا تَسْقُوهَا، فَإِنَّهَا رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ ". (٢)

١- صحیح مسلم کتاب المساقاة باب تحریم بیع الخمر- ٢-رواه امام مالک فی مؤطا کتاب الأشربة والبیهقی فی سننه

ترجمة: مالک دنافع څخه روایت کوي چې دعراق دخلګوڅخه څه کسانو د ابن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه پوښتنه وکړله، اودوی وویل: چې موږ دخرما او انګورو څخه شیره باسو شراب ځنی جوړوو اوخرڅوو یې، نوده ورته وویل: چې زه الله تعالی شاهد کوم اودده ملائکې اوهغه پیریان اوانسانان شاهدان کوم چې دغه زماخبره اوری، هغه داچې تاسوبه دغه نه خرڅوی اونه به یې رانسی، اونه به یې نستیږی، اونه به یې خپله چیښی اونه به یې بلته ورچیښی، ځکه دغه نجس دی اود شیطان دعمل څخه دی.

۳- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أبيه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حَبَسَ الْعِنَبَ أَيَّامَ الْقِطَافِ حَتَّى يَبِيعَهُ مِنْ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ، أَوْ مِمَّنْ يَتَّخِذُهُ خَمْرًا، فَقَدْ تَقَحَّمَ النَّارَ عَلَى بَصِيرَةٍ «.(۱)

ترجمة: عبد الله بن بریده دخپل پلار څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که چا دټولیدلو په وختکې انګور پریښودل ترڅو چې پر یهودی یانصرانی باندې اویا پر هغه چاخرڅ کړی چې هغه نشه ځنی جوړ کړی، نو بیشکه ده ددوزخ اور اختیار کړی.

دغه حدیث ډیر صراحت کوی چې انګور به هم پرکافرانو دشرابو دپاره نه خرڅوی، اونه به یې ددوی دپاره زخیره کوی.

موږ مخکی ولیکل چې ټول نشه لرونکی شیان دخمر حیثیت لری دخمر ټول حکمونه ددوی دپاره دی، نوځکه دپورتنیو اوداسی نورو دلایلو په استدلال علماء لیکی: فقد دلت هذه النصوص مجتمعة على عدم جواز بيع الخمر ومافي حكمها من المسكرات المحرمة ، حيث صرحت بالنهي عن التعامل بشأنها واعتبارها محلا للتصرفات بالاتجار ونحوه، بناء على حرمة تناولها ولنجاسة عينها،مع عدم ماليتها،حتى أن بعض النصوص صرحت

۱- معجم الأوسط للطبراني ج ۵ص ۲۹۴

بلعن من ابتاعها كماهو الحال فى حديث ابن عمر رضى الله تعالى عنهما. (۱)

ترجمة: دغه پورتني ټول حديثونه دلالت کوي چې دخمر اودهغه شي چې دخمر حکم لري لکه حرام نشه کونکې شيانو تجارت جائزنه دی، ځکه په حديثونوکې په نهی صراحت سوی دی چې دغه شيان دتصرف قابل نه دي لکه تجارت اوداسې نور، ځکه چې ددوی خوړل اونفع پراخستل حرام دي، ځکه چې ذات یې نجس دی، اوبل داچې مال نه دی، ان تردی چې په څه حديثونو کې پرخر څونکو باندې لعنت ويل سوی دی لکه څرنګه چې دابن عمر رضی الله تعالی عنهما په حديث کې.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ، وَشَارِبَهَا، وَسَاقِيَهَا، وَبَائِعَهَا، وَمُبْتَاعَهَا، وَعَاصِرَهَا، وَمُعْتَصِرَهَا، وَحَامِلَهَا، وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ».(۲)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنهما روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالی لعنت ويلی دی پرخمراودشرابو پرڅښونکې او ورڅښونکې، پر خرڅونکې اورانيونکې، پرنستيړونکې، پربار وړونکې اودچاد پاره بارسوی وي.

دپورته ذکرسوي حديثونوڅخه داستدلال بله وجه داده چې دخمريا شرابو دخرڅولو څخه منع راغلی ده خودکافر اومسلمان ذکر پکښې نسته، ټول الفاظ عام دي، که دکافراومسلمان فرق پکښې وای نو ضروربه رسول الله صلی الله عليه وسلم واضح کړی وای، اويابه اصحابو کراموځنی پوښتلی وای چې موږبه يې پر کافرانو خرڅ کړو، داصول فقه يوقانون داسې هم سته چې (دبيان په ځای کې سکوت عين بيان دی) يعنې داچې رسول الله صلی الله عليه وسلم دکافر اومسلمان فرق بيان نکړی معنی داسوله چې فرق نلري، بل داچې موږ مخکې په ډير تفصيل سره ثابته کړله چې دخمر لفظ عام دی وهرنشه کونکې شی ته ويل کيږي يوازې دانګورو شيرې ته نه

۱- البيوع المحرمة والنهى عنها، ص۲۲۹

۲- رواه ابوداود، كتاب الأشربة

ویل کیږي نوځکه دټولو همدغه یوحکم دی.

بله خبره داکوي: کافران موږته حرام رالیږي نوموږ هم باید حرام ورواستوو دغه بهانه په خپله دشریعت داصولو خلاف ده، ځکه رب العالمین په خپل هغه کتاب کې چې موږ ایمان پرراوړی دی په ډیرصراحت سره فرمایي چې بدی په نیکې سره لیری کړه:وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ. (۱)

ترجمة: نیکې اوبدی یودبله سره برابر نه دی، (دالله تعالی په نزد) نوتاسو بدی په نیکې سره دفع کوی، نوهغه کسان چې ستاسو اودهغوی ترمنځ عداوت او دښمني وی، دوی به ستاسو ډیر مهربانه دوستان وګرځي.

په دغه آیت کې الله تعالی ورشتني مسلمان ته ددعوت یو زرین اصل او قانون بیانوی او دښو اخلاقو تعلیم ورکوی، یعنی ښه وپوهیږی چې نیکې اوبدی یودبله سره برابر نه دی، نوځکه دمخلص مومن خوی اوعادت به داوی چې دبدی جواب په بدی نه ورکوی، ترڅوچې ممکنه وی د بدی جواب دی په نیکې ورکړي، مثلا دسختی جواب په نرمی اومهربانی سره ورکړي، چې ددی په نتیجه کې به ډیر ژر درته ښکاره سی چې ډیرسخت دښمن به ستادوست اوخیر غوښتونکې وګرځي.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایي: عَسَى اللَّهُ أَنْ يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُمْ مِنْهُمْ مَوَدَّةً وَاللَّهُ قَدِيرٌ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ.(۲)

ترجمة: کیدایسی الله تعالی ستاسواودهغوکافرانوچې ستاسو سره دښمنی لری ترمنځ دوستی پیداکړي، اوالله تعالی پرهرشی ښه قدرت لری چې اراده وکړي، چې یودهغوی څخه دښمنی په دوستی بدلول دی، اوالله تعالی ښه بخښونکې اوډیر رحم کونکې دی.

۱- سورة فصلت آیت ۳٤ ۲- سورت الممتحنة ۷

تفسیر: دالله تعالی دقدرت څخه لیرې اوبعیده نه ده چې دنن ورځې کلک دښمن دسباورځې پوخ اومخلص دوست اومسلمان وګرځوي، اوپه داډول ستاسو اود هغوی په منځ کې ددوستۍ تعلقات جوړ سي، لکه چې دمکې معظمې په فتح کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اومسلمانانودمکې دکفارو څخه انتقام نه واخستی نوټول کافران مسلمان سوله، هغه کسان چې مخکې به یې یوپربل توری کشولی نن یوپر بل ځانونه قربانوي. (۱)

په بل آیت کې رب العالمین تردی نه هم وضاحت کوی اوفرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ. (۲)

ترجمة: ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی، تاسو دالله دپاره په حق باندې محکم اوثابت اوسی، اوتاسو په عدل اوانصاف سره شاهدان اوسی، دیوچا سره دښمنی دی تاسو پردی باعث نکړی چې عدل اوانصاف پریږدی، تاسو عدل کوی همدغه عدل تقوی ته نژدې دی،اودالله تعالی څخه وبیریږی بیشکه الله تعالی ښه عالم دی په هغواعمالو چې تاسویی کوی.

تفسیر: په دغه آیت کې الله تعالی مسلمانانو ته دالله تعالی دحقوقو دادا کولو وروسته د بندګانو دحقوقودپوره ادا کولو لازښودنه کړی ده، درب العالمین دپوره لارښودنی دتقاضا په منظور دلته دقوم لفظ ذکرسوی دی (وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ) معنی دیوقوم دښمنی دی تاسو دی ته نه هڅوی چې عدل اوانصاف پریږدی، په قوم کې کافر اومسلمان دواړه داخل دی، بل دلته دعدل اوقسط دواړه لفظونه راغلی دی په دغه کې اشاره ده چې ددوست اودښمن دواړو سره یوشانته معامله کول اوحق په معامله کې دمحبت اوعداوت دجذباتو ترتاثیرلاندی نه راتلل دتقوی

۱- تفسیر کابلی په اختصار سره جلد ۲ ص ۱۴۰۹ ۲- سورة المائدة آیت ۸

دحصول دډیرو موثرو اسبابو څخه ده، نو ځکه (هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ) یې وفرمایل، یعنی دغه عدل چې حکم یې درکړه سو تقوی ته ډیر نژدې دی.

یعنی داسې عدل او انصاف وکړی چې مخ یې هیڅ ډول دوستی او دښمنی نسی نیولای، او دداسې عدل او انصاف په کولو سره انسان په اسانی سره متقی کیدایسی، همدا وجه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمکې مکرمې دفتح په وختکې دټولو دښمنانو سره دعفوی لاره اختیار کړه، ترڅو په نتیجه کې ټول مخلص مسلمانان سوله، دآیت په آخر کې الله تعالی وایی زه ستاسو په ټولو عملونو باندې علم لرم او خبریم، ودی ته اشاره ده چې کله دانسان په ذهن کې دا خبره ټینګه سی چې رب العالمین زما په هر عمل عالم دی، نو دی بیا هیڅکله دعدل او انصاف لاره نه پریږدی، او دالله تعالی ټول حکمونه به پرځای کوی.

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایي: وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ.(۱)

ترجمه: اوهغه کسان چې دخپل رب درضا دپاره (په جانی، مالی، شرعی تکالیفو او جهادی مشکلاتو باندې صبر کوی) او لمونځ دټولو شرائطو او آدابو سره کوی، او دالله په لاره کې دهغه پاکو او حلالو مالونو څخه نفقه زکاتونه او خیراتونه ورکوی چې الله تعالی دوی ته ورکړی دی په پټه او ښکاره، او په نیکې سره بدی لیری کوی، نو دغو کسانو لره چې دغه پورتنی صفتونه ولری دآخرت ښه کور او ځای دی. چې هغه دعدن جنت دی.

دلته دصبر څخه مراد هغه دی چې خاص دالله تعالی دپاره وی، ددی دپاره نه وی چې خلګ ورته ښه صابر وو ایی، او نه ددی دپاره وی چې بیله صبره بله لاره نلری نو مجبورا صبر کوی.

۱- سورة الرعد آیت ۲۲

په بل آیت کې الله تعالی فرمایي: أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ. (۱)

ترجمة: اودغوکسانوته دوه اجرونه اوثوابونه ورکول کیږي، یوپردی چې دوی صبرکړی دی، دوهم پردی چې دوی بدی په نیکې سره لیرې کوی، اود هغو پاکو او حلالو مالونوڅخه چې موږ دوی ته په رزق ورکړی دی دالله تعالی په لاره کې نفقه اوخیرات ورکوي.

یعنی چې کله دده سره څوک بد وکړي نودی دبدوپرځای دهغه سره ښه وکړي یا داچې کله دده څخه بدکاروسی نودی سمدلاسه نیکې پسې وکړي ترڅو دنیکې پله درنه سي.

په بل آیت کې الله عزوجل داسې فرمایي: قَالَ يَا قَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ.(۲)

ترجمة: ده وویل: ای زما قومه ولی تاسو تلوار کوی په بدی سره، مخکې تر نیکې، ولی بخښنه نه غواړی تاسو دالله څخه ، کیداي سی پرتاسو رحم وسی.

دپورتنی آیت څخه داستدلال وجه داده چې صالح علیه السلام وخپل قوم ته وایی تاسو ولی په بدی تلوارکوی ترنیکې دمخه، یعنی اول دبدی خواست مکوی یعنی عذاب مه غواړی، بلکه اول باید نیکې وکړي ایمان راوړي.

نودلته هم موږته پکارده چې موږ دوی ته دین ورسوو چې نیکې ده په بدی باندې تلوارونکړو چې دوی ته افیون، چرس، اوهیروین ورواستوو چې دوی نورهم په نشو اخته سي نه یوازی زموږ دپاره بد بلکې دټول دنیا دانسانانو اومسلمانانو دپاره تربدو لاهم بدسی.

په یوبل آیت کې الله تعالی موږته دنیکې دترغیب دپاره فرمایي: مَنْ جَاءَ

۱- سورة القصص آیت ٥٤
۲- سورة النمل آیت ٤٦

بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلاَ يُجْزَى إِلاَّ مِثْلَهَا وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ.(۱)

ترجمة: څوک چې نیکي وکړي نوده ته دلسو نیکیو ثوابونه ورکول کیږي، او څوک چې بدی وکړي نوده ته دهغې په مثل دیوی بدی جزاء ورکول کیږي، اوپر دوی به ظلم نه کول کیږي نه د ثوابونو په کموالي اونه دعذاب په زیاتوالي کې.

دپورتنی ټول تفصیل څخه مطلب داچی کافران موږته کوم شی رالیږي نوموږ دوی ته دهغه په مقابل کی افیون، چرس اوپوډر نه وراستوو ځکه موږ الله تعالی دټولو امتونو خیر پیداکړي یو اوزموږ په غاړه یی ددعوت لویه زمه داري راکړي ده، موږ به ددوی داصلاح اوایمان راوړلو کوشش کو.

بل که موږ په خپله معاشره اوټولنه کی وګورو نوتردوی ډیرزموږخلګ نارینه اوښځی په اخته دی، دپاکستانی اخبارونو داطلاع مطابق یوازی په پاکستان کی دوه ملیونه داسی انسانان په اخته دی چی دوی په په ټولنه کی دلیونیانو په شان ژوند کوی، هرڅه کورکلی ترینه پاته دی، تخمینا دورځی دیرش زره کیلو یوازی هیروین استعمالیږي، چرس، افیون، شراب ددی نه علاوه دی، تقریبا یوزر دخرڅلاو اډی سته، ددی څخه موږ دنوری اسلامی نړی اندازه هم په آسانی سره لګولای سو، خاص په افغانستان کی به څومره وی چی هلته کرل کیږي اوجوړیږي، نوموږته لازمه ده چی دخپلو اولادنو اوخپلوانو هم خیال وساتو.

حرام شی کافرته بخښل حرام دی

مخکې موږ داحادیثو په استدلال ثابته کړله چې هرنشه لرونکې شی ته خمر ویل کیږي، نو لکه څرنګه چې په شرابو کې هرډول تصرف کول حرام دی نو همداسې په هرنشه لرونکې شی کې هم هرډول تصرف حرام دی، لکه خوړل، خرڅول، چاته بخښل، لکه څرنګه چی پرکافرانو خرڅیدل حرام دی همدارنګه کافرانوته بخښل هم

۱- سورة الانعام آیت ۱۶۰

حرام دی ځکه په حدیث کې راغلی دی: ۱ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَجُلاً كَانَ يُهْدِي لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ عَامٍ رَاوِيَةً مِنْ خَمْرٍ، فَأَهْدَاهَا إِلَيْهِ عَامًا، وَقَدْ حُرِّمَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهَا قَدْ حُرِّمَتْ»، فَقَالَ الرَّجُلُ :أَفَلاَ أَبِيعُهَا؟ فَقَالَ: «إِنَّ الَّذِي حَرَّمَ شُرْبَهَا حَرَّمَ بَيْعَهَا» ، قَالَ: أَفَلاَ أُكَارِمُ بِهَا الْيَهُودَ؟ قَالَ: «إِنَّ الَّذِي حَرَّمَهَا حَرَّمَ أَنْ يُكَارَمَ بِهَا الْيَهُودُ»، قَالَ :فَكَيْفَ أَصْنَعُ بِهَا؟، قَالَ: «شُنَّهَا فِي الْبَطْحَاءِ«. (۱)

ترجمة: دابو هريرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې یو سړی به هرکال رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دشرابو تحفة ورکوله نودفتح مکې په کال یې هم تحفة ورکړله اودغه وخت شراب حرام کړل سوی وه، نونبی علیه السلام ورته وویل: بیشکه شراب حرام کړل سوی دی، نو دغه سړی ورته وویل ایا خرڅ یې کړم؟ نبی علیه السلام ورته وویل بیشکه دکوم شی چې چیښل حرام وی دهغه خرڅول هم حرام دی، دغه سړی ورته وویل ایا پدغه سره دیهودانو اکرام کولای سم؟ نبی علیه السلام ورته وویل بیشکه کوم شی چې حرام وی نو په هغه باندې دیهودو اکرام کول هم حرام دی، نو دغه سړی ورته وویل څه په وکړم؟ نبی علیه السلام ورته وویل چې په دغه شیله کې توی کړه.

په دغه حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم په صراحت سره حکم کړی دی چې دشرابو چیښل، خرڅول، اوچاته په تحفه کې ورکول ټوله حرام اوناجایز دی، نو معلومه سوله چې هیڅ نوع نفع پراخستل جایز نه دی،نولکه څرنګه چې دشرابوحکم دی همداسې دنورو منشیاتو حکم دی، ځکه دټولو منشیاتو حرام والی دشرابو دحرام والی په دلائلو ثابت دی، که څه هم دغه موجوده منشیات په هغه وخت کې نه وه، خوداچې ددوی اودشرابو علت دحرام والی یودی چې هغه نشه ده، یاداچې دخمر لفظ اومعنی عامه ده ټول نشه لرونکی شیان ځنی مراد دی.

۱- مسند الحمیدي ج۲ص ۲۲۹

په حرام شي
علاج کول حرام دي

دلته یوه مهمه مسئله داده چي دمنطقي څه علماء عامو خلګوته داسې تبلیغ کوي اووايي چې دافيون کښت اوتجارت جايز دي ځکه ددوي څخه دواء جوړيږي اويادداء لپاره استعماليږي.

دلته بايد ووايوچې دمځکني تول تحقيق څخه ثابته سوله چي افيون حرام دي ځکه نشه لري اوهرشي چي نشه لري هغه خمر دي اوخمر حرام دي، بل داچي داغه علماء دامني چي افيون نشه لري خودحلال والي دپاره دغه دليل وايي چې دواء ځني جوړيږي نوحلال اومباح دي، خو دوي ته دابايد واضح سي چې په حرام باندې علاج کول هم حرام دي، ځکه په دي هکله دنبي کريم صلى الله عليه وسلم حديثونه اود فقهاؤ ډير قولونه راغلي دي چې په حرام شي علاج کول حرام دي چې څه په لاندي ډول دي: ١- عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ، وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ». (١)

ترجمة: دابودرداء رضى الله تعالى عنه څخه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بيشكه الله تعالى مرض اودواء نازل کړی دی، خودهر مرض لپاره يې دوا راستولې ده، نو تاسو دواء کوی خوتاسو په حرامو دواء مکوی.

په بل حديث کې فرمايي:٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّوَاءِ الخَبِيثِ»: يَعْنِي السُّمَّ. (٢)

ترجمة :ابو هريرة رضى الله تعالى عنه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى يامنع کړی ده دخبيث اوحرام دواء څخه، يعني دزهرو څخه.

دلته دخبيث څخه مراد حرام دي، ځکه دحلال نه وروسته حرام دي بل شي په

١- سنن ابي داود كتاب الطب

٢- رواه سنن الترمذي كتاب الطب

منځ کې نسته ځکه دمتشابهاتو څخه هم ځان ساتنه لازم ده نوځکه هغه هم په حرام کی حسابل کیږی، په دی هکله په یو اثرکی راغلی دی: عَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، عَنِ البَاذَقِ فَقَالَ: سَبَقَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ البَاذَقَ: «فَمَا أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ» قَالَ: الشَّرَابُ الحَلاَلُ الطَّيِّبُ، قَالَ: «لَيْسَ بَعْدَ الحَلاَلِ الطَّيِّبِ إِلاَّ الحَرَامُ الخَبِيثُ». (۱)

ترجمة: ابوالجویریة وایی مادابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه دباذق (باذق دانګورو هغه شیره ده چې جوش کړل سی اودنشی حالت ته ورسیږی) په باره کې پوښتنه وکړله، نوده راته وویل: چې محمد صلی الله علیه وسلم دباذق تر پیدا کیدلو دمخه ددنیا څخه رخصت سو، نوده وویل هرشی چې نشه لری هغه حرام دی، ابوجویریة وایی ماورته وویل: چې باذق یعنی دانګورو شیره خوحلاله اوپاکه ده، ده راته وویل: چې انګور خو حلال اوپاک دی خوکله چې شراب ځنی جوړه سوله نوحرام او خبیث سوله، ځکه دحلال اوطیب څخه وروسته نسته مګر حرام اوخبیث دی.

۳- وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ، فِي السَّكَرِ: «إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَجْعَلْ شِفَاءَكُمْ فِيمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ». (۲)

ترجمة: ابن مسعود رضی الله تعالی عنه دسکر په باره کې وویل: بیشکه الله تعالی ستاسو شفاء په هغه شی کې نه ده ایښی کوم شی چې پرتاسو حرام کړی دی.

(سکر: دخرماشیره ده چې جوش کړل سی اونشه پیداکړی نوحرام سی).

۴- عَنْ طَارِقَ بْنَ سُوَيْدٍ الْجُعْفِيَّ، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ، فَنَهَاهُ أَوْ كَرِهَ أَنْ يَصْنَعَهَا، فَقَالَ: إِنَّمَا أَصْنَعُهَا لِلدَّوَاءِ، فَقَالَ: «إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ، وَلَكِنَّهُ دَاءٌ». (۳)

ترجمة: طارق بن سوید الجعفی دنبی صلی الله علیه وسلم څخه دشرابو په باره کې پو ښتنه وکړله، نوهغه دی ځنی منع کړی اویایی بد وبلل چې جوړ یی کړی، نوده

۱- رواه صحیح البخاری کتاب الأشربة
۲- صحیح البخاری کتاب الأشربة
۳- رواه مسلم فی صحیحه کتاب الأشربة

ورته وويل بيشكه زه دغه ددواء لپاره جوړه وم، نوعليه الصلوة والسلام ورته وويل چې دغه دوا نه ده بلکې داء يعنى مرض دی.

٥- عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ قَالَ: ذَكَرَ طَبِيبٌ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَوَاءً، وَذَكَرَ الضُّفْدَعَ يُجْعَلُ فِيهِ فَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ الضُّفْدَعِ. (١)

ترجمة: عبدالرحمن بن عثمان وايي درسول الله صلى الله عليه وسلم په مخکې يوطبيب د دواء ذکر وکړی اوبيايي ذکر وکړی چې په دغه دواء کې چنګښه استعماليږی، نورسول الله صلى الله عليه وسلم دی دچنګښی دوژلو څخه منع کړی.

ددی حديث څخه دامعلومه سوله چې چنګښه حرام حيوان دی بياهم ددواء لپاره يې وژل جائز نه دی.

٦- عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ عَائِشَةَ، كَانَتْ تَقُولُ: «مَنْ تَدَاوَى بِالْخَمْرِ فَلاَ شَفَاهُ اللَّهُ». (٢)

ترجمة : دزهری څخه روايت دی چې عائشة رضی الله تعالى عنها به ويل: څوک چې په شرابو علاج ياتداوی کوی الله تعالى هغه ته شفاء نه ورکوی.

٧- نَافِع يَقُولُ: " كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا دَعَا طَبِيبًا يُعَالِجُ بَعْضَ أَهْلِهِ اشْتَرَطَ عَلَيْهِ، أَنْ لاَ يُدَاوِيَ بِشَيْءٍ مِمَّا حَرَّمَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ". (٣)

ترجمة: نافع روايت کوی چې ابن عمر رضی الله تعالى عنهما چې به کله دخپلی کورنی دڅه ناروغانو دعلاج دپاره طبيب راوغوښتی نوپرهغه بی شرط کړل چې په هغه شی به علاج نه کوی چې الله عزوجل حرام کړی دی.

دپورتنيوحديثونواوآثارودعموم په استدلال دڅلورومذهبونوامامان، فقهاء او عالمان دليل وايی چې په حرامو شيانو سره علاج کول حرام دی.

دفقهاؤ اقوال څه په لاندی ډول دی: ١- قال أئمة المذاهب الاربعة: يحرم على

١- رواه امام احمد بن حنبل فی مسنده ٢- المصنف لابن ابی شيبة جلد ٥ ص ٣٨

٣- السنن الكبری للبيهقی ج ١٠ ص ٩

الراجح الانتفاع بالخمروسائرالمسكرات للمداواة وغيرها، لقوله عليه السلام ((ان الله لم يجعل شفاءكم فيما حرم عليكم). (۱)

ترجمة: دځلورو مذاهبو امامانو ويلي دي چې راجح قول دادی چې په شرابو اوټولو نشه لرونکو شيانو باندې دعلاج اودواء دپاره نفع اخستل حرامه ده، ځکه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه الله تعالی ستاسو شفاء په هغه شی کې نه ده ايښی چې پرتاسويې حرام کړی وی.

۲- مسالة: وأما تداوى فالمشهور من المذهب أنه لايحل ذالک لان التداوى لايتيقن البرء به، فلم يجوز أن يستعمل المحظور فيه. (۲)

ترجمة: مسئلة ددواء په باره کې دمذهب مشهور قول دادی چې دغه جايز نه دی، ځکه چې په دواء سره جوړيدل يقينی نه دی، نوددغه دپاره دحرام اوممنوع استعمال جايزنه دی.

په حراموباندې تداوی اوعلاج کول لکه څرنګه چې شرعا جائزنه ده همدا رنګه دعقل دنظره هم جائزنه دی، ځکه الله تعالی چې پردغه امت کوم شيان حرام کړی دی يادنجاست دوجهی اويا دضرردوجهی چې انسان ته په جسم،نسل، مال، عقل اودين کې ضررکوی، اوپه اسلام کې دضرر څخه ځان ساتنه ترهرڅه دمخه ده.

بل داکه نشه لرونکې شيان ددواء اوعلاج دپاره مباح سی نوهغه ددی باعث ګرځی چې انسان ورسره عادی سی اوبيادخوند اولذت دپاره هم استعمالوی، ځکه ددی لړبياډيروته دعوت ورکوی خاص بياپه داسې حال کې چې انسان ته دامعلومه سی چې دغه زماعلاج او وماته ګټه رسوی،اوپه شريعت کې ډيرداسې سته چې يوشی حرام وی نودهغه دواعی اوبلونکې هم حرام وی لکه هغه څه چې زناته بلنه ورکوی نوهغه هم حرام دی لکه دنامحرم ښځی سره يوازی خلوت کول،ورته کتل،

۱- الفقه الاسلامی وأدلته جلد ۳ ص۵۲۲ -- ۲- المنتقى شرح موطأ امام مالک ج ۴ ص ۳۵۳

ساتيرى ورسره كول، مچه ځنى اخستل اوداسې نور.

اوبل داچى نورحرام كه دضرورت په حال کې وخوړل سى نه په عادت کيږي، دنشى شيان كه يوځل دضرورت دپاره وخوړل سى نودهغه لړوډيروته بلنه وركوى اوپه عادت كيږى.

اوبل داچې دنوروحرامو خوړل پردماغ اوعقل تاثيرنه كوى، اودنشى شيان ډير ژرپردماغ اوعقل تاثيركوى، نوكه ديوه مرض دپاره علاج سى خودعقل اودماغ دپاره ضرردى، او دخرابولو باعث دى اودغه داسې ضرردى چې علاج يى كول ډير مشكل نه بلكې ناممكن دى.

اوبل داچې مريض اوناروغ چى په كوم شى علاج كوى نو داسې يقين به كوى او عقيده به لرى چې په دغه شى کې شفاء سته اوزه په جوړيږم، پرحرام شى دشفاء عقيده اويقين كول نه يوازى داچى جائز نه دى بلكى گناه ده، ځكه مخكې موپه حديث کې ولوستل چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمايى: الله تعالى په حرامو کې شفاء نه دايښى.

څه علماء په حرامو
علاج كول جايز بولى

څه علماء وايى: كه څه هم افيون نشه لرى اوحرام دى خو دضرورت دپاره د حرامو خوړل جايز او مباح دى، نوځكه دعلاج اودواء دپاره دافيون خوړل، كرل او تجارت كول مباح اوجايزدى، ځكه دوى مرض اوناروغى هم دهغه ضرورت څخه بولى دكوم دپاره چې دحرامو خوړل جايزدى اودوى په دغه آيت سره دليل وايى:
إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ.(۱)

ترجمة: الله تعالى فرمايي: ماپرتاسو حرام كړي دي، مرداره، دښارګ وينه ، دخنزير غوښې اوهغه مذبوحه چې دحلاليدلو په وخت كې دالله دنوم نه بغير دبل چا نوم پر ويل سوى وى اوياهيڅ نه وي پرويلى، نوهغه څوک چې ددغه حرام خوړلوته ضرورت پيداكړي، په داسې حال كې چې دی ظلم كونكې نه وي اوتر اندازه دكفاف تجاوز كونكې نه وى، نو پر ده باندې ګناه نسته. بيشكه الله بخښونكې اورحم كونكې دی.

تفسير: يعنى دغه پورته ذكرسوي شيان حرام دي خوكه څوک دلوږې دوجهى مرګ ته نژدې سوى وى، اودناچارى په وخت كې وخورى، په داسې انسان باندې ممانعت نسته، خوپه دی شرط چې ترحد به تجاوز نه كوى، يعنى دومره به خورى چې صرف دمرګ څخه راوګرځي داسې نه چې ګېډه په ډكه كړي.

دپورتني آيت څخه ددوى داستدلال وجه (فَمَنِ اضْطُرَّ) دلفظ څخه دى، هغه داچې په دغه آيت كې داضطراريا ضرورت حالت مراد دى، اوددوى په نزد ضرورت عام دى علاج اوغيرعلاج دواړو ته شامل دى، نو لكه څرنګه چې لوږه اوتنده يو ضرورت دى اودهغوى ددفعه كولو دپاره دحرامو خوړل جايزدى همدا رنګه ناروغى هم يوضرورت دى ددغه ضرورت دپاره هم دحرامو خوړل او علاج په كول جائز دى.

ضرورت څه ته وايي؟

ددوى ترجواب دمخه به دضرورت تعريف وكړو چې ضرورت څه ته وايي؟ هي الخوف على النفس من الهلاک علما اى قطعيا اوظنا،فلا يشترط ان يصبرحتى يشرف على الموت. (۲)

ترجمة: ضرورت دادى چې انسان دنفس پرهلاک وبيريږي په علم يقين ياپه ګمان سره، خودا شرط نه دى چې ددى انتظار وكړي چې دى مرګ ته نژدې سى.

۱- سورة البقرة آيت ۱۷۳ ۲- فقه اسلامى وأدلته جلد ۳ ص ۵۱۵

اول جواب: دضرورت ترتعریف وروسته څه علماء ددوی په جواب کې وايي: ضرورت عام نه دی چې خوړل، چيښل اومرض ته شامل سی، ځکه لوږه، تنده اومرض فرق سره لري ، اول دا چې الله تعالی خپل حیوانی مخلوق خوړلو اوغذاته محتاج ګرځولی دی چې بيله خوړلو اوغذا څخه عادة تر ډيره وخته ژوندی نسی پاته کيدلای، د لوږې اوتندی ضرورت بيله څه خوړلو يا چيښلو نسی دفع کيدلای، نوځکه الله عزوجل دخپل رحمت پربنياد وخپلو بندګانو ته لار ښودنه وکړله که څه هم ماڅه شيان پرتاسوحرام کړي دی خوبياهم د خپل نفس دساتلو په اندازه اودمرګ څخه دخلاصون لپاره تاسوته دڅوګولوحرام خوړل نه يوازی داچې جائز دی بلکه فقهاؤ واجب بللی دی، که يې نه وخوری اومړسی هغه ګناه کار دی.

بل فرق دادی چې دلوږې اوتندی درفع کولو دپاره دضرورت په اندازه دحرام خوړل واجب دی که يې نه وخوری ګناه کاره دی ځکه دواجب پريښودل ګناه ده، خودداوء خوړل واجب نه دی نودداوء دپاره حرام خوړل واجب نه دی لکه چې وايي:

وحکمها فی المذاهب الاربعة وجوب الاكل من المحرم ، بمقدار مايسد رمقه ای بقية حياته، ويامن معه الموت، لقوله تعالى (فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ) وقوله تعالى (وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا) وقوله تعالى (وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ)

فان ترک الاکل والشرب حتى هلک فقد عصى،لان فيه القاء النفس الى التهلكة، وهو منهى عنه فی محکم التنزيل، ولانه قادر على احياء نفسه بما احله الله له، فلزمه، كما لو كان معه طعام حلال.

بخلاف من امتنع عن التداوی حتى مات، لايجب عليه، ولايعصى بالترک، اذ لايتيقن ان الدواء يشفيه. (۱)

۱- فقه اسلامی وأدلته جلد ۳ ص ۵۱۵

ترجمة: په څلورو مذهبونوکې داسې حکم سوی دی چې پرده باندې واجب دی چې دحرام شخه دومره وخوری چې دده ژوند په راوګرځي اودمرګ څخه په امن سی، ځکه په قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي: (فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلاَ إِثْمَ عَلَيْهِ) نوهغه څوک چې ددغه حرام خوړلوته ضرورت پيداکړی، په داسې حال کې چې دی ظلم کونکې نه وی او تراندازه دکفاف تجاوز کونکې نه وی، نوپرده باندې ګناه نسته. اوپه بل آيت کې فرمايي: تاسو خپل ځانونه په خپلو لاسونو دهلاک وځای ته مه اچوی. په بل آيت کې فرمايي: تاسو خپل ځانونه مه وژنی.

څوک چې خوړل اوڅيښل ترهغو پرېږدی چې مړسی نوهغه ګناه کاره دی ځکه ده په دغه عمل سره خپل ځان وهلاک ته واچوی، اوخپل ځان دهلاک ځای ته اچول دالله تعالی په نازل سوی کتاب قرآن کريم کې ممنوع دی،بل داچې دی دالله تعالی په حلال شی سره دخپل ځان پرساتلو قادردی، لکه داچې دده سره حلال خواړه وی اودی يې نه خوری اومړسی.

خوددواء دخوړلوحکم ددی څخه خلاف دی، يعنی که څوک ددواء خوړلو څخه منع وکړی ترڅو هلاک سی نودی دنه خوړلو په وجه ګناه کاره نه دی، اونه پرده باندې ددواء خوړل واجب دی، ځکه په دواء کې شفاء يقينی نه ده.

دپورتنی آيت په تفسيرکې ابن کثير مفسر ليکي:قال ابن كثير: اذاوجد المضطر ميتة وطعام الغير بحيث لاقطع فيه ولا اذى، فانه لايحل له اكل الميتة ، بل ياكل طعام الغير بغير خلاف .(۱)

ترجمة: امام ابن کثير وايي: که دضرورت لرونکې سره مرداره او ورسره دبل چا خواړه هم وه چې دهغه په خوړلو کې غلا اوازار نه وو، نوده ته دمرداری خوړل جائز نه دی بلکی دی به دغه دبل خواړه خوری اوپه دی کې هيڅ خلاف نسته.

۱- تفسير ابن كثير جلد ۱ ص۲۰۵

مطلب داکه دبل حلال مال ورته پیداکیدی نوبیابه هم حرام یامردار شی نه خوری.

په بل ځای کې دخوړلو اوچیښلو حکم فرض بلل سوی دی: الاکل للغذاء والشرب للعطش ولومن حرام او میتة اومال غیره وان ضمنه فرض یثاب علیه، بحکم الحدیث، ولکن مقدار مایدفع الانسان الهلاک عن نفسه، وماجورعلیه وهومقدار مایتمکن به من الصلوة قائما ومن صومه. (۱)

ترجمة: دغذاء دپاره خوړل اودتندی دپاره چیښل فرض دی، ثواب ورکول کیږي، دحدیث په حکم، که څه هم دحرامو ،مرداری اودبل دمال څخه وی، اوکه څه هم ضمان ولري،خوپه هغه اندازه چې دهلاک څخه خپل ځان په ساتی، اوپردغه ده ته ثواب ورکول کیږي، اندازه داده چې انسان په ولاړه لمونځ کولای سي اوروژه نیولای سي.

خوددواء استعمال اوخوړل واجب نه دی، که څوک دواء نه وخوری اومړسی هغه ګناه کاره نه دی، بلکی ددواء پرنه خوړلو اوپرمرض صبرکولو کې ثواب ستره څکه په حدیث کې راغلی دی: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَزْهَرَ،أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّمَا مَثَلُ الْمُؤْمِنِ حِينَ يُصِيبُهُ الْوَعْكُ أَوِ الْحُمَّى كَمَثَلِ حَدِيدَةٍ تُدْخَلُ النَّارَ فَيَذْهَبُ خَبَثُهَا وَيَبْقَى طَيِّبُهَا. (۲)

ترجمة: دعبدالرحمن بن ازهر څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دهغه مومن مثال چې په تکلیف یاتبه اخته سی لکه دهغه اوسپنی چې اورته واچول سی نوهغه زنګ یی ولاړسی اوپاک اوښه یی پاته سی.

بل داچې دمرض یاناروغی شفاء بیله حرامو په نورو پاکو اوحلالوشیانو سره هم کیدایسی څکه په حدیث کې راځی: ۱- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ

۱- الدرالمختار شرح تنویر الأبصار ص ۶۵۰ -- ۲- السنن الکبری للبیهقی ج۳ ص ۵۲٤

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَنْزَلَ اللَّهُ دَاءً إِلاَّ أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً». (١)

ترجمة: ابوهريرة رضی الله تعالی عنه روايت کوی چې نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالی هيڅ داسې ناروغی نه ده نازله کړی مگرنه دهغه دپاره يې شفاء هم نازله کړی ده.

٢- عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا أَنْزَلَ اللهُ مِنْ دَاءٍ إِلاَّ وَأَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً, عَلِمَهُ مَنْ عَلِمَهُ, وَجَهِلَهُ مَنْ جَهِلَهُ. (٢)

ترجمة: دابن مسعود رضی الله تعالی عنهما څخه روايت دی اودی دغه حديث نبی صلی الله عليه وسلم ته رسوی: چی الله تعالی هيڅ داسې ناروغی يا مرض نه دی رالیږلی مگردهغه دپاره يې شفاء هم رالیږلی ده، چاچې زده کړه هغه ته معلومه ده اوچاچې نکړه زده هغه ته نه ده معلومه.

په بل حديث کې راغلی دی:٣- عَنِ اَبِی هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:فِي الحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلاَّ السَّامَ.قَالَ ابْنُ شِهَابٍ:وَالسَّامُ المَوْتُ.(٣)

ترجمة: ابو هريرة رضی الله تعالی عنه روايت کوی چې ما درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويلی: په توره دانه کې دهرمرض شفاء سته بيله مرگه څخه، ابن شهاب وايي: سام مرگ ته وايي.

اوبل دانه ده معلومه چې دغه نا روغی به په دغه حرامه دواء سره ښه کيږی، څکه په صحراء او کليو کې ډير ناروغان بيله دواء څخه په هغه جسمانی طاقت سره جوړ سوی دی کوم چې الله تعالی د هرانسان په وجود کې ايښی دی.

څه کسان الله تعالی دقرآنی آيتونوپه دم سره جوړ کړی دی. څکه په قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي: وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ.(٤)

١- صحيح البخاری کتاب الطب -- ٢- السنن الکبری للبيهقی ج ٩ ص ٥٧٧ واخرجه ابن ماجة

٣- رواه صحيح البخاری کتاب الطب -- ٤- سورة الأسراء آيت ٨٢

ترجمة: اونازل کوو موږ پرتاباندې دقرآن څخه هغه چې شفاء ده دظاهری اوبا طنی امراضو لپاره اودمومنانو لپاره رحمت دی.

لکه چې په حدیث کې راغلی دی: عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ». (۱)

ترجمة : عبد الملک ابن عمر رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په الحمد لله یاسورة فاتحة کې دهر مرض شفاء ده.

په دم سره شفاء په عملی ډول ثابته سوی ده لکه داچې په حدیث کې راغلی دی: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَنَزَلْنَا بِقَوْمٍ، فَسَأَلْنَاهُمُ القِرَى فَلَمْ يَقْرُونَا، فَلُدِغَ سَيِّدُهُمْ فَأَتَوْنَا فَقَالُوا: هَلْ فِيكُمْ مَنْ يَرْقِي مِنَ العَقْرَبِ؟ قُلْتُ: نَعَمْ أَنَا، وَلَكِنْ لاَ أَرْقِيهِ حَتَّى تُعْطُونَا غَنَمًا، قَالُوا: فَإِنَّا نُعْطِيكُمْ ثَلاَثِينَ شَاةً، فَقَبِلْنَا فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ: الحَمْدُ لِلَّهِ سَبْعَ مَرَّاتٍ، فَبَرَأَ وَقَبَضْنَا الغَنَمَ، قَالَ: فَعَرَضَ فِي أَنْفُسِنَا مِنْهَا شَيْءٌ فَقُلْنَا: لاَ تَعْجَلُوا حَتَّى تَأْتُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَيْهِ ذَكَرْتُ لَهُ الَّذِي صَنَعْتُ، قَالَ: «وَمَا عَلِمْتَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ؟ اقْبِضُوا الغَنَمَ وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ بِسَهْمٍ». (۲)

ترجمة:دابی سعید خدری رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم په یولښکرکې ولیږلونوموږ یوقوم ته راغلواودهغوی څخه موږ دمیلمستیاغوښتنه وکړله خوهغوی زموږ دمهمانداری څخه انکاروکړی، نو ددوی سردارلړم وچچی، نودوی موږ ته راغله اووی ویل په تاسوکې داسې څوک سته چې دلړم دم کوی؟ ماورته وویل زه یم خوزه ترهغو دم نه کوم ترڅو تاسو موږ ته پسونه رانکړی، ده وویل زه دیرش پوسونه درکوم، نوموږ قبوله کړله، نوما پر ده باندې اوه واره الحمد لله وویل نوهغه جوړسواوموږ ددوی څخه پوسونه واخستله بیازموږ په زړونو کې څه راګرځیدل نوموږ وویل تلواره به نکوو، ترڅو چې درسول

۱- رواه سنن دارمی کتاب فضائل القرآن
۲- رواه سنن الترمذی کتاب الطب

الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه کوو، کله چې موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو،نوما ټوله قصه ورته بیان کړله، نو ده راته وویل تاته څنګه معلومه سوله چې په سورة فاتحه سره دم کول کیږي؟ پسونه واخلی اوما ته هم حصه راکړی.

بل داچې په دعا، ښه توکل اوداسې نورو حلالو اسبابونو باندې هم بیله دواء مریضان جوړ سوی دی لکه دایوب علیه السلام صبر، چې هیڅ ډول سبب یې استعمال نکړی اوالله تعالی بیله دواء اوعلاج څخه جوړ کړی اوپه حدیث کې هم راغلی دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: " إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي الْمُؤْمِنَ فَلَمْ يَشْكُنِي إِلَى عُوَّادِهِ أَطْلَقْتُهُ مِنْ أُسَارِي، ثُمَّ أَبْدَلْتُهُ لَحْمًا خَيْرًا مِنْ لَحْمِهِ، وَدَمًا خَيْرًا مِنْ دَمِهِ، ثُمَّ يَسْتَأْنِفُ الْعَمَلَ". (۱)

ترجمة: دابوهريرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی وایي: کله چې زه خپل مومن بنده په تکلیف مبتلاکړم اودی وخپل عیادت کونکوته زماشکایت ونکړی نودی زه دخپل بند څخه آزاد کړم اوبیادده دغوښو په بدل کې خیرغوښی ورکړم، اودده دوینوپه بدل کې خیر وینی ورکړم اوبیادی خپل عمل اوکار دسره شروع کړی.

یعنی هغه کسانوته زماشکایت ونکړی کوم چې دده پوښتنی ته راځی، نو کومی غوښی چې دناروغی په وجه کمی سوی وی ترهغوبه خیرغوښی ورکړم، او کومه وینه چه دناروغی په وجه کمه سوی وی ترهغه به ښه وینه ورکړم.

په بل حدیث کې راغلی دی: عَنْ جَابِرٍ قَالَ: جَاءَتِ الْحُمَّى تَسْتَأْذِنُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: " مَنْ أَنْتِ " قَالَتْ: الْحُمَّى، قَالَ: " أَتَعْرِفِينَ أَهْلَ قُبَاءٍ؟ " قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: " اذْهَبِي إِلَيْهِمْ " فَذَهَبَتْ إِلَيْهِمْ فَلَقُوا مِنْهَا شِدَّةً، فَشَكَوْا ذَلِكَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: " إِنْ شِئْتُمْ دَعَوْتُ اللهَ فَكَشَفَهَا عَنْكُمْ، وَإِنْ شِئْتُمْ كَانَتْ كَفَّارَةً وَطَهُورًا "

۱- سنن الکبری للبیهقی ج ۳ ص ۵۲۵

فَقَالُوا: بَلْ تَكُونُ كَفَّارَةً وَطَهُورًا ". (۱)

ترجمة: دجابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې تبه راغله دنبی صلی الله علیه وسلم څخه یی اجازه غوښتله، نبی علیه السلام ورته وویل ته څوک یی؟ هغی ورته وویل تبه یم، نبی علیه السلام ورته وویل ایا ته دقباء خلک پیژنی؟ هغی ورته وویل هو ،ده ورته وویل هغوی ته ولاړه سه، نو داهغوی ته ولاړله اوهغوی ددی څخه ډیر په تکلیف سوله نوددی څخه یی نبی صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړی، نوده ورته وویل که ستاسو خوښه وی نوزه به الله تعالی ته خواست وکړم ستاسو څخه به یی لیری کړی اوکه ستاسوخوښه وی نودابه ستاسو دپاره کفاره اوپاکونکې وی، هغوی وویل بلکې کفاره أوپاکونکې دی وی.

په صدقة اوخیرات سره هم علاج کیږی: عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دَاوُوا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ، وَحَصِّنُوا أَمْوَالَكُمْ بِالزَّكَاةِ، وَأَعِدُّوا لِلْبَلَاءِ الدُّعَاءَ.(۲)

ترجمة: دعبدالله رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په صدقه اوخیرات سره دخپلو مریضانو دواء اوعلاج وکړی، او خپل مالونه په زکات سره پاک کړی، اوبلاوی په دعاء سره لیری کړی.

په حجامت اووینو کښلو سره علاج کول کیږی څکه په حدیث کی راغلی دی:

عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنِ احْتَجَمَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ لِسَبْعَ عَشْرَةَ مِنَ الشَّهْرِ كَانَ دَوَاءً لِدَاءِ السَّنَةِ ". (۳)

ترجمة:معقل دیسار زوی روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې دسه شنبی په ورځ دمیاشتی په اولسم تاریخ حجامت یاوینی وکښلی نو دا دده دپاره دټوله کال دواء ده.

۱- سنن الکبری للبیهقی ج ۳ ص ۵۲۵ -- ۲- سنن الکبری للبیهقی ج ۳ ص ۵۳۶

۳- السنن الکبری للبیهقی ج ۹ ص ۵۷۲

په بل حديث کې راغلی دی: عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ قَاعِدًا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَدَعَا الْحَجَّامَ فَعَلَّقَ عَلَيْهِ مَحَاجِمَ قُرُونٍ ثُمَّ شَرَطَهُ بِشَفْرَةٍ, فَدَخَلَ عَلَيْهِ أَعْرَابِيٌّ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا هَذَا يَقْطَعُ جِلْدَكَ؟ قَالَ: " هَذَا الْحَجْمُ ". قَالَ: وَمَا الْحَجْمُ؟ قَالَ: مِنْ خَيْرِ دَوَاءٍ يَتَدَاوَى بِهِ النَّاسُ. (۱)

ترجمة: سمرة بن جندب روايت کوی چې زه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وم، او نبی علیه السلام وینی کښونکې راوغوښتلی اوهغه پرده باندې دوینی کښلو ښکرونه وتړل، اودی یی په تیغ وهی، په دغه وخت کې دفزاره دقبیلی یوصحرایی سړی راغلی، نو وی ویل ای دالله رسوله دغه څه دی چې ستاپوستوکې پریکوی؟ نبی علیه السلام ورته وویل دغه حجم دی، هغه ورته وویل حجم څه شی دی؟ نبی علیه السلام ورته وویل: دغه خیر اوغوره دواء ده چې خلګ په دغه سره دواء اوعلاج کوی.

دغوا په شیدو سره علاج کول: عَنْ مُلَيْكَةَ بِنْتِ عَمْرٍو الْجُعْفِيَّةِ، أَنَّهَا قَالَتْ لَهَا: عَلَيْكَ بِسَمْنِ الْبَقَرِ مِنَ الذُّبْحَةِ أَوْمِنَ الْقَرْحَتَيْنِ, فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ أَلْبَانَهَا أَوْ لَبَنَهَا شِفَاءٌ، وَسَمْنَهَا دَوَاءٌ، وَلَحْمَهَا أَوْ لُحُومَهَا دَاءٌ. (۲)

ترجمة: مليکه بنت عمرجعفی روايت کوی چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: چې دغوا شیدی شفاء ده اوغوړی یی دواء ده اوغوښی مرض دی.

دغه پورته ذکرسوی ټول حدیثونه دلالت کوی چې ناروغی یامرض داسې ضرورت نه دی لکه لوږه یاتنده، ځکه دناروغی علاج په ډیرو حلالو اومباح شیانو ممکن دی ترڅوچې حلال اومباح شیان وی نودحرامو خوړل جائز نه دی، اونه په حرامو کې شفاء اوعلاج یقینی دی لکه په خوړلو اوچیښلو کې، ځکه الله عزوجل

۱- السنن الکبری للبیقی ج ۹ ص ۵۷۰ ۲- السنن الکبری للبیهقی ج ۹ ص ۵۸۰

هر ژوندی شی (حیوان) داسې جوړ کړی دی چې بیله خوړلو اوچیښلو ډیر وخت ژوندی نسی پاته کیدلای، که خوړل یا چیښل ونه کړی عادة هغه پسله څه وخته مړکیږي، داسې کوم مثال نسته چې انسان په دم، صبر، حجامت، دعاء اوداسې نورو مباحو شیانو باندې موړ یا اوبه سوی وی، اوکه وی نوبیاهم دحرام خوړل یا چیښل ورته جائز نه دی، نومعلومه سوله چې په آیت کې دضرورت څخه همدغه دخوړلواوچیښلو خاص ضرورت مراد دی عام ضرورت مراد نه دی چې ناروغی اوعلاج هم ترلاندی سی، نو ځکه دعلاج اودواء دپاره دحرامو خوړل یاعلاج په کول جائزنه دی.

دوهم جواب: په دواء سره علاج یقینی نه دی بلکه غالب گمان هم نه دی چې په دغه دواء سره دغه مرض خامخا جوړیږي، ځکه که داسې وای نو هیڅکله به څوک نه وای مړسوی. اوکوم چې خواړه دی دلوږې دپاره یقینی ده چې دی په دغه مړیږي اودمرگه څخه تر خپل معلوم وخت پوری را گرځی ځکه دالله تعالی دخپلو بندگانو سره دغه سنت او طریقه ده.

دریم جواب: ډیر ځله دیوه مرض لپاره ډیری دواوی وی چې په هغه کې حلالی هم وی نو تر څوچې حلالی وی دحرامو خوړل جائز نه دی، اوداکیداي نسی چې په حلالی دی علاج نه وسی اوپه حرامو دی علاج وسی، ځکه مخکې تیر سوله چې (ان الله لم يجعل شفاءكم فيما حرم عليكم) بیشکه الله تعالی ستاسو شفاء په هغه شی کې نه ده ایښی چې پرتاسو یې حرام کړی دی ، خودلوږې دفاع په هر قسم خوړو کیدای سی حرام وی که حلال.

ددوی دوهم دلیل: قال الحنفية: يجوزالتداوى بالمحرم إن علم يقينا أن فيه شفاء، ولايقوم غيره مقامه، أما بالظن فلا يجوز، وقول الطبيب لايحصل به اليقين، ولايرخص

التداوی بلحم الخنزیر وإن تعین.(۱)

ترجمة: حنفی عالمانو ویلی دی: چې په حرامو سره علاج اوتداوی کول جایز ده، که یقینی معلومه سی، چې په دغه دواءکې شفاء ده، اوبل شی ددی پرځای نسی دریدلای، خو په ګمان باندې جایز نه دی، اودطبیب په قول سره یقین نه حاصلیږی، اودخنزیر په غوښو تداوی کول جایز نه ده که څه هم دامعلومه سی چې په دغه کې علاج سته.

ددغه دلیل اول جواب: که پورتنی عبارت ته په سطحی نظر وګورو نوهم دا څوټکې په ښکاره معلو میږی: اول دامعلومه نه ده چې دغه حنفی عالمان څوک دی اوپه کوم کتاب کې داسې قول کړی دی؟ اوپه کوم دلیل؟ بل داچې دی وایی چې په علم یقین معلوم سی اودطبیب په قول سره علم یقین نه حاصلیږی، نو دا معلومه نه ده چې دچاپه قول سره علم یقین حاصلیږی؟ بل داچې په اول کې وایی په مطلق حرام سره تداوی کول جایز ده، خوپه آخرکې وایی دخنزیر په غوښو سره تداوی کول جایز نه ده که څه هم په یقین معلوم سی، ددغه فرق وجه معلومه نه ده.

دوهم جواب:اول خودغه عبارت اوحکم دهغو ټولوحدیثونو څخه خلاف دی کوم چې مخکې ذکرسوله چې په هغوی کې په ډیرصراحت اووضاحت سره ویل سوی وه چې په حرامو علاج جائز نه دی. اوالله تعالی په هغه شی کې شفاء نه ده ایښی کوم چې الله تعالی حرام کړی دی اوداسې نور، بل داچې دی حکم کوی چې په حرامو علاج کول جایز دی، خوپردغه حکم باندې دځلورو دلائلو څخه هیڅ یو دلیل هم نه دی ویلی اوبیله دلیله یوشی ته حرام یاحلال ویل صحیح نه دی.

ددوی دریم دلیل: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ أُنَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاجْتَوَوْا الْمَدِينَةَ، فَقَالَ: «لَوْ خَرَجْتُمْ إِلَى ذَوْدٍ لَنَا، فَشَرِبْتُمْ مِنْ أَلْبَانِهَا

۱- الهدية العلائية للعلامة الشيخ علاء الدين عابدين. ص ۲۵۱ .

وَأَبْوَالِهَا» فَفَعَلُوا. فَارْتَدُّوا عَنِ الإِسْلَامِ، وَقَتَلُوا رَاعِيَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَاسْتَاقُوا ذَوْدَهُ، فَبَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ فِي طَلَبِهِمْ، فَجِيءَ بِهِمْ، فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَسَمَرَ أَعْيُنَهُمْ وَتَرَكَهُمْ بِالْحَرَّةِ حَتَّى مَاتُوا. (١)

ترجمة: دانس بن مالک رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې څه خلک د عرینة قبیلې څخه درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې مدینې ته راغله، خو دمدینې منورې هواپردوی نه ولګیدل، نورسول الله صلی الله علیه ورته وویل: تاسو زموږ داوښانو ځای ته ولاړ سی اوهلته داوښانوبولې اوشیدې وچیښې، نو دوی همداسې وکړله، کله چې جوړسوله نودوی داسلام څخه مرتد سوله اود رسول الله صلی الله علیه وسلم داوښانو چوپان (څارونکې) یې مړکړی اواوښان یې وتښتول، نونبی علیه السلام په دوی پسې خلګ واستول اوهغوی یې راوستل، نو ددوی لاسونه اوپښې یې ورپرې کړلې، په سترګوکې سیخان تیرکړله اوپرتوده ځمکه یې ترهغو پریښودل چې مړه سوله.

ددې حدیث څخه داستدلال وجه داده: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ددوی دتداوی اوعلاج دپاره داوښانو دبولو تجویزوکړی سره ددې چې بولې حرامې اونجسې دي، نو همدارنګه په حراموهم دضرورت په وخت کې علاج اوتداوی کول جایز دي.

ددې حدیث څخه جواب دادی: چې دغه حدیث دځوحدیثونو سره تصادم او ټکرلری چې په هغوی کې داسې صراحت سوی دی چې په حراموعلاج کول حرام دي: ١- عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللّٰهَ أَنْزَلَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ، وَجَعَلَ لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءً فَتَدَاوَوْا وَلَا تَدَاوَوْا بِحَرَامٍ». (٢)

ترجمة: ابی درداء رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله

١- سنن ابن ماجة کتاب الحدود ٢- سنن ابی داود کتاب الطب

عليه وسلم وفرمايل: بيشكه الله تعالى مرض اودواء نازل كړى دى خودهر مرض لپاره يې دواء راستولى ده، نو تاسو دواء كوى خوتاسو په حرامو سره دواء مه كوى.

٢- وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ، فِي السَّكَرِ:«إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَجْعَلْ شِفَاءَكُمْ فِيمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ».(١)

ترجمة: ابن مسعود رضى الله تعالى عنه دسكر په باره كې وويل: بيشكه الله تعالى ستاسو شفاء په هغه شى كې نه ده ايښى كوم شى چې پرتاسويې حرام كړى دى. (السكر) هو نبيذ التمرفإذا اشتد وغلا أصبح مسكرا فيحرم] سكر: دخرما هغه شيره ده چې جوش اوسخت سى، نشه ولرى اوحرام سى.

٣- عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ وَائِلٍ الْحَضْرَمِيِّ، أَنَّ طَارِقَ بْنَ سُوَيْدٍ الْجُعْفِيَّ، سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ، فَنَهَاهُ أَوْ كَرِهَ أَنْ يَصْنَعَهَا، فَقَالَ: إِنَّمَا أَصْنَعُهَا لِلدَّوَاءِ، فَقَالَ: «إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ، وَلَكِنَّهُ دَاءٌ». (٢)

ترجمة: طارق بن سويد جعفى دنبى صلى الله عليه وسلم څخه دخمرپه باره كې پو ښتنه وكړله، نوهغه دى څنى منع كړى اويايې بد وبلل چې جوړ يې كړى، نوده ورته وويل بيشكه موږ دغه ددواء لپاره جوړه وو، نوعليه السلام ورته وويل : چې دغه دواء نه ده بلكې داء يعنى مرض دى.

٤- عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«تَنَزَّهُوا مِنَ الْبَوْلِ فَإِنَّ عَامَّةَ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنْهُ». (٣)

نودپورتنيوحديثونودتعارض درفع كولودپاره علماء دحديثوداصولو دمخى تطبيق كوى اووايى دعرنيينو حديث دنبى كريم صلى الله عليه وسلم پر خصوصيت حمل كوى اودغه نورحديثونه پرخپل اصل پريږدى، اويا دغه حديثونه ناسخ او دعرنيينو حديث منسوخ دى، ځكه په دواړو په يوه وخت كې عمل كول ممكن نه دى.

١- صحيح البخارى كتاب الأشربة ٢- رواه مسلم فى صحيحه كتاب الأشربة

٣- سنن الدارالقطنى ج ١ص ٢٣١

ددوی څلورم دلیل: دوی وایی په یوحدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: دوریښمو اوسروزرو استعمال زمادامت پرنارینوو حرام دی لکه په دغه حدیث کې: عَنْ أَبِي مُوسَى، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أُحِلَّ الذَّهَبُ وَالْحَرِيرُ لِإِنَاثِ أُمَّتِي، وَحُرِّمَ عَلَى ذُكُورِهَا». (۱)

ترجمة: ابی موسی رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله عزوجل زمادامت دښځودپاره دوریښمو اوسرو زرو استعمال حلال کړی دی، او پر نارینوویی حرام کړی دی.

خوپه بل حدیث کې دعلاج دپاره دوریښمو داستعمال اجازه ورکړل سوی ده:

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: «أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ، وَالزُّبَيْرَ شَكَوَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي القَمْلَ فَأَرْخَصَ لَهُمَا فِي الحَرِيرِ، فَرَأَيْتُهُ عَلَيْهِمَا فِي غَزَاةٍ». (۲)

ترجمة: انس رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې عبدرحمن بن عوف اوزبیر بن عوام نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دسپږو ددرلودلو څخه شکایت وکړ، نوعلیه الصلوة والسلام ودوی دواړوته دوریښمینو جامو داغوستلو اجازت ورکړی اوماپه غزاکې پردوی باندې وریښمینی جامی ولیدلی.

ددغه حدیث څخه داستدلال وجه داده: چې وریښم دنارینه دپاره حرام خوبیا هم ودوی ته دسپږو دعلاج دپاره اجازت ورکول سوله.

ددوی ددغه دلیل جواب داسې ورکول سوی دی: اول خو دوریښمو استعمال داسې مطلق حرام نه دی لکه شراب اوداسې نور ځکه چې وریښم پرنارینه اوښځی دواړوحرام نه دی بلکې د یوه صنف لکه ښځو ته یی استعمال جایز دی.

بل داچې دوریښمو تجارت کول پرمسلمان اوکافر دواړوباندې خرڅول، او کافرته یی تحفه ورکول جایزدی، بل داچې ښځوته هم دزینت دپاره جایز دی نوده

۱- رواه سنن النسائی کتاب الزینة -- ۲- رواه البخاری کتاب الجهاد

علاج اوتداوی حاجت دزینت تر حاجت قوی دی، اوبل داچې وریښم که حرام دی خو نجس نه دی نوځکه دوریښمو اوشرابو ترمنځ ډیر فرق سته نوکه دوریښمو استعمال دتداوی او علاج دپاره جایزسی دومره تضاد اوټکرنلري.

بل داچې دخوړلو اولباس ترمنځ فرق سته، خواړه دلباس څخه مخالف دی، ځکه چې دخوړو تاثیر په بدن کې ځی اودلباس تاثیرپه بدن کې نه ځی، اوخواړه هم دهغه ضرورت دپاره مباح اوجایز دی چې دمرګ څخه ځان په وساتی، نوپه خوړو سره دبدن داخلی ضرورت پوره کیږی اوپه لباس دبدن څخه خارج علاج کول کیږی.

دپورتنی تحقیق خلاصه داسوله چې رب العالمین په قرآن کریم کې وخمرته رجس ویلی دی اورجس په عربی لغت کې دنجس په معنی دی،اوپه همدغه آیت کې الله تعالی داجتناب اوپرهیز امر کړی دی، دغه داجتناب لفظ عام دی،یوازی په خوړلو اوچیښلو کې نه دی، بلکه په ټولو حالتونوکې به وی لکه خرڅول رانول، تداوی اوعلاج اوداسې نور، ځکه فاجتنبوا دامر صیغه ده چې تحریم فایده کوی او دغه تحریم عام دی وهرهغه شی ته شامل دی چې نشه لری، خاص په یوشی یاحالت پوری نه دی، اودغه الله تعالی دشیطان داعمالو څخه بللی دی.

بل داچې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خپلوحدیثونوکې ورته داء ویلی دی نودامعقوله نه ده چې په داء اویامرض سره شفاء حاصله سی، په پورته ذکرسوی یوحدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی چې تاسو دواء کوی خوپه حرامودواء مه کوی، نودغه خبره راجح اوغوره ده چې په حرامو اومنشیاتو لکه افیون اوداسې نورو علاج کول حرام دی، دغه بی دلیله بهانه چې څوک کوی دعلاج اودواء دپاره استعمالیږی دغه ساده بهانه ده هیڅ دلیل اوحقیقت نه لری اونه په دغه باندې افیون اوداسې نور حلال کیدلای سی.

البته ترڅه حده .چی ډاکتران وایی: دواء ځنی جوړیږی، خوهغه داسې دواء

وی چې په هغوی کې دافیون رنګ، بوی اوضررناکه خاصیت یې بدل سوی وی، هغه داچې انسان داسې نشه کړی چې عقل اوماغزه ورخراب کړی، بلکې داسې وی لکه دخمریاشرابو څخه چې سرکه جوړه سی، داچې دخپل ضررمن حالت څخه ووزی لکه نشه بیایی استعمال جائز دی لکه دشرابو دسرکې خوړل. کوم چې زموږ په علاقو اومنطقوکې حالا رواج لری هغه داسې دی چې پرداغه ضررمن حالت باندې خوری، تجارت یې کوی، اوزکاتونه اوخیراتونه پکښې ورکوی داسې کول دپورته ذکرسوی ټولو دلائلو اوتحقیق په استدلال حرام اوناجائز دی

حلال اوحرام

زموږ مسلمانانو دغه عقیده ده چې حلال اوحرام هغه دی چې الله تعالی په خپل کتاب قرآن کریم کې اودهغه رسول صلی الله علیه وسلم په خپلوحدیثونو کې ورته حلال یاحرام ویلی دی، په خپل هوا اوخواهش باندې بیله شرعی دلیله ویوشی ته حلال یا حرام نسو ویلای.

اوداالله تعالی دحکمت تقاضاده چې موږته یې څه شیان حلال کړی اوڅه یې حرام کړی دی، په کومو شیانوکې زموږ مصلحت اوفائده وی هغه یې حلال کړی دی، اوهغه چې زموږ په دین، بدن، عقل، نسل، مال اوداسې نوروکې ضرر وی لکه شرک بت فرستی، شراب، دنشی شیان، زنا، غلا اوداسې نور هغه یې ټول حرام کړی دی، اوالله تعالی دخپل رسول صلی الله علیه وسلم دصفاتو څخه یوصفت داسې بیانوی اوفرمایی: الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ.(۱)

ترجمة: هغه کسان چې دوی دنبی امی ددین متابعت کوی داهغه رسول دی

۱- سورة الأعراف آیت ۱۵۷

چې ددوی په کتابونو توراة اوانجيل کې دده نوم اوصفت لکلی سوی دی، چې دی به امر بالمعروف اونهی عن المنکر به کوی، اودوی ته ټول طيبات پاک شيان حلال اوټول خبيث اوناپاک شيان حرام سوی دی.

په بل آيت کې الله تعالی فرمايي: يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ.(۱)

ترجمة: پوښتنه کوی دوی لتاځخه ای محمد (صلی الله عليه وسلم) چې کوم شی دوی ته حلال اوکوم حرام دی، نوته ورته ووايه چې طيبات يعنی ټول پاک شيان تاسوته حلال دی.

نو الله تعالی ټول هغه شيان چې پاک، نافع اوګټور دی حلال کړی دی، اوټول هغه چې خبيث اوضرر من وی حرام کړی دی، ځکه دغه دالله تعالی درحمت تقاضا ده چې خپل بند ګان دټولو هغو شيانو ځخه ساتی چې دوی ته دژوندانه په ټولو اړخونو کې ضرروی، لکه دنشی شيان اوداسې نور.

ځکه خوداهل کتابو په منځکې نبی کريم صلی الله عليه وسلم په داسې صفت مشهور وو چې دی په ښو امرکوی اودبدو ځخه منع کوی، طيبات اوپاک حلال بولی اوخبيث اوناپاک حرام بولی.

اورب العالمين دخپل مخلوق په طبيعت نفع اوضرر ښه عالم اوپوهيږی ځکه الله تعالی فرمايي: وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ.(۲)

ترجمة: اوالله تعالی مفسد اومصلح ډير ښه ترله پيژنی.

بلکې په بل آيت کې الله تعالی دپاکو خوړلو امرکوی اوفرمايي: فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلاَلاً طَيِّبًا وَاشْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ. (۳)

ترجمة: نوخوری تاسو دهغو خوړو ځخه چې الله تعالی تاسوته په رزق درکړی

۱- سورة المائدة آيت ٤ -- ۲- سورة البقرة آيت ۲۲۰ -- ۳- سورة النحل آيت ۱۱٤

دی حلال او پاک، اوداالله دنعمتونو شکروکړی، که تاسو خاص داالله تعالی عبادت کونکې اوحکم منونکې یاست.

تفسیر: څوک چې داالله تعالی داطاعت اوبندګۍ دعوی لری نوهغه دی داالله تعالی دورکړه سوی نعمتونو څخه حلال اوپاک خوری، اودهغه داحسان قدر دی وکړی اودده دنعمتونو شکردی اداءکړی حلالو ته دی حرام نه وایی اوحراموته دی حلال نه وایی.(۱)

په حرام مال نفلی حج کول

ددی سره چې رب العالمین مومنان په حلال خوړلو امرکړی دی اودحرامو څخه یی منع کړی دی خوبیاهم په اسلامی معاشره اوټولنه کې داسې خلک سته چې دهغوی څه یاټول مالونه په شرعی لاری نه وی راټول سوی بلکې دحرامې لاری یی لاس ته راوړی وی، نوځکه ددوی سره دغه مسئله سته چې په حرام مال سره دثواب کار یافرضی عبادت کولای سی که نه؟ چې دهغوی دجملې څخه فرضی حج ادا کول، مسجدجوړول، یانور عام المنفعه کارونه دثواب په نیت کول جائز دی که نه؟

دداسې سوالونو په جواب کې دڅلورو مذهبونو امامانو په منځ کې اختلاف نقل سوی دی چې دهغه اختلاف څه خلاصه په لاندی ډول ده.

دفرضی حج په مسئله کې ددلائلوپربنیاد دفقهاؤ اوعلماؤ اختلاف نقل سوی دی، دشافعی فقه یومعتبر کتاب کې داسې لیکلی دی: اختلف الفقهاء فی صحة الحج من المال الحرام ولهم فی ذلک قولان: القول الاول ذهب الحنفیة والشافعیة واحد القولین فی مذهب المالکیة وقول فی مذهب الحنابلة: إلی أن المال فی الحج شرط للوجوب ولیس شرطا فی صحة الحج من حیث هوأعمال وأقوال مخصوصة، فلاتلازم بین هذه الاعمال وبین ماینفقه الحاج من مال فی وصوله الی بیت الله الحرام، فالحکم هوصحة الحج ممن أدی فریضة الحج

۱- تفسیر کابلی جلد اول صفحة ۱۵۸۷

من مال حرام ويجزى عنه حجه من حيث اسقاط الفريضة وبراءة ذمته منها، لكنه ياثم بانفاقه مال الحرام فى اداء الطاعة من مال الحرام. (۱)

ترجمة: داچې په حرام مال سره فرضي حج کول صحيح دی که نه په دی هکله دفقهاؤ دوه قوله دی: اول قول: دحنفی، شافعی يوقول دمالکې اويوقول دحنبلی فقهاؤ رحمة الله تعالى عليهم په نزد دادی چې په حج کې مال دوجوب شرط دی دصحت شرط نه دی، ځکه چې حج دځومخصوصو اعمالو اوافعالو څخه عبارت دی، ددغه اعمالو اودهغه مال چې دبيت الله حرم ته درسيدلو دپاره خرڅيږی هيڅ تلازم اواړيکه نسته، که يوڅوک په حرام مال فرضي حج وکړی نوحج صحيح دی دفرضوغاړی په خلاصيږی دحج زمه يې اداکيږی. خوپه دغه گناه کاره دی چې ده دالله تعالى دعبادت په لاره کې حرام مال مصرف کړی دی.

دوی داسې دليل وايی چې په حج کې مال شرط دوجوب دی شرط دصحت نه دی نوځکه حج صحيح دی خوثواب نلری، اوعذاب ورکول کيږی چې ده دعبادت په لاره کې حرام مال خرڅ کړی دی.

اوپه داغه مسئله کې دحنفی فقهی په يومعترکتاب کې داسې لکي: فَقَدْ يُقَالُ إنَّ الْحَجَّ نَفْسَهُ الَّذِي هُوَ زِيَارَةُ مَكَانٍ مَخْصُوصٍ إلَخْ لَيْسَ حَرَامًا، بَلْ الْحَرَامُ هُوَ إنْفَاقُ الْمَالِ الْحَرَامِ، وَلاَ تَلاَزُمَ بَيْنَهُمَا، كَمَا أَنَّ الصَّلاَةَ فِي الأَرْضِ الْمَغْصُوبَةِ تَقَعُ فَرْضًا، وَإِنَّمَا الْحَرَامُ شَغْلُ الْمَكَانِ الْمَغْصُوبِ، لاَمِنْ حَيْثُ كَوْنُ الْفِعْلِ صَلاَةً لأَنَّ الْفَرْضَ لاَيُمْكِنُ اتِّصَافُهُ بِالْحُرْمَةِ، وَهُنَا كَذَلِكَ فَإِنَّ الْحَجَّ فِي نَفْسِهِ مَأْمُورٌ بِهِ، وَإِنَّمَا يَحْرُمُ مِنْ حَيْثُ الإِنْفَاقُ، وَكَأَنَّهُ أَطْلَقَ عَلَيْهِ الْحُرْمَةَ لأَنَّ لِلْمَالِ دَخْلاً فِيهِ، فَإِنَّ الْحَجَّ عِبَادَةٌ مُرَكَّبَةٌ مِنْ عَمَلِ الْبَدَنِ وَالْمَالِ كَمَا قَدَّمْنَاهُ، وَلِذَا قَالَ فِي الْبَحْرِ وَيَجْتَهِدُ فِي تَحْصِيلِ نَفَقَةٍ حَلاَلٍ، فَإِنَّهُ لاَ يُقْبَلُ بِالنَّفَقَةِ الْحَرَامِ كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيثِ، مَعَ أَنَّهُ يَسْقُطُ الْفَرْضُ عَنْهُ مَعَهَا، وَلاَ تَنَافِي بَيْنَ سُقُوطِهِ، وَعَدَمِ قَبُولِهِ، فَلاَ يُثَابُ

۱- المجموع شرح المهذب ج ۷ ص ۵۱

لِعَدَمِ الْقَبُولِ، وَلاَ يُعَاقَبُ عِقَابَ تَارِكِ الْحَجِّ.

أَيْ لأَنَّ عَدَمَ التَّرْكِ يُبْتَنَى عَلَى الصِّحَّةِ: وَهِيَ الإِتْيَانُ بِالشَّرَائِطِ، وَالأَرْكَانُ، وَالْقَبُولُ الْمُتَرَتِّبُ عَلَيْهِ الثَّوَابُ يُبْتَنَى عَلَى أَشْيَاءَ كَحِلِّ الْمَالِ وَالإِخْلاَصِ كَمَا لَوْ صَلّٰى مُرَائِيًا أَوْ صَامَ وَاغْتَابَ، فَإِنَّ الْفِعْلَ صَحِيحٌ لَكِنَّهُ بِلاَ ثَوَابٍ. (١)

ترجمة: بيشكه حج ديو خاص مكان زيارت كول دى اوهغه حرام نه دى، بلكې حرام په دغه لاره كې دحرام مال مصرف كول دى، اوددوى دواړو په منځكې هيڅ لزوم نسته، لكه داچې دغصب پر ځمكه لمونځ وكړى نوفرض اداكيږى، بلكې حرام ددغه ځمكې مشغول كيدل دى، نه په دى حيث چې دلمانځه فعل كول حرام دى، ځكه فرض عبادت ته حرام نسى ويل كيدلاى، نودلته په حج كې همداسې ده، ځكه حج په خپل ځان كې ماموربه دى، خودغه حراموالى دنفقى اومصرف دلاري ورته راځى، داچې پرده باندې دحرام اطلاق كول كيږى دمال په وجه چې په ده كې دمال مداخلت سته، ځكه حج داسې عبادت دى چې په مال اوبدن دواړوسره كيږى، ځكه خوپه بحرنومى كتاب كې ويل سوى دى چې دحلالى نفقى په حصول كې به كوشش كوى، ځكه په حرامه نفقه سره نه قبليږى لكه څرنګه چې په حديث كې راغلى دى، سره ددى چې ددغه حرام مال سره فرض ساقطيږى، اودساقط كيدلو اونه قبليدلو په منځكې منافات نسته، ثواب نه وركول كيږى ځكه چې قبول نه دى، اودحج دنه كولو عذاب هم نه وركول كيږى، لكه داچې لمونځ دريا دپاره وسى، اويا داچې دفرضى روژى په حال كې غيبت وكړل سى، بيشكه فعل صحيح دى بيله ثوابه.

دامام شافعي دمذهب يومعتمد كتاب كې ليكي:

إِذَا حَجَّ بِمَالٍ حَرَامٍ أَوْ رَاكِبًا دَابَّةً مَغْصُوبَةً أَثِمَ وَصَحَّ حَجُّهُ وَأَجْزَأَهُ عندنا، وبه قال أبو حنيفة ومالك والعبد رى وَبِهِ قَالَ أَكْثَرُ الْفُقَهَاءِ. وَقَالَ أَحْمَدُ لاَ يُجْزِئُهُ* وَدَلِيلُنَا أَنَّ الْحَجَّ

١- حاشية ردالمحتار ج ٣ ص ٤٥٣

افعال مخصوصة والتحريم لمعنى خارج عنها. (١)

ترجمه: که په حرام مال حج وکړي يادغصب اوغلا پرمرکب سپور ولاړسي نوحج صحيح اوجائز دي، اوزموږ دليل دادي چې حج څومخصوص افعال دي، او حراموالى ددي څخه خارج دي.

نودحج ياعبادت صحت دهغه دارکانو اوشرطونوپر پوره کولو موقوف دي، دعبادت قبليدل اوثواب پرمرتب کيدل پراخلاص اوحلاله نفقه موقوف دي، اودغه دواړه يوپربل موقوف نه دي.

بل دوى وايي: مادي اومالي طاقت دحج دصحت دپاره شرط نه دي، بلکې دغه دمسلمان دپاره دوجوب شرط دي، څکه که يومسکين چې هيڅ مادي اومالي طاقت ونلري نوپرده حج واجب نه دي، خوبياهم که دي بيت الله الحرام ته په تللو قادرسو اودحج ارکان اوواجبات يي اداء کړله نودده حج بيله اختلافه صحيح دي، نوکه مال دحج دصحت دپاره شرط واى نودده حج نه صحيح کيدى.

دمالکي فقهي په يوکتاب کې ليکلي دي:

القول الثانى: ذهب المالكية فى القول الاخر والحنابلة فى القول الاخر الى الحج بالمال الحرام لايجزئ ولاتبرا به الذمة، ذلک ان النفقة فى الحج شرط من شروط صحة الحج لاشرطا من شروط الاداء والوجوب، وان كانت من شروط الوجوب فان شرط الوجوب كشرط الصحة، فمن حج من مال الحرام يجب عليه ان يعيد الحج من المال الحلال حتى تبرا الذمة وتسقط الفريضة: (٢)

ترجمه: دوهم قول: دځه ماليکې اوځه حنبلي فقهاؤ په نزد که څوک په حرام مال سره حج وکړي نوهغه نه صحيح کيږي نه يي ذمه فارغه کيږي اونه يي دفرضو غاړي په خلاصيږي، څکه نفقه په حج کې دصحت شرط دي داداء اودوجوب

١- المجموع شرح المهذب ج ٧ ص ٦٣ ٢- مواهب الجليل في الفقه المالكي ج ٣ ص٤٩٨

شرط نه دی، که وجوب شرط هم وی خوهغه داسې دی لکه دصحت شرط. که څوک په حرام مال سره حج وکړی نوپرهغه واجب دی چې دغه حج په حلال مال سره برته راوګرځوی، ترڅو ذمه یې خلاصه سی اودفرضو غاړی خلاصی سی.

په بل ځای کې دامام مالک رحمة الله تعالی علیه داسې قول نقل سوی دی: ونقل بعض الکتب المالکیة عن الامام مالک أنه وقف فی المسجد الحرام ونادی: یا ایها الناس من عرفنی فقد عرفنی ومن لم یعرفنی فانا مالک بن انس، من حج بمال حرام فلیس له حج. (۱)

ترجمة: دمالکې مذهب څه کتابونه دامام مالک رحمة الله تعالی علیه څخه داسې قول نقل کوی چې دی په مسجد حرام کې ودریدی اوآواز یې وکړی: ای خلکو څوک چې ماپیژنی نوهغه ماپیژنی اوڅوک چې مانه پیژنی نو زهٔ مالک ابن انس یم، چاچې په حرام مال حج وکړی نوده هغه حج نسته.

ددوی دلائل څه په دی ډول دی: ۱- ٱلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِى ٱلْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ وَتَزَوَّدُوا۟ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ.(۲)

ترجمة: دحج میاشتی معلومی دی، نوکه پرچا په دغه میاشتوکې حج فرض سی، نونه دی جماعی (کوروالې) کوی، نه ګناهونه کوی اونه جګړی کوی، (یعنی دحج په ورځوکې داحرام په حالت کې) اوهرڅه چې تاسو نیک اودخیر کارونه کوی په هغه الله تعالی پوهیږی، اوتاسو چې حج ته ځی نودځانو سره څواری اودسفرخرڅ درسره واخلی، بیشکه ښه توښه اوسفرخرڅ تقوی ځان ساتنه ده دسوال، غلا اوحرام خوری اوداسې نورو څخه، اوالله تعالی وایی: ای دښو اوصافو عقلونو خاوندانو زما څخه وبیریږی.

۱- مواهب الجلیل في الفقه المالکي ج ۳ ص ۴۹۸ --- ۲- سورة البقرة آیت ۱۹۷

دحج میاشتی «دکوچنی اختر، میانی اودلوی اختر دمیاشتی دلسمی شپی ترسهار پوری دغه دوی میاشت اولس شپی دحج میاشتی دی، که په دغه معلوم وخت کې چادحج کولو توان پیداکړی نوپرهغه حج فرض کیږی که نه دبل وخت په توان سره حج نه فرض کیږی.

داسلام ترراتلو دمخه اواوس هم څه کسان دحج په سفرکې دلاری اودسفر خرڅ نه وړی اویابه نه وی ورسره، او ددوی په ګمان دغه پرالله تعالی باندې خاص توکل دی اودثواب په نیت یی کوی، اوهلته بیاسوال یابله غیرمشروع طریقه کوی، نوالله تعالی دداسې کسانو دعمل په خلاف اول خوحج پرهغو کسانو فرض کړی چې طاقت ولری، اوبل داچې دځان سره به دټول سفرخرڅ وړی ترڅوهلته بیا سوال ونکړی اونه دی پخپله سرګردان وی اونه دنورو دپاره دسرګردانی باعث سی.

کله چې دحج دفرضیت آیت نازل سو (وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً) ترجمة: الله تعالی لره پرخلکو باندې دحج په نیت دبیت الله زیارت کول واجب دی، څوک چې دلاری توان ولری.

په آیت کې د«سبیل» دلفظ څخه مراد دسفر خرڅ اوسوارلی ده، څکه په حدیث کې راغلی دی: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا السَّبِيلُ إِلَى الْحَجِّ؟ قَالَ: " السَّبِيلُ الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ ".(۱)

ترجمة: دابن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی، وایې: چا وویل ای دالله تعالی رسوله وحج ته دسبیل څخه مراددی؟ ده وفرمایل: چې دسبیل څخه دسفرخرڅ اودلاری سوارلې مرادده.

په بل حدیث کې راغلی دی: عن انس عن النبی صلی الله علیه وسلم فی قوله تعالی (ولله علی الناس حج .....) قال یارسول الله ما السبیل؟ قال الزاد والراحلة. (۲)

۱- السنن الکبري للبیهقي ج ٤ص٥٣٥ ۲- اخرجه سنن الدار قطنی ج ۲ -ص ۲۱۶

ترجمة: انس رضی الله تعالی عنه دنبی صلی الله علیه وسلم څخه دالله تعالی ددی قول دتفسیر ﴿ولله علی الناس حج ....﴾ په باره کې پوښتنه وکړه چې ای دالله رسوله سبیل څه ته وایی؟ نوده ورته وویل دسفرخرڅ اودلاری سوارلې ده.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، مِثْلَ قَوْلِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ السَّبِيلُ الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ.(١)

ترجمة: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه هم دعمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه دقول په شان روایت سوی دی، چې دسبیل څخه دلاری خرڅ اوسوارلې مراد ده.

دحنفی فقهی یوډیر معتمد اومعتبرکتاب کې دزاد اوراحلی اندازه داسې بیان سوی ده: واما تفسیرالزاد والراحلة فهو أن یملک من المال مقدارمایبلغه الی مکة ذاهبا وجائیا راکبا لاماشیا، بنفقة وسطه لااسراف فیها ولاتقتیر، فاضلا عن مسکنه وخادمه وفرسه وسلاحه وثیابه وأثاثه ونفقة عیاله وکسوتهم وقضاء دیونه. (٢)

ترجمة: دسفرخرڅ اوسوارلې معنی داده چې دی به ددومره مال مالک وی چې مکې مکرمی ته دده دتلواو راتلو کفایت کوی، هغه هم سپور نه پیاده، درمیانه نفقه به لری چې نه اسراف اونه کنجوسی پکښې وی،دده داوسیدلو ترځای، ترخادم ترآس، ترسلاح، داغوستلو ترکالو، دکور ترکالو، دعیال ترنفقی اودهغوی ترکالو اودده ترقرضونو اوپورونو به اضافه اوزیات وی.

دپورتنی حدیثونو اوآثارو څخه ثابته سوله چې دزاد اوراحلی څخه دسفر خرڅ اودلاری سوارلی مراد ده، نو ددی آیت څخه داستدلال وجه داده چې الله تعالی امرکوی چې تاسو دځان سره دخیرتوښه یا سفرخرڅ وړی، نوڅوک چې په حرام مال حج کوی نوښه اوتقوی خونه ده بلکې ډیره بده توښه ده، او داسې عمل دالله تعالی په نزد دقبول وړ نه دی.

١- سنن الکبري للبیهقي ج ٤ ص ٥٤١   ٢- بدائع الصنائع ج ٢ ص ٥٢

دوهم دلیل: ۲- قُل لاَّ يَسْتَوِى ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ ٱلْخَبِيثِ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ يَٰأُوْلِى ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ. (۱)

ترجمه: ورته ووایه ای محمد (صلی الله علیه وسلم) دوی ته چې ناپاک اوپاک نه سره برابرېږي، که څه هم دغه ناپاک ډېر درته ښکاره سي، نو دالله تعالی څخه وبیرېږي ای دصافو عقلونو خاوندانو. ددی دپاره چې الله تعالی تاسوته کامیابی اونجات درکړي.

دیورتنی آیت دشان نزول په هکله راغلی دی: عن جابر قال النبی صلی الله علیه وسلم ان الله عزوجل حرم علیکم عبادة الاوثان، وشرب الخمر، والطعن فی الانساب، الاان الخمر لعن شاربها، وعاصرها، وساقیها وبائعها، وآکل ثمنها.

فقام الیه اعرابی فقال: یارسول الله ان الخمر تجارتی وانی جمعت من بیعها مالا، فهل ینفعنی ذلک ان عملت فیه بطاعة الله؟ فقال له النبی علیه السلام: ان انفقته فی حج اوجهاد اوصدقة لم یعدل عند الله جناح بعوضة، ان الله لایقبل الاطیب، فانزل الله تعالی تصدیقا لقوله علیه السلام، قل لایستوی...... الایة.(۲)

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی پرتاسوباندې دبتانوعبادت، دشرابوچیښل او په نسب کې طعن یاعیب ویل حرام کړی دی، خاص داچې دشرابو پرچښونکې، شیره جوړونکې، چیښونکې، خرڅونکې اوقیمت پرخوړونکې لعنت ویلی دی.

نویوصحرایی سړی ولاړسو او وی ویل: ای دالله رسوله بیشکه زمادشرابو تجارت دی، اوددی دخرڅولو څخه ماډیر مال یوځای کړی دی، که زه دغه مال دالله تعالی په طاعت اوعبادت کې ولګوم ماته نفع رسوی؟ نونبی علیه السلام ورته وویل: که ته دغه دحج، جهاد اوخیرات په لاره کې خرڅ کړی نودغه دالله تعالی په

۱- سورة المائدة آیت ۱۰۰ ۲- لباب النقول لسیوطی ص ۹۸، واسباب النزول للواحدی ص ۱۴۵

نزد دغوماشي دوزر برابر حيثيت هم نلري، بيشكه الله تعالى نه قبلوي مگر طيب او پاک، نو الله تعالى دخپل نبي دقول دتصديق دپاره دغه آيت نازل کړي.

ددغه آيت اوشان نزول څخه داستدلال وجه ډيره ښکاره ده چې په حرام سره حج کول جائزنه دي، که يې څوک وکړي دهغه دفرضوغاړي نه په خلاصيږي.

افسوس چې زموږ دوخت ټول حرام مالونه په همدغه درولاروکې دثواب په نيت ډيرخرځيږي په دي گمان چې په دغه به دي دالله دعذاب څخه خلاص سي.

دريم دليل: وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ٱبْنَيْ ءَادَمَ بِٱلْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ ٱلْآخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ.(۱)

ترجمة: او ولوله (اى محمد) پردغه خپل قوم يابني اسرائيلو باندې دآدم عليه السلام ددوو زامنو قصه په حق سره، کله چې دواړو خپله قرباني دالله تعالى په حضورکې وړاندی کړله، نوديوه څخه قبوله سوله اودهغه بل څخه قبوله نسوله، نوقابيل وويل چې خامخا به زه تاوژنم اى هابيله، نوهابيل وويل چې بيشکه الله تعالى دمتقيانو اوپرهيز گارانو قرباني قبلوي.

مطلب داچې دالله تعالى په دربارکې دهيچازوراوقوت نه چليږي اويوازې هلته تقوى پکاريږي، يعني زمادقرباني دقبليدلو وجه تقوى ده که ته هم په خپل ځان کې تقوى پيداکړي نو الله تعالى ستاسره څه مخالفت نه لري.

دپورتني آيت څخه داستدلال وجه هم داده چې دعمل دقبليدلو دپاره تقوى لازمه ده اوحرام خوړل يادالله تعالى په لاره کې مصرف کول دتقوى سره منافي دي.

څلورم دليل: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، فَقَالَ: {يَا أَيُّهَاالرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا،إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ}سورة المؤمنون:آيت ۵۱

۱- سورة المائدة آيت ۲۷

وَقَالَ:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} سورة البقرة: آيت ۱۷۲ ثُمَّ ذَكَرَالرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ،يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَارَبِّ، يَارَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟ ".(۱)

ترجمة: ای خلګو بیشکه الله تعالی پاک دی اونه قبلوی مګرنه پاک. او بیشکه الله تعالی مومنان په هغه څه امرکړی دی په کوم شی چی رسولان یی امرکړی دی، ای رسولانو تاسو دپاکو څخه خوړل کوی، اونیک اوښه عملونه کوی. بیشکه زه ستاسو په کارونو خبریم.

په بل آیت کی فرمایی: ای مومنانو تاسو دهغو پاکو څخه خوړل کوی چی موږ تاسوته په رزق درکړی دی. اوبیایی دهغه سړی ذکر وکړی چی اوږد سفر وکړی سریی ببر اوپه ګرځونو سپیره وی، خپل لاسونه دآسمان طرف ته غزولی وی اودیارب یارب ناری وهی، په داسی حال کی چی دده خواړه حرام وی، چیښل یی حرام وی، دده اغوستی حرام وی، اودده غذاپه حرامو سوی وی، نوڅنګه به دده دعاقبوله سی.

په دغه حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم صراحت کړی دی چې الله تعالی ناپاک اوحرام شی نه قبلوی، اونه دهغه چا دعا قبلوی چی حرام یی خوړلی، چیښلی، اواغوستی وی.

داول قول دعلماؤ اوفقهاؤدطرفه دپورته ذکرسوی آیتونو اوحدیثونو جواب اوتوجیه داسې سوی ده چې ټول آیتونه اوحدیثونه پرنه قبلیدلو دلالت کوی، دحج صحت اونه قبلیدل خپل منځ کې تضاد نه لری څکه موږ مخکې وویل دغه داسې دی لکه پرمغصوبه مځکه یادریا دپاره لمونځ اویاد فرضی روژی په حال کې غیبت کول، لمونځ اوروژه صحی ده دفرضو غاړی په خلاصیږی، خود

۱- رواه صحيح مسلم كتاب الزكاة باب قبول صدقة

الله تعالی په دربار کې قبول نه دی چې ثواب پرمرتب سی، ددغه توجیه پربنیاد اول قول راجح دی چې په حرام سره فرضی حج کولو سره دفرضو غاړی خلاصیږی خو دثواب حقداره نه بلل کیږی.

دنفلی حج اونورو نفلی عباداتو په هکله دټولو مذاهبو اتفاق دی چی په حرام مال سره اداء کول نه صحیح کیږی، اونه ثواب وربانذی سته، ځکه په هغوی کی یوازنی مقصد ثواب دی، اودثواب دپاره قبول شرط دی، اودقبول دپاره اخلاص اودحلال مال نفقه شرط ده لکه مخکی چی ددی ذکر وسو.

دحرام مال څخه زکات ورکول حرام دی

زکات دمسلمانانو یو مالی عبادت دی چې الله تعالی پر مال لرونکو بندګانو فرض کړی دی، په قرآن کریم کې تقریبا(۳۲) ځایه دلمانځه سره یوځای ذکر سوی دی، په یوآیت کې الله تعالی فرمایی: وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَاةَ وَآتُواْ ٱلزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ.(۱)

ترجمة: اوسم اداکوی لمونځ اوورکوی زکوة اوهغه شی چې مخکې لیږی لپاره دځانوخپلو لکه صدقه اوخیرات، نوپیدابه کړی ثواب دهغه په نزد دالله، بیشکه الله تعالی په هغه شی چې کوی یی تاسو ښه لیدونکې دی، یعنی ستاسو اعمال نه ضائع کوی اوجزایه درکوی.

په بل آیت کې فرمایی: وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَاةَ وَآتُواْ ٱلزَّكَاةَ وَٱرْكَعُواْ مَعَ ٱلرَّاكِعِينَ.(۲)

ترجمة: اوسم ادا کوی په ښه ترتیب سره اداکوی لمونځ او ورکوی زکوة ، اورکوع کوی درکوع کونکو مسلمانانو سره.

په بل آیت کې فرمایی: وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَآتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ

۱- سورة البقرة آیت ۱۱۰ ۲- سورة البقرة آیت ۴۳

تُرْحَمُونَ.(١)

ترجمة: اوسم اداکوی لمونځ (دټولو حقونوسره) او ورکوی زکوة او اطاعت وکړی حکم ومنی دالله درسول، کیداسې چې پرتاسو رحم وکړل سی.

دپورتنی آیتونو څخه معلومه سوله چې زکات هم دالله تعالی دطرف څخه داسې یوفرضی عبادت دی لکه لمونځ ، همداسې به دخپلو شرطونو سره اداکیږی، لکه لمونځ چې شرطونه لری چې په پاکو جامو، پاک بدن او پاک ځای باندې به وی، همدارنگه زکوة هم خپل شرطونه لری، چې څه یی په لاندی ډول دی.

اول شرط یی دادی: چې دزکات ورکونکې به مقصدخپل دنفس تزکیه او پاکوالی مراد وی،او دغه شرط هم رب العالمین په خپل عظیم کتاب کې بیان کړی دی، الله تعالی فرمایی: خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا.(٢)

ترجمة: یعنی ته ددوی څخه صدقه اوزکوة واخله، چې ته دوی پاک کړی، او تزکیه یی په وکړی. په بل آیت کې الله عزوجل فرمایی: قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ.(٣)

ترجمة: یعنی چاچې خپل ځان پاک کړی په تحقیق نوهغه کامیاب دی.

په بل آیت کې فرمایی: وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلْأَتْقَى. ٱلَّذِى يُؤْتِى مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ.(٤)

ترجمة: یعنی ددوزخ داوره به لیری کړل سی هغه څوک چې تقوی لری، او خپل مال ددی د پاره ورکوی چې پاک سی.

همدغه مقصد په حدیث کې هم بیان سوی دی:عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: حَجَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: «أَلاَ لَعَلَّكُمْ لاَ تَرَوْنِي بَعْدَ عَامِكُمْ هَذَا، أَلاَ لَعَلَّكُمْ لاَ تَرَوْنِي بَعْدَ عَامِكُمْ هَذَا، أَلاَ لَعَلَّكُمْ لاَ تَرَوْنِي بَعْدَ عَامِكُمْ هَذَا». فَقَامَ رَجُلٌ طَوِيلٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، فَمَا الَّذِي نَفْعَلُ؟

١- سورة النور آیت ٥٦
٢- سورة التوبة آیت ١٠٣
٣- سورة اعلی آیت ١٤
٤- سورة اللیل آیتونه ١٧-١٨

فَقَالَ: «اعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَصَلُّوا خَمْسَكُمْ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ، وَحُجُّوا بَيْتَكُمْ، وَأَدُّوا زَكَاتَكُمْ طَيِّبَةً بِهَا أَنْفُسُكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ». (۱)

ترجمة: ابی امامة وایی: مادرسول الله صلی الله علیه وسلم سره دحجة الوداع حج وکړی، نوده دالله تعالی حمد ووایه اودهغه ثنا اوصفت یی وکړی اوبیایی وویل: خبراوسی کیدایسی تاسوبه ماتردی کال وروسته نه ووینی، خبراوسی کیدایسی تاسو به ماتردی کال وروسته نه ووینی، خبراوسی کیدایسی تاسو به ما تردی کال وروسته نه ووینی، نویوجگ سړی ورولاړسو اوورته وی ویل: ای دالله تعالی نبی نوموږ څه وکړو؟ ده ورته وویل: دخپل رب عبادت کوی، خپل پنځه لمنځونه کوی، خپل درمضان دمیاشتی روژه نسی، خپل دبیت الله حج کوی، او خپل زکاتونه ورکوی، چې په هغه باندې خپل نفسونه پاک کړی، اودالله عزوجل جنت ته داخل سی.

دپورتنیو آیتونواوحدیث څخه ثابته سوله چې دزکوة یومقصد ددنیادحرص څخه دزړه پاکیدل او تزکیه کول دی، څکه په یوحدیث کې راغلي دی:(حب الدنيا راس كل خطيئة.(۲) یعنی ددنیا سره محبت کول دهری ګناه سر اوبنیاد دی.

نوپاکې په پاک اوحلال مال سره راځی، په ناپاک اوحرام مال سره پاکې نه راځی، څکه ناپاک اوحرام مال الله تعالی نه قبلوی څکه په حدیث کې راغلی دی:

عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ يَقْبَلُ اللَّهُ صَلاَةً بِغَيْرِ طُهُورٍ، وَلاَ صَدَقَةً مِنْ غُلُولٍ».(۳)

ترجمة: ابی الملیح دخپل پلار څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی بیله پاکی یا اوداسه لمونځ نه قبلوی، اودخیانت اوحرام

۱- رواه مسند امام احمد بن حنبل مسند الانصار ۲-کنزل العمال) عن الحسن ج ۳ ص ۱۹۲
۳- سنن النسائی کتاب الطهارة

مال صدقه اوخیرات نه قبلوی.

لکه څرنګه چې دلمانځه دقبلیدلو دپاره پاکي شرط ده همداسې دزکات او خیرات دپاره دمال حلال والی اوپاکوالی شرط دی

دوهم مقصد اوشرط دزکوة دادی: چې دالله تعالی درضا دپاره به وی ځکه الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایی: وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ وَمَا تُنفِقُونَ إِلاَّ ٱبْتِغَاءَ وَجْهِ ٱللَّهِ.(۱)

ترجمة: هغه څه چې تاسو په صدقه اوخیرات کې ورکوی ، هغه به یوازی او یوازی دالله تعالی درضا دپاره وی. یعنی خپل ذاتی مقصد به هیڅ پکښې نه وی، ځکه په پورتنی آیت کې نفی اواثبات دواړه دی، دعربی ژبی قاعده داده چې یوشی په نفی اواثبات سره ذکرسی نوهغه حصر فایده کوی، یعنی یوازی دالله تعالی د رضا دپاره به وی.

نوالله تعالی په پاک اوحلال شی راضی کیږی، په ناپاک اوحرام شی نه راضی کیږی، ځکه نا پاک اوحرام دبنده دپاره نه خوښوی. نوخپله به یی څنګه غواړی؟ بل داچې الله تعالی یوشی حرام کړی وی نوهغه خپله هم نه قبلوی.

دریم مقصد اوشرط دادی: چې دپاک اوحلال مال څخه به وی، ځکه الله تعالی فرمایی: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ ٱلأَرْضِ وَلاَ تَيَمَّمُواْ ٱلْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلاَّ أَن تُغْمِضُواْ فِيهِ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ.(۲)

ترجمة: ای هغه کسانو چې ایمان یی راوړی دی، لګوی دحلالو اوپاکو هغو مالونو څخه چې په کسب سره تاسو ګټلی وی، اوله هغوشیانو څخه چې ایستلی دی موږ تاسی لره دمځکې څخه، او قصد مکوی تاسو دورکولو دخبیثو اوحرامو

۱- سورة البقرة آیت ۲٦۷ ۲- سورة البقرة آیت ۲۷۲

شیانو، له هغه ماله چې لګوی تاسو په لاره دالله کې، حال دا چې نه ئی تاسو اخستونکې دهغه ناکاره شی په خپل حق کې، مګر خوداسې اخلی چې سترګی پر پټی کړی په اخستلو دهغه کې، پوه سی چې بیشکه الله تعالی غنی دی، بی پروا دی دهره شی څخه، ورته ښه صفت اوثناویلی سوی دی.

یعنی دالله تعالی په نزد دزکوة اوخیرات دمقبولیت شرط دادی چې دپاک او حلال مال څخه به وی، حرام اوڅه شبهه به پکښی نه وی، څکه الله تعالی فرمایي: تاسو په خپله هم یو دبله بیکاره او خراب شی نه اخلی مګرنه په هغه صورت کې چې سترګی پرپټی کړی، اوپوهیږی چې الله تعالی بی پروا اودچا محتاج نه دی، بلکې تاسو ورته محتاج یاست، که تاسو ښه پاک اوحلال شی په ډیره مینه اواخلاص دده په لاره کې ورکړی نودی یی قبلوی، اوتاسوته به ثواب پر درکړی، که نه نو حرام او ناپاک شی نه قبلوی.

په یوحدیث کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ډیر صراحت او وضاحت سره فرمایي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لاَ يَقْبَلُ إِلاَّ طَيِّبًا، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، فَقَالَ: {يَا أَيُّهَاالرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا،إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ}سورة المؤمنون:آیت ۵۱

وَقَالَ:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} سورة البقرة: آیت ۱۷۲.

ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ،يَارَبِّ،يَارَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟ ".(۱)

ترجمة: ابوهريرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی پاک دی اونه قبلوی مګرنه پاک، بیشکه الله تعالی مومنان په هغه څه امرکړی دی په کوم شی چې یی خپل رسولان امرکړی دی،

۱- رواه صحیح مسلم کتاب الزکاة باب قبول صدقة

لکه داچې په دغه آیت کې الله تعالی ورسولانو ته امرکوی اوفرمایي: ای رسولانو تاسودپاکو خوړو څخه خوراک کوی، اونیک اوښه عملونه کوی، بیشکه زه په هغه څه علم لرم چې تاسو یې کوی.

په دغه بل آیت کې الله تعالی مومنانوته امرکوی اوفرمایي: ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی. تاسو دهغو پاکو خوړوڅخه خوراک کوی کوم چې موږ تاسوته په رزق درکړی دی، او پر دغو نعمتونو باندې دالله تعالی شکروباسی، که تاسو دالله تعالی عبادت کونکې یاست.

اوبیا (رسول الله صلی الله علیه وسلم) دهغه سړی ذکر وکړی چې ډیر اوږد مزل یې کړی وی سریې ببر اوپه ګردونو سپیره وی (مطلب حج ته تللی وی اوهلته پرعرفات باندې) لاسو نه یې دآسمان طرف ته پورته کړی وی اودیارب یارب ناری وهی په داسې حال کې چې دده خواړه حرام وی، چیښاک یې حرام وی، لباس یې دحرامو څخه وی، په حراموسره تغذیه سوی وی، نوکله یاڅنګه به دده دعا قبوله سی؟ مطلب داچې په حج کې هم نه قبلیږی چې څومره لوی عبادت دی.

دپورتنی حدیث څخه څوټکې معلوم سوله: اول داچې دټولو رسولانو په دین کې دغه حکم سته چې حلال خوراک کول. اودحلالی لاری څخه پیداکول یاګټل، نیک اوښه عملونه کول، دوهم دا معلومه سوله چې دهرچا خوړل، چیښل، اغوستل دحرامو څخه وی دهغه دعا نه قبلیږی، نه یوازی په حج کې بلکې په هروخت او حالت کې چې وی، دریم داچې ددوهم آیت په آخرکې الله تعالی فرمایي که تاسوزما عبادت کونکې یاست، معنی داچې دپاکواوحلالو خوړل دټولو عباداتونو دقبلیدلو دپاره شرط دی.

ځکه په دی هکله ډیرحدیثونه راغلی دی: ۱- عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللّٰهَ قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَخْلَاقَكُمْ، كَمَا قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَرْزَاقَكُمْ،

وَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُعْطِي الدُّنْيَا مَنْ يُحِبُّ وَمَنْ لاَ يُحِبُّ، وَلاَ يُعْطِي الدِّينَ إِلاَّ لِمَنْ أَحَبَّ، فَمَنْ أَعْطَاهُ اللَّهُ الدِّينَ، فَقَدْ أَحَبَّهُ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لاَ يُسْلِمُ عَبْدٌ حَتَّى يَسْلَمَ قَلْبُهُ وَلِسَانُهُ، وَلاَ يُؤْمِنُ حَتَّى يَأْمَنَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ» ، قَالُوا: وَمَا بَوَائِقُهُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ؟ قَالَ: «غَشْمُهُ وَظُلْمُهُ، وَلاَ يَكْسِبُ عَبْدٌ مَالاً مِنْ حَرَامٍ، فَيُنْفِقَ مِنْهُ فَيُبَارَكَ لَهُ فِيهِ، وَلاَ يَتَصَدَّقُ بِهِ فَيُقْبَلَ مِنْهُ، وَلاَ يَتْرُكُ خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلاَّ كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ، إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لاَ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّئِ، وَلَكِنْ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ، إِنَّ الْخَبِيثَ لاَ يَمْحُو الْخَبِيثَ.(١)

ترجمة: دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی ستاسو په منځ کې اخلاق داسې تقسیم کړی دی لکه څرنګه چې ستاسو په منځ کې رزقونه تقسیم کړی دی، او بیشکه الله عزوجل دنیاهرچاته ورکوی،خوښ وی که ناخوښ وی،خودین نه ورکوی مګرنه هغه چاته چې خوښې وی، اوچاته چې دین ورکړی نوپه تحقیق هغه یې خوښ دی،اوزمادی په هغه ذات قسم وی چې زمانفس دهغه په لاس کې دی، یوبنده تر هغو کامل مسلمان نسی جوړیدلای ترڅوچې دده زړه اودده ژبه دالله قانون ته نوی تسلیم سوی، اویوڅوک ترهغوکامل مومن نسی جوړیدلای ترڅو دده همسایه دده دبوائقو څخه په امن نه وی. دوی وویل ای دالله نبی بوائق څه ته وایی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دده خیانت او دده ظلم،اویوبنده به مال دحرامی لاری څخه کسب نه کوی، نودی بیا دهغه څخه فرضی زکات ورکوی، چې الله تعالی دده دپاره په دغه مال کې برکت واچوی،اونه به دی ددغه مال څخه نفلی خیرات ورکوی چې الله تعالی یې دده څخه قبول کړی،اودی به نه پریږدی دغه مال خپل ترشامګرنه هغه به دده لپاره ددوزخ داور لپاره توښه اوخواری وی، بیشکه الله عزوجل بدی په بدی سره نه لیری کوی، خوالله تعالی بدی په نیکې سره لیری کوی،

١- رواه امام احمد بن حنبل فی مسنده

بیشکه مردار ناپاک شی نه پاکوی.

دافیون څخه زکات

اوخیرات ورکول حرام دی

دپورته ذکرسوی ټول بحث اودلائلو څخه دغه ثابته سوله چې چرس، افیون، اوداسې نورنشه کونکې شیان دشراب په شان حرام دی، ځکه نشه لری دنشی په وجه حرام دی، ځکه که دنشی دحالت څخه ووزی لکه داچې سرکه ځنی جوړه سی یا دومره پاخه سی چې دوی حصی اوبه ځنی ولاړی سی یااوبه ورزیاتی سی نوبیا حرام نه دی، لکه چې دغه بحث مخکې په ډیرتفصیل سره ذکر سوی دی، همداسې دغه نشه کونکې شیان دهغه حدیثونوپه استدلال حرام دی چې وایی هرنشه کونکې شی خمردی اوهرخمرحرام دی اوداسې نورحدیثونه چې تفصیل یې مخکې تیرسو.

یادونه: یوښه جید اوممتازعالم چې ددغه کتاب دتصحیح په وخت کی یه وه ملاحظه لیکلی هغه داچې دپوخوالی دکلمی وضاحت باید وسی ځکه افیون چه پخیږی حتما څه حصه اوبه که نرم وی دوی بلکی دری څلور حصی اوبه یی ځنی ولاړی سی نوآیا افیون بیا حلال سوله؟

دوهم سوال: که دپوډرو دجوړونکې څخه پوښتنه وسی هغه دافیون وبیلرانو ته دومره زیاتی اوبه وراچوی چه بالکل دافیون ماهیت اوکیفیت پکښی ورک سی، اوبیا دډیر جوش یا اهاکو اونشادرو په ذریعه نورمواد ځنی باسی، آن تردی چې دلس منه یعنی (څلویښت ٤٠) کیلوافیون څخه څلور یاپنځه کیلو مواد ځنی وزی، چه هغه بیابیرته واوبو اونورو موادو ته ورلویږی چه هیروین اویانور مواد ځنی جوړیږی، مطلب داکه په جوش اویادخپل کیفیت څخه اوښتل وی نوافیون خو ټوله اوبه ګرځی اویاپه پخوالی سره خوافیون هم پخیږی؟

جواب: کومه طریقه چې موږته رسول الله صلی الله علیه وسلم اودهغه

اصحابو کرامو رضوان الله تعالی علیهم دپخیدلو اویاداوبو دزیاتولو راښودلی ده هغه دشرابو په هکله ده، ځکه هغه په دغه طریقوسره دنشی دحالت څخه وزی او بیانشه نلری، اوس هم هرنشه کونکې شی که په دغوطریقو اویانورو طریقوسره د نشی دحالت څخه وزی نوهغه بیا حلال دی، ځکه دغه دلائل دهغوی دپاره هم دلائل دی، داچې افیون په پخیدلو سره اویاهیروین داوبو په زیاتولو سره دنشی دحالت څخه نه وزی بلکه نور هم ددوی په نشه کې اصل والی راځی، نوزکه دوی په پخیدلو اویا داوبو په زیاتولو سره نه پاکیږی اونه حلالیږی، که ددوی دپاره نور داسې مواد پیداسې چې دوی دنشی دحالت څخه وباسی نوبیا حلالیږی، ځکه موږ مخکې په ډیر تفصیل سره ثابته کړله چې په اصل کې نشه حرامه ده، دغه عنوان (شراب چې دنشی دحالت څخه ووزی حلال دی) دهمدی مقصد ۀپوره کولو دپاره دی، چې داحادیثو اوآثارو په رڼاکې ثابته کړو چې یوشی دنشی دحالت څخه ووزی نوهغه حلال دی.

دهغه بحث څخه یوڅو دلائل دمثال په ډول راوړم ددی دپاره چې بل چاته هم داسې سوالونه پیدانسی، لکه داچی شراب په اور اوجوش پاکیږی ددی دپاره دلیل دی: ۱- عَنْ دَاوُدَ، قَالَ: سَأَلْتُ سَعِيدًا: مَا الشَّرَابُ الَّذِي أَحَلَّهُ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؟، قَالَ: «الَّذِي يُطْبَخُ حَتَّى يَذْهَبَ ثُلُثَاهُ، وَيَبْقَى ثُلُثُهُ».(۱)

ترجمة: داودروایت کوی چې مادسعید څخه پوښتنه وکړه چې هغه کوم شراب وه چې عمر رضی الله تعالی عنه ورته حلال ویل؟ ده ویل هغه داچې دومره پاخه سی یاجوش ورکړل سی چې دوی حصی اوبه یې ولاړی سی اویوه حصه یې پاته سی.

۲- عَنْ ابْنِ سِيرِينَ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ الْخَطْمِيَّ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيْنَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: «أَمَّا بَعْدُ، فَاطْبُخُوا شَرَابَكُمْ حَتَّى يَذْهَبَ مِنْهُ نَصِيبُ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّ لَهُ اثْنَيْنِ

۱- رواه سنن النسائی کتاب الأشربة

وَلَكُمْ وَاحِدٌ».(۱)

ترجمة: عبد الله بن یزید خطمی وایي: موږ ته عمربن الخطاب رضی الله تعالی عنه لیک ولیکی: ترحمد اوصلوة وروسته یې لیکلي وه: تاسو خپل شراب دومره پاخه کړی چې دشیطان حصه ځنی ولاړه سی، بیشکه دشیطان دپاره دوی حصی دی، اوستاسو دپاره یوه حصه ده.

داچي داوبوپه ډیریدلو شراب پاکیږي: قَالَ ابْنُ عُمَرَ: رَأَيْتُ رَجُلاً جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ فِيهِ نَبِيذٌ وَهُوَ عِنْدَ الرُّكْنِ، وَدَفَعَ إِلَيْهِ الْقَدَحَ فَرَفَعَهُ إِلَى فِيهِ، فَوَجَدَهُ شَدِيدًا فَرَدَّهُ عَلَى صَاحِبِهِ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَحَرَامٌ هُوَ؟ فَقَالَ: «عَلَيَّ بِالرَّجُلِ»، فَأُتِيَ بِهِ، فَأَخَذَ مِنْهُ الْقَدَحَ، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَصَبَّهُ فِيهِ فَرَفَعَهُ إِلَى فِيهِ، فَقَطَّبَ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ أَيْضًا، فَصَبَّهُ فِيهِ، ثُمَّ قَالَ: «إِذَا اغْتَلَمَتْ عَلَيْكُمْ هَذِهِ الأَوْعِيَةُ، فَاكْسِرُوا مُتُونَهَا بِالْمَاءِ».(۲)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چې ما یو سړی ولیدی، چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلی، یوه پیاله یی ورکړله اوپه هغه کی نبیذ وه، اوپه دغه وخت کی دی درکن سره وو، اوده مبارک خولی ته نژدی کړل نو هغه ډیرسخت اوتیز وه، اوبیرته یی خپل خاوند ته ورکړل او ردیی کړل، د خلکو دډلی ځخه یوبل سړی ورته وویل: ای دالله تعالی رسوله ایا دغه حرام دی؟ نو علیه السلام ورته وفرمایل: ماته هغه سړی راولی، نوهغه سړی ورته راوستل سو، دهغه ځخه یی هغه لوښی واخستی بیایی اوبه راوغوښتلی اوپردغه نبیذ باندې واچولی، دوهم ځل یی خولی ته پورته کړی، نودهغه سخت والی په وجه یی بیاهم خوندسم نه وو، بیایی نوری اوبه راوغوښتلی اوپه پیاله کی واچولی،اوبیایی وفرمایل: کله چی په لوښوکی شراب سخت اوتیزسی نوتاسو دهغوی تیزی په اوبو ماته کړی.

۱- سنن النسائی کتاب الأشربة

۲- سنن النسائی کتاب الأشربة

داغه حدیث په بل روایت کی داسی راغلی دی:عَنِ ابْنِ عُمَرَقَالَ شَهِدْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِشَرَابٍ, فَأَدْنَاهُ إِلَى فِيهِ , فَقَطَّبَ فَرَدَّهُ , فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ, أَحَرَامٌ هُوَ؟ فَرَدَّ الشَّرَابَ, ثُمَّ عَادَ بِمَاءٍ فَصَبَّهُ عَلَيْهِ, ذَكَرَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا, ثُمَّ قَالَ: «إِذَا اغْتَلَمَتْ هَذِهِ الْأَسْقِيَةُ, عَلَيْكُمْ, فَاكْسِرُوا مُتُونَهَا بِالْمَاءِ».(۱)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنهما فرمایی: زه حاضر وم چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شراب ورکول سول، نوده خولی مبارکې ته پورته کړل، نو هغه سخت وه بیرته یی رد کړل، نویوسړی ورته وویل: ای دالله تعالی رسوله ایا دغه حرام دی؟ نوهغه شراب یی واپس راوغوښتل، اوبیایی اوبه راوغوښتلی پر دغه شرابویی واچولی،ده ذکرکړی دی چی دوه که دری واره یی اوبه پرواچولی، اوبیایی وفرمایل: کله چی په دغو لوښوکی شراب تیز اوسخت سی نوتأسو دهغه تیزی اوسختی په اوبو سره مات کړی.

دغه پورته څه لیکنه دسوالونو په جواب کې وه اوس راځو خپل بحث ته، او په تیر بحث کې مو ولوستل چې دحرام مال څخه زکات ورکول حرام دی نوځکه د مذهب فقهاء اوعلماء حکم کوی چې دنشی په موادوکې هم زکات اوخیرات ورکول حرام دی اوفرمایی:واذاكان ثمن هذه المخدرات حراماوكان خبيثا، وكان الفاقه فى القربات كالصدقات وبناءالمساجد وحج بيت الحرام غيرمقبول، اى لايثاب المنفق عليه.(۲)

ترجمة: نوچې ددغو نشیی شیانو قیمت حرام اوناپاک دی، نودثواب په چارو کې مصرف کول لکه زکات، دمسجد جوړيدل، دبیت الله حج یازیارت په کول تول نه قبلیدونکې دی یعنی ثواب باندې نسته.

دحنفی فقهی په یوډیرمعتمد اومعتبر کتاب کې لیکلی دی: فمنها ان يكون

۱- أخرجه الطحاوى فى شرح معانى الآثار جلد ۴ ص ۲۱۹

۲- فقه على المذاهب الاربعه جلد ۵ ص ۴۱

مالا متقوما على الاطلاق، سواء كان منصوصا عليه اولا، من جنس المال الذى وجبت فيه لزكاة، اومن غير جنسه، والاصل ان كل مال يجوز التصدق به تطوعا يجوز اداء الزكاة منه والا فلا، وعندنا. (۱)

ترجمة: دزكات دشرطونوڅخه يوشرط داهم دى چې مال به مطلق متقوم وى «دمتقوم مال تعريف مخکې سوى دى، چې هغه مال ته ويل کيږى چې شرعا نفع پر اخستل جائزوى» دغه نفع پراخستل منصوصى وى که نه. اودهغه مال دجنس څخه وى چې زکات پکښى فرض دى اوکه دبل جنس څخه وى، اصل اوقانون دادى چې کوم مال دنفلى ثواب دپاره په خيرات کې ورکول جائز وى، دهغه څخه دزکات ورکول جائز دى، که نه نوجائز نه دى، اودغه هم زموږ احنافو فقهاؤ په نزد.

ددغه کتاب ليکونکې فقيه عالم موږ ته يوعام قانون راکړى هغه داچې دکوم مال څخه نفلى خيرات ورکول جائز وى، نودهغه څخه زکات ورکول هم جائز دى، او دکوم مال څخه چې نفلى خيرات ورکول جائز نه وى، دهغه څخه زکات ورکول هم جائز نه دى، نوداچې نشه اونورنشه لرونکې شيان حرام دى، اودهغوى څخه نفلى خيرات ورکول جائز نه دى، نودهغوى څخه فرضى زکات ورکول هم جائز نه دى، ځکه په يوحديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايى: عن على عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه قال لازكاة فى مال الضمار. وهو مال الذى لاينتفع به.(۲)

ترجمة: على رضى الله تعالى عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوى چې ده وفرمايل: دضمار په مال کې زکات نسته، دضمار مال هغه دى چې شرعا نفع پراخستل جائز نه وى.

داچې افيون اونور نشه لرونکې شيان مال متقوم نه دى يعنى شرعا پردوى نفع اخستل جائز نه ده ځکه نشه لرى اونشه حرامه ده، نودثواب په نيت نفلى خيرات

۱- بدائع الصنائع ج ۲ ص ٤٦١ ۲- بدائع الصنائع ج ۲ ص ۳۹۰

پکښې ورکول جائز نه دی، نو فرضي زکات ځنې ورکول هم جائز نه دی.

دغه پورته ذکرسوی اختلاف په حرام مال سره فرضي عبادت اداء کولو کې دی، په نفلي عباداتو کې لکه په حرام مال سره نفلي حج، عمره کول، یاخیرات کول دټولوعلماؤ اوفقهاؤ په نزد حرام دی، مطلب داچې عام طور عبادت پردرې ډوله دی: یوبدني عبادت دی لکه لمونځ روژه، اوبل خالص مالي عبادت دی لکه زکات اومالي صدقات اوخیرات، بل مالي اوبدني عبادت دی لکه حج، عمره اوجهاد، نو هغه چې خالص مالي عبادت دی لکه زکات اوخیرات فرضي وی که نفلي دواړه په حرام مال سره نه صحیح کیږي اونه قبلیږي، اوکوم چې مالي اوبدني عبادت دی لکه حج اوعمره په فرضي کې صحیح کیږي خوثواب نه ورکول کیږي، اوپه نفلي کې نه صحیح کیږي اونه قبلیږي اونه ثواب ورکول کیږي.

دحرام مال په خیرات کې ثواب نسته

دزکات، خیرات اوثواب په نیت حرام شی چاته ورکول یااخستل دواړه حرام دی، په داسې حال کې چې ورکونکې اواخستونکې په حرمت خبروی، او که څوک یې دثواب په نیت ورکوی نوثواب خو نلري بلکې عذاب لري، څکه دالله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم خبر راکوی اوفرمایي: ۱- عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم: قال من جمع مالا حراما ثم تصدق به لم یکن له فیه اجر، وکان اصره علیه.یعنی اثمه وعقوبته علیه.(۱)

ترجمة: ابوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې حرام مال جمع کړی اوبیادهغه څخه زکات اوخیرات ورکړی نو دده دپاره په دغه کې هیڅ ثواب نسته، بلکې ددغه عذاب به پرده باندې وی.

۱- کنز العمال ج ۴ نمبر ۹۲۶۹

په يوبل حديث کې فرمايي:۲- قال رسول الله صلى الله عليه وسلم (من اصاب مالا من ماثم، فوصل به رحما، اوتصدق به اوانفقه في سبيل الله جمع ذلک جميعا، ثم قذف به جهنم. (۱)

ترجمة: بل دليل هغه حديث دی چې قاسم بن مخيرة روايت کوی چې (رسول الله صلى الله عليه وفرمايل: چاچې دحرامی ياګناه دلاری مال حاصل کړی، نوده دصله رحمی پربنياد وخپلو قريبانوته ورکړی، اويايې خيرات کړی، اويادالله تعالی په لاره کې ورکړی، نودغه ټوله به سره يوځای سی اوبيابه دغه کس سره به وجهنم اودوزخ ته وغورځول سی.

په يوبل حديث کې راځی: ۳- وروی عن النبی صلى الله عليه وسلم انه قال: اذاخرج الحاج بالنفقة الخبيثة فوضع رجله في الغزر، ای الرکاب، وقال لبيک، ناداه ملک من السماء لا لبيک، ولاسعديک، وحجک مردود عليک. (۲)

ترجمة: دنبی صلى الله عليه وسلم څخه روايت دی چې دده وويل:کله چې يو حاجی په حرامه نفقه يامال سره ووزی نودی خپله پښه دآس په رکاب کې کښيږدی او وايی لبيک ،يوه ملکه دآسمان دطرفه آوازورته وکړی نه لبيک اونه سعديک دی، اوستاحج پرتاباندې مردود دی.

په يوبل اثرکې راځی:۴- عن عبد الرحمن بن شريح الخولانی انه کان له عم يبيع الخمر وکان يتصدق بثمنه فنهته عنها. (۳)

ترجمة: عبدالرحمن بن شريح خولانی وايي: دده يواکا شراب خرڅول اوقيمت به يې صدقه يا خيرات کوی نودی دداسې کولو څخه منع سو.

دغه پورتنی ټول حديثونه يودبل سره تائيد اودليل دی پردغه باندې چې الله

۱- کنز العمال ج ۴ نمبر ۹۲۶۵ ومافي مراسيل القاسم بن مخيرة

۲- فقه على المذاهب الاربعه ج ۵ ص۴۱ ۳- مستدرک للحاکم کتاب الاشربة

تعالی دحرام مال څخه زکوة، خیرات اوحج نه قبلوی، ځکه که دی پردغه حرام باندې دثواب هیله اوامید لری نو دحلال والی حکم به پرکوی، اویابه پرالله تعالی باندې داسې ګمان کوی چې الله تعالی یوځل شی حرام کړی اوبیاهغه خپله قبلوی اوثواب باندې ورکوی، اوپرالله تعالی باندې داسې ګومان کول پر الله تعالی باندې افتراء اودرواغ ویل دی، پرالله تعالی باندې افتراء اودرواغ ویل کفر دی.

په حلال مال کې الله تعالی

برکت اچوی

په مخکنې بحث کې ولیکل سوله چې الله تعالی دحرام مال څخه زکات، خیرات نه قبلوی په دغه بحث کې دی ته اشاره کول کیږی چې الله تعالی په حلال مال کی برکت اچوی، ځکه داسلام پیغامبردالله تعالی برحق رسول صلیٰ الله علیه وسلم په خپل مبارکوحدیثونوکې په ډیر وضاحت اوصراحت سره فرمایی:

۱- عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا تَصَدَّقَ أَحَدٌ بِصَدَقَةٍ مِنْ طَيِّبٍ، وَلَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ، إِلَّا أَخَذَهَا الرَّحْمَنُ بِيَمِينِه، وَإِنْ كَانَتْ تَمْرَةً، فَتَرْبُو فِي كَفِّ الرَّحْمَنِ حَتَّى تَكُونَ أَعْظَمَ مِنَ الْجَبَلِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ أَوْ فَصِيلَهُ». (۱)

ترجمة:سعید بن یساروایی مادابوهریرةرضی الله تعالی عنه څخه واوریدل چې ویلی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یوخیرات کونکې چې دپاک او حلال مال څخه خیرات ورکړی اوالله تعالی نه قبلوی مګر پاک اوحلال مال قبلوی، نوڅوک چې دخپل پاک مال څخه صدقة اوخیرات کوی الله تعالی هغه په خپل راسته لاس کې (بلاکیف) واخلی، که څه هم یوه خرماوی (په عربوکې دغه یوه خرما ډیرکم شی دی) اوالله تعالی هغه صدقة اوخیرات په خپل لاس کې تربیه کوی او

۱- صحیح مسلم کتاب الزکات

لویه وی، ترخوچې ترغره هم غټې سی، لکه له تاسو څخه چې خپل دآس بهاڼ، یا داوښ جونګی روزی اولویوی.

دحدیث شرح کونکې وایي: دالله تعالی دراسته لاس داخستلو څخه مراد قبلیدل دی که نه نود الله تعالی هرلاس راسته دی، دتربیې څخه مراد دثواب څوچند کیدل دی، ځکه داغه حدیث په صحیح بخاری کې په داسې الفاظو نقل سوی دی:

۲- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: «مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلاَ يَقْبَلُ اللَّهُ إِلاَّ الطَّيِّبَ، وَإِنَّ اللَّهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِه، ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِه، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ، حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الجَبَلِ».(۱)

ترجمة: ابوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: څوک چې دیوی خرما په اندازه خیرات دخپل پاک اوحلال مال څخه ورکړی اوالله تعالی نه قبلوی مګر نه پاک اوحلال مال، نوالله تعالی هغه په خپل راسته لاس کې قبلوی، اوبیایې دخپل خاوند دپاره غټوی لکه یوستاسو څخه چې دآس بهاڼ (بچې) لویوی، ترڅودومره غټې سی لکه غر په قرآن کریم کې الله عزوجل فرمایي: وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلاَ يَرْبُوعِنْدَ اللَّه.(۲)

ترجمة: اوهغه څه چې تاسوورکوی دسود دمالونوڅخه ددی دپاره چې دخلګو په مالونو کې زیاتوالی راسی، خودالله تعالی په نزد هغه نه زیاتیږي.

۳- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لاَ يَتَصَدَّقُ أَحَدٌ بِتَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، إِلاَّ أَخَذَهَا اللهُ بِيَمِينِه، فَيُرَبِّيهَا كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ أَوْ قَلُوصَهُ.(۳)

ترجمة: ابو هریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خیرات به نکوی یوستاسو څخه یوه خرما دخپل حلال کسب څخه مګرنه الله تعالی به هغه پخپل راسته لاس کې واخلی، نوهغه به داسې تربیه

۱- صحیح البخاری کتاب الزکات -- ۲- سورة الروم آیت ۳۹ -- ۳- صحیح مسلم کتاب الزکات

کړی لکه تاسو چې خپل د آس بهاڼ (بچې) تربیه کوی.

حرام ته حلال ویل کفر دی

دحرام مال پرزکات یاخیرات ثواب غوښتل دامعنی لری چې دی حلال ورته وایی، نوڅوک چې حرام ته حلال یاحلال ته حرام وایی، نوداسې عقیده درلودل دهغو آیتونو او حدیثونو خلاف ده کوم چې مخکې په ډیر تفصیل ذکرسوی دی، اوهم داهل سنت والجماعت دعقیدی خلاف دی ځکه په دی هکله څه دحنفی مذهب او نورو معتمدو عالمانو اوفقهاؤ اقوال نقل کوم: ۱- من استحل حراماوقدعلم فی دین النبی صلی الله علیه وسلم تحریمه، کنکاح ذوی المحارم، اوشرب الخمر، اواکل المیتة، اودم، اولحم خنزیر من غیر ضرورة فکافر. (۱)

ترجمة: کچا حرام ته حلال وویل په داسې حال کې چې دی خبروو چې دغه دنبی صلی الله علیه په دین کې حرام دی، لکه دذوی المحارمو سره نکاح کولوته، دشرابو چیښلوته، دمردارسوی حیوان غوښی خوړلوته، دښارګ وینه خوړلوته، بیله ضرورته دخنزیر غوښی خوړلوته حلال وو ایی نو کافردی.

۲- أما الخمر فیتعلق بها أحکام، منها أنها نجسة غلیظة، بمعنی أنها نجسة العین کالبول وغیره من الأعیان النجسة, وأنها محرمة ویحکم علی مستحلها بالکفر. (۲)

ترجمة: دشرابو په اړه ډیر حکمونه تعلق لری، دهغوی څخه یودادی غلیظ یا سخت نجس او مرداردی، معنی داچې نجس العین دی لکه بولی اونور نجس العین شیان، اوبل داچې حرام دی که څوک حلال ورته ووایی پرهغه دکفرحکم کول کیږی.

۳- وهی: أی الخمر نجسة بنجاسة مغلظة کالبول, ویکفر مستحلها. (۳)

ترجمة: دغه خمر نجس مغلظ دی لکه بولی، ورته حلال ویونکې کافر کیږی.

۱- شرح ملا علی قاری علی الفقه الاکبر ص۱۵۲

۲- بدائع الصنائع للکاسانی، ج۵ ص ۱۱۲ -- ۳- حاشیة ابن عابدین رد المحتار ج ۱۰ ص ۳۳

۴- قال شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله: والحشيشة المسكرة حرام ومن استحل المسكر منها فقد كفر، بل هى فى اصح القولي العلماء نجسة كالخمر، فالخمر كالبول والحشيشة كالعذرة. (۱)

ترجمة: شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله ويلى دى: نشه کونکې چرس حرام دی، څوک چې نشه کونکې شی ته حلال وایی نوبیشکه کافردی، بلکې دعلماؤ په صحیح قول کې نجس دی لکه خمر، نوخمر لکه بولی اودغه نورنشه کونکې شیان لکه قازورات یاپاخانه.

۵- فكل مسكر مطرب من اى نوع كان من الانبذة والاشربة محرم العين نجس الانتفاع، فاراقتها دليل على انها لاتصلح لاى استعمال، وهذا مافهمه الصحابة رضى الله عنهم، والقول بطهارتها لم يقل به احد منهم. (۲)

ترجمة: نوهرنشه کونکې اومستونکې شی دهری نوع چې وی لکه نشه کونکې شیری او شربتونه عین حرام دی، اونفع پراخستل نجس دی،داچې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددوی دتوییدلو حکم کړی دی ددی دلیل دی چې دهیڅ ډول استعمال صلاحیت نلری، صحابه کرامو همدغه معنی فهولی ده،یوه هم ددوی څخه په پاکوالی قول نه دی کړی.

۶- ونقل عن الجامع وغيره إن من قال بحل البنج والحشيشة فهو زنديق مبتدع، بل قال نجم الدين الزاهدى: أنه يكفر ويباح قتله. (۳)

ترجمة: دجامع اونورو کتابونو څخه نقل سوی دی: هغه څوک چې بنج او چرسوته حلال وایی نوهغه زندیق اومبتدع دی، بلکې نجم الدین زاهدی وایی: بیشکه دغه کافر اومرګ یی جائز دی.

۱- مجموع الفتاوى لابن تيمية ج ۳۴ ص ۲۰۴

۲- البيوع المحرمة والمنهى عنها. ص ۲۱۵ -- ۳- الدر المختار شرح تنوير الأبصار ص ۶۷۸

څه فتواوی اودهغوی ترمنځ تضاد

ددی عنوان څخه مطلب دادی چی دمنطقی څه علماء دفتاواوو دڅه کتابونو دعبارتونو په حواله دنشی دموادو پرحلال والی حکم کوی. اودهغوی په عبارتونو دلایل وایی، چی افیون، چرس، تنباکو اوداسی نور حلال اومباح دی، نوپه دی بحث کی به اول دفتوی حیثیت وګورو، اوبیابه ددوی دفتواو ترمنځ تضاد اوټکرته څه اشاره وکړو، اوددوی دکتابونو به څه عبارتونه رانقل کړو ترڅو معلومه سی چی په داسی عبارتونو اوفتواوو باندی حکم کول صحیح دی که نه؟ یومنصوصی حرام ته حلال ویل کیدایسی که نه؟

دفقهاؤ په نزد دفقهی داصولو مطابق یوه قضاء ده یوه فتوی ده، قضاء هغه ده چې د وقت دحاکم لخوا یوعالم دمسلمانانو په منځکې دفیصلی کولوډپاره مقرر کړی نودغه عالم ته قاضی او حکم ته یی قضاء ویل کیږی.

اومفتی هغه عالم ته ویل کیږی چې دحاکم دطرفه نه بلکې خلګ په خپله دیوعالم څخه دیومسئلی پوښتنه کوی اوهغه ورته حکم ورکوی نودغه عالم ته مفتی اوحکم ته فتوی ویل کیږی، نود قاضی حکم نافذ دی یعنی عمل په کول لازمی دی، ځکه چې هغه دحاکم نائب دی اطاعت یی واجب دی، لکه خپله دحاکم اطاعت چې واجب دی، خودمفتی حکم نافذ نه دی، معنی داچې لازمه نه ده چې د مفتی په حکم یاخبره عمل وسی، که ددغه مفتی حکم دفقهی دځلورو دلائلوڅخه یودلیل ورسره ذکر کړی وو نودهغه دلیل داتباع په خاطر عمل په کول لازمی دی که دلیل ورسره نه وو نو هغه دده خپله رایه بلل کیږی عمل په کول لازمی نه دی، بلکې که دقرآن، حدیث اونورو شرعی دلائلو سره ښکاره تضاد اوټکر ولری نو عمل په کول ګناه لری.

دخپل وخت څه علماؤ دافیون چرسو اوداسې نورونشه لرونکوشیانوپه هکله

څه بې دليله فتواوي په خپلو کتابونو کې ليکلي دي، کيدايسي چې هغوی په خپل وخت کې دعوامو دپوښتنو په جواب کې ورکړي وي، دليل ځکه ورسره نه وي چې عامي سړي دليل ته ضرورت نه لري اونه په پوهيږي، خو داوسني زماني څه عالمان دهغوی دغه بې دليله اقوال ديوشي دحلال اوحرام دپاره ددليل په ډول وړاندي کوي، چې د هغوی د جملي څخه څه په لاندي ډول دي:

١- وصح بيع غيرالخمر مما مر ومفاده صحة بيع الحشيشة والافيون. قال ابن عابدين تحت قوله وصح بيع غيرالخمر اى عنده، خلافا لهما فى البيع والضمان، لكن الفتوى على قوله فى البيع وعلى قولهما فى الضمان. (١)

ترجمة: دشرابو څخه علاوه دنورو بيع صحيح ده لکه چې مخکې تيرسوه، ددې فايده داسوله چې دچرسو اوافيون بيع صحيح ده. ابن عابدين «درد المحتار مصنف» ددې قول لاندې ليکي چې وايي چې بيله شرابو دنورو بيع صحيح ده يعنى دامام صاحب په نزد، خو دده ياران دده سره اختلاف لري په بيع اوضمان دواړو کې، خوفتوی په بيع کې دامام صاحب پرقول ده اوپه ضمان کې ديارانو پرقول ده.

مطلب داچې امام صاحب وايي بيع صحيح ده خوکه دغه شی دمشتري په لاس کې هلاک سی ضمان يې نسته، اودده ياران وايي چې بيع هم نه ده صحيح اوضمان يې هم نسته.

نوداڅنګه کيداي سی چې بيع صحيح وی اوضمان دی نه وی؟ نومعلومه سوله چې نه بيع صحيح ده اونه ضمان سته لکه دامام صاحب ياران چې وايي.

بل داچې خپله درد المحتار مصنف په بل ځای کې داسې ليکي: وبطل بيع مال غيرمتقوم كخمر وخنزير، فالمال المتقوم هو المال المباح الانتفاع به شرعا.(٢)

ترجمة: دغيرمتقوم مال بيع باطله ده، لکه شراب اوخنزير، اومتقوم مال هغه

١- ردالمحتار ج٥ ص ٣٢٣ ٢- ردالمختار ج٤ ص١١٣

دی چې پرهغه باندې په شریعت کې نفع اخستل جایزوی.

په اول عبارت کې لیکلی دی بیله خمره دټولو بیع صحیح ده، دلته وایي: دغیر متقوم مال بیع باطله ده، لکه خمر اوخنزیراوبیادغه حکم نور هم عام کوی او وایي: مال متقوم هغه دی چې شرعا نفع پر اخستل جائز اومباح وی، اوداثابته خبره ده چې هرنشه لرونکې شی حرام دی اوپرحرام نفع اخستل جائز نه ده. نوچې نفع نه پر اخستل کیږی هغه مال متقوم نه دی، چې متقوم نه وی دهغه بیع باطله ده، او دباطلی بیع حکم دادی چې نه صحیح کیږی اونه یی ضمان سته، لکه دامام صاحب یاران چې وایي.

اوبل داچې دردالمحتار مصنف په بل ځای کې لیکلې دی: قال فی شرح التنویر: (وحرمها محمد) الأشربة المتخذة من العسل والتين ونحوهما، قال المصنف (مطلقا) قليلها وكثيرها، وبه يفتى، ذكره الزيلعي وغيره، وقال ابن عابدين: قوله وغيره كصاحب الملتقى والمواهب والكفاية والنهاية والمعراج وشرح المجمع وشرح درر البحاروالقهستاني والعيني حيث قالوا الفتوى فى زماننا بقول محمد لغلبة الفساد، وعلل بعضهم بقوله لأن الفساق يجتمعون على هذه الأشربة ويقصدون اللهووالسكربشربها، اقول: الظاهر مرادهم التحريم مطلقا وسدالباب بالكلية.(۱)

ترجمة: په شرح تنویرکې ویلی دی (چې امام محمد حرام بللی دی) هغه نشه کونکې شربتونه چې دعسلو، انځرو اوداسې نورو څخه جوړ سوی وی،مصنف وایي مطلق حرام دی لږوی اوکه ډیر، اوپه همدغه قول فتوی کول کیږی، همدغه قول زیلعی اونوروذکرکړی دی. ابن عابدین (درد المحتار مصنف) وایي: دغیره څخه دالملتقی، المواهب، الکفایة والنهایة، المعراج، شرح المجمع، شرح درر البحار،قهستانی اوعینی کتابونوخاوندان مراد دی، دوی ټولو ویلی دی چې زموږ

۱- رد المحتار علي درمختار ج۵ ص ۳۲۳

په زمانه کې فتوا د امام محمد رحمة الله تعالى عليه پرقول ده، ځکه چې فساد غالب دی،اوڅه کسانو داعلت ویلی دی چې فاسقان پردغه نشیي شیانو راټولیږي اوددغه دچیښلومقصد لهواونشه ده، دردمحتار مصنف وایي زه وایم چې ددوی مراد مطلق حرام والي دی، ترڅوچې دغه دروازه بالکل بنده سي.

دلته ښکاره تضاد دادی چې دمخکی ویلی دی چې فتوی دامام صاحب پرقول ده، خودلته بیا وایي فتوی دامام محمد صاحب پرقول ده، اودحنفی فقه ډیر معتبر کتابونه یې لیکلی دی چې ددوی ټولو همدغه رایه ده، اوبیا په آخرکی خپله رایه هم بیانوی چې ددوی مراد مطلق حرمت دی، نودغه ټکر اوتعارض دی.

په بل ځای کې فرمایي: أما آراء الفقهاء فی حکم تعاطی هذه المخدرات من الحشیشة، والأفیون، والمورفین، والکوکاین، والهیروین، والبنج، والعنبر، والزعفران، فإن فقهاء المذاهب الأربعة متفقون علی تحریم القدر المغیب للعقل من هذه المواد وما أشبهها من کل ما یغطی العقل، ویضر البدن.(۱)

ترجمة: دفقهاؤ آراء ددغه نشه لرونکو شیانو دحکم په باره کې لکه چرس، افیون، کوکاین،هیروین، بنجې، عنبر اوزعفران، بیشکه دڅلورو مذهبونو فقهاء اتفاق لري چې ددغو موادو اوددی په شان نورو دومره اندازه حرامه ده چې پرعقل پرده اچوی اوبدن ته ضرر رسوی.

یوبل ځای بیا وایي: (وفی حاشیة ابن عابدین ....ولایجوز بیعها، لأن الله تعالی لما نجسها فقد أهانها والتقوم یشعرها بعزها. (۲)

ترجمة: دابن عابدین په حاشیه (رد المحتار) کی لیکلی دی (دشرابو خرڅیدل جایزنه دی، ځکه الله تعالی نجس بللی دی، نوددوی اهانت یې وکړی، اوخرڅیدل او رانیول ددوی دعزت معنی لري.

۱– تحقیق علی ردالمحتار علی درالمختار، کتاب الحدود ص ۷٦ –– ۲– رد المختار علی درمختار ج ۱۰ ص ۳۳

په درمختار کې چې درد محتار متن دی لیکلی دی: ويحرم أكل البنج والحشيشة والأفيون، لأنه مفسدة للعقل، ويصد عن ذكرالله وعن الصلوة. (۱)

ترجمة: دبنج، چرسو اوافیون خوړل یا څکول حرام دی، ځکه دغه عقل فاسد کوی اودالله تعالی دذکر اولمانځه څخه یې منع کوی.

دلته پورته ذکرسوی شیانوته حرام ویل سوی دی، اودحرمت یې هغه علتونه بیان کړی دی کوم چې رب العالمین دخمر دحرمت دپاره بیان کړی دی، نومعلوم سو چې ټول حرام دی اودټولو دحرمت علت سره یو دی.

پورتنی عبارتونه که په سطحی نظر مطالعه سی نوهم په ډیر ښکاره ډول ددوی ترمنځ داسی تضاد اوټکر معلومیږی چې هرعالم یې درک اوفهم کولای سی.

بل کتاب چې زموږ دعلماؤ په منځ کې ډیر معتبر اوحکمونه ځنی اخستل کیږی اودلیل په ویل کیږی او دهغه په فتوا اوحکمونو کې هم ښکاره اختلاف دی لکه داچې وایی: سوال: مسلمان کو افیون، چرس، اور کوکین کا تجارت کرنا اوراس سے منافع حاصل کرنا اپنی ضروریات زندگی میں صرف کرنا شریعت محمدی سے جائز ہے یا نہیں؟ اوراگر کوئی اس تجارت میں سے کسی دوسری مسلمان کے دعوت کری اس شخص کو باوجود علم ہونے کے دعوت کھانا جائز ہے یا نہیں؟.(1)

ترجمة: مسلمان ته دافیون، چرسواوکوکینو تجارت کول اودهغه څخه دحاصل سوی منافع باندې خپل دژوندانه ضرورتونه پوره کولو حکم په محمدی شریعت کې څه دی؟ جائز دی که ناجائز دی؟ اوکه دداغه تجارت دمال څخه دبل مسلمان دعوت یامیلمستیا وکړی نوهغه سړی ته دعلم اوخبر تیاسره دهغه دعوت خوړل جائز دی که نه؟.

جواب: افیون،چرس اور کوکین یہ تمام چیزیں پاک ہیں اورانکا دوامیں خارجی استعمال جائز ہے،

۱- الدر المختار شرح تنوير الابصارص ۶۷۸ -- 1-کفایت المفتی ج۹ کتاب الحظروالاباحۃ.

نشه کی غرض سے ان کو استعمال کرنا ناجائز ہے، مگر ان سب کی تجارت بوجہ فی الجملہ مباح الاستعمال ہونے کی مباح ہے، تجارت تو خمر اور خنزیر کی حرام ہے، کہ ان کا استعمال خارجی بھی ناجائز ہے. محمد کفا یت اللہ کان اللہ لہ، دھلی

ترجمة: افیون، چرس اوکوکین دغه ټول پاک دی اوپه خارجی دواءکې ددوی استعمال جائز دی، دنشي په غرض ددوی استعمال جائز نه دی، مگر ددوی ټولو تجارت دځه وجهې مباح اوجائزدی تجارت خودشرابواوخنزیرحرام دی ځکه چې دهغوی خارجي استعمال هم جائزنه دی.

خوپه دغه لاندې فتوی بیا ددې څخه خلاف ده:

سوال: گانجا، افیون، چرس، بھنگ ان چاروں کی متعلق شریعت کا کیا حکم ہے حرام ہے یا مکروہ؟

ترجمة: دگانجا،افیون،چرسواوبنگوپه باره کې دشریعت څه حکم دی حرام دی که مکروه؟

جواب: گانجا، چرس، افیون، بھنگ یہ سب چیزیں ناپاک نہیں ہے، ان کا کھانا تو حرام ہے اسلئیے کہ نشہ لانی والی ہے، یا نشہ جیسے آثار ونتائج پیدا کرتی ہیں. (1)

ترجمة: گانجا،چرس، افیون اوبنج دغه ټول شیان ناپاک نه دی، دهغوی خوړل حرام دی ځکه چې نشه لري اویادنشې په شان آثار لري.

ملاحظة: دکفایة المفتی دغه پورتنی حکم دیوبل حکم سره تضاد لری لکه چې وایي: سوال: خمر اودیگر مسکرات بغرض سکر حرام ہے؟ یاکوئی اور وجہ سے؟ اگر بغرض سکر حرام ہے تو بغرض دوا استعمال کی کیوں اجازت دی گئے حلانکی حدیث میں ممانعت موجود ہے (لاشفاء فی الحرام)؟(2)

ترجمة:نشه اونور نشه کونکې شیان دنشې په وجه حرام دی که بله وجه ده؟ که دنشې په وجه حرام دی نوددواء دپاره ولی داستعمال اجازه ورکول سوی ده په

1-کفایت المفتی کتاب الحظر والاباحة-- 2-کفایت المفتی ج۶ کتاب الحظر والاباحة

داسې حال کې چې په حدیث کې ممانعت موجود دی، (په حرامو کې شفاء نسته).

جواب: خمر اور دیگر مسکرات حرام ہیں، ان کو بغرض سکر استعمال بھی حرام ہیں، اور بغرض دوا بھی استعمال کرنا حرام ہیں. لکن ایسی حالت مین کہ کسی کو مرض مھلک لاحق ھو اور وہ تمام صورتین دواعلاج کا ختم کرچکاہو، اور طبیب مسلم حاذق نے بتایاہو کہ اب تیرا علاج خمر یا تاڑی کی سوااور کچھ نہیں تو اس کو خمر یا تاڑی کا استعمال کرنامباح ہو جاتاہے، جیسے مضطر کو خنزیر کھالینا یا خمر کی ذریعہ سے حلق میں پھنسا ھوا لقمہ جب کہ جان کا خوف ھو اتارلینا مباح ہو جاتاہے.

حدیث جو سوال میں مذکور ہے اسکا مطلب یہ ہے کہ بغیر ایسے ضرورت کی خمر کو دواء استعمال کرنا حرام ہے، اور جب شفاء کا انحصار خمر میں ہو جایی تو وہ حرام نہیں رہتے بلکہ مباح ہو جاتی ہے، لھذا لاشفاء فی الحرام اس پر عائد نہیں ہوتا، اور بعض منافع کا خمر میں ہونا قرآن سے ثابت ہے، (قل فیهما اثم کبیر ومنافع للناس) مگر غلبہ مضرت کی وجہ سے اسکو عام حالات میں حرام فرمادیاہے، اضطرار وانحصار شفاء کی حالت مستثنی ہے جیسی خنزیر عام حالات میں حرام مگر اضطرار میں مباح ہو جاتاہے، پس میرا جواب ان تمام قیود کی ساتھ جو میں نے لکھی تھیں صحیح ہے. (1)

ترجمة: شراب اونور نشه لرونکې شیان حرام دی، دنشې دپاره استعمال هم حرام دی او د دواء دپاره استعمال هم حرام دی، خو په داسې حال کې چې یوڅوک په داسې هلاکونکې ناروغی اخته وی چې ددواء اوعلاج ټول صورتونه یې ختم کړی وی، اوبیا یو ښه تجربه کار مسلمان طبیب ورته ووایي چې اوس ستاعلاج په شرابو یاافیون سره دی ددی نه علاوه په بل هیڅ شی سره نه کیږي، نوده ته د شرابو او افیون استعمال مباح ګرځي. لکه چې مضطر ته دخنزیر خوړل یادشرابو په ذریعه په ستوني کې بنده سوی ګوله تیرول کله چې ژوند ته خطره وی نو خوړل مباح دی.

1- مفتی کفایت الله کفایت المفتی ج ٦ کتاب الحظر والاباحة

په سوال کې چې کوم حديث ذکر سوی دی،دهغه مطلب دادی چې بيله داسې ضرورته شراب ددواء دپاره استعمال حرام دی،اوکله چې دشفاء انحصار پرشرابو وسی نوبياحرام نه دی بلکه مباح گرځی، نوځکه پردغه باندې د(لاشفاء فی الحرام) اطلاق نه کول کيږی،اودشرابوځه منافع په قرآن ثابت دی ځکه وايی(قل فيهما اثم کبير ومنافع للناس) خوداچې په شرابوکې ضرر غالب وو نوځکه يی په عام حالاتو کې حرام وگرځول، خودضرورت په وختکې مباح گرځی، نوز ماجواب ددغو ټولو قيدونو سره چې ماليکلی دی صحيح دی.

ملاحظة: که يوعالم په غور مطالعه وکړی نونه يوازی داچې دده دخپل داول، دويم اودريم جوابونو ترمنځ تضاد اواختلاف دی بلکه دمخکنيو ذکرسوی عربی کتابونو اوحکمونو سره هم په ښکاره ډول تضاد اواختلاف معلوم دی،' چې کله وايی مباح دی اوکله وايی حرام دی، حال داچې يوشی په يوه حال کې حلال او احرام نسی کيدلای. اومونږ مخکی يومستقل عنوان (ضرورت څه ته وايې) جوړکړی اوپه هغه کی موپه ډير تفصيل اودلايلو ثابته کړله چې ناروغی داسی ضرورت نه دی چې دحراموخوړل ورته جايز سی،که وهغه ته مراجعه وسی نوموضوع ښه روښانه کيږی.

که داغه فتوی درد محتار دفتوی سره مطالع کړو نوتضاد يې نورهم ښکاره کيږی هغه داچی درد محتار مصنف په خپل يوکتاب کی داسی ليکلی دی: قال الحنفية: يجوزالتداوی بالمحرم إن علم يقينا أن فيه شفاء، ولايقوم غيره مقامه، أما بالظن فلا يجوز، وقول الطبيب لايحصل به اليقين، ولايرخص التداوی بلحم الخنزير وإن تعين.(۱)

ترجمة: حنفی عالمانو ويلی دی: چې په حرامو سره علاج اوتداوی کول جايز ده،که يقينی معلومه سی، چې په دغه دواءکې شفاء ده، اوبل شی ددی پرځای نسی دريدلای، خو په گمان باندې جايز نه دی، اودطبيب په قول سره يقين نه حاصليږی،

۱- الهدية العلائية للعلامة الشيخ علاء الدين عابدين. ص ۲۵۱

اوخنزیر په غوښو تداوی کول جایز نه ده که څه هم دامعلومه سی چې په دغه کې علاج سته.

په اوله فتوی کی لیکلی دی دطبیب په قول یقیق حاصلیږی خوپه دویمه فتوی کی لیکلی دی چی دطبیب په قول یقین نه حاصلیږی، مهمه نکته: داچی په شرابو هم دګولی تیریدل جایز کړی دی، حال داچی دغه هم یونوعه علاج دی، نوکه دعلاج دپاره دشرابو څښل جایز سی نوددغی فتوی لمخی دشرابو جوړیدل، تجارت اوداسی نور ټول جایز بلل کیږی، نوهم دزکات ورکول اوداسی نورو ټولو دجواز حکم ورکول کیدایسی، حال داچی داسی قول په هیڅ دین اومذهب کی صحیح نه دی اونه چاداسی قول کړی دی.

راسی چې دیوبل کتاب فتواوو اوسوال اوجواب ته هم یو نظر وکړو چې هغوی څومره تضاد او اختلاف لری، اوخلګوته څنګه حکمونه ورکوی.

سوال ایک شخص افیون کا کاربار کرتا ہے تواس کے مال پر زکات واجب ہے کہ نہیں؟

ترجمة: سوال یوسړی دافیون کاروبارکوی نودهغه په مال کې زکات واجب دی که نه؟

جواب: *ہروہ چیز جسکا خارجی استعمال ہوتاہو تواسکے کاروبار میں کوئی شرعی قباحت نہیں ہے اسلئے افیون کا کاروبار درست ہے، اوراسکے مالیت میں زکوات بھی واجب ہے، البتہ بہتر یہ ہے کہ اگرکوئی اورکاروبار مل جایئ تواسکوترک کردی. (۱)*

جواب: هرهغه شي چې دخارجی استعمال دپاره وی نودهغه په کاروبارکې هیڅ بدی نسته، نوځکه دافیون کاروبار صحیح دی اودهغه په مالیت کې زکات هم واجب دی، البته ښه داده که بل کاروبار ورپیداسي نودغه کاروبار دی پریږدی.

که دفتاوی حقانیه دغه فتواددی ددوهمی فتوی سره مطالعه سی نوهم

1- فتاوی حقانیہ ج۳ص۵۰۹

ډیر تضاد او ټکر سره لري لکه چې وایي: سوال افیون کی کاشت کا شرعی نکتہ نظر سے کیا حکم ہے؟

ترجمة: سوال: دافیون کښت دشریعت دنظره څه حکم لري؟

جواب: افیون ایک ایسی چیز ہے جس سے عصر حاضر میں خطرناک اور مہلک ترین منشیات (یعنی ہیروین) تیار کی جاتی ہے جس سے پوری دنیا تباہی اور بربادی کے لپیٹ میں ہے، اور اسکے مضر محض ہونے پر اقوام عالم متفق ہیں، اسلیئے اسکے کاشت او خرید وفروخت کی جواز کی کوئی خاص دلائل نہیں پائی جاتی ہے، بلکی عام اقوال اس کی حرمت کا موئید ہیں، تاہم اگر افیون کا استعمال دوائی تک محدود ہو یا تخم افیون (خشخاش) حاصل کرنا مقصود ہو تو ان ضروریات کی مطابق محدود پیمانی پر اس کی کاشت کے گنجایش پایی جاتی ہے، لیکن معاشرہ میں یہ نیت بہت کم پایی جاتی ہے. (۱)

جواب: افیون یوداسې شی دی چې په اوسنی زمانه کې ډیرخطرناک او هلاکونکې نشه کونکې شی ځنی جوړیږی لکه هیروین، چې دهغه یوجه ټوله دنیا د تباهی اوبربادی سره مخامخ ده،اوددی پرخالص ضرر باندې ټوله دنیا متفقه ده، ځکه ددوی دکښت اوخرڅولواورانیولو پرجواز باندې خاص دلائل نسته، بلکې عام قولونه ددی پرحرام والی دلالت کوی، که دافیون استعمال یوازی ددواء دپاره یادافیون دتخم (خشخاش) دحاصلولو دپاره وی نوبیاپه لږانداز دکښت کولو دپاره څه لاره پیداکیدلاي سی، خوپه ټولنه کې داسې نیت کول ډیرکم دی.

نه یوازی داچې دخپلی مخکنی فتوی سره تضاد او ټکر لري بلکې په افیون کې دزکات د وجوب حکم یې هم ورکړی اودافیون تجارت یې جایز بللی دی، حال داچې مونږ مخکې ثابته کړه چې افیون نشه لري اوهرشی چې نشه لري حرام دی، او په حرام مال کې زکات ورکول حرام دی، ځکه چې زکات په حلال مال کې واجب دی، هرڅوک یې په خپله تضاد مطالعه کولایسی.

۱- فتاوی حقانیہ ج ۶ ص ۴۳۵

دلوستونکو داستفادي اومطالعي دپاره دڅه نوروکتابونوحکمونه او فتوی لیکم چې لوستونکې دوخت دعلماؤحکمونه وګوري اوصحیح لاره پیدا کړي.

سوال: افیون مال متقوم ہے اور اس میں عشر واجب ہے یا نہیں؟ جواب: اس صورت میں صحیح یہی معلوم ہوتا ہے کہ افیون مال متقوم ہے اور اسمیں عشر واجب ہے۔ (1)

ترجمة: سوال افیون مال متقوم دی اوپه دغه کې عشرواجب دی که نه؟ جواب په دغه کې صحیح داسې معلومیږي چې افیون مال متقوم دی اوپه دغه کې عشر واجب دی.

ملاحظه: مونږ مخکې دمعتبرو کتابونو په حواله ولیکل چې متقوم مال هغه دی چې په شریعت کې نفع پراخستل جایز وي اوفیون یونشه کونکې شی دی حرام دی نوځکه په شریعت کې نفع پر اخستل جائز نه ده، نومتقوم مال نه دی، نودی بې دلیله څنګه مال متقوم ورته وایي؟

افیون کا خرید وفروخت دوائی کیلیے جائز ہے دوائی کا علاوہ افیون کا خرید وفروخت مکروہ تحریمی ہے۔(2)

ترجمة: ددواء دپاره دافیون خرڅول اورانیول جایز دی، خوددواء نه بغیر دافیون خرڅول او رانیول تحریمي مکروه دی.

ملاحظة: مونږ مخکې په ډیرو دلیلونوثابته کړه چې افیون نشه لري اوهرشی چې نشه لري هغه حرام دی اوپه حرام باندې علاج کول جایز نه دی. بل داکه افیون ته علاج دپاره عامه اجازه ورکول کیږي نوشرابوته هم څه فقهاؤددواء دپاره داستعمال اجازه ورکړي ده وایي که دانسان په ستوني کې ګوله بنده سي نود تیریدلو دپاره دشرابو غړف کولای سي، نوداخو هم یوقسم علاج دی، نود شرابو تجارت، اوپه هغوی کې زکات ورکول هم باید جائز سي حالانکې داسې قول په هیڅ کتاب کې هیڅ عالم نه دی کړي.

۱-فتاوی دار العلوم دیوبند ج۶ ص ۱۷۸ ۲- احسن الفتاوی ج ۶ ص ۴۹۴

سوال: افیون اوتمباکو میں عشرواجب ہے . (۱)

ترجمة: په افیون اوتمباکو کې عشر واجب دی.

دخیرالفتاوی مصنف دی ته کتلی دی چې دافیون کښت دمقاصدو څخه دی دتوابعو څخه نه دی اوپه مقاصدوکې زکات واجب دی، خوده دغه بحث نه دی کړی چې دافیون استعمال شرعا جائز دی که نه؟ اوافیون نشه لری که نه؟ که هرځای په مقاصدوکې زکات واجب وی، نوپه شرابو اود شرابو په تجارت کې به هم زکات واجب وی، ځکه چې هغه هم دتاجرپه مقاصدوکې شماردی، بله دا چې مونږ مخکې ثابته کړله چې عشراوزکات په حلال مال کې واجب دی په حرام کې واجب نه دی.

افیون کا زکوات کی بجایی قیمت بھی جایز ہے، اس عبارت سے افیون کی تجارت، زراعت اور زکوات سب جایز معلوم ہوتی ہے. (۲)

ترجمة: دافیون دزکوات پرځای قیمت ورکول هم جایزدی، ددغه عبارت څخه دافیون تجارت، کښت، اوزکات ورکول ټول جایز معلومیږی.

اول که په پورته ذکرسوی ټولو فتواوی کی وګورو نونه یوازی داچې دوی پخپلو مینځوکې یودبل سره تضاد اوتکرلری بلکې دهغو صریحو اوواضحو حدیثونو اودلائلو سره هم تضاد اوتکر لری چې مخکې مونږ په ډیر تفصیل سره ذکر کړی اولیکلی دی.

ددغو ذکرسوی فتواو سره که دحنفی فقهی دیوبل کتاب فتوا هم ورسره یو ځای مطالعه سی نو نورهم موضوع ښه روښانه کیږی لکه چې وایی:قال الحنفية: يجوز التداوى بالمحرم إن علم يقينا أن فيه شفاء، ولايقوم غيره مقامه، أما بالظن فلايجوز، وقول الطبيب لايحصل به اليقين، ولايرخص التداوى بلحم الخنزير وإن تعين. (۳)

۱- خیرالفتاوی ج۳ ص۴۹۳ ۲- امدادالفتاوی ج۲ ص۶۰

۳-الهدية العلائية للعلامة الشيخ علاء الدين عابدين. ص ۲۵۱

ترجمة: حنفي عالمانو ويلي دي چې په حرامو سره علاج اوتداوي کول جايز ده، که يقيني معلومه سي، چې په دغه حراموکې شفاء ده، اوبل شي ددي پرځاى نسي دريدلاى، خو په ګمان باندې جايز نه دي، اودطبيب په قول سره يقين نه حاصليږي، اودخنزير په غوښو تداوي کول جايز نه ده که څه هم دغه معلومه سي چې په دغه کې علاج سته.

په پورتنى فتوى کى وايى چې په علم يقين معلوم سي اودطبيب په قول سره علم يقين نه حاصليږي نودا معلومه نه ده چې دچاپه قول سره علم يقين حاصليږي؟ اومخکى دکفاية المفتى په فتوى مولانا کفايت الله صاحب ليکلى وه که مسلمان پوه طبيب په قول افيون خوڅه بلکى په شرابو هم علاج اوتداوي کول جايز بللى دي، بل داچې په اول کې وايى په مطلق حرام سره تداوي کول جايز ده خوپه آخرکې وايي دخنزير په غوښو سره تداوي کول جايز نه ده که څه هم په يقين معلوم سي.

دپورتنى څه تفصيل ځخه وروسته زما په فکر داختلاف يوازنى وجه داده چى دغه ټولى فتواوي بى دليله اوشخصى قولونه دي، که دليل ورسره واى نو دومره زيات تعارض اواختلاف به نه واى، ځکه دليل دحکم دپاره معيار دى، نو ځکه دوخت علماء اومفتيان بايد په خپلو فتواوو اوحکمونو کې غور وکړي، او بيله دليله يوچاته حکم ورنه کړي، ځکه بيله شرعى دليله فتوى ياحکم ورکولو په هکله رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ. فَقَالَ: «يَاعَدِيُّ اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الوَثَنَ»، وَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي سُورَةِ بَرَاءَةٌ: {اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ} [التوبة: ۳۱]، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ، وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ». (۱)

۱– رواه سنن الترمذى كتاب التفسير

ترجمة: عدی بن حاتم روایت کوی چې زه نبی صلی الله علیه وسلم ته راغلم او زماپه غاړه صلیب وو، نوده راته وویل ای عدی دغه بت دخپله ځانه لیری کړه، اوما اوریدل چې ده دسورة براءة دغه آیت وایه «دوی بیله الله څخه خپل ملایان اوخپل پیران په خدایی نیولی وه» ده صلی الله علیه وسلم ویل: داسې نه وه چې دوی دهغوی عبادت کوی، بلکې داسې وه چې هغوی به دوی ته کوم شی حلال کړی هغه به یې حلال بالی اوچې کوم شی به یې ورته حرام کړی هغه به یې حرام بالی.

بله مهمه خبره داده چې علماء په عامه توګه اومفتیان په خاصه توګه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم وارثان دی ځکه یوحدیث کې راغلی دی:

عَنْ كَثِيرِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ أَبِي الدَّرْدَاءِ، فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَاأَبَا الدَّرْدَاءِ: إِنِّي جِئْتُكَ مِنْ مَدِينَةِ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَدِيثٍ بَلَغَنِي، أَنَّكَ تُحَدِّثُهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا جِئْتُ لِحَاجَةٍ، قَالَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ فِيهِ عِلْمًا سَلَكَ اللَّهُ بِهِ طَرِيقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ، وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَارِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ، وَإِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ، وَمَنْ فِي الْأَرْضِ، وَالْحِيتَانُ فِي جَوْفِ الْمَاءِ، وَإِنَّ فَضْلَ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ، كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ، وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا، وَلَا دِرْهَمًا وَرَّثُوا الْعِلْمَ، فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ».(١)

ترجمة: کثیر بن قیس وایی زه ددمشق په مسجد کی ناست وم چې یو سړی راغلی او وی ویل: ای ددرداء پلاره زه درسول الله صلی الله علیه وسلم دښارڅخه دیوحدیث دپاره راغلی یم، زه خبرسوی یم چې ته یې درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی، زه دهیڅ بل حاجت دپاره نه یم راغلی، نوده ورته وویل: چې مادرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دی چې ده ویل: څوک چې پر

١- رواه سنن أبي داود كتاب العلم

داسې لاره ولاړ سی چې په هغه کې علم غواړی، الله تعالی به دده دپاره دجنت لاره آسانه کړی، اوبیشکه ملائکې دده درضاء دپاره خپل وزرونه غوړوی، اوبیشکه هغه چې په اسمانونو اومځکې کې دی اودابو دنس ماهیان دعالم دپاره بخښنه غواړی، بیشکه دعالم فضل پرعابد باندې دومره دی لکه دځوارلسم سپوږمی پر نوروستوروباندې، اوبیشکه عالمان دنبیانووارثان دی، اونبیانو هیڅ دینار اودرهم په میراث نه دی پری ایښی بلکه ددوی میراث علم دی، چاچې علم واخستی نوهغه پوره برخه واخستله.

دپورتنیوحدیثونو څخه ثابته سوله چې حلال اوحرام هغه دی چې الله تعالی اودهغه رسول صلی الله علیه وسلم ورته حلال یاحرام ویلی وی، دخپله ځانه په خپله خوښه بیله شرعی دلیله ویو شی ته حلال یاحرام ویل جائز نه دی، ځکه الله تعالی په خپل کتاب قرآن مجید کې مومنان دداسې کولو څخه منع کوی اوفرمایی:

يَا أَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوا لاَتُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَاأَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ. وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلاَلاً طَيِّباً وَاتَّقُواْ اللَّهَ الَّذِيَ أَنتُم بِهِ مُؤْمِنُونَ.(١)

ترجمة: ای مومنانو تاسو مه حراموی هغه پاک شیان چې الله تعالی تاسوته حلال کړی دی، اوتاسو دالله تعالی ترحدودو تیری مکوی، بیشکه الله تعالی تیری کونکې نه خوښوی. اوتاسودهغو پاکواوحلالوڅخه خوراک کوی چې الله تاسو ته په رزق درکړی دی اوتاسو دهغه الله څخه وبیریږی چې ایمان مو پراوړی دی.

بل داچې دپورتنیو فتاواوو په هکله پوښتنه کیږی چې ددغو حکمونو په هکله ددوی سره دشرعی اوفقهی دلائلو څخه دلیل سته که نه؟ که وی نو ولی یی نه دی لیکلی، که لیکلی وای نودحکم کولو تقاضابه پوره سوی وای، که نه وی ورسره نوبیادومره لوی حکمونه بی دلیله څنګه کوی؟

١- سورة المائدة آيات ٨٧ - ٨٨

که پورته ذکرسوی حکمونو ته وګورو نو دغه ټوله دحنفی فقه داصولو څخه هم خلاف دی ځکه داصولو په یوکتاب کې داسې لیکلی دی:

لايجوز للمفتى أن يفتى بأحكام عن غيره بل إنما يفتى باجتهاده, لأنه إنما سئل عنه ولم يسئل عن قول غيره, وإن سئل أن يحكي قول غيره جازت حكايته, ولوجاز للمفتي أن يفتى بالحكاية جاز للعامى أن يفتى بمايجده فى كتب الفقهاء ....). (۱)

ترجمة: مفتی ته جایز نه ده چې دبل په حکمونو فتوی ورکړي، بلکې دی به په خپل اجتهاد فتوی ورکوی، ځکه دده څخه فتوی غوښتل سوی ده دبل دقول غوښتنه نه ده سوی، اوکه دده څخه داسې پوښتنه وسی چې ماته دبل دقول حکایت وکړه نوبیادته حکایت کول جایز دی، اوکه مفتی ته دبل په حکایت فتوی ورکول جایز سی نوبیا عامی ته هم جایز وی چې په هغه څه فتوی ورکړی چې دفقهاؤ په کتابونو کې لوستلی وی.

دبی دلیله فتواوڅخه ځان ساتنه

نبی کریم صلی الله علیه وسلم اودده اصحابانو رضوان الله تعالی علیهم دبی دلیله فتواګانو په هکله داجتناب اوپرهیز لارښودنه کړی ده اوفرمایی:

١- عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَجْرَؤُكُمْ عَلَى الْفُتْيَا، أَجْرَؤُكُمْ عَلَى النَّارِ». (۲)

ترجمة:عبيد الله بن ابی جعفر روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ستاسوڅخه پرفتوا ډیرجرات کونکې ددوزخ پراوردیرجرات کونکې دی.

٢- عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّمَا أَخَافُ

١- قواطع الأدلة فى الأصول ج ٢ ص ٣٦٢

٢- مسند الدارمى ص ٢٦ كتاب المقدمة

عَلَى أُمَّتِي الأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ». (١)

ترجمة: ثوبان رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه زه دخپل امت پرگمراه کونکو امامانو بیریږم.

٣- عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَخْوَفُ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ». (٢)

ترجمة: ابی درداء وایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه چې زما ډیر بیریدونکې حالت پرتاسو باندی زمادامت گمراه کونکی امامان دی.

٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أُفْتِيَ بِفُتْيَا مَنْ غَيْرِ ثَبْتٍ، فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ». (٣)

ترجمة: ابوهريرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول اللهٔ صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې بیله علمه فتوی ورکوی نوبیشکه دهغه گناه پرهغه فتوا ورکونکې ده.

دعلم څخه دځلورو دلیلونو څخه یودلیل مراد دی، اوکه بی دلیله غلته فتوا چاته ورکړی اوهغه عمل په وکړی نودهغه گناه پرفتوا ورکونکې ده پرعمل کونکې نسته، ځکه عمل کونکې خو دالله تعالی دحکم مطابق دعالم څخه پوښتنه وکړه، داچې هغه غلته فتوا ورکړه اوده عمل په وکړی نوگناه پر فتوا ورکونکې ده.

٥- عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ حُذَيْفَةَ قَالَ: قَالَ حُذَيْفَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: " إِنَّمَا يُفْتِي النَّاسَ أَحَدُ ثَلَاثَةٍ: رَجُلٌ عَلِمَ نَاسِخَ الْقُرْآنِ مِنْ مَنْسُوخِه، " قَالُوا: وَمَنْ ذَاكَ؟ قَالَ: عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ,قَالَ: «وَأَمِيرٌ لَا يَجِدُ بُدًّا، أَوْ أَحْمَقُ مُتَكَلِّفٌ» ثُمَّ قَالَ مُحَمَّدٌ: فَلَسْتُ بِوَاحِدٍ مِنْ هَذَيْنِ، وَأَرْجُو أَنْ لَا أَكُونَ الثَّالِثَ. (٤)

١- سنن الدارمی کتاب المقدمة نمبر٢١٤ ص ٣٢ ٢- سنن الدارمی نمبر٢١٧ ص ٣٢

٣- سنن الدارمی کالمقدمة ٤- سنن الدارمی باب کراهية الفتيا.

ترجمة: ابی عبیده دحذیفة زوی روایت کوی چې حذیفة رضی الله تعالی عنه وفرمایل: بیشکه خلگوته فتوا دری کسان ورکوی: یوهغه چې دقرآن څخه ناسخ او منسوخ ورمعلوم وی، نودوی ورته وویل هغه به څوک وی؟ ده ورته وویل عمربن خطاب، دوهم هغه امیر دی چې چاره نلری، دریم بي عقل دی، اوبیامحمد وویل ددغه دوو څخه نه یم اوهیله لرم چې دریم هم نه سم.

٦- عَنْ زِيَادِ بْنِ حُدَيْرٍ، قَالَ:قَالَ لِي عُمَرُ: «هَلْ تَعْرِفُ مَا يَهْدِمُ الإِسْلاَمَ؟» قَالَ: قُلْتُ: لاَ، قَالَ: «يَهْدِمُهُ زَلَّةُ الْعَالِمِ، وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ وَحُكْمُ الأَئِمَّةِ الْمُضِلِّينَ».(١)

ترجمة:زیادبن حدیر وایی: ماته عمر رضی الله تعالی عنه وویل: ایا ته په هغه پوهیږې چې اسلام نړی وی؟ ماورته ویل: یا، ده ویل: دعالم خطاوتل، دالله په کتاب کې دمنافق مناقشه کول، دګمراه کونکو امامانو حکمونه کول، اسلام نړوی.

٧- عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ، حَدَّثَنَا مَيْمُونُ بْنُ مِهْرَانَ، قَالَ: كَانَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، إِذَا وَرَدَ عَلَيْهِ الْخَصْمُ نَظَرَ فِي كِتَابِ اللَّهِ، فَإِنْ وَجَدَ فِيهِ مَا يَقْضِي بَيْنَهُمْ، قَضَى بِهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي الْكِتَابِ، وَعَلِمَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ الأَمْرِ سُنَّةً، قَضَى بِهِ، فَإِنْ أَعْيَاهُ، خَرَجَ فَسَأَلَ الْمُسْلِمِينَ وَقَالَ: «أَتَانِي كَذَا وَكَذَا، فَهَلْ عَلِمْتُمْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي ذَلِكَ بِقَضَاءٍ؟» فَرُبَّمَا اجْتَمَعَ إِلَيْهِ النَّفَرُ كُلُّهُمْ يَذْكُرُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ قَضَاءً. فَيَقُولُ أَبُو بَكْرٍ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِينَا مَنْ يَحْفَظُ عَلَى نَبِيِّنَا،» صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، " فَإِنْ أَعْيَاهُ أَنْ يَجِدَ فِيهِ سُنَّةً مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، جَمَعَ رُءُوسَ النَّاسِ وَخِيَارَهُمْ فَاسْتَشَارَهُمْ، فَإِذَا اجْتَمَعَ رَأْيُهُمْ عَلَى أَمْرٍ، قَضَى بِهِ.(٢)

ترجمة:-میمون بن مهران وایی: ابوبکر رضی الله تعالی عنه ته به چې کله د فیصلی دپاره دعوی راغله نوده به اول دالله تعالی په کتاب کې کتل، نوکه په هغه

١- سنن الدارمی نمبر ٢٢٠ ص٣٣

٢- سنن الدارمی نمبر١٦٣ ص٢٧

کې هغه څه وه چې ددوی په منځ کې حکم په وکړی نوپه هغه به یې حکم وکړی، که به دالله تعالی په کتاب کې نه وه، نودرسول الله صلی الله عله وسلم کوم حدیث به دده سره وو په هغه به یې حکم وکړی، که به په هغه کې دده سره نه وو، نو را وبه وتې دمسلمانانو څخه به یې پوښتنه کوله چې ماته فلانی فلانی مسئله راغلی ده، ایاتا سوته معلومه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې مسئله کې حکم کړی وی؟ ډیرځله به داسې وو چې ډیر خلک به رایوځای سوله اوهریوه به هغه څه یادول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به حکم په کړی وو، نوابوبکر رضی الله تعالی عنه به وویل هغه الله تعالی ته دی حمد وی چې په موږکې داسې څوک سته چې زموږدنبی حکمونه یې ساتلی دی، که به بیاهم معلوم نه سوچې په دغه کې درسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث سته، نوبیابه یې مشران اومخورخلک راټول کړل دهغوی سره بې مشوره وکړله چې پرکوم شی به دهغوی رایه یوځای سوله نوپه هغه بې حکم وکړی.

۸- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه، قَالَ: «مَنْ أَفْتَى بِفُتْيَا يُعَمَّى عنهَا، فَإِثْمُهَا عَلَيْهِ». (۱)

ترجمة: ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وایی: چاچې بیله علمه، بې دلیله فتوا ورکړله نودهغه ګناه پرفتوا ورکونکې ده.

۹- عَنْ يَحْيَى قَالَ: قُلْتُ لِلْقَاسِمِ: مَا أَشَدَّ عَلَيَّ أَنْ تُسْأَلَ عَنِ الشَّيْءِ لاَ يَكُونُ عِنْدَكَ، وَقَدْ كَانَ أَبُوكَ إِمَامًا، قَالَ: «إِنَّ أَشَدَّ مِنْ ذَلِكَ عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ مَنْ عَقَلَ عَنِ اللَّهِ أَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ أَوْ أَرْوِيَ عَنْ غَيْرِ ثِقَةٍ». (۲)

ترجمة: یحی وایی ما قاسم ته وویل: پرما دغه ډیره سخته ده چې ستاڅخه پوښتنه وسی اوته ورته وایی ماته نه ده معلومه، حال داچې ستا پلار امام وو، دی وایی پرماداالله تعالی په نزد دغه ډیره سخته ده چې بیله علمه فتوا ورکړم او یادغیر

۱- سنن دارمی اثر ۱۶۲ صفحة ۲۷ -- ۲- سنن الدارمی باب التورع عن الجواب ص ۲۲

ثقه څخه روایت وکړم.

١٠- عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ: إِنَّ «الْعَالِمَ يَدْخُلُ فِيمَا بَيْنَ اللَّهِ وَبَيْنَ عِبَادِهِ، فَلْيَطْلُبْ لِنَفْسِهِ الْمَخْرَجَ». (١)

ترجمة: ابن منکدر وایي: بیشکه هغه عالم چې دالله تعالی اوده‌غه دبندګانو په منځ کې ځان اچوي، نو هغه دې دخپل ځان دپاره دخلاصون لاره پیداکړي.

١١- عَنْ شَقِيقٍ قَالَ: سُئِلَ عَبْدُ اللَّهِ عَنْ شَيْءٍ فَقَالَ: «إِنِّي لَأَكْرَهُ أَنْ أُحِلَّ لَكَ شَيْئًا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَيْكَ، أَوْ أُحَرِّمَ مَا أَحَلَّهُ اللَّهُ لَكَ». (٢)

ترجمة: شقیق وایي دعبدالله څخه دیوشي پوښتنه وسوله، نوده ورته وویل بیشکه زه ناخوښه ګڼم چې یوشی تاته حلال کړم اوهغه الله تعالی پرتاحرام کړی وي، یازه یوشی تاته حرام کړم اوهغه الله تعالی تاته حلال کړی وي.

١٢- عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: «إِنَّ الَّذِي يُفْتِي النَّاسَ فِي كُلِّ مَا يُسْتَفْتَى لَمَجْنُونٌ».(٣)

ترجمة: ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وایي: بیشکه هغه څوک لیوني دي چې خلګوته په هرڅه کې فتوا ورکوي.

امام شعبی رضی الله تعالی عنه وایي: عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: وَاللَّهِ «لَئِنْ أَخَذْتُمْ بِالْمَقَايِيسِ، لَتُحَرِّمُنَّ الْحَلَالَ، وَلَتُحِلُّنَّ الْحَرَامَ». (٤)

ترجمة: دشعبي څخه روایت دی وایي: په الله تعالی قسم که تاسو په قیاسونو باندې عمل شروع کړی نوپه تحقیق تاسو به حلال حراموی اوپه تحقیق تاسوبه حرام حلالوی.

١- سنن الدارمی کتاب المقدمة ص ٢٢ نمبر١١٨

٢- سنن الدارمی کتاب المقدمة نمبر ١٤٨ ص ٢٤

٣- سنن الدارمی کتاب المقدمة نمبر١٧٦ ص ٢٩

٤- سنن الدارمی ج ١ ص ٢٨١

۱۳- عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ:أَوَّلُ مَنْ قَاسَ إِبْلِيسُ، وَمَا عُبِدَتِ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ إِلَّا بِالْمَقَايِيسِ (۱)

۱٤- عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالْمُقَايَسَةَ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ أَخَذْتُمْ بِالْمُقَايَسَةِ لَتُحِلُّنَّ الْحَرَامَ وَلَتُحَرِّمُنَّ الْحَلَالَ، وَلَكِنْ مَا بَلَغَكُمْ عَمَّنْ حَفِظَ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْمَلُوا بِهِ». (۲)

ترجمة: دشعبی رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې ده ویله: زمادی په الله تعالی قسم وی که تاسو په ډیرو قیاسونو عمل شروع کړی نوحرام به حلال کړی اوحلال به حرام کړی، خو هغه څه چې تاسوته رسیدلی دی، دمحمد صلی الله علیه وسلم داصحابو څخه چی هغوی یاد کړی دی نو په هغه عمل کوی.

دبی دلیله فتوا په هکله اوزاعی وایی:عن الاوزاعی قال من اخذ بنوادر العلماء خرج من الاسلام. (۳)

ترجمة:داوزاعی څخه روایت سوی دی چې ده ویل: چاچې دعلماؤ په نادرو قولونو عمل کول شروع کړل نوهغه داسلام څخه ووتی.

۱۵- حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، قَالَ: أُنْبِئْتُ أَنَّهُ كَانَ يُقَالُ: «وَيْلٌ لِلْمُتَفَقِّهِينَ لِغَيْرِ الْعِبَادَةِ وَالْمُسْتَحِلِّينَ الحرمات بِالشُّبُهَاتِ». (۴)

ترجمة: اوزاعی رحمة الله تعالی علیه وایی: عذاب دی وی هغه فقیه لره چې عبادت نه کوی اوپه شبهه باندې حرام ته حلال وایی.

دپورتنی تحقیق څخه یوازنی مقصد دادی چې ډیر عالمان خلګوته بی دلیله فتواوی ورکوی هغه هم داسې چې مسئله دحق اوناحق وی، یامسئله دحرام

۱- سنن الدارمی ج ۱ ص ۲۸۰ ۲- سنن الدارمی کتاب المقدمة ۱۰۹

۳- رواه المستدرک للحاکم ص ۳۳ ۴- سنن الدارمی باب تغیر الزمان ج ۱ ص ۲۷۹

اوحلال وی، چې په داسې فتواو سره نه یوازی داچې دخلکو حقوق ترپښولاندی کیږی اویاخلګ حرام ته حلال یاحلال ته حرام وایی، دهغه عالم دپاره هم ددین او آخرت تاوان اونقصان وی، ځکه پوښتونکې دده څخه دشرعی مسئلی پوښتنه کوی، اودی بې علمه یابې دلیله فتوا یاحکم ورکوی، اوهغه دده په حکم یافتوا عمل کوی نوچې هغه غلط وی نو درسول الله صلی الله علیه وسلم دفرمان مطابق ګناه پرفتوا ورکونکې ده ځکه په حدیث کې راغلی دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أُفْتِيَ بِفُتْيَا مَنْ غَيْرِ ثَبْتٍ، فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ».(١)

ترجمة: عبدالملک بن مروان وایی مادابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه واوریدل چې ویلی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې بی علمه (بی دلیله) فتوا ورکړه نودهغه ګناه پرفتوا ورکونکې ده.

په بل ځای کې راغلی دی: قَالَ مَالِكٌ: قَالَ الْقَسَّامُ بْنُ مُحَمَّدٍ: " لأَنْ يَعِيشَ الرَّجُلُ جَاهِلاً خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَقُولَ عَلَى اللَّهِ مَا لاَ يَعْلَمُ. (٢)

ترجمة: مالک وایی: قسام بن محمد رحمة الله تعالی عنه فرمایی: دسړی دپاره دجهالت ژوند خیر دی تردی چې پر الله تعالی باندې بی علمه خبره وکړی.

باید په ډیر تاسف ووایو چې موږ نن په داسی ټولنه کې ژوندکوو چې عامه مقوله داسی ویل کیږی(ملاهغه دی چې چپ نسی)مطلب داچې دسوال یاپوښتنې په جواب کې بی علمه فتوی یاحکم ورکول ورته خوښ دی تردی چې چپ پاته سی، ځکه بیابه خلګ وایی عالم یاملا نه دی، حالانکې موږ ولوستل چې بې دلیله حکم ورکول څومره لوی وبال اوګناه ده، په همدغه کې زموږ دټولو دپاره عبرت اونصیحت دی چې دالله تعالی دین دخپل عزت اوخواهشاتو تابع نه کړو

١- رواه سنن ابی داود کتاب العلم
٢- ابطال الحیل لابن بطة ص ٢١

بلکی دالله تعالی مخلوق اوبندګانوته دالله تعالی دین په صحیح توګه بیان او ورسوو، ځکه موږ دطالب علمی څخه خپل ځانونه دهمدغه دپاره وقف کړی دی.

دشریعت څلور اصول یادلائل

داچې اسلام یومکمل دین، قانون اونظام دی اوموږعقیده لرو چې دغه دین الله عزوجل زموږ لپاره خوښ اونعمت بللی دی ځکه الله تعالی په خپل آخرنی اوکامل کتاب کې وټولو انسانانو ته په عامه توګه اومسلمانانوته په خاصه توګه داسې فرمایي:

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلامَ دِينًا.(۱)

ترجمة: نن ورځ ماستاسو لپاره ستاسو دین مکمل کړی، اوخپل نعمت می پر تاسو باندې پوره کړی، اواسلام ماستاسو لپاره دیودین په حیث خوښ کړی دی.

تفسیر: یعنی دده په اخبارونو اوقصوکې پوره صداقت اوپه بیان کې پوره تاثیر په قوانینو اوحکمونوکې پوره اعتدال سته، هغه حقایق چې په پخوانیو کتابونو اوآسمانی ادیانوکې محدود اونا تمام وو. دهغوی تکمیل اوتعمیم په دغه دین سره وکړه سو. اوپه دغه دین کې ټول هغه حکمونه چې دانسانانو ددنیاپه ژوند پوری اړه لری لکه حلال اوحرام، روا نارو،ا حق اوناحق، عبرتونه او پندونه او همدارنګه ټول هغه څه چې دانسانانود آخرت په ژوندانه پوری اړه لری لکه جنت دوزخ، ثواب اوعذاب، حساب اوکتاب، پسله مرګه ژوند ،عذاب قبر اونورداسې مسائل په ډیر تفصیل سره په دغه دین کې دالله عزوجل په کتاب قرآن کریم، دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په حدیثونو اویا دفقهاؤ «رحمة الله تعالی علیهم» په اجتهادی اقوالوکې بیان سوی دی.

ددی عالمګیراومکمل دین څخه علاوه دبل کوم دین یاقانون منل یا انتظار

۱- سورة المایدة آیت نمبر ۴

ورته ایستل د صحیح عقل تقاضا نه ده،داسلام څخه ماسوا دمقبولیت اونجات بله وسیله اولاره نسته.

څکه په یوبل آیت کې الله تعالی فرمایي: أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ.(۱)

ترجمة : ایا دالله ددین نه علاوه دوی بل دین غواړی حال داچې خاص الله ته غاړه ایښی ده هرهغه چې په آسمانوکې دی اوهغه چې په مځکه کې دی په خوښه یاپه زور ، اوبیا داټول خلګ دمجازات لپاره هم دغه الله ته بیول کیږي.

تفسیر: یعنی تل ترتله ددنیا اومافیها دپاره دالله تعالی دین اسلام دی، مطلب داچې کله دحق تعالی کوم حکم درشتیني رسول په وسیله تاسی ته در ورسیږی هغه ومنی اوغاړه ورته کښیږدی.

دوقت علماؤ اوفقهاؤ دانسانانو دښه فهم اودمسائلو دحل دپاره څه اوصول وضع کړی دی، ترڅو ددغو اصولو په رڼاکې ددین حلال اوحرام، فرض اوسنت، حق اوناحق اوداسې نور خلګوته معلوم اوبیان سی، داسې نه چې یوڅوک وایی زه نه پوهیږم یانه دی رامعلوم څکه جهالت یا نا پوهی په اسلام کې عذرنه دی، څکه الله عزوجل اول وانسان ته عقل ورکړی دی، دویم یې داحکم ورته کړی دی که نه پوهیږی دهغه چاڅخه پوښتنه وکړه چې هغه پوهیږی، نودهغو اتفاقی اصولو څخه څه لږ بحث ددی دپاره کوم چې معلومه سی چې بې دلیله حکم کول جائز نه دی.

اول دلیل دالله تعالی کتاب دی: ددغه الهی دین اصل اوقانون ترهرڅه دمخه یوازی دِ الله تعالی کتاب قرآن مجید دی، څکه همدغه قرآن رب العالمین دانسانانو دلارښودنی. قضایاوو اوفیصلو دحل دپاره را لیږلی دی اوفرمایي: إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا.(۲)

۱- سورة آل عمران آیت ۸۳ — ۲- سورة النساء آیت ۱۰۵

ترجمة: بیشکه موږ تاته کتاب (قرآن) نازل کړی دی ای (محمد صلی الله علیه وسلم) په حق سره، ددی دپاره چې ته دخلګو په منځ کې دمسئلو دحل فیصلی وکړې په هغه طریقه چې الله تعالی تاته ښودلی ده، اوته دجنایت کارانو ملګری مه جوړیږه.

په بل آیت کې رب العالمین تخصیص کوی اوفرمایی چې حکم نسته مګر نه الله تعالی لره دی اوفرمایی: إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ أَمَرَ أَلاَّ تَعْبُدُوٓاْ إِلاَّ إِيَّاهُ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ. (۱)

ترجمة: بیشکه حکم نسته مګرنه الله لره دی، اوامر یې کړدی چې عبادت مه کوی مګرخاص دداغه الله، همدغه دده عبادت سم دین اودحق ښکاره لاره ده، خو ډیرخلګ دغه دحق په لاره نه پوهیږي. اودځان دپاره نوری لاری اوقوانین جوړوی.

داسلامی قانون لمخی دحاکم، حکم اومحکوم ترمنځ تعلق سته هغه داچې حاکم الله تعالی اوحکم دالله تعالی کتاب اومحکوم دالله تعالی مخلوق دی، نو څوک چې پرچاحکم کوی هغه به دالله تعالی دخلیفه په توګه دالله تعالی دکتاب څخه دالله تعالی پرمخلوق باندې حکم کوی، هیچاته هم داسې اختیار نسته چې د حلال، حرام حق اوناحق، عباداتو، اوامرو، منهیاتواوپه داسې نورو شرعی امورو کې دالله تعالی دقانون قرآن کریم دحکمونو خلاف په نورو قوانینو یا قولونو باندې حکم وکړی، که یې څوک کوی نوهغوی ته اسلامی یاشرعی حکم نه ویل کیږي.

په بل آیت کې رب العالمین فرمایی: وَهُوَ ٱللَّهُ لآ إِلَـٰهَ إِلاَّ هُوَ لَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلأُولَىٰ وَٱلآخِرَةِ وَلَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ. (۲)

ترجمة: همدغه الله دی ، دعبادت لایق نسته مګرهمدغه یوالله دی، اوخاص ده لره ټول ثناء اوصفت دی په دنیاء اوآخرت کې، اوخاص ده لره دحکم اوفیصلی اختیارسته، اوپه آخرت کې خاص ده ته دفیصلی دپاره رجوع کول کیږي.

۱- سورة یوسف آیت ۴۰

۲- سورت القصص آیت ۷۰

په پورتني آيت کې رب العالمين موږ ته داسې لارښودنه کوي چې په دنيا او آخرت کې دحکم اختيار خاص دالله تعالی سره دی که څوک دده دحکم نه بغير بل حکم کوي نو هغه بياد حساب کتاب دپاره موږ ته راتلونکې دی، نو که موږ دحلال يا حرام، حق ياناحق اوداسې نوردڅوند اړوند مسائلو کې کوم دليل ته اړتيالرو نوتر هرڅه دمخه ودغه الهی کتاب ته مراجعه کوو ، ځکه پردغه موږ ايمان راوړی دی د ايمان راوړلو مطلب او معنی داده چې هرڅه زموږ رب په دغه کتاب کې موږته ويلی په هغه عمل کوواومنو، او د الله تعالی په کتاب باندې فيصله داسې ده چې هيڅ مسلمان دهغه څخه انکارنسی کولای ځکه انکار ځنی کول دعقيدې دمخی کفردی.

په بل آيت کې رب العالمين انسانان دخپل سريزه حکمونو څخه منع کوي اوفرمايي: مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلْكِتَابَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُواْ عِبَادًا لِّي مِنْ دُونِ ٱللَّهِ وَلَـٰكِنْ كُونُواْ رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ ٱلْكِتَابَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ.(۱)

ترجمة: هيڅ بشرته داحق نسته چې ده ته الله تعالی کتاب ورکړی وی، شرعی حکمونه اونبوت يې ورکړی وی، اوبيا خلگوته ووايي چې بيله الله څخه زما عبادت وکړی، بلکې دی به خلگوته وايي چې تاسو دالله تعالی بندگان عبادت کونکې سی، په هغه څه چې تاسو دالله دکتاب څخه زده کونکې ياست، اوپه هغه څه چې تاسو خلگوته تدريس کونکې يابنو ونکې ياست.

دپورتني آيت شان نزول که څه هم خاص دی خو داصول تفسير دقانون دمخی چې ويل کيږی مورد خاص خوحکم عام دی، ويلای سو چې په آيت کې الله تعالی د ټول بشر څخه دداسې حکم اختيار اخستی دی چې دالله دکتاب څخه خلاف وی، او بل داچې نبی اورسول ته هم اختيارنسته چې په شرعی حکمونو کې دالله تعالی دکتاب په خلاف حکم وکړی.

۱- سورت آل عمران آيت ۷۹

په بل آیت کې الله تعالی ټول انسانان منع کوی چې ملائکې اونبیان دخپل ځانو دپاره معبودان جوړکړی اوفرمایي: وَلاَ يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُواْ ٱلْمَلاَئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّيْنَ أَرْبَاباً أَيَأْمُرُكُمْ بِٱلْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ. (۱)

ترجمه: اوتاسوته (الله تعالی یادهغه رالیږل سوی نبی) امرنه کوی چې تاسو ملائکې یانبیان دخپل ځانو دپاره معبودان جوړ کړی، ایا دوی تاسوپه کفر سره امر کوی؟ وروسته تردی چې تاسومسلمانان کړی، اوالله تعالی مخلص بندګان جوړ کړی. یعنی داسې نسی کیدلای.

په شرعی حکمونوکې دالله تعالی دحکمونو په خلاف دیوچا حکم منل داسې دی لکه دهغه عبادت کول، اوهغه په عبادت منل دی، ځکه الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته ددعوت په اصولوکې داسې لارښونه کوی اوفرمایي: قُلْ يَاأَهْلَ ٱلْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَىٰ كَلَمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ ٱللَّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئاً وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَاباً مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ ٱشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ.(۲)

ترجمه: ووایه ای (محمدصلی الله علیه وسلم) دکتاب خاوندانوته (یهود نصاری) چې راسی هغی خبری ته چې زموږ اوستاسو په منځ کې سره شریکه او برابره ده ، هغه داچې دیوه الله عبادت به کوو دبل الله عبادت به نه کوو، اوالله تعالی سره به هیڅ شی شریک نه نیسو، اوزموږ څخه به څه کسان دخپلو ځانو دپاره بیله الله څخه حکم منونکې نه جوړوو (لکه تاسو چې دخپل احبار اورهبان څخه ارباب اوحکم منونکې جوړکړی دی) نوکه دوی دتوحید څخه وګرځیدل او اسلامی حکمونو ته یې شاوګرځول، نوتاسو ورته ووایاست چې تاسو شاهدان سی چې بیشکه موږ مسلمانان یو اوتاسو نه یاست.

یعنی لکه څرنګه چې په ژبه خپل ځانونه مسلمان اوموحد بولی همداسې په

۱- سورت آل عمران آیت ۸۰ ۲- سورت آل عمران آیت ٦٤

عمل اوحقیقت کې هم خپل ځانونه هغه واحد اولاشریک ذات ته وسپاری، اودهغه نه علاوه دبل چابندګی مه کوی، او دالوهیت په مخصوص صفتونوکې بل شی دالله تعالی سره مه شریک کوی، اومه دکوم نبی، ولی، مرشد، پیر، فقیر اوبل چاسره داسې معامله کوی چې هغه یوازی دالله تعالی سره وړاومناسبه وی، یاداچې دالهی اوشرعی حکمونو څخه سترګی پټوی، اویوازی دبل چا دحرام اوحلال ویلو ځنی دیوشی په حل اوحرمت باندې باورمه کوی، لکه چې دسورة براءت دآیت (اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله) دتفسیرڅخه معلومیږی، چې دغه ټول دتوحید اوداسلام ددعوی سره مخالف اومنافی دی.

داچې دارباب څخه معبودان مراد دی ددی تفسیر دقرآن کریم دبل آیت څخه ثابتیږی چې فرمایی: يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ.(۱)

ترجمة: ای زما دزندان دواړو ملګرو ایا ډیر جدا جدا متفرق معبودان ښه دی که هغه الله ښه دی چې یودی او پرهرشی ډیر قوی اوغالب دی.

اونبی کریم صلی الله علیه وسلم چې کله دروم پادشاه قیصر هرقل ته داسلام راوړلو دعوت ورکړی په هغه لیک کې هم دنورو شرطونو څخه علاوه دغه غوښته هم سوی وه (وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ) چې بیله الله څخه به نور معبودان دځان دپاره نه جوړه وو.

اوپه یو بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې تفسیرکړی دی او فرمایی: عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ. فَقَالَ: «يَا عَدِيُّ اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الوَثَنَ» وَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي سُورَةِ بَرَاءَةٌ: {اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ} [التوبة: ۳۱]، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ، وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ».(۲)

۱- سورة یوسف آیت ۳۹ ۲- صحیح البخاری کتاب الجهاد والسیر

ترجمة: عدي بن حاتم وايي زه نبي صلی الله عليه وسلم ته راغلم اوزماپه غاړه دسرو زروصليب وو ،نوده راته وويل:ای عدي دغه بت وغورځوه، اوما اوريدل چې ده دسورت براءت دغه آيت لوستی(اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله)اوده ويل: دوی دخپل (احباراورهبان)عبادت نه کوی، بلکې هغوی چې به کوم شی ته حلال وويل نودوی به هغه حلال باله،اوکوم شی ته به يې حرام وويل نوهغه به يې حرام باله. (احبار ديهودو علماء اورهبان دنصرانيانو علماء ته وايي.

په بل آيت کې الله عزوجل فرمايي:أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِي حَكَماً وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنَزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَابَ مُفَصَّلاً وَٱلَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ ٱلْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ فَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ. وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقاً وَعَدْلاً لاَّ مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ.(۱)

ترجمة: ايا بيله الله تعالی څخه بل حکم کونکې فيصله کونکې وغواړم؟ حال داچې الله هغه ذات دی چې تاسوته يې مفصل کتاب (قرآن) راليږلی دی، او هغو کسانوته چې موږ کتاب ورکړی دی هغوی پوهيږي چې دغه کتاب ستادرب جل جلاله دطرفه دی اوپه حق سره دی، نوتاسو دشک کونکو څخه مه کيږي.

اودغه خبره ستادرب دطرفه ثابته ده چې دده داخبارونو تصديق او دحکمونو عدل کمال ته رسيدلی دی، دالله تعالی دخبرو هيڅ بدلونکې نسته، او دی دټولو اقوالو ښه اوريدونکې، اود ټولو احوالو ښه خبرکونکې دی.

په يوبل آيت کې رب العالمين په شرعی حکمونو کې دمخلوق دپيروی د انجام څخه خبروی اوفرمايي: وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي ٱلأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ إِن يَتَّبِعُونَ إِلاَّ ٱلظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَخْرُصُونَ. إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ. (۲)

۱- سورة الانعام آيات ۱۱۴- ۱۱۵ ۲- سورة الانعام آيت ۱۱۷

ترجمة: که ته متابعت وکړی دهغو کسانو چې په مځکه کې دی نوتابه الله تعالی دلاری څخه بیلاری کړی، اودوی پیروی نه کوی مگر دگمان، اونه دی دوی مگر درواغ تړی پرالله باندې. بیشکه ستارب ښه عالم دی په هغه چاچې دده دلاری بیلاری سوی وی، اودی ښه عالم دی په هغه چاچې په سمی اوصافی لاری تلونکې دی.

تفسیر: مشاهده اوتاریخ دغه راښیی چې په دنیاکې تحقیق کونکې اوبا اصوله انسانان لږوی، اواکثریت اوډیر خلگ هغه دی چې دفضول اوچټی خبرو پیروی کوی، که څوک ددغه اکثریت خبروته غوږ کښیږدی اوپربی اصوله خبرو باندې تگ شروع کړی نودی به ضرور دالله تعالی دراښو دلی سمی اوصافی لاری څخه یقینی بی لاری کیږی. (۲)

مطلب داچې په شرعی حکمونوکې بیله شرعی دلیله اودالله تعالی دکتاب څخه خلاف دبل چاحکم منل جایز نه دی.

ځکه خو عمر بن عبدالعزیز خلگوته په خپله خطبه کې داسې فرمایی: عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ رَحِمَهُ اللَّهُ، خَطَبَ فَقَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَبْعَثْ بَعْدَ نَبِيِّكُمْ نَبِيًّا، وَلَمْ يُنْزِلْ بَعْدَ هَذَا الْكِتَابِ الَّذِي أُنْزِلَ عَلَيْهِ كِتَابًا، فَمَا أَحَلَّ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ فَهُوَ حَلَالٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَا حَرَّمَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ فَهُوَ حَرَامٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، أَلَا وَإِنِّي لَسْتُ بِقَاضٍ، وَلَكِنِّي مُنَفِّذٌ، وَلَسْتُ بِمُبْتَدِعٍ، وَلَكِنِّي مُتَّبِعٌ، وَلَسْتُ بِخَيْرٍ مِنْكُمْ، غَيْرَ أَنِّي أَثْقَلُكُمْ حِمْلًا، أَلَاوَإِنَّهُ لَيْسَ لِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِ اللَّهِ أَنْ يُطَاعَ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ، أَلَا هَلْ أَسْمَعْتُ؟(۲)

ترجمة: عبیدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چې عمربن عبدالعزیز خلگوته په خطبه کې وویل: ای خلگو بیشکه الله تعالی ستاسو ترنبی وروسته بل نبی نه رالیږی، اوتردغه کتاب وروسته چې دغه کتاب پرده باندې نازل

۱- تفسیرکابلی جلد اول صفحه ۸۰۰

۲- سنن الدارمی کتاب المقدمة

سوی دی بل کتاب نه رالیږی، نوهغه څه چې ددغه نبی پرژبه حلال ورته ویل سوی دی هغه ترقیامته حلال دی، اوهغه څه چې ددغه نبی پرژبه حرام ورته ویل سوی دی هغه ترقیامته حرام دی، خبراوسی چې زه تاسوته قصه کونکې نه یم بلکې زه پر تاسو نافذکونکې یم، زه مبتدع نه یم بلکې زه اتباع کونکې یم، زه ترتاسو خیرنه یم بلکې زه ترتاسو ډیرپه مسؤلیت باریم،اوبیشکه دالله تعالی هیڅ بنده ته داحق نسته چې دالله تعالی په ګناه کې دهغه اطاعت وسی خبراوسی چې ماتاسوته درواو رول.

په بل آیت کې رب العالمین فرمایی: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْآنَ تَنْزِيلاً. فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلاَ تُطِعْ مِنْهُمْ آثِماً أَوْ كَفُوراً.(۱)

ترجمة: بیشکه همدامونږ نازل کړی دی پرتاباندې (ای محمد) قرآن کریم، نو خپل درب حکم ته صبر وکړه، دګناه کارانو اوناشکره خلګو خبره مه منه.

په یوبل آیت کې الله عزوجل مومنانوته دالهی حکمونو دمنلو طریقه وربنیی اوفرمایی: إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ. (۲)

ترجمة: بیشکه داخبره ده چې کله مومنان دالله اودهغه درسول لاری ته دعوت سی ترڅوددوی په منځ کې ددوی دمخالفتونو حکم وسی نودوی به وایی مونږ واوریدل اومونږ متابعت وکړی او ومو منل نوهمدغه کسان کامیاب دی.

یعنی دصادقو مسلمانو کارداسې وی چې په کومه معامله کې دوی ته دالله تعالی دحکمونو دعوت اوبلنه وسی نودوی وایی زمونږ قبول دی، اودالله تعالی او دهغه درسول حکم منلوته تیاروی، اوپه همدغه کې ددوی اصلی نیکې اوحقیقی کامیابی ده.

اوبل که دشریعت دحکم په خلاف څوک بل حکم ورکړی نوهغه ته شرعی

۱- سورت الانسان آیت ۲٤

۲- سورة النور ۲٤ آیت ٥١

حکم نه ویل کیږی، اوکه دشرعی اصولو مطابق دخلګو په منځکې حکم یا فیصله وسی نوهغه نزاع اودعوه ختم کیږی ځکه خلګ ورته عقیده لری اومنی یی، بل داچې شرعی فیصله یوه اوپه یوه عبارت اوالفاظو وی، هیڅ بل تاویل اولاره نسته چې هغه غوره کړی.

داچې نن زموږ مسئلی نه خلاصیږی اوخلګ کله دیوه عالم اوکله دبل عالم څخه پوښتنی کوی ترڅودخپل ځان په نفع حکم پیداکړی، ددی یوازنی وجه داده چې زموږ اکثره فتواوی اوحکمونه دعربی کتابونو په عباراتو دی، تبعی خبره ده چې هغه کتابونه دخپل وخت عالمانو لیکلی دی اودهر عالم دعلم انداز اواندازه مختلفه وی نوهغومره مخالف حکمونه کیدای سی، نوځکه وینو چې یوچا ته یو عالم یوحکم ورکړی وی اوبل ته بیابل حکم ورکړی وی، په همدی وجه دخلګو په مشکلاتو کې اضافه کیږی اونه خلاصیږی اوپه خلګوکې پردین اوعالمانو باندې بی اعتمادی نوره هم اضافه کیږی، اوخپل دفیصلودپاره نوری لاری لټوی.

دوهم دلیل حدیث دی: دالله تعالی دراليږل سوی رسول صلی الله علیه وسلم حکمونه اوهدایات دی، ځکه کله چې په دغه الهی کتاب کې موږ دیوحکم دپاره دلیل پیدانکړو نوبیا رب العالمین موږ ته امرکړی دی چې دسید المرسلین خاتم النبیین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیثونه موږ ته دحکمونو اولاړښودنی دلیل دی، اوپه هغوی باندې دعمل کولواودلیل ویلو امرهم په دغه قرآن کې الله تعالی فرمایی: وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ.(۱)

ترجمة : اوهغه څه چې دالله رسول تاسوته درکوی (امرکوی) دحکمونوڅخه نوهغه واخلی او قبول یی کړی، اوهغه څه چې دالله رسول تاسو دهغه څخه منع کوی

۱- سورة الحشر آیت ۷

نوهغه پرېږدی اومه یې کوی اویا مه یې غواړی . اودالله څخه وبیرېږی بیشکه دالله تعالی عذاب ډیر سخت دی.

تفسیر: یعنی ټول هغه حکمونه، امرونه اونواهی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسوته درکړی هغه په ډیره خوښی سره منی ځکه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم نافرمانی دالله تعالی نافرمانی ده او وبیرېږی که درسول الله دنافرمانی په وجه الله تعالی ستاسو څخه خفه سی نو سخت عذاب به دربانديې مسلط کړی.

ځکه په بل آیت کې الله تعالی فرمایي : قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ. (۱)

ترجمة: ورته ووایه ای محمد (صلی الله علیه وسلم) ودغه خپل امت ته که تاسو دالله تعالی سره محبت لری نوزما متابعت وکړی، دغه زما داتباع په وجه به الله ستاسو سره محبت وکړی، او تاسوته به دګناهونو مغفرت وکړی اوالله تعالی ډیر بخښونکې اومهربان دی.

تفسیر: یعنی که په دنیاکې څوک دخپل حقیقی مالک دمحبت دعوی یاخیال لری نولازم دی چې هغه دمحمد صلی الله علیه وسلم ددین متابعت وکړی، هرسړی په هره اندازه چې دمحمد صلی الله علیه وسلم په شریعت باندې سم ځی اوداسلامی دین لاربښودنی خپلوی نوپه هغه اندازه به دالله تعالی په محبت کې صادق اوسوچه وی، اوپه هره اندازه چې دی په دغه دعوا کې رشتنی وی په هغه اندازه به دی درسول الله صلی الله علیه وسلم په شریعت عمل کوی. تفسیر کابلی جلد اول

دپورتنیوآیتونوڅخه معلومه سوله چې داسلام قانون په اوله درجه کې قرآن کریم دی په دوهمه درجه کې درسول الله صلی الله علیه وسلم قولونه اوحدیثونه هم

۱- سورة آل عمران آية ۳۱

ددی قانون حصه بلل کیږی، ځکه الله جل جلاله فرمايي: وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى (۳) إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى. (۱)

ترجمة: اوخبري نه کوی محمد صلی الله علیه وسلم دخپله ځانه بلکه څه چي دي وايي هغه ټولي وحی دی چې ده ته راليږل سوی دی.

يعنی ټول هغه څه چې دی درته وايی هغه دالله تعالی دطرفه راليږل سوی وحی دی، اوټول دالله تعالی دحکمونو سره برابر دی.

داچې موږ پر رسول باندې ايمان لرو اودايمان هم دغه تقاضا ده چې دی صلی الله علیه وسلم څه وايی اوموږ به عمل په کوو، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په يوحديث کې فرمايی: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَمْرٍو السُّلَمِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ الْعِرْبَاضَ بْنَ سَارِيَةَ، يَقُولُ: وَعَظَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْعِظَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ، وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ، فَقُلْنَا: يَارَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ هَذِهِ لَمَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ، فَمَاذَا تَعْهَدُ إِلَيْنَا؟ قَالَ: «قَدْ تَرَكْتُكُمْ عَلَى الْبَيْضَاءِ لَيْلُهَا كَنَهَارِهَا، لاَيَزِيغُ عَنْهَا بَعْدِي إِلاَّهَالِكٌ، مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ فَسَيَرَى اخْتِلاَفًا كَثِيرًا، فَعَلَيْكُمْ بِمَا عَرَفْتُمْ مِنْ سُنَّتِي، وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ، وَعَلَيْكُمْ بِالطَّاعَةِ، وَإِنْ عَبْدًا حَبَشِيًّا، فَإِنَّمَا الْمُؤْمِنُ كَالْجَمَلِ الأَنِفِ، حَيْثُمَا قِيدَ انْقَادَ». (۲)

ترجمة: عبدالرحمن بن عمروسلمی وايی: مادعرباض بن سارية څخه واوريدل چې ويلی: رسول الله صلی الله علیه وسلم موږته داسې نصيحت وکړی چې دهغه څخه دسترګو څخه اوښکې وبهيدلی اوزړونه وريږديدل، موږ ورته وويل ای دالله رسوله داخو رخصت والا نصيحت دی ته زموږ څخه دڅشی وعده اخلی، ده وويل زه تاسو پرداسې روښانه قانون باندې پريږدم اوځم چې دهغه شپه داسې روښانه ده لکه ورځ ، ددی څخه به مخ نه اړوی مګرنه هغه هلاک سوی، که څوک ستاسوڅخه ژوندی پاته وو نوډير اختلافونه به ووينی نوپرتاسو لازم ده چې هغه څه چې زماڅخه

۱- سورة النجم آيات ۳ـ۴ ۲- رواه ابن ماجة ج اول كتاب المقدمة

اوزمادهدایت کونکوخلفاء راشدینو ځخه موزده کړی دی په هغه عمل وکړی اوداپه غابنونوسره مضبوط ونیسی،اوپرتاسوباندې دامیراطاعت لازم دی که څه هم یو حبشی مریی وی، داځکه چې مومن دمهارکړه سوی اوبښ په شان دی چې ځنګه یې چلوی هغسی اطاعت کوی.

په بل حدیث کې راغلی دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ شَيْئَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّتِي.(۱)

ترجمة: ابوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماپه تاسوکې دوه شیا پریښودل که په هغوی عمل وکړی نو تاسوبه هیڅ کله بیلاری نه سی دالله کتاب او زماسنت دی.

په بل حدیث کی راغلی دی: عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ، لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ ".(۲)

ترجمة: امام مالک رحمة الله تعالی علیه وایی: ماته رسیدلی ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ماپه تاسوکې دوه امره پریښودله، ترڅوچې تاسوپه هغوی منګولی لګولی وی نو تاسو به هیڅ کله بیلاری نسی، یودالله تعالی کتاب اوبل دهغه دنبی سنت دی.

۸۷۷ – "ألا هل عسى رجل يبلغه الحديث عني وهو متكئ على أريكته فيقول بيننا وبينكم كتاب الله فما وجدنا فيه حلالا استحللناه وما وجدنا فيه حراما حرمناه وإن ما حرم رسول الله كما حرم الله".(ت عن المقدام بن معد يكرب).(۳)

ترجمة: مقدام بن معدیکرب رضی الله تعای عنه څخه روایت دی وایی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: چې یوسړی ته به زما لخوا حدیث ورسیږی په داسې حال کې چې ده په پرخپل کټ باندې تکیه وهلې وې (یعنی په تکبر سره به

۱– رواه مستدرک للحاکم -- ۲– موطأ امام مالک بن انس کتاب الجامع -- ۳– کنز العمال ج ۱ ص ۱۷۳

ناست وی) نوخلگوته به وایی زموږ اوستاسو په منځ کې یوازې دالله تعالی کتاب دی، وبس نوهرشی چې مو په کتاب الله کې حلال وموند هغه به حلال بولو، او هرشی چې موپکښې حرام وموند هغه به حرام بولو، اوحال داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم حرام کړی وی هغه داسې دی لکه الله جل جلاله چې حرام کړی وی.

دپورتنیو دلائلو څخه ثابته سوله چې داسلامی شریعت دڅلورو دلیلونو څخه دوهم دلیل ددغه دین درسول اوپیغامبرمحمد مصطفی صلی الله علیه وسلم حدیثونه دی هغه هم دقرآن کریم په استناد چې قرآن کریم زموږ دپاره دلیل بللی دی.

دریم دلیل اجماع ده: داسلامی امت اجماع هم ددین ددلائلو څخه یو دلیل دی اوداهم په اصل کې الله تعالی اودهغه محبوب رسول صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو دپاره په معاملاتو کې یو دلیل بللی دی، داچې اجماع دامت هم دشرعی دلائلو څخه یوقطعی دلیل دی دقرآن کریم په دغه آیت چې رب العالمین فرمایی:

وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ ٱلْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِۦ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيرًا. (۱)

ترجمة: اوڅوک چې درسول مخالفت کوی وروسته ترهغه چې ده ته سمه لاره ښکاره سی، اودی دمؤمنانو دلاری نه بغیر دبلی لاری متابعت کوی نودی به موږ هغه لاری ته وګرځوو کوم ته چې دی ګرځیدلی دی، اودی به موږ جهنم اودوزخ ته داخل کړو اودغه ډیر بدځای دګرځیدلو دی.

تفسیر: یعنی چاته چې حقه لاره معلومه سی اوبیاهم دی درسول اودمومنانو دلاری څخه مخالفت کوی نودهغه ځای به دوزخ وی اودغه ډیربد ځای دی.

په دغه آیت باندې علماء داجماع دفرضیت اودلیل والی ثابته وی، اودلیل وایی چې دامت داجماع منل فرض اومنکر یې کافراودوزخی دی.

۱- سورة النساء آية نمبر۱۱۵

په بل آیت کې فرمایي: وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً. (۱)

ترجمة: همدارنګه موږ تاسو عادل امت ګرځولی یاست ددی دپاره چې دقیامت په ورځ تاسو د نوروامتونو پرخلګو شاهدان سی اومحمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ستاسوپر عدالت شاهد سی.

دغه آیت هم داجماع پرفرضیت دلالت کوی ځکه رب العلمین دغه امت ته عادل امت ویلی دی اوعدالت دظلم ضد دی، داچې دغه امت پرنورو شاهدی وایی ددی هم دغه معنی ده چې دی پرحق دی.

په یوحدیث کی راغلی دی: يجيء نوح وأمته، فيقول الله: هل بلغت؟ فيقول: نعم، أي رب، فيقول لأمته: هل بلغكم؟ فيقولون: لا، ما جاءنا من نبي، فيقول: لنوح من يشهد لك، فيقول: محمد وأمته، وهو قوله تعالى: {وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ}، والوسط: العدل، فتدعون فتشهدون له بالإبلاغ، ثم أشهد عليكم".(۲)

ترجمة: ابی سعید وایی: چې نوح علیه السلام اودده امت راسی نوالله تعالی ورته ووایی تادین ورسوی؟ نودی ورته وایی هو یارب، بیا دده امت ته وویل سی ایاده تاسوته دین رسولی دی؟ نودوی وایی نه موږته هیڅ نبی نه دی راغلی، نوبیا ونوح علیه السلام ته وویل سی څوک ستادپاره شاهدی وایی؟ نودی ورته وایی محمد اودهغه امت، همدغه دآیت مطلب دی (وکذلک جعلناکم وسطا ....)

اودوسط معنی ده عدل، نودغه امت راغوښتل کیږی اوبیا دده (نوح علیه السلام) دپاره شاهدی وایی چې ده دین رسولی دی، اورسول الله صلی الله علیه وسلم وایی بیا زه پرتاسو شاهدی وایم.

په بل ځای کې داغه حدیث په څه تفصیل سره راغلی دی اوفرمایي: عَنْ أَبِي

۱- سورة البقرة آیت ۱۴۳ ۲- عن أبي سعيد" حم ، كنز العمال ج ۲ ص ۴

سَعِيد الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَجِيءُ النَّبِيُّ يَوْمَ الْقِيَامَة، وَمَعَهُ الرَّجُلُ، وَالنَّبِيُّ وَمَعَهُ الرَّجُلَانِ، وَأَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ، فَيُدْعَى قَوْمُهُ، فَيُقَالُ لَهُمْ: هَلْ بَلَّغَكُمْ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: لاَ. فَيُقَالُ لَهُ: هَلْ بَلَّغْتَ قَوْمَكَ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ. فَيُقَالُ لَهُ: مَنْ يَشْهَدُ لَكَ؟ فَيَقُولُ: مُحَمَّدٌ وَأُمَّتُهُ. فَيُدْعَى مُحَمَّدٌ وَأُمَّتُهُ، فَيُقَالُ لَهُمْ: هَلْ بَلَّغَ هَذَا قَوْمَهُ؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ. فَيُقَالُ: وَمَا عِلْمُكُمْ؟ فَيَقُولُونَ: جَاءَنَا نَبِيُّنَا، فَأَخْبَرَنَا: أَنَّ الرُّسُلَ قَدْ بَلَّغُوا، فَذَلِكَ قَوْلُهُ ": {وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا} قَالَ:" يَقُولُ: عَدْلاً "، {لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ، وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا}.(۱)

ترجمة: ابی سعید وایی: چې دقیامت په ورځ یونبی راځی دهغه سره یوسړی وی، اوبل نبی راځی دهغه سره دوه کسان وی، یوبل نبی راځی دهغه سره دری یا تردی ډیر وی، نو ودوی ته وویل سی ایا تاسوته دغه نبی دین رسولی دئ؟ نودوی ورته وایی یا، نوودغه نبی ته وویل سی چې څوک ستا شاهد دی؟ نودی ورته وایی: محمد صلی الله علیه وسلم اودهغه امت، نومحمد اودهغه امت راوغوښتل سی او دوی ته وویل سی ایا ده خپل قوم ته دین رسولی دی؟ نودوی ورته وایی: هو، نو دوی ته وویل سی تاسوته چاوویل؟ دوی ورته وایی زموږ نبی راغلی اوموږ یی خبر کړو چې بیشکه ټولو رسولانو دین رسولی دی اوموږ دهغه تصدیق وکړی، همدغه ددی قول معناده، موږ تاسو منځنی امت وګرځولاست ددی دپاره چې پرخلکو شاهدان سی اوستاسو رسول پرتاسو شاهد سی.

په بل آیت کې فرمایی: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ .(۲)

ترجمة: ای دمحمد (صلی الله علیه وسلم امته) تاسو ترټولو هغو امتونو خیر یاست چې دخلکو لپاره را ایستل سوی دی ، چې تاسو هرچاته دمعروف اونیکی

۱- رواه امام احمد بن حنبل فی مسنده
۲- آل عمران آیت ۱۰۰

حکم کوی ، اوتاسو هرڅوک دمنکر اوبدی څخه منع کوی، اوتاسو په دوام اوثبات سره پر الله تعالی ایمان لری.

داچې دغه امت دټولو امتونو خير دی دخيريت هم دغه مطلب اومعناده چې ددوی اجماع ددوی په خپل منځی معاملاتو کې دليل قطعی دی.

څکه په حديث کې راغلی دی: عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ لاَ يَجْمَعُ أُمَّتِي، أَوْ قَالَ: أُمَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ضَلاَلَةٍ، وَيَدُ اللَّهِ مَعَ الجَمَاعَةِ، وَمَنْ شَذَّ شَذَّ إِلَى النَّارِ.(۱)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنه روايت کوی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بيشکه الله تعالی زما امت ياداچې دمحمد صلی الله عليه وسلم امت پرګمراهی اوغلطه لار نه سره يو ځای کوی، اودالله تعالی لاس اومدد دجماعت سره دی، اوڅوک چې دجماعت څخه جداسو نوهغه دجهنم اورته ولويدی.

په بل حديث کې راغلی دی: عَنِ الْمُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ قَالَ: كَانُوا إِذَا نَزَلَتْ بِهِمْ قَضِيَّةٌ لَيْسَ فِيهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَثَرٌ، اجْتَمَعُوا لَهَا وَأَجْمَعُوا، فَالْحَقُّ فِيمَا رَأَوْا، فَالْحَقُّ فِيمَا رَأَوْا. (۲)

ترجمة: مسيب بن رافع وايی: چې کله به ددوی (صحابه کرام) په منځ کې داسې کومه قضيه پيښبه سوله چې په هغه کې به درسول الله صلی الله عليه وسلم کوم اثر ياقول نه وو ، نودوی به سره راټول سوله نو کوم شی چې به ددوی په نزد حق وو ، يعنی کوم شی چې به ددوی پراتفاق ووهغه حق وو.

اوعبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وايی: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ نَظَرَ فِي قُلُوبِ الْعِبَادِ، فَوَجَدَ قَلْبَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرَ قُلُوبِ الْعِبَادِ، فَاصْطَفَاهُ لِنَفْسِهِ، فَابْتَعَثَهُ بِرِسَالَتِهِ، ثُمَّ نَظَرَ فِي قُلُوبِ الْعِبَادِ بَعْدَ قَلْبِ مُحَمَّدٍ، فَوَجَدَ

۱- الجامع الترمذی کتاب الفتن

۲- سنن الدارمی کتاب المقدمة ص ۲۲

قُلُوبَ أَصْحَابِهِ خَيْرَ قُلُوبِ الْعِبَادِ، فَجَعَلَهُمْ وُزَرَاءَ نَبِيِّهِ، يُقَاتِلُونَ عَلَى دِينِهِ، فَمَا رَأَى الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا، فَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ حَسَنٌ، وَمَا رَأَوْا سَيِّئًا فَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ سَيِّئٌ». (۱)

ترجمة: عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وایی: بیشکه الله تعالی دخپلو بندګانوپه زړونوکې وکتل نودمحمد صلی الله علیه وسلم زړه یې ترټولو زړونو خیر وو نوځکه ئی دخپل ځان دپاره غوره کړی اوپه رسالت سری مبعوث کړی، اوبیا یی دخپلو بندګانوپه زړونوکې وکتل دمحمد صلی الله علیه وسلم تر زړه وروسته دده داصحابو زړونه ترټولو زړونوخیر وه نودوی ئی دخپل نبی وزیران جوړ کړل، دوی دالله پردین باندې جنګ کوی، نوهغه څه چې مسلمانان ښه وبولی نوهغه د الله تعالی په نزدهم ښه دی، اوهغه څه چې ددوی په نزد بدوی نوهغه دالله تعالی په نزدهم بد دی.

مراد دامت څخه هغه دی چې دخپل هواء، بدعاتو اوخواهشاتو تابع نه وی، دپورتنیو دلائلو څخه ثابته سوله چې داسلامی نظام داصولومطابق اجماع هم دقرآن اوحدیث متواتر په شان یو قطعی دلیل دی چې عمل په کول فرض اومنکر یی کافردی.

په دی هکله زمونږ دحنفی فقهی داصولو په یوکتاب کې لیکلی دی: وقد انقطع الوحی فوجب القول بأن اجماعهم صواب بیقین، کرامة من الله تعالی وصیانة لهذا الدین، فصار الاجماع کآیة من الکتاب اوحدیث متواتر فی وجوب العمل والعلم به، فیکفرجاحده فی الاصل. (۲)

ترجمة: بیشکه وحی بندی سولی، نوداسې قول کول واجب دی چې دامت اجماع یقینی حق ده ، او دغه دالله تعالی دطرف څخه ددی امت کرامت اوعزت دی، اوددغه دین ساتنه ده، نواجماع داسې سوله لکه دقرآن کریم آیت اوحدیث متواتر،

۱- مسند امام احمد، مسند المکثرین الصحابة --۲-کنزالوصول الی معرفة الاصول، المشهور باصول البزدوی ص ۱۰۱

دعلم اوعمل په وجوب کې، نوځکه یې منکر کافر دی.

داچې ددی دین رسول خاتم النبیین دی وروسته بل نبی نه راځی اوداسلام دین به ترقیامته پوری پاته وی، ددی هم دغه تقاضاده چې ددی امت اجماع دلیل سی، ځکه په حدیث کې راغلی دی: عَنِ المُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لاَ يَزَالُ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ ظَاهِرُونَ».(۱)

ترجمة: مغیرة بن شعبة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وویل: چې همیشه به خلک زمادامت څخه پردغه دین قایم اوغالب وی ترڅو چې دالله تعالی امر یعنی قیامت راځی اودوی به غالب وی.

په بل حدیث کې راغلی دی: عَنِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله، يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لاَ تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ».(۲)

ترجمة: جابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې مادرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویلی: همیشه به زمادامت څخه یوه ټولی پرحق باندې جنګ کوی، دوی به غالب وی ترقیامته پوری.

نودعقل هم داغه تقاضاده چې ددی امت دپاره دداسې مسائلو دپاره چې په وروستی وقتونو کې پیښیږی دحل یا حرمت لاره وی، نودهغو لارو دجملې څخه یو اجماع اوبل قیاس دی.

څلورم اصل یادلیل قیاس دی: په دی هکله هم داسلامی دین علماء او فقهاء دقیاس ددلیل والی دپاره دنبی کریم صلی الله علیه په دغه حدیث دلیل وایی: عَنْ الحَارِثِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ رِجَالٍ مِنْ أَصْحَابِ مُعَاذٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى اليَمَنِ، فَقَالَ: «كَيْفَ تَقْضِي؟»، فَقَالَ: أَقْضِي بِمَا فِي كِتَابِ اللَّهِ، قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟»، قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «فَإِنْ لَمْ

۱ البخاری کتاب المناقب

۲- صحیح مسلم کتاب الامارة

يَكُنْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟»، قَالَ: أَجْتَهِدُ رَأْيِي، قَالَ: «الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ». (۱)

ترجمة: حارث بن عمرو دمعاذ رضی الله تعالی عنه دډيرو ملګرو څخه روايت كوی چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم يمن ته ليږی نو ورته وی ويل: په څشی به قضاء ياحكم كوی؟ نوده ورته وويل په هغه څه چې دالله تعالى په كتاب كې دی، نوده صلى الله عليه وسلم ورته وويل كه دالله تعالى په كتاب كې نه وه؟ نوده ورته وويل: درسول الله صلى الله عليه وسلم په سنت باندې، نوده صلى الله عليه وسلم ورته وويل كه درسول الله صلى الله عليه وسلم په سنت كې نه وه؟ نوده ورته وويل: په خپله رايه، نورسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: الله تعالى لره دی حمد وی چې درسول الله رسول ته يې دحق فيصلې كولو توفيق وركړی.

په پورتنی حديث سره دغه ثابته سوله چې دكتاب الله اوسنت رسول الله نه وروسته خپله رايه هم دليل ده خوعلماؤ ددغه خپلی رايې دپاره هم اوصول وضع كړی دی داسې نه چې هر سړی وايی زمارايه دغه ده اوزه په خپله رايه عمل كوم، ځكه دداسې كولوڅخه په دين كې خلل اوعبث راځی.

بل دامعلومه سوله چې معاذ رضی الله تعالى عنه يمن ته ديوحاكم اوقاضی په صفت تلی، نو دهر قاضی اوحاكم دپاره ضروری ده چې اول دكتاب الله دوهم دسنت رسول الله دريم داجماع څلورم بيا په قياس عمل وكړی.

دقياس دپاره اصول دده دتعريفونو څخه معلوميږی، دقياس څو ډوله تعريفونه سوی دی چې دهغوی دجملې څخه څه داسې دی: ۱- قال بعض المتأخرين: القياس رد فرع إلى أصل بما يجمع بينهما. ۲- وقال الأستاذ أبو بكر: القياس حمل الشيء على الشيء لإثبات حكم بوجه شبه. ۳- فأقرب العبارات ما ذكره القاضي إذ قال:"القياس

۱- جامع الترمذی كتاب الاقضية

حمل معلوم على معلوم في إثبات حكم لهما أو نفيه عنهما بأمر يجمع بينهما من إثبات حكم أو صفة أو نفيهما".(١)

ترجمة: ١- څه آخرني علماء وايي: قياس رد دفرعي دی واصل ته دهغه شي په واسطه چې دوی دوه سره يوځای کوی.

ترجمة:٢- استاذ ابوبکر وايي: قياس حمل ديوشي دی پربل شي باندې د حکم داثبات دپاره په داسې وجه چې ددواړو په منځ کې مشابهت لري.

ترجمة:٣- ډير نژدی عبارت هغه دی چې قاضي وايي: هغه داچې قياس ديوه معلوم پربل معلوم باندې دحمل کولو څخه ددواړو حکم معلوميږي، په اثبات يانفي کې، دداسې امر ياصفت په واسطه چې ددواړو په منځ کې شريک وی په اثبات يانفي کې.

دپورتنيو تعريفونو څخه معلومه سوله چې قياس هم داسې نه دی چې بس څوک وايي دغه يوشي پرهغه بل شي قياس دی بلکې داسې به وی چې ددغه دوشيانو ترمنځ به يومناسبت اوداسې واسطه وی چې دوی دوه سره يوځای کوی، اودابه هم ورته معلومه وی چې اول شي په چشي ثابت دی يعنی په قرآن اوحديث که هغه هم په قياس ثابت وی نوبيابل شي نه پرقياس کيږي.

بل داچې څوک قياس کوی په هغه کې به دومره علمي توان وی چې داجتهاد درجی ته رسيږي يعنی دمجتهد صفات که ټوله نه وی اقلا خپل دمذهب اودمجتهد داستنباط طريقه به ورته معلومه وی، کوشش به کوی چې ترقياس دمخه په قرآن، حديث اواجماع سره دليل ووايي اودقياس څخه ځان وساتی ځکه دقياس په باره کې يوروايت داسې راغلی دی: عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالْمُقَايَسَةَ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ أَخَذْتُمْ بِالْمُقَايَسَةِ لَتُحِلُّنَّ الْحَرَامَ وَلَتُحَرِّمُنَّ الْحَلَالَ، وَلَكِنْ مَا بَلَغَكُمْ عَمَّنْ حَفِظَ مِنْ

١- البرهان فی اصول الفقه, لامام الحرمين ابی المعالی عبدالملک بن عبدالله بن يوسف الجوينی

أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْمَلُوا بِهِ».(۱)

ترجمة: دشعبي رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې ده ویله: زما دی په الله تعالی قسم وی که تاسو په ډیرو قیاسونو عمل شروع کړی نو ډیرحرام به حلال او ډیر حلال به حرام کړی، خوهغه څه چې تاسوته دهغه چاڅخه ورسیږی چې هغه د محمد صلی الله علیه وسلم داصحابو څخه یادکړی وی نوپه هغه عمل کوی.

څلوراختلافی اصول

داسلامی فقهی دعلماؤ په منځ کې دفقهی څه اصول سته چې په هغوی کې ددوی اختلاف دی، څه علماء یی ددلیل په توګه منی اوڅه یی نه منی، داسی اختلافی اصول هم څلوردی:

۱- دصحابی قول اوفعل دی مخکی تردی چې داختلاف تشریح او وضاحت وسی دصحابی تعریف کول ضروری دی، دصحابی دتعریف په هکله ویل کیږی:

الصحابي في اللغة: من صحب غيره ما يطلق عليه اسم الصحبة وإن قلت.

واختلفوا في تعريفه اصطلاحا: فذهب الأكثرون ومنهم المحدثون والإمام أحمد وبعض الأصوليين وبعض أصحاب الإمام الشافعي عليه الرحمة إلى أنه من اجتمع بالنبي صلى الله عليه وسلم مؤمنا ومات على الإيمان.

وبعضهم قال من رأى النبي بدل من اجتمع بالنبي. ويدخل على الأول مثل ابن أم مكتوم رضي الله عنه ولا يدخل على الثاني.(۲)

ترجمة:په عربی لغت کی صحابی وهغه چاته ویل کیږی چی دبل سره دومره وخت ملګری سی چی پرهغه باندی دملګرتیا اطلاق کول کیږی که څه هم لږوی.

په اصطلاحی تعریف کی دعلماؤ څخه اختلاف نقل سوی دی، هغه داچی ډیرعلماء چی دهغوی څخه محدثین،امام احمدبن حنبل،اوڅه داصولو علماء،

۱- سنن الدارمی کتاب المقدمة ۱۰۹--- ۲- الاجوبة العراقیة علی الاسئلة اللاهوریة ج۱ ص ۵

اوامام شافعي رحمة الله تعالى عليه څه ملګري وايي: صحابي هغه دی چې دنبي صلى الله عليه وسلم سره دايمان په حال کې يوځای سوی وی او پرداغه ايمان مړوی.

اوڅه علماء ديوځای کيدلو پرځای ليدل وايي، يعني چې نبي صلى الله عليه وسلم يې دايمان په حال کې ليدلی اوپرداغه ايمان مړوی، ددغه اختلاف نتيجه داسوله چې داول تعريف پربنا ړانده خلګ لکه عبدالله ابن مکتوم رضی الله تعالى عنه دصحابي په تعريف کې داخليږي، خوددوهم تعريف پربنا نه داخليږي.

په يوبل کتاب کې داسې تعريف نقل سوی دی: والصحابي كل من لقيه صلى الله عليه وسلم مؤمناً ومات على ذلك.(۱)

ترجمة: صحابي هرهغه څوک دی چې دنبي صلى الله عليه وسلم سره د ايمان په حال کې يوځای سوی وی اوپرداغه ايمان مړوی.

په يوبل کتاب کې داسې تعريف نقل سوی دی: والصحابي: هو من لقي النبي صلى الله عليه وسلم مؤمناً به ومات على ذلك ولو كان ذلك ساعة من ليل أو نهار.(۲)

ترجمة: صحابي هغه څوک دی چې دنبي صلى الله عليه وسلم سره دايمان په حال کې يوځای سوی وی اوپرداغه ايمان مړوی که څه هم دشپې ياورځې څخه يوساعت وی.

په يوبل کتاب کې داسې تعريف نقل سوی دی: الصحابي هو من رأى النبي صلى الله عليه وسلم مؤمناً به مات على ذلك، وقد يكون الصحابي صغيراً، وقد يراه ولا يسمع منه.

۱- مختصر الاسئلة والاجوبة الاصولية على العقيدة الواسطية ج ۱ ص ۱۵

۲- شرح لمعة الاعتقاد لخالد المصلح ج ۱۸ ص ۳

المحققون من أهل الحديث، كالبخاري وأحمد بن حنبل على أن الصحابي هو "من لقي النبي صلى الله عليه وسلم وهو مميز مؤمن به، ومات على الإسلام، طالت مجالسته له أو قصرت، روى عنه أو لم يرو، غزا معه أو لم يغز.(١)

ترجمة: صحابي هغه څوک دی چې دنبي صلی الله علیه وسلم سره دایمان په حال کې یوځای سوی وی اوپرداغه باندی مړوی، خوکله دغه صحابي کوچنی وی اوڅوک بیا داسی وایی چې نبي صلی الله علیه وسلم یې لیدلی وی خوڅه یې نه وی ځنی اوریدلی.

دعلم حدیث تحقیق کونکو: لکه امام بخاری اوامام احمد بن حنبل رحمة الله تعالی علیهما په نزد صحابي هغه څوک دی چې دنبي صلی الله علیه وسلم سره په داسی حال کې یوځای سوی وی چې تمیز کونکی اوایمان پر لرې، اوپر داغه اسلام مړوی، ددغه ملاقات مدة اوږده اوکه لنډه وی، روایت یې ځنی کړی اوکه نه وی کړی، غزایې ورسره کړی اوکه نه وی کړی.

دپورتنیو تعریفونو څخه معلومه سوله چې صحابي هغه چاته ویل کیږی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې لیدلی یاورسره یوځای سوی وی، ایمان یې پراوړی وی، اوپرداغه ایمان مړسوی وی، حدیث ځنی روایت کول شرط نه دی، او علم یازدکړه پکښی شرط نه دی، اوداچې په قول یافعل یې دلیل ویل کیږی یا حکم په کول کیږی دهغه دپاره علم شرط دی، نوځکه څه فقهاؤ اوعلماؤ په نزد دمطلق صحابي قول اوفعل په شرعی مسائلوکې دلیل نسی کیدلای.

دغه اختلاف دفقه داصولو په یوکتاب کې داسی بیان سوی دی: وَقَدْ ذَهَبَ قَوْمٌ إِلَى أَنَّ مَذْهَبَ الصَّحَابِيِّ حُجَّةٌ مُطْلَقًا، وَقَوْمٌ إِلَى أَنَّهُ حُجَّةٌ إِنْ خَالَفَ الْقِيَاسَ، وَقَوْمٌ إِلَى أَنَّ الْحُجَّةَ فِي قَوْلِ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ خَاصَّةً لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ

١- شرح فتح المجيد للغنيمان ج ٢٠ ص ٣

بَعْدِي» وَقَوْمٌ إِلَى أَنَّ الْحُجَّةَ فِي قَوْلِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ إِذَا اتَّفَقُوا.

وَالْكُلُّ بَاطِلٌ عِنْدَنَا فَإِنَّ مَنْ يَجُوزُ عَلَيْهِ الْغَلَطُ وَالسَّهْوُ وَلَمْ تَثْبُتْ عِصْمَتُهُ عَنْهُ فَلاَ حُجَّةَ فِي قَوْلِه، فَكَيْفَ يُحْتَجُ بِقَوْلِهِمْ مَعَ جَوَازِ الْخَطَإِ؟ وَكَيْفَ تُدَّعَى عِصْمَتُهُمْ مِنْ غَيْرِ حُجَّةٍ مُتَوَاتِرَةٍ؟. (١)

ترجمة: دیوقوم یعنی علماؤ قول دادی: چی دصحابی مذهب مطلق دلیل دی، دبل قوم قول دادی چی دصحابی قول هغه وخت دلیل دی چی دقیاس خلاف وی، دبل قوم قول دادی: چی یوازی دابوبکر اوعمر رضی الله تعالی عنهما قول دلیل دی ځکه درسول الله صلی الله علیه وسلم قول دی چی (په هغو دوو پسی اقتدا وکړی چی ترما وروسته دی)، دبل قوم قول دادی چی یوازی دڅلورو خلفاؤ راشیدینو قول دلیل دی چی کله پریومسئله سره متفق ُسی.

خودغه ټول زموږ (شافعیانو) په نزد باطل دی، ځکه هغه څوک چی هغه ته دغلط اوسهوی نسبت کول جایز وی، اودهغه عصمت ثابت نه وی نودهغه په قول باندی دلیل ویل صحیح نه دی، څنګه به دده په قول سره دلیل ویل جایز وی چی دخطاء نسبت ورته کول جایز دی، اودیومتواترثبوت نه بغیربه څنګه ددوی عصمت ثابت سی؟

دپورتنی کتاب لیکونکی (ابو حامد محمدامام غزالی رحمه الله) دامام شافعی رحمه الله دمذهب اتباع کونکی دی، دده دعبارت څخه معلومه سوله چی دصحابی قول مطلق دلیل نه دی، ځکه دی وایی: (والکل باطل عندنا) دغه ټول زموږ په نزد باطل دی.

خوداصول فقه یوبل کتاب لیکونکی (محمد امین شنقیطی) بیا په خپل کتاب کی داسی لیکلی دی:

١- المستصفی ج ١ ص ١٧٠

۱- انه حجة يقدم على القياس ويخص به العموم، وعزاه مالك والشافعي في القديم وبعض الحنفية واستدل بحديث (أصحابي كالنجوم) الحديث.

۲-ليس بحجة وعزاه لعامة المتكلمين والشافعي في الجديد واختارأبي الخطاب واستدل له بامكان الغلط والخطأ من الصحابة وبأنه يجوز عليهم الاختلاف ولم تثبت عصمتهم.

۳- قول الخلفاء الراشدين دون غيرهم واستدل له بحديث: ((عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين)) الحديث.

٤- قول أبي بكروعمرواستدل له بحديث اقتدوابااللذين من بعدي:أبي بكر وعمر.(۱)

ترجمة: اول قول دادی چی وایي: دصحابی قول مطلق حجت اودلیل دی، پر قیاس دمخه عمل په کول کیږي، اودعام تخصیص په کیږي.دغه قول دامام مالک دی، اودامام شافعی اولنی قول دی، اودځه حنفیانو هم داغه قول دی. ددوی دلیل هغه حدیث دی چی په هغه کی ویل سوی دی (زما اصحابان لکه ستوري) چی په هریوه پسی اقتداء وسی نوهغه پرهدایت باندی دی)

۲- دوهم قول دادی چی وایي: دصحابی قول هیڅ دلیل نه دی، دغه قول دعامو متکلموینو، دامام شافعی رحمه الله نوی قول دی، اودغه قول ابی خطاب هم غوره اومختار کړی دی.

ددوی دلیل دادی چی دصحابی څخه غلط اوخطا کول ممکن دی، او دا چی ددوی څخه مخالفت کول جایزدی، اوداچی ددوی معصومیت ثابت نه دی.

۳- دریم قول داچی دځلورو خلفاء راشیدینو قول دلیل دی، دنورو نه دی، ددوی دلیل هغه حدیث دی چی په هغه کی راغلی دی (پرتاسوباندی زما اوزما دخلفاء راشیدینو دسنتو پیروی لازمه ده)

۴- څلورم قول دادی: یوازی دابوبکر اوعمر رضی الله تعالی عنهما قول

۱- مذکرة في اصول الفقه ج ۱ ص ۱۹۷

دليل دى، ددوى دليل هغه حديث دى چى په هغه کی راغلی دی (تاسو اقتداء وکړی په هغو ددو پسی چی ترما وروسته راځی ابوبکر اوعمر) رضی الله عنهما.

ځوک چی دصحابی قول دليل نه بولی هغوی داهم وايی چی دغه حديث (أصحَابِي كالنُّجُوم،بأيُّهم اقتديتم اهتَديْتُم)ضعيف دی، بلکی څه علماء ورته موضوعی واي، ابن عبدالبر دغه حديث په خپل کتاب (جامع بيان العلم وفضله (۱۱۱/۲) کی نقل کړی اوبيا وايی: ددغه په سند باندی دليل نه ويل کيږی ځکه دده په سند کی حارث بن غصين دی اوهغه مجهول دی.

اوداغه حديث ابن حزم په خپل کتاب (الإحكام ص (۸۱۰) کی نقل کړی دی، اوبيا وايی: ددغه حديث په راويانوکی سلام بن سفيان دي اوهغه ضعيف حديثونه روايت کوی اودغه حديث دهغوی دجملی څخه دی، اوپه دغه کی شک نسته چی دغه حديث دسند دضعف په وجه ساقط دی.

دصحابی دقول داستدلال په هکله بل اختلاف داسی نقل سوی دی: حجية قول الصحابي: تنوعت مذاهب العلماء في هذه المسألة وانقسمت إلى خمسة مذاهب مشهورة: المذهب الأول:قول الصحابي حجة يجب العمل به. وقد نسب هذا القول إلى مالك والشافعي في القديم، وأحمد في رواية عنه، وعليه أكثر الأصوليين والفقهاء من الحنفية، وابن عقيل من الحنابلة، والعلائي والخطيب البغدادي من الشافعية. واختاره ابن القيم في إعلام الموقعين، والشاطبي في الموافقات وابن تيمية.

المذهب الثاني: أنه ليس بحجة مطلقاً: وقد نسب إلى الشافعي في الجديد وليس بصحيح وأحمد في رواية، ومذهب جمهور الشافعية، منهم الغزالي والآمدي وبه قالت المعتزلة وهو مذهب ابن حزم.

المذهب الثالث:أنه حجة إن كان ممالامجال للرأي فيه فقط وهوقول جماعة من الأحناف

المذهب الرابع: قول أبي بكر وعمر رضي الله عنهما حجة دون غيرهما.

المذهب الخامس: قول الخلفاء الأربعة أبي بكر، وعمر، وعثمان، وعلي رضي الله عنهم حجة دون غيرهم.(١)

ترجمة: داچې دصحابي قول حجت دی که نه: په دی هکله دعلماؤ مذهبونه وپنځه مشهورو مذهبونو ته ویشل سوی دی: اول مذهب داچې دصحابي قول مطلق حجت اودلیل دی عمل په کول واجب دی، ددغه قول نسبت وامام مالک ته، اودامام شافعي پخوانی قول ته دی، دامام احمد بن حنبل څخه هم یوروایت سوی دی، اودحنفي مذهب ډیر داوصولو اوفقهي علماء پر دغه قول باندی دی، دحنبلي مذهب څخه ابن عقیل، دشافعي مذهب څخه علائي اوخطیب بغدادي پر دغه قول دی، همدغه قول ابن قیم په اعلام موقعین کی اوشاطبي په مُوافقات کی اوابن تیمیة رحمة الله تعالی علیهم مختاره کړی دی.

دوهم مذهب داچې مطلق حجت اودلیل نه دی، ددغه قول نسبت وامام شافعي ته په نوی قول کی سوی دی، اودغه صحیح نه دی، اوامام احمد بن حنبل ته په یوروایت کی سوی دی، دډیرو شافعیانو دغه مذهب دی، چې دهغوی د جملې څخه امام غزالي رحمه الله دی، اودغه دمعتزلوو اوابن حزم مذهب هم دی.

دریم مذهب: داچې دصحابي قول یوازی هغه وخت دلیل دی چې درایي ځای پکښې پاته نه وی، اودغه دډیرو حنفیانو قول هم دی.

څلورم مذهب: داچې دابوکر اوعمر رضی الله تعالی عنهما قول دلیل دی دنورو قول دلیل نه دی.

پنځم مذهب: داچې دڅلورو خلفاء راشیدینو لکه ابوبکر، عمر، عثمان اوعلي رضی الله تعالی عنهم قول دلیل دی دنورو قول دلیل نه دی.

١- حقیقة البدعة واحکامها ج ١ ص ٣٢٠

بل اختلاف داسی نقل سوی دی چی صحابی وایی: موږ داسی ویل یا داسی کول، یاوایی: موږ دنبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کی داسی ویل یا داسی کول، یاموږ ته امروکړل سو یاموږ منع کړل سولو ، یاسنت داسی دی، په دی هکله دحنفی مذهب داصول فقهی په یوکتاب فصول الاصول کی داسی لیکلی دی: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: قَوْلُ الصَّحَابِيِّ: أُمِرْنَا بِكَذَا، وَنُهِينَا عَنْ كَذَا. وَقَوْلُهُ: السُّنَّةُ كَذَا. لَا يَجُوزُ أَنْ يُجْعَلَ شَيْءٌ مِنْهُ رِوَايَةً عَنْ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ، إذْ كَانَ الْأَمْرُ وَالنَّهْيُ وَالسُّنَّةُ لَا يَخْتَصُّ بِالنَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ، دُونَ غَيْرِهِ مِنْ النَّاسِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: }أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ{ [النساء: ٥٩] .

وَكَذَلِكَ السُّنَّةُ، فَقَدْ تَكُونُ لِغَيْرِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ، قَالَ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلَامُ: «عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي، وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ مِنْ بَعْدِي» . ابوداود كتاب السنة نمبر ۳۹۹۱

وَقَالَ: «مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا إلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَنَّ سُنَّةً سَيِّئَةً فَعَلَيْهِ وِزْرُهَا، وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا إلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». سنن ابن ماجة كتاب المقدمة

وَأَمَّا إذَا قَالَ الصَّحَابِيُّ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَذَا، أَوْ نَهَانَا عَنْ كَذَا، وَسَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَا، فَإِنَّ مِنْ النَّاسِ مَنْ يَأْبَى أَنْ يُوجَبَ بِمِثْلِهِ حُكْمًا، حَتَّى يَحْكِيَ لَفْظَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَيْنِهِ، لِأَنَّهُ جَائِزٌ أَنْ يَكُونَ سَمِعَ لَفْظًا يَحْتَمِلُ الْمَعَانِي، فَتَأَوَّلَهُ عَلَى الْمَعْنَى عِنْدَهُ، وَنَحْنُ فَلَا يَلْزَمُنَا تَأْوِيلُهُ.

وَقَالَ آخَرُونَ: حُكْمُ مَا هَذَا سَبِيلُهُ مِنْ الْأَلْفَاظِ ثَابِتٌ: لِأَنَّ مِنْ الْعُلَمَاءِ مَنْ يَرْوِي نَقْلَ الْمَعْنَى دُونَ اللَّفْظِ. مِنْهُمْ: الْحَسَنُ، وَالشَّعْبِيُّ، وَغَيْرُهُمَا. وَمِنْهُمْ: مَنْ يَرَى نَقْلَ اللَّفْظِ بِعَيْنِهِ.(۱)

ترجمَة: أبو بكر رازي جصاص حنفي (رحمه الله) وایی: دصحابی داسی قول چی وایی: موږ په داسی امر کړل سوی یو یاموږ دداسی څخه منع کړل سوی یو ،

۱- الفصول فی الاصول ج ۳ ص ۱۹۷- ۱۹۹ بالاختصار

یا وایي چې سنت دادي، ددغو څخه یو هم دنبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت نسي کېدلای، ځکه امر، نهي اوسنت یوازې په نبي علیه السلام پورې خاص نه دی، ځکه بل څوک هم امراونهي کولای سي، الله تعالی فرمایي:تاسو دالله تعالی دامر اطاعت کوی دالله تعالی درسول اطاعت کوی اوخپل دامیر دامر اطاعت کوی.نوکیدای سي چې امرکونکی اونهي کونکی دوخت آمران او والیان وي، نو ځکه دلته خاص دلیل نسته چې دغه امر اونهي دنبي علیه السلام دي.

همدارنګه سنت هم بیله نبي دبل چا هم کیدای سي، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: پرتاسو باندي زما دسنتو اوترما وروسته زما دخلفاء راشیدینو دسنتو اتباع لازمه ده. په بل حدیث کې فرمایي: که چا دښو سنتو بنیاد جوړ کړی نوده ته دهغو ثواب رسیږي اوڅوک چې ترقیامته پورې په دغو سنتو عمل کوي دهغوی ثواب ورسیږي، اوهمدارنګه که چا دبدوسنتو بنیاد جوړ کړی نوده ته دهغو عذاب رسیږي اوڅوک چې ترقیامته پورې په دغو بد سنتو عمل کوي دهغوی عذاب ورسیږي.

اوکه صحابي داسې وایي: چې موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم امرکړلو یا منع کړلو یا وای چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه کار سنت بللی دی، خوبیا هم څه خلک په داسې الفاظو باندې حکم کول صحیح نه بولي ترڅوچې بعینه درسول الله صلی الله علیه وسلم خپل الفاظ نقل کوي، ځکه کیدای سي چې ده داسې الفاظ اوریدلی وي چې هغه ډېرو معناګانو احتمال لري، اوده پر هغه معنا حمل کړی وي چې دده سره وي، خوپرموږ باندې هغه دده تاویل کول لازم نه دي.

څه نور بیاوایي: په داسې الفاظوباندې حکم کول ثابت دي، ځکه څه علماء

بیله الفاظو دمعنا روایت صحیح بولی، چی دهغوی دجملی څخه حسن، شعبی (رحمة الله تعالى علیهما)اوداسی نور دی.

یاداچی صحابی وایی: قَالَ: كُنَّا نَقُولُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيٌّ: «أَفْضَلُ أُمَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَهُ أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ عُمَرُ، ثُمَّ عُثْمَانُ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ» (۱)

یاداچی صحابی وایی: «كُنَّا نَفْعَلُهُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَعْنِي الْعَزْلَ» (۲)

یاداچی صحابی وایی: كُنَّا نُخْرِجُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ لاَ نُخْرِجُ غَيْرَهُ» عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، (۳)

یاداچی صحابی وایی: موږ امر کړل سولو یامنع کړل سولو: فإذا أخبر أحدهم بأنهم أمروا، أو نهوا، أو من السنة كذا، فإما أن يصرح بالآمر، والناهي، وصاحب السنة، وحينئذ فلا إشكال ولا خفاء.

ومثاله في الأمر: ما أخرجه الترمذي "عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ قَالَ: لَمَّا بَلَغَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الفَتْحِ مَرَّ لظَهْرَانِ،فَآذَنَنَابلِقَاءِ العَدُوِّ«فَأَمَرَنَابالفِطْرِ»، فَأَفْطَرْنَا أَجْمَعُونَ.(٤)

ومثاله في النهي: ما أخرجه الترمذي، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: «نَهَانِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّخَتُّمِ بِالذَّهَبِ، وَعَنْ لِبَاسِ القَسِّيِّ، وَعَنِ القِرَاءَةِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ، وَعَنْ لِبَاسِ المُعَصْفَرِ»: (٥)

<u>إذا صرح بأنه أمر الرسول ونهيه، هل يكون حجة أَوْ لا؟ فقال الجمهور: نعم.</u>

۱- عَنْ ابْنِ عُمَرَابوداود كتاب السنة - ۲- عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّه، مسند احمد نمبر ١٤٩٥٧

۳- سنن النسايى كتاب الزكات نمبر ۲۵ ۱۸ - ٤- سنن الترمذى كتاب الجهادنمبر ١٦٨٤

٥- سنن الترمذى كتاب اللباس والزينة نمبر١٧٣٧

وحكي عن أبي داود، وبعض المتكلمين: إنه لا يكون حجة؛ حتى ينقل لفظه.(۱)

ترجمة: داچې يوصحابي وايي: موږ امرکړل سولو ياموږ منع کړل سولو يا داچې وايي دسنت څخه داده، نوکه امرکونکی، يامنع کونکی يادسنت خاوند ښکاره کړي ياتصريح په وکړي چې موږ رسول الله صلی الله عليه وسلم امرکړلو يا منع کړلو نوپه دغه کې هيڅ اشکال اوپوشيدګي نسته، يعنې په دغه دليل ويل صحيح اوجايز دي.

دامرمثال: لکه داچې ترمذي دابوسعيد خدري رضی الله تعالی عنه څخه روايت کړي دي: دي وايي: دمکې دفتح په کال چې کله نبي صلی الله عليه وسلم د(مرظهران) منطقې ته ورسيدی نوموږته يې ددښمن سره دجنګ کولو اذن وکړې، اوموږ ته يې دروژې دماتولو امر وکړې، نوموږ ټولو روژې ماتې کړلې.

دنهي مثال: لکه داچې ترمذي نقل کړي دي، چې علي بن ابي طالب رضی الله تعالی عنه وايي: نبي عليه السلام موږ دزرو دګتمې، په روکوع اوسجدة کې دقرات ويلو اودژړو کالو داغوستلو څخه منع کړلو.

که په دغه صراحت وکړي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم امرکړی دی اويايي منع کړي ده،نوجمهورعلماء وايي هودليل په ويل کيدلای سي، دابوداود اوځه متکلمينو څخه نقل سوی دی چې دليل نه په ويل کيږي ترڅو چې دنبي عليه سلام الفاظ نقل کوي.

يوبل قول داسې نقل سوی دی چې وايي: فَمَتَى أَضَافَ ذَلِكَ إِلَى زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى وَجْهٍ كَانَ يَعْلَمُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلاَ يُنْكِرُهُ , وَجَبَ الْقَضَاءُ بِكَوْنِهِ شَرْعًا.

ترجمة:يعنې که دنبي صلی الله عليه وسلم وزماني ته داسې نسبت وسي

۱-التلخيص الحبير العلمية سج ۱ ص ۱۳

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم علم پردرلودی نوانکار نه ځنې کیږي اوحکم باندې کیدلایسي چې دغه شرعي دلیل دی.

څکه دغه ته حدیث تقریر ویل کیږي هغه داچې درسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکې څوک یوکار وکړي اوهغه منع نه پروکړي، اوحدیث تقریر دحدیثونو دجملې څخه دی.

دپورتني ذکرسوي اختلاف په وجه ودغه اصل ته اختلافي ویل کیږي ، او موږ ولوستل چې ډیر علماء دصحابي قول اوفعل ددلیل وړ نه بولي او وایي دوی معصوم نه دي دخطا نسبت ورته کول جایز دي، نوداچې زموږ په ټولنه کې علماء دښه ګمان په وجه دداسې چاپه قول دلیل وایي چې هغوی په رتبه کې تراصحبانو (رضی الله تعالی عنهم) ډیر کښته دي.

۲- دوهم اختلافي اصل یادلیل: داسلام څخه مخکې شریعتونه دي: چې هغوی زموږ دپاره دلیل کیدایسي که نه؟ څه علماء وایي هغه حکمونه چې په قرآن کریم کې راغلي دي اوزموږ شریعت ورته منسوخ نه وي ویلي نوهغه دلیل کیدلایسي، اوکه زموږ په شریعت کې نه وي اویاورته منسوخ ویلي سوي وي، نو دلیل نسي کیدلای، اوڅه علماء وایي چې ټول دلیل کیدلایسي څکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم تربعثت دمخه په دغه شریعت عمل کاوه.

ودغه اختلاف ته داصول فقهي په کتابونو کې داسې اشاره سوي ده:

١- اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي ذَلِكَ. فَقَالَ قَائِلُونَ: لاَ يَلْزَمُنَا الاقْتِدَاءُ بِمَنْ كَانَ قَبْلَ نَبِيِّنَا عَلَيْهِ السَّلاَمُ فِي شَرَائِعِهِمْ، لأَنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا مَبْعُوثِينَ إِلَيْنَا، وَإِنَّمَا الْمَبْعُوثُ إِلَيْنَا نَبِيُّنَا عَلَيْهِ السَّلاَمُ، وَإِنَّمَا يَلْزَمُنَا شَرِيعَتُهُ خَاصَّةً دُونَ شَرَائِعِ غَيْرِهِ مِنَ الأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ.

وَقَالَ آخَرُونَ: كُلُّ مَا ثَبَتَ مِنْ شَرَائِعِ مَنْ كَانَ قَبْلَهُ مِنَ الأَنْبِيَاءِ مَا لَمْ يَثْبُتْ نَسْخُهُ فَهُوَ

لَازِمٌ لَنَا، ثَابِتُ الْحُكْمِ عَلَيْنَا، وَالْوُصُولُ إِلَى مَعْرِفَتِهِ، بِأَنْ يَذْكُرَ اللّٰهُ تَعَالَى فِي كِتَابِهِ: أَنَّ حُكْمَ كَيْتَ وَكَيْتَ قَدْ كُنْتُ شَرَعْتُهُ لِبَعْضِ الْأَنْبِيَاءِ، وَيُخْبِرُنَا بِذَلِكَ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَلَمْ يَثْبُتْ أَنَّهُ مَنْسُوخٌ، فَيَلْزَمُنَا ذَلِكَ، عَلَى حَسَبِ مَا كَانَ يَلْزَمُنَا لَوْ شَرَعَهُ النَّبِيُّ عَلَيْهِ السَّلَامُ.

وَأَمَّا مَا لَمْ يَثْبُتْ مِنْ ذَلِكَ مِنْ أَحَدِ هَذَيْنِ الْوَجْهَيْنِ فَلَا اعْتِبَارَ بِهِ، لِأَنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ غَيَّرُوا كَثِيرًا مِنْ أَحْكَامِهِ وَبَدَّلُوهَا، فَلَا يُلْتَفَتُ إِلَى رِوَايَةِ مَنْ حَكَى مِنَ الْمُسْلِمِينَ: أَنَّ فِي التَّوْرَاةِ أَوْ الْإِنْجِيلِ كَذَا، وَلَا إِلَى رِوَايَةِ أَهْلِ الْكِتَابِ عَنْ كُتُبِهِمْ أَيْضًا، لِأَنَّ قَوْلَ هَؤُلَاءِ غَيْرُ مَقْبُولٍ فِي إِثْبَاتِ الشَّرِيعَةِ، بِكُفْرِهِمْ وَضَلَالِهِمْ. (۱)

ترجمة: دعلم دخاوندانو په دغه کی اختلاف دی، څوک وایی: پرموږ دهغو نبیانودشریعتونو اقتداءلازمه نه ده چی زموږ ترنبی علیه السلام مخکی تیرسوی دی، ځکه هغوی زموږ دپاره نه دی رالیږل سوی، بیشکه زموږ دپاره زموږ نبی علیه السلام رالیږل سوی دی، بیشکه پرموږ باندی خاص دده دشریعت اتباع لازمه ده، دنورو انبیاء علیهم السلام دشریعتونو اتباع لازمه نه ده.

څه نور بیاوایی: زموږ دنبی څخه مخکی نبیانو دشریعتونو څخه هرهغه څه چی منسوخ سوی نه وی دهغوی اتباع پرموږ لازمه ده، اوحکم یی پرموږ ثابت دی، دداسی حکم دپیژندلو طریقه داده چی الله تعالی په خپل کتاب کی ذکرکړی وی چی فلانی اوفلانی حکم مادڅه نبیانو دپاره مشروع کړی وو، یا داچی نبی صلی الله علیه وسلم موږ خبرکړی چی دغه حکم ثابت نه دی اویا منسوخ دی، نو پرموږ داسی لازم دی لکه څرنګه چی پرموږ دخپل نبی صلی الله علیه وسلم مشروع سوی حکم.

اوهغه چی ددغو دوو لارو څخه نه وی ثابت سوی نوهغه ته هیڅ اعتبار

۱- الفصول فی الاوصول بالاختصار ج ۳ ص ۲۱

نسته، ځکه دمخکنی کتابونوخاوندانو ډیرحکمونه تغیرکړی اوبدل کړی دی، ودی ته نه کتل کیږی چی دغه دمسلمانانو څخه چا روایت کړی دی: چی په توراة یا انجیل کی داسی لیکلی دی، ځکه اهل کتابو خپل کتابونه تغیرکړی دی، اونه داهل کتابو ددوی دکتابونو څخه ورروایت ته کتل کیږی، ځکه ددوی قول ددوی دکفر اوګمراهی په وجه قبول نه دی.

مادلته یوازی تحت لفظ ترجمة کړی ده په دغه مبحث کی أحمد بن علی ابوبکر رازی جصاص حنفی رحمة الله تعالی علیه ډیر ښه، مدلل اوپه زړه پوری تفصیل کړی دی چی دهرقول دپاره یی قرآنی اوحدیثونو دلایل لیکلی دی، نوکه څوک دخپل علم داضافة کولو دپاره نورتفصیل غواړی نومخکی لیکلی سوی حوالی (الفصول فی الاوصول) ته دی مراجعة وکړی، ډیره فایده لری.

دحنفی فقهی داصولویوبل متبحر اوممتاز عالم هم په خپل کتاب کی دغه موضوع داسی څیړلی اوتربحث لاندی راوړی ده اوفرمایی:

فصل فِي بَيَان شرائع من قبلنَا: اخْتلف الْعلمَاء فِي هَذَا الْفَصْل على أقاويل:فَمنهمْ من قَالَ مَا كَانَ شَرِيعَة لنَبِيّ فَهُوَ بَاق أبدا حَتَّى يقوم دَلِيل النّسخ فِيهِ، وكل من يَأْتِي فَعَلَيهِ أن يعْمل بِهِ على أنه شَرِيعَة ذَلِك النَّبِي عَلَيْهِ السَّلَام مَا لم يظْهر ناسخه.

وَقَالَ بَعضهم شَرِيعَة كل نَبِي تَنْتَهِي ببعث نَبِي آخر بعده حَتَّى لاَ يعْمل بِهِ إِلاَّ أن يقوم الدَّلِيل على بَقَائِه وَذَلِكَ بِبَيَان من النَّبِي الْمَبْعُوث بعده.

وَقَالَ بَعضهم شرائع من قبلنَا يلْزمنَا الْعَمَل بِهِ على أن ذَلِك شَرِيعَة لنبينا عَلَيْهِ السَّلَام فِيمَا لم يظْهر دَلِيل النّسخ فِيهِ وَلاَ يفصلون بَين مَا يصير مَعْلُوما من شرائع من قبلنَا بِنَقْل أهل الْكتاب أو بِرِوَايَة الْمُسلمين عَمَّا فِي أَيْديهم من الْكتاب وَبَين مَا ثَبت من ذَلِك بِبَيَان فِي الْقُرْآن أو السّنة.

وَأَصح الأَقَاوِيل عندنَا أن مَا ثَبت بِكتَاب الله أَنه كَانَ شَرِيعَة من قبلنَا أَو بِبَيَان من رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَإِن علينا الْعَمَل بِهِ على أَنه شَرِيعَة لنبينا عَلَيْهِ السَّلَام مَا لم يظْهر ناسخه، فَأَما مَا علم بِنَقْل دَلِيل مُوجب للْعلم على أَنهم حرفوا الْكتب فَلَا يعْتَبر نقلهم فِي ذَلِك لتوهم أَن الْمَنْقُول من جملَة مَا حرفوا وَلَا يعْتَبر فهم الْمُسلمين ذَلِك مِمَّا فِي أَيْديهم من الْكتب لجَوَاز أَن يكون ذَلِك من جملَة مَا غيروا وبدلوا. (۱)

ترجمة: په دغه فصل کې علماء پرډیرو قولنو اختلاف لري: چې دهغوی څخه یو قول دادی: هغه چې یو وخت دیونبي دپاره شریعت ووهغه همیشه او ابدي پاته دي ترڅوچې دمنسوخ کیدلو دلیل یې ثابتیږي،اوهرڅوکې چې راځي نو پرهغه باندې عمل کول پردی بنا لازم دي چې ددغه نبي شریعت دی، ترڅو چې ددغه ناسخ ښکاره سوی نه وي.

اودځه علماؤ قول دادی: چې دهرنبي شریعت دبل نبي په راتلو سره پای ته رسیږي، داسې چې عمل نه په کول کیږي ترڅوچې دبقاء اوپاته والی دلیل یې نه وي ثابت، اودغه ثبوت ترده وروست دراليږل سوی نبي په بیان سره کیدای سي.

دځه علماؤ قول دادی: چې ترموږ مخکې شریعتونو باندې عمل کول پر موږ باندې په دې وجه لازم دي چې هغه زموږ دنبي علیه السلام دپاره شریعت دی ترڅوچې دمنسوخ کیدلو دلیل یې ښکاره یاثابت سوی نه وي، اودوی ددغه ترمنځ جلاوالی نه کوي چې دغه دلیل داهل کتابوپه نقل سره وي اوکه دمسلمانو په روایت سره دهغو کتابونو څخه وي چې ددوی په لاسونو کې دي، اودهغه تر منځ چې دقرآن کریم اودنبي صلی الله علیه وسلم په بیان سره وي.

اودقولونو دجملې څخه صحیح قول زموږ په نزد هغه دی: چې دالله تعال په کتاب سره ثابت وي چې دغه ترموږ مخکې شریعت وو ،اویادرسول الله صلی الله

۱- اصول سرخسي بالاختصار ج ۲ ص ۱۰۱

علیه وسلم په بیان سره وی، خوبیاهم پرموږ باندی عمل په دی وجه لازم دی چی دا زموږ دنبی صلی الله علیه وسلم شریعت دی، ترڅوچی منسوخ کونکی یی ښکاره سوی یاثابت سوی نه وی، اودهغه دلیل په وجه چی موږ ته معلوم سوی دی چی دوی په کتابونو کی تحریف اوتغیرکړی دی نوددوی ونقل ته اعتبار نسته، ځکه کیدای سی چی دغه نقل سوی هم دهغه جملی څخه وی چی دوی تغیراوتحریف پکښی کړی دی،اودمسلمانانو ونقل ته هم اعتبار نسته ځکه کیدای سی چی ددوی په لاسونو کی هم هغه محرف اوتغیر سوی کتابونه وی.

دغه اختلاف داسی نه چی یوازی دحنفی فقهی داصولو په کتابونو کی لیکلی سوی دی بلکی دشافعی فقهی داصولو په کتابونو کی دغه اختلاف داسی نقل سوی دی: اختلف أصحابنا وغيرهم هل تعبده الله تعالى أعنى نبينا صلى الله عليه وسلم باتباعها أعنى شريعة من قبلنا أم كان منهيا عن اتباعها على ثلاثة مذاهب.

أحدها: أنه لم يكن متعبدا باتباعها بل كان منهيا عنها وقد ذهب إلى هذا جماعة من أصحابنا وأكثر المتكلمين وطائفة من أصحاب أبى حنيفة.

والمذهب الثانى: أنه صلى الله عليه وسلم كان متعبدا باتباعها إلا ما نسخ منها وإلى هذا مال أكثر أصحابنا وكثير من أصحاب أبى حنيفة وطائفة من المتكلمين.

والمذهب الثالث: أنه صلى الله عليه وسلم لم يتعبد فيها بأمر ولا نهى. وقال بعض الفقهاء كان متعبدا بشريعة إبراهيم عليه السلام على الخصوص دون غيره وهو قول شاذ والمعروف ما قدمنامن قبل.

والمذهب الصحيح هو الأول وإنه كان المذهب الثانى قد نصره كثير من أصحابنا وقد أومىء إليه الشافعى فى بعض كتبه. (۱)

۱- قواطع الادلة فى الاصول بلاختصارج ۱ ص ۳۱۸

ترجمة: زموږ (شافعي) ملګرو اونورو په دې کې اختلاف دی: چې زموږ نبي صلی الله علیه وسلم دمخکني شریعتونو داتباع په ډول عبادت کړی دی که څنې منع کړل سوی دی؟ په دې هکله دری مذهبونه دي:

یومذهب دادی چې دبل شریعت په اتباع یې عبادت نه دی کړی بلکې څنې منع کړل سوی دی، دغه قول زموږ دملګرو دیوټولی دی، اوډېرو متکلمینو او دامام ابوحنیفة رحمه الله دملګرو دیوډلی دی.

دوهم مذهب دادی: چې نبي صلی الله علیه وسلم دمخکني شریعت په اتباع عبادت کړی دی، مګرنه په هغو چې ددوی څخه منسوخ سوی دی، او دغه قول زموږ دډېرو ملګرو اودابي حنیفة رحمه الله اودمتکلمینو دیوې ډلې دی.

دریم مذهب دادی: چې نبي صلی الله علیه وسلم په مخکني شریعت باندې هیڅ عمل نه دی کړی، نه په امراونه په نهي، اوځه فقهاء وايي: چې خاص دابراهیم علیه السلام په شریعت باندې یې عمل کړی دی په نورو نه دی کړی، خودغه شاذ او نادر قول دی معروف اومعلوم قولونه هغه دي چې موږ مخکې ذکر کړل.

اوصحیح مذهب هغه اول دی، اودوهم مذهب هم زموږ ډېرو ملګرو تایید کړی دی اوخپله امام شافعي رحمه الله هم په څه کتابونو کې اشاره ورته کړې ده.

زموږ دحنفي فقهي داصولو په یوبل کتاب کې ودغه اختلاف داسې اشاره سوې ده: قَالَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ: يَلْزَمُنَا شَرَائِعُ مَنْ قَبْلَنَا حَتّٰى يَقُومَ الدَّلِيلُ عَلَى النَّسْخِ بِمَنْزِلَةِ شَرَائِعِنَا. وَقَالَ بَعْضُهُمْ لاَ يَلْزَمُنَا حَتّٰى يَقُومَ الدَّلِيلُ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَلْزَمُنَا عَلَى أَنَّهُ شَرِيعَتُنَا.

وَالصَّحِيحُ عِنْدَنَا أَنَّ مَا قَصَّ اللّٰهُ تَعَالَى مِنْهَا عَلَيْنَا مِنْ غَيْرِ إِنْكَارٍ أَوْ قَصَّهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ إِنْكَارٍ فَإِنَّهُ يَلْزَمُنَا عَلَى أَنَّهُ شَرِيعَةُ رَسُولِنَا عَلَيْهِ السَّلَامُ.(۱)

ترجمة: څه علماؤ ویلي دي: چې په مخکني شریعتونو باندې داسې عمل

۱- کشف الاسرار شرح اصول البزدوي ج ۳ ص ۲۱۵

کول لازم دی لکه زموږ شریعت، ترڅوچی دمنسوخ کیدلو دلیل یې ثابت سوی نه وی، اوڅه بیا وایی پرموږ عمل کول لازم نه دی ترڅو چی دعمل کولودلیل قایم اوثابت نږی، اوڅه بیاوایی: پرموږ عمل کول لازم دی په دی بنا چی دغه زموږ شریعت دی، اوزموږ (حنفیانو) په نزد صحیح قول دادی: هغه چی الله تعالی د هغوی څخه موږته بیله انکاره بیان کړی دی، اویارسول الله صلی الله علیه وسلم بیله انکاره بیان کړی وی، نوپردغه باندی عمل کول داسی لازم دی ځکه چی دغه زموږدرسول صلی الله علیه وسلم شریعت دی.

دغه پورتنی اختلاف ته هم ددی دپاره څه اشاره وسوله چی ثابته سی چی دغه اصل یادلیل هم دعلماؤ اوفقهاؤ ترمنځ اختلافی دلیل دی، داچی کوم قول صحیح اوکوم غیر صحیح دی یاکوم قول قوی اوکوم غیرقوی دی دهغه سره زما بحث تعلق نلری، زه یوازی داثابتول غوازږه چی په داسی دلایلو سره دیومسئلی اثبات کول تحقیق ته ضرورت لری وبس.

۳- دریم اختلافی دلیل استحسان دی: داستحسان لغوی معنی په عربی لغت کی داسی سوی ده: الِاسْتِحْسَانُ فِي اللُّغَةِ اسْتِفْعَالٌ مِنْ الْحُسْنِ، وَهُوَ عَدُّ الشَّيْءِ وَاعْتِقَادُهُ حَسَنًا تَقُولُ اسْتَحْسَنْت كَذَا أَيْ اعْتَقَدْته حَسَنًا.(۱)

ترجمة: استحسان په لغت کی داستفعال دباب څخه دی، دحسن څخه یعنی دمجردباب یې حَسُنَ دی، معنی یې ده یوشی ښه بلل اودښوعقیده باندی ساتل، لکه داچی ته وایی: مافلانی شی ښه وباله، اودښوعقیده پرلرم.

داستحسان په اصطلاحی معنی کی داصول فقهی دعلماؤ څخه ډیر اختلاف نقل سوی دی لکه چی وایی:

۱- أَمَّا فِي اصْطِلَاحِ الْأُصُولِيِّينَ فَقَدْ «قِيلَ فِي تَعْرِيفِهِ: إِنَّهُ دَلِيلٌ يَنْقَدِحُ فِي نَفْسِ

۱- کشف الاسرار ج ۴ ص ۷

الْمُجْتَهِد، لاَ يَقْدِرُ عَلَى التَّعْبِيرِ عَنْهُ» أيْ: لاَ يَقْدِرُ أَنْ يُفْصِحَ عَنْهُ بِعِبَارَةٍ.

٢- وَقِيلَ:مَااسْتَحْسَنَهُ الْمُجْتَهِدُ بِعَقْلِه، فَإِنْ أُرِيدَ مَعَ دَلِيلٍ شَرْعِيٍّ فَوِفَاقٌ، وَإلاَّ مُنِعَ، إذْ لاَ فَرْقَ بَيْنَ الْعَالِمِ وَالْعَامِّيِّ إلاَّالنَّظَرُ فِي أَدِلَّةِ الشَّرْعِ، فَحَيْثُ لاَ نَظَرَ فَلاَ فَرْقَ، وَيَكُونُ حُكْمًا بِمُجَرَّدِ الْهَوَى وَاتِّبَاعًا لِلشَّهْوَةِ فيه.

٣- حُكِيَ فِي «الرَّوْضَةِ» عَنِ الْقَاضِي يَعْقُوبَ. قَالَ: وَهُوَ أَنْ يَتْرُكَ حُكْمًا إِلَى حُكْمٍ هُوَ أَوْلَى مِنْهُ.

٤- وَقَالَ اَبُو الْكَرْخِيُّ: هُوَ الْعُدُولُ عَمَّا حُكِمَ بِهِ فِي نَظَائِرِ مَسْأَلَةٍ إِلَى خِلاَفِهِ لِوَجْهٍ أَقْوَى مِنْهُ.

٥- وَقَالَ القَاضِي أَبُو الْوَلِيدِ الْبَاجِيّ من الْمَالِكِيَّة: الاِسْتِحْسَانُ هُوَ الْقَوْلُ بِأَقْوَى الدَّلِيلَيْنِ. (١)

٦- وقال بعضهم: هو عدول عن قياس إلى قياس أقوى منه وهذا أيضا باطل لأنهم يسمون إذا عدلوا عن القياس إلى نص استحسانا أيضا.

٧- وقال بعضهم: الاستحسان ترك طريقة الحكم إلى أخرى هي أولى منها.(٢)

ترجمة: دفقهي داصولينو په اصطلاح کې داستحسان په تعريف کې چا ويلي دي: ١- چې داهغه دليل دی چې دمجتهد په دماغ کې راګرځي خو پر تعبير يې قدرت نلري، يعنی په الفاظو يې تعبير نسی کولاي.

٢- چاويلي دي: استحسان هغه دليل دی چې مجتهد يې په خپل عقل ښه وګڼي، ددغه تعريف په باره کې ويل کيږي، که دغه دده ښه ګڼل که دشرعی دليل سره وي نوبياخو ورسره موافق يو، که دشرعي دليل په وجه نه وي نوداسې قول منع دي، ځکه دعالم اوعامي په منځ کې فرق دادی چې عالم په شرعی دلايلو کې

١- شرح مختصر الروضة ج٣ ص١٨١—١٩٧ ٢- قواطع الادلة فی الاصول ج ٢ ص ٢٧١

نظر کولای سی نو په هغه ځای کی چی دشرعی دلایلو نظر اولحاظ نه وی نو په هغه ځای کی دعالم اوعامی فرق نسته، نوداسی حکم دهوی اودخپلی خوښی اتباع بلل کیږی، شرعی دلیل نه ورته ویل کیږی.

۳- دقاضی یعقوب رحمه الله څخه په روضة نومی کتاب کی حکایت سوی دی: چی استحسان دیوحکم دبل قوی حکم دپاره پریښودل دی.

۴- ابوالحسن کرخی رحمه الله وایی: استحسان دیوحکم څخه عدول کول دی چی دده په امثالوکی سوی وی، وداسی حکم ته عدول وسی چی هغه ترده اولی اوښه وی.

۵- دمالکی مذهب یو عالم ابو الولید باجی رحمه الله وایی: استحسان د دوو دلیلونو څخه په قوی باندی قول کولوته استحسان وایی.

۶- چاویلی دی چی استحسان دیوه قیاس څخه وبل داسی قیاس ته عدول یارجوع کول دی چی هغه ترده قوی وی، اوداهم باطل دی ځکه دوی (حنفیان) چی کله دقیاس څخه ونص ته عدول وکړی هم استحسان ورته وایی.

۷- چاویلی دی: چی استحسان دیوه حکم بل داسی حکم ته پریښودل دی چی هغه ترده ښه وی.

دپورتنیو تعریفونو داختلاف پربنیاد دعلماؤ په منځ کی اختلاف دی چی استحان دلیل دی که نه؟ که دلیل وی نومستقل دلیل دی که دقیاس یوقسم دی؟ په دی هکله ډیر زیات اختلاف داحنافو اوشافعیانو ترمنځ نقل سوی دی، او د اختلاف لویه وجه هغه اولنی دوه تعریفونه دی، چی احناف داسی استحسان حجت اودلیل بولی اوشافعیان یی حجت اودلیل نه بولی، دنورو امامانو څخه هم مختلف قولونه نقل سوی دی، په دی هکله یوعالم لیکلی دی: الاِسْتِحْسَانُ حُجَّةٌ

عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَفِي كَوْنِه حُجَّةً عِنْدَ أَحْمَدَ قَوْلَانِ، وَحَقِيقَتُهُ أَنَّهُ تَرْكُ قِيَاسٍ إِلَى قِيَاسٍ هُوَ أَقْوَى مِنْهُ. ثُمَّ قَالَ بَعْدُ: وَمُقْتَضَى كَلَامِ أَحْمَدَ أَنَّ الِاسْتِحْسَانَ هُوَ الْعُدُولُ عَنْ مُوجِبِ الْقِيَاسِ إِلَى دَلِيلٍ هُوَ أَقْوَى مِنْهُ. (۱)

ترجمة: استحسان دامام ابو حنيفة رحمة الله تعالى عليه په نزد حجت او دليل دى، اودامام احمد رحمة الله تعالى عليه په دغه كى دوه قولونه دى، او داستحسان حقيقت دادى چى يوقياس دبل داسى قياس دپاره پريښودل سى چى هغه ترده قوى وى، خودامام احمد دكلام مقتضى داده چى استحسان دقياس دموجب څخه عدول كول دى وداسى دليل ته چى هغه ترده قوى وى.

دكتابونو دمطالعى څخه معلوميږى چى دلته لوى اختلاف دحنفى او شافعى فقهاؤ ترمنځ دى، ځكه ډير دهغوى ترمنځ ددلايلو اواقوالو تبادله سوى ده، لكه داچى دحنفي فقهي داصولو په يوكتاب كى داستحسان پر اثبات باندى ددليل په ډول ليكلى دى: قَالَ أَبُو بَكْرٍ الرازى الجصاص الحنفى: تَكَلَّمَ قَوْمٌ مِنْ مُخَالِفِينَا فِي إِبْطَالِ الِاسْتِحْسَانِ حِينَ ظَنُّوا أَنَّ الِاسْتِحْسَانَ حُكْمٌ مِمَّا يَشْتَهِيهِ الْإِنْسَانُ وَيَهْوَاهُ، أَوْ يَلَذُّهُ، وَلَمْ يَعْرِفُوا مَعْنَى قَوْلِنَا فِي إِطْلَاقِ لَفْظِ الِاسْتِحْسَانِ.

فَنَقُولُ: لَمَّا كَانَ (مَا حَسَّنَهُ اللَّهُ تَعَالَى) بِإِقَامَتِهِ الدَّلَائِلَ عَلَى حُسْنِهِ مُسْتَحْسَنًا، جَازَ لَنَا إِطْلَاقُ لَفْظِ الِاسْتِحْسَانِ فِيمَا قَامَتْ الدَّلَالَةُ بِصِحَّتِهِ. فَقَالَ عَزَّ مِنْ قَائِلٍ: {فَبَشِّرْ عِبَادِ} {الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ} (۲)

وَرُوِيَ عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَقَدْ رُوِيَ مَرْفُوعًا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ قَالَ: «مَا رَآهُ الْمُؤْمِنُونَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى حَسَنٌ وَمَا رَآهُ الْمُسْلِمُونَ سَيِّئًا فَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى سَيِّئٌ».

۱- شرح مختصر الروضة ج۳ ص ۲۰۲   ۲- سورة الزمر: آيتونه ۱۷- ۱۸

فَإِذَا كُنَّا قَدْ وَجَدْنَا هَذَا اللَّفْظَ أَصْلاً فِي الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ لَمْ يَمْتَنِعْ إِطْلَاقُهُ بَعْضَ مَا قَامَتْ عَلَيْهِ الدَّلَالَةُ بِصِحَّتِهِ عَلَى جِهَةِ تَعْرِيفِ (الْمَعْنَى) وَإِفْهَامٍ هُوَ الْمُرَادُ.(۱)

ترجمة: ابوبکر رازی جصاص حنفی فرمایي: زموږ مخالف قوم (شافعیان) داستحسان پربطلان خبره کړې ده،دوی داسي ګمان کوي چي استحسان داسي حکم دی چي انسان يي دخپل اشتهاء، خواهش اوخوند پربناکوي، اودوی زموږ هغه معنی نه ده فهمولی کوم چي موږ داستحسان دلفظ کړې ده.

نوموږ وايو داچي الله تعالی هغه ته مستحسن وايي چي پرحسن يي دلايل قايم سي، نوموږ ته هم جايز ده چي داستحسان دلفظ اطلاق پرهغه وکړو چي دهغه پرصحت دلايل قايم وي.

دهغو دلايلو دجملي څخه چي داستحسان پر استدلال دليل په ويل کيږي دالله تعالی دغه قول دی چي فرمايي: نوزيري وکړه (ای محمد صلی الله عليه وسلم) زماپرهغو بندګانو چي خبره اوري (دقرآن) اوبيا دوی ډيرښه دهغوی متابعت کوي.

ياداچي دوی ټولی خبری اوري اوبيادوی دهغوی دجملي څخه چي ډيری ښه وی دهغوی متابعت کوي.همدغه کسان دصافو اوخالصو عقلونو خاوندان دی.

بل دابن مسعود رضی الله تعالی عنهما څخه مروفوع روايت دی چي نبی صلی الله عليه وسلم فرمايي: هغه چي مومنان يي ښه ګڼي نوهغه دالله تعالی په نزد ښه دی، اوهغه چي مومنان يي بد ګڼي هغه دالله تعالی په نزد بد دی.

نوچي موږ ددغه لفظ (استحسان) دپاره په قرآن اوحديث کي اصل پيدا کړو نوموږ کولای سو هغه چي پرصحت باندی دتعريف او افهام اوتفهيم دوجهی دليل قايم سي نوموږ هغه ته حسن ووايوځکه دداسي ويلو څخه هيڅ مانع نسته.

۱- الفصول في الأصول: ج ۴ ص ۲۲

دشافعي فقهي داصولو په يوكتاب كې دغه بحث داسې بيان سوى دى، چې په هغه كې دحنفي فقهي داصولو ددلايلو جوابونو اوتوجيه هم سوى ده چې څه خلاصه يې داسې ده:

الأَصْلُ الثَّالِثُ مِنَ الأُصُولِ الْمَوْهُومَةِ الاِسْتِحْسَانُ: وَقَدْ قَالَ بِهِ أَبُوحَنِيفَةَ وَقَالَ الشَّافِعِيُّ مَنْ اسْتَحْسَنَ فَقَدْ شَرَّعَ.

أَنَّا نَعْلَمُ قَطْعًا إِجْمَاعَ الأُمَّةِ قَبْلَهُمْ عَلَى أَنَّ الْعَالِمَ لَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْكُمَ بِهَوَاهُ وَشَهْوَتِهِ مِنْ غَيْرِ نَظَرٍ فِي دَلاَلَةِ الأَدِلَّةِ، وَالاِسْتِحْسَانُ مِنْ غَيْرِ نَظَرٍ فِي أَدِلَّةِ الشَّرْعِ حُكْمٌ بِالْهَوَى الْمُجَرَّدِ وَهُوَ كَاسْتِحْسَانِ الْعَامِّيِّ وَمَنْ لاَ يُحْسِنُ النَّظَرَ، فَإِنَّهُ إِنَّمَا جُوِّزَ الاِجْتِهَادُ لِلْعَالِمِ دُونَ الْعَامِّيِّ؛ لأَنَّهُ يُفَارِقُهُ فِي مَعْرِفَةِ أَدِلَّةِ الشَّرِيعَةِ وَتَمْيِيزِ صَحِيحِهَا مِنْ فَاسِدِهَا، وَإِلاَّ فَالْعَامِّيُّ أَيْضًا يَسْتَحْسِنُ.

قُلْنَا: اتِّبَاعُ أَحْسَنِ مَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا هُوَ اتِّبَاعُ الأَدِلَّةِ، فَبَيِّنُوا أَنَّ هَذَا مِمَّا أُنْزِلَ إِلَيْنَا فَضْلاً عَنْ أَنْ يَكُونَ مِنْ أَحْسَنِهِ وَهُوَ كَقَوْلِهِ تَعَالَى: [الزمر: ۵۵]

ثُمَّ نَقُولُ: نَحْنُ نَسْتَحْسِنُ إِبْطَالَ الاِسْتِحْسَانِ، وَأَنْ لاَ يَكُونَ لَنَا شَرْعٌ سِوَى الْمُصَدَّقِ بِالْمُعْجِزَةِ، فَلْيَكُنْ هَذَا حُجَّةً عَلَيْهِمْ.

الْجَوَابُ الثَّانِي: أَنْ يَلْزَمَ مِنْ ظَاهِرِ هَذَا اتِّبَاعُ اسْتِحْسَانِ الْعَامِّيِّ وَالطِّفْلِ وَالْمَعْتُوهِ لِعُمُومِ اللَّفْظِ.

الشُّبْهَةُ الثَّانِيَةُ: قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَا رَآهُ الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ حَسَنٌ» . وَلاَ حُجَّةَ فِيهِ مِنْ أَوْجُهٍ. الأَوَّلُ: أَنَّهُ خَبَرٌ وَاحِدٌ لاَ تَثْبُتُ بِهِ الأُصُولُ.

الثَّانِي: أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ مَا رَآهُ جَمِيعُ الْمُسْلِمِينَ؛ لأَنَّهُ لاَ يَخْلُو أَنْ يُرِيدَ بِهِ جَمِيعَ الْمُسْلِمِينَ أَوْ آحَادَهُمْ، فَإِنْ أَرَادَ الْجَمِيعَ فَهُوَ صَحِيحٌ إِذْ الأُمَّةُ لاَ تَجْتَمِعُ عَلَى حُسْنِ شَيْءٍ إِلاَّ عَنْ دَلِيلٍ، وَالإِجْمَاعُ حُجَّةٌ، وَهُوَ مُرَادُ الْخَبَرِ. وَإِنْ أَرَادَ الآحَادَ لَزِمَ اسْتِحْسَانُ الْعَوَامِّ.

الثَّالِث: أَنَّ الصَّحَابَةَ أَجْمَعُوا عَلَى اسْتِحْسَانِ مَنْعِ الْحُكْمِ بِغَيْرِ دَلِيلٍ، وَلاَ حُجَّةَ؛ لأَنَّهُمْ مَعَ كَثْرَةِ وَقَائِعِهِمْ تَمَسَّكُوا بِالظَّوَاهِرِ وَالأَشْبَاهِ وَمَا قَالَ وَاحِدٌ حَكَمْتُ بِكَذَا وَكَذَا لأَنِّي اسْتَحْسَنْتُهُ وَلَوْ قَالَ ذَلِكَ لَشَدَّدُوا الإِنْكَارَ عَلَيْهِ وَقَالُوا: مَنْ أَنْتَ حَتَّى يَكُونَ اسْتِحْسَانُكَ شَرْعًا وَتَكُونَ شَارِعًا لَنَا. (۱)

ترجمة: دموهومه اصولو څخه دريم اصل استحسان دی، او په دغه باندی امام ابوحنيفة رحمه الله قول کړی دی، اوامام شافعی رحمه الله وايی څوک چی په استحسان عمل کوی نوهغه نوی شريعت جوړ کړی دی.

امام شافعی رحمه الله وايی چی موږ پوهيږو چی دمخکنی امت اجماع ده چی يوعالم ته دغه نسته چی په خپل هوا اوخواهش باندی حکم وکړی بيله دی چی ددلايلو په دلالت کی نظروکړی، اوداسی استحسان چی په هغه کی دشريعت ددلايلو مراعت نه وی نوهغه په مطلق خواهش باندی حکم کول دی، اودغه داسی دی لکه دعامی اودهغه چا استحسان چی ښه نظر نلری، اوبيشکه عالم ته داجتهادکول جايز دی وعامی ته جايزنه دی، ځکه عالم دشرعی دلايلو ترمنځ جلا والی کولای سی اودصحيح اوفاسد ترمنځ فرق کولای سی، که نه نوعامی به هم دخپل استحسان پر بناء حکم کوی.

داحنافو دقرآنی آيتونو {الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ}او {وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ} په توجيه کی دشافعيانو دخوا داسی ويل کيږی چی موږ وايو: دښه اتباع څخه ددلايلو پربناء اتباع مراد ده، داسی نه چی دهر سامع اوريدونکی په نزد ښه مراد دی.

اوبل دوی وايی: که هرڅا خپله خوښه اوښه مراد سی نوزموږ په نزد

۱- المستصفی ج۱ ص ۱۷۲

داستحسان بطلان نه دی، او بل دوی وايي: مونږ داسې شريعت نه منو چې دهغه تصديق په معجزه سره نه وی سوی. لکه دنبی صلی الله علیه وسلم تصديق چې په معجزو سره سوی دی.

دويم جواب: ددغه اتباع دظاهرڅخه دعامي، کوچني اوبي عقل دښه نظر اتباع هم لازميږي ځکه دغه لفظ ډير عام دی.

ددويم دليل يعنی حديث «مَا رَآهُ الْمُؤْمِنُونَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالَى حَسَنٌ وَمَا رَآهُ الْمُسْلِمُونَ سَيِّئًا فَهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالَى سَيِّئٌ». په جواب کی اول داسی توجيه کوی او فرمايي: چې دغه حديث خبر واحد دی اوپه خبر واحد باندی اصول نه ثابتيږي.

دويم جواب: په دغه حديث کی د«المسلمون» لفظ جمع دی، مطلب دا چې دټولو مسلمانانو په نزد ښه وی، اودغه صحيح ده ځکه ټول امت مسلمهٔ ديوشي پرحسن ياښه والی نه سره يوځای کيږي مگر ددليل پربنياد، نودغه اجماع ده او اجماع په خپله يو قطعي دليل دی اوپه حديث کی همدغه مراد دی، اوکه دمسلمون څخه احاد يا افراد مراد سی نوبياخو دعوامو داستحسان اتباع هم لازمه گرځی اودغه باطله ده ځکه دعامي داستحسان اتباع لازمه نه ده.

دريم جواب: داچې داصحابو کرامو څخه هم داسې بې دليله استحسان نه دی نقل سوی بلکی دوی په ټولو واقعاتو کی په دلايلو سره قول کړی دی داسی د هيڅ يوه څخه هم نه دی نقل سوی چې هغوی دی ويلی وی چې زه داسی حکم کوم ځکه دغه زما په نزد حسن ياښه ده، که چاداسی قول هم کړی وای نو دډير سخت انکار سره بهٔ مخامخ سوی وای، چې ته بياڅوک يې چې ستا استحسان زمونږ دپاره شريعت يادليل جوړ سو.

دالمستصفی مصنف په بل ځای کی ليکلی دی (ذَكَرَهُ الْكَرْخِيُّ وَبَعْضُ

أَصْحَابِ أَبِي حَنِيفَةَ مِمَّنْ عَجَزَ عَنْ نُصْرَةِ الاسْتِحْسَانِ وَقَالَ: لَيْسَ هُوَ عِبَارَةً عَنْ قَوْلٍ بِغَيْرِ دَلِيلٍ بَلْ هُوَ بِدَلِيلٍ، مِثْلِ قَوْلِهِ: مَالِي صَدَقَةٌ لِلَّهِ أَوْ عَلَيَّ أَنْ أَتَصَدَّقَ بِمَالِي، فَالْقِيَاسُ لُزُومُ التَّصَدُّقِ بِكُلِّ مَا يُسَمَّى مَالاً، لَكِنْ اسْتَحْسَنَ أَبُو حَنِيفَةَ التَّخْصِيصَ بِمَالِ الزَّكَاةِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: {خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً} [التوبة: ١٠٣] وَلَمْ يُرِدْ إِلاَّ مَالَ الزَّكَاةِ. وَاللَّهُ أَعْلَمُ.(١)

ترجمة: كرخي اودامام ابوحنيفة رحمة الله عليه څه داسې اصحابانو چې د استحسان ددفاع څخه عاجزوه ذكركړي دي چې داستحسان څخه داسې قول مراد نه دی چې دليل نلري بلکې داسې قول مراد دی چې دلیل ورسره وي لکه داچې يوڅوک وايي: زمامال دالله تعالی دپاره دی، ياوايي: پرمالازم ده چې خپل مال صدقه كړم، نوپه داسې قول کې دقياس تقاضا دغه ده چې ټول هغه څه صدقه کړي چې مال ورته ويل كيږي، خوامام ابوحنيفة رحمه الله داستحسان په ډول دغه قول يوازې په فرضي زكات پورې خاص كوي، ځكه داچې الله تعالی فرمايي: ته ددوی دمالونو څخه صدقه واخله، نودلته هم يوازې فرضي صدقه مراد ده.

دشافعي فقهي داصولو يوعالم بياليكلي دي چې دغه اختلاف يولفظي اختلاف دی: واعلم أن مرجع الخلاف معهم في هذه المسألة إلى نفس التسمية فإن الاستحسان على الوجه الذي ظنه بعض أصحابنا من مذهبهم لا يقولون به والذى يقولونه لتفسير مذهبهم به العدول في الحكم من دليل إلى دليل هو أقوى منه وهذا لا ننكره لكن هذا الاسم لا نعرفه بآية لمثل هذا الدليل. (٢)

ترجمة: اوپوه سې چې په دغه مسئله کې ددوی سره داختلاف مرجع صرف اويوازې په نوم کې ده، ځکه داستحسان هغه مطلب چې زموږ ملګرو ددوی

١- المستصفى ج١ ص ١٧٢

٢- قواطع الأدلة في الأصول ج ٢ ص ٢٧١

دمذهب څخه اخستی دی په هغه باندی دوی قول نه کوی اوهغه چی دوی دخپل مذهب په تفسیر کی قول په کوی هغه داچی (په حکم کی دیوه دلیل څخه بل داسی دلیل ته عدول کول دی چی هغه ترده قوی وی) اوددی څخه موږ هم انکار نه کوو، خودداسی دلیل دپاره دغه نوم نه پیژنو.

داستحسان مثالونه

داستحسان دقسمونو اومثالونو په هکله دحنفی فقهی په یوکتاب کی لیکلی دی: قَوْلُهُ: وَلِلاِسْتِحْسَانِ أَنْوَاعٌ أُخَرُ مِثْلُ الاِسْتِحْسَانِ الثَّابِتِ بِالأَثَرِ وَالإِجْمَاعِ وَالضَّرُورَةِ مِثْلُ السَّلَمِ وَالإِجَارَةِ وَبَقَاءِ الصَّوْمِ مَعَ فِعْلِ النَّاسِي.

فَإِنَّ الْقِيَاسَ يَأْبَى جَوَازَ السَّلَمِ؛ لأَنَّ الْمَعْقُودَ عَلَيْهِ الَّذِي هُوَ مَحَلُّ الْعَقْدِ مَعْدُومٌ حَقِيقَةً عِنْدَ الْعَقْدِ، وَالْعَقْدُ لاَ يَنْعَقِدُ فِي غَيْرِ مَحَلِّهِ إِلاَّ أَنَّا تَرَكْنَاهُ بِالأَثَرِ الْمُوجِبِ لِلتَّرَخُّصِ، وَهُوَ قَوْلُ الرَّاوِي وَرَخَّصَ فِي السَّلَمِ، وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ «مَنْ أَسْلَمَ مِنْكُمْ فَلْيُسْلِمْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ».

وَكَذَا الْقِيَاسُ يَأْبَى جَوَازَ الإِجَارَةِ؛ لأَنَّ الْمَعْقُودَ عَلَيْهِ، وَهُوَالنَّفَقَةُ مَعْدُومٌ فِي الْحَالِ، إِلاَّ أَنَّا تَرَكْنَاهُ بِالأَثَرِ، وَهُوَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ «أَعْطُوا الأَجِيرَ حَقَّهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ» فَالأَمْرُ بِإِعْطَاءِ الأَجْرِ دَلِيلُ صِحَّةِ الْعَقْدِ.

وَكَذَا الأَكْلُ نَاسِيًا يُوجِبُ فَسَادَ الصَّوْمِ فِي الْقِيَاسِ؛ لأَنَّ الشَّيْءَ لاَ يَبْقَى مَعَ وُجُودِ مَا يُنَافِيهِ كَالطَّهَارَةِ مَعَ الْحَدَثِ وَالاعْتِكَافِ مَعَ الْخُرُوجِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ، إِلاَّ أَنَّهُ مَتْرُوكٌ بِالأَثَرِ، وَهُوَ قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلاَمُ «أَتِمَّ عَلَى صَوْمِكَ فَإِنَّمَا أَطْعَمَكَ اللَّهُ وَسَقَاكَ».

وَمِنْهُ أَيْ وَمِنْ الاِسْتِحْسَانِ مَا ثَبَتَ بِالإِجْمَاعِ مِثْلُ الاِسْتِصْنَاعِ يَعْنِي فِيمَا فِيهِ لِلنَّاسِ تَعَامُلٌ مِثْلُ أَنْ يَأْمُرَ إِنْسَانًا لِيَخْرُزَ لَهُ خُفًّا مَثَلاً بِكَذَا وَيُبَيِّنَ صِفَتَهُ وَمِقْدَارَهُ، وَلاَ يَذْكُرُ لَهُ أَجَلاً وَيُسَلِّمُ إِلَيْهِ الدَّرَاهِمَ أَوْ لاَ يُسَلِّمُ فَإِنَّهُ يَجُوزُ وَالْقِيَاسُ يَقْتَضِي عَدَمَ جَوَازِهِ؛ لأَنَّهُ بَيْعُ مَعْدُومٍ لِلْحَالِ حَقِيقَةً، وَهُوَ مَعْدُومٌ وَصْفًا فِي الذِّمَّةِ، وَلاَ يَجُوزُ بَيْعُ شَيْءٍ إِلاَّبَعْدَ تَعَيُّنِهِ حَقِيقَةً أَيْ ثُبُوتِهِ

فِي الذِّمَّةِ كَالسَّلَمِ فَأَمَّا مَعَ الْعَدَمِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ فَلاَ يُتَصَوَّرُ عَقْدٌ لَكِنَّهُمْ اسْتَحْسَنُوا تَرْكَهُ بِالإِجْمَاعِ الثَّابِتِ بِتَعَامُلِ الأُمَّةِ مِنْ غَيْرِ نَكِيرٍ.(۱)

ترجمة: داستحسان نورقسمونه اوانواع هم سته لکه هغه استحسان چې په اثر، اجماع اوضرورت سره ثابت وی لکه سلم، اجارة اودهیرونکی دخوړلو سره دروژی پاته کیدل.

ځکه دقیاس په مقتضا سلم جایز نه دی، ځکه په سلم کی پر کوم شی چی عقد کول کیږی هغه حقیقة معدوم دی په دغه وخت کی وجود نلری، (سلم داسی دی چی غنم یابل شی شنه وی ترپخیدلو دمخه خرڅ کړل سی) اوعقد بیله خپله ځایه صحیح نه دی، خودلته چی سلم ته جایز ویل کیږی دهغه اثر پر بناء چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اجازت ورکړی دی (لکه داچې فرمایی که ستاسو څخه چا سلم کوی نوپه معلومه پیمانه یی کوی).

همدارنګه داجاری عقد دقیاس په مقتضا صحیح نه دی، ځکه پرکوم شی چی عقد کول کیږی (منافع) هغه دعقد په وخت کی معدوم دی،خودغه دهغه اثر پربناء صحیح ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (تاسو مزدورته دده حق هغه وخت ورکوی چی دده خوله وچه سوی نه وی، داجرت په ورکولو امرکول ددغه معنالری چی عقد صحیح دی.

همدارنګه که څوک روژیاتی په هیره څه وخوری یاوڅښی نودقیاس تقاضا داسی ده چی ددغه روژیاتی روژه ماته ده، ځکه دقیاس تقاضاداده چی د یوشی وجود دخپل منافی سره نه پاته کیږی، لکه طهارت دبی اودسی سره یا اعتکاف دبی ضرورته وتلو سره، خودلته دغه دهغه اثر پربناء پاته دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی (ته خپله روژه پوره کړه بیشکه الله تعالی تاته خواړه درکړه

۱- کشف الاسرار شرح اصول البزدوی ج ۴ ص ۵

اوته یې اوبه کړي)

دهمدغه استحسان دجملې څخه یوقسم هغه دی چې په اجماع سره ثابت وي لکه دیوشي په جوړېدلو کې دخلګو معامله، داچې موچې ته وایي (څپلۍ په دومره راوګنډه) پول اومقدار یې معلوم کړي، خووخت اومده یې معلومه نکړي، مزدوري ورکړي که ورنکړي داصحیح اوجایز ده، خودقیاس په مقتضا جایزه نه ده، ځکه دغه حقیقة دمعدوم عقد دی، حال داچې دوصف دنظره دغه په زمه کې معدوم دی، ځکه دیوشي بیع ترهغو جایزه نه ده ترڅو چې حقیقة دهغه تعین نه وي سوی، یعنې لکه سلم چې په زمه کې نه وي ثابت سوی، اوهغه چې دټولو وجهو څخه معدوم وي هغه ته عقد نه ویل کیږي، خودوی دغه حکم دعامو خلګو دتعامل په وجه ښه وبللی اوپرخپل حال یې پرېښودی.

بل مثال دابوخطاب قول دی: قَوْلُ أَبِي الْخَطَّابِ فِي مَسْأَلَةِ الْعِينَةِ: وَإِذَا اشْتَرَى مَا بَاعَ بِأَقَلَّ مِمَّا بَاعَ قَبْلَ نَقْدِ الثَّمَنِ الْأَوَّلِ؛ لَمْ يَجُزِ اسْتِحْسَانًا، وَجَازَ قِيَاسًا، فَالْحُكْمُ فِي نَظَائِرِ هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ مِنَ الرِّبَوِيَّاتِ الْجَوَازُ، وَهُوَ الْقِيَاسُ، لَكِنْ عَدَلَ بِهَا عَنْ نَظَائِرِهَا بِطَرِيقِ الِاسْتِحْسَانِ، فَمَنَعَتْ. وَحَاصِلُ هَذَا يَرْجِعُ إِلَى تَخْصِيصِ الدَّلِيلِ بِدَلِيلٍ أَقْوَى مِنْهُ فِي نَظَرِ الْمُجْتَهِدِ.

قَالَ ابْنُ الْمِعْمَارِ الْبَغْدَادِيُّ: وَمِثَالُ الِاسْتِحْسَانِ مَا قَالَهُ أَحْمَدُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ يَتَيَمَّمُ لِكُلِّ صَلَاةٍ اسْتِحْسَانًا، وَالْقِيَاسُ أَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْمَاءِ حَتَّى يُحْدِثَ.(۱)

ترجمة: ابو خطاب دعینة په مسئله کې فرمایي: دعینه مسئله داسې ده چې یوڅوک شی خرڅ کړي اوبیایې دقیمت ترتسلیم دمخه ترهغه په کم قیمت رانسې چې ده خرڅ کړی دی، لکه داچې (یوڅوک شی په شل خرڅ کړي اوقیمت ترتسلیم دمخه یې په لس یاپنځلس برته ځنې رانسي) نودغه بیع دقیاس په تقاضا صحیح

۱- شرح مختصر الروضة ج۳ ص ۱۹۸

ده خوداستحسان په مقتضا صحیح نه ده، اودسودپه نورو داسي مسائلو کي د قیاس په دلیل دجواز حکم دی، خوپه دغه مسئله کي داستحسان په دلیل دهغوی څخه عدول سوی دی اومنع کړل سوی دی، نوددی حاصل داسو چي استحسان دیوه دلیل څخه وبل داسي دلیل ته تخصیص ورکول دی چي هغه دمجتهد په نظر ترده قوی وی.

بل مثال دابن عمار بغدادی دغه قول دی چي وایي: داستحسان مثال هغه دی چي احمد رضی الله تعالی عنه وایي: داستحسان تقاضاده چي دهرلمانځه دپاره اودس تازه سی خودقیاس تقضاده چي تیمم داوبو په ځای کي دی ترڅوچي بی اودسه کیږی. نومعنی داچي دلته ددلیل دقوت په تقاضا استحسان دقیاس په مقابل کي پاته سو.

که پورتني مثالونه مطالعه کړو نومعلومیږی چي په دوی کي یوهم داسي مثال نسته چي بیله دلیله یوازی دمجتهد په خوښه حکم سوی وی، بلکي ټول داسي دی چي دقیاس څخه وحدیث یا اجماع ته عدول سوی دی، اوښکاره ده چي حدیث او اجماع ترقیاس قوی دی.

څلورم اختلافي دلیل: استصلاح: دمصلحت یاصلحي غوښتنه. چي زموږ په ټولنه کي اصلاح، صلح یا مصلحت ورته ویل کیږی، اوموږ په خپله ټولنه کي ډیر دصلحي جرګې او مجلسونه وینو چي په هغوی کي څه دحقوقو، پورونو، مړو، مځکو اوداسي نوری فیصلي کیږی، لکه داچي موږ وینو چي دحقوقو په فیصلو کي څه تاوان پر یوه اوڅه پربل وکړی وایي دجرګي فیصله ده، یاداچي دمړی په فیصله کي یوه یا څوښځي ورکړی وایي دادجرګې فیصله ده، اوڅه داډول دحدودو په مسئلوکي هم جرګې فیصلي کوی ورته داصلاح

یاصلحی نوم ورکول کیږي، ډیرځله ښکاره دشریعت داصولو څخه خلاف وي، په دغه جرګو کي ډیرځله علماء هم شامل وي خو بیاهم ورته شرعی بڼه ورکول کیږي، وایي په شریعت کی صلح سته، اودفقه په څه کتابونو کی دتحکیم نوم ورکول سوی دی، په دی هکله داصول فقهي په کتابونو کی ډیر مفصل اوپه زړه پوری بحث سوی دی، چی څه په دی ډول دی:

الْأَصْلُ الرَّابِعُ مِنَ الْأُصُولِ الْمَوْهُومَةِ الاسْتِصْلَاحُ: أَمَّا الْمَصْلَحَةُ فَهِيَ عِبَارَةٌ فِي الْأَصْلِ عَنْ جَلْبِ مَنْفَعَةٍ أَوْدَفْعِ مَضَرَّةٍ، وَلَسْنَا نَعْنِي بِهِ ذَلِكَ، فَإِنَّ جَلْبَ الْمَنْفَعَةِ وَدَفْعَ الْمَضَرَّةِ مَقَاصِدُ الْخَلْقِ وَصَلَاحُ الْخَلْقِ فِي تَحْصِيلِ مَقَاصِدِهِمْ، لَكِنَّا نَعْنِي بِالْمَصْلَحَةِ الْمُحَافَظَةَ عَلَى مَقْصُودِ الشَّرْعِ وَمَقْصُودُ الشَّرْعِ مِنَ الْخَلْقِ خَمْسَةٌ: وَهُوَ أَنْ يَحْفَظَ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ وَنَفْسَهُمْ وَعَقْلَهُمْ وَنَسْلَهُمْ وَمَالَهُمْ، فَكُلُّ مَا يَتَضَمَّنُ حِفْظَ هَذِهِ الْأُصُولِ الْخَمْسَةِ فَهُوَ مَصْلَحَةٌ، وَكُلُّ مَا يُفَوِّتُ هَذِهِ الْأُصُولَ فَهُوَ مَفْسَدَةٌ وَدَفْعُهَا مَصْلَحَةٌ.

وَهَذِهِ الْأُصُولُ الْخَمْسَةُ حِفْظُهَا وَاقِعٌ فِي رُتْبَةِ الضَّرُورَاتِ، فَهِيَ أَقْوَى الْمَرَاتِبِ فِي الْمَصَالِحِ وَمِثَالُهُ: قَضَاءُ الشَّرْعِ بِقَتْلِ الْكَافِرِ الْمُضِلِّ وَعُقُوبَةِ الْمُبْتَدِعِ الدَّاعِي إلَى بِدْعَتِهِ، فَإِنَّ هَذَا يُفَوِّتُ عَلَى الْخَلْقِ دِينَهُمْ، وَقَضَاؤُهُ بِإِيجَابِ الْقِصَاصِ إذْ بِهِ حِفْظُ النُّفُوسِ، وَإِيجَابُ حَدِّ الشُّرْبِ إذْ بِهِ حِفْظُ الْعُقُولِ الَّتِي هِيَ مِلَاكُ التَّكْلِيفِ، وَإِيجَابُ حَدِّ الزِّنَا إذْ بِهِ حِفْظُ النَّسْلِ وَالْأَنْسَابِ، وَإِيجَابُ زَجْرِ الْغُصَّابِ وَالسُّرَّاقِ إذْ بِهِ يَحْصُلُ حِفْظُ الْأَمْوَالِ الَّتِي هِيَ مَعَاشُ الْخَلْقِ وَهُمْ مُضْطَرُّونَ إلَيْهَا.

وَتَحْرِيمُ تَفْوِيتِ هَذِهِ الْأُصُولِ الْخَمْسَةِ وَالزَّجْرِ عَنْهَا يَسْتَحِيلُ أَنْ لَا تَشْتَمِلَ عَلَيْهِ مِلَّةٌ مِنَ الْمِلَلِ وَشَرِيعَةٌ مِنَ الشَّرَائِعِ الَّتِي أُرِيدَ بِهَا إصْلَاحُ الْخَلْقِ، وَلِذَلِكَ لَمْ تَخْتَلِفْ الشَّرَائِعُ فِي تَحْرِيمِ الْكُفْرِ وَالْقَتْلِ وَالزِّنَا وَالسَّرِقَةِ وَشُرْبِ الْمُسْكِرِ. (١)

١- المستصفى ج ١ ص ١٧٩

ترجمة: مصلحت په اصل کی دمنفعت جلبول اودضرر دفع کولو څخه عبارت دی، خودلته دمصلحت دغه معنی مراد نه ده، ځکه دمنفعت جلبول اود ضرردفع کول دخلقو دمقاصدو څخه دی اودخلقو اصلاح دمقاصدو دحصول سره دی، خوزموږ مقصد دشریعت دمقاصدوساتنه ده، دخلقودپاره دشریعت مقاصد پنځه دی: هغه داچی پردوی باندی ددوی دین، ددوی نفسونه، ددوی عقلونه، ددوی نسلونه اومالونه وساتل سی، نوهرهغه چی ددغو پنځو دجملی څخه وی هغه مصلحت دی اوهرهغه چی دغه پنځه اصول پکښی فوت سوی وی نوهغه فساد دی دفع کول یی مصلحت دی.

ددغو پنځواصولو ساتنه دضرورت په رتبه کی راځی، همدغه دمصلحت په مرتبو کی ډیره قوی ده، ددی مثال لکه داچی شریعت دګمراه کوونکی کافر دوژنی حکم کوی، اودهغه بدعتی دعذاب حکم کوی چی خپل بدعت ته دعوت کوی، ځکه دوی پرخلګو باندی دین خرابوی، همدارنګه شریعت دقصاص دواجب کیدلوحکم کوی ځکه په قصاص سره دنسلونو حفاظت کوی، اوداچی دشرابو پرڅیښلو یی حد مقرر کړی دی ځکه په دغه سره دعقلونو حفاظت کوی هغه عقلونه چی هغوی دشرعی حکمونو دتکلیف دار ومدار اوبنیاددی، اوداچی د زنا حد یی واجب کړی دی ځکه په دغه سره دنسل اونسب حفاظت کول کیږی، دا چی پرغصب اوغلاباندی زجر اوحد مقرر دی په دغو سره دمالونو حفاظت کول کیږی هغه مالونه چی دخلګو معاش دی اودوی ورته محتاج دی.

که دغه پنځه اصول فوت سی یاپریښودل سی نومشکله ده چی دملتونو څخه دی ملت جوړسی اویا دشریعتونو څخه داسی شریعت جوړسی چی په هغه سره دخلګو اصلاح وسی، همدا وجه ده چی شریعتونه دکفر، قتل، زنا، غلا او

دنشه کونکی شی پر حرام والی هیڅ اختلاف نلری.

اقسام المصلحة وامثالها

الْمَصْلَحَةُ بِالإِضَافَةِ إِلَى شَهَادَةِ الشَّرْعِ ثَلاَثَةُ أَقْسَامٍ: قِسْمٌ شَهِدَ الشَّرْعُ لِاعْتِبَارِهَا وَقِسْمٌ شَهِدَ لِبُطْلاَنِهَا، وَقِسْمٌ لَمْ يَشْهَدْ الشَّرْعُ لاَ لِبُطْلاَنِهَا وَلاَ لِاعْتِبَارِهَا.

وَمِثَالُهُ: حُكْمُنَا أَنَّ كُلَّ مَا أَسْكَرَ مِنْ مَشْرُوبٍ أَوْ مَأْكُولٍ فَيُحَرَّمُ قِيَاسًا عَلَى الْخَمْرِ؛ لِأَنَّهَا حُرِّمَتْ لِحِفْظِ الْعَقْلِ الَّذِي هُوَمَنَاطُ التَّكْلِيفِ، فَتَحْرِيمُ الشَّرْعِ الْخَمْرَ دَلِيلٌ عَلَى مُلاَحَظَةِ هَذِهِ الْمَصْلَحَةِ.

الْقِسْمُ الثَّانِي: مَا شَهِدَ الشَّرْعُ لِبُطْلاَنِهَا, مِثَالُهُ قَوْلُ بَعْضِ الْعُلَمَاءِ لِبَعْضِ الْمُلُوكِ لَمَّا جَامَعَ فِي نَهَارِ رَمَضَانَ: إِنَّ عَلَيْكَ صَوْمَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَيْثُ لَمْ يَأْمُرْ بِإِعْتَاقِ رَقَبَةٍ مَعَ اتِّسَاعِ مَالِهِ قَالَ: لَوْ أَمَرْتُهُ بِذَلِكَ لَسَهُلَ عَلَيْهِ وَاسْتَحْقَرَ إِعْتَاقَ رَقَبَةٍ فِي جَنْبِ قَضَاءِ شَهْوَتِهِ، فَكَانَتْ الْمَصْلَحَةُ فِي إِيجَابِ الصَّوْمِ لِيَنْزَجِرَ بِهِ، فَهَذَا قَوْلٌ بَاطِلٌ وَمُخَالِفٌ لِنَصِّ الْكِتَابِ بِالْمَصْلَحَةِ وَفَتْحُ هَذَا الْبَابِ يُؤَدِّي إِلَى تَغْيِيرِجَمِيعِ حُدُودِ الشَّرَائِعِ وَنُصُوصِهَا بِسَبَبِ تَغَيُّرِ الأَحْوَالِ.

ثُمَّ إِذَا عُرِفَ ذَلِكَ مِنْ صَنِيعِ الْعُلَمَاءِ لَمْ تَحْصُلْ الثِّقَةُ لِلْمُلُوكِ بِفَتْوَاهُمْ، وَظَنُّوا أَنَّ كُلَّ مَا يُفْتُونَ بِهِ فَهُوَ تَحْرِيفٌ مِنْ جِهَتِهِمْ بِالرَّأْيِ.

الْقِسْمُ الثَّالِثُ: مَا لَمْ يَشْهَدْ لَهُ مِنْ الشَّرْعِ بِالْبُطْلاَنِ وَلاَ بِالاعْتِبَارِ نَصٌّ مُعَيَّنٌ. وَهَذَا فِي مَحَلِّ النَّظَرِ فَلْنُقَدِّمْ عَلَى تَمْثِيلِهِ تَقْسِيمًا آخَرَ وَهُوَ أَنَّ الْمَصْلَحَةَ بِاعْتِبَارِ قُوَّتِهَا فِي ذَاتِهَا تَنْقَسِمُ إِلَى مَا هِيَ فِي رُتْبَةِ الضَّرُورَاتِ وَإِلَى مَا هِيَ فِي رُتْبَةِ الْحَاجَاتِ وَإِلَى مَا يَتَعَلَّقُ بِالتَّحْسِينَاتِ وَالتَّزْيِينَاتِ.

الرُّتْبَةُ الثَّانِيَةُ: مَا يَقَعُ فِي رُتْبَةِ الْحَاجَاتِ مِنْ الْمَصَالِحِ وَالْمُنَاسَبَاتِ، كَتَسْلِيطِ الْوَلِيِّ عَلَى تَزْوِيجِ الصَّغِيرَةِ وَالصَّغِيرِ، فَذَلِكَ لاَ ضَرُورَةَ إِلَيْهِ لَكِنَّهُ مُحْتَاجٌ إِلَيْهِ فِي اقْتِنَاءِ الْمَصَالِحِ.

الرُّتْبَةُ الثَّالِثَةُ: مَا لاَ يَرْجِعُ إِلَى ضَرُورَةٍ وَلاَ إِلَى حَاجَةٍ وَلَكِنْ يَقَعُ مَوْقِعَ التَّحْسِينِ وَرِعَايَةِ

أَحْسَنِ الْمَنَاهِجِ فِي الْعَادَاتِ وَالْمُعَامَلاَتِ مِثَالُهُ: سَلْبُ الْعَبْدِ أَهْلِيَّةَ الشَّهَادَةِ مَعَ قَبُولِ فَتْوَاهُ وَرِوَايَتِهِ مِنْ حَيْثُ إِنَّ الْعَبْدَ نَازِلُ الْقَدْرِ وَالرُّتْبَةِ ضَعِيفُ الْحَالِ وَالْمَنْزِلَةِ بِاسْتِسْخَارِ الْمَالِكِ إِيَّاهُ فَلاَ يَلِيقُ بِمَنْصِبِهِ التَّصَدِّي لِلشَّهَادَةِ.

أَمَّا الْوَاقِعُ فِي رُتْبَةِ الضَّرُورَاتِ وَإِنْ لَمْ يَشْهَدْ لَهُ أَصْلٌ مُعَيَّنٌ، وَمِثَالُهُ: أَنَّ الْكُفَّارَ إِذَا تَتَرَّسُوا بِجَمَاعَةٍ مِنْ أُسَارَى الْمُسْلِمِينَ فَلَوْ كَفَفْنَا عَنْهُمْ لَصَدَمُونَا وَغَلَبُوا عَلَى دَارِ الإِسْلاَمِ وَقَتَلُوا كَافَّةَ الْمُسْلِمِينَ، وَلَوْ رَمَيْنَا التُّرْسَ لَقَتَلْنَا مُسْلِمًا مَعْصُومًا لَمْ يُذْنِبْ ذَنْبًا وَهَذَا لاَ عَهْدَ بِهِ فِي الشَّرْعِ.

لَكِنَّ تَحْصِيلَ هَذَا الْمَقْصُودِ بِهَذَا الطَّرِيقِ وَهُوَ قَتْلُ مَنْ لَمْ يُذْنِبْ غَرِيبٌ لَمْ يَشْهَدْ لَهُ أَصْلٌ مُعَيَّنٌ فَهَذَا مِثَالُ مَصْلَحَةٍ غَيْرِ مَأْخُوذَةٍ بِطَرِيقِ الْقِيَاسِ عَلَى أَصْلٍ مُعَيَّنٍ.(۱)

دمصلحت قسمونه اومثالونه

ترجمة: داختلافي دلايلو دجملې څخه څلورم وهمې دليل استصلاح ده:
مصلحت دشرعي نسبت په اعتبار پردرې قسمه دې: يوقسم هغه چې شريعت دهغه پراعتبارشاهدي وايي يعنې شرعي دليل ورسره وي.دويم قسم هغه دې چې شريعت باطل بللې وي، يعنې دشريعت داصولو څخه خلاف وي. دريم قسم داچې شريعت يې نه دبطلان اونه داعتبار شاهدي وايي، يعنې نه پراثبات باندې دليل وي اونه پر بطلان باندې کوم دليل وي. ودغه قسم ته مصلحت مرسلة وايي

داول قسم مثال لکه زمونږ داحکم چې وايو هرچيښونکې اوخوړونکې شي چې نشه لرې حرام دې، ځکه دغه پرخمر قياس دې،اوخمر دعقل دساتنې په وجه حرام سوې دې، هغه عقل چې دشرعي حکمونو دتکليف بنياد دې، يعنې که عقل سالم وو نوهغه په شرعي حکمونو مکلف دې که نه نوبيا مکلف نه دې لکه کوچنې، ليونې اوداسې نور، داچې شريعت خمر اويانوره نشه حرامه کړې ده د

۱- المستصفى ج ۱ ص ۱۷۹

همدغه مصلحت پربنیاد، نودغه هغه مصلحت دی چی شریعت اعتبار ورکړی دی، اودخمر حرمت په قرآنی آیت اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم په حدیثونو ثابت دی.

ددوهم قسم مثال: لکه داچی دوخت امیر یابل مالدار انسان درمضان د روژی په حال کی جماعی وکړی، اودعالم څخه دکفاری حکم وغواړی اوهغه ورته یوازی دشپیته روژو نیولوحکم ورکړی اودمریی دآزادولو حکم نه ورکوی، په دی مصلحت چی ګواکی دی توان لری دغلام آزادی ورته آسانه ده، نو همیشه به خپل خواهش پوره کوی اومریی به آزادوی، نوداسی مصلحت په نظرکی نیول اوداسی قول کول باطل دی، اودشریعت داصولو دقرآن کریم دصریح نص خلاف دی، بل دداسی مصلحت په نظرکی نیولوسره وټولو حدودو ته لاره خلاسیږی، بل داکه امیرانو اومالدارانوته بیاوروسته دا ډول حکم معلوم سی نوبیا یی په ټولو مسئلو کی دعلماؤ څخه اعتماد پورته کیږی اودوی به وایی چی علماء په ټولو مسئلوکی تحریف کوی.

دریم قسم داچی شریعت یی نه دبطلان اونه یې داعتبار شاهدی وایی، یعنی نه پراثبات باندی دلیل وی اونه پر بطلان باندی کوم دلیل وی، ودغه قسم ته (مصلحة مرسلة) یعنی مطلق مصلحت وایی، په اولنیو دوو کی دعلماؤ اختلاف نسته په دغه دریم کی اختلاف سته چی څوک یی جایز او څوک ورته ناجایز وایی، څکه خو وایی: (وَقَدْ اخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي جَوَازِ اتِّبَاعِ الْمَصْلَحَةِ الْمُرْسَلَةِ) بیشکه علماؤ دمطلق مصلحت په اتباع کی اختلاف کړی دی نوموړ دداسی مصلحت دمثالونو ترڅنګ یوبل تقسیم ته اشاره کوو هغه داچی مطلق مصلحت دقوت او ضعف پربنیاد دری تقسیمه ته ویشل سوی دي، چی یو دضرورت په

رتبه کي اودويم دحاجت اودريم دتحسين اوښايست په رتبه کی راځی.

دويمه رتبه: هغه ده چی دمصلحتونو دجملی څخه دحاجت اومناسبت په رتبه کی راځی: لکه دکوچنی انجلی اوهلک دپاره دنکاح په صورت کی دولی مسلط یاشرط کیدل، ځکه دغه ضرورت نه دی بلکی دغه یوحاجت دی ترڅو ددوی مصالح وساتل سی.

دريمه رتبه: هغه ده چی نه ضروری ده اونه حاجت ورته سته بلکی دغه دتحسين اوپه معاملاتو اوعاداتو کی دښه نظم دساتلو دپاره داسی مصلحت په نظرکی نیول کیږی، لکه داچی دغلام یامریی شاهدی صحیح نه ده، ددی سره چی دده فتوی اوروایت صحیح دی، داځکه چی دمریی رتبة اوحالت په دی وجه ډیر ضعیف دی چی دی مالک مسخر کړی دی، نودده دمنصب سره مناسب نه ده چی دی دشهادت دپاره آواز پورته کړی، ځکه شاهدی یونوع حکم دی.

دپورتنی څه تفصيل نه وروسته داچی موږدمصلحت قسمونه اورتبی وپيژندلی يوازی په رتبه دضرورت باندی عمل کول صحيح اوجايز دی، په دوو آخرنيو باندی بيله شرعی دليله عمل کول صحيح اوجايز نه دی، مگرپه هغه صورت کی عمل په کيدايسی چی دضرورت ومرتبی ته ورسيږی، په هغه صورت کی به هم مجتهد اجتهادکوی ترڅو دشريعت اصل ورته پيداسی.

هغه مصلحت چی دضرورت په رتبه کی راځی خودشريعت دليل ورباندی نسته، دهغه مثال داچی دکفاروسره دجنگ په صورت کی کفار دمسلمانانوبندی يابنديان رامخته کړی اوپر مسلمانانو راروان سی نو که موږ دغه مسلمان بنديان نه وژنو خامخا دغه کفار موږ وژنی اوپردار اسلام غالب کيږی، ولی که دوی مړه نکړو نوکفار مخته راځی، پرمسلمانانو غلبه کوی، داغه بنديان هم وژنی اونور

مسلمانان هم وژني اوكه مسلمان بندي مړكړو نو يومعصوم اوبې ګناه مسلمان مومړكړي اوداسې كول په شريعت كې هيڅ جوازنلري، نوځه علماء دغه مصلحت هم دضرورت څخه بولي اوجايز يې بولي كه څه هم شرعي دليل باندې نسته.

اوځه علماء وايي داډول مصلحت دضرورت په رتبه كې نه راځي، ځكه دغه دبې ګناه انسان وژنه ده اوپه شريعت كې دداسې مصلحت دپاره هيڅ اصل اودليل نسته، ځكه اول خودايقيني نه ده چې دبنديانو تروژلو وروسته مسلمانان پركافرانو غالب كيداى سي، اوبل دايقيني نه ده چې كافران غالب سي نوټول مسلمان اودغه بنديان وژني، بلكې دغه ټول ګمان دى اوپه ګمان باندې دمسلمان وژنه جايز نه ده.

دغه داسې دى لكه چې يو څوكسان دمخمصې اولوږې په حال كې وي نو بيا قرعه اندازي وكړي اويومسلمان مړكړي اوهغه وخوري ترڅوچې دغه نور دمرګه وژغورل سي، نودمصلحت په خاطر داسې كول جايز نه دي،ځكه دلته مصلحت كلي نه دى، اوبل ددوى خلاصون يقيني نه دى، نوداسې مصلحت قطعي اويقيني نه دى،. بلكې داسې مصلحت دقرآن كريم دصريح نص اوآيتونو سره مخالف دى ځكه الله تعالى فرمايي: {وَلاَ تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ} [الإسراء: ۳۳] په بل آيت كې راغلي دي: {وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا} [النساء: ۹۳] نو دلته دهغه بنديانو اوددغه انسان څه ګناه ده چې دبل دپاره قرباني كيږي،او يو بې ګناه انسان دنورو دپاره فدايي كيږي اودامخكې ثابته سوله چې مصلحت به دقرآن، حديث اواجماع څخه مخالف نه وي كه مخالف وو نوهغه مصلحت نه دى.

دمصلحت شرطونه

داصول فقه يوعالم په خپل کتاب کې دپورتني تفصيل خلاصه بيان کړې اوفرمايې: شروط المصلحة المرسلة: المصلحة عند الجمهور قائمة على أسس يصح أن تعد شرطا فهي: (١) لا تصادم نصوصا ولا إجماعا. وإلا كانت مصلحة ملغاة، لأن معنى إرسالها أن الشارع لم يلغها ولم يعتبرها.

(٢) أن تحقق أحد المصالح الخمس: الدين والنفس والعقل والنسل والمال، أي أن تكون المصلحة من جنس هذه المصالح.

(٣) أن تكون حقيقية وعامة. لأنها إن لم تكن حقيقية كانت وهما، والوهم لا ينبني عليه حكم شرعي. وإن لم تكن عامة كانت خاصة، والأحكام في الشريعة لا توضع لفرد ولا لبعض وإنما هي للناس كافة بغير تفرقة.(١)

ترجمة: دمصلحت شرطونه: دجمهورو علماؤ په نزد مصلحت پرداسې بنيادونو باندې ولاړ دی چې داصحيح ده چې شرطونه ورته وويل سي:

١- د هغوی دجملې څخه يو دادی چې دنصوصو يعنې قرآن، حديث او اجماع سره به تضاد اوټکر نلري، که نه نوبيا دغه مصلحت لغو اوباطل دی، ځکه دمصلحة مرسلة معنا داده چې دشارع دخوابه نه تائيد اونه باطل سوی وي.

٢- دويم داچې دپنځو مصلحتونو څخه به يوپکښې ثابت وي لکه ددين، نفس، عقل، نسل اومال ساتنه، يعنې مصلحت به ددغو پنځو دجملې څخه وي.

٣- دريم داچې دغه مصلحت به حقيقي اوعام وي، ځکه که حقيقي نه وي نوهغه وهم دی، اودشريعت حکم پروهم نه بناکيږي، اوکه عام نه وي نوهغه خاص دی، اودشريعت حکمونه ديوفرد دپاره نه وضع کيږي، بلکې دغه دټولو خلګو

١- المصلحة المرسلة محاولة لبسطها ونظرة فيها ج ١ ص٤٤

دپاره بی فرقه وی.

یوبل عالم دمصلحة مرسلة یامطلق مصلحت په هکله لیکلی دی: وهو الوصف الذی لم یشهد له الشرع لابالغائه ولاباعتباره ای اتباع المصلحة المرسلة، المصلحة المرسلة ان کانت من الحاجیات اوالتحسینیات ، فهو لایعلم خلافا فی منع التمسک بها، لانه وضع حکم بغیر دلیل. وان کانت من الضروریات فهویری جواز العمل بها مطلقا. (۱)

ترجمة: مطلق مصلحت: هغه وصف دی چې په شریعت کې نه داعتبار درجه لری اونه دالغاء. یعنی دمطلق مصلحت داتباع اونه اتباع په هکله شرعی دلیل نلری. دغه مطلق مصلحت که په حاجاتو اوښه والی کې وی نو په دی باندې دلیل نه ویلوکې هیڅ اختلاف نه لیدل کیږی ځکه دغه حکم بی دلیله دی، اوکه دغه مصلحت په ضروریاتو کې وی نوبیا مطلق عمل په کول جایز معلو میږی.

دپورتنی بحث اوکتابونو دعبارتونو څخه خلاصة داثابته سوله چی هغه مصلحت چی دقرآن، حدیث اواجماع څخه مخالف وی، اویاحقیقی نه وی وهمی اوفرضی وی، اویاداچی عام نه وی بلکی خاص وی نوداسی مصلحت یاصلح دشریعت دنظره صحیح نه ده.

په اختلافی اصولو کې بحث ډیر مفصل اواوږد دی چې ټول بحث ته دلته ضرورت نه لیدل کیږی صرف دغه څه اشاره می ددی دپاره وکړه چې په څه کتابونو کې پرځای ددی چې په اتفاقی اصولو دلیل ووایی دداسې اختلافی اصولو اودلائلو څخه استفاده سوی وی. نوداښودل په کاردی چی اسلام یو استدلالی دین دی، آن تردی چی دلایل هم په دلایلو ثابته وی، صرف دغه کفایت نه کوی چی فلانی صاحب داسی ویلی دی یلاپه فلانی کتاب کی داسی لیکلی

۱- مذکرة أصول الفقه علی الروضة الناظر

دی، بلکې دحکم اواستدلال دپاره دشرعی دلایلو څخه په شرعی طریقة سره استفاده کول ضروری ده.

داسلامی شریعت دحکمونو اودلائلو ترتیب داسې دی چې په یو مسئلة کې دحکم کولو دپاره ترهرڅه دمخه دالله تعالی په کتاب کې وکتل سی اوپه هغه کې دلیل پیداسې اوحکم په وسی، که نه نوبیا دالله تعالی درسول صلی الله علیه وسلم په حدیثونو کې وکتل سی اوپه قوی حدیث داثبات یانفی دلیل پیداسې، که نه نوبیا دزمانی دعلماؤ په اجماع دلیل وویل سی، که هغه هم نه وی نوبیا دشرعی اصولو مطابق دقیاس څخه کار واخستل سی، که داسې مسئلة پیداسې چې په اتفاقی اصولوکې هیڅ لاره نلری نوبیادزمانی داسې عالم کولای سی چې دراجح اومرجوح ترمنځ فرق اوتوپیر کولای سی دخپل مذهب داصولو مطابق داختلافی اصولو څخه استفاده وکړی ترڅودوخت مسلمانان په تاریکه کې پاته نسی اودوی ته دحلال یاحرام، حق اوناحق حکم ورته پیداسې.

په قضاء اوحکم کې احتیاط کول

دپورتنی څه تفصیل نه وروسته که حقیقت ته نظروکړو نوپوهیږو چې دنن زمانی هرعالم دحاکم اوقاضی حیثیت لری، داځکه چې زموږ په شاوخوا کې ټول سیکولر یالادینه حکومتونه دی چې هغوی ددین سره نابلده اوخپلې غالب فیصلې ددین داصول مطابق نه کوی، داچې دمنطقی ډیرخلګ مسلمان دی او غواړی چې خپل منځې فیصلې داسلام داصولو مطابق وکړی، نودوی خپل دعلاقې علماؤ ته مراجعه کوی ترڅودوی په منځ کې شرعی فیصله وکړی، اوموږ وینوکه دهغوی په منځ کې شرعی فیصله دشرعی اصولو مطابق وسی نو هغوی یې منی اوقناعت پر کوی، نوعلماؤ ته هم په کارده چې دفیصلې په وختکې شرعی اصول په نظرکې ونیسی اوبیافیصله وکړی.

دقضاء اوحكم په هكله رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل دامت حاكمانو او قاضيانوته هم په حديثونوكې لاربنودنى كړى دى اوفرمايي: عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ، فَلَهُ أَجْرَانِ، وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ، فَلَهُ أَجْرٌ». (۱)

ترجمة: عمروبن العاص رضى الله تعالى عنه روايت كوى چې دى وايي: ما درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويلې: كه يوحاكم حكم وكړى داسې چې دى اجتهاد اوكوشش وكړى اوبيا دى وحق ته ورسيدى نوده ته دوه ثوابه دى، اوكه حكم وكړى داسې چې دى اجتهاد او كوشش وكړى اوبيا دى خطاسى نو ده ته يوثواب دى.

ددغه حديث په شرح كى شارح (محمد فؤاد عبدالباقى) ليكلى، دى چى دمسلمانو علماؤ اجماع ده چى دغه حديث دهغه حاكم په باره كى دى چى عالم وى اودحكم كولو اهل وى، نوهغه حاكم چى جهد اوكوشش وكړى نوكه د اجتهاد په نتيجه كى وحق ته ورسيدى نوده ته دوه ثوابه دى، يوداجتهاد اوبل دحق درسيدلو، اوكه خطاسو نوده ته داجتهاد يوثواب وركول كيږى، اوهغه چى دحكم كولو اهل نه وى هغه ته حكم كول دسره جايز نه دى، اوده ته ثواب خونسته بلكى ګناه اوعذاب سته، اودداسى كس حكم نافذ نه دى دحق سره برابر وى اوكه نه وى، ځكه دغه وحق ته رسيدل يواتفاق دى دشريعت داصولو سره برابر نه دى، نودده ټول عمل باطل اومردود دى.

ځكه په دى هكله امام بخارى رحمة الله تعالى عليه درسول الله صلى الله عليه وسلم حديث رانقل كړى دى اوفرمايي: بَابُ إِذَا اجْتَهَدَ العَامِلُ أَوِ الحَاكِمُ، فَأَخْطَأَ خِلاَفَ الرَّسُولِ مِنْ غَيْرِ عِلْمٍ، فَحُكْمُهُ مَرْدُودٌ لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ عَمِلَ

۱- متفق عليه اللفظ للبخارى ج ۹ ص ۱۰۸

عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ». (۱)

امام بخاری رحمة الله تعالی علیه په دی هکله مستقل باب جوړ کړی دی وایی: که یوعامل یاحاکم کوشش وکړی اوبیاهم خطاسی درسول الله صلی الله علیه وسلم دسنت په خلاف حکم وکړی (یعنی په جهل باندی چی دلیل ورمعلوم نه وی) نودغه حکم مردود دی، څکه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی: څوک چې داسې عمل وکړی چې زموږ دحکم مطابق نه وی نوهغه مردود دی.

اوکه بیاوروسته ورته معلومه سی چی دسنت څخه خلاف دی نوپرده باندی رجوع کول واجب ده، اوهغه حکم خپله هم مات دی.

دهغه مجتهد قاضی اوعالم دپاره دثواب وعده سوی ده چی دحکم کولو دپاره دشرعی دلیل جهد اوپلټنه کوی په بل حدیث کې راغلی دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا حَكَمَ الحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ، فَلَهُ أَجْرَانِ، وَإِذَا حَكَمَ فَأَخْطَأَ، فَلَهُ أَجْرٌ وَاحِدٌ». (۲)

ترجمة: ابوهريرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یوحاکم چې حکم کوی نودی اجتهاد اوکوشش (ددین په اصولو کې) وکړی اوکه دی وحق ته ورسیدی نو ده ته دوه ثوابه دی، اوکه دکوشش اواجتهاد سره بیاهم خطاسو نوده ته یوثواب دی.

دهغه قاضی اوحاکم دپاره ددوزخ داور عذاب ثابت دی کوم چی بی شرعی دلیله دخلګو په منځ کی په ناحقه فیصلی کوی، څکه په حدیث کی درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت سوی دی چی فرمایی: عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ: وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ، وَاثْنَانِ فِي النَّارِ، فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ، وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ، فَهُوَ فِي النَّارِ،

۱- صحيح البخاری کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة - ۲- سنن الترمذی کتاب الاقضية

وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ ". (۱)

ترجمة: دبريدة زوى دخپله پلار څخه روايت كوى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قاضيان درى دى، دوه ددوزخ په اوركې اويو په جنت كې دى، يوهغه سړى دى چې حق وپيژنى اوحكم په وكړى نودغه په جنت كې دى، بل هغه سړى دى چې حق وپيژنى اوحكم نه په وكړى بلكې په حكم كې ظلم وكړى نودى ددوزخ په اوركې دى، بل هغه سړى دى چې حق نه پيژنى اودخلكوپه منځ كې په جهل يانايوهى باندې فيصله اوحكم كوى نودغه هم ددوزخ په اوركې دى

په بل حديث كى نبى كريم صلى الله عليه وسلم فرمايى: عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَجْرَؤُكُمْ عَلَى الْفُتْيَا، أَجْرَؤُكُمْ عَلَى النَّارِ. (۲)

ترجمة: عبيد الله بن ابى جعفر روايت كوى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسوڅخه پرفتوا ډيرجرات كونكې ددوزخ پراوره ډيرجرات كونكې دى.

په بل حديث كى فرمايى: عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ». (۱)

ترجمة: ثوبان رضى الله تعالى عنه روايت كوى چې نبى صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بيشكه زه دخپل امت پرګمراه كونكو امامانو بيريږم.

په يوبل حديث كى فرمايى: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أُفْتِيَ بِفُتْيَا مَنْ غَيْرِ ثَبْتٍ، فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ». (۲)

ترجمة: ابوهريرة رضى الله تعالى عنه روايت كوى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې بيله علمه فتوى وركوى نوبيشكه دهغه ګناه پرهغه فتوا وركونكې ده.

۱- رواه سنن الاربعة واللفظ لابي داود -- ۲- مسند الدارمى ص ۲۶ كتاب المقدمة

۱- سنن الدارمى كتاب المقدمة نمبر۲۱۴ ص ۳۲-- ۲- سنن الدارمى كاالمقدمة

دعلم څخه دځلورو دليلونو څخه يودليل مراد دی، اوکه بی دليله غلته فتوا چاته ورکړی اوهغه عمل په وکړی نو دهغه ګناه پرفتوا ورکونکې ده پرعمل کونکې نسته، ځکه عمل کونکې خو دالله تعالی دحکم مطابق دعالم څخه پوښتنه وکړه، دا چې هغه غلته فتوا ورکړه اوده عمل په وکړی نوګناه پر فتوا ورکونکې ده.

په دی هکله عمر فاروق رضی الله تعالی عنه فرمايی: عَنْ زِيَادِ بْنِ حُدَيْرٍ، قَالَ: قَالَ لِي عُمَرُ: «هَلْ تَعْرِفُ مَا يَهْدِمُ الإِسْلَامَ؟» قَالَ: قُلْتُ: لاَ، قَالَ: «يَهْدِمُهُ زَلَّةُ الْعَالِمِ، وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ وَحُكْمُ الأَئِمَّةِ الْمُضِلِّينَ».(۱)

ترجمة: زيادبن حديروايی: ماته عمر رضی الله تعالی عنه وويل: ايا ته په هغه پوهيږی چې اسلام نړی وی؟ ماورته ويل: يا، ده ويل: دعالم خطاوتل، دالله په كتاب كې دمنافق مناقشه كول، دګمراه كونكو امامانو حكمونه كول، اسلام نړوی.

دبی دليله فتوا په هكله اوزاعی رحمة الله تعالي عليه وايی: عن الأوزاعی قال من اخذ بنوادر العلماء خرج من الاسلام. (۱)

ترجمة: داوزاعی څخه روايت سوی دی چې ده ويل: چاچې دعلماؤ په نادرو قولونو عمل كول شروع كړل نوهغه داسلام څخه ووتی.

په بل ځای كی وايی: حَدَّثَنَا الأَوْزَاعِيُّ، قَالَ: أُنْبِئْتُ أَنَّهُ كَانَ يُقَالُ: «وَيْلٌ لِلْمُتَفَقِّهِينَ لِغَيْرِ الْعِبَادَةِ وَالْمُسْتَحِلِّينَ الحرمات بِالشُّبُهَاتِ». (۲)

ترجمة: اوزاعی رحمة الله تعالی عليه وايی: عذاب دی وی هغه فقيه لره چې عبادت نه كوی اوپه شبهه باندې حرام ته حلال وايی.

دپورتنی تحقيق څخه يوازنی مقصد دادی چې ډير عالمان خلګوته بی دليله فتواوی وركوی هغه هم داسې چې مسئله دحق اوناحق وی، يامسئله دحرام

۱- سنن الدارمی نمبر ۲۲۰ ص۳۳ - ۲- رواه المستدرک للحاكم ص ۳۳

۳- سنن الدارمی باب تغير الزمان ج ۱ ص ۲۷۹

اوحلال وی، چې په داسې فتوا و سره نه یوازې داچې دخلګو حقوق ترپښولاندې کیږي اویاخلګ حرام ته حلال یاحلال ته حرام وایي، دهغه عالم دپاره هم ددین او آخرت تاوان اونقصان دی، ځکه پوښتونکي دده څخه دشرعي مسئلي پوښتنه کوی، اودی بې علمه یابې دلیله فتوا یاحکم ورکوی، اوهغه دده په حکم یافتوا عمل کوی نوچې هغه غلط وی نو درسول الله صلی الله علیه وسلم دفرمان مطابق ګناه پرفتوا ورکونکي ده. ځکه په حدیث کې راغلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:مَنْ أُفْتِيَ بِفُتْيَا مَنْ غَيْرِ ثَبْتٍ، فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى مِنْ أَفْتَاهُ.(۱)

ترجمة: عبدالملک بن مروان وایی مادابوهریرة رضی الله تعالی عنه څخه واوریدل چې ویلی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې بی علمه (بی دلیله) فتوا ورکړله نودهغه ګناه پرفتوا ورکونکي ده.

دپورتنیوحدیثونواوآثاروڅخه ثابته سوله که یوسړی دخلګوپه منځ کې حکم یافیصله وکړی که څه هم دغه حکم دحق سره برابروی خودی علم نه پرلری یعنی دلیل یې ورته معلوم نه وی نودغه سړی هم په دوزخ کې دی، ځکه ده په جهل یا ناپوهی سره حکم وکړی، دلته دعلم څخه داصولو علم مراد دی ځکه په اصولو یا دلیل سره سړی ته حق اوباطل معلومیږی، بل په دغو حدیثونو کې داسلام پیغامبر صلی الله علیه وسلم دخپل امت حاکمان، قاضیان اوعلماء بیرولی اومنع کړی دی چې په جهل ناپوهی سره حکم نه وکړی یاداچې حق ورمعلوم وی خودی په حکم اوفیصله کې ظلم وکړی اوناحقه حکم وکړی.

دهمدغو حدیثونو په استدلال علماء وایي: دحاکم، قاضی اوهغه عالم دپاره چې دخلګو په منځ کې حکم یافیصله کوی دومره علم شرط دی چې داجتهاد مرحلی ته رسیدلی وی، مطلب داچې دومره علم به لری چې دحکم اودلیل، دراجح او

۱– رواه سنن ابی داود کتاب العلم

مرجوح ترمنځ فرق کولای سی، که څه هم اجتهاد په مذهب کې وی، یعنی که یو عالم دیوخاص مذهب مقلد وی دهغه دپاره هم دغه شرط ده چې دخپل مذهب دامام اصول اودلائل به ورته معلوم وی اودی به دهغه داصولو مطابق حکم کوی.

باید په ډیر تاسف ووایو چې موږ نن په داسی ټولنه کی ژوندکوو چې عامه مقوله داسی ویل کیږی (ملاهغه دی چې چپ نسی) مطلب داچې دسوال یاپوښتنی په جواب کی بی علمه فتوی یاحکم ورکول ورته خوښ دی ترڅو چې چپ پاته سی، ځکه بیابه خلگ وایی عالم یاملا نه دی، حالانکی موږ ولوستل چې بی دلیله حکم ورکول څومره لوی وبال اوگناه ده، په همدغه کی زموږ دټولو دپاره عبرت اونصیحت دی چې دالله تعالی دین دخپل عزت اوخواهشاتو تابع نه کړو بلکی دالله تعالی مخلوق اوبندگانوته دالله تعالی دین په صحیح توگه بیان او ورسوو، ځکه موږ دطالب علمی څخه خپل ځانونه دهمدی دپاره وقف کړی دی.

امام ابو حنیفة رحمة الله علیه

اوددلیل اهمیت

دپورته څه تفصیل څخه وروسته دالله تعالی دمبارک دین منونکو مسلمانو بندگانو عالمانو او حاکمانوته مناسب نه ده چې پخپله خوښه اویادبل چادبی دلیله اقوالوپه وجه دالله تعالی ددین حکمونه پریږدی اویابی ضرورته تاویلونه پکښی وکړی چې دهغه په وجه حلال ته حرام یاحرام ته حلال ووایی، دالله تعالی ددین منونکې مسلمانان باید په هرحال کې یوازی دالله تعالی اودهغه درسول دحکمونو متابعت وکړی، دفقهاؤ، دمجتهدینوامامانواوعالمانو رحمة الله تعالی علیهم د اقوالو اتباع یاعمل په کول ترهغو ضروری دی چې دقرآن، حدیث، اجماع اوقیاس څخه یوشرعی دلیل ورسره وی، اوددین داصولوسره مخالف نه وی، ځکه تقریبا

دټولو مجتهدینو امامانو او علماؤ پردغه اتفاق رانقل سوی دی وایی که زماقول دالله دکتاب او درسول الله دحدیثونو څخه مخالف وو نو په دیوال ئی ولی، یعنی عمل مه په کوی بلکه په قرآن او حدیث باندي عمل کوی ځکه چې دفقهی حکم هغه وخت اعتبار لری چي حکم ئی دڅلورو شرعی دلائلو څخه اخستل سوي وي، یعنی دقرآن،حدیث ، اجماع اوقیاس څخه دلیل ویلی وی، اودهغه څخه به داستدلال وجه هم معلومه وی، که نه بیادغه قول دهغه عالم خپله رایه کیدایسی شرعی حکم نه بلل کیږی.

که دبل چادکتاب یا اقوالو څخه نقل کوی نوهم ضروری ده چې ورته وګوری چې هغه په کوم دلیل دغه خبره کوی،که هغه دلیل ورسره ویلی وی نودی هم دهغه قول ددلیل سره رانقل کولای سی، که دلیل ورسره نه وی اودهغه په قول دلیل وایی نو دغه دبل په علم دلیل ویل دی چې په شریعت کې جائز نه دی.

ان تردی چې حدیث دقرآن مخالف راسی اوپه دواړوباندي په یوه وقت کی عمل کول ممکن نه وی نوحدیث پریښودل کیږی په قرآن عمل کول لازمی دی.

لکه دمثال په ډول دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه دمذهب مطابق که امام په لمانځه کی قرأت په زوره وایی نودهغه ترشابه مقتدی قرات نه وایی. ځکه په قرآن کریم کی الله تعالی فرمایی: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (۱)

ترجمة : اوکله چی قرآن لوستل کیږی نوتاسو غوږ ورته ونیسی اوچوپه خوله سی ددی لپاره چی رحم درباندی وسی.

تفسیر: ددغه آیت څخه ډیرو علماؤ دامسئلة را ایستلي ده چی په لمانځه کي کله امام قرأت په زوره وایی نومقتدیان دی چپه خوله سی قرات دی نه وایی اوغوږ

۱- سورة اعراف آیت ٢٠٤

دی ورته ونیسي.

خو په یو حدیث کې روایت دی: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُنَادِيَ: «أَنَّهُ لاَ صَلاَةَ إِلاَّ بِقِرَاءَةِ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ».(۱)

ترجمة: ابوهریرة رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړی چې زه خلگو ته آواز وکړم چې بیله سورت فاتحة (الحمد لله) ویلو څخه لمونځ نه صحیح کیږي.

په یو بل روایت کې راغلي دي: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ». (۲)

ترجمة: عباده بن صامت رضی الله تعالی عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دهغه چا لمونځ نه صحیح کیږي چې دالحمد لله سورت یعنی (الفاتحة) پکښې ونه وایي.

د پورتنیو اوددې په شان دنورو حدیثونو پر بنیاد تقریبا دټولو مذهبونو امامان پردې مسئله موافق دي چې دالحمد لله دسورت ویل په لمانځه کې واجب دي، امام وي که مقتدي، خو یوازې دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه دمذهب منونکي وایي که څوك په امام پسې ولاړ وو اوامام قرأت په زوره وایه نو مقتدي به چپه خوله وي اوڅه به نه وایي ترڅو په قرآن باندې عمل وسي.

یعنی په دغه وختکې په دغه حدیثونو عمل نه کوي ځکه داحنافو دمذهب مطابق که په یوه وخت کې په دواړو (یعنی قرآن اوحدیث) عمل کول ممکن نه وه نو حدیث پریښودل کیږي، نوځکه دلته دقرآن اوریدل اودهغه داوریدلو دپاره چوپ خوله کیدل واجب دي، اودالحمد لله ویل هم واجب دي نوځکه په حدیث باندې عمل کول پریږدي اویوازې په قرآن باندې عمل کوي چوپه خوله پاته کیږي.

۱- رواه سنن ابوداوود کتاب الصلوة - ۲- رواه صحیح البخاری کتاب الاذان

نودلته باید ووایوچی امام ابوحنیفة اودهغه ښاغلی شاګردان اودهغه د مذهب منونکی رحمة الله تعالی علیهم دقرآن په مقابل کی دالله تعالی درسول حدیث پریږدی اوپه قرآن باندی عمل کوی نودبل چا دقول به بیا څه قدر اوقیمت وی، چې بیله دلیله اویاداچې صریح دقرآن او حدیث سره تضاد اوټکرولری نوهغه باید په هرصورت پریښودل سی اوپه قرآن اوپه حدیث باندی عمل وکړل سی.

ددی نه علاوه دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه په نزد ددلیل اهمیت دده مبارک دقول څخه ډیر ښه معلومیږی، هغه داچی یوعالم په خپل کتاب کی دامام ابوحنیفة (رح) داسې قول نقل کړی دی: سئل: اذاقلت قولا وكتاب الله يخالف قولك؟ قال:اترک قولی لکتاب الله،قیل: فاذاکان خبر رسول الله يخالف قولک؟ قال: اترک قولی بخبررسول الله،قیل:فاذاکان قول الصحابی يخالف قولک؟قال:اترک قولی بقول الصحابی، قیل فاذاکان قول التابعی يخالف قولک؟ قال: اذاکان التابعی رجلا فانا رجل.(۱)

ترجمة : دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه څخه پوښتنه وسوله که تاداسی قول یاخبره وکړه چی قرآن ستادقول سره مخالف وو؟ ده ورته وویل چی زما قول د الله دکتاب لپاره پریږده ، بیا چا ورته وویل که درسول الله قول ستا دقول مخالف وو ؟ ده ورته وویل زماقول درسول الله د حدیث لپاره پریږ ده ، بیا چا ورته وویل که دصحابی قول ستا دقول سره مخالف وو؟ نوده ورته وویل چی زما قول دصحابی د قول لپاره پریږ ده بیاچاورته وویل که ستا قول دتابعی دقول سره مخالف وو؟ نو ده مبارك ورته وویل تابعی یوسړی دی اوزه هم یوسړی یم.یعنی که زماقول د تابعی دقول سره مخالف وو نوزماقول مه پریږده ځکه تابعی هم زماپه مثل یوسړی دی.

دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه په مناقبو کې دحجاز مفتی علامة شیخ شهاب الدین احمد بن جعفر هیثمی مکې شافعی په خپل کتاب (الخیرات الحسان

۱- آئمة الفقه الاسلامی ص ۳۱

فی مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة النعمان › نومی کتاب کې لیکلی دی: وروی عنه أنه کان یقول لاینبغی لمن لایعلم دلیلی أن یفتی بکلامی، وکان إذا أفتی یقول هذا رأی أبی حنیفة, وهوأحسن ماقدرنا علیه، فمن جائنا باحسن فهو أولی بالصواب، وهذا فیه غایة الورع والانصاف.(۱)

ترجمة: دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه څخه روایت دی چې ده ویل: چاته چې زمادلیل معلوم نه وی هغه ته مناسب نه ده چې زماپه قول فتوی ورکړی، اوده چې به کله فتوا ورکړه نوویل به یی چې دغه دابوحنیفة رایه ده اودغه هغه ښه دی چې موږ پرقادرسولو ،که چاتردغه ښه راوړله نوهغه په ښه والی حقداره دی، په همدغه قول کې دده نهایت پرهیز اوانصاف معلومیږی.

دداغه کتاب په بل ځای کې لیکلی دی: وکتب أبوجعفر المنصور إلیه قبل أن یجتمع به, بلغنی عنک أنک تقدم القیاس علی الحدیث، فقال أبوحنیفة لیس الأمر کمازعم من بلغک عنی ذالک، إن جاؤک فاعلمهم أیها الخلیفة إنی أعمل بکتاب الله عزوجل ثم بسنة رسول الله صلی الله علیه وسلم ثم بأقضیة الصحابة، ثم أقیس بعد ذالک.

وروی عنه أنه یقول ضعیف الحدیث أحب الی من أراء الرجال.مخکنی مرجع

ترجمة: ابوجعفر منصور ده ته لیک ولیږی مخکې تردی چې دده سره یوځای سی، لیکلی وه چې ماته رسیدلی دی چې ته قیاس پرحدیث مخکې کوی، نو ابوحنیفة (رحمة الله تعالی علیه) ورته وویل: داسې نه ده لکه دهغه سړی گمان چې تاتی زمالخوا خبر رارسولی دی، که دوی درته راغله نوورته ووایه ای خلیفة چې زه اول دالله تعالی په کتاب اوبیا درسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت اوبیا د صحابه کرامو په قضایاوو عمل کوم، اوبیاتردی وروسته قیاس کوم.

۱- الخیرات الحسان فی مناقب الامام الاعظم ابی حنیفة النعمان ص ۱۸۴

دده څخه روایت سوی دی چې ده ویل: ضعیف حدیث ماته دخلګو ترقولونو خوښ دی.

اوداچې په حنفي مذهب کې دحدیث په هکله څومره تحقیق اوڅیړنه کیږي دهغه اندازه هم دحنفي مذهب داصولو په یوکتاب کې داسې لیکلې دي:

شَرط الْعَمَل بِخَبَر الْوَاحِد أَن لاَ يكون مُخَالفا للْكتاب وَالسّنة الْمَشْهُورَة وَأَن لاَ يكون مُخَالفا للظَّاهِر قَالَ عَلَيْهِ السَّلَام (تكْثر لكم الأَحَادِيث بعدِي فَإِذا رُوِيَ لكم عني حَدِيث فاعرضوه على كتاب الله فَمَا وَافق فاقبلوه وَمَا خَالف فَردُّوهُ).

وَتَحْقِيق ذَلِك فِيمَا رُوِيَ عَن عَليّ بن أبي طَالب أَنه قَالَ كَانَت الروَاة على ثَلاَثَة أَقسَام: ١ – مُؤمن مخلص صحب رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم وَعرف معنى كَلاَمه.

٢ – وأعرابي جَاءَ من قَبيلَة فَسمع بعض مَا سمع وَلم يعرف حَقِيقَة كَلاَم رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَرجع إِلَى قبيلته فروى بِغَيْر لفظ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فتغير الْمَعْنى وَهُوَ يظنّ أَن الْمَعْنى لاَ يتَفَاوَت.

٣ – ومنافق لم يعرف نفَاقه فروى مالم يسمع وافترى فَسمع مِنْهُ أنَاس فظنوه مُؤمنا مخلصا فرووا ذَلِك واشتهر بَين النَّاس، فَلهَذَا الْمَعْنى وَجب عرض الْخَبَر على الْكتاب وَالسّنة الْمَشْهُورَة.

وَنَظِير الْعرض على الْكتاب فِي حَدِيث مس الذّكر فِيمَا يرْوى عَنهُ من مس ذكره فَليَتَوَضَّأ) فعرضناه على الْكتاب فَخرج مُخَالفا لقَوْله تَعَالَى {فِيهِ رجال يحبونَ أَن يَتَطَهَّرُوا} فَإِنَّهُم كَانُوا يستنجون بالأحجار ثمَّ يغسلون بِالْمَاءِ وَلَو كَانَ مس الذّكر حَدثا لَكَانَ هَذَا تنجيسا لاَ تَطْهِيرا على الإِطْلاَق.

وَكَذَلِكَ قَوْله عَلَيْهِ السَّلاَم أَيمَا امْرَأَة نكحت نَفسهَا بِغَيْر إِذن وَليهَا فنكاحها بَاطِل بَاطِل بَاطِل خرج مُخَالفا لقَوْله تَعَالَى {فَلاَ تعضلوهن أَن ينكحن أَزوَاجهنَّ} فَإِن الْكتاب

يُوجب تَحْقِيق النّكَاح مِنهُنّ.

وَمِثَال الْعرض على الْخَبَر الْمَشْهُور رِوَايَة الْقَضَاء بِشَاهِد وَيَمِين فَإِنَّهُ خرج مُخَالفا لقَوْله عَلَيْه (الْبَيّنَة على من ادّعى وَالْيَمِين على من أنكر) .(١)

ترجمة: په خبرواحد باندى دعمل كولو شرط دادى: چى دالله تعالى دكتاب اودرسول الله صلى الله عليه وسلم دمشهورو حديثونو به مخالف نه وى، او د نصوصو دظاهر سره به مخالف نه وى، ځكه عليه الصلوة والسلام فرمايي: ترما وروسته به ډيرحديثونه تاسوته روايت سى، كله چى تاسوته زما څخه حديث روايت سى نوهغه دالله تعالى پركتاب عرض كړى كه موافق سو نوقبول يې كړى اوكه مخالف سو نورد يې كړى.

ددى تحقيق داسى دى لكه چى دعلى رضى الله تعالى عنه څخه روايت دى چى دى فرمايي: دنبى عليه سلام څخه روايت كونكى پردرى قسمه دى: يو هغه مخلص مومن دى چى درسول الله صلى الله عليه وسلم سره ملګرى سى او دده دخبرى په مطلب پوه سى.

دويم هغه صحرايى سړى دى چى دخپلى قبيلى دخواڅخه راسى، اوڅه واورى اودرسول الله صلى الله عليه وسلم دخبرى په حقيقت پوه نسى،اوخپلى قبيلى ته ولاړ سى، نودى درسول الله صلى الله عليه وسلم دلفظ نه بغير روايت كوى،اومعنى تغير كړى دى داګمان كوى چى دمعنى تغير تفاوت نلرى.

دريم هغه منافق دى چى نفاق يې معلوم نه وى دى هغه څه روايت كوى چى ده نه وى اوريدلى، افتراكوى اوخلګ يې دده څخه واورى، اوپرده باندى د مخلص مومن ګمان كوى، نوهغوى يې روايت كوى اودخلګو په منځ كى مشهور

١- اصول الشاشي ص ٢٨٠

سی، نودهمدغه وجهی څخه دخبر واحد دالله پرکتاب اودرسول الله پرمشهورو حدیثونو عرض کول واجب دی.

ددی مثال چی خبر واحد پرکتاب عرض سی هغه داچی دمس ذکر حدیث دی په هغه کی ویل سوی دی (که چا خپل ذکر مس کړی نواودس دی وکړی) کله چی موږ دغه حدیث دالله تعالی پرکتاب عرض کړی نودهغه څخه مخالف سو. هغه داچي الله تعالي په قرآن کی دقبا دخلګو صفت بیانوی اوفرمایی: (په دغه قباکی خلګ دی چی ډیره پاکی خوښوی) ددوی ډیره پاکی دغه وه چی دوی یو ځل په لوټه اوبیا په اوبو استنجاء کوله، نوکه دخپل ذکر مسه کیدل داوداسه ماتونکی سی نو پاکی هیڅ وخت نه راځی، ځکه چی هرځل چې لاس وروړی اودس یې ماتیږي.

همدارنګه دعلیه السلام داقول چی وایی: هره ښځه چی دولی داجازی نه بغیر په خپله نکاح وکړی نوهغه نکاح باطله ده، باطله ده، باطله ده، کله چی موږ دغه حدیث دالله تعالی پرکتاب عرض کړی نودهغه څخه مخالف سو، ځکه په قرآن کریم کی رب العالمین فرمایی: (تاسو دوی مه منع کوی چی دخپلو خاوندانو سره دوباره نکاح وکړی) ځکه دآیت تقاضا داده چی دوی په خپله دنکاح عقد وکړی معنی داچی ددوی دنکاح عقد صحیح کیږی.

اوددی مثال چی خبرواحد پرمشهور حدیث عرض سی، هغه روایت دی چی وایی: که دمدعی سره یوشاهد وی اوبل قسم ورکړل سی نوپردغه باندی قضاء کیدلای سی، نودغه روایت دهغه مشهور حدیث مخالف دی چی په هغه کی ویلی سوی دی: پرمدعی باندی دوه شاهدان دی اوپرمنکر باندی قسم دی.

نودغه زموږ دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه هغه زرین اصول اوقوانین دی چې ده مبارک دخپل مذهب اومنونکو دپاره وضع کړی دی، چی درسول الله

صلی الله علیه وسلم دحدیثونو په هکله هم دومره تحقیق اوڅیړنه کوی، او بل موږ یو چې دهرچا قول اوهرعربی عبارت بیله کوم تحقیق څخه دښه ګمان په خاطر بیله دلیله قبلوو اوحکمونه په کوو.

باید په ډیر افسوز ووایو چې دامام ابوحنیفة رحمة الله تعالی علیه دمذهب منونکې ډیر داسی علماء سته چې دډیری وروستنی زمانی دیوعالم دقول لپاره د الله تعالی، دالله تعالی درسول او اصحابو قول په دی ګمان پریږدی چې وایی زه په قرآن، حدیث او دصحابی په قول نه پوهیږم، او ددغه عالم په قول پوهیږم.

اوحال داچې موږ مکلف یوچې پردغه قرآن اوپردغه رسول ایمان راوړو نو داچې موږ په دی قرآن اوددغه رسول په خبره نه پوهیږو نو ددغه تکلیف اوایمان فائده څه ده ؟ حال داچې الله تعالی په خپل لوی کتاب کی فرمایی: لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا.(۱)

او الله تعالی هیڅ نفس نه مکلف کوی مګر دده دقدرت په اندازه.

په دغه آیت کی الله تعالی وټولو بندګانو ته دا ډاډ، اطمنان اوتسلی ورکوی چې په دغه دین کی هیڅ داسی یوشی یاخبره نسته چې هغه دی دانسان په طاقت کی نه وی، که یوداسی مسئله راسی چې هغه دانسان په طاقت کی نه وی نو بیا هغه الله تعالی پخپله ورته آسانه کوی لکه داچې یوڅوک په لمانځه کی پرولاړه قدرت نه لری نو ورته اجازه ده چې په ناسته یی وکړی، یایوڅوک پر اوداسه قدرت نه لری نو ورته اجازه ده چې تیمم وکړی، یایوڅوک په سفرکی دروژه نیولو قدرت نه لری نوهغه ته اجازه ده چې په سفرکی وخوری اوبیائی په اقامت کی ونیسی اوداسی نور مسائل چې دانسان ترطاقت وتلی وی نوالله تعالی ورته آسانه کړی دی.

۱- سورة البقرة آیت ۲۸۶

داهیڅ امکان نلري چې احکم الحاکمین رب دې خپل مخلوق یابندګان په داسې شي امر کړي چې هغه دبنده په وس اوطاقت کې نه وي، ځکه داخو عبث اوبې فائدې دي، اودا زموږ عقیده ده چې الله تعالی هیڅ کار بیله فائدې نه کوي ځکه الله تعالی په عظیم کتاب کې فرمائي: أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ. (۱)

ترجمة: ایاتاسوداسې ګمان کوي چې بیشکه الله تعالی تاسوعبث پیدا کړي یاست، او داسې ګمان کوي چې تاسو به بیرته موږ ته دحساب اوکتاب لپاره نه راځئ؟ پس الله تعالی حق باچا دی اوډیرلوی اولوړدی دعبثیاتو اونورو عیبونو څخه پاک،اوهیڅوك دعبادت رښتنی لائق نسته مګر یو رب دی چې مالك دعرش کریم دی چې رحمتونه تری نازلیږي.

په بل آیت کي الله عزوجل فرمایي:فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُدًّا.(۲)

ترجمة: بیشکه موږ آسانه کړې دی دغه (قرآن) ستاپه ژبه (عربي) ددې دپاره چې تقوی لرونکې خلګو ته زیری په ورکړې اوجګړه کونکې یاجاهل خلګ په وبیروې.

یعني لوی قرآن په نهایت سهل، آسانه ،صاف بیان اوپه واضح اوښکاره ډول سره تقوی لرونکو ته بشارت یازیری اوروی اوجګړه کونکو یامنکرانوته دناکاره کارونو دخرابونتائجو څخه خبر ورکوي

په دغه آیت کې الله تعالی وخپل حبیب ته وائي موږ ستا دپاره دشریعت یا دول یاپلې کول آسانه کوو یاتوفیق درکوو دآسانی لاري چې شریعت دی.

۱- سورة المؤمنون آیت ۱۱۵- ۱۱۶ ۲- سورة مریم آیت ۹۷

يعنى دوحي ياقرآن يادول به درته آسانه سى اودالله تعالى دمعرفت ، عبادت ، مملكت او سياست ټولې چارى به درته اسانه سى .

بل داچې دغه قرآن يوازى ديوڅوعباداتومجموعه نه ده اونه يوازى داچې فقط په ده باندې تبرک حاصل کړو اوڅو واره يې مچ کړو پرسترګو يې کښېږدو اوپه ډېرو پوښونوکې وپيچو وبس نو دده حق پرځاى سو ، بلکه دده حق دادى چې خپله يې ووايواوزده يه کړو اوبلته يې هم ورزده کړو ځکه داسلام رسول پيغامبر صلى الله عليه وسلم په يوحديث کې فرمايي: عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ»،.(١)

ترجمة: ښه ستاسو هغه دى چې خپله قرآن زده کړي اوبل ته يې ورزده کړي .

اودده په حکمونو باندې عمل وکړو اودده دلارښودنى سره مطابق خپل ژوند داسې جوړ کړو چې دبل لپاره يوکامله نمونه وى ترڅو وکړاى سو ونورو هغو انسانانو ته هم دغه دين ورسوو چې هغوى تراوسه لاپه دغه مبارک دين نه دى مشرف سوى داځکه چې ترڅو موږ خپله عمل نه وى په کړى نو بلته يې هم نسو ښودلاى ولى چې هغه به وايى چې ته خپله عمل نه په کوى نوماته څنګه وايى.

مسلمان په پوښتنه مکلف دى

ښکاره خبره ده چې دمسلمانانو علمى سويه يوشانته نه ده، څه پکښې عالمان اوڅه نوربيا عالمان نه دى، اوداچې داسلام دنظره دمسلمان دپاره جهالت عذر نه دى، نوځکه دانسانانو خالق وبى علمه خلګوته امر کوى چې په کوم شى نه پوهيږى په هغه کى دعلم دخاوندانو څخه پوښتنه وکړى اوفرمايي:فَاسْأَلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُم لَا تَعْلَمُونَ. (٢)

١- رواه البخارى (فضائل القرآن)   ٢- سورت النحل آيت ۴٣

ترجمة: تاسو پوښتنه کوی دذکر دخاوندانو څخه په هغه څه کې چې تاسو نه پوهیږی.

په پورتنی آیت کې داهل ذکرڅخه څه علماء کرام دعلم خاوندان اخلی، دهر شی علم چې ورسره وی، مطلب دا چې په هره مسئله کې دی غیرعالم دعالم څخه پوښتنه کوی.

څه علماء وایی: داهل ذکرڅخه مراد دقرآن دعلم خاوندان دی،څکه الله تعالی قرآن کریم ته ذکر ویلی دی اوفرمایی: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ.(۱)

ترجمة: بیشکه موږ ذکرنازل کړی دی اوموږ به ددغه ذکرساتونکې یو. او داغه ذکرته په بل آیت کې قرآن ویلی سوی دی اوفرمایی: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْآنَ تَنْزِيلاً . (۲)

ترجمة:بیشکه موږ پرتاباندې قرآن نازل کړی دی. نومطلب داچې ددین په باره کې دهغه عالم څخه پوښتنه کوی دچاسره چې دقرآن علم ورسره وی.

په بل آیت کې رب العلمین صراحت کوی چې ذکر اوقرآن دواړه یوشی دی او فرمایی: وَمَا عَلَّمْنَاهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ إِنْ هُوَ إِلاَّ ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ . (۳)

ترجمة: موږ دغه (محمد) ته شعر نه دی ښودلی اونه ښایی ده ته شعر ویل، او نه دی دغه قرآن مګرخالص پند اونصیحت دی اوښکاره قرآن دی.

په هرصورت که دیوی خوا مسلمان ته امرسوی دی چې دعالم څخه پوښتنه کوی، خودبلی خوا عالم ته هم داویل سوی دی چې علم به نه پټوی بلکه په حق سره به سوال کونکو ته جواب ورکوی.

په حدیث کې راغلی دی: عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ

۱- سورة الحجر آیت ۹ ۲- سورة الدهر آیت ۲۳

۳- سورة یسین آیت ٦۳

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَتَمَ عِلْمًا مِمَّا يَنْفَعُ اللَّهُ بِهِ فِي أَمْرِ النَّاسِ أَمْرِ الدِّينِ، أَلْجَمَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنَ النَّارِ».(۱)

ترجمة: ابو سعيد خدرى رضى الله تعالى عنه روايت كوى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كه چاعلم پټ كړى چې په هغه باندې الله تعالى خلګوته ددين په كاركې نفع رسول نودده په خوله كې به الله تعالى دقيامت په ورځ داور ملونه واچوى اوخبرى به نسى كولاى.

په بل حديث كې راغلى دى: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ كَتَمَ عِلْمًا يَعْلَمُهُ، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، مُلَجَّمًا بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ ". (۲)

ترجمة: ابوهريرة رضى الله تعالى عنه روايت كوى چې نبى صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چاكه علم پټ كړى نو دقيامت په ورځ به داسې راوستل سى چې په خوله كې بى داور ملونه وى اوخبرى به نسى كولاى.

دپورته ذكرسوى بيان مطلب دادى چې موږ ديومسلمان عالم په حيث وعواموته صحيح لاره بيان كړو داسې لاره چې هغه دالله تعالى دكتاب اودهغه درسول صلى الله عليه وسلم درابنودل سوى حكمونو اودامام ابو حنيفة رحمة الله تعالى عليه دمذهب داوصولوسره برابره وى، نوكه داسې وكړو نو موږ ته به دآخرت په ورځ دوه ثوابونه راكړى.

څكه په حديث كې راځى: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا حَكَمَ الحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ، فَلَهُ أَجْرَانِ، وَإِذَا حَكَمَ فَأَخْطَأَ، فَلَهُ أَجْرٌ وَاحِدٌ.(۳)

ترجمة: ابوهريرة رضى الله تعالى عنه روايت كوى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كه يوحاكم داسې حكم وكړى چې په هغه كى اجتهاد اوكوشش وكړى او په حق سره حكم وكړى نودده دپاره دوه ثوابونه دى اوكه يوحاكم حكم

۱–سنن ابن ماجة كتاب المقدمة – ۲– مسند امام احمد باقى مسند مكثرين – ۳– جامع الترمذى كتاب الاقضية

وکړی خودکوشش سره بیاهم خطاسو نودده دپاره یوثواب دی

اوکه غلطه مشوره اوفیصله ورکړونودهغه پوښتنه راځخه کول کیږي او عذاب راکول کیږي څکه په حدیث کې راغلی دی:: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ قَالَ عَلَيَّ مَا لَمْ أَقُلْ، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ، وَمَنِ اسْتَشَارَهُ أَخُوهُ فَأَشَارَ عَلَيْهِ بِغَيْرِ رُشْدِهِ , فَقَدْ خَانَهُ , وَمَنْ أَفْتَى بِفُتْيَا غَيْرِ ثَبْتٍ, فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ ". (۱)

ترجمة:ابوهريرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که چاپرما هغه څه وویل چې مانوه ویلی نوده خپل ځان ته په دوزخ کې ځای جوړ کړی، اوکه دچاځخه خپل مسلمان ورور مشوره وغوښتل او بیله علمه اوپوهی مشوره ورکړه نوده خیانت ورسره وکړی، او چا چې بی علمه (دلیله) فتوی ورکړه نودهغه گناه پرفتوی ورکونکې ده.

ددغو حدیثونو اوهدایاتو په رڼاکې دوخت علماء وظیفه لری چه خلگوته دعلم په رڼاکې چاته حکم اوفیصله ورکړی ترڅوهغه هم په حق عمل وکړی اودثواب مستحق جوړسی اوحکم ورکونکې هم خپله وظیفه په صحی ډول اداکړی اودثواب لایق جوړسی.

دتباکو تعریف اوتاریخ

لکه څرنګه چې مخکې مولیکلی دی چې زموږ دبحث دسرټکې څلوری دی: خمر، افیون، چرس اوتباکو دی ،څکه ددوی څلورو ترمنځ دشراکت اویو والی علت نشه ده، او دحرام والی بنیاد اوعلت هم دغه نشه ده، نوپه چاکې ډیره په چاکې لږ، اودامخکې په ډیرتفصیل بیان سوله دکوم شی چې ډیریې نشه لری دهغه لږ هم حرام دی، دلته دتباکو څخه څه بحث کولو ته په دی هم ضرورت سته چې تباکو اودهغه

۱- سنن کبری للبیهقی کتاب فضل العلم

څخه جوړ سوی شیان هم دمنشیاتو دجملې دي اوډیر خاص اوعام داسې په اخته دي چې بالکل هیڅ عاریې نه بولي اونه په حرمت ورته قائل دي بلکې مباح يې بولي، او په ډیر افتخار په عامومجلسونو مسجدونو اونورو پاکو ځایونو کې لکه مسجدونه اوحرمین شریفین کی هم استعمال کوی، حال داچې تباکو اودهغه څخه جوړسوی شیانو خوړل، څکول، بوی کول اوداسې نور استعمال داسي حرام دي لکه څوک چې خمر حرام بولي، داځکه په کومودلايلو چې خمر حرام سوی دي په هغو دلايلوټول نشه لرونکی شیان هم حرام دي اودغه بحث مخکې په ډیر تفصیل سره ذکر سوله.

کله چې موږ دنبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه حدیثونه وګورو کوم چې مخکې په ډیر تفصیل سره دخمر دحرمت په بحث کې ذکرسوله اودخپل حنفي مذهب معتبر کتابونه اوهغه کتابونه مطالعه کړو چې خاص پردغه موضوع لیکلي سوي دي نودي نتیجې ته رسیږو چې تباکو اودهغه څخه جوړ سوی شیان په هرنامه چې وي هغه حرام دي.

په عربي کتابونوکې دتباکو دنومونو اوتاریخ په هکله مختلف ذکر سوی چې دهغوی دجملې څخه دکتابونو په حواله څه په دي ډول دي:

١ – اسماء الدخان: تابغ، طابغ، تنباک، تتن اودخان، اول من جلبه الى البر الرومی الرجل المسمی باالانکلیز من النصاری، واول من أحدثه بارض المغرب الاقصی رجل یهودی یعلم انه حکیم، واول من أخرجه ببلاد السودان المجوس، ثم جلب الى المصر والحجاز والیمن والهند، وغالب اقطار بلاد الاسلام وعمت به البلوی. (١)

ترجمة: ددخان یاسګریټ نومونه: تابغ، طابغ، تباک، تتن اودخان دي، اول ځل دغه کښت دروم وچې ته یونصراني سړي راوړله چې انګلیز نومیدی، مغرب ته یو یهودی سړي راوړله چې خپل ځان ته يې حکیم یاطبیب وایه، دهغه ځایه څخه بیا

---

١ – حکم التدخین ص ۵۸

دسودان علاقی ته یومجوسی رانقل کړله، اوبیا مصرته اوبیا حجاز، یمن، هند اود اسلامی دنیاډیروکونجانوته ورسیدی ترڅودغه بلوی عامه سوله.

۲- قال فی العمدة: التبغ اشتهر فی بلادنا بالدخان والتتن ومن انواعه التنباک وهو نبات أصله من امریکا ثم استنبتت بآسیا ومعظم اروبا. واعظم انواعه الان مایکون بالشام واستنبتت فی مصر کثیرا إلا أنه أدنی رتبة من التبغ الشامی.

ولما دخل الاندلیون الی امیرکا اول مرة وجدوا التبغ حول المدینة المسمات تباجو بالجیم کماهو فی کتب الجغرافیین لابالکاف، وهی احدی جزائر انتیلة. فسموه باسم تلک المدینة،ومنه اخذ الافرنج اسم تباک،وقبائلنا یسمونه التبغ،واسمه فی بلادالسودان کذلک(۱)

ترجمة: په عمدة نومی کتاب کې ویلی سوی دی: چې زموږ په ښارونو کې تبغ په دخان اوتتن مشهور دی، ددی دقسمونو څخه تنباک دی، اودغه یوقسم شنه وانبه دی چې اصل یې دامریکا څخه دی او بیا په آسیا اواروپاکې وکرل سوله. په اوسنی وخت کې ددغه لوی اوښه قسمونه په شام کې دی، په مصرکې هم کرل کیږی خو هغوی په درجه کې دشام ترتباکو کم دی.

کله چې اندلیون اول ځل امریکاته داخل سو نوده دتباجو په ښارکې تبغ پیداکړله (تباجو په جیم سره نه په کاف سره لکه څرنګه چې دغه دجغرافیی په کتابونو کې لیکلی سوی دی) دغه تباجو دانتیله دجزیرو څخه یوه جزیره ده، نودغه تبغ ددغه جزیری په نوم مسما یاونومول سول، دهمدغه څخه فرنګیانو دتباک نوم اخستی دی، زموږ قبائل ورته تبغ وایی، دسودان په ښارونو کې هم په داغه نامه یادیږی.

۳- وکان حدوثه فی حدود الف واول خروجه بارض الیهود والنصاری والمجوس، وآتی به رجل یهودی یزعم أنه حکیم الی أرض المغرب ودعا الناس الیه، واول من أخرجه

۱- رسالة فی الشای والقهوة والدخان، ص ۳۲

ببلاد سودان المجوس، ثم جلب الى المصر والحجاز وسائر الاقطار. (۱)

ترجمة: دتباکو پیداکیدل دزرمی (۱۰۰۰هجری) سنی پرشاوخواکې سوی دی، اول ځل دیهودو، نصاراو اومجوسو په منطقوکې پیداسوله اوبیا یویهودی سړی چې خپل ځان یې حکیم اوطبیب معرفی کاوه دمغرب منطقی ته راوړله، او خلګ یې ورته دعوت کړله، سودان ته اول ځل مجوسو راوړل، اوبیادهغه ځایه څخه مصر، حجاز اونورو منطقوته نقل سوله.

دتباکو دتاریخ په هکله تقریبا ډیرو کتابونو دعباراتو دڅه تغیر سره همدغه یو شان نقل سوی دی، دتاریخی حوالو څخه معلومیږی چې ددوی په رواجولو کې دکفارو لکه یهود، نصارا اومجوسو لاس درلودی، اوبل داچې ددی په رواجولوکې هم هغه بهانه استعمال کړه سوی ده کوم چې دافیون په باره کې ویل کیږی چې دغه دواء اوعلاج دی.

تباکو اودهغه څخه

جوړ سوی شیانو حکم

دپورتنی څه تاریخی حوالو څخه وروسته اصلی مطلب ته راځو هغه داچې تباکو په هرنامه چې وی دهغه خوړل یاستعمال داسلامی حکمونو دمخی دمسلمان دپاره دڅو وجهوحرام دی، که څه هم په څه کتابونو کی ورته مباح ویل سوی دی خو دهغو آیتونو اوحدیثونو دعموم په استدلال کوم چې مخکې دخمر او افیون په باره کې تیرسوله دډیرو علماؤ اوفقهاؤ په نزد حرام دی، اودڅو وجهو ورته حرام وایی، چې دهغوی دجملی څخه څه دمثال په ډول وړاندی کیږی.

۱- اوله وجه داچی نشه لری: دتباکو څخه جوړسوی شیانو دحرام والی یوه وجه داده چې نشه لری اودغه مخکې په ډیرو دلائلو اوپه تفصیل سره ثابته

۱- تحقیق البرهان فی شان الدخان ص ۶۲

سوله چې هرشی نشه لری هغه حرام دی، همدا رنګه ثابته سوله چې دیوشی ډیرنشه لری نو دهغه لږهم حرام دی، تباکو اودهغه څخه جوړسوی شیان ټول دغه خاصیت لری، یعنی غیرعادی انسان په لږ نشه کیږی اوعادی انسان په ډیرو نشه کیږی.

څکه په حدیث کی راغلی دی: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ» وَفِي البَابِ عَنْ سَعْدٍ، وَعَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَابْنِ عُمَرَ، وَخَوَّاتِ بْنِ جُبَيْرٍ: (۱)

ترجمة: جابر بن عبد الله رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه چی ډیر یی انسان نشه کوی نو دهغه لږ هم حرام دی. دغه حدیث دغه نورو ذکرسوی راویانو هم روایت کړی دی.

په دغه لاندنی حدیث کی دلږ اوډیر اندازه معلومه سوی ده اوفرمایی: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، مَا أَسْكَرَ الفَرَقُ مِنْهُ فَمِلْءُ الكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ»: قَالَ أَحَدُهُمَا فِي حَدِيثِهِ: «الحَسْوَةُ مِنْهُ حَرَامٌ». (۲)

ترجمة: دټولو مومنانو مور عائشة صدیقة رضی الله تعالی عنها روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرنشه کونکی شی حرام دی، اوهغه چی یوفرق یعنی(دری پیمانی)یی انسان نشه کوی دهغه دیوه لپه (ورغوی) اندازه هم حرامه ده، خوپه بل روایت کی دحسوة لفظ راغلی دی یعنی (یوغړپ) هم حرام دی.

خوپه لاندنی حدیث کی تردینه هم نور تعمیم کوی اوفرمایی:

۱- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّ مُخَمِّرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَمَنْ شَرِبَ مُسْكِرًا بُخِسَتْ صَلَاتُهُ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا، فَإِنْ تَابَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ، فَإِنْ

۱- رواه سنن الترمذی کتاب الاشربة - ۲- رواه سنن الترمذی کتاب الأشربة

عَادَ الرَّابِعَةَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ»، قِيلَ: وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «صَدِيدُ أَهْلِ النَّارِ، وَمَنْ سَقَاهُ صَغِيرًا لاَ يَعْرِفُ حَلاَلَهُ مِنْ حَرَامِهِ، كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ» . (۱)

ترجمة : ابن عباس رضي الله تعالي عنهما روايت کوی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هرهغه شی چې (حواس معطل کوی) خمر دی، اوهرنشه کونکې شی حرام دی. چاچې نشه کونکی شی وڅيښی ياوخوړی، نوڅلويښت ورځې دهغه لمونځ ضايع سو ،نوکه هغه توبه وباسی نو الله تعالی دهغه توبه قبلوی، اوکه هغه څلورم ځل بيا وڅيښی نوپرالله تعالی باندی داحق دی چی ده ته طينة الخبال ورووڅيښی، چاپوښتنه وکړله ای دالله تعالی رسوله طينة الخبال څه ته وايی؟ نوده مبارک ورته وفرمايل: طينة الخبال ددوزخيانو نونه اوزووب دی،اوکه چاداسی کوچنی ته وروڅيښل چی هغه په حلال اوحرام نه پوهيدی نوهم پر الله تعالی حق دی چی ده ته ددوزخيانو نونه اوزووب ورڅيښی.

دداغه حديث په تاييد کی يوبل روايت په کنز العمال کی نقل سوی دی چی فرمايي: من شرب مسكرا ما كان، لم يقبل الله له صلاة أربعين يوما."(۲)

ترجمة: هرچاچی نشه کونکی شی وخوړی يادنشی دپاره استعمال کړی نودده (ماکان) هرشی چی وی، څلويښت ورځی لمونځونه نه قبليږی.

په بل حديث کی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: أشهد بالله وأشهد بالله لقد قال لي جبريل: يا محمد إن مدمن الخمر كعابد وثن. " (۳)

ترجمة: زه په الله سره شاهدی وايم اوزه په الله سره شاهدی وايم چی په تحقيق سره ماته جبريل عليه السلام وفرمايل: ای محمد (ص) بيشکه دشرابو نشه

۱- رواه سنن ابو داود كتاب الاشربة ۲- عن السائب بن يزيد كنز العمال ۱۳۱۵۶،۱۱

۳- الشيرازي في الألقاب وأبو نعيم في مسلسلاته وقال صحيح ثابت عن علي". ۱۳۱۶۰

انسان لکه دبت عبادت کونکی داسی دی.

داچې موږ مخکې ثابته کړله چې دخمر معنا عامه ده وهرنشه کونکی شی ته ویل کیږي، اودمخکنی حدیث چې په هغه کې ویلې سوی وه «ماکان» اودلاندنی حدیث څخه هم ثابتیږي چې هرنشه کونکی شی، نوداهم ثابته سوله چې دهرشی نشه کول لکه دبت عبادت کول داسی دی.

په یوبل حدیث کې دالله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «حَرَّمَ اللَّهُ الْخَمْرَ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ». (۱)

ترجمة: سالم دعبد الله زوی دخپل پلار څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی خمر حرام کړل اوهرنشه کونکې شی حرام دی.

څه علماء دخمر اومسکر په منځ کې فرق اوجلاوالی کوی او وایی خمر خاص شی دی اومسکر عام دی خو په یوبل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه سلم دغه فرق هم ختم کوی اوفرمایی: عَنْ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ». (۲)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنهما دنبی صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ټول نشه کونکې شیان حرام دی، اوهرنشه کونکې خمر دی.

په یوبل حدیث کې چې په کنز العمال کې نقل سوی دی تردینه نور هم زیات تعمیم اوصراحت سوی دی فرمایي: ابو نعیم عن النبی صلی الله علیه وسلم ألآ أن كل مسكر حرام، وكل مخدر حرام، ومااسكر كثيره حرام قليله، وماخامر العقل فهو حرام.(۳)

ترجمة: ابونعیم دنبی صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی چې نبی کریم

۱- سنن النسائی کتاب الأشربة ۲- سنن النسایی کتاب الاشربة - ۳- کنز العمال ج ۵ ص۳۶۸

صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خبراوسی چې بیشکه هر(مسکر) نشه کونکې شی حرام دی، اوهر(مخدر) دنشی دکیفیت پیداکونکې شی حرام دی، اوهغه چې ډیریې نشه لری دهغه لږ هم حرام دی،اوهغه چې عقل دخپلی وظیفی ادراک اوتفکیر څخه معطل کوی هغه حرام دی.

دلته که دحدیث دغه یولفظ دلغت دنظر تحقیق سی نودمعنی تعمیم نور هم ښه واضح کیږی هغه (مخدر) دی دعربی لغت معجم الوسیط کتاب کی لیکلی دی:

(المخدر) مَادَّة تسبب فِي الإِنْسَان وَالْحَيَوَان فقدان الوعي بدرجات مُتَفَاوِتَة كالحشيش والأفيون (ج) مخدرات. (۱)

(الوعي) الْحِفْظ وَالتَّقْدِير والفهم وسلامة الإِدْرَاك. (۲)

ترجمة: مخدر داسی یومادة ده چی په انسان اوحیوان کی وعئ نیستی کوی اوددی مختلفی درجی دی لکه چرس، افیون، اوددی جمع مخدرات راځی.

دمخدر په تعریف کی دوعی لفظ راغلی دی، داچی وعی څه ته وایی ددی معنی په لغت کی داسی سوی ده: وعی حفظ، تقدیر، فهم اوادراک سلامتیا.

یعنی مخدرهغه شی ده چی دانسان حافظة اندازه، فهم اوادراک سلامتیا دمنځه وړی.

دعربی لغتوپه یوبل کتاب کی چی هغه دفقهاؤ دلغتو کتاب دی لیکلی دی: تخدير: ادخال المخدر للجسم لافقاد الشعور = لافقاد الاحساس ... (۳)

ترجمة: تخدیر: وجسم ته دداسی مادی دننه کول دی چی دهغه څخه شعور اواحساس نیستی کیږی.

په پورتنی حدیث کی دکل مسکر، مخدر اوماخامر العقل اوهمدارنګه

۱- معجم الوسیط ج ۱ ص ۲۲۰ ۲- معجم الوسیط ج ۲ ص ۱۰۴۵

۳- معجم لغة الفقهاء ج ۱ ص ۵۰۶

هرهغه شی چی ډیر یی نشه لری دهغه لږ هم حرام دی داسی عام الفاظ دی چی نور دهیڅ تاویل اوشک گنجایش پاته نه سو چی څوک به وایی نسوار سگریټ چلم او داسی نور مراد نه دی اویاداسی حرام نه دی لکه خمر.

دپورتنی حدیث په تایید یوبل حدیث عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما روایت کوی اوپه کنز العمال کی نقل سوی دی چی فرمایی:

"الحاكم في الكنى عن ابن عباس كل مخمر خمر، وكل مسكر حرام، ولا يكون شراب أحد طرفيه حرام والآخر حلال، وما أسكر كثيره فقليله حرام. (١)

ترجمة: ابن عباس رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چې هرنشه کونکې خمر دی اوهرنشه کونکې حرام دی، داسې خمرنسته چې یوطرف دی حرام اوبل دی حلال وی، اوهغه چې ډیر یی انسان نشه کوی نودهغه لږ هم حرام دی.

داچې زموږ په ټولنه کی نسوار، چلم، سگریټ، بیړی اوداسی نور نه یوازی داچې خپله یی هرخاص وعام استعمال کوی اوهیڅ عیب اوعار یی نه بولی بلکی یوتربله یی په ډیره خوښی سره تحفه اوډالی کوی، خوداسلام لاربنود خپل امت ته په دی هکله هم ډیر روښانه لاربنودنه کړی اوفرمایی: عن خلدة بنت طلق عن أبيها عن النبی صلی الله علیه وسلم قال لاتشرب المسكر ولاتسقيه اخاک المسلم فوالذی نفس محمد بیده ماشربه رجل قط ابتغاء لذة سكرفلايسقيه الله الخمر يوم القيامة.(٢)

ترجمة: خلدة دطلق لور دخپل پلار څخه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نشه کونکې شی مه خپله خوری اومه یی خپل مسلمان ورور ته ورکوه، زمادی په هغه ذات قسم وی چې دمحمد(ص) نفس دهغه په لاس کې دی، کوم سړی چې دنشی شی دخوند دپاره وچیښی یاوخوری نوالله تعالی به ده ته دقیامت په ورځ خمر نه ورچیښی.

١- كنز العمال ج٥ ص ٣٦٩. ١٣٢٧٨ ٢- ابوسعد حم والبغوی كنز العمال ج ٥ ص ١٣٢٨٢

خوداغه حدیث بل ځای په داسی الفاظو راغلی دی: وَعَنْ طَلْقِ بن عَلِيّ رَوَاهُ بن أَبِي شَيْبَةَ بِلَفْظِ يَا أَيُّهَا السَّائِلُ عَنِ الْمُسْكِرِ لاَ تَشْرَبْهُ وَلاَ تَسْقِهْ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ. (۱)

ددغه پورتنیوټولوحدیثونو حکم داسې عام دی چې ټولوهغوشیانو ته شامل دی چې خاص دنشې دپاره استعمالیږی لکه خمر،افیون،چرس، هیروین، سګریت، نسوار، چلم، بیړی، شیشه اوداسې نور، ځکه ددغو شیانو په استعمال کې بیله نشې هغه لړوی که ډیره بله هیڅ نفع اوفائده نسته.

داچې زموږ په منطقوکې په عام ډول لیدل کیږی چې یوبلته دغه شیان مفت ورکوی اوځنی غواړی، اوهغه هم په ډیره خوښی ورکوی، په آخرنی حدیث کې دهغه څخه هم ممانعت راغلی دی چې نه به خپله دنشه کونکې شی استعمال کوی اونه به یی وبل مسلمان ورورته ورکوی. ځکه دغه پرګناه تعاون کول دی اوپرګناه تعاون کول حرام دی په قرآن کریم کې رب العالمین فرمایی: وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلإِثْمِ وَٱلْعُدْوَانِ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ. (۲)

ترجمة: تاسو یودبله مرسته اومدد کوی پرښو اودتقوا اوپرهیز ګاری په کارونوکې، اوتاسو یو دبله تعاون اومدد مکوی دګناه اوظلم په کارونو کې، او د الله تعالی څخه وبیریږی بیشکه دالله تعالی عذاب ډیر سخت دی، دهغو کسانو د پاره چې دده دحکمونو څخه مخالفت کوی.

داچې څوک وایی ما نه نشه کوی نودهغه په جواب کې ویل کیږی چې دغه ته ترعادت وروسته وایی یوڅوک چې په عادت نه وی هغه ضرور نشه کوی، اوداپه تجربیه ثابته ده اوهرسړی په خپله هم تجربیه کولای سی چې اول ځل دی چاته ډیر نسوار، چلم، سګریت اوبیړی ورکړی اوبیادی وګوری چې نشه لری که نه؟ که وی نوهغه څنګه نشه ده، بل داچې دغه عادی سړی چې دځه وخت دپاره پریږدی او

۱- فتح الباري شرح صحيح البخاري ج۱۰ ص٤٤ ۲- سورة المائدة آيت ۲

بیایې وکړي نوهغه ته وګوري چې په روژه کې دڅو ساعتونو دپاره پرېږدي نوپه روژه ماتې کې ترهغه خپلې اندازې ډیر ورکړه اوبیاورته وګوره چې دده څه حال وي؟ بل داچې کله دغه عادي سړی ته وویل سی چې دغه حرام دی، خوله خرابوي، بدن خرابوي ډاکټران وایي دکنسر ناروغی ځنی پیداکیږي پرېږده نودی وایی نیسم پرېښودلای دغه په خپله ددی معنی ده چې نشه لري.

بل داچې ترعادت وروسته دانګورو اوخرمالو شراب هم انسان نه نشه کوی نوددی معنی دانه ده چې بس حلال سوله.

۲- دوهمه وجه داچې بدبویي لري: دتنباکو دحرام والی بله وجه داده چې دانسان په خوله کې بد بویي پیدا کوی هغه داسې بدبویي وي چې دی خپله خویي احساس نه کوی مګر دڅنګ یاورنږدې انسان ډیر ځنی په تکلیف کیږي، که نه نو دخپلې کوروالا ښځه دی پوښتنه وکړي، اویادی خپله تودانی بوی کړی نو به خپله اندازه ورته ولګیږي چې څنګه بدبوی کوی.

ددغه بدبویي ښځه لکه څرنګه چې دده کوروالا، ملګري اونور دمجلس کسان په تکلیف کیږي هم دارنګه هغه لمونځ کونکې چې دده سره پرڅنګ ولاړ وي هغه تکلیف کیږي اوخاص بیاهغه ملائکې چې رب العالمین دهرانسان سره د حفاظت دپاره یادده داعمالو دلیکلو دپاره مقرري کړي دي لکه چې الله عزوجل فرمایي: وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ. كِرَاماً كَاتِبِينَ. يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ.(۱)

ترجمة: بیشکه پرتاسو دحفاظت یا ساتونکې ملائکې مقرري دي. دالله تعالی په نزدِ عزتمنی دي. اوستاسو دعملونو لیکونکې دي اوپه هغه څه پوهیږي چې تاسو یې کوی.

اوداچې ددغه بدبویي ښځه ملایکې په تکلیف کیږي په دی هکله د

۱- سورة الانفطار آیت ۱۱ –۱۳

اسلامی دین لاربښود محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم فرمايي: عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ أَكْلِ الْبَصَلِ وَالْكُرَّاثِ قَالَ: وَلَمْ يَكُنْ بِبَلَدِنَا يَوْمَئِذ الثُّومُ، فَقَالَ:مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ فَلاَ يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا؛ فَإِنَّ الْمَلاَئِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ الإِنْسَانُ.(۱)

ترجمة: جابر رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم دپیازو اوګندنی دخوړلو څخه منع کړی ده، دی وایی په دغه وخت کې زموږ په ښارکې اوږه نه وه، اونبی علیه السلام وویل: چاچې ددغه درختی څخه خوراک کړی وی هغه دی زموږ مسجد ته نه راځی بیشکه ملائکې په هغه څه ازاریږی په کوم شی چې انسان ازاریږی.

دپورتنی حدیث څخه داستدلال وجه دغه ده لکه څرنګه چې دپیازو اوګندنی دبوی څخه ملائکې آزاریږی همدارنګه دنسوارو، سګریټو اوداسې نورو دبد بویی څخه هم آزار یږی، نولکه څرنګه چې دهغوی خوړونکې دمسجد څخه منع سوی دی همدارنګه ددغو شیانو استعمال کونکې هم شرعا دمسجد څخه بندیدلایسی، نو یوشی چې څوک دالله دعبادت څخه منع کوی هغه حرام وی، لکه څرنګه چې دشرابو په هکله ویل سوی دی (یصد عن ذکرالله) دالله تعالی دلمانځه اوذکرڅخه منع کوی، بل په دغه خوله بیاڅنګه دالله تعالی ذکرکوی اویالمونځ کوی چې بدبوی کوی اویاپه حرامو لړلی وی.

دپورتنی حدیث په استدلال یوعالم په خپل کتاب کې لیکلی دی: وإذاكان الرسول صلى الله عليه وسلم قدمنع آكل البصل والثوم والكراث وهذه شجرات غيرمحرمة من قربان المسجد واعتزاله لخبث رائحتها، فمابالنا بمدخني الدخان ورائحته أشد نتنا واكثر خبثا مما ينبغي معه أن يعتزل المسجد ويمنع من دخوله.

۱- صحيح ابن خزيمة باب النهي عن اتيان المسجد آكل الثوم والبصل والكراث الى أن يذهب ريحه.

والحكمة فى النهى لئلايؤذى الناس برائحته، بل روى عن الامام احمد ابن حنبل أنه يأثم إن اتى المسجد، لأن ظاهر النهى التحريم، ولأن أذى المسلمين حرام، وهذافيه أذاهم.(۱)

ترجمة: داچې رسول الله صلى الله عليه وسلم دپیازو، اوږی اوګندنی خوړونکې ددغو شیانو دبد بویی په وجه دمسجد دنژدې کیدلوڅخه منع کړی دی حال داچې دغه واښه په خپله حرام نه دی بلکې ددی وجهی چې بدبوی لری، داچې دسګریټو بوی تردوی ډیر بد دی نوموږ ته لازمه ده چې دسګریټ، بیړی اوچلم څکونکې اودنسوارو کونکې هم دخپلو مسجدونو څخه منع کړو.

په منع کې حکمت دادی چې خلګ ددوی دبوی څخه په آزارنه سی، دامام احمد بن حنبل رحمة الله تعالى علیه څخه روایت دی چې بیشکه داسې سړی چې دخولی څخه بوی ځی ګناه کاره دی چې مسجد ته راسی، ځکه دنهی ښکاره معنی حرمت دی، اوبل داچې دمسلمان آزار حرام دی، اودغه هغه وخت که مسلمانان آزاریدله.

دهمدغه آزارڅخه دساتلو دوجهی نبی کریم صلى الله علیه وسلم دمسلمانانو دپاره دخلګو داجتماع په صورت کې لکه جمعه اواخترونه دخوش بویی لګول، غسل کول اومسواک وهل سنت ګرځولی دی، ترڅو دده دخولی، خیرو اوخولی څخه نورخلګ آزارنه سی، اوهم هغه ملائکې کرام کاتبین چې دده سره ورسره دی په آزار نه سی، اوخصوصا هغه انسانان دده دبدبوی څخه په تکلیف نه سی چې دده سره ډیر یوځای کیږی لکه استاذ اوشاګرد یاخاوند اوښځه ځکه هغوی ترهرچا زیات په تکلیف کیږی اودهغوی آزارهم حرام دی.

پیاز، ګندنه، اوږه اوداسی نور په خپل ذات کی حرام نه دی بلکی دبد بوی په وجه حرام بلل سوی دی، مسجد ته ځی اوکه نه ځی ځکه ددغو په بدبوی سره

۱- المغنی مع شرح الکبیر ج ۱۱ ص ۸۸- ۸۹

ملائکی اوانسانان ازاریږی، په دی هکله ابن قدامة المقدسی رحمه الله په خپل کتاب المغنی کی لیکلی دی اوفرمایی: وَيُكْرَهُ أَكْلُ الْبَصَلِ، وَالثُّومِ وَالْكُرَّاثِ، وَكُلِّ ذِي رَائِحَةٍ كَرِيهَةٍ، مِنْ أَجْلِ رَائِحَتِهِ، سَوَاءٌ أَرَادَ دُخُولَ الْمَسْجِدِ أَوْ لَمْ يُرِدْ؛ لأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ النَّاسُ» رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

وَإِنْ أَكَلَهُ لَمْ يَقْرَبْ مِنْ الْمَسْجِدِ؛ لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَكَلَ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ، فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا». وَفِي رِوَايَةٍ: «فَلَا يَقْرَبْنَا فِي مَسَاجِدِنَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَحْمَدَ، أَنَّهُ يَأْثَمُ؛ لأَنَّ ظَاهِرَ النَّهْيِ التَّحْرِيمُ، وَلأَنَّ أَذَى الْمُسْلِمِينَ حَرَامٌ وَهَذَا فِيهِ أَذَاهُمْ. (۱)

ترجمة: دپیاز، وږه، ګندنه اوهرهغه شی خوړل مکرو تحریمی دی چی بد بوی لری، دبوی دوجهی مکروه دی مسجد ته دننوتلو اراده لری که نه، ځکه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی: بیشکه ملائکی په هغه څه ازاریږی په کوم څه چی انسان ازاریږی. اوملائکی کرام کاتبین اودحفظ ملائکة دانسان سره همیشه ورسره وی، نوهغوی په ازاریږی.

اوکه چا دغه وخوړل نوهغه دی مسجد ته نه نژدی کیږی، ځکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: چاچی ددغو دوو درختو څخه خوړل وکړله نوهغه دی زموږ دلمانځه ځای ته نه نژدی کیږی، اویاداسی فرمایلی دی: نوزموږ مسجدونو ته دی نه نژدی کیږی.

دامام احمد ابن حنبل رحمة الله تعالی علیه څخه روایت دی چی دخولی دبد بویی سره که څوک مسجد ته داخل سی نوهغه ګناه کاره دی، ځکه دنهی څخه په ښکاره تحریم یاحرمت مراد دی، ځکه دمسلمانانو ازارول حرام دی اوپه

۱- المغنی لابن قدامة المقدسی ج۹ ص ۴۳۰

دغه کې ددوی ازاردی.

په پورتنی حدیث کې دمساجدنا یعنی دمساجد لفظ جمع ذکرسوی دی، ددې څخه ددنیا ټول مسجدونه مراد کیدای سي، داسې نه چې څوک یوازې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم مسجد ځنې مرادکړي لکه په دغه حدیث کې چې دمسجد لفظ مفرد راغلی دی. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ، الثُّومِ، فَلاَ يُؤْذِينَا بِهَا فِي مَسْجِدِنَا هَذَا» قَالَ إِبْرَاهِيمُ: وَكَانَ أَبِي يَزِيدُ فِيهِ: الْكُرَّاثَ وَالْبَصَلَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَعْنِي أَنَّهُ يَزِيدُ عَلَى حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي الثُّومِ. (۱)

ترجمة: ابوهریرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې دغه درخته یعنی اوږه وخوړل نو موږ دې زموږ په مسجدونو کې نه په تکلیف کوی یا آزاروی. ابراهیم وایي: دغه حدیث ابی یزید روایت کړی دی په هغه کې ګندنه اوپیاز هم ذکر کړی دی.

ددغه حدیث شارح محمد فؤاد عبدالباقی وایي: (فلایؤذینا) دنفی صیغه ده خو دنهی په معنی ده.

دامام احمد رحمة الله تعالی علیه دقول تایید په دغه حدیث سره هم کیدای سي: چې هغه دنهی په لفظ سره راغلی دی لکه چې فرمایي:عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ نَفَرًا، أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَوَجَدَ مِنْهُمْ رِيحَ الْكُرَّاثِ، فَقَالَ:«أَلَمْ أَكُنْ نَهَيْتُكُمْ عَنْ أَكْلِ هَذِهِ الشَّجَرَةِ، إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ الْإِنْسَانُ».(۲)

ترجمة:جابر رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته یوسړی راوستل سو چې دهغه دخولې څخه دګندنې بوی راتلی، نونبي

۱- رواه سنن ابن ماجة باب اکل الثوم
۲- رواه سنن ابن ماجة باب اکل الثوم

علیه سلام وفرمایل: ایا ماتاسو ددغه درختی دخوړلو څخه نواست منع کړی؟ بیشکه ملائکی په هغه څه ازاریږی په کوم چی انسان ازاریږی.

داچی دوی په خپله حرام نه دی دبوی په وجه حرام دی په دی هکله په ابن ماجة کی دعمر رضی الله تعالی عنه قول نقل سوی دی چی فرمایی: عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمُرِيِّ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، قَامَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ خَطِيبًا أَوْ خَطَبَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ تَأْكُلُونَ شَجَرَتَيْنِ لاَ أُرَاهُمَا إِلاَّ خَبِيثَتَيْنِ، هَذَا الثُّومُ وَهَذَا الْبَصَلُ، وَلَقَدْ كُنْتُ أَرَى الرَّجُلَ، عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يُوجَدُ رِيحُهُ مِنْهُ، فَيُؤْخَذُ بِيَدِهِ حَتَّى يُخْرَجَ إِلَى الْبَقِيعِ، فَمَنْ كَانَ آكِلَهَا لاَبُدَّ فَلْيُمِتْهَا طَبْخًا.(۱)

ترجمة: معدان بن ابی طلحة یعمری روایت کوی چی عمر بن خطاب دجمعی په ورځ دخطبی دپاره ولاړ سو دالله تعالی حمد اوثناء یی وویل، اُوبیایی وفرمایل: ای خلګو بیشکه تاسو ددغه دوو درختو څخه خوراک کوی، اودغه زماپه نزد نه دی مګر خبیثی دی، دغه اوږه اوپیاز، اودرسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی ماولیدل دچادخولی څخه به ددغو بوی راتلی نوهغه به یی ترلاس ونیوی اودبقیع طرف ته به یی دمسجد څخه دباندی وایستی، نوکه څوک ددغه دخوړلو څخه چاره نلری نو هغه دی په پخیدلو بد بویی ختمه کړی. یعنی چی پخه سی نوبیا بوی نه کوی.

ددغه حدیث څخه مطلب دادی که په خپل ذات کی حرام وای نوپخیدل به یی هم جایز نه وای، یعنی ددوی حرمت دبد بویی دعلت په وجه حرام دی، لکه شراب چی دنشی په علت حرام دی.نوپه هرشی کی چی دغه دبد بوی علت وی هغه حرام دی.

۱- رواه سنن ابن ماجه باب اکل الثوم

بل داوجه ده چې خوله دالله تعالی دذکر ځای دی اومناسب نه ده چې دالله تعالی ذکر یادهغه کلام دداسې ځای څخه راووزی چې هغه پاک نه وی، همداوجه ده چې په شریعت کې دخولې پاکول په جنابت کې فرض اوپه اوداسه کې سنت دی، دخولې دپاک ساتلو دپاره داسلام لاربنود محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم فرمایي:عَنْ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " طَيِّبُوا أَفْوَاهَكُمْ بِالسِّوَاكِ؛ فَإِنَّهَا طُرُقُ الْقُرْآنِ ". (١)

ترجمة: سمرة رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:تاسو خپلې خولې په مسواک پاکې کړی بیشکه دغه دقرآن لارې دی.

په بل حدیث کې علی کرم الله وجهه روایت کوی: عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: «إِنَّ أَفْوَاهَكُمْ طُرُقٌ لِلْقُرْآنِ، فَطَيِّبُوهَا بِالسِّوَاكِ». (٢)

ترجمة: علی بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه وایي: ستاسو خولې دقرآن لارې دی، نوتاسو دوی په مسواک پاکې کړی.

په یوبل حدیث کې راغلی دی: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الأَنْصَارِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ فَلْيَسْتَكْ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَرَأَ فِي صَلَاةٍ وَضَعَ مَلَكٌ فَاهُ عَلَى فِيهِ، فَلَا يَخْرُجُ مِنْ فِيهِ شَيْءٌ إِلَّا دَخَلَ فَمَ الْمَلَكِ ". (٣)

ترجمة: جابربن عبدالله انصاری رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې ستاسو څخه یودشپې لمانځه ته راپاڅي نومسواک دی ووهي،بیشکه چې یوستاسو څخه په لمانځه کې قرآن وایي نو ملائکه دده پرخوله خپله خوله کښیږدي، نوکوم شی چې دده دخولې څخه راوزی هغه دملائکې په خوله ننوزي.

١- رواه البیهقی فی شعب الایمان ج ٣ ص ٤٥١ — -٢- رواه سنن ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها
٣- رواه البیهقی فی شعب الایمان ج ٣ ص ٤٤٩

ځکه خو نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلاَةٍ».(۱)

ترجمة: ابو هريرة رضی الله تعالی عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: که زما پر امت نه سختيدلای نومابه دوی ده‌رلمانځه دپاره په مسواک امرکړی وای. يعني دوجوب امر که نه نودسنت امر خو اوس هم ستـه.

په بل حديث کې فرمايي: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي عَتِيقٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:«السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ».(۲)

ترجمة: عبد الرحمن بن ابی عتيق دخپل پلار ابوبکر صديق (رض) څخه روايت کوي چې مادعائشي صديقي رضی الله تعالی عنها څخه واوريدل: نبی صلی الله علیه وسلم وفرمايل: مسواک دخولی پاکونکې دی اودرب راضي کونکې دی.

معلومه سوله چې دخولی په پاکې رب جل جلاله راضي کيږی نوپه ناپاکې ناراضه کيږی، ځکه الله پاک دی ناپاک نه خوښه وی، يوخو دناپاکې خولی عمل نه قبلوی بل داچې عملونه الله تعالی ته ملائکې پورته کوی اوملائکې نورانی اوپاکې دی په بدبوی آزاريږی اوتکليف کيږی نوځنګه به دده داسی نيک عملونه او عبادتونه الله تعالی ته پورته کړی چې په بد بويه خوله ويل سوی وی.

ځکه خوپه بل حديث کې راغلی دی: عَنْ صَالِحِ بْنِ أَبِي حَسَّانَ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ، يَقُولُ: «إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ يُحِبُّ الطَّيِّبَ، نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ، كَرِيمٌ يُحِبُّ الكَرَمَ، جَوَادٌ يُحِبُّ الجُودَ، فَنَظِّفُوا أُرَاهُ قَالَ أَفْنِيَتَكُمْ وَلاَ تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ». (۳)

ترجمة: صالح بن حسان وايي مادسعيد بن مسيب رضی الله تعالی عنه څخه واوريدل چې ويلی: بيشکه الله پاک دی اوپاک خوښوی، نظيف دی اونظافت

۱- رواه جامع الترمذی کتاب الطهارة ۲- رواه سنن النسائی کتاب الطهارة

۳- رواه سنن الترمذی کتاب الأدب

خوښوي وي، کريم دي کرم خوښوي، سخي دي سخا خوښوي، نوتاسو خپل دکورونو مخ اوخپلي پناه ګاوي پاکې وساتی، اوديهودو سره مشابهت مه کوی، اوداغه حديث سعد بن ابی وقاص دخپل پلار څخه اوهغه دنبی صلی الله عليه وسلم څخه په داغه شان روايت کړی دی، خوپه هغه کې وايی خپلی پناه ګاوی اويادکورونو مخونه پاک وساتی.

دپورتنيو دلائلو اوحديثونو څخه ثابته سوله چې دبد بوی څخه انسانان او ملائکې آزاريږی څکه ملائکې هم په هغه څه آزاريږی په کوم شی چې انسان آزاريږی، اودانسان اوملائکو آزارحرام دی.اودفقهی داصولو قاعده ده چی دحرامو مبادی هم حرام وی.

۳- دريمه وجه دغه ده چې مفتردی: دمفتردتعريف په هکله علماؤ داسی ليکلی دی: المفتر الذی إذا شرب احمي الجسم وصار فيه فتور, وهوضعف وانكسار, يقال افتر الرجل فهو مفتر إذا ضعف جفونه وانكسر طرفه. (۱)

ترجمة: مفترهغه شی دی چې وخوړل ياوچيښل سی په بدن کې ګرمی او فتور پيداسې، فتور(په عربی لغت کې) ضعف اوانکسارته ويل کيږی، کله چې پر انسان دخوب داسې حالت راسی نوڅنګ ووهی اوسترګی درنی سی نو ويل کيږی (افتر الرجل فهو مفتر) يعنی سترګې درنی سولی اوسړی ته خوب ورغلی دی.

يوبل عالم په خپل کتاب کی داسی تعريف کړی دی: مفتر شيئ يورث الفتور ای ضعف الجفون، والخدر ای الاسترخاء يقال خدر العضو خدرا من باب تعب ، الترخی فلايطيق الحركة.(۱)

ترجمة: مفتر داسی شی دی چی دانسان په بدن کی فتور پيداکوی يعنی سترګې يادسترګو بانوګان درانه سی، اوخدر (په عربی لغت کې) هغه حالت ته

۱- حكم التدخين وتعاطي المفترات ص۶۲ ۱- النهاية ج ۷ ۴۰۸ كنز العمال ج ۵ ص ۳۴۵

ویل کیږي لکه څوک چې ستړی سی اوتلل (حرکت) یاکار یې دلاسه نه کیږي، نو ویل کیږي بدن یې مړسو یاپښې مړې سولې.

یوبل عالم لیکلی دی: قَالَ الْخَطَّابِيُّ الْمُفْتِرُ كُلُّ شَرَابٍ يُورِثُ الْفُتُورَ وَالرَّخْوَةَ فِي الْأَعْضَاءِ وَالْخَدَرَ فِي الْأَطْرَافِ وَهُوَمُقَدِّمَةُ السُّكْرِوَنُهِيَ عَنْ شُرْبِهِ لِئَلاَّيَكُونَ ذَرِيعَةً إِلَى السُّكْرِ.(۱)

ترجمة: خطابی رحمه الله وایي: مفترهر هغه شراب دی چې په اعضاوُ او بندونوکی فتور اوسستي پیداکوي، اوپه اندامونو کی دنشې کیفیت پیداکوي، اودغه دسکر ابتدایي حالت دی، اوددغه دچیښلو څخه په دې وجه منع سوی ده چې دغه دنشې ذریعه ده.

دپورتنیو تعریفو نوڅخه وروسته دهغو کسانو په جواب کی ویُل کیږي چې وایې تباکو اودهغه څخه جوړ سوی شیان نشه نلري، خوفتور خامخا پکښې سته، اودفتور په هکله نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: فَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفَتِّرٍ». (۲)

ترجمة: دام سلمة رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمسکر اومفتر څخه منع کړی ده. یعنی دداسې شی داستعمال څخه یې نهی کړی دی چې نشه کونکې وی اویا دانسان په بدن کې سستی اوکمزوری راولي. یعنی خاص دنشې دپاره استعمالیږي.

دپورتنی څه تفصیل څخه وروسته علماء داسی حکم کوی اوفرمایي: قال السعد ندا: أما الدخان فهو وإن كان غير مسكر إلاأنه مفتر للجسم، والمفتر هو مايرخي الجسم ويضعف الجفون، ويكسرالطرف. وهومنهي عنه شرعا: فَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: «نَهَى

۱- عون المعبود وحاشية ابن القيم ج ۱۰ ص ۹۱ ۲- رواه سنن ابی داود کتاب الاشربة

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفَتِّرٍ».

ابوالحسن المصری قاله: الاثار النقلية الصحيحة والدلائل العقلية الصريحة تعلن بتحريم الدخان. (۱)

ترجمة: سعد ندا وايي: سګريټ که څه هم نشه کونکې نه دی خو د جسم دپاره مفتر دی، اوفتور هغه حالت ته ویل کیږی چې (دنشه کونکې شی په وجه) بدن سره ایله اوډیله سی، اوسترګی درنی سی، اوځنګ واچوی. اوداسې فتور په شریعت کې منع دی.څکه په حدیث کی راغلی دی: دام سلمة رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمسکر اومفتر څخه منع کړی ده. یعنی دداسې شی داستعمال څخه یې نهی کړی دی چې نشه کونکې وی اویا دانسان په بدن کې سستی اوکمزوری راولی.

ابو الحسن مصری وایی: صحیح نقلی آثار اوعقلی دلائل په صراحت سره اعلان کوی چې دخان یاسګریټ حرام دی.

دهمدغه حدیث په استدلال دحنفی فقهی یوډیر معتبر اومعتمد کتاب کی لیکلی دی: قال شيخنا النجم: والتتن الذى حدث، وكان حدوثه بدمشق فى سنة خمسة عشر بعد الالف، يدعى شاربه أنه لايسكر، وإن سلم له فإنه مفتر وهوحرام، لحديث فَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفَتِّرٍ». (۲)

ترجمة: زموږ شیخ نجم ویلی دی: هغه تتن چې نوی پیداسوی دی (یعنی درسول الله صلی الله علیه وسلم اوخلفاء راشیدینو اوفقهاؤ په زمانه کې نه وه) په یوزر اوپنځلس هجری کې په دمشق کې پیدا سوله. اواستعمال کونکې داسې دعوا کوی چې نشه نلری، که دغه دعوا ومنل سی بیاهم دغه مفتر دی اوحرام دی،

۱- تحقيق البرهان فى شان الدخان ص ۶۲

۲- الدر المختار شرح تنوير الابصارص ۶۷۸

ځکه ام سلمه رضی الله تعالی عنها روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دهرنشه کونکې اومفتر څخه نهی اومنع کړی ده.

دهمدغه حدیث پربنیاد دحدیثونو اوفقهی داصولو علماؤ یوه لویه قاعده بیانوی اوفرمایی: القاعدةعند المحدثین والأصولیین: أنه إذا وردالنهی عن شیئین مقترنین ثم نص علی حکم النهی عن أحد من حرمة اوغیرها, أعطی الاخر ذلک الحکم بدلیل اقترانهما فی الذکر والنهی، والحدیث المذکور ذکر المفتر بالمسکر، وتقرر عندنا تحریم المسکر بالکتاب والسنة والاجماع، فیجب أن یعطی المفتر حکمه بقرینة النهی عنهما مقترنین. (۱)

ترجمة: دحدیثونو اودفقهی داصولو یوه قاعدة ده: کله چې ددوو شیانو څخه منع اونهی وسی، اوبیا پر یوه باندې دحرمت یابل حکم وسی نوهغه بل ته هم داغه حکم ورکول کیږی، داقتران یایوځای والی په دلیل، چې دوی دواړه په ذکر اونهی کې یوځای ذکرسوی دی، اوپه حدیث کې مفتر اومسکر دواړه یوځای ذکرسوی دی، اودمسکر حرمت په کتاب (قرآن) حدیث اواجماع ثابت دی، نو واجب ده چې مفترته هم هغه حکم ورکړو کوم چې مسکرته ورکول سوی دی ځکه په نهی کې دواړه یوځای ذکرسوی دی.

داچی مسکر اومفتردواړه په یوه حدیث کی ترنهی لاندی راغلی دی نو ددواړو یوحکم دی، ځکه دمعطوف اومعطوعلیه دواړو یوحکم وی، اودامخکی په شرعی دلایلو ثابته سوله چی مسکرحرام دی نوحکم کول کیږی چی مفتر حرام دی.

څه کسان وایی: زه خو بس دغه یودوه سوغه کوم یایودوه سګریټه څکوم او مانه نشه کوی خوداسی کول هم علماؤ حرام بللی دی اوفرمایی:

الْمُخْتَارَ بْنَ فُلْفُلٍ يَقُولُ سَأَلْتُ أَنَسًا فَقَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْمُزَفَّتِ وَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ صَدَقْتَ الْمُسْكِرُ حَرَامٌ فَالشَّرْبَةُ وَالشَّرْبَتَانِ عَلَى

۱– حکم التدخین وتعاطی المفترات ص ٦٣

الطَّعَامِ فَقَالَ مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ وَهَذَا سَنَدٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَالصَّحَابِيُّ أَعْرَفُ بِالْمُرَادِ مِمَّنْ تَأَخَّرَ بَعْدَهُ وَلِهَذَا قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ مَاقَالَ وَاسْتُدِلَّ بِمُطْلَقِ قَوْلِهِ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ عَلَى تَحْرِيمِ مَا يُسْكِرُ وَلَوْ لَمْ يَكُنْ شَرَابًا فَيَدْخُلُ فِي ذَلِكَ الْحَشِيشَةُ وَغَيْرُهَا.(۱)

ترجمه: مختاربن فلفل وايي مادانس رضی الله تعالی عنه څخه پوښتنه وکړله نوهغه راته وويل رسول الله صلی الله علیه وسلم دمزفت څخه نهی کړی دی، او وی ويل: هرنشه کونکی شی حرام دی، دی وايي ماورته وويل ته رشتيا وايي چی هر مسکر حرام دی، نودغه يو يادوه غړفه چي ترخوړو وروسته چيښل کيږی دهغوی څه حکم دی؟ نوده وويل هغه چي ډير يي نشه لری دهغه لږ هم حرام دی،ددغه حديث سند صحيح دی اودمسلم پرشرط برابردی، اوصحابی دحديث په مراد ترهغو خلګو ښه خبر دی چی تردوی وروسته دی، ځکه خوعبد الله بن مبارک ويلی ده هغه څه چي ويلی دی، اوده دانس رضی الله تعالی عنه په قول چي (هرنشه لرونکی شی حرام دی) دليل ويلی دی چي هرنشه لرونکی شی حرام دی که څه هم چيښونکی نه وی، نوپه دغه حکم کی چرس اوداسی نور ټول شامل دی.

داصول فقه يود لويه قاعده ده: وقال ومع نهي ولي الأمرعنه يحرم قطعا، على أن استعماله ربما اضر بالبدن، ويعتبر الاصرار عليه كبيرة. (۲)

ترجمه: ده وويل دنهی سره چې دوخت دحاکم نهي ملګری سی نودهغه نهی څخه قطعی حرام مراد دی، ددی نه علاوه دده استعمال ډيرځله بدن ته ضرر رسوی، اواصرار اوهميشه توب پر کول دکبيره اولويو ګناهونو څخه بلل کيږی.

اودتباکوپرمنع باندې دډيرواسلامی اوکفری ملکونو اميرانو بنديزونه لګولی دی اومنع کړی دی، لکه دمثال په ډول: ۱- په سنه (۱۶۲۱ميلادی) په عثمانی خلافت کې دتباکواستعمال زيات سونوپه سنه (۱۶۳۱ميلادی) کی دهغه

۱- فتح الباری شرح صحيح البخاری ج ۱۰ ص ۴۵ ۲- تحقيق البرهان فی شان الدخان ص ۶۳

وخت علماؤ حکم وکړی چې تباکونشه لري، نودهغه وخت حکومت بندیز پر ولګوی ان تردی چې حاکم دوخت به په بازارونو کې ګرځیدی چې څوک استعمال کونکې به یې ولیدی نودتباکو پایپ به یې دهغه په غاړه وځړولی اوپه بازار به یې ګرځاوه.

یوتاریخ لیکونکې ویلی دی: چې څلورم سلطان مراد ددغه قانون د مخالفت دوجهی تقریبا (۸۰۰۰۰) دتباکو استعمال کونکې کسان مړه کړل. خو بیاهم داچې نشه لری نوځه خلکو بیا په پټه استعمال کول اومکمل پاته نسوله لکه نور نشه کونکې شیان.

۲- په روسیاکې داسې قانون جوړسو که چاپه پوزه کول نودهغه پوزه به یې وریریکوله اوکه به چا په خوله کوله نودهغه شنډان به یې پریکوله، بلکې ډېر کسان یې په دی ډول مړه کړل.

۳- په سنه (۱۶۵۲میلادی) کې دبرطانیی پادشاه پرسګریتو بندیز ولګوی او دغه بندیز پارلمان ورسره تایید کړی اودقانون حصه جوړه سوله چې تراوسه هم دغه قانون ثابت پاته دی.

۴- دایران پادشاه (عباس اول) په سزاکې نوره هم سختی وکړله هغه داچې دسګریتو څکونکې به یې په خازوق وژله هغه داچې ددبری لخوابه یې لرګې وردننه کړی هغه به یې ترخوله راووتی. (۱)

لاندنی (تصویر) دخازوق دمعنی دتشریح دپاره دانترنټ څخه اخستل سوی دی

۱- تحقیق البرهان فی شان الدخان ص ۴۴- ۴۵ په اختصار سره

خازوق

۵- داچې په اوسنی زمانه کې دټولې دنیا دابلاغ ذرائع لکه اخبارونه، جریدې ریډیو اوتلویزون باندې دضرراعلانونه خوکوی اوپوره بندیزاوسزانه ورکول کیږی داځکه چې دقدرت کسان په خپله په اخته دی، ښکاره خبره ده چې څوک په خپله بدکارکوی هغه بل ته نسی ویلای اویابل نسی منع کولای.

۴- څلورمه وجه داده چی خبیث دی: ځکه داسلامی شریعت دنظره دخوړلواوچیښلو شیان پر دوه قسمه دی: یابه طیب او پاک وی یابه خبیث او ناپاک وی، ځکه په یوحدیث کې راغلی دی: عَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، عَنِ الْبَاذَقِ فَقَالَ:سَبَقَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَاذَقَ: «فَمَا أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ» قَالَ: الشَّرَابُ الْحَلَالُ الطَّيِّبُ، قَالَ: «لَيْسَ بَعْدَ الْحَلَالِ الطَّيِّبِ إِلاَّ الْحَرَامُ الْخَبِيثُ». (۱)

ترجمة: دجویریی پلار وایی ماداابن عباس رضی الله عنهما څخه دباذق په

۱- رواه صحیح البخاری کتاب الأشربة

هکله پوښتنه وکړله، ده راته وویل محمد صلی الله علیه وسلم دباذق تر پیدا کیدلو دمخه ددنیاڅخه رخصت سو، هرشی چې نشه لری هغه حرام دی، ده وویل پاک اوحلال شراب، ده وویل ترحلال اوپاک وروسته نسته مګرحرام او خبیث.

اودغه ښکاره ده چې تباکواودهغه څخه جوړسوی شیان لکه سګریټ، نسوار، چلم، بیړی او داسې نور ټول خبیث اونا پاک دی، ځکه ترحلال وروسته حرام اوخبیث دی، اویوعالم په خپل کتاب کی لیکلی دی: ونحن إذا سالنا شارب الدخان ماوجد جوابا إلا أن يقول أنه خبيث، مايختلف فى هذ الجواب عاقل. (۱)

ترجمة: اوکله چې موږ دسګریټو دڅکونکوڅخه پوښتنه وکړو نوهمیشه ددوی جواب داوی چې ډیر خبیث اوبد شی دی، اودداسې جواب سره هیڅ عاقل مخالفت نلری.

بیشکه دتباکو استعمال خبیث دی په هرشکل چې وی، ځکه غاښونه خرابوی، سږی خرابوی، ینه اوځګر خرابوی، معده خرابوی، هاضمه خرابوی، اعصاب اوپلی کمزوری کوی، دانسان پرسراودماغ تاثیراچوی، ادراک اوتفکیر ضعیفه کوی، دخوړلو اوجماعو شهوت او خواهش ختموی، دطبیبانو په قول دسرطان غوندی مهلک مرض ځنی پیدا کیږی، بې فایدی مال ضایع کوی، په خوله کې بدبوی پیداکوی.

په تذکره نومی کتاب کی دتباکو په هکله لیکلی دی: ذكرفى التذكرة أن إدمانه يفسد البدن والعقل ويسقط الشهوتين، ويفسد اللون، وينقص القوى وينهك، وقد وقع به الأن ضرر كثير. وقال الدكتور يوسف على القرضاوى: وهنا قاعدة عامة مقررة فى الشريعة الاسلامية وهى أنه لايحل للمسلم أن يتناول من الأطعمة والأشربة شيئا يقتله بسرعة

۱– تحقيق البرهان فى شان الدخان ص

اوبطء، كالسم بأنواعه، اويضره ويؤذيه، ولا أن يكثر من الطعام اوشراب يمرض الاكثار منه، فإن المسلم ليس ملك نفسه، وإنما هوملك دينه وأمته، وحياته وصحته وماله نعم الله تعالى كلها عليه وديعة عنده، ولايحل له التفريط فيها، قال الله تعالى (وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا.سورة النساء آيت ۲۹ (۱)

ترجمة: په تذکره نومی کتاب کې ليکلی دی چې دتباکو نشه بدن اوعقل فاسدکوی دخوړلواوجماعودواړه شهوتونه کموی یاختموی، رنګ خرابوی، ټولی قواوی کمزوری کوی، اوددی نه علاوه نور ډير ضررونه لری.

اوداکتر یوسف علی قرضاوی (رح) یی پرحرمت داسی دلیل وایی: دلته په اسلامی شریعت کې یوه عامه قاعدة ده: هغه داچې مسلمان ته دداسې شی خوړل یاچیښل حلال نه دی چې هغه دی ژر یاپه ځنډ مړکوی، لکه زهر اودده ټول ډولونه او یاده ته ضرر اوآزار رسوی، اونه داورته حلال دی چې دومره خواړه وخوری یا وچیښی چې دهغوی دډیر والی څخه دی مریض کیږی، ځکه مسلمان دخپل نفس مالک نه دی، بلکې دده نفس دده ددین اوداسلامی امت ملک دی، دده ژوند، صحت، مال اودالله تعالی نعمتونه ټول ددسره دالله تعالی امانت دی، ده ته حلال نه دی چې دی زیاتوب پکښی وکړی، ځکه دنفسونو مالک فرمایي: تاسو خپل نفسونه ځانونه په خپله مه وژنی، بیشکه الله تعالی پرتاسو ډیر مهربان دی.

داچې ثابته سوله چې خبیث دی نوخبیث په عربی لغت او حدیثونوکی دنجس، ناپاک اوحرام په معنی راغلی دی، داچې خبیث په عربی لغت کې دنجس په معنی راغلی دی لکه داچې وایي: خبث بمعنى نجس ويجمع على اخباث.(۲)

خبیث دنجس اوناپاک په معنی دی اوپر اخباث جمع کیږی.

۱- تحقيق البرهان في شان الدخان ص ۸۱

۲- تکملة المعجم العربية ج ۴ ص ۱۳

اوپه حدیث کې هم خبث دنجس په معنی راغلی دی: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَاءِ وَمَا يَنُوبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ فَقَالَ: «إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ». (۱)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنهما دخپل پلارڅخه روایت کوی چې درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دهغه اوبو په هکله پوښتنه وسوله چې په صحراکې وی اوچارپایان او درندگان دهغه څخه چیښل کوی، نوده صلی الله علیه وسلم ورته وویل: اوبه چې ترقلتینو زیاتی سولی نوهغه نه مرداریږی. دلته شاهد صرف دادی چې خبث دنجس په معنی استعمال سوی دی، داچې دومره اندازه اوبه مرداریږی که نه په هغه کی بحث نکوم.

په بل حدیث کې راغلی دی: عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " ثَلَاثَةٌ قَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ: مُدْمِنُ الْخَمْرِ، وَالْعَاقُّ، وَالدَّيُّوثُ "، الَّذِي يُقِرُّ فِي أَهْلِهِ الْخَبَثَ. (۲)

ترجمة: ابن عمر رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پردرو کسانو الله جنت حرام کړی دی، دشرابو پرنشه، دمور او پلارپرازاری، اودووس،دووس هغه دی چې خپل کور والاته دزنا دپاره سرې راولی.

اونبی کریم صلی الله علیه وسلم به همیشه دغه دعاکوله: عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ قَالَ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ». (۳)

ترجمة: ای الله زه په تاسره پناه غوارم دناپاک اوناپاکو څخه.

اوداچې خبیث دحرام په معنی راځی په قرآن کریم کې رب العالمین فرمایی:

۱- رواه سنن النسائی کتاب المیاه ۲- مسند امام احمد بن حنبل مسند المکثرین للصحابة

۳- رواه صحیح البخاری کتاب الدعوات

ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ. (۱)

ترجمة: هغه کسان چې دوی دنبي امي ددين متابعت کوی داهغه رسول دی چې ددوی په کتابونو توراة او انجيل کې دده نوم اوصفت لکلی سوی دی، چې دی به امر بالمعروف کوی اونهی عن المنکر کوی، اودوی ته ټول طيبات پاک شيان حلال اوټول خبيث اوناپاک شيان حرام سوی دی.

ځکه ملاعلی قاری رحمة الله تعالی عليه په خپل کتاب مرقاة المفاتيح کی دهغه حديث په تشريح کی ليکي چی په هغه کی وايی ومهربغی: وَالْمَعْنَى مَهْرُ الزَّانِيَةِ(خَبِيثٌ)أَيْ: حَرَامٌ إِجْمَاعًا لِأَنَّهَاتَأْخُذُهُ عِوَضًا عَنِ الزِّنَاالْمُحَرَّمِ، وَوَسِيلَةُ الْحَرَامِ حَرَامٌ.(۲)

ترجمة: ملاعلی قاری رحمة الله تعالی عليه په مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح کې ددغه حديث (ومهر البغی خبيث) په شرح کې وايی معنی داچې دزنا کونکې ښځی مهر خبيث يعنی حرام دی داجماع په دليل، ځکه دا دحرامی زناء په عوض اخلی، اودحرام وسيله حرامه ده.

دفقه داصولو يوه قاعده ده چه تقوی په حرمت کې ده: الورع تحريمها: لأن الشيئ إذاتعارض فيه أصلان مبيح ومحرم، اعتبر جانب السلامة، لأن درء المفسد أرجح من جلب المصالح، كما فى الخمر والميسر، لأن الله تعالى يقول : يَسْأَلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا. (۱)

ترجمة: دفقه داصولويوه قاعده ده: كه په يوشی كې دوه دليله يودبل مقابل راسی يودحلال دپاره دليل وی بل دحرام دپاره، نودحرام دليل ته ترجيح وركول كيږی، ځكه دمفسد بنديدل غوره دی دمصلحت ترجلبولو. لكه څرنګه چې دشرابو

۱- سورة الأعراف آيت ۱۵۷ -- ۲- مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۹ ص ۲۵۳
۳- سورة البقرة آيت ۲۱۹

اوقمار په هکله الله تعالى فرمايي: دوى ستاسو څخه پوښتنه کوى اى (محمد) دشرابو دڅيښلو اودقمارکولو دحکم، نوته ور ته ووايه چې په دى دواړو کې لويه گناه ده اوفائدى دى دخلکو لپاره خوگناه ددى دواړو ترگټو اوفائدو لويه ده.

په قرآن کې دشرابو دمنافعو ذکرسوى دى، لکه داچې غم ليرى کوى، خوشحالى اونشه پيدا کوى، اوپه قمارکې بى تکليفه مال لاسته راوړى، خوددى سره رب العالمين وايى ددوى گناه ترنفع ډيره ده، لکه داچې دده عقل خرابوى، مال ضائع کوى، دالله دطاعت اوذکرڅخه يى منع کوى او دداسې نورو مفاسدو په وجه الله تعالى حرام کړل، نوځکه دفقه داصولو علماؤ قانون جوړکړى چې دحرام دليل ترحلال دمخه دى، ځکه په اسلام کې دفاسد بنديدل دمصلحت ترجلب دمخه دى.

کيدايسى دهمدغه آيت اوبل حديث په استدلال جلال الدين السيوطى رحمة الله عليه هم داغه قانون ته په خپل کتاب کې اشاره کړى ده اوفرمايي: وقال جلال الدين السيوطى فى الاشباه والنظائر: درء اولى من جلب المصالح فاذا تعارضت مفسدة ومصلحة قدم دفع المفسدة غالبا، لأن اعتناء الشرع بالمنهيات أشد من إعتنائه بالمامورات، ولذا قال عليه السلام: «فَإِذَانَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوهُ، وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍفَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ». (۱)

ترجمة: جلال الدين سيوطى رحمة الله تعالى عليه په خپل کتاب الاشباه والنظائر کې وايى: دفاسد مخ نيوى دمصلحت ترجلب دمخه دى، نوکه دمفسد او مصلح دليلونه يودبل سره معارض راغله نوپه غالب کې دمفسد دليل پرمخته کيږى، ځکه په شريعت کې په منهياتو باندې اعتناء سخته ده دماموراتو تر اعتناء، ځکه خونبى کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: کله چې زه تاسو ديوشى څخه منع کړم نوتاسو دهغه څخه ځانونه ساتى، اوکله چې زه تاسو په يوکار امر

۱- صحيح البخارى عن ابى هريرة، کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة) الاشباه والنظائر ج ۱ ص ۸۷

کړم نو تاسو چې څومره مو توان وي هغومره کوي.

بله قاعدة: للوسائل احكام المقاصد، فمهما كان حكم المقصد يكن حكم الوسيلة، فإذا كان المقصد حراما لذاته فتكون الوسيلة المفضية اليه الوصيلة له حراما وإن كانت في الاصل ليست محرمة. (۱)

ترجمة: بله قاعدة داده: دوسائلو هم دمقاصدو حکم دی، نودمقصد چې کوم حکم وي دوسيلې هم هغه حکم دی، که مقصد حرام وي نوهغه وسيله چې دغه مقصد ته رسونکې وي هغه هم حرامه ده، که څه هم دغه وسيله په خپل ذات کې حرامه نه وي.

دحنفي فقهي بله قاعدة: وقال الشيخ زاده في مجمع الانهر: مايؤدي الى الحرام فهو حرام ايضا. (۲)

ترجمة: شيخ زاده په مجمع الانهر نومي کتاب کې وايي: هغه چې حرام ته مفضي ياڅوک رسوي نوهغه هم حرام دی.

نواول خودتباکو داباحت ياحلال والي دليل نسته که څوک دليل لري نو دهغوي په جواب کې دغه پورتني ټول دلائل اوقواعد وړاندې کيږي کيدايسي قناعت په وکړي اودحرامو څخه خپل ځان، اولادونه، اوټولنه وساتي اونورهم ورڅخه منع کړي ترڅودثواب مستحق جوړسي.

۵- پنځمه وجه داچې اسراف اوتبذيردی: په عربي لغت کې دتبذير معنی ده: هو انفاق المال في غيرحقه، قال الزجاج في غيرطاعته.

په ناحقه ځای کې دمال خرڅول، اوزجاج وايي: دالله په نافرمانی کې استعمال کولو ته تبذير وايي.

۱- حكم التدخين وتعاطي المفترات والمخدرات ص ۸۸

۲- مجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر ج۴ ص۲۵۱

په عربی لغت کې د اسراف معنی: ۱- اسرف علی نفسه ای اتبع هواه. اسراف تستعمل خاصة بمعنی التبذير ومجاوزة الحد، والهماک فی المنکر وفساد السيرة. (۱)

ترجمة: ویل کیږي پرخپل ځان یې اسراف وکړی یعني خپل دهوا او خواهش متابعت یې وکړی، او اسراف د تبذير او د حد څخه تیریدلو ته ویل کیږي، په منکراتو او اخلاقي فساد اخته کیدلو ته هم ویل کیږي.

۲- الاسراف: مجاوزة القصد، وأما الاسراف الذی نهی الله عنه فهو ما أنفق فی غير طاعة الله قليلا كان او كثيرا، والاسراف فی النفقة التبذير، وقوله تعالى والذين اذا انفقوا لم يسرفوا: قال سفيان لم يسرفوا أی لم يضعوه فی غيرموضعه، وقوله تعالى ولاتسرفوا، الاسراف أكل ما لايحل أكله، وقيل هو مجاوزة القصد فی الأكل مما أحله الله، وقال سفيان الاسراف كل ما أنفق فی غير طاعة الله. (۲)

ترجمة: اسراف ترقصد تیریدلو ته وایي، او هغه اسراف چې الله تعالی منع ځنې کړی ده، هغه د الله تعالی د اطاعت نه بغیر چې مال مسرف کړی لږ وی که ډیر، او اسراف په نفقه کې تبذیر دی، او دا چې الله تعالی وایي: هغه کسان چې نفقه کوی خو اسراف دی نه کوی، سفیان وایي: اسراف نه کول یعني خپل مال دی بی خپله ځایه نه ایږدی، او دا چې الله تعالی وایي: تاسو اسراف مکوی یعني د هغه شی خوړل مکوی چې هغه حلال نه وی، چاویلي دی: په خوړو کې ترقصد تجاوز کول دی د هغه خوړو څخه چې الله تعالی حلال کړی دی، او سفیان وایي: اسراف د هرشی مسرف کولو ته وایي چې د الله تعالی په لاره کې نه وی.

د تبذیر په هکله الله تعالی فرمایي: إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا۟ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا.(۳)

۱- معجم الطرائف تاريخ البربر ج ۱ ص ۵۲۸

۲- لسان العرب ج ۹ ص ۱۴۸

۳- سورت الأسراء آیت ۲۷

ترجمة: بیشکه اسراف کونکي د شیطان ورونه دی، (یعنی د شیطان په مثل دي په شرارت او اتلاف کي) او شیطان د خپل رب ډیر ناشکره او نافرمانه دی.

او د اسراف په هکله رب العالمین فرمایي: ﴿وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ﴾.(۱)

ترجمة: تاسو اسراف مکوی بیشکه الله تعالی اسراف کونکي نه خوښوی.

د تبذیر او اسراف د تعریف او حکم څخه وروسته د تباکو په استعمال کې د تبذیر یا اسراف اندازه د دغه رپورټونو څخه ښه لګول کیږي: ۱- ان الاحصائیات تقول أن الشرق الاوسط یحرق (۷) ملیار فی الشهر الواحد، أی بمقدار (۸۴) ملیار سجارة فی العام، کماتدخن مصر وحدها (۱۱۷۵) ملیون سیجاره فی الیوم الواحد، ای (۳) ملیار (۵۲۵) ملیون سجارة شهریا، و(۴۲) ملیاره و(۳۰۰) ملیون سجارة سنویا. (۲)

ترجمة:بیشکه شماریات وایی، چې یوازی په شرق اوسط کې په یوه میاشت کې (۷) ملیارد سګریټ سوځول کیږي، چې د کاله (۸۴) ملیارد سګریټ کیږي، او یوازی په مصرکې په یوه ورځ کې (۱۱۷۵) ملیونه سګریټ څکول کیږي، یعنی (۳) ملیارد او(۵۲۵) سګریټه په میاشت کې، او(۴۲) ملیارد او (۳۰۰) ملیونه په یوه کال کې څکول کیږي.

۲- وفی السعودیة کانت کمیة التبغ المستوردة عام (۱۹۷۲) وهی اول احصائیة تذکرها الغرفة التجاریة (۴۵۷۵۰۰۰) کیلو جراما، ای انها تضاعفت تسع مرات تقریبا فی اقل من عشرسنوات.... وهی زیادة رهیبة لامثیل لها فی العالم. وقدبلغ الثمن الرسمی لهذه الکمیة قرابة (الف ملیون) ریال سعودی . (۳)

ترجمة: په سعودی کې د تباکو هغه مقدار چې په کال (۱۹۷۲م) کې دوی د خارج څخه خپل ملک ته راوړه (٤٦٧٥٠٠٠) کیلو ګرامه دی، اودا هغه احصائیة

۱- سورة الأعراف آیت ۱۴۱ ۲- تحقیق البرهان فی شان الدخان ص ۱۱۳

۳- تحقیق البرهان فی شان الدخان، حوالة: مجلة الوعی الاسلامی العدد (۲۴۵) ص ۳۱

ده چې اول ځل اطاق تجارت ذکر کړی ده، اودغه ترلس کاله کم مده کې نهه چنده ډیره سوی ده، اودغه یوبیرونکې اضافه ده چې په عالم کې بل مثل نلري. دهغه تباکوچې دبل ځاي څخه خپل ملک ته راوړي دی دولتی قیمت یی (یوزرملیون) سعودی ریاله ته رسیدلی دی.

۳- أن نسبة استهلاک لفافات التبغ فی البلدان المتقدمة ترتفع ارتفاعا کبیرا، فتصل فی الولایات المتحدة الأمریکیة إلی (۳۸۵۰) لفافة تبغ سنویا للشخص الواحد، وفی کندا (۳۳۲۰) وفی بریطانیا (۲۹۰۰) وهذه النسبة فی ارتفاع مستمر، ففی عام (۱۹۶۰م) لم یکن وسطی استهلاک لفافات التبغ السنوی للفرد بالمانیا الغربیة علی سبیل المثال یزید علی (۶۰۰) فقط، فقفز هذا الرقم عام (۱۹۷۳م) الی (۲۵۰۰). (۱)

ترجمة: بیشکه ددغه تباکو دلفافو (یعنی سیگریتو) بربادول په پرمخ تللو هیوادونوکې په ډیره لوړه اندازه پورته کیږي، دمثال په ډول په امریکاکې یو سړی په کال کې (۳۸۵۰) سیگریټه سوځوی، اوپه کنډا کې (۳۳۲۰) په برطانیه کې (۲۹۰۰) خودغه اندازه په کال کې پورته کیږي، دمثال په ډول په غربی المان کې په کال (۱۹۶۰م) کې یوه شخص (۶۰۰) سیگریټه سوځول، خو دغه اندازه په کال (۱۹۷۳) کې و(۲۵۰۰) ته ورسیدله.

دغه پورتنی احصائیة دمثال په ډول یوازی دیوڅوملکونودسگریټو اندازه ده هغه هم دډیرو کلونومخکې ده، اوس به څومره ډیره سوی وی، داچې پردغه سیگریټو خلک څومره خرڅه کوی دهغه اندازه داسې لګول سوی ده چې یوازې په غربی المان کې په کال (۱۹۷٤م) کې ټول (۱۲۸) ملیاره سیگریټ مصرف سوله اوددی قیمت (۱٤٤) ملیاره مارکه جوړ سوله.

یا داچې په کال (۱۹۷۵م) کې دامریکا دسیگریټو یوی کارخانی (۲۷۵۷)

۱- تحقیق البرهان فی شان الدخان حوالة: مجلة الرائد العدد (۲۰) ص۷۰، تاریخ ۱۹۷۵/۸/۲۲

ملیونه ډالره صافی منافع سوله، داډول نوپه دنیاکې ډیری کارخانی دی.

داخو هغه مصرف دی چې یوانسان یې دسیګریټو پر رانیولو کوی، اوهغه مصرف چې بیا دهغو ناروغیو پرعلاج کول کیږی کوم چې ددی نشی څخه ده ته پیښیږی هغه تردی څوچنده ډیر دی، او بیا هغه نقصانونه چې کله دسیګریټ او ماچس څخه اورلګیږی هغه تردینه هم زیات دی، بل داچې ددغه دود څخه دده اولادونه، کورنی، اوټولنه په اخته کیږی.

داچې دغه دیوملک یایومنطقی احصائیة ده نوکه موږ دټولی دنیا اندازه ولګوو نوهغه داسې حد ته رسیږی چې هرانسان به خپله حیران سی چې څومره مال دورځی په ناحقه اوبي فائدی سوځول کیږی،اوڅومره انسانان په خپله ځانونه دهلاکت وکندی ته اچوی اودالله تعالی دحکمونو نافرمانی کوی، که دتباکو هراستعمال کونکې دهرشی چې وی دخپل ځان سره حساب وکړی چې زه دورځی، دمیاشتی اودکاله څومره مال په دغه ضررمن اوبی فائدی عمل کې لګوم نوده ته به خپله هم اندازه معلومه سی چې هرعمل کونکې دغومره مصرفوی، اوبیادی دخپل ځان سره فکروکړی که دغه مال په اصلاحی، او ټولنیزو کارونوکې ولګیږی څومره اصلاح په راځی، اویادخپل اولاد په تعلیم، علاج، نفقه اوکاربانډې ولګوی نوڅومره به کور،ټولنه اصلاح اود غربت څخه خلاصه سی.

اومال دالله تعالی لوی نعمت دی چې په هغه سره دنیکیو کارونه او اسلامی خدمتونه، داولادونو ښه روزنه اوپالنه په کیږی، نودمال بی ځایه لګول اوصرفول داسې ناشکری ده چې انسان په ناشکری کې دشیطان سره مشابه او ورته کیږی، لکه څرنګه چې شیطان دالله تعالی ورکړه سوی قوتونه دالله تعالی

په نافرماني کې استعمال کوي، همدارنګه انسان دالله تعالی ورکړه سوی نعمتونه دالله تعالی په عصیان اونافرماني کې استعمالوي.

اودالله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم په حدیث کې دمال دضایع کیدلو څخه منع کړې ده او فرمایي: عَنِ المُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ: عُقُوقَ الأُمَّهَاتِ، وَوَأْدَ البَنَاتِ، وَمَنَعَ وَهَاتِ، وَكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةَ المَالِ ".(۱)

ترجمة: مغیرة بن شعبه رضی الله تعالی عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی پرتاسو حرام کړي دي، دمندو آزاریدل، دلونو ژوندي ښخول (وژل) چاته څه نه ورکول اوبې ضرورته د چاڅخه غوښتل، او بد بللي دي، ستاسو دپاره بې ځایه سوال اوجواب کول ډیر سوال کول، او دمال ضایع کیدل.

اوموږ هریو په خپله معاشره اوټولنه کې په مشاهده وینو چې دهرې نشې خاوند دخپلې نشې ضرورت ترهرڅه دمخه پوره کوي، یعنې دځان، کور اولاد او ټولنې ترضرورت حتی ترخپل نورضرورت دمخه دي خپل نشه ځانته برابروي.

شپږمه وجه داده چې ضرر لري: دضررونو دجملې څخه یوعالم په خپل کتاب لیکلي دي: أن من اكبر مضار التبغ أنه يضعف قوة الحس، ويقلل شهوة الأكل، وحرارته تثيردم الشفتين فتجعل لونهماأحمر،فيظهرعليهما الجفاف المصحوب بالورم والانتفاخ.

ومنها ضعف البصر، وتكدير صفاء العين، ومنها زوال رونق الأسنان حيث يصير لونها أصفر مسوّدا، اومخضرا ثم فسادها والاحتياج لقلعها فيزول التلذذ بالأطعمة.

ومنها ضيق الصدر وسد مجاري الدم، فيجد المصاب بها قلقا عظيما، وتحدث نفسه

۱- صحيح البخاري كتاب الأدب

بقرب وفاته فجاءة، ويدوم هذا القلق عادة نحو نصف ساعة، ثم ينقطع ثم يعود.

ومن أكبر مضارة الإصابة بالسرطان . (۱)

ترجمة: بیشکه دلویو ضررونو څخه دادی چې دحس قوت ضعیفه کوی، دخوړلو شهوت یااشتهاءکموی، اوددوی ګرمی دشنډانوپروینه تاثیرکوی، دشنډانو رنګ سورکوی، اوداسی وچ سی چې دپاړسوب اثر پر معلومیږي.

بل داچې سترګی ضعیفه کوی دسترګو صفائی تاریکه کوی. دغاښو رونق یاښه والی لیری کوی داسې چې دهغوی رنګ توربخون ژړسی، اویاشنه سی، ترڅوزرغونه سی اوبیاکښلوته حاجت پیداکړی،نوبیادخوړوپه خوند نه پوهیږی.

بل داچې ځیګر اواینه تنګه وی دوینی جریان بندوی، نوڅوک چې په دغه ناروغی اخته سی هغه بیا دډیری لویی بیقراری سره مخامخ سی، ان تردی چې دده نفس ناڅافه مرګ ته نزدې سی، اودغه ناقراری کله دنیم ساعت دپاره وی، اوبیا قطع کیږی اوبیا راګرځی.

اوبل ډیر لوی ضرر دادی چې دسرطان غوندی په لاعلاجه ناروغی اخته کیږی. ځکه خو دسیګریټو پرهرکوتی باندې لیکلی وی چې دصحت دپاره خطرناک دی بلکې دخولی دسرطان عکس اوتصویر یی هم وربانډې راوړی وی.

۲- یوبل عالم په خپل کتاب کی دخپلی مطالعی لمخی لیکلی دی: قال فی نصيحة الاخوان: وقد اخبرني بعض المخالطين لنصارى الانكليز انهم: ماجلبوه لبلاد الاسلام الابعد ان اجمع اطباؤهم على منعهم من الملازمة عليه ، وان لايستعملوا منه الاالقدر الذى لايضره فيه، وانهم اخذوا رجلا مات باحتراق الكبد بعد موته، وهوملازم عليه، وشرحوه، فوجدوه ساريا فى عروقه وعصبه، حتى ان مخ عظامه قداسود، ووجدوه قلبه مثل السفنج

۱- مرآة البراهين فى مضار النشوق والتدخين

اليابسة، ووجدوا كبده كانه مشوى على النار، فمن ذا لک الوقت منعوا من المداومة عليه، وامروا ببيعه للمسلمين. (۱)

ترجمة: په نصيحة الاخوان نومي كتاب كې ويل سوی دی: ماته څه داسې خلګو خبر راکړی چې هغوی دانګريزی نصاراو سره ګډه ګزاره کوله چې دوی سيګريټ واسلامی ملکونوته هغه وخت راوړل شروع کړل چې ددوی طبيبانويې دهميشه توب څخه منع وکړل، اوبل داچې ددوی استعمال به په هغه اندازه کوی چې ضرر نه کوی، اودوی دداسې يوسړی تر مړينی وروسته څيړنه وکړله چې هغه يې هميشه استعمال کوی چې دهغه اينه سوځيدلی وه اودده پر رګونو او اعصابويې تاثيرکړی وو، ان تردی چې دده دهډوکو ماغزه تورسوی وه اودده زړه داسې وو لکه وچ سپنج اودده اينه داسې وه لکه پراورفخه سوی، نودهغه وخت څخه دوی دهميشه استعمال څخه منع وکړله اوپرمسلمانانودخرڅولوامر وکړی.

اوپه اسلامی شريعت کې خپل ځانته اوبل ته ضرر رسول حرام دی ، ځکه نبی کريم صلی الله عليه وسلم مسلمانانوته يوعام قانون ورکړی دی او فرمايی:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ،أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَضَى أَنْ لاَ ضَرَرَ وَلاَ ضِرَارَ.(۲)

ترجمة: عبادة ابن صامت رضی الله تعالی عنهما روايت کوی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم حکم کړی دی چې نه به څوك خپل ځان ته ضرر رسوی اونه به يو دبله ضرر سره رسوی . اودضرر معنی ده دنفع خلاف.

اودسيګريټو اونسوارو ضررورنه په مشاهده اوتجربه ليدل کيږی ، نه يوازی داچې دمال بی ځايه مصرف کول ضرردی بلکې دبدن اوصحت ضررونه هم په خپله يادطبيبانو اوډاکترانو دخولی تقريباهرچاته معلوم دی، ديواخباری بيان مطابق که يوڅوک وايی چې زه ډېره وخته سيګريټ، چلم، بيړی او نسوار کوم خوماته تاوان

۱- حکم التدخين وتعاطی المفترات والمخدرات ص ۱۳۶ ۲- رواه سنن ابن ماجة کتاب الأحکام

یانقصان نه دی رسیدلی داددده ناپوهی یابی علمی ده، که یوځوک سل سیګریټه په کال کې وڅکوی نوپه هغه کې دمسانی، خولی اومعدی دکنسر په سلو کې دیرش خطره سته، اوکه ښځی په ورځ کې یوه کوتی سیګریت لس کاله وڅکوی نو په سلوکې شپیته دتیو دکنسر خطره ورسره سته.

دامریکا دکنسر تحقیقاتی اداری دخپل تحقیق مطابق دامریکا په اته ښځو کې یوه دمسانی په کنسر اخته ده، اوپه (۲۲۷) ښځوکې یوه دتیو په کنسر اخته ده اوددغه یوازنی علت دسیګریټو بی ځایه اوډیر استعمال دی.

اوزموږ په خپله ټولنه کې په عامه توګه لیدل کیږی چې دسیګریټ، نسوارو اوچلم څکونکې دمعدی، اعصابو، قبض اوڅه خلګ دکنسر په ناروغیو اخته دی او ډیر مصارف اوخرڅونه کوی خو ډیرو علاج نه کیږی اوټول ډاکتران اوطبیبان داغه ورته وایی چې نشه پریږده، نسوار، سیګریټ او چلم څخه ډیر زیات دشکری، فشاری خون، قبض اومردانه کمزوری ځینی پیداکیږی اودا تقریباهرانسان په خپله هم تجربه کولای سی اوهم ورمعلومه ده چې دغه اونور ډیرمرضونه پیدا کوی، او بیاددغو پرعلاجونو څومره مصرف کوی هغه ته هرانسان خپله اندازه لګولای سی

نوځکه خو ټول هغه څه چی انسان ته په جسم، عقل ، نسل اومال کی ضرر رسوی که څه هم حلال وی هغه ټول په اسلامی شریعت کې حرام کړل سوی دی.

ځکه رب العالمین په خپل رالیږل سوی کتاب قرآن مجید کې وخپلو بندګانو ته خطاب کوی او فرمایی:وَلاَ تُلقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ. سورة البقرة آیت ۱۹۵

تاسو په خپل لاسونو خپل ځانونه دهلاکت ځایونو ته مه اچوی. اوتاسونیکی او ښه کوی دخپلو ځانو اونوروسره بیشکه الله تعالی نیکی کونکی خوښوی.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایی:وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا(۱)

ترجمة: تاسو خپل ځانونه په خپله مه وژنئ، بیشکه الله تعالی پرتاسو ډیر مهربان دی.

چرس هم حرام دی

یوبل نشه لرونکی توکی چی ترتباکو څه کم خوپه نشه کی ترتباکو زیات دی اوپه تهوله نړی کی ځکول کیږی، په عربی کتابونو کی دحشیش اوپه پښتو کی ورته چرس ویل کیږی.

دچرسو دتاریخ په هکله کتابونه لیکي: وهذه الحشيشة فان اول مابلغنا انها ظهرت بين المسلمين في أواخر المائة السادسة وأوائل السابعة حيث ظهرت دولة تتار، وكان ظهورها مع ظهور جنكيزخان، الذى غزى العالم القديم من الصين إلى البحر الاسود، وغزا ديار المسلمين، ولد في اقليم دولون بلدق بلاد الروس، وكان اسمه الأصلي تيموجن. (۲)

ترجمة: دغه چرس اول ځل دمسلمانانو په منځ کې دشپږمی صدی (۶۰۰ هجری) په آخرکې اوداومی صدی په اول کې هغه وخت ښکاره سوله چې کله دتتاریانو غلبه وسوله، اودغه دچنګیزخان دراتلوسره ښکاره سوله چې کله چنګیز خان دچین څخه تربحراسود پوری پردنیا قبضه وکړله اوپر اسلامی ښارونو او ملکونو باندې غلبه حاصله کړله، چنګیزدروس د(لون بلدق) په علاقه کې پیداسو، او دده اصلی نوم تیموجن وو.

دپورتنیو تولو هغو دلایلو دعموم پربنا چی مخکی دخمر، افیون اوتباکو د حرمت په بحث کی تیرسوله وچرسوته هم حرام ویل کیږی، ډیرعلماء دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ددغه حدیث په عموم دلیل وایی: وَقَدْ أَخْرَجَ أَبُو دَاوُد أَنَّهُ «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ» ددغه حدیث ترجمة اوتفصیل

۱- سورة النساء آیت ۲۹

۲- فتاوا الخمر والمخدرات ص ۳۰

مخکی بار بار سوی ده، هغه داچی خپله مفتر حرام دی اوداچی دمسکر سره په یوه حدیث کی راغلی دی نوبیادقانون دمخی دمعطوف اومعطوف علیه دواړو یو حکم وی، یعنی داچی مسکر حرام دی نومفتر هم حرام دی.

به مرقاة صعود نومی کتاب کی دچرسو پرحرمت باندی په داغه حدیث دلیل ویل سوی دی اوفرمایی:

وَقَالَ فِي مِرْقَاةِ الصُّعُودِ يُحْكَى أَنَّ رَجُلاً مِنَ الْعَجَمِ قَدِمَ الْقَاهِرَةَ وَطَلَبَ الدَّلِيلَ عَلَى تَحْرِيمِ الْحَشِيشَةِ وَعُقِدَ لِذَلِكَ مَجْلِسٌ حَضَرَهُ عُلَمَاءُ الْعَصْرِ فَاسْتَدَلَّ الْحَافِظُ زَيْنُ الدِّينِ الْعِرَاقِيُّ بِهَذَا الْحَدِيثِ«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ»فَأَعْجَبَ الْحَاضِرِينَ انْتَهَى.(۱)

ترجمة: په مرقاة صعودکی حکایت سوی دی چې دعجمو څخه یوسړی قاهری ته راغلی او دچرسو پرحرمت یی دلیل وغوښتی، نوددی دپاره دهغه وخت دعلماؤ مجلس جوړسو، نوزین الدین عراقی په دغه حدیث دلیل وړاندی کړی، نو ټول حاضرین تعجب سوله.

څه نور علماء هم دچرسو په حرمت باندی قول کوی اوفرمایی:

وَيُحَرَّمُ مَا أَسْكَرَ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَشْرُوبًا كَالْحَشِيشَةِ. وَحَكَى الْعِرَاقِيُّ وَابْنُ تَيْمِيَّةَ الإِجْمَاعَ عَلَى تَحْرِيمِ الْحَشِيشَةِ وَأَنَّ مَنْ اسْتَحَلَّهَا كَفَرَ.

قَالَ ابْنُ الْبَيْطَارِ: إِنَّ الْحَشِيشَةَ وَتُسَمَّى الْقُنَّبُ تُوجَدُ فِي مِصْرَ مُسْكِرَةٌ جِدًّا إِذَا تَنَاوَلَ الإِنْسَانُ مِنْهَا قَدْرَ دِرْهَمٍ أَوْ دِرْهَمَيْنِ، وَقَبَائِحُ خِصَالِهَا كَثِيرَةٌ، وَعَدَّ مِنْهَا بَعْضُ الْعُلَمَاءِ مِائَةً وَعِشْرِينَ مَضَرَّةً دِينِيَّةً وَدُنْيَوِيَّةً، وَقَبَائِحُ خِصَالِهَا مَوْجُودَةٌ فِي الأَفْيُونِ، وَفِيهِ زِيَادَةُ مَضَارٍّ. (۲)

ترجمة: هرشی چی نشه لری حرام دی دهرشی څخه چی وی که څه هم دچیښلو نه وی لکه چرس اوعراقی اوابن تیمیة (رحمهم الله) دچرسو پرحرام والی

۱- عون المعبود وحاشية ابن القيم ج ۱۰ ص ۹۱ -- ۲- سبل السلام شرح بلوغ المرام ج۲ ص ۴۵۲

دفقهاؤ اجماع نقل کړی ده، اوبیشکه چی څوک ورته حلال وایی هغه کافر دی.

ابن بیطار رحمه الله وایی: بیشکه چرس چی په عربی کی قنب هم ورته ویل کیږی اوپه مصرکی پیداکیږی ډیره نشه لری کله چی انسان ډیوه یادوه درهمه په اندازه واخلی، اوددی بد خاصیتونه ډیر دی، څه علماؤ ددوی یوسل اوشل دینی اودنیاوی ضررونه حساب کړی دی، دغه بد خاصیتونه په افیون کی هم موجود دی بلکی په افیون کی تردوی ډیر دی.

یوبل عالم په خپل کتاب کی دغه موضوع ډیره په تفصیل څیړل اوپه آخرکی لیکی:

فَثَبَتَ بِمَا تَقَرَّرَ أَنَّهَا حَرَامٌ عِنْدَ الأَئِمَّةِ الأَرْبَعَةِ الشَّافِعِيَّةِ وَالْمَالِكِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ بِالنَّصِّ وَالْحَنَفِيَّةِ بِالاقْتِضَاءِ لأَنَّهَا إِمَّا مُسْكِرَةٌ أَوْ مُخَدِّرَةٌ. (۱)

ترجمة: دمخکنی تقریر څخه ثابته سوله چی دغه حشیش یاچرس دڅلورو مذهبونو دامامانو لکه امام شافعی، امام مالک، امام احمد بن حنبل په نزد ددلیل په نص حرام دی خودامام ابوحنیفة په نزد دلیل په اقتضا حرام دی، ځکه دغه به یانشه کونکی وی اویابه مخدر وی. دواړه حرام دی.

دمخدر ترجمة اومعنی مخکی دتباکوپه بحث کی تیره سوله هغه داچی مخدر داسی یومادة ده چی په انسان اوحیوان کی (وعی) نیستی کوی اوددی مختلفی درجی دی لکه چرس، افیون، اوددی جمع مخدرات راځی. اود(وعی) معنی په لغت کی داسی سوی ده: وعی حفظ، تقدیر، فهم اوادراک سلامتیا. یعنی مخدرهغه شی ده چی دانسان حافظة، اندازه، فهم اوادراک سلامتیا دمنځه وړی.

یوبل عالم ددغه حدیث په دلیل وایی اولیکلی دی: فإن قوله " کل شراب

۱- عون المعبود وحاشية ج۱۰ ص ۹۸

أسكر فهوحرام " يدل بعمومه وكونه على تحريم كل مادة مسكرة، ولو لم تكن من الأشربة، ولهذا ذهب أهل العلم إلى تحريم الحشيشة وغيرها من المواد التي تشبهها.

قال الصنعاني: ويحرم ما أسكر من أي شيء، وإن لم يكن مشروباً كالحشيشة، قال ابن حجر: من قال إنها لا تسكر وإنما تخدر فهو مكابر، فإنها تحدث ما تحدث الخمر من الطرب والنشوة، وإذا سلم عدم الإسكار فهي مفترة، وقد أخرج أبو داود أنه " نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن كل مسكر ومفتر ". (۱)

ترجمة: بيشكه درسول الله صلى الله عليه وسلم دغه قول چې فرمايي (هر شراب چې نشه لرې هغه حرام دی) په خپل عموم باندی دهرشي اودهرهغه مادی پرحرمت دلالت کوی چې نشه لری که څه هم چیښونکی یاخوړونکی نه وی، همدغه وجه ده چې علماء چرس اوداسی نور مواد چې دچرسو سره مشابهت لری حرام بولی.

صنعاني وايي: هر شي چې نشه لرې حرام دی دهرشي څخه چې وی لکه چرس. ابن حجر وايي: څوک چې وايي دغه چرس نشه کونکی نه دی بلکی مخدر دی نوهغه مکابردی ځکه دی هغه نشه اومستی پیداکوی چې شراب یې پیدا کوی، اوکه داومنل سی چې نشه نلری نومفتر خو خامخا دی، اودمفتر دحرمت دپاره هغه حدیث دلیل دی کوم چې ابو داود روایت کړی دی چې په هغه کی ویل سوی دی (رسول الله صلى الله عليه وسلم نهی کړی دی دهرمسکر اومفتر څخه).

(دمکابرترجمة په عربی لغت کی په معاند، اوضدی باندی سوی ده، او هغه چې بی دلیله خپل پر رایه ولاړ وی)

نور دغه بحث ته په دی هم ضرورت نسته چې دخمر، افیون، اوتباکو په بحث کی تیرسوی دحرمت ټول دلایل دچرسو دحرمت دپاره هم دی.

۱- منار القاری شرح مختصر صحیح البخاری ج ۵ ص ۱۸۸

تباکو دفقهاؤ په نزد حرام دی

دپورتنیو دلائلو په استدلال تقریبا داهل سنت والجماعت دڅلورو مذهبونو دفقهی ډیرو فقهاؤ دحراموالی حکم کړی دی اوفرمایی:۱- التبغ والتنباک اوما يسمى فى الشام بالدخان والتتن حرم تدخينه نجم الدين الزاهدى من الحنفية، لأنه مفتر، وقد نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن كل مسكر ومفتر.

وقال ومع نهى ولى الأمر عنه يحرم قطعا، على أن استعماله ربما أضر بالبدن، ويعتبر الاصرار عليه كبيرة.

۲- وذهب الى حرمة الدخان جماعة علماء المالكية وقد اعتنى الشيخ ابو الحسن على بن عيسى العلمى (المتوفى فى القرن الثانى عشر الهجرى) بحرمة الدخان، ونقل ذلک عن فقهاء المالكية، ووقع فى كلامه عن تاريخ انتشاره. (۱)

ترجمة: دحنفی فقهی یومشهور عالم نجم الدین الزاهدی وایی: تبغ یا تنباک اوهغه چې په شام کې ورته دخان یاتتن وایی څکول یی حرام دی ځکه دغه مفتر دی اورسول الله صلی الله علیه وسلم دهر مسکر اومفتر څخه نهی کړی دی.

اوده ویلی دی د(رسول الله صلی الله علیه وسلم) دنهی سره چې دآمر نهی ملګری سی نوهغه قطعی حرام دی. بل داچې ډیر ځله دده استعمال بدن ته ضرر رسوی، اوداچې دوام باندې کول ګناه کبیره ده.

۲- دامام مالک صاحب دمذهب دډیرو علماؤ په نزد حرام دی، اوشیخ ابو حسن علی بن عیسی علمی چې دهجری سنی په دوولسم قرن کې وفات سوی دی (الله تعالی دی رحم وروباندې وکړی) دسیګریټو پرحراموالی ډیر اصرار کوی، او ده پر دغه باندې دمالکي مذهب دډیرو فقهاؤ څخه نقل کړی دی، اوده دتباکو

۱- تحقيق البرهان فى شان الدخان ص ۶۳

د انتشار څخه بحث کړی دی.

۳- وذهب جمع من العلماء والمطلعين في هذا العصرالى حرمة الدخان، وعلى رأسهم الامام ابويعلى محمد عبد الرحمن المباركفورى هندى(المتوفى سنة ۱۳۵۳الهجرى)وذكرحرمة الدخان في شرحه الحافل لسنن الترمذى، المسمى (بتحفة الاحوذى ج۵ ص۳۹۷)

ترجمة: په اوسني زمانه کې دعلماؤ يوې ډلې چې هغوی دتباکو پرضررونو علم درلودی دسيګريټو پرحراموالی حکم کړی دی، چې دهغوی په سرکې امام ابو يعلى محمد عبدالرحمن مباركفوری دی چې په سنة (۱۳۵۳هجری) کې وفات سوی دی (الله تعالى دی رحم وربانديې وکړی) اوده دسيګريټ، دحراموالی ذکر په خپل (شرح الحافل لسنن الترمذی) نومی کتاب کې کړی دی چې په تحفة الاحوذی سره شهرت لری.

۴- اصدرمشائخ الحجازفتوى بتحريم الدخان، وألف كثيرمنهم رسائل بتحريمه، منهم الشيخ محمد بن ابراهيم ، والشيخ عبدالرحمن بن ناصر السعدى، والشيخ عبد العزيز بن باز، والشيخ محمد بن صالح العثيمين، والشيخ صالح الفوزان . رحمة الله تعالى عليهم

ترجمة: دحجاز ډيرو علماؤ اوشيخانو دسيګريټو، پرحراموالی فتواوی صادری کړی او ليکلی دی اوډيرو په دی هکله رسالی ليکلی دی چې دهغوی دجملی څخه : شيخ محمد بن ابراهيم، وشيخ عبدالرحمن بن ناصر سعدی، وشيخ عبد العزيز بن باز، وشيخ محمد بن صالح العثيمين، وشيخ صالح فوزان . (رحمة الله تعالى عليهم)

۶- دحنفي فقهي يوبل ډير لوی عالم په دی هکله مستقله رساله ليکلی ده اوپه هغه کی فرمايي: رسالة للمحقق الفاضل العلامة الشيخ محمد فقهي العيني من أكابر فقهاء الحنفية، ذكرفيها تحريم الدخان من أربعة أوجه: أحدها: كونه مضرا للصحة باخبار

الأطباء المعتبرين، وكل ماكان كذلک يحرم استعماله اتفاقا.

ثانيها: كونه من المخدرات المتفق عليها عندهم، المنهى عن استعمالها شرعا، لحديث النهى عن كل مسكر ومفتر، وهو مفتر باتفاق الأطباء، وكلامهم حجة فى ذلک وأمثاله باتفاق الفقهاء سلفا وخلفا.

ثالثا: كون رائحته الكريهة تؤذى الناس الذين لايستعملونه، وعلى الخصوص فى مجامع الصلاة ونحوها، بل تؤذى الملائكة المقربين.

رابعها: كونه سرفا ليس فيه نفع مباح خال عن الضرر، ففيه الضرر المحقق باخبار أهل الخبرة، وحرمة مافيه من السرف اوالضرر ثابتة شرعا وعقلا، وقد نص فى نصاب الاحتساب (ص ۲۶۵-۲۶۶) وغيره من المعتبرات الفقهية على أن استعمال المضرحرام اتفاقا.

۷- دحنفي فقهي يوبل ډير لوی عالم په دی هکله مستقله رساله ليکلی ده اوپه هغه کی فرمايي: رسالة للعلامة الفاضل الشيخ احمد العجبى الحلبى الحنفى قال فيها: أمابعد: فان مما عمت به البلوى فى سائر البلاد، حتى شملت جميع أصناف الناس إلاماعصمه الله تعالى من العباد، من استعمال الدخان المعروف فى هذه الأزمان، فانه بدعة منكرة فى سائر الأديان، بل نقل الامام الحنفى عن بعض أشياخه العارفين، أن شربه فى مجلس القرآن يخشى منه سوء الخاتمة، أعاذنا الله منها بمنه تعالى وكرمه إنه جواد كريم. وهوبنوعيه المعلومين أعنى التتن والتنباک، من جملة المفترات على التحقيق، ومن جملة المضرات للصحة على القول الحقيق، وكل ماكان كذلک لاشک فى تحريمه، وتاثيم متعاطيه لدى ذوى العرفان. (۱)

ترجمة: دحنفي فقهي دډيرو لويانو فقهاؤ څخه يومحقق فاضل اوعلامة فقيه چې په عيني سره شهرت لری په خپله يوه رسالة کې ليکلی دی چې: دخان يا سيګريټ دڅلورو وجهوڅخه حرام دی: اول:داچې دمعتبرو طبيبانو په ويناصحت

۱- البرهان فى شان الدخان الذى يشربه الناس الان ص ۱۰۷

ته ضرر لري، اوهرشی چې داسې وی (يعنی ضررلري) دهغه استعمال د علماؤ په اتفاق حرام دی.

دويم داچې: دعلماؤ اتفاق دی چې دنشه کونکو شيانو څخه دی، اوشرعا دده داستعمال څخه منع راغلی ده،ځکه په حديث کې دهرمسکراومفتر څخه نهی اومنع راغلی ده،اودطبيبانوپه اتفاق مفتردی،اوددوی قول په داسې مسائلو کې دمخکنيو او وروستنيو فقهاؤ په نزد حجت اودليل دی.

دريم داچې: داسې مکروه اوناخوښه بوی لري چې هغه خلگ ډير په عذاب اوتکليف کيږی چې دغه عمل نه کوی، خاص بيا دلمانځه داجتماع په ځايونو کې، اوبل هغه مقربی ملائکې په آزاريږی کوم چې دده سره هميشه ورسره دی، دده دعملونو دليکلو يا حفاظت لپاره.

څلورم داچې: داسې اسراف دی چې دضرر څخه خالی هيڅ نفع اواباحت نسته، بلکې داهل خبره څخه ددوی ضرر ثابت دی، اوپه کوم شی کې چه اسراف اوضرر ثابت وی هغه شرعا اوعقلا حرام دی، په (نصاب الاحتساب) نومی کتاب (صفحة ۲۶۶-۲۶۵) کې اودفقهی په نوروکتابونوکې دضررکونکې پراستعمال د حرمت اتفاق نقل سوی دی. تر ډير تفصيل نه وروسته ليکی (والمضر حرام کالطين).

۷- دحنفی فقهی يوبل عالم، فاضل، شيخ احمد عجبی حلبی حنفی په خپله رسالة کې وايی: وروسته تردی: بيشکه هغه بلوی چې نن په ټولو ملکونو کې عامه سوی ده، ان تردی چې دخلگو ټولو صنفونوته يی سرايت کړی دی، مگر نه هغه بندگان چې الله تعالی ساتلی اوحفاظت يی کړی وی، دهغه شی استعمال دی چې په اوسنی زمانه کې ورته دخان ويل کيږی،بيشکه دغه په ټولو اديانو کې منکر اوبد بدعت دی، بلکې دغه حنفی عالم دخپل معروفو شيخانو

ځخه نقل کړي دي، که څوک دقرآن په مجلس کې دغه ځکوي پر هغه ویره سته چې خاتمه یې بده سي، الله تعالی دي موږته دبدي خاتمې ځخه پناه راکړي، بیشکه دغه الله تعالی جواد اوکریم دي، اودغه په دوه نومانو شهرت لري یعني تتن اوتنباک، اودغه ثابته ده چې دغه دمفتر دجملې ځخه دي، اوثابت قول دادی چې دصحت دپاره ضرر لري،اوهرشی چې داسې وي نودهغه په حرمت کې شک نسته،اودمعرفت اوعلم خاوندانوپه نزد ددغه شي عمل کونکې ګناه کونکې دي.

دتباکو دحرمت په هکله لیکل سوي کتابونه

داچې په دغه بحث کې دهرڅومره لیکلو ګنجایش سته نه غوارم چې ډېر طویل او اوږد سي اودلوستونکو دزحمت باعث سي، نو ځکه دعلماؤ دډېری استفادې دپاره څه دداسې کتابونو اورسالو ذکر کوم که څوک وغواړي چې ډېره استفاده وکړي نودغه لاندنی کتابونوته دي مراجعه وکړي، ډېر معلومات حاصله ولای سي داځکه چې په دغوکی دهرمذهب دعلماؤ کتابونه اورسالی سته خصوصا دحنفی مذهب:

١- الدلائل الواضحات على تحريم المسكرات والمفترات للشيخ حمود التويجرى.

٢- التدخين مادته وحكمه فى الاسلام) للشيخ عبد الله بن جبرين.

٣- التدخين مادة وحكمها، للشيخ ابوبكر جابر الجزائرى.

۴- حكم الاسلام فى التدخين على ضوء الطب والدين، للشيخ محمد جميل زينو.

۵- تقييد للشيخ الفقيه الصوفى عبدالمجيد بن على المنالى الشهير بالزبادى.

۶- الدليل والبرهان على تحريم شجرة الدخان للشيخ عبد الرحمن بن احمد الفنامى.

٧- نصيحة الاخوان باجتناب الدخان لامام المالكية الشيخ ابراهيم اللقانى.

٨- رشق السنان فى نحراخوان الدخان للفقيه العالم عبد الكريم بن محمد عبد الكريم.

٩- تقييد للخطيب ابى مالك عبد الواحد ابن الفقيه ابى عبد الله محمد البوغانى، جمع فيه فتاوى مشاهير العلماء الذين صرحوا فيه بتحريم شرب الدخان.

١٠- تحقيق البرهان فى شان الدخان الذى يشربه الناس الان للعالم العلامة الشيخ مرعى بن يوسف الكرمى المقدسى الحنبلى

١١- حكم التدخين وتعاطى المفترات والمخدرات، للشيخ الاسلام ابى المواهب جعفر بن ادريس الكتانى الحسينى.

١٢- رسالة فى تحريم الدخان: للعلامة الشيخ عمر مفتى عنيتاب.

١٣- رسالة فى حكم شرب الدخان. للشيخ محمد المرعشى المدعو (بسلجاقى زاده)

١٤- سؤال وجوابه فى شرب الدخان: للعلامة نوح افندى بن مصطفى الرومى الحنفى.

١٥- الصلح بين الاخوان فى حكم اباحة الدخان: للشيخ عبد الغنى بن اسماعيل النابلسى.

١٦- تنبيه الغفلان فى منع شرب الدخان: لمحمد بن على الجمال المغربى المالكى الازهرى.

١٧- رسالة فى تحريم الدخان: للعلامة عبدالملك بن جمال العصامى ابن صدر الدين ابن عصام الدين الاسفرائى المالكى.

١٨- رسالة فى الدخان: للعلامة ناصرالدين ابراهيم بن ابراهيم بن حسن اللقانى المالكى.

١٩- غاية الكشف والبيان فى تحريم شرب الدخان: لسليمان بن محمد بن محمد بن ابراهيم الفلانى المالكى. اتى فيه بالادلة القاطعة للريب، الناطقة بتحريمه بدون الشك ولاريب.

٢٠- نصيحة الاخوان باجتناب شرب الدخان اويترك مالايحل شربه من الدخان: للعلامة برهان الدين ابراهيم بن ابراهيم بن الحسن بن على بن عبدالقدوس اللقانى المالكى المصرى. وقدكان رضى الله عنه يجتنب اماكن هذا الدخان ولايحضر مواضع شربه حسب مادلت عليه رسالته المذكورة.

٢١- قمع الشهوة عن تناول التنباك: للسيد علوى بن احمد بن عبدالرحمن السقاف الشافعى.

٢٢- الادلة الحسان فى بيان تحريم الدخان: لمحمود بن سلامة بن حسن الراضى المالكى.

٢٣- مسالة فى حكم بيع الدخان: للشيخ محمد حمزة الكوز الحصارى الحنفى.

٢٤- ترويح الجنان بتشريح حكم شارب الدخان: لابى الحسنات محمد عبدالحى اللكنوى الحنفى الهندى.

٢٥- زجر ارباب الريان عن شرب الدخان: لابى الحسنات محمد عبدالحى اللكنوى الحنفى الهندى.

٢٦- رسالة فى خطر الدخان: لمحمد الخادمى.

٢٧- تبصرة الاخوان فى بيان اضرار التبغ المشهور بالدخان: لمحمد بن عبدالله الطرابشى الحنفى الشهير بالمسوتى.

٢٨- منظمة عقود الجواهر الحسان فى بيان حرمة التبغ المشهور بالدخان. لمحمد بن عبدالله الطرابشى الحنفى الشهير بالمسوتى.

٢٩- الايضاح والتبيين فى حرمة التدخين. لمحمد بن عبدالله الطرابشى الحنفى الشهير بالمسوتى.

٣٠- رسالة فى تحريم الدخان: للشيخ ابراهيم الواعظ.

٣١- رسالة فى التتن والقهوة: للشيخ عبد الغنى النابلسى.

٣٢- رسالة فى تحريم التنباک بالظن ظنا وكراهته بالقطع قطعا: للشيخ ابى سهل محمد بن ملا على الواعظ المفتى الحنفى.

٣٣- هدية الاخوان فى شجرة الدخان: للسيد محمد مرتضى الزبيدى.

٣٤- المنباک فى شرب التنباک: للسيد محمد عبد الرسول البرزنجى.

٣٥- تحفة النساک فى شرب التنباک: للسيد عبد الرحمان بن سليمان بن يحى بن عمر بن مقبول الهدل اليمنى.

٣٦- تحفة ذوى الادراک فى المنع من التنباک: للشيخ محمد بن على بن علان الصديقى المكي الشافعى.

٣٧- تنبيه ذوى الادراک بحرمة تناول التنباک: للشيخ محمد بن على بن علان الصديقى المكى الشافعى.

٣٨- رسالة فى الدخان: لشعبان بن اسحاق الاسرائيلى الشهير بابن حافى المتطب.

٣٩- رسالة فى حكم الدخان: لحسين بن اسكندر. ۴۲- حكم استعمال الدخان: لابى الوفا بن عمر بن عبدالوهاب العرضى.

٤٠- رسالة فى شرب الدخان: لمحمود بن عبدالرحمن العلائيوى.

٤١- رسالة فى مص الدخان: لمحمد امين بن ابراهيم الكركوكي .۴۵- الرسالة الدخانية: لاحمد بن محمد الاقحصارى الشهير بالرومى الحنفى.

٤٢- رفع الاشتباک عن تناول التنباک: لعبد القادر بن محمد بن يحيى الحسينى الطبرى المكي الشافعى.

٤٣- رسالة فى تحريم الدخان: لابى الحسن المصرى.

٤٤- ارجوزة فی حرمة التدخين: لعيسى الشهاوی.

٤٥- اجوبة اجتناب الدخان: لاحمد بن محمد المقری (صاحب نفح الطيب)

٤٦- رسالة فی شرب الدخان: لسعيد بن منصور السالمی المالکی.

٤٧- رسالة فی شرب الدخان: لسليمان اليوراری.

٤٨- رسالة فی تحريم الدخان: لعبد القادر الراشدی.

٤٩- رسالة فی تحريم الدخان: للشيخ خالد المکی مفتی مکة المکرمة.

٥٠- رسالة التبغ والتنفير منه: للشيخ عبدالکبير بن محمد عبدالواحد الکتانی المالکی.

٥١- صرف الريح النتن عن مستعمل التتن: لداود سليمان البغدادی النقشبندی الخالدی الحنفی.

٥٢- ارجوزة فی التحريم: للشيخ الامام العلامة النسابة ابی عبدالله محمد بن الطيب بن عبدالسلام القادری الحسنی المغربی الفاسی.

٥٣- الدليل والبرهان علی تحريم شجرة الدخان: للعلامة ابی زيد عبدالرحمن بن احمد الکتامی الشاوی المالکی.

٥٤- رسالة فی التحريم: للعلامة الصالح المدرس النفاع لبی حامد العربی بن سيد الهاشمی، وقال: هی سم وقدنص الاطباء علی ان الادخنة کلها مضرة، فينتج علی هذا أن کل مضر حرام. (١)

که په پورته ذکرسوی کتابونو کې فکروسی نومعلومیږی چې دمختلفو مذهبونو او وختونو علماؤ په خپلو کتابونو اورسالوکې دتباکو اودهغه څخه جوړسوی شیانو پر حرمت باندې اتفاق کړی دی، اودغه تقریبا داسلامی امت

١- تحقيق البرهان فی شان الدخان الذی يشرب الآن.

اجماع بلل کیږي، نوثابته سوله چې دنورو دلائلو نه علاوه په اجماع هم حرام دی، داسلامي فقهی داصولو مطابق اجماع دلیل قطعي دی.

حرام ته حلال ویونکې زندیق دی

داسلامي شریعت داصولو اوفقهاؤ اوعلماؤ په اقوالو ثابته سوله چې هرشی نشه لري هغه حرام دی په هرنامه چې وی خمر اودهغه مختلف قسمونه اونومان وی، افیون یادهغه څخه جوړسوی هیروین اوداسې نوروی، چرس، تباکو اودهغوی څخه جوړسوی شیان وی نودپورته ذکرسوی ټول تحقیق په استدلال حرام دی، اوحرام په خپل منځ کې درجی نه لري، یعنی داسې نه چې څه پکښی مکروه، مباح اویاحلال ورته وویل سی لکه داچې خاص اوعوام خلګ په حرامو اخته دی خو د خپل ځان دپاره یوه بهانه پیداکوی او وایی دغه مباح اویامکروه دی، ځکه موږ مخکی ولوستل چې دحلال اوپاک نه وروسته نسته مګرحرام اوخبیث دی «لَيْسَ بَعْدَ الحَلَالِ الطَّيِّبِ إِلاَّ الحَرَامُ الخَبِيثُ».

خودداسې کسانو په هکله هم داسلامي شریعت ډیر علماء اوفقهاء حکم کوی چې څوک حرام ته حلال وایی اویاددغه نشیی شیانوڅخه یوه ته حلال یامباح وایی هغه زندیق دی اوپرالله تعالی باندې دروغ وایی، اوپرالله تعالی باندې هغه څه وایی چې دی علم نه پرلري.

په دی هکله علامة عبدالرحمن الجزری په خپل کتاب کې داسې فرمایی:

۱- وقد سبق أن قلنا أن بعض علماء الحنفية قال: ان من قال بحل الحشيش زنديق مبتدع، واذا كان من يقول بحل الحشيش زنديقا مبتدعا فالقائل بحل شيئ من هذه المخدرات الحادثة التى هى اكثر ضررا واكبر فسادا زنديق مبتدع ايضا، بل أولى بأن يكون كذا لک.

۲- ومن قال بحل شيئ منها فهو من الذين يفترون على الله الكذب، اويقولون على

الله مالایعلمون. (۱)

ترجمة: اودامخکې موږ وویل چې څه دحنفي مذهب علماؤ ویلي دي (که چا وچرسو ته حلال وویل نوهغه زندیق اوبدعت کونکې دی، نوچې وچرسو ته حلال ویونکې زندیق اومبتدع دی، نو ودغه نورو نوی پیداسوی نشیي شیانوته چې حلال وایي هغه په اولی درجه سره زندیق اومبتدع دی ځکه ددوی ضررونه ترچرسو ډیر زیات دی.

۲- څوک چې ددغو شیانو څخه ویوه ته هم حلال ووایي نودی دهغو کسانو څخه دی چې پر الله تعالی باندې دروغ تړي، اوپر الله تعالی باندې هغه څه وایي چې دی پرهغه علم نه لري.

ځکه حلال هغه دی چې الله تعالی اودهغه رسول صلی الله علیه وسلم ورته حلال ویلي وي، ځکه په حدیث کې راځي: عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَاسْتَظْهَرَهُ، فَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهِ الجَنَّةَ وَشَفَّعَهُ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ». (۲)

ترجمة: علی بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې قرآن کریم په حاضردماغی سره تلاوت کړي او دهغه حلال یې حلال وبلل اودهغه حرام یې حرام وبلل نوالله تعالی به دي جنت ته داخل کړي، اودلس داسې کسانو په حق کې به دده شفاعت قبول کړي چې ددوزخ مستحق وي.

په یوبل حدیث کې راغلي دي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا،» فَبَعَثَ اللَّهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ،وَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ، فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ – الحديث. (۳)

۱- فقه علی المذاهب الاربعة ج۵ ص۳۸ -- ۲- سنن الترمذی فضائل القرآن -- ۳- سنن ابی داود کتاب الاطعمة

ترجمة: ابن عباس رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چې دجاهلیت خلگو به (په خپل طبیعت) څه شیان خوړل او څه شیان به یې پرېښودل بد به یې گڼل، نو الله تعالی خپل نبی راولیږی او خپل کتاب یې رانازل کړی، او په هغه کې خپل حلال او حرام بیان کړله، نو کوم ته چې حلال ویل سوی دی هغه حلال او کوم ته چې حرام ویل سوی دی هغه حرام دی.

په یوبل حدیث کې راغلی دی: وَسَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، يَقُولُ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا كَالْمُوَدِّعِ، فَقَالَ: «أَنَا مُحَمَّدٌ النَّبِيُّ الأُمِّيُّ» قَالَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ «وَلَا نَبِيَّ بَعْدِي، أُوتِيتُ فَوَاتِحَ الْكَلِمِ وَخَوَاتِمَهُ وَجَوَامِعَهُ، وَعَلِمْتُ كَمْ خَزَنَةُ النَّارِ وَحَمَلَةُ الْعَرْشِ، وَتُجُوِّزَ بِي، وَعُوفِيتُ، وَعُوفِيَتْ أُمَّتِي، فَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا مَا دُمْتُ فِيكُمْ، فَإِذَا ذُهِبَ بِي، فَعَلَيْكُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ، أَحِلُّوا حَلَالَهُ، وَحَرِّمُوا حَرَامَهُ». (۱)

ترجمة: عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې راووتی لکه رخصت چې اخلی، نو وی ویل چې زه محمد نبی امی یم او دغه جمله یې دری واره وویل، او تر ما وروسته بل نبی نسته، او ما ته دخبرو فواتح، خواتم او جوامع راکول سوی دی، او ما تاسو ته ددوزخ خزانچیان او دعرش اخستونکې دروښودل، او په ما سره تاسو شی ته جایز وایاست، او زما امت ته عافیت ورکول سوی دی، زما خبره اوری او زما اطاعت کوی تر څو چې زه ستاسو په منځ کې یم، او کله چې په ما باندې بلی دنیا ته تلل وسی نو پر تاسو لازم ده چې دالله تعالی په کتاب پوری منگولی ولگوی او دهغه حلال حلال وبولی او دهغه حرامو ته حرام ووایاست.

نو دغه شیان خو دالله تعالی او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم دقول مطابق حرام دی ځکه دوی تول نشه لری او نشه کونکې شیان حرام دی، نو ځکه چې څوک

۱- مسند احمد کتاب المکثرین من الصحابة

حلال ورته وایي نوهغه پرالله تعالی باندې درواغ وایي یاهغه څه وایي چې دی پرهغه علم نه لري.

په دین کې احتیاط واجب دی

ددی نه علاوه داسلام په حکمونو کې په امرونو اونواهیوکې مسلمانان په احتیاط امرسوی دی اوفرمایي:

۱- عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الحَلَالُ بَيِّنٌ وَالحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَ ذَلِكَ أُمُورٌ مُشْتَبِهَاتٌ، لَا يَدْرِي كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ أَمِنَ الحَلَالِ هِيَ أَمْ مِنَ الحَرَامِ، فَمَنْ تَرَكَهَا اسْتِبْرَاءً لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ فَقَدْ سَلِمَ، وَمَنْ وَاقَعَ شَيْئًا مِنْهَا، يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَ الحَرَامَ، كَمَا أَنَّهُ مَنْ يَرْعَى حَوْلَ الحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللَّهِ مَحَارِمُهُ». (۱)

ترجمة: نعمان بن بشیر رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چې مادرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویلی: حلال ښکاره دی اوحرام ښکاره دی او ددوی په منځکې شبهه ناکه شیان دی، ډیرخلګ نه پوهیږی چې دحلال څخه دی که دحرام څخه دی، نوکه چادغه پریښودله نوده خپل دین اوعزت وساتی اودی سالم سو، اوکه څوک په دغوشیانو اخته سو نو نږدې ده چې دی په حراموکې ولویږی، لکه هغه چوپان چې خپل څاروی دکښت خواکې ګرځوی، څکه ګمان کیږی چې دغه دی وهغه کښت ته ورګډسی، خبراوسی چې بیشکه دهربادشاه دپاره یوکورغ یا حصارسوی ځای وی اوخبراوسی چې دالله تعالی کورغ یاحصارسوی ځای دده حرام کړه سوی شیان دی.

۲-عَنْ أَبِي الْحَوْرَاءِ السَّعْدِيِّ،قَالَ:قُلْتُ لِلْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: مَا حَفِظْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ:حَفِظْتُ مِنْهُ:«دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ».(۲)

۱- جامع الترمذی کتاب البیوع

۲- سنن النسائی کتاب الاشربة

ترجمة: ابی الحواری السعدی وایی: ما د حسن بن علی څخه پوښتنه وکړه چې تا د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څه یاد کړی دی. نو ده راته وویل: ما د ده څخه دغه زده کړی دی چې هغه پریږده چې تا په شک کې اچوی، او هغه واخله چې تا په شک کې نه اچوی.

۳- قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَدْهَمَ: الزُّهْدُ ثَلَاثَةُ أَصْنَافٍ فَزُهْدٌ فَرْضٌ وَزُهْدٌ فَضْلٌ وَزُهْدٌ سَلَامَةٌ فَالْفَرْضُ الزُّهْدُ فِي الْحَرَامِ وَالْفَضْلُ الزُّهْدُ فِي الْحَلَالِ وَالسَّلَامَةُ الزُّهْدُ فِي الشُّبُهَاتِ.(۱)

ترجمة: ابراهیم بن ادهم وایی: زهد پر دری ډوله دی: یو زهد فرض دی بل زهد فضل دی بل زهد سلامتیا ده، هغه زهد چې فرض دی هغه د حرامو څخه ځان ساتنه ده، او هغه زهد چې فضل دی هغه په حلالو کې دی، او هغه زهد چې سلامتیا ده هغه دا چې د شبهناکه شیانو څخه ځان وساتل سی.

د نشي په خلاف د جنګ کولو حکم سوی دی

دا چې نشه حرام، منکر او بد عمل دی نو د دی منع کول پر ټولو علماؤ حاکمانو او قدرت لرونکو مسلمانانو باندې د خپل توان په اندازه فرض واجب او سنت دی، ځکه که منع نسی که نن د بل په کور کې دی سبا د ده کور ته راځی او که نن د بل اولاد په اخته دی سبا د ده اولادونه او قریبانو ته هم راځی، او بل دا چې یو بد عمل د عالم او حاکم په مخکې کیږی او هغه یې نه منع کوی نو دا بیا د حلال حکم پیدا کوی، ځکه د فقه د اصولو د قانون مطابق د بیان په ځای کې سکوت کول عین بیان دی، همدا وجه ده چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حدیثونو د جملی څخه یو قسم بیان دی، یعنی چې یو کار د نبی علیه السلام په مخکې چا کړی وی

۱- حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ۱۰ ص ۱۳۷

اوهغه نه وی منع کړی نوهغه ته حدیث ویل کیږی اودلیل په ویل کیږی، اوداچې علماء دنبیانو وارثان دی اودوی ته دغه دین په میراث کې پاته سوی دی نو پر دوی فرض دی چې ددغه دین حفاظت وکړی په هره طریقه چې دی توان لری داسې نه چې دی هم په هغه ګناه ورسره اخته سی کوم چې نورګناه کاران یې کوی ځکه داسلام پیغامبر رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کوی اوفرمایی:

عَنْ دَيْلَمٍ الْحِمْيَرِيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا بِأَرْضٍ بَارِدَةٍ نُعَالِجُ فِيهَا عَمَلاً شَدِيدًا، وَإِنَّا نَتَّخِذُ شَرَابًا مِنْ هَذَا الْقَمْحِ نَتَقَوَّى بِهِ عَلَى أَعْمَالِنَا وَعَلَى بَرْدِ بِلَادِنَا، قَالَ: «هَلْ يُسْكِرُ؟» قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: «فَاجْتَنِبُوهُ» قَالَ: قُلْتُ: فَإِنَّ النَّاسَ غَيْرُ تَارِكِيهِ، قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَتْرُكُوهُ فَقَاتِلُوهُمْ». (۱)

ترجمة: دیلم حمیری وایی مادرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړله چې موږ په یخه منطقه کې یواوهلته ډیرسخت کارونه کوو اوموږ ددغه غنمو څخه شراب جوړه وو، ترڅو پرخپلو کارونو اویخ باندې قوی سو،نوده وویل ایا نشه لری ماورته وویل هو ، ده (ص) راته وویل نوپرهیز ځنی وکړی، دی وایی ماورته وویل خلګ یې نه پریږدی، ده وویل که نه یې پریږدی نو جنګ ورسره وکړی.

داسلام دین دټول انسانیت لپاره دی

بیشکه داسلام دین دټول انسانیت دپاره ددنیا اوآخرت ښیګڼی غوښتونکی اولارښود دی اوغواړی چې دانسانانو ددنیا اوآخرت ژوند محفوظ اودامن څخه ډکه فضاء کی وی، اوددی دپاره یې داسی زرین اصول وضع کړی دی چی دهغوی په رڼاکی انسان کولایسی چی دټولو هغو ضررونو څخه ځان وساتی کوم چی په دنیاکی دده نفس ، مال ، عقل ، اونسل ته ضرر رسوی، اوهم دارنګه دی دټولو هغو

۱- رواه سنن ابی داود کتاب الأشربة

اعمالو اوکارونو څخه منع کوی چی ده ته په آخرت کې دعذاب باعث گرځی ، ځکه داسلامی شریعت دمقاصدو څخه دمنافعو جلبول اودضررونو دفع کول دی، دمنافعو دجلب څخه دټول هغه څه رواوالی او دانسان لپاره دټولو هغوشیانو مسخر کیدل دی چې په مځکه کې دی ، ترڅو انسان دهغوی څخه نفع اوګټه واخلی ،لکه څرنګه چې الله تعالی په خپل عظیم کتاب قرآن مجید کې فرمایی: هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا. سورة البقرة آیت ۲۹

ترجمة: الله هغه ذات دی چی پیداکړی دی تاسی ته ټول هغه شیان چی په مځکه کی دی. یعنی الله تعالی تاسو پیداکړی یاست اوستاسو دبقاء او هوساینی لپاره ئی په مځکه کی هرډول شیان ډیر زیات پیداکړل لکه دخوړلو، چیښلو، اغوستلو، سپریدلو، اوداسی نور نعمتونه چی تاسو دهغوی څخه بالواسطه یابلا واسطه استفاده وکړی.

دهمدغه آیت دمفهوم څخه فقهاؤ رحمة الله تعالی علیهم یوه لویه قاعده جوړه کړی ده چې وایی : په ټولوشیانوکې اصل اباحت دی خوحرمت عارضی راځی یعنی په اصل کی ټول شیان حلال اورروادی خوحرمت عارضی یعنی دیو دلیل لمخی راځی که په غور ورته وګورو نو ټول هغه څه چی حرام سوی دی په هغه ټولو کی دانسان لپاره په انسانی معاشره کی یاپه عقل، مال، جسم، نسل، ټولنه او داسی نورو کی ورته ضرر وی نو ځکه الله تعالی حرام کړی دی.

که په غور مطالعه وسی نونه یوازی داسلام دین بلکی دټولو الهی یا آسمانی شریعتونو د انسانیت اوانسانی ټولنی دحفاظت لپاره داسې قواعد، احکام اونظام وضع کړی دی چې دهغوی هدف دهرقسم ضررونو څخه دفرد، کورنی اواجتماع ساتنه اوحفاظت کول دی.

په اسلامي دين کې حيوان ته هم تکليف ورکول جائز نه دي

دمسلمانانو داسلامې عقيدې لمخې الله عزوجل دغه ښکلې دنيا يوازې مسلمانانو ته نه بلکې دټولو انسانانو داوسيدلو لپاره جوړه کړې ده داسې چې ټول انسانان دامن اخوت ورور ولۍ بشر دوستۍ په فضاء کې ژوند وکړي، نه يوازې انسانان بلکې پرحيوانانو باندې هم زور زياتۍ، جبر اوناحقي نه وي، ځکه دنبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه داسې روايت راغلی دی:

عَنْ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «عُذِّبَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ، لاَ هِيَ أَطْعَمَتْهَا وَسَقَتْهَا، إِذْ حَبَسَتْهَا، وَلاَ هِيَ تَرَكَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ».(١)

ترجمة: عبد الله رضی الله تعالی عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يوه ښځه ديوې پيشو په وجه په عذاب سوله چې بندي کړې وه ترڅو هغه مړه سوله، اوهغه ښځه ددې په وجه جهنم ته ولاړه ، ځکه هغه ښځې ودغه پيشو ته نه خواړه ورکول اونه ئې اوبه ورکولې اونه ئې پرېښودله چې دمځکې دانې ئې خوړلې وای.

لکه څرنګه چې ديوحيوان سره دبد سلوك په وجه يوڅوك دوزخ ته ځي همدارنګه دهغوی سره دښه سلوك په وجه يوڅوك جنت ته هم تلای سي ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم په يوحديث کې فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَيْنَا رَجُلٌ يَمْشِي، فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ العَطَشُ، فَنَزَلَ بِئْرًا، فَشَرِبَ مِنْهَا، ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا هُوَ بِكَلْبٍ يَلْهَثُ يَأْكُلُ

١- رواه مسلم كتاب البر والصلة والأدب

الثَّرَى مِنَ العَطَشِ، فَقَالَ: لَقَدْ بَلَغَ هَذَا مِثْلُ الَّذِي بَلَغَ بِي، فَمَلأَ خُفَّهُ، ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ، ثُمَّ رَقِيَ، فَسَقَى الكَلْبَ، فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ، فَغَفَرَ لَهُ "، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَإِنَّ لَنَا فِي البَهَائِمِ أَجْرًا؟ قَالَ: «فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ».(۱)

ترجمة : ابوهريرة رضى الله تعالى عنه روايت كوى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : چې يو سړى روان وو چې ډيره سخته تنده ورپيښه سوله، نو هغه يوڅاه ته كښته سو اوابه ئې وڅيښلې اوراپورته سو، نو يو سپى ئې وليدى چې ساه يې كښته پورته كيدله اودتندې څخه ئې خټې څټلې ، نوده خپل په زړه كې وويل چې دى هم داوخت داسې تږى دى لكه زه چې وم ، نودى بيرته څاه ته كښته سو اوخپله موزه ئې داوبو څخه ډكه كړله اوخپل په خوله ئې ونيوله اوراوختى، اوسپى ته ئې اوبه وركړې. نو الله تعالى ته دده دغه كار ډيرخوښ سو اوقبول يې كړى، اوده ته ئې بخښنه وكړله، نوصحابه كرامو پوښتنه وكړله چې اى دالله رسوله موږته پرڅارپايانو هم ثواب راكول كيږى ؟ نورسول الله صلى الله عليه وسلم وويل چې پرهر ژوندى شى باندې ثواب سته .

په يو بل حديث كې روايت سوى دى:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِيَّاكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا ظُهُورَ دَوَابِّكُمْ مَنَابِرَ، فَإِنَّ اللَّهَ إِنَّمَا سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُبَلِّغَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ، وَجَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فَعَلَيْهَا فَاقْضُوا حَاجَتَكُمْ».(۲)

ترجمة:ابوهريرة رضى الله تعالى عنه روايت كوى چې نبى عليه السلام وويل: تاسو خپلې سوارلۍ منبرونه مه جوړه وى (داسې چې پرسوارلى ناست اودچاسره خبرې كوى اوهغه ولاړه وى) بيشكه الله تعالى ستاسو لپاره مسخر كړى دى چې تاسو ديوه ځايه څخه بل ځاى ته ورسوى ، چې تاسو وهغه ځاى ته بيله تكليفه نه

۱- رواه البخارى كتاب المساقات ۲ رواه ابوداود كتاب الجهاد

سوای رسیدلای ، اومځکه ئی ستاسو لپاره گرځولی ده چی تاسو پرهغی خپل ضرورتونه پوره کړی.

دپورتنیوحدیثونوڅخه ثابت سوله چی دیو حیوان سره دظلم په وجه یوځوك دوزخ ته ځی اود یوتږی سپی داوبیدلو دعمل په وجه یوسړی وبخښل سواودجنت مستحق جوړ سو، سره ددی چی یو بل ځای کی دسپی دوژلو حکم سوی دی، خو بیاهم په تنده اولوږه ئی وژل جائز نه دی ، بل داچی دهغه سپی دوژلو حکم سوی دی چی ضرر رسوی ، ورنه دښکار اوحراست یعنی چوکیداری لپاره ئی ساتل جائز دی.

دیودین رسول چی دحیوانانو په هکله داسی هدایات امت ته کوی نود انسانانو په هکله خو تر دی هم زیات دضرر نه رسولو ټنگار سوی دی:

عَنْ أَبَانَ بْنِ صَمْعَةَ، حَدَّثَنِي أَبُوالْوَازِعِ، حَدَّثَنِي أَبُو بَرْزَةَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ عَلِّمْنِي شَيْئًا أَنْتَفِعُ بِهِ، قَالَ: «اعْزِلِ الأَذَى، عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ». (١)

ترجمة : برزة رضی الله تعالی عنه وای ما نبی علیه السلام ته وویل داسی عمل راوښیه چی زه نفع پرواخلم، نوده راته وویل دمسلمانانو دلاری څخه ضررناکه شیان لیری کوه.

بلکی رسول الله صلی الله علیه وسلم وخپل امت ته یوعام قانون داسی ورکړی دی ابن عباس رضی الله تعالی عنهما روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل : نه به څوك خپل ځان ته ضرر رسوی اونه به بلته ضرر رسوی.

نو ځکه خو ټول هغه څه چی انسان ته په جسم، عقل ، نسل اومال کی ضرر رسوی هغه ټول حرام کړل سوی دی:

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ لِلنَّاسِ: أَيُّ يَوْمٍ هَذَا؟ قَالُوا: يَوْمُ الحَجِّ الأَكْبَرِ، قَالَ: فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ

١= رواه صحیح مسلم کتاب البر والصلة والادب

وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، الحديث (۲)

ترجمة: عمرو بن احوص رضی الله تعالی عنه وايي مادرسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې دحج الوداع پرموقع يې خلګوته ويل: نن څه ورځ ده؟ هغوی ورته وويل: نن دحج اکبر ورځ ده، ده وويل: بيشکه ستاسو وينې، ستاسو مالونه اوستاسو عزت ستاسو په منځکې يوپربل داسې حرام دی لکه ستاسودِدې نن ورځې اوستاسو ددغه ښار په شان.

خاتمه

کومه موضوع چې مادبحث لپاره انتخاب کړې ده زما اول ځل دومره خيال نه ووچې دغه بحث به دومره وخت غواړي، اودومره به درازيږي خو کله چې ماپه بحث شروع وکړله نوديوی خوا دنه فراغ اونه خلاصون مسئله وه چې دمطالعې اوبل په کمپيوټر باندې دليکلو مسئله وه، اوبل دمطالعې په دوران کې دغه بحث دومره جالب وو چې هيڅ دخلاصون لاره نه پيداکيدله چې څنګه يې بس کړم، څکه دومره مهم وو چې تقريبا موږ ټوله خاص اوعام په دغه مشکل اخته معلوميدلو، اوبل داچې دحلال اوحرام مسئله وه اوموږ بيخې داباحت اوحلال درجه ورکړې وه.

که څه هم دشرابو، افيون، چرس، تباکو اونورو نشه کونکو شيانو څخه په پوره ډول بحث کول اودهغوی ضررونه اونقصانونه احاطه کول نه يوازې داچې زما دپاره دوسايلو دنه شتون په وجه مشکل وه بلکې دمضمون داوږدوالی باعث هم ګرځې دی، اوبل داچې دنشې ضررونه دهيچا څخه پټ نه دي زکه نشه دومره عامه سوی ده چې هيڅ عيب اوعار نه ګڼل کيږي، اوتقريبا هرخاص اوعام، حکومت او رعايت يې ټول په خپل کورنو، کليو، ښارونو، بازارونو اوکوڅوکې په عملی شکل

۱- رواه سنن الترمذی کتاب الفتن

وینی، اوداسې ځنې تیریږي لکه دغه انسانان چې بیخی زموږ دټولنې څخه نه وی اونه دالله تعالی مخلوق وی اونه موږ ددوی په هکله څه مسؤلیت لرو اونه زموږ څخه ددوی په هکله پوښتنل کیږو، که یوازې موږ دافیون،چرسو اوتباکو ضررونو ته نظروکړونوهم یومکمل کتاب ځنې جوړیږي.

دافیون دضررونو څخه چې موږ یې عام طور ټول وینو ډیر لوی اومهلک ضرر مند شی دی ځکه نه یوازې داچې دوی په خپله ډیره بده نشه لري بلکې نن ورځ دده څخه داسې هلاکونکې شیان جوړیږي چې دانسان دپاره ترزهرو ډیر بد او هلاکونکې دی،لکه هیروین،کوکاین، چنبه، ماروفین اوداسې نورچې کیدایسی زما دټولو نومونه یادنه وی، چې په ټولنه کې دهغه بربادی اوتباهی دهیچا څخه پټه نه ده، بلکې هرعالم اوجاهل یاپوه اوناپوه ټولوته په ښکاره ډول معلومه ده، کافران خوڅه که یې ډیرلیری نه ځوموږ په دغه خپله اسلامی نړي یاخپل ملک،ښار یاکلی، اوکورونوکې وګورو نوهم هغه څه وینو چې دلیدلواو زغم قابل نه دی، ډیرخلک داسې وینوچې دخپل مور، پلار،ماندینه اواولادونو څخه بی پروادی، بی لمانځه، روژه خور،حرام خور، اوغله چې دخپلې ښځې، مور اوپلار څخه هم غلاوی کوی، خیرینی جامی یالوڅ لغړ په کوڅواولاروکې ګرځی سوالونه کوی، دداسې کورنی، مور اوپلار،ښار اوکلی به څه حال وی؟ چې ددوی اولادونه په داسې حال کې وی، که موږ دغه حالت پرخپلوځانوعرض کړو ایاموږ دخپل کور یا اولادونودپاره داسې حال غواړو؟ هیڅ کله یې هم نه غواړو، نوچې دځان دپاره یې نه غواړې دبل دپاره یې څنګه غواړې؟ په داسې حال کې چې خپلوځانوته هم ډیر ټنګ مسلمان وایو، حال داچې داسلام رسول محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم خپل مسلمان امت ته داسې هدایت کوی اوفرمایی:

عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ مَا

يُحِبُّ لِنَفْسِهِ». (۱)

ترجمة: انس رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ستاسو څخه یوڅوک ترهغو (کامل) مومن نسی کیدلای ترڅو هغه څه چې دخپل ځان دپاره خوښ بولی هغه دخپل ورور دپاره هم خوښ وبولی.

په بل حدیث کې فرمایی:

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ مَايُحِبُّ لِنَفْسِهِ مِنَ الْخَيْرِ».(۲)

ترجمة: انس رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زمادی په هغه ذات قسم وی چې دمحمد (ص) نفس دهغه په لاس اوقدرت کې دی، ستاسو څخه یوڅوک ترهغو (کامل) مومن نسی کیدلای ترڅو هغه څه چې دخپل ځان دپاره خوښ بولی هغه دخپل ورور دپاره هم خوښ وبولی.

په بل حدیث کی فرمایی:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ أَوْ قَالَ لِجَارِهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ». (۳)

ترجمة: انس رضی الله تعالی عنه روایت کوی چې نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ستاسو څخه یوڅوک ترهغو (کامل) مومن نسی کیدلای ترڅو هغه څه چې دخپل ځان دپاره خوښ بولی هغه دخپل ورور اویاداسې وویل دخپل همسایه دپاره هم خوښ وبولی.

۱- رواه صحیح البخاری کتاب الایمان

۲- سنن النسائی کتاب الایمان

۳- سنن ابن ماجة کتاب المقدمة

په بل حديث کې فرمايي:

عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ، وَيَدِهِ». (١)

ترجمة: عبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنه روايت کوی چې نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل: مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان دده دژبې اولاس څخه په امن اوسالم وی.

اوپه بل حديث کې دعامو انسانانو په هکله فرمايي:

عَنْ سَهْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّ السَّالِمَ مَنْ سَلِمَ النَّاسُ مِنْ يَدِهِ، وَلِسَانِهِ». (١)

ترجمة: سهل دخپل پلارڅخه روايت کوی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: سلامتی غوښتونکې هغه دی چې خلګ دده دلاس اوژبې څخه په امن وی په دغه حديث کې دعام انسان ذکرسوی دی، بل حديث کې تردی نه هم تعميم کوی او فرمايي: نه به خپل ځانته ضرر رسوی اونه به بل ته ضرر رسوی.

پښتنو ددغه خلاصه په پښتو کی داسې جوړه کړی ده (بنده راسه دخدای خپل سه - لکه پرځان داسې پربل سه.

دپورته ذکرسوی ټولونبوی تعليماتو سره بياهم اسلامی ټولنه اودمسلمانانو اولادونه دومره خواراوذليل ولی دی؟ چې يوازی دکوټی داکسپريس ورځپاڼی تاريخ (٢٠١٣\١١\١٨ ميلادی) درپوټ دمخی دکوټی دښار په يوه مورداره ويااله کې، دمنشياتو دکنټرول پوليسوپه يوه ورځ ٢٥٠ نشه کونکې خلګ ونيول او ورسره يې دوه هيروين پلورونکې خلګ هم ونيول، ورځپاڼه ليکې چې تردغه يوه ورځ مخکې هم پوليسو ٣٠٠ هيروين استعمال کونکې ونيول چې ددی سره ديوی

١- صحيح البخاری کتاب الايمان

مرداری ویالی نشه کونکو تعداد پنځنیم سوه ته رسیږي، نوددی په شان دکوټي په ښار کې په لس ګونو مرکزونه نورهم سته، ددی خلګو تصویرونه هم په ورځپاڼه کې چاپ سوی دی،چې دغه یوازی دکوټی دښارحال دی چې ترنورو ښارونو ډیر وړوکې دی.

دهمدغه اخبار په حواله دکراچي په ښارکې دهیروینو په نشه اخته کسانو تعداد شل لکه (دوه ملیونه) ته رسیږي چې دورځی دیرش زره کیلو هیروین څکوی.

دجیوتلویژن درپوټ دمخی چې په ۲۱- ۱- ۲۰۱۴ تاریخ نشرسو په هغه کې ویل سوی دی چې په پاکستان کې تقریبا (۹۰) لکه انسانان نارینه اوښځی دهیروینو په نشه اخته دی، چې هغوی هغه مرحلې ته رسیدلی دی چې نورنو دوی ددنیا دهری فایدی وتلی دی نه په اولادونو اوکورنی پوهیږي، اونه په خپل مور اوپلار، اوټول ددوی څخه بیزاره، اوددوی حالت دهیچاڅخه پټ نه دی دټولنه عالم اوجاهل ښه اوبد ددوی ننداره په هروختکې کولای سی، اوهریودغه نمونه په خپل کلي اوښارکې ننداره کولای سی، اوهر با ضمیره انسان دافیصله کولایسی چې دغه خلګ نور دانسانیت دهرصفت څخه خالي اوپرکورکلی باندې یوبوج اودټولنی اومعاشری دپاره عذاب دی،کوم چې دغې مرحلې ته نه دی رسیدلی دهغوی شمیره خوتردی څوچنده زیاته کیدایسی.

دغه کسان چې ددغه شیانو دحلال والی حکمونه ورکوی اوهغه کسان چې دغه کاروبار کوی خپل کورونه اولادونه نه لری؟ ایا دی داسې فکرنه کوی چې دده خپل اولادونه به هم په دغه غم اخته سی اوبیابه دی هم دهغو دردمنو کورنیو په شان سی کوم چې دده دلاسه په غم تکلیف اخته دی.

هرڅوک پوهیږي چې افیون، هیروین، چرس اوداسې نور هلاکونکې نشیی

۱- مسند امام احمد بن حنبل

شیان دبله ځایه نه دی راغلی بلکې دافیون څخه جوړیږی، نوکه موږ دیو مسلمان په حیث دمسمانانو پر دغه بربادی باندې خوښ یو نوبیشکه دغه کار ترهغو حلال بولو اوکووبه یې ترڅوالله تعالی دی نه کوی چې زموږ خپل کورونه اواولادونه هم په اخته سی نوموړته به خپله درد معلوم سی، ځکه ویل کیږی: څوک چې بلته کوهی کاږی نودی به خپله پکښی لویږی.

اوکه زموږ په زړونو کې دالله تعالی لږڅه بیره اوپرمسلمانانو رحم وی نو خپله به هم دداسې هلاکو نکې شی دکښت، اوتجارت څخه لاس واخلو اونور به هم ځنی منع کړو ځکه همدغه دمسلمان خاصیت دی چې الله تعالی په قرآن کریم اونبی کریم صلی الله علیه وسلم په حدیثونوکې بیان کړی دی.

په اسلام کې ډیرحلال اومباح شیان سته چې دهغوی داستعمال څخه منع راغلی ده په دی وجه چې هغوی دحرامو ذریعه جوړیږی، لکه داچې انګور به پرهغه چانه خرڅوی چې نشه ځنی جوړه وی، لکه څرنګه چې زنا حرامه ده همدارنګه زناته دعوت کونکې شیان لکه مچه اوداسې نورهم حرام دی، اوداسې نورمثالونه چې په همدغه کتاب کې ذکرسوی دی، اودغه ته فقهاؤ دلاری دبندی دلو ذریعه ویلی دی، اوداصول فقه علماؤ ورته قبیح لغیره ویلی دی.

راځی دهغه لوی اوبر حق داعی رسول، رحمة للعالمین، شفیع المذنبین او خاتم النبین داسی داعی امت جوړسو چی دغه سپیڅلی اومبارک دین وټول دنیاته که نه سو کولای په خپلوکورونو اوټولنه کی خپورکړو، اودداغه رسول په حق سره ددین دعوت وارثان جوړسو ځکه همدغه رسول موږته امرکړی او فرمایی: (بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْآيَــةً) اوخپل دخیرامة ثبوت ورکړو چی په رشتیاهم موږ دټولو امتونو خیر یو، ځکه زموږ خیروالی همدادی چی خپله په دین عمل وکړو اوبل ته یی ورسوو، داسی نه چی موږ ددین دپاره نشه اویا دنشی کاروبار نسو پریښودلای،

یاداچې ددین دپاره نسوار یاسګریټ نسو پرېښودلای.

اوراخې چې په آخرکې درب العالمین لوی بخښونکې اومهربانه ذات په دربارکې ددعا اوامید لاسونه پورته کړو (ای الله موږ ټول ستا پیداکړی مخلوق او بندګان یو یوازې ته زموږ رب اوخالق یې، اوته رحیم اورحمان یې، اوپرهرڅه عالم او قادر یې، خپل دلوی رحمت په خاطر موږ پرهغه حقه لاره برابر کړې چې ته په راضي کیږې، اوموږ دشراوفساد دخپرولو څخه وساتې،اوموږ ټول ستارشتونی بندګان جوړ کړې ترڅو ستادرحمت اهل وګرځو، اوموږ ټول دهغو بدو عملنو څخه وساتې چې ته په ناراض کیږې، اوخاص موږ دنشې دعادت څخه وژغورې، هغه نشه چې دټولو بدیو اوشرونو کلی ده. آمین یارب العالمین

لیکونکې: مولوی مطیع الله (عائل)

تاریخ: ۲۹ رمضان ۱۴۳۶ هجری، موافق: ۱۷ جولای ۲۰۱۵ میلادی

ماخذونه

١	القرآن الكريم
٢	تفسيرالجامع لأحكام القرآن (القرطبي) المؤلف: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي , (المتوفى: ٦٧١هـ) الناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة , الطبعة: الثانية، ١٣٨٤هـ – ١٩٦٤ م عدد الأجزاء: ٢٠ جزءا (في ١٠ مجلدات)
٣	التفسيرمفاتيح الغيب (الكبير) المؤلف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري , (المتوفى: ٦٠٦هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت , الطبعة: الثالثة – ١٤٢٠ هـ
٤	التفسير الوسيط للقرآن الكريم: المؤلف: محمد سيد طنطاوي الناشر: دار نهضة مصر للطباعة والنشر والتوزيع، الفجالة – القاهرة الطبعة: الأولى, تاريخ النشر: أجزاء ١٥
٥	تفسير المراغى: المؤلف: أحمد بن مصطفى المراغي (المتوفى: ١٣٧١هـ) الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابى الحلبي وأولاده بمصر الطبعة: الأولى، ١٣٦٥ هـ – ١٩٤٦ م , عدد الأجزاء: ٣٠
٦	تفسير روح البيان المؤلف: إسماعيل حقي بن مصطفى الإستانبولي الحنفي الخلوتي , المولى أبو الفداء (المتوفى: ١١٢٧هـ) الناشر: دار الفكر – بيروت

٧	تفسير أنوار التنزيل وأسرار التأويل (البيضاوي) المؤلف: ناصر الدين أبو سعيد عبد الله بن عمر بن محمد الشيرازي البيضاوي (المتوفى: ٦٨٥ هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت ، الطبعة: الأولى - ١٤١٨ هـ
٨	تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان المؤلف: عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله السعدي (المتوفى: ١٣٧٦هـ) الناشر: مؤسسة الرسالة, الطبعة: الأولى ١٤٢٠هـ -٢٠٠٠ م , عدد الأجزاء: ١
٩	تفسير: لباب التأويل في معاني التنزيل المؤلف: علاء الدين علي بن محمد بن إبراهيم بن عمر الشيحي أبو الحسن، المعروف بالخازن (المتوفى: ٧٤١هـ) الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت،الطبعة: الأولى - ١٤١٥هـ
١٠	تفسير القرآن العظيم (ابن كثير) المؤلف: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: ٧٧٤هـ) الناشر: دار طيبة للنشر والتوزيع , الطبعة: الثانية ١٤٢٠هـ ١٩٩٩ م عدد الأجزاء: ٨
١١	لباب النقول في أسباب النزول المؤلف: عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى: ٩١١هـ) الناشر: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان , عدد الأجزاء: ١

١٢	تفسيرجامع البيان في تأويل القرآن المؤلف: محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (المتوفى: ٣١٠هـ) الناشر: مؤسسة الرسالة , الطبعة: الأولى، ١٤٢٠ هـ - ٢٠٠٠ م عدد الأجزاء: ٢٤
١٣	روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني المؤلف: شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي (المتوفى: ١٢٧٠هـ) الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت , الطبعة: الأولى، ١٤١٥هـ عدد الأجزاء: ١٦ (١٥ ومجلد فهارس)
١٤	أسباب نزول القرآن المؤلف: أبو الحسن علي بن أحمد بن محمد بن علي الواحدي، النيسابوري، الشافعي (المتوفى: ٤٦٨هـ) , الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت الطبعة: الأولى، ١٤١١ هـ عدد الأجزاء: ١
١٥	تفسير القرآن العظيم (ابن كثير) المؤلف: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي المتوفى: ٧٧٤هـ) الناشر: دار طيبة للنشر والتوزيع , الطبعة: الثانية ١٤٢٠هـ ١٩٩٩ م. عدد الأجزاء: ٨

١٦	القران الكريم: (تفسير كابلي) ترجمة اوتفسيره په پشتو ژبه كى المترجم: پښتو ټولنه كابل افغانستان الناشر: مجمع ملک فهد للمصحف المدينة المنورة المملكة العربية السعودية الطبعة: الاولى، بدون تاريخ , عدد الأجزاء:٢
١٧	التفسير المظهري المؤلف: المظهري، محمد ثناء الله الناشر: مكتبة الرشدية – الباكستان , الطبعة: ١٤١٢هـ
١٨	مسند الإمام أحمد بن حنبل المؤلف: أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى:٢٤١هـ) الناشر: مؤسسة الرسالة, الطبعة: الأولى، ١٤٢١ هـ ٢٠٠١ م
١٩	تفسير أنوار التنزيل وأسرار التأويل (البيضاوي) المؤلف: ناصر الدين أبو سعيد عبد الله بن عمر بن محمد الشيرازي البيضاوي (المتوفى:٦٨٥ هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت, الطبعة: الأولى – ١٤١٨ هـ
٢٠	تفسير: لباب التأويل في معاني التنزيل المؤلف: علاء الدين علي بن محمد بن إبراهيم بن عمر الشيحي أبو الحسن، المعروف بالخازن (المتوفى: ٧٤١هـ) المحقق: تصحيح محمد علي شاهين الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت الطبعة: الأولى – ١٤١٥هـ

ماخذونه

٢١	روائع البيان تفسير آيات الأحكام المؤلف: محمد علي الصابوني الناشر: مكتبة الغزالي – دمشق، مؤسسة مناهل العرفان – بيروت الطبعة: الثالثة، ١٤٠٠ هـ – ١٩٨٠ م عدد الأجزاء: ٢
٢٢	صفوة التفاسير المؤلف: محمد علي الصابوني الناشر: دار الصابوني للطباعة والنشر والتوزيع – القاهرة الطبعة: الأولى، ١٤١٧ هـ – ١٩٩٧ م , عدد الأجزاء: ١
٢٣	الوجيز في تفسير الكتاب العزيز المؤلف: أبو الحسن علي بن أحمد بن محمد بن علي الواحدي، النيسابوري، الشافعي (المتوفى: ٤٦٨هـ) دار النشر: دار القلم , الدار الشامية – دمشق، بيروت الطبعة: الأولى، ١٤١٥ هـ عدد الأجزاء: ١
٢٤	تفسير فتح القدير للشوكاني المؤلف: محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني (المتوفى: ١٢٥٠هـ) الناشر: دار ابن كثير، دار الكلم الطيب – دمشق، بيروت الطبعة: الأولى – ١٤١٤ هـ

ماخذونه

٢٥	تفسير الماتريدي (تأويلات أهل السنة) المؤلف: محمد بن محمد بن محمود، أبو منصور الماتريدي (المتوفى: ٣٣٣هـ) الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان الطبعة: الأولى، ١٤٢٦ هـ - ٢٠٠٥ م, عدد الأجزاء: ١٠
٢٦	مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية, المتوفى: ٧٥١هـ) , الناشر: دار الكتاب العربي - بيروت الطبعة: الثالثة، ١٤١٦ هـ - ١٩٩٦م , عدد الأجزاء: ٢

٢٧ الخيرات الحسان (فى مناقب الامام الاعظم ابى حنيفة النعمان)

المؤلف: للعلامة النبيل والشيخ الجليل مفتى الحجاز: شهاب الدين أحمدبن حجر الهيثمى المكى الشافعي.

(المتوفى: ٩٧٤هـ)

الناشر: مطبعة المدنى, المؤسسة السعودية, بمصر القاهرة

الطبعة: الأولى ١٤١٥هـ عدد الأجزاء:١

٢٨	صحيح البخاري: المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي) الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ عدد الأجزاء: ٩

٢٩	صحيح مسلم:المؤلف مسلم بن الحجاج أبوالحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: ٢٦١هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي بيروت, عدد الأجزاء: ٥
٣٠	الجامع الكبير سنن الترمذي: المؤلف: محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (المتوفى: ٢٧٩هـ) الناشر: دار الغرب الإسلامي بيروت سنة النشر: ١٩٩٨ م عدد الأجزاء: ٦
٣١	سنن ابن ماجة: المؤلف: ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، وماجة اسم أبيه يزيد (المتوفى: ٢٧٣هـ) تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي الناشر: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي عدد الأجزاء: ٢
٣٢	سنن النسائي: المؤلف: أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي (المتوفى: ٣٠٣هـ) تحقيق: عبد الفتاح أبو غدة الناشر: مكتب المطبوعات الإسلامية حلب. الطبعة: الثانية، ١٤٠٦ - ١٩٨٦ عدد الأجزاء: ٩ (٨ ومجلد للفهارس)

٣٣	سنن أبي داود: المؤلف أبوداود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني , (المتوفى: ٢٧٥هـ) الناشر: المكتبة العصرية، صيدا بيروت, عدد الأجزاء: ٤
٣٤	مسند الدارمي: المعروف بـ (سنن الدارمي) المؤلف: أبو محمد عبد الله بن عبد الرحمن بن الفضل بن بَهرام بن عبد الصمد الدارمي، التميمي السمرقندي (المتوفى: ٢٥٥هـ) الناشر: دار المغني للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية الطبعة: الأولى، ١٤١٢ هـ ٢٠٠٠ م , عدد الأجزاء: ٤
٣٥	مسند الحميدي: المؤلف: أبو بكر عبد الله بن الزبير بن عيسى بن عبيد الله القرشي الأسدي الحميدي المكي (المتوفى: ٢١٩هـ) الناشر: دار السقا، دمشق – سوريا, الطبعة: الأولى، ١٩٩٦ م عدد الأجزاء: ٢
٣٦	صحيح ابن خزيمة: المؤلف: أبو بكر محمد بن إسحاق بن خزيمة بن المغيرة بن صالح بن بكر السلمي النيسابوري (المتوفى: ٣١١هـ) المحقق: د. محمد مصطفى الأعظمي الناشر: المكتب الإسلامي – بيروت, عدد الأجزاء: ٤

٣٧	شرح معاني الآثار : المؤلف: أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف بالطحاوي (المتوفى: ٣٢١هـ الناشر: عالم الكتب, بيروت, لبنان الطبعة: الأولى:١٤١٤ هـ، ١٩٩٤ م , عدد الأجزاء: ٥ (٤ وجزء للفهارس)
٣٨	الإحسان في تقريب صحيح ابن حبان المؤلف: محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفى:٣٥٤ هـ) الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٠٨ هـ - ١٩٨٨ م, عدد الأجزاء: (جزء ومجلد فهارس)
٣٩	موطأ الإمام مالك المؤلف: مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني (المتوفى: ١٧٩هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي، بيروت - لبنان عام النشر: ١٤٠٦ هـ - ١٩٨٥ م , عدد الأجزاء: ١
٤٠	زاد المعاد في هدي خير العباد المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١هـ) الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت - مكتبة المنار الإسلامية، الكويت الطبعة: السابعة والعشرون , ١٤١٥هـ /١٩٩٤م, عدد الأجزاء: ٥

٤١	المعجم الأوسط (للطبراني) المؤلف: سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: ٣٦٠هـ) الناشر: دار الحرمين – القاهرة, مصر, عدد الأجزاء: ١٠
٤٢	كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال المؤلف: علاء الدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان القادري الشاذلي الهندي البرهانفوري ثم المدني فالمكي الشهير بالمتقي الهندي (المتوفى: ٩٧٥هـ) الناشر: مؤسسة الرسالة, بيروت , لبنان الطبعة: الطبعة الخامسة، ١٤٠١هـ/١٩٨١م
٤٣	فتح الباري شرح صحيح البخاري المؤلف: أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي الناشر: دار المعرفة – بيروت، لبنان ١٣٧٩ هجرى, عدد الأجزاء: ١٣
٤٤	عمدة القاري شرح صحيح البخاري المؤلف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى , (المتوفى: ٨٥٥هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت عدد الأجزاء: ٢٥ × ١٢

٤٥	منار القاري شرح مختصر صحيح البخاري المؤلف: حمزة محمد قاسم الناشر: مكتبة دار البيان، دمشق - الجمهورية العربية السورية، مكتبة المؤيد، الطائف - المملكة العربية السعودية عام النشر: ١٤١٠ هـ - ١٩٩٠ م, عدد الأجزاء: ٥
٤٦	تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي المؤلف: أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المباركفورى (المتوفى: ١٣٥٣هـ) الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت، عدد الأجزاء: ١٠
٤٧	سبل السلام شرح بلوغ المرام سبل السلام المؤلف: محمد بن إسماعيل بن صلاح بن محمد الحسني، الكحلاني ثم الصنعاني، أبو إبراهيم، عز الدين، المعروف كأسلافه بالأمير (المتوفى: ١١٨٢هـ) الناشر: دار الحديث الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ , عدد الأجزاء: ٢
٤٨	سنن الدارقطني المؤلف: أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي الدارقطني (المتوفى: ٣٨٥هـ) الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت - لبنان , الطبعة: الأولى، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م , عدد الأجزاء: ٥

۴۹	الكتاب المصنف في الأحاديث والآثار المؤلف: أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي (المتوفى: ٢٣٥هـ) الناشر: مكتبة الرشد – الرياض , الطبعة: الأولى، ١٤٠٩ , عدد الأجزاء: ٧
۵۰	السنن الكبرى (للبيهقى) المؤلف: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي , (المتوفى: ٤٥٨هـ) , الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات الطبعة: الثالثة، ١٤٢٤ هـ – ٢٠٠٣ م
۵۱	المستدرك على الصحيحين (للحاكم) المؤلف: أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع , (المتوفى: ٤٠٥هـ) الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت الطبعة: الأولى، ١٤١١ – ١٩٩٠ عدد الأجزاء: ٤
۵۲	مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح المؤلف: علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاري (المتوفى: ١٠١٤هـ) الناشر: دار الفكر، بيروت – لبنان الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ – ٢٠٠٢م , عدد الأجزاء: ٩

٥٣	المنتقى شرح الموطإ المؤلف: أبو الوليد سليمان بن خلف بن سعد بن أيوب بن وارث التجيبي القرطبي الباجي الأندلسي (المتوفى: ٤٧٤هـ) الناشر: مطبعة السعادة - بجوار محافظة مصر الطبعة: الأولى، ١٣٣٢ هـ عدد الأجزاء: ٧
٥٤	المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت الطبعة: الثانية، ١٣٩٢, عدد الأجزاء: ١٨ (في ٩ مجلدات)
٥٥	عون المعبود شرح سنن أبي داود، ومعه حاشية ابن القيم: تهذيب سنن أبي داود وإيضاح علله ومشكلاته المؤلف: محمد أشرف بن أمير بن علي بن حيدر، أبو عبد الرحمن، شرف الحق، الصديقي، العظيم آبادي , (المتوفى: ١٣٢٩هـ) الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت الطبعة: الثانية، ١٤١٥ هـ , عدد الأجزاء: ١٤
٥٦	فتح القدير (فى الفقه الحنفى) المؤلف: كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (المتوفى: ٨٦١هـ) الناشر: دار الفكر الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ, عدد الأجزاء: ١٠

٥٧	البحر الرائق شرح كنز الدقائق المؤلف: زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري (المتوفى: ٩٧٠هـ) وفي آخره: تكملة البحر الرائق لمحمد بن حسين بن علي الطوري الحنفي القادري (ت بعد ١١٣٨ هـ) الناشر: دار الكتاب الإسلامي, الطبعة: الثانية - بدون تاريخ, عدد الأجزاء:٨
٥٨	المبسوط (للسرخسي) المؤلف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: ٤٨٣هـ) الناشر: دار المعرفة - بيروت الطبعة: بدون طبعة , تاريخ النشر: ١٤١٤هـ-١٩٩٣م ,عدد الأجزاء: ٣٠
٥٩	اللباب في شرح الكتاب المؤلف: عبد الغني بن طالب بن حمادة بن إبراهيم الغنيمي الدمشقي الميداني الحنفي (المتوفى: ١٢٩٨هـ) الناشر: المكتبة العلمية، بيروت - لبنان , عدد الأجزاء: ٤
٦٠	البناية شرح الهداية المؤلف: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: ٨٥٥هـ) الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان الطبعة: الأولى، ١٤٢٠ هـ - ٢٠٠٠ م , عدد الأجزاء: ١٣

٦١	الهداية في شرح بداية المبتدي المؤلف: علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ٥٩٣هـ) الناشر: دار احياء التراث العربي - بيروت - لبنان عدد الأجزاء: ٤
٦٢	الجوهرة النيرة علي مختصر القدوري المؤلف: أبو بكر بن علي بن محمد الحدادي العبادي الزَّبِيدِيّ اليمني الحنفي (المتوفى: ٨٠٠هـ) الناشر: المطبعة الخيرية الطبعة: الأولى، ١٣٢٢هـ , عدد الأجزاء: ٢
٦٣	النتف فى الفتاوى (الفقه الحنفى) المؤلف: أبو الحسن علي بن الحسين بن محمد السُّغْدي، حنفي (المتوفى: ٤٦١هـ) الناشر: دار الفرقان / مؤسسة الرسالة - عمان الأردن / بيروت لبنان الطبعة: الثانية، ١٤٠٤- ١٩٨٤
٦٤	الاختيار لتعليل المختار المؤلف: عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: ٦٨٣هـ) الناشر: مطبعة الحلبي - القاهرة (وصورتها دار الكتب العلمية - بيروت، وغيرها) تاريخ النشر: ١٣٥٦ هـ - ١٩٣٧ م , عدد الأجزاء: ٥

ماخذونه

٦٥	درر الحكام شرح غرر الأحكام المؤلف: محمد بن فرامرز بن علي الشهير بملا - أو منلا أو المولى - خسرو (المتوفى: ٨٨٥هـ) الناشر: دار إحياء الكتب العربية الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ, عدد الأجزاء: ٢
٦٦	بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع المؤلف: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ٥٨٧هـ) الناشر: دار الكتب العلمية الطبعة: الثانية، ١٤٠٦هـ - ١٩٨٦م , عدد الأجزاء: ٧
٦٧	مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر المؤلف: عبد الرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده, يعرف بداماد أفندي (المتوفى: ١٠٧٨هـ) الناشر: دار إحياء التراث العربي , الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ عدد الأجزاء: ٢
٦٨	اللباب في الفقه الشافعي المؤلف: أحمد بن محمد بن أحمد بن القاسم الضبي، أبو الحسن ابن المحاملي الشافعيّ (المتوفى: ٤١٥هـ) الناشر: دار البخارى، المدينة المنورة، المملكة العربية السعودية الطبعة: الأولى، ١٤١٦هـ عدد الأجزاء: ١

٦٩	فتح العزيز بشرح الوجيز = الشرح الكبير [وهو شرح لكتاب الوجيز في الفقه الشافعي لأبي حامد الغزالي (المتوفى: ٥٠٥ هـ)] المؤلف: عبد الكريم بن محمد الرافعي القزويني (المتوفى: ٦٢٣هـ) الناشر: دار الفكر
٧٠	المجموع شرح المهذب ((مع تكملة السبكي والمطيعي)) المؤلف: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـ) الناشر: دار الفكر
٧١	المغنى لابن قدامة المقدسى المؤلف: أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: ٦٢٠هـ) الناشر: مكتبة القاهرة, الطبعة: بدون طبعة عدد الأجزاء: ١٠, تاريخ النشر: ١٣٨٨هـ - ١٩٦٨م
٧٢	الكافى فى فقه الامام احمد بن حنبل المؤلف: أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: ٦٢٠هـ) الناشر: دار الكتب العلمية الطبعة: الأولى، ١٤١٤ هـ - ١٩٩٤ م , عدد الأجزاء: ٤
٧٣	كفا يت المفتى المؤلف: مفتى اعظم مفتى كفاية الله دهلوى (رحمه الله تعالى) الناشر: دار الاشاعة اردو بازار كراچى، پاكستان الطبعة: ٢٠٠١م , عدد الأجزاء:٩

٧٤	فتاوى حقانية: المؤلف: شيخ الحديث مولانا عبد الحق صاحب مهتمم دارالعلوم حقانية (رحمه الله تعالى) الناشر: دار العلوم حقانية، اکوړه خټک، پشاور، پاکستان الطبعة: الاولى، عدد الأجزاء: ٦
٧٥	فتاوى دارالعلوم ديوبند: المؤلف: مفتى اعظم مولانا عزيز الرحمن صاحب عثمانى(رحمه الله تعالى) الناشر: دار الاشاعة ، اردو بازار، ام-اى، جناح روډ كراچى ، پاكستان الطبعة: الاولى، عدد الأجزاء: ١٤
٧٦	احسن الفتاوى المؤلف: فقيه العصر مفتي اعظم مفتى رشيد احمد صاحب (رحمه الله تعالى) الناشر: اچ – ام – سعيد كمپنى، ادب منزل پاكستان چوک كراچى الطبعة: الحادى عشر عدد الأجزاء: ١٠
٧٧	امداد الفتاوى المؤلف: حكيم الامت مولانا اشرف على تهانوى (رحمه الله تعالى) ترتيب مولانا محمد شفيع (رحمه الله تعالى) مهتمم دارالوم كراتشي الناشر: مكتبة دارالعلوم، كراچى – پاكستان , عدد الأجزاء: ٦

٧٨	خيرالفتاوى المؤلف: مولانا خيرمحمد جالندهرى (رحمه الله تعالى) باهتمام: قارى محمد حنيف جالند هرى (حفظه الله تعالى) الناشر: مكتبة امدادية، ملتان ، پاكستان عدد الأجزاء: ۶
٧٩	شرح مختصر الطحاوى فى الفقه الحنفى المؤلف: للامام أبى بكر الرازى الجصاص , (المتوفى:٣٧٠هـ) الناشر: دارالبشائر الاسلامية – بيروت، لبنان) تاريخ النشر: الطبعة: الأولى،١٤٣١ هـ - ٢٠١٠م , عدد الأجزاء:٨
٨٠	الهدية العلائية: لتلاميذ المكاتب الابتدائية (فى الفقه الحنفى) المؤلف: محمد علاء الدين بن محمد أمين عابدين الدمشقى الحنفى (المتوفى:١٣٠٦هـ ١٨٨٨م الناشر:الجفان الجابي, للطباعة ولنشر,بعناية بسام عبد الوهاب الجابى, بيروت, لبنان الطبعة: الاولى ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م , عدد الأجزاء:١
٨١	موسوعة الفقه الاسلامى موسوعة الفقه الإسلامي المؤلف: محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري الناشر: بيت الأفكار الدولية الطبعة: الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م, عدد الأجزاء: ٥

ماخذونه

٨٢	مجموع الفتاوى لابن تيمية رح المؤلف: تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (المتوفى: ٧٢٨هـ) الناشر:مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية , عام النشر: ١٤١٦هـ/١٩٩٥م نشر: دار أضواء السلف، الطبعة الأولى: ١٤٢٣هـ / ٢٠٠٣م.
٨٣	فتاوا الخمر والمخدرات: المؤلف: لشيخ الاسلام احمد بن تيمية رحمه الله تعالي (المتوفى:٧٢٨هـ) الناشر: الكوثر للطباعة والنشر، شارع العروبة المتفرع من شارع خاتم المرسلين الطبعة: عدد الأجزاء: ١
٨٤	الموسوعة الفقهية الكويتية صادر عن: وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية - الكويت عدد الأجزاء: ٤٥ جزءا الطبعة: (من ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ)
٨٥	الفقه على المذاهب الأربعة المؤلف: عبد الرحمن بن محمد عوض الجزيري (المتوفى: ١٣٦٠هـ) الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت - لبنان الطبعة: الثانية، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م عدد الأجزاء: ٥

٨٦	الفِقهُ الإسلاميُّ وأدلّتُهُ: المؤلف: أ. د. وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيّ، أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله بجامعة دمشق - كلّيَّة الشَّريعة , الناشر: دار الفكر - سوريَّة - دمشق الطبعة: الرَّابعة: عدد الأجزاء: ١٠
٨٧	الفقه الميسر في ضوء الكتاب والسنة المؤلف : مجموعة من المؤلفين الناشر : مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف سنة الطبع : ١٤٢٤هـ , عدد الأجزاء : ١
٨٨	صحيح فقه السنة وأدلته وتوضيح مذاهب الأئمة المؤلف: اعده ابو مالك كمال بن سيد سالم الناشر: المكتبة التوقيفية الطبعة: الثانية، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م , عدد الأجزاء: ٥
٨٩	أئمة الفقه الاسلامى: أبوحنيفة- شافعي - مالك - ابن حنبل المؤلف: المستشار عبد الحليم الجندى الناشر: بشرف على اصدارها محمد توفيق عويضة تاريخ الاصدار ١٣٩٢ هـ - ١٩٧٣ م ,
٩٠	المستسفي في علم الأصول المستصفى المؤلف: أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي (المتوفى: ٥٠٥هـ) الناشر: دار الكتب العلمية الطبعة: الأولى، ١٤١٣هـ - ١٩٩٣م عدد الأجزاء:١

٩١	قواطع الأدلة في الأصول المؤلف: أبو المظفر، منصور بن محمد بن عبد الجبار ابن أحمد المروزى السمعاني التميمي الحنفي ثم الشافعي (المتوفى: ٤٨٩هـ) الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان الطبعة: الأولى، ١٤١٨هـ/١٩٩٩م , عدد الأجزاء: ٢
٩٢	أصول السرخسي المؤلف: محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: ٤٨٣هـ) الناشر: دار المعرفة – بيروت , عدد الأجزاء: ٢
٩٣	البرهان في أصول الفقه المؤلف: عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد الجويني، أبو المعالي، ركن الدين، الملقب بإمام الحرمين (المتوفى: ٤٧٨هـ) الناشر: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان الطبعة: الطبعة الأولى ١٤١٨ هـ – ١٩٩٧ م عدد الأجزاء: ٢
٩٤	أصول الشاشي المؤلف: نظام الدين أبو علي أحمد بن محمد بن إسحاق الشاشي (المتوفى: ٣٤٤هـ) الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت, سنة النشر: عدد الأجزاء: ١

٩٥	مذكرة في أصول الفقه المؤلف: محمد الأمين بن محمد المختار بن عبد القادر الجكني الشنقيطي (المتوفى: ١٣٩٣هـ) الناشر: مكتبة العلوم والحكم، المدينة المنورة الطبعة: الخامسة، ٢٠٠١ م , عدد الأجزاء: ١
٩٦	شرح مختصر الروضة المؤلف : سليمان بن عبد القوي بن الكريم الطوفي الصرصري، أبو الربيع، نجم الدين (المتوفى : ٧١٦هـ) الناشر : مؤسسة الرسالة الطبعة : الأولى ، ١٤٠٧ هـ / ١٩٨٧ م , عدد الأجزاء : ٣
٩٧	كشف الأسرار شرح أصول البزدوي المؤلف: عبد العزيز بن أحمد بن محمد، علاء الدين البخاري الحنفي , (المتوفى: ٧٣٠هـ) الناشر: دار الكتاب الإسلامي الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ , عدد الأجزاء: ٤
٩٨	المعتمد في أصول الفقه المؤلف: محمد بن علي الطيب أبو الحسين البَصْري المعتزلي (المتوفى: ٤٣٦هـ) الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت الطبعة: الأولى، ١٤٠٣, عدد الأجزاء: ٢

٩٩	شرح التلويح على التوضيح المؤلف: سعد الدين مسعود بن عمر التفتازاني (المتوفى: ٧٩٣هـ) الناشر: مكتبة صبيح بمصر الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ , عدد الأجزاء: ٢
١٠٠	روضة الناظر وجنة المناظر في أصول الفقه على مذهب الإمام أحمد بن حنبل المؤلف: أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: ٦٢٠هـ) الناشر: مؤسسة الريّان للطباعة والنشر والتوزيع الطبعة: الطبعة الثانية ١٤٢٣هـ-٢٠٠٢م , عدد الأجزاء: ٢
١٠١	التبصرة في أصول الفقه المؤلف: أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي (المتوفى: ٤٧٦هـ) الناشر: دار الفكر – دمشق, الطبعة: الأولى، ١٤٠٣ , عدد الأجزاء: ١
١٠٢	الفصول في الأصول المؤلف: أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (المتوفى: ٣٧٠هـ) الناشر: وزارة الأوقاف الكويتية الطبعة: الثانية، ١٤١٤هـ – ١٩٩٤م , عدد الأجزاء:٤
١٠٣	المصلحة المرسلة محاولة لبسطها ونظرة فيها المؤلف: علي محمد جريشة الناشر: الجامعة الاسلامية بالمدينة المنورة , الطبعة: السنة العاشرة – العدد الثالث، ذو الحجة ١٣٩٧هـ نوفمبر – تشرين ثاني ١٩٧٧ م , عدد الأجزاء: ١

۱۰۴	المحصول (للرازی) المؤلف: أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين الرازي خطيب الري (المتوفى: ٦٠٦هـ) الناشر: مؤسسة الرسالة الطبعة: الثالثة، ١٤١٨ هـ - ١٩٩٧ م
۱۰۵	اصول البزدوی (کنزالوصول الی معرفة الاصول) المؤلف: الامام فخر الاسلام علی بن محمد البزدوی الحنفی (المتوفى: ٤٨٢هـ) الناشر: میر محمد کتب خانه مرکز علم وادب آرام باغ کراچی ویلیه اصول الکرخی: من الامام نجم الدین ابی حفص عمر بن احمد النسفی عدد الأجزاء: ١
۱۰۶	مختصر الأسئلة والأجوبة الأصولية على العقيدة الواسطية المؤلف: أبو محمد عبد العزيز بن محمد بن عبد الرحمن بن عبد المحسن السلمان (المتوفى: ١٤٢٢هـ) الطبعة: الثانية عشر، ١٤١٨ هـ - ١٩٩٧ م , عدد الأجزاء: ١
۱۰۷	التلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير المؤلف: أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: ٨٥٢هـ) الناشر: دار الكتب العلمية, بيروت , لبنان الطبعة: الطبعة الأولى ١٤١٩هـ. ١٩٨٩م. عدد الأجزاء: ٤

١٠٨	حقيقة البدعة وأحكامها المؤلف: سعيد بن ناصر الغامدي الناشر: مكتبة الرشد، الرياض , المملكة العربية السعودية عدد الأجزاء: ٢
١٠٩	شرح لمعة الاعتقاد المؤلف : خالد بن عبد الله بن محمد المصلح مصدر الكتاب : دروس صوتية قام بتفريغها موقع الشبكة الإسلامية http://www.islamweb.net
١١٠	شرح ملاعلي القارى على فقه أكبرللامام الاعظم ابي حنيفة النعمان بن ثابت الكوفى المؤلف: علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي القاريْ (المتوفى: ١٠١٤هـ) الناشر: قديمى كتب خانه مقابل آرام باغ كراچى , عدد الأجزاء: ١
١١١	الأجوبة العراقية على الأسئلة اللاهورية المؤلف: شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي (المتوفى: ١٢٧٠هـ) الناشر: مطبعة الحميدية، بغداد عام النشر: ١٣٠١ هـ عدد الأجزاء: ١
١١٢	الرائد معجم لغوى عصري المؤلف: جبران مسعود (المتوفى: ١٣٦٠هـ) الناشر: دار العلم للملايين, بيروت - لبنان الطبعة: السابعة، ١٩٩٢ م , عدد الأجزاء: ١

١١٣	شرح فتح المجيد المؤلف: عبد الله بن محمد الغنيمان مصدر الكتاب: دروس صوتية قام بتفريغها موقع الشبكة الإسلامية
١١٤	مختار الصحاح المؤلف: زين الدين أبو عبد الله محمد بن أبي بكر بن عبد القادر الحنفي الرازي (المتوفى: ٦٦٦هـ) المحقق: يوسف الشيخ محمد الناشر: المكتبة العصرية – الدار النموذجية، بيروت – صيدا الطبعة: الخامسة، ١٤٢٠هـ / ١٩٩٩م ، عدد الأجزاء: ١
١١٥	معجم المصطلحات والالفاظ الفقهية المؤلف: د محمود عبدالرحمن عبد المنعم, مدرس اصول الفقه بكلية الشريعة والقانون جامعة الازهر, القاهرة, مصر (المتوفى: ١٣٦٠هـ) , الناشر: دار الفضية , بيروت , لبنان عدد الأجزاء: ٥
١١٦	الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية المؤلف: أبو نصر إسماعيل بن حماد الجوهري الفارابي (المتوفى: ٣٩٣هـ) الناشر: دار العلم للملايين – بيروت الطبعة: الرابعة ١٤٠٧ هـ عدد الأجزاء: ٦

١١٧	المعجم الوسيط المؤلف: مجمع اللغة العربية بالقاهرة (إبراهيم مصطفى / أحمد الزيات / حامد عبد القادر / محمد النجار) الناشر: دار الدعوة
١١٨	لسان العرب المؤلف: محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: ٧١١هـ) الناشر: دار صادر - بيروت الطبعة: الثالثة - ١٤١٤هـ عدد الأجزاء:١٥
١١٩	تاج العروس من جواهر القاموس المؤلف: محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقّب بمرتضى، الزَّبيدي (المتوفى: ١٢٠٥هـ) الناشر: دار الهداية
١٢٠	معجم لغة الفقهاء المؤلف: محمد رواس قلعجي - حامد صادق قنيبي الناشر: دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع الطبعة: الثانية، ١٤٠٨ هـ - ١٩٨٨ م
١٢١	معجم اللغة العربية المعاصرة المؤلف: د أحمد مختار عبد الحميد عمر (المتوفى: ١٤٢٤هـ) بمساعدة فريق عمل الناشر: عالم الكتب , الطبعة: الأولى، ١٤٢٩ هـ - ٢٠٠٨ م عدد الأجزاء: ٤ (٣ ومجلد للفهارس) في ترقيم مسلسل واحد

١٢٢	القاموس المحيط القاموس المحيط المؤلف: مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب الفيروزآبادى (المتوفى: ٨١٧هـ) بإشراف: محمد نعيم العرقسُوسي الناشر: مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان الطبعة: الثامنة، ١٤٢٦ هـ - ٢٠٠٥ م عدد الأجزاء: ١
١٢٣	المصباح المنير في غريب الشرح الكبير المؤلف: أحمد بن محمد بن علي الفيومي ثم الحموي، أبو العباس (المتوفى: نحو ٧٧٠هـ) الناشر: المكتبة العلمية – بيروت عدد الأجزاء: ٢ (في مجلد واحد وترقيم مسلسل واحد)
١٢٤	تكملة المعاجم العربية المؤلف: رينهارت بيتر آن دُوزِي (المتوفى: ١٣٠٠هـ) نقله إلى العربية وعلق عليه: جـ ١ - ٨: محمَّد سَليم النعَيمي جـ ٩، ١٠: جمال الخياط الناشر: وزارة الثقافة والإعلام، الجمهورية العراقية الطبعة: الأولى، من ١٩٧٩ - ٢٠٠٠ م , عدد الأجزاء: ١١
١٢٥	إبطال الحيل لابن بطة المؤلف: أبو عبد الله عبيد الله بن محمد بن محمد بن حمدان العُكْبَري المعروف بابن بَطَّة العكبري (المتوفى: ٣٨٧هـ) الناشر: المكتب الإسلامي - بيروت الطبعة: الثانية، ١٤٠٣, عدد الأجزاء: ١

١٢٦	القاموس الإسلامی للناشئین والشباب (المعاملات الاسلامیة) المؤلف: محمد علی الهمشری, السید أبوالفتوح, علی اسماعیل موسی (المتوفی: ١٣٦٠هـ) الناشر: مكتبة العبيكان، الرياض, العليا, بیروت - لبنان الطبعة: الأولى ١٤١٨ هـ ١٩٩٧ م , عدد الأجزاء: ١
١٢٧	كتاب الأشربة (وذكر الاختلاف فيها) المؤلف: ابي محمد عبد الله بن مسلم بن قطيبة (المتوفى:٢٧٦هـ) الناشر: دار الفكر ، بيروت - لبنان الطبعة: الأولى، ١٤٢٠ هـ -١٩٩٩ م , عدد الأجزاء: ١
١٢٨	المسكرات والمخدرات المؤلف: أحمد حاج علي الأزرق الناشر: الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة الطبعة: السنة الرابعة عشر - العدد الرابع والخمسون, عدد الأجزاء: ١
١٢٩	البيوع المحرمة والمنهي عنها أصل الكتاب : رسالة (دكتوراه) ، جامعة الخرطوم ، ١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٤ م المؤلف : عبد الناصر بن خضر ميلاد الناشر : دار الهدى النبوي ، مصر - المنصورة (سلسله الرسائل الجامعيه ، ٣٧) الطبعة : الأولى ١٤٢٦هـ - ٢٠٠٥م عدد الأجزاء : ١

١٣٠	المخدرات أخطر معوقات التنمية المؤلف: إبراهيم إمام الناشر: الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة الطبعة: (السنة الرابعة عشرة - العدد الرابع والخمسون) ، ربيع الثاني -جمادى الأولى -جمادى الآخرة ١٤٠٢هـ. عدد الأجزاء: ١
١٣١	إغاثة اللهفان من مصايد الشيطان المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١هـ) الناشر: مكتبة المعارف، الرياض، المملكة العربية السعودية , عدد الأجزاء:٢
١٣٢	كتاب ذم المسكر المؤلف: أبو بكر عبد الله بن محمد بن عبيد بن سفيان بن قيس البغدادي الأموي القرشي المعروف بابن أبي الدنيا (المتوفى: ٢٨١هـ) الناشر: دار الراية - الرياض ، عدد الأجزاء:١
١٣٣	إعلام الموقعين عن رب العالمين المؤلف: محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١هـ) الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت ،الطبعة: الأولى، ١٤١١هـ - ١٩٩١م, عدد الأجزاء:٤

١٣٤	حلية الأولياء وطبقات الأصفياء المؤلف: أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني (المتوفى: ٤٣٠هـ) الناشر: دار الكتب العلمية- بيروت (طبعة ١٤٠٩هـ بدون تحقيق) عدد الأجزاء: ١٠
١٣٥	رسالة في الشاي والقهوة والدخان المؤلف: محمد جمال الدين بن محمد سعيد بن قاسم الحلاق القاسمي (المتوفى: ١٣٣٢هـ) الطبعة: الأولى، دمشق ١٣٢٢هـ , عدد الأجزاء: ١
١٣٦	تحقيق البرهان فى شان الدخان الذى يشربه الآن المؤلف: العالم العلامة الشيخمرعى بن يوسف الكرمى المقدسى الحنبلى (المتوفى:١٠٣٣هـ) ١٦٢٣م الناشر: دار ابن حزم للطباعة والنشر والتوزيع, بيروت - لبنان الطبعة: الأولي، ١٤٢١ هـ -٢٠٠٠ م , عدد الأجزاء: ١
١٣٧	حكم التدخين وتعاطي المفترات والمخدرات المؤلف: شيخ الاسلام ابى المواهب جعفر بن ادريس الكتانى الحسينى (المتوفى: ١٤٢٣هـ) الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت - لبنان الطبعة: الأولى ٢٠١١م , عدد الأجزاء: ١

١٣٨	مرآة البراهين فى مضار النشوق والتدخين المؤلف: على بن عبد الوهاب، (المتوفى: ١٣٩٧هـ) الناشر: جامعة الملک سعود بالرياض، المخطوط: يوجد في انتر تيت. عدد الأجزاء: ١
١٣٩	مختصرا من ترتيب القاموس المحيط المؤلف: الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان الطبعة: الثانية، ١٤٢٤ هـ – ٢٠٠٣ م ,
١٤٠	معجم الطرائف تاريخ البربر المؤلف: الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان الطبعة: الثانية، ١٤٢٤ هـ – ٢٠٠٣ م ,

څه تصویري نمونې

دکوکنار وکښت دګل په حال کې

دنیبش په حال کې

دشیدی په حال کې

دتول په حال کې

د خرڅیدلو په حال کې

دپوډرو په حال کې

دنشې په حال کې

دچرسو کښت

تیار چرس

دنیبش په حال کې

داستعمال په حال کې

دتباهي يوتصوير

دتباهي بل تصوير

دتباهی بل تصویر

دتباهي بل تصوير

دتباهی بل تصویر

دتباهي بل تصوير

دتباهي بل تصوير

دتباهی بل تصویر

دتباهي بل تصوير

دتباهی بل تصویر

دتباهي بل تصوير

دتباهی بل تصویر